



وزیرستان
لائق شاہ درپہ خیل



د "وزیرستان" مؤلف لائق شاه درپه خیل

۷۸۶

# وزیرستان

لائق شاہ درپہ خیل

دچاپ ټول حقوق دمصنّف سره خوندي دي.

دکتاب نوم ............... "وزیرستان"

مؤلف :........... لائق شاه درپه خیل

اشاعت اول ...(۳۰۰)...... مارچ ۱۹۹۳ء

اشاعت دوم .....(۱۰۰۰) ...... فروری ۱۹۹۴ء

بیعه : -/۲۰۰ روپئ

کتابت .......... محمود خاني محله اکازئ برتاکال

*

مطبع : المطبعة العربية - ۳۰ لیک روډ پراني انارکلي لاهور.

دَ موندلو درک :-

(۱) مکتبهٔ سرحد خیبر بازار - پیښور

(۲) نیو علمي کتب خانه - میرانشاه.

(۳) وزیرستان بُک ایجنسي ټانک.

(۴) مکتبهٔ رحمانیه - مغل خیل اډه ، وانا -

# تړون

دَ

# وزیرستان

دَ

# مردم خیزے خاورے

پَہ نوم

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| (۱) | سریزه : | مولانا گل محمد سپین وامی | ۳۶ |
| (۲) | داکتاب : | همیش خلیل | ۴۲ |
| (۳) | خپلے خبرے : | لائق شاه درپه خیل | ۴۵ |
| (۴) | اول باب : وزیرستان | آب وهوا | ۵۴ |
| (۵) | قطبی وزیرستان : | | ۵۵ |
| (۶) | وزیر | | ۵۶ |
| (۷) | ګکرسبز | | ۵۸ |
| (۸) | خرسین | | ۵۹ |
| (۹) | سیدګی | | 〃 |
| (۱۰) | داوړ | | ۶۰ |
| (۱۱) | دَقطبی وزیرستان تحصیلونه : | | ۶۲ |
| (۱۲) | میران شاه | | ۶۳ |
| (۱۳) | رزمک | | 〃 |
| (۱۴) | شوال | | 〃 |
| (۱۵) | سوئیلی وزیرستان : | | ۶۵ |

| | | |
|---|---|---|
| (١٦) | احمدزئ وزیر | ٦۵ |
| (١٧) | محسود | ٦٦ |
| (١٨) | اړمړ | ٦٨ |
| (١٩) | غلجئ | ٦٩ |
| (٢٠) | تحصیلونه : | ″ |
| (٢١) | وانا | ″ |
| (٢٢) | شکائ | ٧٠ |
| (٢٣) | بیټنی | ٧١ |
| (٢٤) | دَ وزیرستان مشران : | ٧٢ |
| (٢۵) | اوله طبقه | ″ |
| (٢٦) | دویمه طبقه | ″ |
| (٢٧) | دریمه طبقه | ٧٣ |
| (٢٨) | څلورمه طبقه | ٧٤ |
| (٢٩) | دَ وزیرستان دَ مختلفو مشرانو نسبی سلسلې : | ٧۵ |
| (٣٠) | وزیرستان په مذهبی لحاظ سره | ٧٦ |
| (٣١) | وزیرستان او سیاسات | ٧٩ |
| (٣٢) | دَ وزیرستان رودونه : | ″ |
| (٣٣) | توچی | ٨٠ |
| (٣٤) | ټانک زام | ٨١ |
| (٣۵) | کومل | ٨٢ |

| | | |
|---|---|---|
| (۳٦) | ګیټو | ۸۲ |
| (۳۷) | په افغان بونډرئ باندے دَ وزیرستان مشهور غزونه | ۸۳ |
| (۳۸) | په وزیرستان کښے دننه غرونو یوڅولوړے څوکے | 〃 |
| (۳۹) | دَ وزیرستان ځنګلونه | ۸۴ |
| (۴۰) | په وزیرستان کښے معدنیات | ۸۵ |
| (۴۱) | دَ وزیرستان مشهور ډکری | ۸٦ |
| (۴۲) | شیراتالا ډکرے | 〃 |
| (۴۳) | سپیرهٔ روغه ډکرے | ۸۸ |
| (۴۴) | ډانډے ډکرے | 〃 |
| (۴۵) | وانا ډکرے | ۹۱ |
| (۴٦) | سپین ډکرے | 〃 |
| (۴۷) | زرمیلان ډکرے | ۹۲ |
| (۴۸) | نور ډکری | 〃 |
| (۴۹) | دَ وزیرستان توریالے اُولس | ۹۳ |
| | دَ وزیرستان توریالی دَغرو په نظر کښے | ۱۰۳ |
| (۵۰) | دویم بابُ : دَمغلو او سِکانو سره ډغرے | ۱۱۰ |
| (۵۱) | بایزید انصاری | 〃 |
| (۵۲) | روښنیه تحریک | ۱۱۸ |
| (۵۳) | دَ سکهانو دور | ۱۲۳ |
| (۵۴) | دَ ټاپی کلی جګړه | ۱۲۵ |
| (۵۵) | غازی دلاسه خان | ۱۲٦ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۶) | بنوں کښے دَ سکھانو او انګریزانو شریک حکومت | ۱۲۹ |
| (۵۷) | ملک سوان خان | ۱۳۳ |
| (۵۸) | دریم باب : دَ فیرنګی مخ ښیوے : | ۱۳۶ |
| (۵۹) | دَ کیمبتی انښته | " |
| (۶۰) | دَ بهادرخیلو ړومبئ جګړه | ۱۳۷ |
| (۶۱) | دَ بهادرخیلو دویمه جګړه | ۱۳۸ |
| (۶۲) | دَ سپری او کړانګ جګړه | ۱۳۹ |
| (۶۳) | محبت خان او زنګی خان | ۱۴۰ |
| (۶۴) | دَ میدانی عزهٔ جګړه | ۱۴۱ |
| (۶۵) | دَ ټانک اولنئ جګړه | ۱۴۵ |
| (۶۶) | جنګی خان محسود | ۱۴۷ |
| (۶۷) | دَ پلسین جګړه | ۱۴۸ |
| (۶۸) | دَ ترکئ جګړه | ۱۵۰ |
| (۶۹) | دَ حیدرخیلو انښته | ۱۵۱ |
| (۷۰) | بادے فقیر | ۱۵۴ |
| (۷۱) | ګل عظیم او قاسم ګل | ۱۵۵ |
| (۷۲) | دَ مُلا ادیکړ جګړے : | ۱۵۸ |
| (۷۳) | دَ ټانک دویمه جګړه | ۱۵۹ |
| (۷۴) | دَ سپری جګړه | ۱۶۰ |
| (۷۵) | دَ ټل په کانوائ حمله | " |

| | | |
|---|---|---|
| (۷۶) | په لیبر کیمپ باندے حمله | ۱۶۰ |
| (۷۷) | دَ باران په قلعه حمله | ۱۶۱ |
| (۷۸) | دَ سپری په چوکئ بله حمله | ۱۶۲ |
| (۷۹) | په داورو جرمانے | 〃 |
| (۸۰) | مُلا گلاب دین | ۱۶۴ |
| (۸۱) | ملا حمزالله | ۱۶۵ |
| (۸۲) | غازی زری بند | ۱۶۷ |
| (۸۳) | دَ ټانک دَ سرکټ هاؤس واقعه | ۱۶۹ |
| (۸۴) | څلورم بابُ : دَ مُلا پاوَنده څرک : | ۱۷۳ |
| (۸۵) | یو څو خطونه : | ۱۷۷ |
| (۸۶) | دَ کوټهان خان او نورو کابل خیلو مشرانو خط | ۱۷۸ |
| (۸۷) | دَ احمدزو وزیرو له خوا نه مسټر بروس ته خط | ۱۸۱ |
| (۸۸) | دَ وانا جګړه | ۱۸۲ |
| (۸۹) | دَ مکین جګړه | ۱۸۷ |
| (۹۰) | دَ دیوبند لائن په حقله خط و کتابت : اول مکتوب | ۱۹۰ |
| (۹۱) | دویم مکتوب | ۱۹۱ |
| (۹۲) | دریم مکتوب | ۱۹۲ |
| (۹۳) | څلورم مکتوب | ۱۹۳ |
| (۹۴) | پنځم بابُ : په توچئ کښے دَ فیرنګی میشته کیدل | ۱۹۵ |
| (۹۵) | یو شریک درخواست | ۲۰۱ |

| | | |
|---|---|---|
| (۹۶) | نعیم شو دیا کے | ۲۰۳ |
| (۹۷) | دَ درپه خیلو انښته | ۲۰۴ |
| (۹۸) | راشه دین داوړ | ۲۰۵ |
| (۹۹) | ګل باز او نور مست | ۲۰۹ |
| (۱۰۰) | په کمبل حمله | ۲۱۰ |
| (۱۰۱) | پولټیکل ایجنټان (افسران) | 〃 |
| (۱۰۲) | ډیورینډ لائن | ۲۱۱ |
| (۱۰۳) | دَ امیر عبدالرحمان یو مکتوب | 〃 |
| (۱۰۴) | ګلستان شهید | ۲۱۸ |
| (۱۰۵) | دَ ملا پاونده سرګرمئ | ۲۲۰ |
| (۱۰۶) | غلام محمد ته دَ ملا پاونده خط | ۲۲۱ |
| (۱۰۷) | دَ محسودو ملکانانو درخواست | ۲۲۲ |
| (۱۰۸) | دَ محسودو ملکانانو بل درخواست | ۲۲۶ |
| (۱۰۹) | دَ ملا پاونده هجرت | ۲۳۱ |
| (۱۱۰) | وائسرائے هند ته دَ امیر کابل مراسله | ۲۳۸ |
| (۱۱۱) | امیر کابل ته دَ وائسرائے هند ځواب | ۲۴۱ |
| (۱۱۲) | دَ ملا پاونده راستنیدل | ۲۴۲ |
| (۱۱۳) | مسټر ګرانټ ته دَ ملا پاونده خط | ۲۴۳ |
| (۱۱۴) | دَ ملا پاونده او غلام محمد ملاقات | ۲۴۴ |
| (۱۱۵) | دَ ملا پاونده دفاعي بند وبستونه | ۲۴۷ |

| | | |
|---|---|---|
| (۱۱۶) | دَ ډاک پـه یکه بریـد | ۲۴۸ |
| (۱۱۷) | دَ میرانشاه قلعے ته څخه دَ اوښانو بوتلل | 〃 |
| (۱۱۸) | دَ مائیزَرِ جګړه | ۲۴۹ |
| (۱۱۹) | دَ اے۔جی۔ ګرانټ تجویز | ۲۵۴ |
| (۱۲۰) | مختلف بـریـدونـه | ۲۵۵ |
| (۱۲۱) | دَ اسلام چوکئ بریـد | ۲۵۶ |
| (۱۲۲) | ګورنر ته دَ ملاپاوَنده خطونه | ۲۵۷ |
| (۱۲۳) | لفټیننټ ګورنر پنجاب ته دَ ملاپاونده رومبنے خط | ۲۵۸ |
| (۱۲۴) | ګورنر ته دَ ملاپاونده دوَیم خط | ۲۵۹ |
| (۱۲۵) | جګړ عبدالرحمان خیل | ۲۶۶ |
| (۱۲۶) | دَ لسیر کیمپ تالان | ۲۶۷ |
| (۱۲۷) | په سرکاری رمه بـریـد | ۲۶۸ |
| (۱۲۸) | دَ ډاک په ټانګه بريد | 〃 |
| (۱۲۹) | دَ کیمبتی دوَیمه جګړه | ۲۶۹ |
| (۱۳۰) | دَ ملاپاونده په خط کارګزاری | 〃 |
| (۱۳۱) | دَ ملا پاونده او مسټر واټسن ملاقات | ۲۷۸ |
| (۱۳۲) | دَ زام په چوکئ شبخون | ۲۸۵ |
| (۱۳۳) | دَ باران په چوکئ ختنه | ۲۸۶ |
| (۱۳۴) | پـه ټانګـه بـریـد | 〃 |
| (۱۳۵) | دَ پـریـده پـه سپاهیانو حمله | ۲۸۷ |

(۱۳۶) **شپږم باب: ملیشیا** ۲۸۸

(۱۳۷) سیلکائی ۲۹۲

(۱۳۸) دکیمبتی درېیمه جګړه: 〃

(۱۳۹) دکپتان باوړنګ قتل ۲۹۴

(۱۴۰) د رچرډ هارمین قتل ۲۹۵

(۱۴۱) د کپتان ډونلډسن قتل ۲۹۷

(۱۴۲) په کپتان ګنی حمله ۲۹۸

(۱۴۳) په کپتان کریویس حمله 〃

(۱۴۴) د کهجورئ په پیکټ حمله ۲۹۹

(۱۴۵) د لکئ جګړه 〃

(۱۴۶) په هاتهي خیلو وزیرو فوج کشي ۳۰۰

(۱۴۷) د سروکئ کیمپ محاصره 〃

(۱۴۸) د سپین وام اولنۍ جنګ ۳۰۱

(۱۴۹) د شپانه خیسارهٔ رومبۍ جګړه 〃

(۱۵۰) **اووم باب: ملا پاونده** ۳۰۳

(۱۵۱) ملا پاونده د خپلو دښمنانو په نظر کښې ۳۱۴

(۱۵۲) د ملا پاونده عکس ۳۱۸

(۱۵۳) د انګریزانو قتلونه ۳۱۹

(۱۵۴) د کپتان ټیلر قتل ۳۲۰

(۱۵۵) د میجر ډاډ قتل 〃

(۱۵۶) د میجر انډرسن قتل ۳۲۲

| | | |
|---|---|---|
| (۱۵۷) | مُلا حاجی محمّد | ۳۲۲ |
| (۱۵۸) | میاں جی | ۳۲۳ |
| (۱۵۹) | اتم باب: پکتیا والے لبنکرے | ۳۲۵ |
| (۱۶۰) | په میرانشاه اوله حمله | 〃 |
| (۱۶۱) | دَ شپانهٔ خیساری دویمه جګړه | ۳۲۹ |
| (۱۶۲) | د میرانشاه دویمه جګړه | ۳۳۱ |
| (۱۶۳) | مُلا عبدالحکیم | ۳۳۵ |
| (۱۶۴) | سالم پښ | ۳۳۶ |
| (۱۶۵) | ګل حسن محسود | ۳۳۸ |
| (۱۶۶) | مدا خیل داوړ | ۳۴۲ |
| (۱۶۷) | نهم باب: دَ مُلا فضل دین فعالیتونه | ۳۴۸ |
| (۱۶۸) | دَ کربیسی سر جګړه | ۳۴۹ |
| (۱۶۹) | دَ غوالیری نری جګړه | ۳۵۰ |
| (۱۷۰) | دَ تیارزے قلعے واقعه | ۳۵۱ |
| (۱۷۱) | دَ نیلی کچ جګړه | 〃 |
| (۱۷۲) | دَ شیرنے الکړے جګړه | ۳۵۲ |
| (۱۷۳) | دَ چهوتیا غوالیری انبنته | ۳۵۳ |
| (۱۷۴) | دَ وانا دویمه جګړه | ۳۵۴ |
| (۱۷۵) | مُلا فضل دین ته دَ امیر کابل مکتوب | 〃 |
| (۱۷۶) | دَ توت نری جګړه | ۳۵۵ |
| (۱۷۷) | دَ ټانک زام پیښه | ۳۵۷ |

| | | |
|---|---|---|
| (۱۷۸) | دَ تیاَرزہ تماوری سیزل | ۳۵۷ |
| (۱۷۹) | دَ سرَوکئ جگڑہ | ۳۵۸ |
| (۱۸۰) | دَ ناَنو کلی تباهی | 〃 |
| (۱۸۱) | پہ خیسارۀ کنبے یرغل | ۳۵۹ |
| (۱۸۲) | لسم باب : دَ کال ۱۹۱۹ء غزا گانے | ۳۶۱ |
| (۱۸۳) | دَ میرانشاہ دریمہ جگڑہ | ۳۶۸ |
| (۱۸۴) | دَ واَنا دریمہ جگڑہ | ۳۷۲ |
| (۱۸۵) | دَ مغل کوټ جگڑہ | ۳۷۴ |
| (۱۸۶) | دَ اپوزی جگڑہ | 〃 |
| (۱۸۷) | دَ جنډولے قلعے محاصرہ | ۳۷۵ |
| (۱۸۸) | دَ فرلے قتل | 〃 |
| (۱۸۹) | پہ چوډهوان حملہ | ۳۷۶ |
| (۱۹۰) | دَ بنوں پہ هوائیٔ ډګر شبخون | 〃 |
| (۱۹۱) | دَ کهجورئ پہ یو پیکټ حملہ | 〃 |
| (۱۹۲) | دَ شینکی تنګی انښتہ | ۳۷۷ |
| (۱۹۳) | دَ سیدګی سانحہ | 〃 |
| (۱۹۴) | دَ کمبیلے پہ کیمپ ختنہ | 〃 |
| (۱۹۵) | دَ زرکانئ جگڑہ | ۳۷۸ |
| (۱۹۶) | دَ مانجی جگڑہ | 〃 |
| (۱۹۷) | دَ ګرنئ جگڑہ | ۳۷۹ |

| | | |
|---|---|---|
| (۱۹۸) | دَ کهجوړئ انښته | ۳۷۹ |
| (۱۹۹) | دَ وزیرو محسودو جګړے | ۳۸۰ |
| (۲۰۰) | دَ توچئ په وزیرو باندے فوج کشی | 〃 |
| (۲۰۱) | په محسودو بمباری | ۳۸۱ |
| (۲۰۲) | دَ شاه دوله حرکتونه | ۳۸۲ |
| (۲۰۳) | دَ امان الله خان دَ جګړو نه پسته؛ | ۳۸۳ |
| (۲۰۴) | دَ افغان او برطانوی حکومتونو ترمینځه صُلح | ۳۸۴ |
| (۲۰۵) | کال ۱۹۱۹ء دَ انګریزانو په خُوله | ۳۸۶ |
| (۲۰۶) | یوولسم باب : دَ فیرنګی انتقامی هڅه<br>دامان الله خان تشکر | ۳۸۹<br>〃 |
| (۲۰۷) | دَ سپینکی رغزی جګړه | ۳۹۰ |
| (۲۰۸) | دَ ترکئ غونډئ جګړه | ۳۹۲ |
| (۲۰۹) | دَ اَنړی تنګی جګړه | ۳۹۴ |
| (۲۱۰) | دَ بروړه تنګی جګړه | ۳۹۹ |
| (۲۱۱) | دَ کوټکی واقعه | ۴۰۲ |
| (۲۱۲) | دَ محسودو په سیمه یرغل | ۴۰۳ |
| (۲۱۳) | په مکین ګوله باری | ۴۰۶ |
| (۲۱۴) | دَ زام برج جګړه | ۴۰۷ |
| (۲۱۵) | دَ کوړ بریج جګړه | ۴۰۸ |
| (۲۱۶) | دَ لدهے په پیکټ برید | ۴۰۹ |
| (۲۱۷) | دَ وانا په وزیرو ناتار | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| (۲۱۸) | ګډوډ بریدونه | ۴۱۱ |
| (۲۱۹) | په قوائے کارو حملے | ۴۱۲ |
| (۲۲۰) | دَ شینکئ تنګئ جګړه | ۴۱۳ |
| (۲۲۱) | دَ جنجال جګړه | ۴۱۴ |
| (۲۲۲) | دَ سیدګئ په پیکټ حمله | 〃 |
| (۲۲۳) | دَ بنوں واقعه | 〃 |
| (۲۲۴) | دَ عیدکو انښته | ۴۱۵ |
| (۲۲۵) | دَ سپین وړسک ګهیره | 〃 |
| (۲۲۶) | دَ سیدګئ په پیکټونو حملے | ۴۱۶ |
| (۲۲۷) | دَ شینکئ تنګئ واقعه | 〃 |
| (۲۲۸) | دَ چشمئ انښته | ۴۱۷ |
| (۲۲۹) | دَ لوړیسے خوا برید | 〃 |
| (۲۳۰) | دَ جنډولے انښته | 〃 |
| (۲۳۱) | دَ سپینکئ ځلی جګړه | ۴۱۸ |
| (۲۳۲) | جمعدار ترین خان | ۴۲۰ |
| (۲۳۳) | علیٓ مرود | ۴۲۱ |
| (۲۳۴) | پټ خان | ۴۲۲ |
| (۲۳۵) | دولسم باب : خاصه دار | ۴۲۴ |
| (۲۳۶) | دَ رغزی کلی برید | ۴۲۷ |
| (۲۳۷) | دَ ملتړئ په موټر حمله | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| (۲۳۸) | دَ لوړیسے دویمه انښته | ۴۲۷ |
| (۲۳۹) | په جلال خیلو محسودو بمباری | ۴۲۸ |
| (۲۴۰) | په عبد الرحمان خیلو محسودو بمباری | ۴۲۹ |
| (۲۴۱) | دَ عبد الرزاق شورشونه : | 〃 |
| (۲۴۲) | دَ رزمک سړک | ۴۳۰ |
| (۲۴۳) | یوه خطرناکه افواه | 〃 |
| (۲۴۴) | دَ سروکئ په خاصه دار پوست حمله | 〃 |
| (۲۴۵) | دَ دوسلی سړک | ۴۳۱ |
| (۲۴۶) | دَ ډیکسن قتل | 〃 |
| (۲۴۷) | رزمک ته دَ فیرنګی ټک | ۴۳۲ |
| (۲۴۸) | دَ رزانی او ډمډیل سړک | ۴۳۳ |
| (۲۴۹) | په مکین او عبد الائی باندے فوج کشی | 〃 |
| (۲۵۰) | په شکی او دانا باندے بمباری | ۴۳۵ |
| (۲۵۱) | په توچی خیلو بمباری | ۴۳۶ |
| (۲۵۲) | دَ سرکونی جوړښت | ۴۳۷ |
| (۲۵۳) | دَ مُلا پاوندهٔ دَ مړی راستونول | 〃 |
| (۲۵۴) | دَ لفټیننټ وبِسټر قتل | 〃 |
| (۲۵۵) | دَ میجر فینس قتل | ۴۳۸ |
| (۲۵۶) | دَ کوتکی برید | ۴۳۹ |
| (۲۵۷) | دَ مستونګ الکړے جګړه | 〃 |

(۲۵۸) دَ ہتم ہتم شـوکه ۴۴۰

(۲۵۹) دَ مانجی پوست جګړه ״

(۲۶۰) دَ الیګزینډر په چوکئ برید ۴۴۱

(۲۶۱) دَ سرآروغه برید ״

(۲۶۲) په کوټ شکتوئے بمباری ۴۴۲

(۲۶۳) دَ جی۔ ایچ۔ ټیپ قتل ״

(۲۶۴) دَ جنډولے سروکئ سړک ۴۴۳

(۲۶۵) نوے قلعے ״

(۲۶۶) دَ تمل پُل ״

(۲۶۷) په احمدوام او عمرزغزی بمباری ״

(۲۶۸) دَ کومل پولیس په چوکئ حمله ۴۴۴

(۲۶۹) دَ تیانک او غزنی خیلو سړک ״

(۲۷۰) دَ دردانی کیمپ ورانول ״

(۲۷۱) دَ شیوے قلعے ازسرنو تعمیر ۴۴۵

(۲۷۲) دَبنوں او ډیره اسمٰعیل خان په ښخو ضلعو حملے ״

(۲۷۳) دَ سروکئ سړک ״

(۲۷۴) دَ رزانی دته خیلو لار ۴۴۶

(۲۷۵) په ډاویډسن حمله ״

(۲۷۶) دیارلسم باب : ملک سادے خان ۴۴۷

(۲۷۷) لا لا پیر ۴۵۴

(۲۷۸) زاکیم شاه ۴۵۶

(۲۷۹) دَ خیرجي محسودو په رموحمله ۴۵۷

(۲۸۰) دَ بوستان برید 〃

(۲۸۱) **څوارلسم باب: دَ سقاؤ جګړے** ۴۵۹

(۲۸۲) سرکونه ۴۶۶

(۲۸۳) رمضان خان محسود 〃

(۲۸۴) دَ دته خیلو جګړه ۴۶۸

(۲۸۵) دَ بویۓ جګړه ۴۷۱

(۲۸۶) دَ سیکه کلي یلغار ۴۷۲

(۲۸۷) دَ سرارو‌غے قلعے محاصره 〃

(۲۸۸) دَ سادے خان برید ۴۷۳

(۲۸۹) دَ شابي خیلو په کلیو بمباري ۴۷۴

(۲۹۰) دَ تاؤدے چینے جګړه 〃

(۲۹۱) په نذر خیلو بمباري ۴۷۵

(۲۹۲) دَ سپین تنګی جګړه 〃

(۲۹۳) دَ سرکوټو جال ۴۷۷

(۲۹۴) پُلونه 〃

(۲۹۵) په جلال خیلو چپاؤ 〃

(۲۹۶) دَ فلائنګ افسر وال واقعه ۴۷۸

(۲۹۷) **پنځلسم باب: په ډیره اسمعیل خان کښے هندو مسلم فساد** ۴۷۹

(۲۹۸) دَ ساینج او واول قتل ۴۸۴

(۲۹۹) دَ ایسټ قتل 〃

(۳۰۰) دَ غلجیو برید ۴۸۵

(۳۰۱) دَ رزمک په سیمه برید 〃

(۳۰۲) دَ شاه ولی جګړه ۴۸۶

(۳۰۳) دَ یک ملنګ لشکر 〃

(۳۰۴) دَ تاوُدے چینے وانا سرک ۴۸۷

(۳۰۵) دَ غلجیُو بل برید 〃

(۳۰۶) دَ زلی خیلو وزیرو برید ۴۸۸

(۳۰۷) دَ وانا آبادوُل 〃

(۳۰۸) دَ مینه ورخان دزے ۴۸۹

(۳۰۹) شپاړسم ۱۶ باب: شهزاده ملافضل دین ۴۹۰

(۳۱۰) ملک موسیٰ خان ۴۹۴

(۳۱۱) اوولسم ۱۷ باب: فقیرایپیؒ ۴۹۸

(۳۱۲) اسلام بی بی ۵۰۲

(۳۱۳) دَ فقیر ایپی ظهور ۵۰۷

(۳۱۴) دَ خیسارهٔ لومړئ جګړه ۵۱۷

(۳۱۵) دَ خیسارهٔ دوّیمه جګړه ۵۲۳

(۳۱۶) په ارسل کوټ بمباری ۵۲۸

(۳۱۷) دَ زیړ پیړی او ډاکئی کلی جګړے ۵۲۹

| | | |
|---|---|---|
| (۳۱۸) | دَ کپتان کوغ قتل | ۵۳۲ |
| (۳۱۹) | دَ لفټیننټ بیټی قتل | ۵۳۳ |
| (۳۲۰) | دَ ګل جان خروټي برید | ۵۳۴ |
| (۳۲۱) | نوے ولولے | ۵۳۵ |
| (۳۲۲) | دَ ډمډیل په پیکټ برید | ۵۳۸ |
| (۳۲۳) | اتلسم باب: دَ فیرنګی مصالحتی کوششونه | ۵۳۹ |
| (۳۲۴) | دَ ډمډیل جګړه | ۵۴۲ |
| (۳۲۵) | توړی خیلو ته دَ حکومت انتباه | ۵۴۳ |
| (۳۲۶) | په ارسلکوټ بله بمباری | ۵۴۵ |
| (۳۲۷) | دَ دته خیلو په کلی بمباری | 〃 |
| (۳۲۸) | دَ شهور تنګی جګړه | ۵۴۶ |
| (۳۲۹) | دَ تبئ نزی شخړے | ۵۵۰ |
| (۳۳۰) | دَ تیارزے په قلعه برید | ۵۵۱ |
| (۳۳۱) | دَ الیګزنډر چوکئ په پیکټ حمله | ۵۵۲ |
| (۳۳۲) | دَ تجوړئ په تانړه برید | 〃 |
| (۳۳۳) | په پهاړپور باندے شبخون | ۵۵۴ |
| (۳۳۴) | دَ سورکس برید | ۵۵۵ |
| (۳۳۵) | دَ فیرنګی په خلاف جوش وخروش | 〃 |
| (۳۳۶) | دَ ارسلکوټ دَ لاندے کولو هڅه | ۵۵۶ |
| (۳۳۷) | دَ دوسلی په فوځ برید | ۵۵۸ |

| | | |
|---|---|---|
| (٣٣٨) | دَ رزمک نړی انښته | ٥٥٨ |
| (٣٣٩) | دَ اِبلنکی برید | ٥٥٩ |
| (٣٤٠) | دَ کړیوم کیمپ پیکټونه | ٥٦٠ |
| (٣٤١) | دَ ملیشئے په دریشئ کښے غازیان | ٥٦١ |
| (٣٤٢) | دَ ارسلکوټ نه دَ فقیرایپي وتل | ٥٦٢ |
| (٣٤٣) | په عمرتیتاخیلوغدئ | 〃 |
| (٣٤٤) | دَ پیزو جګړه | ٥٦٣ |
| (٣٤٥) | په تجوړی غدئ | ٥٦٥ |
| (٣٤٦) | دَ پسل کلی جګړه | ٥٦٦ |
| (٣٤٧) | دَ کړیوم په فوځ حملے | ٥٦٧ |
| (٣٤٨) | په محسودو باندے دَ فوج کشئ پروګرام | ٥٦٨ |
| (٣٤٩) | دَ بیټنو په کلیو بمباری | 〃 |
| (٣٥٠) | په محسودو فوج کشي | ٥٦٩ |
| (٣٥١) | دَ بهرام خان غازی واقعه | ٥٧١ |
| (٣٥٢) | په لدها باندے فوځی چپه | ٥٧٥ |
| (٣٥٣) | دَ والادین په کیمپ باړونه | ٥٧٦ |
| (٣٥٤) | دَ لاکړو خوا کښے برید | ٥٧٧ |
| (٣٥٥) | دَ فقیرایپيؒ دَ نیوو هڅه | ٥٧٨ |
| (٣٥٦) | دَ رزمک نه وآنا ته لارخلاصول | ٥٨٠ |
| (٣٥٧) | دَ شراونګی جګړه | ٥٨١ |

| | | |
|---|---|---|
| (۳۵۸) | دَ بربدر شخره | ۵۸۳ |
| (۳۵۹) | دَ تیتنے پال دغزه | ۵۸۵ |
| (۳۶۰) | دَ عامے بمبارئ دبکے | ۵۸۶ |
| (۳۶۱) | دَ ملک کلاجان او کاکو سرگرمئ | 〃 |
| (۳۶۲) | قبائیلی پولیس ته نیمه تنخواه | ۵۸۸ |
| (۳۶۳) | دَ ازلمیر په تاهتوبو ناتار | 〃 |
| (۳۶۴) | دَ غازیانو په عملیاتو کښے تُندی | ۵۸۹ |
| (۳۶۵) | په دیردونئ جُرمانه | ۵۹۰ |
| (۳۶۶) | په رازیت بمباری | 〃 |
| (۳۶۷) | په وزیرستان کښے سرکونه | 〃 |
| (۳۶۸) | دَ کاکو دَ کور نزول | ۵۹۲ |
| (۳۶۹) | دَ محسودو جرگے | ۵۹۳ |
| (۳۷۰) | دَ آسمان منزئ جگره | ۵۹۵ |
| (۳۷۱) | دَ شینکی خیلو محاصره | ۵۹۶ |
| (۳۷۲) | دَ فقیرایپی پریکړی سر ته تگ | ۵۹۷ |
| (۳۷۳) | دین فقیر دَ کماندرانچیف په حیث | ۵۹۹ |
| (۳۷۴) | په کارکنرو ام باندے یرغل | ۶۰۱ |
| (۳۷۵) | په پریکړی سر بمباری | ۶۰۲ |
| (۳۷۶) | دَ فقیرایپی مندیچ ته تگ | ۶۰۳ |
| (۳۷۷) | دَ فیرنگی دَ وتلو افواه | ۶۰۷ |

| | | |
|---|---|---|
| (۳۷۸) | دَ اینګا مال برید ونه | ۶۰۸ |
| (۳۷۹) | دَ پاکے لیتے سر برید | 〃 |
| (۳۸۰) | دَ مدا میر کلی انبسته | ۶۰۹ |
| (۳۸۱) | دَ خونیاخیل دَ نیوو هڅه | 〃 |
| (۳۸۲) | دَ سیده نے قتل | ۶۱۰ |
| (۳۸۳) | دَ محسودو جرګے | 〃 |
| (۳۸۴) | دَ وزیرو داوړو جرګه | ۶۱۳ |
| (۳۸۵) | دَ فقیرایپي غیمبګی ته تګ | 〃 |
| (۳۸۶) | په بیټنو بله بمباری | ۶۱۴ |
| (۳۸۷) | دَ فیرنګی وعده خلافی | ۶۱۵ |
| (۳۸۸) | نولسم باب: دَ فقیرایپي موسٰی نیکهٔ ته تګ | ۶۱۷ |
| (۳۸۹) | مُلا شیر علی خان ته اعزاز | 〃 |
| (۳۹۰) | په لاسوندی بمباری | ۶۱۹ |
| (۳۹۱) | دَ آسمان منزئے په مضافاتو یرغل | ۶۲۰ |
| (۳۹۲) | دَ بربدر ناتار | 〃 |
| (۳۹۳) | دَ خونیاخیل په کوټ بمباری | ۶۲۱ |
| (۳۹۴) | دَ پیر مولاخان دوړ | ۶۲۲ |
| (۳۹۵) | دَ صُلحے دوئیم حُل کوشش | 〃 |
| (۳۹۶) | په غیمبګی بمباری | ۶۲۵ |
| (۳۹۷) | دَ وزیرو داوړو جرګے | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| (۳۹۸) | دَ پیر مولا خان برید وهنه | ۶۲۶ |
| (۳۹۹) | دَ سنتالے الکلړے سانحه | 〃 |
| (۴۰۰) | دَ مسورئ المیه | ۶۲۷ |
| (۴۰۱) | دَ سرۀ دار رمبئ جګړه | 〃 |
| (۴۰۲) | دَ ممی روغے بربادی | ۶۳۰ |
| (۴۰۳) | دَ سرۀ دار دوئیمه جګړه | ۶۳۱ |
| (۴۰۴) | دَ سروکئ جګړه | ۶۳۲ |
| (۴۰۵) | په سپلا توئے الکلړے بمباری | 〃 |
| (۴۰۶) | دَ پاکے لیتے برید | ۶۳۳ |
| (۴۰۷) | دَ انځر نری انښته | ۶۳۴ |
| (۴۰۸) | دَ فقیر ایپی بارومان سر ته تګ | 〃 |
| (۴۰۹) | په سپین وام کښے ګړبړ | ۶۳۵ |
| (۴۱۰) | دَ کوټ متاکی تالان | ۶۳۶ |
| (۴۱۱) | دَ تبئ نری جګړه | 〃 |
| (۴۱۲) | دَ بیټنو ګړبړ | ۶۳۷ |
| (۴۱۳) | دَ بیټنو جرګه | ۶۳۸ |
| (۴۱۴) | دَ عجیب پرکور تالان | ۶۳۹ |
| (۴۱۵) | په بیټنو باندے فوج کشی | 〃 |
| (۴۱۶) | دَ راډ الکلړے جګړه | ۶۴۰ |
| (۴۱۷) | دَ قلندر خیلو سانحه | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| (۴۱۸) | دَ کوټ سرکک | ٦۴١ |
| (۴۱۹) | دَ بیټنو بله جرګه | 〃 |
| (۴۲۰) | په علي خیلو او کوټي یرغل | 〃 |
| (۴۲۱) | دَ فوځ عام کشتونه | ٦۴۲ |
| (۴۲۲) | دَ شکتوئے تنګی جګړه | ٦۴۳ |
| (۴۲۳) | دَ روچے کار کنړوام سرکک | 〃 |
| (۴۲۴) | په بیټنو جرمانے | ٦۴۴ |
| (۴۲۵) | دَ شابي خیلو محاصره | 〃 |
| (۴۲۶) | دَ شابي خیلو دَ بدرګے ګرفتاری | ٦۴۵ |
| (۴۲۷) | شلم باب : فقیرایپي په خره کښے | ٦۴٦ |
| (۴۲۸) | دَ مدا خیلو جرګه | ٦۴۷ |
| (۴۲۹) | دَ بکا خیلو او جاني خیلو جرګه | ٦۴۸ |
| (۴۳۰) | دَ ملیشیئے نوي پوستونه | ٦۴۹ |
| (۴۳۱) | شامي پیر | 〃 |
| (۴۳۲) | دَ درګئي سر جګړه | ٦۵١ |
| (۴۳۳) | دَ ونے سر جګړه | ٦۵۴ |
| (۴۳۴) | فقیرایپي په مدا خیلو کښے | ٦۵۵ |
| (۴۳۵) | دَ ممي روغے جګړه | ٦۵۸ |
| (۴۳٦) | محمد اکبر خان شهید | ٦٦٠ |
| (۴۳۷) | دَ بم چاؤدنه | ٦٦١ |

| | | |
|---|---|---|
| (۴۳۸) | دَ خرپے جگړه | ۶۶۱ |
| (۴۳۹) | دَ بنوں په ښار شبخون | ۶۶۴ |
| (۴۴۰) | دَ لفټیننټ سنډرس واقعه | 〃 |
| (۴۴۱) | په کیمبټی گوله باری | ۶۶۶ |
| (۴۴۲) | دَ فقیرایپي ناجوړتیا | 〃 |
| (۴۴۳) | دَ فتح خان شهادت | ۶۶۹ |
| (۴۴۴) | دَ شکتوئ جگړه | 〃 |
| (۴۴۵) | په مداخیلو بمباری | ۶۷۰ |
| (۴۴۶) | یوویشتم باب : دَ توری خیلو حالات | ۶۷۳ |
| (۴۴۷) | دَ ووزی خیلو عملیات | ۶۷۵ |
| (۴۴۸) | فقیر ایپیؒ داوړو پله | ۶۷۷ |
| (۴۴۹) | دَ بویه قلعے جگړه | ۶۷۸ |
| (۴۵۰) | دَ ګاګو غدئ | ۶۸۰ |
| (۴۵۱) | دَ نوړو انښته | 〃 |
| (۴۵۲) | دَ مشک عالم شهادت | ۶۸۱ |
| (۴۵۳) | دَ باندیزو جگړه | ۶۸۲ |
| (۴۵۴) | خوږ ګل شهید | ۶۸۳ |
| (۴۵۵) | په توچئ کښے نوے اوړ | 〃 |
| (۴۵۶) | دَ میجر ډکل اِغوا | ۶۸۴ |
| (۴۵۷) | دَ کیټو بریج ورانول | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| (۴۵۸) | کابل خیل وزیر | ۶۸۵ |
| (۴۵۹) | دَ ډاک پہ لاری یرغل | ۶۸۷ |
| (۴۶۰) | پہ یوه ورځ کښې برید ونه | ۶۸۸ |
| (۴۶۱) | دَ رهنوار جرنیل برید | ۶۸۹ |
| (۴۶۲) | دَ کیمبتی جګړه | 〃 |
| (۴۶۳) | دَ کرم ګړهۍ جګړه | ۶۹۰ |
| (۴۶۴) | دَ کانشی بس لوټل | ۶۹۱ |
| (۴۶۵) | دَ فیرنګی فریب کاری | ۶۹۲ |
| (۴۶۶) | دَ ملک آیوت سرګرمۍ | 〃 |
| (۴۶۷) | دَ اغزن کلی ناتار | ۶۹۳ |
| (۴۶۸) | پہ کرنل کیمبل حمله | ۶۹۴ |
| (۴۶۹) | دَ ختی کلی ګهیره | ۶۹۵ |
| (۴۷۰) | پہ کرنل کوسبی حمله | ۶۹۶ |
| (۴۷۱) | دَ تپۍ رومبۍ جګړه | 〃 |
| (۴۷۲) | دَ تپۍ دویمه جګړه | ۶۹۸ |
| (۴۷۳) | مدراز شهید | ۶۹۹ |
| (۴۷۴) | غازی مرجان شهید | ۷۰۱ |
| (۴۷۵) | دَ کپتان ستیونس قتل | 〃 |
| (۴۷۶) | دوه ویشتم باب : دَ شودی خیل پاڅون | ۷۰۲ |
| (۴۷۷) | دَ فقیرایپي محسودو ته تګ | ۷۰۴ |

| | | |
|---|---|---|
| (۴۷۸) | دَ تیارزے پہ قلعہ حملہ | ۷۰۵ |
| (۴۷۹) | دَ شکرکوټ جګړه | ۷۰۶ |
| (۴۸۰) | غازی آمیرګل | ۷۱۱ |
| (۴۸۱) | شودی خیل پہ توچئ کښے | ۷۱۲ |
| (۴۸۲) | دَ شودی خیل شهادت | ۷۱۳ |
| (۴۸۳) | دَ ختی کلی اوله جګړه | ۷۱۷ |
| (۴۸۴) | دَ درپه خیلو کلی جګړه | ۷۱۸ |
| (۴۸۵) | دَ سپین وام پہ قلعه باړونه | ۷۱۹ |
| (۴۸۶) | دَ میرشاهجان بریدونه | ۷۲۰ |
| (۴۸۷) | دَ سپین وام پہ قلعه ګوله باری | ۷۲۳ |
| (۴۸۸) | دَ خلیفه ګلات شاه برید | ″ |
| (۴۸۹) | دَ ختی کلی دوېیمه جګړه | ۷۲۴ |
| (۴۹۰) | دَ غلام قادرخان حملے | ۷۲۵ |
| (۴۹۱) | دَ دته خیلو پہ سرائے حملہ | ″ |
| (۴۹۲) | دَ نړی والے جګړه | ۷۲۶ |
| (۴۹۳) | دَ پیکټونو سیزل | ″ |
| (۴۹۴) | پہ بویه قلعه ګوله باری | ۷۲۷ |
| (۴۹۵) | دَ اِبلنکی پہ پیکټ حملہ | ″ |
| (۴۹۶) | دَ دته خیلو پہ قلعه ګوله باری | ۷۲۸ |
| (۴۹۷) | دَ خرکمر انښته | ″ |

| | | |
|---|---|---|
| (۴۹۸) | دَ داوړو جرګه | ۷۲۹ |
| (۴۹۹) | دَ میرعلی سپین وام په سړک انښته | // |
| (۵۰۰) | دَ سپین وام جګړه | ۷۳۰ |
| (۵۰۱) | دَ لدّهے جګړه | ۷۳۱ |
| (۵۰۲) | دَ مکین والو جرګه | ۷۳۲ |
| (۵۰۳) | دَ منزه عزۀ برید | ۷۳۳ |
| (۵۰۴) | دَ پیر مولاخان شهادت | // |
| (۵۰۵) | دَ ژام چینے جګړه | ۷۳۶ |
| (۵۰۶) | دَ طوړ ملا او ازلمیر بریدونه | ۷۳۷ |
| (۵۰۷) | دَ چشمئ برید | ۷۳۸ |
| (۵۰۸) | درویشتم[۲۳] باب : دَ برو داوړو هجرت | ۷۴۰ |
| (۵۰۹) | برو داوړو کښے فوځونه | // |
| (۵۱۰) | دَ کیشئ جګړه | ۷۴۱ |
| (۵۱۱) | رحیم ګل شهید | ۷۴۲ |
| (۵۱۲) | ګوړ ویک | ۷۴۳ |
| (۵۱۳) | دَ پکی کلی جګړه | ۷۴۴ |
| (۵۱۴) | دَ سپیری عزجګړه | ۷۴۶ |
| (۵۱۵) | په توچئ کښے یلغار | ۷۴۷ |
| (۵۱۶) | دَ خدی جګړه | // |
| (۵۱۷) | دَ الیګزنډر په چوکئ حمله | ۷۴۸ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۱۸) | دَ بوړئ په قلعه باړونه | ۷۴۸ |
| (۵۱۹) | دولت خان شهید | ″ |
| (۵۲۰) | دَ ویډون الکوړے جګړه | ۷۴۹ |
| (۵۲۱) | دَ تورت نری مبارزه | ″ |
| (۵۲۲) | اصل دین ختک | ۷۵۰ |
| (۵۲۳) | پیر ګل محسود | ۷۵۰ |
| (۵۲۴) | دَ ممش خیلو جګړه | ۷۵۲ |
| (۵۲۵) | دین بوبرائی | ۷۵۵ |
| (۵۲۶) | غازی حبیب خان | ۷۵۶ |
| (۵۲۷) | دَ خونی زاوهٔ جګړه | ″ |
| (۵۲۸) | پیاو جان شهید | ۷۵۸ |
| (۵۲۹) | تاویلدار شهید | ۷۵۸ |
| (۵۳۰) | سبیل خان شهید | ۷۵۹ |
| (۵۳۱) | میان دین خان شهید | ″ |
| (۵۳۲) | دَ ایشا رزمک په سړک برید | ۷۶۰ |
| (۵۳۳) | دَ ډانډے په سرائے حمله | ۷۶۰ |
| (۵۳۴) | په شیرنے بمباری | ۷۶۱ |
| (۵۳۵) | دَ توچی سکاوټس ناکامی | ۷۶۱ |
| (۵۳۶) | دَ چشمئے سانحه | ۷۶۲ |
| (۵۳۷) | دَ میرشاهجان شهادت | ۷۶۳ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۳۸) | **څلیرویشتم باب ۲۴ : دَ محسودو پله** | ۷۶۵ |
| (۵۳۹) | دَ سپین میدان کهیره | 〃 |
| (۵۴۰) | دَ سپینکي رغزي جګړه | ۷۶۵ |
| (۵۴۱) | محسود طیاره | ۷۶۶ |
| (۵۴۲) | دَ سرفراز ګناه پور هلے کولے | ۷۶۷ |
| (۵۴۳) | دَ ټانک په مال خانه غدئ | ۷۶۸ |
| (۵۴۴) | دَ ګل شاه عالم بریدونه | ۷۶۸ |
| (۵۴۵) | دَ سروکئ وانا په سړک بریدونه | 〃 |
| (۵۴۶) | دَ میرخوند جګړه | ۷۶۹ |
| (۵۴۷) | دَ خماتے غر جګړه | ۷۷۱ |
| (۵۴۸) | ډاوُل خان شهید | ۷۷۲ |
| (۵۴۹) | فقیرایپي په شکتوئ کښے | ۷۷۳ |
| (۵۵۰) | مختلف ګوله بارئ | ۷۷۴ |
| (۵۵۱) | دَ ډمډیل کیمپ واقعه | ۷۷۵ |
| (۵۵۲) | دَ کهجورئ برید | 〃 |
| (۵۵۳) | دَ زیړغرهٔ جګړه | ۷۷۵ |
| (۵۵۴) | فیضل استاد جي | ۷۷۶ |
| (۵۵۵) | دَ مستر ډانلډ واقعه | ۷۷۸ |
| (۵۵۶) | دَ توپو مزید حملے | ۷۷۹ |
| (۵۵۷) | دَ غوریزے برید | ۷۸۰ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۵۸) | دَ هانګ کانګ پېښه | ۷۸۱ |
| (۵۵۹) | وزیرستان ته دَ پنډت نهرو راتګ | 〃 |
| (۵۶۰) | دَ ډاک په لارئ یرغل | ۷۸۳ |
| (۵۶۱) | دَ قامی کانوائ سکیم | ۷۸۴ |
| (۵۶۲) | په پولټیکل ایجنټ حمله | ۷۸۶ |
| (۵۶۳) | په ایجنسی سرجن حمله | ۷۸۶ |
| (۵۶۴) | دَ ماما تانړی برید | ۷۸۷ |
| (۵۶۵) | دَ رزمک په کالم حمله | 〃 |
| (۵۶۶) | غازم شهید | ۷۸۸ |
| (۵۶۷) | دَ پارے پیچ برید | ۷۸۹ |
| (۵۶۸) | دَ راشن نیونه | 〃 |
| (۵۶۹) | دَ کرډئ په کیمپ کوله باری | ۷۸۹ |
| (۵۷۰) | پینځویشتم باب[۲۵] : دَ پاکستان تاریخی پس منظر | ۷۹۱ |
| (۵۷۱) | کانګرس | ۷۹۳ |
| (۵۷۲) | مُسلم لیګ | ۷۹۴ |
| (۵۷۳) | دَ پاکستان تصوّر | ۷۹۶ |
| (۵۷۴) | قرارداد پاکستان | ۷۹۷ |
| (۵۷۵) | فرقه وارانه فسادات | ۷۹۹ |
| (۵۷۶) | قیامِ پاکستان | ۸۰۱ |
| (۵۷۷) | دَ مهاجرینو راتګ | ۸۰۴ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۷۸) | دَ کشمیر جهاد | ۸۰۵ |
| (۵۷۹) | دَ کشمیر جهاد او دَ وزیرستان قبائل | ۸۰۸ |
| (۵۸۰) | دَ کشمیر جهاد او فقیرایپي | ۸۰۹ |
| (۵۸۱) | دَ وزیرو او داوړو رومبئ جرګه | ۸۱۰ |
| (۵۸۲) | دَ ګورنر جرګه | ۸۱۱ |
| (۵۸۳) | پاکستان او فقیر ایپي | ۸۱۲ |
| (۵۸۴) | دَ اسلم خان واقعه | ۸۱۷ |
| (۵۸۵) | میرانشاه ته دَ لیاقت علي خان راتګ | ۸۱۹ |
| (۵۸۶) | دَ ډنکن قتل | ۸۲۰ |
| (۵۸۷) | فقیرایپي ته دَ حقیقت جوتون | ۸۲۰ |
| (۵۸۸) | امیر نیاز علي خان | ۸۲۳ |
| (۵۸۹) | فقیرایپي دَ اغیارو په نظر کښې | ۸۲۵ |
| (۵۹۰) | دَ فقیرایپي جنګي نظام | ۸۳۱ |
| (۵۹۱) | دَ فقیرایپي توپونه | ۸۳۳ |
| (۵۹۲) | دَ توپ دَ ویشتو طریقه | ″ |
| (۵۹۳) | دَ فقیرایپي کرۀ وړۀ | ۸۳۴ |
| (۵۹۴) | دَ فقیرایپي مالي وسائل | ۸۳۵ |
| (۵۹۵) | دَ فقیرایپي لنګر | ۸۳۶ |
| (۵۹۶) | شپږ ویشتم باب : دَ فقیرایپي یوځو تورَیال | ۸۳۸ |
| (۵۹۷) | دین فقیر | ″ |

| | | |
|---|---|---|
| (۵۹۸) | ملا شیر علی خان | ۸۴۱ |
| (۵۹۹) | خلیفه گلات شاه | 〃 |
| (۶۰۰) | مولوی محمد ظاهر شاه | ۸۴۲ |
| (۶۰۱) | خلیفه مهردل ختک | ۸۴۳ |
| (۶۰۲) | خلیفه گل نواز | ۸۴۵ |
| (۶۰۳) | خونیاخیل | 〃 |
| (۶۰۴) | ملک آیوٹ | ۸۴۶ |
| (۶۰۵) | ملک ولی خان | 〃 |
| (۶۰۶) | خلیفه چلکهائی | ۸۴۷ |
| (۶۰۷) | مولوی محمد وارث شاه | 〃 |
| (۶۰۸) | ملک گلاجان | ۸۴۸ |
| (۶۰۹) | گاکو | 〃 |
| (۶۱۰) | مولوی غازی مرجان | ۸۴۹ |
| (۶۱۱) | مولانا گل محمد سپین وامی | ۸۵۰ |
| (۶۱۲) | فقیر محمد | ۸۵۱ |
| (۶۱۳) | غالی | ۸۵۳ |
| (۶۱۴) | جنت میر | ۸۵۴ |
| (۶۱۵) | عید حسن | 〃 |
| (۶۱۶) | گل شاه عالم | ۸۵۵ |
| (۶۱۷) | نذر بیتنی | 〃 |
| (۶۱۸) | میر اعظم او سخی مرجان | ۸۵۶ |
| (۶۱۹) | دیس گل | 〃 |
| (۶۲۰) | سردار ممند خیل | ۸۵۶ |

| | | |
|---|---|---|
| (۶۲۱) | گل شاه او اورنگ | ۸۵۷ |
| (۶۲۲) | شیخ اسلم | 〃 |
| (۶۲۳) | زړه باتی | ۸۵۷ |
| (۶۲۴) | مهردل توری خیل | ۸۵۸ |
| (۶۲۵) | بابو محمود | 〃 |
| (۶۲۶) | بابو نور محمد | ۸۵۹ |
| (۶۲۷) | میراعظم | ۸۶۰ |
| (۶۲۸) | دُر او غزلے | ۸۶۱ |
| (۶۲۹) | وتهائی سید کائی | 〃 |
| (۶۳۰) | ازلمیر | ۸۶۲ |
| (۶۳۱) | خلیفه محمد آمین | ۸۶۳ |
| (۶۳۲) | شاه عالم | ۸۶۴ |
| (۶۳۳) | سالم خون | 〃 |
| (۶۳۴) | عمرخان | ۸۶۴ |
| (۶۳۵) | عجیم خان | ۸۶۵ |
| (۶۳۶) | بیلا ندی | 〃 |
| (۶۳۷) | ضمیر شاه | ۸۶۶ |
| (۶۳۸) | غنم ترنگ | ۸۶۷ |
| (۶۳۹) | پیا وړے | 〃 |
| (۶۴۰) | امان ختک | ۸۶۸ |
| (۶۴۱) | ربنواز جرنیل | 〃 |
| (۶۴۲) | دخپلواکئ دوران | ۸۷۰ |
| (۶۴۳) | روسی تسلط | ۸۷۱ |
| (۶۴۴) | افغان مهاجرین | ۸۷۳ |

# سریزه

زهٔ دَ هغې ورځې نه لائق شاه دَرپه خیل پیژنم ، چه ایله ئې شوندېره شنه شوې وه او دَ برّصغیر دَ آزادئ په جدّوجُهد کښې به دَ خپل ترهٔ ملک زرګل شاه سره کورَوَیک ته راتللو. مابه چه فقیرا ایپیؒ ته مخامخ کړو نو هغهٔ به ډیره مینه ورسره کوله. وروستو دَرپه خیل صاحب دَ ریډیو پاکستان پیښبور او دَ هیواد دَ مختلفو جریدو په ذریعه دَ یو اوچت شاعر په حیث اولس ته معرفی شو. غالباً کال ۱۹۶۸ئ کښې چه دهٔ دَ "وزیرستان" په لیکلو لاس پورې کړو، نو یو کرت بیا کورَوَیک ته رامات شو او دَ زاړو غازیانو نه به ئې دَ فقیرا ایپیؒ دَ غزاګانو په حقله معلومات راغونډول.

دَ دهٔ دغه تاریخي څیړنه دومره اوږده شوه، چه له موږ نه

بیخی هیره شوه. خو چونکه دریه خیل صاحب دَ محکمو اراد و څښتن دے نو دهٔ خپل کاوِشونه جاری او ساتل، او دغه دهٔ نن دے ثمره دَ "وزیرستان" په شکل کښے رابرخیره شوه. تاریخ دَ هر قام دَلرغونو مشرانو دَ تهذیب، تمدّن، ثقافت او افتخاراتو بیش بها پنګه وی چه پشت په پشت ژوندو ته په میراث کښے پاتے کیږی. په دغه پنګه کښے دَ بشری ژواک دَ طور و طریقو نه پرته دَ کامیابئ او ناکامئ رازونه هم مضمر اوسی. دغه وجه ده چه کوم یو قام خپل تاریخ مسخ کړے دے، هغه پخپله هم دَ نړئ له مخ نه محوه شوے دے.

"وزیرستان" دَ وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو دَ هغو مشرانو تذکره ده، کومو چه په خپله خاورهٔ باندے سرونه خوړکړی دی، ولے چا غاصب ته ئے دَ بلوڅید و موقعه پرے نهٔ ده ورکړے کهٔ څوک پرے بلوڅیدلی هم وی، نو په توبوئے توبه کار کړی دی. دریه خیل صاحب دَ دغو مشرانو افتخارات دَ ډیر ښکلی او وسیع پس منظر سره دَ خپل نوی کهول دپاره راغونډ کړی دی. او دَ حالاتو او واقعاتو په رڼا کښے ئے داورته ښودلی دی چه دَ هغوئ دَ مشرانو ژوند دَ غیرت، بهادرئ او په قوم و ملک باندے دَ سرښندلو ژوند وو. نن هم که دغه خصوصیتونه په چاکښے موجود وی، نو په جهان به دَ عزت او حُرمت ژوند تیروی، ګنی تل تر تله به ذلیل و خوار اوسی.

هسے خو په " وزیرستان " کښے دَ جغرافیائی معلوماتو نه سوا دَ اسلام دَطلوع نه واخله عن تر دَ قیام پاکستان پورے دَ تاریخی حالاتو او واقعاتو اجمالی غونډے خاکه وړاندے شوے ده، ولے زیاتره رنړا دَ ملا پاوندهٔ او فقیرایپیؒ په ملی مبارزو اچولے شوے ده، دَ ملا پاوندهٔ حالات او واقعات که لږ څخوانی غونډے ښکاریږی هم، خو دومره نهٔ دی، چه سړے ئے دَ کره کوته تمیز نهٔ شی کولے. ولے دَ فقیرایپیؒ ژوند او حالات خو زما دَ مشاهدے تر وړاندے تیر شوی دی، نو ځکه زهٔ په وثوق سره ویلے شم چه فاضل لیکوال چه هر څهٔ لیکلی دی، هغه صحیح او دَ ستائینے جوګه دی۔

له دے نه پرته په ملا پاونده او فقیرایپیؒ باندے چه څینو خارجی او داخلی لیکوالو کوم تهمتونه لګولی دی، هغو ته دهٔ په ډیر ښکلی عالمانه او محققانه انداز کښے ځوابونه ورکړی دی او قارئینو ته ئے دا ثابته کړے ده، چه دَ دوئ په مبارزو کښے دنیاوی خواهشات نه، بلکه اسلامی مینه او دَ وطن دَ آزادئ ولولے شاملے وے۔ دغه شان دَ پاکستان په ابتدائی دور کښے دَ فقیرایپیؒ دَ غیر مفاهمانه رویے په ضمن کښے چه دهٔ کوم محرکات راجوت کړی دی او بیائے دَ هغو په اساس نادر انکشافات اولس ته په ګوته کړی دی، هغه دا ثابتوی چه دَ فقیرایپیؒ او حکومت پاکستان ترمینځه ټولے بدګمانئ دَ فریقینو دَ باهمی غلط فهمئ نتیجه وه۔ حالانکه دَ

دوارو مرام يو وو. نن صبا دَ تصنيفاتو شوق خو هرڅوک لري، مګر دَ تحقيقاتو ستونځې ته يو نيم ټينګيدے شي.

درپه خيل صاحب هم دَ يو بل دَ خوَلے خبرے او تش په نوم تصانيف حرفِ آخر نهٔ دي ګڼړلي، بلکه روميے ئې هرڅهٔ دَخپل ماهرانه نظر او تحقيقي زيار په کسوټۍ سِهٔ کره کړي دي او بيا ئې قارئينو ته وړاندے کړي دي.

وئيلے شي چه دَ يو مؤرّخ مثال دَ منصف وي. دغه شان درپه خيل صاحب هم دَ "وزيرستان" په ليکلو کښے دَعصبيّت او قوم پرستۍ نه مکمل طور ځان په ډډه ساتلے دے. وطن پلوري ئې وطن پلوري ښودلي دي او وطن جارو ته ئې وطن جار وئيلي دي. ګنجي ته ئې ګنجے وئيلي دي او څنړور ته ئې څنړور وئيلي دي. نور خو نور، چه هغو غيروزيرستاني سرتيرو ته ئې هم دَ عقيدت ګلونه پيش کړي دي، کومو چه دَاسلام دَ سرلوړۍ او دَ هيواد دَ آزادۍ په لار کښے په دغه خاوره قربانۍ ورکړي دي.

زهٔ دا دعوٰي بے ځايه نهٔ ګڼړم، چه کهٔ دَ جغرافيائي او تاريخي موادو، نادرو انکشافاتو، بلند پايه اقتباساتو، واقعاتي تسلسل، لغوي ذخيرے، نثري اسلوب او لساني چاشنۍ له کبله "وزيرستان" دَ ستائينے ور دے نو دَ معلوماتو له مخے ځان ته دَ انسائيکلوپيډيا حيثيت هم لري.

دا ښيله خبره ده، چه کهٔ فاضل ليکوال لږ غوندے نور هم

ځان کړولے وے او دَ علاقائی دود و دستوراو علم وادب په باره کښې ئے دَیو باب اضافه پکښې کړے وے نو لا به ښه وے۔

بهرحال زهٔ دړپه خیل صاحب ته داد ورکوم چه دهٔ په دغه نوی او مشکل موضوع باندے دومره کامیاب کوشش سرته رسولے دے، چه په نتیجه کښې ئے دَ "وزیرستان" په شان اولین او بهترین کتاب راوتلے دے۔ دا کتاب دَ تاریخ دَ شایقینو او طالب علمانو دَپاره یو زیرے دے. کهٔ چاته هم په وزیرستان باندے دَ تحقیق و تحریر ضرورت پیښ شی، نو شاید چه له دغے نه پرته بل موزون کتاب پیدا نکړے شی۔

زموږ دغه لوړ لیکوال دَ سکول دَ تاریخ پیدائش په مطابق په ۱۶ جون ۱۹۳۵ء کښې زیږیدلے دے۔ پلار ئے زرباد شاه نومیدو او په ختپه داوړ دے۔ ابتدائی تعلیم ئے په خپل کلی دړپه خیل کښې کړے دے۔ په کال ۱۹۵۲ء کښې ئے چه دَ ګورنمنټ هائی سکول میران شاه نه لسم پاس کړو نو په هم دغه کال په ګورنمنټ ډګری کالج ډیره اسماعیل خان کښې داخل شو او ترخوارلسم پورے تحصیل ئے اوکړو۔

څهٔ موده ئے سرکاری ملازمت اختیار کړو، خوخوند ئے ورنه کړو او خپل کاروبار ئے شروع کړو۔ په کال ۱۹۷۶ء کښې موږ دواړو یوځائے دَ حج بیت الله شریف سعادت حاصل کړو۔ نن صبا یوخوا دَ خپلے تپے دَ ملک په حیث

سیاسي رول لوبوی او بل خوا په شعر و ادب کښې دلچسپي اخلي۔ "زندان" نومې ناولټ دَ دهٔ مطبوعه اثار دے۔ "غریو" دَ دهٔ دَ منظوم کلام او "سپرغئ" دَ دهٔ دَ افسانو مجموعې دي، چه اوّل الذّکر پکښې زیر طباعت ده۔ دَ دے نه پرته دهٔ دَ افغان جهاد په حق کښې اُردو او انګریزئ ژبو کښې یو څو رسالے هم شائع کړي دي۔

مَولانا ګل محمّد سپین وامی

۵ رجنوري ۱۹۹۳ء

*

# داکتاب

دَ پښتون په ماضی دَ فکر کولو نه پس بايد يو انسان دغه حقيقت ته په رسيدلو کښې هيڅ دقت محسوس نهٔ کړی، چه دَ ملت په خپل وجود کښې دَ راتللو نه پس دَ خپلې بقا دپاره صرف دوو څيزونو ته ډير اهميت ورکړے دے چه يو مذهب او بله آزادی ده۔

دَ ښهٔ مرغه يا دَ بده مرغه پښتون د نړۍ په يوه داسے برخه کښې ميشته دے چه دَ ماضی دَ هر فاتح ارمان وه۔ يا دغو فاتحانو پښتون دَ خپل ارمان د تکميل په لاره کښې دَ خپلې خپلې لارے ازغے ګڼړلے وی او يا بيا خپلو خپلو حکومتونو ته دَ وسعت دَ خواهش په غرض دَ ځينو غوړو مرغيو راښيولو په هڅه دَ دغه برخے په آزادۍ بلوڅيدل او يا دَ دے تاراجۍ دَ هغوئ مجبوری وه۔

دَ ذکر شوو يا ځينو نورو هم څوامکانی وجوهاتو په نتيجه کښې دے ملت د خپلې آزادۍ تحفظ کله هم په

آرام پر یښې نه دے۔ دَ حالاتو دغو غورځو پرځو، جنګونو او غورځنګونو دندو کار او تورو شرنګ کښې دغه قوم هېڅ دَ خپل تاریخ دَ لیکلو څه ضرورت محسوس نکړو۔ بیا غیرو قومونو چه څه لیکلی دی، هغه یوا ړخیز دی۔ ځکه دَ دغه ملت دَ هر دور تاریخ څه خو دَ غفلت او څه دمجبوریو له مخه دَ بے رخئ په تیَرو کښې دے۔ خوشحالکه څنګه چه جهانی سیاسی حالات اړخونه بدلوی، پښتنو مورخینو ته هم دَ خپلو تاریخی غوښتنو احساس شوے دے۔ ولے دَ زمانے دَ دَبیزو او درنو پَردو له دړنګونو دَ حقیقت لعلونه راویستل خولا ډیر ګران کار دے او لوئے همت غواړی۔

ښاغلی لائق شاه خان درپه خیل دَ وزیرستان دَ تاریخ په لیکلو اوضرورت په وخت دَ وزیرو محسودو او داوړو غازیانو دَغازیانه کردار دَ حقیقتونو کومه هنداره چه په تاریخی شکل پیش کولو، پخپل قوم دَ خلوص او عشق دَ کوے جذبے پیرزوینه کړے ده، هغے دپاره موصوف دَ تبریک وړ دے۔

داکتاب زما له نظره نهٔ دے تیر شوے، خو دَ انسانی فطرت دَ تقاضو له مخه کیدے شی چه څوک چرته کمے کیږدی، خو سره دَ دے بیا هم حقه خبره داده چه

دُ ښاغلی لائق شاه خان درپه خیل دا زښت ډیر زیار دَ خپلو کتابو خوښيو له مخه په دغه وجه هم ډیر اهم دے چه دُ حال دَ مؤرخ په حیث ئے دَ مستقبل د مؤرخ دپاره ډیر څه پريښودل.

**همیش خلیل**

۵/جنوری ۱۹۹۳ء

# خپلې خبرې

له قديمه نه تر نن ورځې پورې بغير د يو څو خارجي ليکوالو، چه هغوئ په يو پليز ډول د وزيرستان په تاريخي اړخ څۀ نه څۀ رڼا غورځولې ده، نور چا هم پرې ځان نهٔ دې کړولې. د مولوي محمّد ظاهرشاه چارې دې ښې وې چه هغوئ د "فقيرايپي" د مبارزو په حقله د "د خپلواکۍ جګړې" په نوم يو اثار پرېښې دې. په دې کتاب کښې د فقيرايپيؒ نه اګاهو واقعات هم په اختصار سره بيان شوي دي. چونکه مولوي صاحب د ليکلو په وخت د تاريخي موادو چندان وسائل نهٔ درلود، نو د اختصار سره سره ئې سهوًا داسې واقعات هم ليکلي دي، چه هغه د حقيقت نه بعيد دي. څېنو روحاني بزرګانو لکه مولانا ګلاب دين عرف وزيرې ملا، کاکا صٓاحب، باډې فقيرؒ او لنډرې پير ته دهٔ د خپلې عقيد تمندئ له کبله داسې فرضي واقعات منسوب کړي دي، چه هغه د وزيرستان د حقيقي تاريخ

سازو شخصیتونو سره سراسر زیاتے معلومیږی۔ په ۱۹ فروری ۱۹۸۵ء زۀ او مولانا گل محمّد سپین وامی صاحب دَ موصوف دَ عیادت دپاره سروبی ته ورغلو۔ مولانا صاحب په کټ پروت وو۔ او زموږ په راتګ زښت خوشحاله شو۔ په خبرو خبرو کښے ما دَ مولانا گلاب دین دَ مبارزو په حقله ترے نه اوپوښتل۔ دۀ په ځواب کښے راته اووئیل چه :

"مولانا گلاب دین دَ بنوں نه توچی ته دَ غزا په نیت هجرت راکړے وو۔ دَ دۀ پروګرام دَ توپ او دَ اسلحه سازے کارخانے دَ قائمولو وو، ولے دَ بده مرغه هغه په خپلو ارادو کښے کامیاب نۀ شو او ډیر زر په حق ورسیدو۔ او دغسے دَ عملی جهاد سعادت ئے نصیب نۀ شو۔"

ما دَ کاکا صاحب، باد ے فقیرؒ او لنډروپیؒ دَ غزاګانو په باره کښے هم دَ دۀ نه تپوس اوکړو۔ راته وئیل ئے چه :

"دغو بزرګانو هم عملی جهاد نۀ دے کړے، ولے درپرده دَ مجاهدینو مرستیال ضرور وو۔"

دغسے یو وخت چه ما په خیسارۀ کښے دَ "مطلع الانوار" دَ مُصنّف مولانا گل منیر صاحب نه په دے ضمن کښے پوښتنه اوکړه، نو هغۀ هم راته اووئیل چه :

"دغو ټولو هستیو هیڅ قسمه عملی جهاد نۀ دے کړے۔"

دَ دے نه علاوه ما چه هرڅومره سرکاری ریکارډ پلټلے دے، تاریخی اثار مے لوستلی دی او مقامی تحقیقات مے ترسره کړی دی، ما ته داسے شواهد په لاس نهٔ دی راغلی چه دَ هغے نه دَ دوئ دَ غزالکانو خبره اثبات ته اورسی. بهرحال دا حقیقت دے، چه دغه هسکی شخصیتونه روحانی هستئ وے او په اولس کښے ئے دَ روحانی فیض شهره وه. مولانا کلاب دینؒ خو یو جیّد عالمِ دین هم وو.

دَ مولوی محمّد ظاهر شاه صاحب په تقلید کښے ډیرو لیکوالو بغیر دَ څهٔ تحقیق او څیړنے قلمونه پورته کړی دی او هغه څهٔ ئے لیکلی دی، چه په حقیقت مبنی نهٔ دی. لکه دَ مثال په توګه ګل آیوب سیفی صاحب، عبدالحلیم اثر صاحب، عبدالحمید ترین صاحب، عارف محسود صاحب او دَ افغانستان ځنے دولتی لیکوال. افغانی لیکوالو خو دَ وزیرستان تاریخ بیخی مسخ کړے دے، نهٔ ئے دَ څیړنے زیار ګاللے دے او نهٔ ئے دَ تحقیق ضرورت محسوس کړے دے، څهٔ ئے چه اوریدلی یا زړهٔ ته راغلی دی، هغه ئے ورپورے تړلی دی. بیا هم مونږ دَ مولوی محمد ظاهر شاه صاحب مننه کوو، چه هغهٔ دَ خپلو نامساعدو حالاتو باوجود مونږ ته خپل تاریخ په ګوته کړے دے او په مونږ کښے ئے دَ مزید څیړنے جذبه راټوکولے ده. په دے سلسله کښے دویم کوشش زمونږ لوړ لیکوال عبدالحلیم اثر صاحب کړے

دے، هغه دَ تاریخ وزیرستان دَ لیکلو په لړ کښې اگست ۱۹۶۸ء
کښې میرانشاه ته راغلے وو۔ زما سره ئے هم ملاقات شوے وو۔
تاریخي معلومات ئے اخذ کړي یا نا، خو دَ پولټیکل افسر په ذریعه
ئے دَ مِهردل توري خیل وزیر نه "دَ خپلواکئ جګړے" کتاب تر لاسه
کړو او بیرته لاړو۔ څهٔ موده پس ئے دَ "محکمه نشر و اشاعت
قبائل حکومت پیښور" په وساطت "زموږ مجاهدین" نومے
کتاب شائع کړو۔

دَ وزیرستان په حقله چه کوم څهٔ مولوي محمد ظاهر شاه
صاحب لیکلي دي، هم هغه ئے دَ معمولي ردو بدل نه پس په
نوي شکل کښې من و عن رانقل کړي دي. کومے سهوے چه
"دَ خپلواکئ جګړے" کښې دي، هم هغه په "زموږ مجاهدین"
کښې تکرار شوي دي، بلکه په ځینو ځینو واقعاتو کښې خو ئے
له حد نه زیات تجاوز کړے دے۔

دَ دے کتاب نه وروستو دَ مولانا محمد گل منیر صاحب یو
ضخیم غوندے کتاب "مطلع الانوار" رااووتو، دغه کتاب په ډیرو
خوندَورو موضوعاتو باندے مشتمل دے۔ یو موضوع په کښې
تاریخ وزیرستان هم دے، خو دَ کومو نوو تحقیقاتو او انکشافاتو
اضافه پکښې نهٔ ده شوے۔ کوم څهٔ ئے چه لیکلي دي، په
هغې هم وضاحتي تنده غالبه ښکاري۔

په دے پسے عبد الحمید ترین صاحب "فقیر ایپي" نومے کتاب

اولیکلو او چاپ ئے کړو. دا کتاب د انګریزئ د " آفیشل هسټری آف اپریشنز آن این. ډبلیو فرنټیئر آف انډیا " ترجمه ده. انداز ئے هم هغه شان انګریزانه دے. دا سے معلومیږی چه دغه کتاب د فقیر ایپیؒ په عقیدت کښے نه، بلکه د انګریزانو په حق کښے لیکلے شوے دے. د دغے کتاب د دوُو کالو ۳۷-۱۹۳۶ء واقعاتو نه ما وراء د مؤلف د خپل محنت حاصل بیخی ضعیف معلومیږی ـــ

د "فقیر ایپیؒ" نه پس عارف محسود صاحب "وزیرستان کرم سے گومل تک" نوم کتاب چاپ کړو، چه تاریخی مواد پکښے کم او تنقیدی جائزے زیاتے دی. د "ملا پاوندهؒ" او "فقیر ایپیؒ" د ملی او اسلامی مبارزو په حقله چه دهٔ کوم محرکات پیش کړی دی هغه هیڅ حقیقت نهٔ لری. تاریخی مواد ئے کمزوری او د تمہید نقل دے. هر څنګه چه وی، زما پورتنو دوستانو چه د تاریخ وزیرستان په حقله کوم محنت کړے دے، زهٔ د هغے داد ورکوم. د دوئ دغه محنت د راتلونکو لیکوالو دپاره د یو مضبوط بنیاد حیثیت لری. دا به د هغوئ خپل همت وی چه دلکش تعمیر پرے جوړوی یا زشت. دا سے اوګڼئ چه زما د "وزیرستان" دانچه هم د دوئ د کوشش په اډانړه ولاړه ده. ما د زیرِ نظر کتاب په لیکو کښے د کال ۱۹۶۸ء نه تر نومبر ۱۹۹۲ء پورے منډے ترړے وهلی دی او تحقیقی کاوشونه مے کړی دی. د کابل، کورویک، ژوب او پیښور معلوماتی

مرکزونه مے پلټلی دی، دَ میرانشاه، وانا، بنوں او ډیره اسماعیل خان دفتری ریکارډ مے کتلے دے۔ دَ اُردو، انګریزئ، فارسئ او پښتو ژبو اثار مے لوستلی دی۔ او دَ بعضو واقعاتو په حقله مے دَ متعلقه ژوندیو شخصیتونو څخه معلومات اخذ کړی دی او تر وَسه مے هغه ټول مقامات معائنه کړی دی، چرته چه زموږ تاریخ ساز واقعات پیښ شوی دی۔ بیا مے دَ اخذ شوو موادو پوره پوره کره کتنه کړے ده او دَ هغے نه پس مے په زړهٔ پورے او مستند تاریخی واقعات راخستی دی او په "وزیرستان" کښے مے خپل ټول کهول ته وړاندے کړی دی۔ دَ "فقیرایپی" زیاتره واقعات زما دَ خپلے مشاهدے او کورنی یادداشتونو په رڼا کښے مرتّب شوی دی، ځکه چه دَ "فقیرآیپی" سره زموږ دَ مشرانو ژوړ روابط وو۔

چونکه زهٔ نهٔ دَ صاحبِ قلم دعوٰی کوم او نهٔ دَ تصنیف و تالیف وسیع تجربه لرم، نو کیدے شی چه دَ ځینو واقعاتو په رانقل کولو کښے زما نه هم سهوے شوے وی او یا چا راته دَ حقیقت برعکس معلومات راکړی وی یا په واقعاتو کښے وضاحتی تشنګی ښکاری، یا په کومو مبالغه حاوی وی، او یا داسے بل لغزش رانه شوے وی، چه هغه دَ علم تاریخ دَ تحریر و ترتیب منافی وی، نو زهٔ بخښنه غواړم او خپلو لوستونکو ته خواست کوم چه هغوئ ما په خپلو نیکو مشورو او نمانځی۔ بلکه خبره دا چه

دَ قندهارئ او یوسفزئ پښتو په مقابل کښې په وزیرستانئ پښتو لهجه کښې دومره اجنبیت پروت دے، چه دَ یو وزیرستانی وګړی نه علاوه بل پښتون په مشکله پرے پوهیدے شی۔ هم له دے کبله دَ "وزیرستان" پښتو، دَ پښتونخوا دَ مختلفو قبیلو لسانی مجموعه ده، چه دَ کران کاتب دَ ښے پیرزوئے قلم پکښې لا نوے رنګ پیدا کړے دے۔ هیله ده چه که څوک څه مشکلات پکښې محسوس هم کړی، نو خاطر به پرے نهٔ دروی۔


دَ وزیرستان په خاوره دَ انګریزانو او غازیانو په مابین کښې چه دَ مبارزو په دوران کښې دَ فریقینو کوم تلفات بیان شوی دی، دَ هغې اعداد و شمار دَ مبالغې نه خالی نهٔ ښکاری۔ ځکه چه دَ سرکاری ریکارډ او مقامی تحقیق نه دا ثرګندیږی، چه دواړو فریقو ترخپله وسه دَ خپل مخالف فریق تلفات زیات ښودلی دی۔

دَ وزیرستان په مردم خیزه خاوره باندے چه چا هم دَ اسلام په نوم او دَ وطن په ننګ قربانئ ورکړی دی ما ترخپله وسه په دے تصنیف "وزیرستان" کښې خپل مقام ورکړے دے۔ بیا هم کیدے شی چه ځنے سرتیری ځوانان او شاندار واقعات زما په علم کښې نهٔ وی راغلی او په "وزیرستان" کښې دَ شاملیدو نه پاتے شوی وی، نو دَ هغې په حقله زهٔ معذرت غواړم۔ که څوک ئے را ته په ګوته کړی نو انشاء الله په دویم ځلی

چاپ کښې به ئې اړو مرو شامل کړو۔

په "وزیرستان" کښې ما د وزیرستان نه چاپیره سیمو لکه ژوب ډیره اسماعیل خان، بنوں، کوهاټ، او افغانستان په هغو تاریخي واقعاتو هم مفصله رڼا اچولې ده، کوم چه د وزیرستان سره تعلق لري۔ دغه ټولې داسې علاقې دي، چه که په انتظامي یا جغرافیائي لحاظ د یو بل نه جدا هم دي، خو په تاریخي لحاظ سره یو په بل مکمل انحصار لري۔ دغسې د برصغیر د آزادئ په جدوجهد کښې، چه کوم داسې واقعات رو نما شوي دي، چه هغه د وزیرستان داخلي واقعاتو ته محرکات ثابت شوي دي، نو ما دلته د "وزیرستان" د ځینو تاریخي واقعاتو په پس منظر کښې بیان کړي دي۔ که چرته ما داسې نه وې کړي نو د "وزیرستان" په بعضو واقعاتو کښې به لوستونکو وضاحتي تشنګي محسوسولې۔

ما په "وزیرستان" کښې د اُردو نه اخستې شوو اقتباساتو ترجمه قصدًا نه ده کړې، ولې چه نن صبا اکثر پښتانه په اُردو پوهیږي او په ترجمه کښې هغه خوند نه وي، کوم چه په اصل کښې وي۔ د انګریزئ د اقتباساتو ترجمه مې په ساده پښتو کښې په آزادانه ډول کړې ده۔ دا خبره هم د یادولو وړ ده، چه د "وزیرستان" په لیکلو کښې ما ډیره موده لګولې ده۔ زمونږ ځنې تاریخي شخصیتونه هغه وخت ژوندي وو او ما هم ژوندي ښودلي دي، کیدې شي چه هغوئ اوس په حق رسیدلي وي، نو هیله



د شمالي وزیرستان هر دلعزیز پولیټیکل ایجنټ

ښاغلی محمد آمین خټک صاحب

د چا د علمي او اخلاقي مرستې په برکت چه د "وزیرستان"

دوېم ایډیشن اولس ته وړاندې کړې شو ۔

ده چې قارئين به د هغو په حقله ماته صحيح معلومات فراهم کړي
د "وزيرستان" اکثر عکسونه ماخپل تيار کړي دي. خو ځنې ځنې مې
د مختلفو کتابونو نه راخستي دي او په شکريه سره مې په "وزيرستان" کښې
شامل کړي دي ـ د فقير ايپي عکس د ده د اصلي فوټو څخه تيار کړ شوے
دے، ولې د ملا پاونده عکس د مسټر واټسن ډيو رپورټ په رڼا کښې مرتب شويدے.

په آخر کښې زه د هغو ټولو ښاغليو شکريه ادا کوم، کومو
چې د "وزيرستان" په ليکلو کښې زما سره اخلاقي مرسته کړې
ده. ولې د ځينو خواخوږو لکه د :

* شمالي وزيرستان ايجنسۍ درويش پولټيکل ايجنټ جناب محمد امين
خان ختک صاحب ـ

* د خيبر ايجنسۍ مرد اهن پولټيکل ايجنټ جناب عبدالکريم قصوريه
صاحب ـ

او زما د خپلې کورنۍ يو خوږو جناب امير حاتم خان عرف
فقير صاحب، انجنير محمد زمان صاحب، انجنير محمد ايوب خان
صاحب، ډاکټر محمد داؤد خان صاحب، ميجر محمد اياز خان صاحب
او انجنير عزيز داور صاحب خصوصي مننه کوم ـ

لائق شاه درپه خيل
۸ر جنوري ۱۹۹۳ء

*

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## اول باب

# وزیرستان

وزیرستان دَ کرم او ژوب (بلوچستان) ترمینځ دَ افغانستان دَ سرحدونو سره مغرب او شمال مغرب پله لګید لے دے. مشرق پله ئے دَ بنوں او ډیره اسماعیل خان دَ ضلعو خاص علاقے پرتے دی، چه اکثر پکښے دَ بیټنو قبائیلی اولس او څنے څنے احمدزئ وزیر اوسیږی. دغه خاص علاقے دَ وزیرستان او پخو ضلعو ترمینځه برید دے. او په انتظامی لحاظ سره دَ بنوں او ډیره اسماعیل خان دَ ډپټی کمشنرانو دَ اثر لاندے دی. دَ ټول وزیرستان رقبه ۴،۱۷۲ مربع میله ده. په دا کښے قطبی وزیرستان ۱،۶۱۷ مربع میله دے او سوئیلی وزیرستان ۲،۵۵۵ مربع میله.

### آب وهوا:

دَ وزیرستان علاقه دَ معمول مطابق بارانی موسم نهٔ لری.

خو دَ عامو کالونو په دوران کښې دَ فرورئ او مارچ میاشتو په آغاز کښې په غرونو باران وریږی. او دَ جولائ او اګست په میاشتو کښې هره ورځ په کرښه کمزور سره زوږ وسیلئ وی. دَخزان موسم هرخواخشک وی. دَ دسمبر، جنورئ او فرورئ په میاشتو کښې دَ څلور زره فټه بلندئ نه پورته سیمو کښې واوره، ږلئ، کرښکونه او بادوباران لګیا اوسی.

په دنیا کښې یوه حصه هم دَ سرحد په شان موسمی اختلافات نهٔ لری، او بیا په سرحد کښې خصوصًا وزیرستان، چه عمومًا ورته دَ سرحد سویزرلینډ ویئیلے شی.

## قطبی وزیرستان:

په انتظامی لحاظ سره وزیرستان په دوو برخو کښې ویشلے شوے دے. یوه برخه قطبی وزیرستان بللے شی او بله سوئیلی وزیرستان. دَ قطبی وزیرستان قطب پله خوست، مغرب پله دَ شوال او بیرمل قبائیلی سیمه، سوئیل پله سوئیلی وزیرستانَ او نمر خاتهٔ پله دَ بنوں ضلع خاص علاقه پرته ده.

دَ قطبی وزیرستان علاقه دَ نیمائ نه زیاته غرنیزه ده او دوه قامونه پکښے اوسیږی، یو وزیر او بل داوړ. دَ وزیرو شمیر پکښے زیات دے. او له دغے وجے نه دَ دے علاقے نوم هم دَدوئ په نامه ایښودے شوے دے. دَقطبی وزیرستان ټوله آبادی ۲,۵۲,۲۰۰ ده، چه اکثریت پکښے دَ وزیرو قام دے.

## وزیر:

دَ وزیرو دَ مشرانو سلسله دَ یو نوموړی سردار سلیمان نه شروع شوے ده. دَ سلیمان خوئے وزیر وو. دَ وزیر دوه ځامن وو، یو خدرے او بل لالے. دَ خدری درے ځامن وو، موسیٰ، محمود او مبارک. موسیٰ په درویش لقب باندے مشهور وو.

دَ موسیٰ درویش دوه ځامن وو. دَ یو نوم اُتمان او دَ بل احمد وو. دَ دوئ نه بیا دَ اُتمانزو او احمدزو وزیرو قبیلے جوړے شوے. چه درویش خیل وزیر هم ورته وئیلے شی. اُتمانزئ وزیر په قطبی وزیرستان او احمدزئ وزیر په سوئیلی وزیرستان کښے میشته شول.

اتمانزئ وزیر په توچئ کښے، دَ توچئ په خوا وُشا غرونو شوال او دَ خیسارهٔ، کیتو او کرمے رودونو په غاړو اوسیږی. احمدزئ وزیر دَ وانا نه چاپیره پراخه نواح او دَ شکی په شادابه علاقه کښے اوسیږی. او په ژمی کښے دَ بنون ضلع په سوئیلی پولے باندے پراته اوسی.

دَ اتمانزو او احمدزو وزیرو په شریکه مشرنیکهٔ موسیٰ درویش دے، چه په دوئ کښے موسیٰ نیکهٔ یادیږی. دَ موسیٰ نیکهٔ روضه مبارکه دَ وانا نه په شل میله فاصله باندے شمال مغرب پله دَ وزیرستان په سرحد کښے دننه دَ زنده واړ په وادئ کښے ده. په شنک کښے ئے دَ بیرمل لویه لار تیریږی. په

دغه سیمه کښې دَ وانا بومیٓ خیل احمدزئ وزیر اوسیږی۔او دَ زیارت مغرب پله سیمه نیکهٔ بند بللے شی۔

دَ قطبی وزیرستان اتمانزئ وزیر په درے څانګو کښے تقسیم شوی دی : (۱) ابراهیم خیل ، (۲) وُلی خیل، (۳) مامیت خیل دغه درے څانګے بیا په وړو وړو څانګو کښے داسے تقسیم شوی دی :-

(۱) ابراهیم خیل :
- مداخیل
- منظرخیل
- توری خیل
- ټیټی خیل

(۲) وُلی خیل :
- بکا خیل
- جانی خیل
- کابل خیل

(۳) مامیت خیل:
- حسن خیل
- خدرخیل
- بوره خیل
- وُزی خیل

په قطبی وزیرستان کښے دَ وزیرو زیات روزګار دَ کوئیلو،

آلوگانو، عمارتي او سوختني لرگو تجارت دے، چه هم دَ دوئ په خپله عزیزه علاقه کښے پیدا کیږي. دَ کرو بزو پالنه کوي. او سرکاري ملازمتونه او موجبونه هم لري. شته مَن خلق ئے دَ ترکونو کاروبار کوي. اکثر وزیر په غرونو کښے اوسیږي. او په اوړي کښے دَ رزمک او شوال غوندے یخو ځایونو ته کډے کوي او په ژمي هوارے او ژورے زمکے ته راکوزیږي.

کال ۱۹۲۵ء کښے چه فرنګي په وزیرستان کښے خصوصاً دَ وزیرو په سیمه کښے ځان آبادول شروع کړو نو وزیرو بےشمیره دولت ترے نه اوګټلو او دَ هغے دولت له برکته دَ وخت سره سره ډیرے کورنئ میداني علاقو ته راکوزے شوے. او په پیسو ئے زمکے پېتي واخستل. دَ بنون په میداني علاقو او دَ داوړو په پلوئ نواح کښے دَ وزیرو لوئے لوئے کلي آباد شوي دي. په قطبي وزیرستان کښے درے نور قامونه هم په اقلیت سره اوسیږي. چې قامي پیوستون دَ وزیرو سره لري. دغه درے قامونه ګربز، خرسین، او سیدګي دي.

## ګربز:

ګربز دَ خدري دَ دریم ځوئے مبارک ځوئے وو. او اولاد ئے ځنے دَ میرانشاه نه شمال پله خوست ته نزدے په سرحد باندے پرته دي. او ځنے دَ کهجورئ او شینکي تنګي ترمینځه دَ بنون میرانشاه سړک په خواؤ شا اوسیږي. دَ دوئ دَ استوګنے ځایونه مشه، غلام خان

دانګړے ، جن شوره ، کڅکي ، لالیټه ، کونړي کلے او باړي کلے دے۔ دَ دوئ زیاتره آبادي دَ افغان حکومت زیر اثر ده۔

## خرسین:

خرسین دَ مزدک غرهٔ په لمنو کښے جنوب پله په دوؤ لویو لویو کلیو وڑګي او زنګوټي کښے میشته دي۔ وڑګے دَ باروماں او مټوره الکهو په مینځ کښے آباد دے۔ او زنګوټے دَ تاؤریبي په موړګه۔ دَ خرسینو څښے خلق دَ شوال وادئ مغرب پله په ګورویک الکه کښے هم آباد دي۔ خرسین خپله شجره نسب په حضرت بلال پورے تړي۔ دوئ خپل نوم دَ غرشین نومے یو فقیر نه آخستے دے چه دَ هغے دوه ځامن وو، یو چالاک نومیدو او بل توره داک۔ دَ چالاک اولاد په وڑګي کښے اوسیږي۔ او دَ توره داک په زنګوټي کښے۔ دَ دغه خرسینو څخه څښے دَ خوست په صابرینه الکه کښے هم میشته دي۔

## سیدګي:

دَ قومیت په لحاظ سره دَ دوئ تړون هم دَ وزیرو سره دے۔ په اصل کښے سیدان دي۔ سیدګي په دوؤ څانګو کښے ویشلي شوي دي۔ جیبو خیل او ملکه خیل۔ دَ جیبوخیلو نه دوه واړه ښاخونه وتلي دي۔ یو ذکر خیل دے، او بل دیر نومي۔ دَ ملکه خیلو نه هم دوه واړه ښاخونه وتلي دي۔ یو شودي خیل دے او بل بودر خیل۔ شودي خیل او بودر خیل په زاوئ او داویکر کښے

میشتهٔ دی ۔ زاوئ سیدګی دَ مائیزرمدآخیلو په خواؤشا علاقه کښې پراتهٔ دی ۔ داوګر، ذکرخیل او دیرنوحي دَ ډانډے په پراخه سیمه کښې آباد دی ۔ څنې جیبوخیل سیدګی په بیرمل کښې هم اوسیږی ۔ دَ سیدګیو په حقله په "۳۱ مارچ ۱۸۹۵ء پولټیکل ډائری" کښې نوشته دی چه :

"دوئ دَ دربپه خیلو داوړو همسایه دی (دَ لانډے) او هم دوئ ته قلنګ ورکوی، خو دَ تیرو دوؤ کالونو څخه دَ خوست ګورنر هم دَ دوئ نه دَ خراج مطالبه کوی ۔"

## داوړ :

په قطبی وزیرستان کښې دویم قوم داوړ اوسیږی ۔ چه عموماً دَ توچئ رود په دواړو غاړو دَ غزلمی نه واخله ترشینکی تنګی پورے په هواره او میدانی حصه کښې پرته دی ۔ دَ توچئ رود په یو خوا بل خوا عزیزه علاقه کښې وزیر اوسیږی ۔ او په دواړو غاړوئے چه کومے هوارے، آبادے، زرخیزے او ښکلے علاقے دی، هغه دَ داوړو په برخه رسیدلی دی، او اوړی په ژمی پکښې اوسیږی ۔ دَ تمل (توچي) دَ تنګی نه نرخاتهٔ پله داوړو ته لر او نرپریواته پله داوړو ته بر داوړ وائی ۔

دَ کال ۱۸۹۵ء بونډری کمیشن نه مخکښې په دغه علاقه دَ دَ افغانستان دَ حکمرانانو اثر وو ۔ دَ پخوانو روایاتو نه معلومه

شوے دہ چہ داوړ دَ غور دَ حکمران شاہ حسین[1] اولادہ دہ - دَ شاہ حسین دوہ[2] ځامن وو- دَ مشر ځوئے نوم ئے سروان وو. دَ چا دَ نسل نہ چہ دَ مالیرکوټله مُسلمانان پیدا شوی دی. دَ کشر نوم داوړخان وو- داوړ پہ اصل کښے هم دَ دغہ داوړخان دَ نسل نہ دی- پہ دیارلسمہ صدیٔ کښے چہ څۀ وخت دَ شاہ حسین دَ اولاد ځنے یو تن تہ دَ دهلی حکمرانی پہ لاس ورغله، نو هغه وخت دَ تقسیم پہ لحاظ دَ شاہ حسین دَ کشر ځوئے داوړخان دَ اولاد پہ برخہ ډیرہ جات، دَ سپین او زړ میلان زرخیزے وادیٔ وآنا، وزیرستان او دَ لاهور صوبہ اورسیدله- دَ دواړو ټوله شمیره دَ زنانوٴ سره ۵۸٫۳۲۸ دہ-

داوړ خپله قامولی او تقسیم دَ کلیو پہ مناسبت کوی او ترتیب ئے داسے دے:-

ملیَ زاد : (سپین کوند)

(۱) حسو خیل ، (۲) موسکی ، (۳) هرمز

(۴) زیرکی ، (۵) ووزی محمدی ، (۶) خدی

(۷) عیدک ، (۸) مبارک شاهی ، (۹) حکیم خیل

---

[1] دَ قوی روایاتو او کرہ څیړنے پہ مطابق دَ شاہ حسین بیګمه او دَ داوړخان موربی بی مهرالنساء نومیده، شاہ حسین بہ ورته له مینے مهراسی ویئل- وروستو دَ دهٔ کم ظرفه مخالفینو دغه نیکه بی بی پہ میراثی نامه مشهوره کړه- (راقم)

(۱۰) اَرغوند (۱۱) درپه خیل (۱۲) همزونی (۱۳) ملخ -

## تپي زاد : (تورکوند)

(۱) حیدرخیل (۲) ایپي (۳) غیسوړی
(۴) دولت خیل (۵) بروخیل (۶) تپي
(۷) میران شاه (۸) بویه

---

مجموعي طور دَ شمالي وزیرستان درّه توچي دَ بحیرهٔ روم دَخطے په شان آب وهوا لري. او هم دغه وجه ده چه دلته هرقسم میوه پیدا کیږي. دَ حیدرخیلو کجورے، دَ تپئ انګور او دَ همزونو آلو بخاره ډیر شهرت لري، او دَ پنجاب کوټ کوټ ته رسیږي. خلق ئے کرونده کردي. اکثرخپلے زمکے او باغونه ساتي. دَ دے نه علاوه داوړ دَ میران شاه او میرعلي په بازارونو کښے تجارت او دَ لاریو موټرو کاروبار هم کوي. سرکاري ملازمتونه او موجبونه هم لري.

## دَ قطبي وزیرستان تحصیلونه :

په قطبي وزیرستان کښے ټول نهه ۹ تحصیلونه دي: شیوه، سپین وام، میرعلي، میرانشاه، دته خیل، دوسلي، رزمک، کریوم، او غلام خان. په دے ټولو کښے دَ مرکزي حیثیت له رویه میران شاه او رزمک مشهور سیمے دي. ولے دَ قدرتي ښکلا له مخے په قطبي وزیرستان کښے شوال یواوچت مقام لري.

## میران شاه:

دَ بنوں نه قبلے پله خلوېښت ميله لرے پروت دے. په کرمئ کښے دَ گزارے ځائے دے. خو په ژمی کښے پکښے تیزے سیلئ چلیږی. او کالونه پس کله کله واوره هم پریوځی. دَ سطح سمندر نه ۳۰۳۶ فټه اوچتوالے لری. په انتظامی لحاظ سره دَ قطبی وزیرستان مرکزی مقام دے.

## رزمک:

دَ میرانشاه نه جنوب پله دَ وزیرو په غرنیزه سیمه کښے یوه ښکلے علاقه ده. چه دَ سطح سمندر نه ۶۵۰۰ فټه اوچتوالے لری او دَ بنوں نه ۷۲ او میران شاه نه ۴۰ میله لرے پروت دے. ډیر صحت افزا مقام دے. په ژمی کښے واوره پریوځی. غرونه ئے لکه دَ ځنګلو شنه، په دنګو دنګو اونو بوټو شتمن او دَ فطرت ښکلی مناظر لری. دَ انګریزانو په زمانه کښے به دلته یو لوئے فوځی کیمپ وو. او په اوړی کښے به اکثر لوئے لوئے فوځی افسران او پولټیکل حکام دلته اوسیدل. دَ رزمک میدان په جنوبی اړخ کښے دَ سپین کمر، ختمی غر، او تاؤدے چینے محسود پرته دی او شمال پله ئے دَ سوَلے نزی مامیت خیل وزیر اوسیږی.

## شوال:

شوال دَ قطبی وزیرستان ایجنسئ بیخی مغرب پله یوه لویه خوره ده. چه زیاتره دَ برَی یالے، مانړے او ځینے پالو نه سازه

شوے ده او دَ یوولس زره فټه اوچت غرهٔ هغه سلسله کښے راتیریږی کومه چه دغه پالے دَ من توئی، سنګتوئی او دَ انا الګډ و نه بیلوی - دَ شوال خوړ دَ افغان بونډری لائن نه اتهٔ میله نیغه مشرق پله بهیږی - او دَ مایئزر نه دوه میله مغرب پله توچئ رود ته ورګډیږی - آخرنی خلور میله سفر دَ مایئزر په پراخه دره کښے کوی - دَ شوال مشرق ته رزمک، شوئیدل غر سپین کمر، مکی غر او لغړغر واقع دی - مغرب خواته ئے دَ زاویئ دره، سپین غر او دَ بیرمل سیمے او غرونه پراته دی - جنوب پله ئے موسیٰ نیکهٔ او دربے نشتر دَ احمدزو وزیرو سیمه واقع ده - او شمال خواته ئے دَ منظرخیلو دره او دَ مایئزر مداخیل پراتهٔ دی -

دَ شوال سیمه ښکلی فطری مناظر، سرسبز و شادابه زمکے او دَ ځنګلونو ډکے اوږدے اوږدے غرنیزے سلسلے لری - ځائے په ځائے میدانی هوارے زمکے هم لری - آب و هوا ئے په ګرمئ کښے خوشګواره او په ژمی کښے ډیر زیات یخ او ډیره واوره پریوځی - دَ بکاخیلو، جانی خیلو، میامئ، ملکشئ او شاهی خیلو وزیرو شاخونه په اوړی کښے په شوال کښے استوګنه کوی او په ژمی دَ بنوں دَ ضلعے په سوئیلی پولو پراته اوسی -

# سوئیلی وزیرستان

دَ وزیرستان دویمه برخه سوئیلی وزیرستان بللے شی۔ دَ سوئیلی وزیرستان په قطب کښے قطبی وزیرستان، قبلیځ اړخ ته افغانستان، سوئیل ته ژوب (بلوچستان) او نمرخاتهٔ پله دَ ډیرہ اسماعیل خان ضلع پرته ده۔

دغه علاقه هم زیاتره غرئیزه ده۔ او دوه قامونه پکښے اوسیږی۔ یو قام دَ احمدزو وزیرو دے او بل دَ محسودو۔ دَدے نه علاوه اورمړ، دمتوڼړی، سلیمان خیل او غلجئ قبائل هم پکښے په اقلیت سره اوسیږی۔ دغه رنګ دَ وانا نه اووهٔ میله راډیځوا دَ مچن بابا په زیارت دَ مروتو دَ قبیلے مچن خیل هم اوسیږی۔ دَسوئیلی وزیرستان بشپړ آبادی درے لکه اته ۳۰۸۰۰۰ زره ده چه اکثریت پکښے دَ محسودو دے۔

## احمدزئ وزیر:

احمدزئ وزیر په دوو څانګو کښے ویشلی شوی دی: سین خیل او کالوخیل۔ دَ سین خیلو نه درے ښاخونه هاتی خیل سرکی خیل او عمرزئ بیل شوی دی او بیا دَدوئ نه نور واړهٔ واړهٔ ښاخونه وتلی دی۔ هاتی خیل وزیر دَ بنوں ضلع شمال مشرق پله او په تهل کښے اوسیږی۔او ځنے دَ بوګنتو او سپین تنګی په سیمه کښے۔ په ګرمئ کښے وانا او شکی ته کډے کوی۔

سرکی خیل وزیر دَ بنوں او وانا په سیمو کښے میشته دی. عمرزئ وزیر دَ بنوں نه شمال پله دَ منډا وام، سپرے او کړانګ په علاقه کښے اوسیږی. دغه شان کالوخیل هم دوه څانګے دی: نصری او سپرکی. دَ نصرئ نه دوه ښاخونه بومی خیل او شادی خیل جدا شویدی او دَ سپرکی نه مهمند خیل، سدی خیل او سودنړ خیل وتلی دی. او بیا دَ هر یو نه نور نور ښاخونه خواره شوی دی.

بومی خیل په کرمئ کښے دَ وانا نه چاپیره اوسیږی. دَ دوئ وړه وړه ښاخونه دادی: زلی خیل، توجی خیل، او ګنګی خیل. شادی خیل وزیر اکثر خانه بدوش دی. او دَ شکی، وانا، سپین وام، او ګیمبتی سره نزدے دَ کرمے په خواؤ شا علاقو کښے دَ موسم په مطابق غوړیدلی پرته اوسی. سپرکی وزیر په ژمی کښے دَ بنوں دَ سیمے په ګیمبتی علاقه کښے اوسیږی. او په اوړی کښے شکی ته کډے کوی.

محسود:

په سوئیلی وزیرستان کښے دویم قوم محسود اوسیږی. محسود او وزیر اصل کښے دَ یو نیکه اولاده ده. اتمانزئ، احمدزئ او مسید (محسود) درے واړه قامونه دَ نسب په اعتبار سکه ورونړه دی. لکه څنګه چه مخکښے بیان شوے دے، چه وزیر دَ سلیمان خوئے وو. دَ وزیر دوه ځامن وو، یو خدرے او بل لالے. دَ خدری درے ځامن وو: موسٰی چه په درویش مشهور وو، محمود او مبارک

دَ محسود یو ځوئے مسعود وو۔ اولاد ئے په مسعود، محسود او مسید دوموږنو یادیږی۔ دَ محسود دوه ځامن وو، یو علی چه اولاد ئے په علیزیٔ نامه یادیږی او بل بهلول، اولاد ته ئے بهلولزیٔ ویئیلے شی۔ دَ علی دوه ځامن وو، یو فتح چه اولاد ته ئے فتح خیل وائی او بل شمن چه اولاد ئے په شمن خیل مشهور دے۔ بهلولزیٔ په څلورو څانګو کښے ویش دی: عمل خیل، باند خیل نانو خیل او شینګی خیل او همدغه شان دَ هر شاخ نور بیلے بیلے څانګے وتلی دی۔ "دَ میړ درے مسید" په مناسبت سره محسودو خپله قامولی په دریو برخو تقسیم کړے ده: غلیزیٔ، بهلولزیٔ او شمن خیل۔ چونکه دَ مسعود نیکهٔ خدرے دَ وزیر ځوئے وو۔ په دغه مناسبت سره دَ مسعود قوم خلق په مسیدو وزیرو نامه یادیږی۔ ولے په موجوده حالاتو کښے محسود ځان ته یوه بیله قبیله ده۔ دَ دوی زیاته آبادی دَ ۱۱,۵۰۰ فټه اوچت پریغل نومے غرهٔ په لمنو کښے دَ کانی ګرم او مکین په خواوُشا کلیو کښے ده۔ بلکه دغه قوم دَ سوئیلی وزیرستان په مینځ کښے پروت دے۔ درے طرفه ترے نه درویش خیل پراتهٔ دی۔ او نمر خاتهٔ ته ئے دَ بنوں او ډیره اسماعیل خان ضلعو بیتهنی پراتهٔ دی۔

دَ وزیرو په څیر دَ محسودو هم یوه زیارتګاه شته چه هغه دَ مبارک (بورک نیکهٔ) زیارت دے۔ دغه زیارت دَ سروکیٔ نه پاس دَ ۸,۱۴۹ فټه اوچت کنډی غر په سر دے۔

## اُورمړ:

دغه قوم دَ محسودو په قاموالئ کښې شميرلے شي، خو حقيقت کښې ځان ته جدا شجره نسب لري. وئيلے شي چه دا قبائيل دَ يمن نه راغلي دي. او هر کله چه سُلطان محمود غزنوي په سومنات حمله کوله، نو دوي هم ورسره وو. دَ يو روايت په مطابق سُلطان محمود غزنويؒ دَ کانيګرمؒ[1] علاقه دوي ته په جاګير کښې ورکړې وه.

دَ دوي اصلي تماتوبے دکسئ دَ غزهٔ لښے دي. خو دَ وخت سره سره لوړ په لوړ خوارهٔ شول. څوک دَ افغانستان په لوګر دوړے علاقه کښې اوسيږي. څُنے په داوړو کښې پراته دي. او څُنے په کانيګرم کښې ميشته دي. څُنے اُورمړ دَ پيښور نه تقريبًا لس ميله لرے جنوب پله په دريو لويو کليو کښې آباد دي. چه اُورمړ بالا، اُورمړ ميانه او اُرمړ پايان ورته وئيلے شي. دَ شجرو او روايانو په مطابق اُورمړ دَ سړخبون په پنځو ځامنو کښې کشر ځوئے دے، او دَ سړبن نمسے دے چه په عمردين او اُرمړ مشهور دے. دَ دهٔ شل[2] ځامن وو. او په هغو شلو کښې يو

---

[1] کاني ګرم دَ محسودو په بالئ بد رسيمه کښې تقريبًا دَ اووهٔ زره فټه په بلندئ پاندے يو مشهور کلے دے، چه دَ محسودو مرکزي حيثيت لري. دَ رزمک نه جنوب پله شل ميله او دَ وانا نه شمال پله څلويښت ميله لرے پروت دے. پخوا به دلته چاړے، ټوپک جوړيدل. مقامي خلق ورته شورهٔ وائي. او دلکش فطري مناظر لري. ٭٭٭

کاني کرام هم وو۔ په کاني کرم کښې دَ اړمړو پنځه طائفې دي: خیګني خرم جاني، ملا تانړي، بیکن او جعرائي۔

اړمړ قوم ځان ته خپله مخصوصه ژبه لري، خو پښتو هم وائي۔ دَ دوئي یوه قبیله په برګي مشهوره ده، چه په پنجاب کښې استوګنه کوي۔

## غلجئي:

دا قبیله دَ وانا په خواؤ شا کښې پرته ده، او شمیر ئې ډیر لږ دے۔ دَ سوئیلي وزیرستان اکثره ټوله علاقه غرنيزه ده۔ میداني او دَ کرونده جوګه زمکه پکښې بیخي کمه دي۔ دَ خلقو زیاته ګزاره دَ ګډو بزو په پالنه ده۔ شته من خلق ئې دَ کوئیلو، عمارتي او خشاکي لرګو کاروبار کوي۔ چه هم دَ دوئي په خپله علاقه کښې پیدا کیږي۔ ډیر خلق سرکاري ملازمتونه او موجبونه هم لري۔ دَ خپل خوږ هیواد په توریالي فوځ کښې دَ محسودو نمایاں حصه ده۔

## تحصیلونه:

په سوئیلي وزیرستان کښې هم نهه ۹ تحصیلونه دي: بیرمل، وانا تیارزه، لدها، چلاړئ، توئے خوله، سروکئ، سراروغه او جنډوله۔ په سوئیلي وزیرستان کښې وانا او شکائې ښکلې علاقې دي۔

## وانا:

وانا دَ دے ایجنسئ صدر مقام دے۔ او دَ احمدزو وزیرو په سیمه کښې دَ چاپیره غرونو په مینځ کښې آباده ده۔ دَ منزئ نه

شپیته میله لرے دہ۔ او دَ سطحِ سمندر نه ۵۰۰۰ فټه اوچتوالے لري۔ آب وهوائے دَ رزمک په شان نۀ دہ۔ خو بیا هم دَ گزارے دہ۔ او دَ ډیرو ځایونو نه ښهٔ دہ۔ په ژمی کښے واوره پریوځي۔ منړے دَ وانا مشهوره میوه دہ۔ او تر پنجابه پورے رسیږي۔ دَ انګریزانو په زمانه کښے به دلته لوئے فوځي کیمپ وو۔ دَ وانا په لویه او ستره دشته کښے هم آبي او هم للمي زمکے دي۔ او تقریبًا هر قسم فصل او میوه زرغونوي۔

## شکائی:

شکائی په سوئیلی وزیرستان کښے دَ وانا نه په شل میله فاصله باندے یوه ښکلے میدانی او عزیزه علاقه دہ۔ تقریبًا پنځوس مربع میله هوارے او دَ کروندے زمکے لري۔ او دَ سطحِ سمندر نه شپږ زره فټه اوچتوالے لري۔ دَ شکی شمال طرف ته دَ بوش او لکړے جګ جګ غرونه، جنوب خواته ئے خیسور غرا او کوټ غر واقع دي۔ مغرب خواته ئے دَ کمکی بوش غرهٔ سلسله تاؤ شوے دہ۔ او مشرق پله سیمه ئے دَ خیسارهٔ محسودو سره لګیدلے دہ۔ شکائے ډیره آباده سیمه دہ۔ غرونه ئے دَ نښترو، چلغوزو، سرُو لمنځو او ځیړیو نه ډک دي۔ او زمکه ئے په خوندورو میوو او فصلونو شتمنه دہ۔ آب وهوائے په ژمی کښے یخه او په غرونو واوره پریوځي۔ او په گرمئی کښے معتدله او خوشګواره وي۔ دَ وانا دَ کالوخیلو، احمدزو وزیرو مختلف وارهٔ وارهٔ ښاخونه پکښے میشته دي۔

## بیټني :

دَ وزیرستان دَ غرونو په لمنو کښې دَ ګبر غرهٔ شمال نه تر دَ ګومل درے جنوب پورے او ورسره ورسره دَ بنوں او ډیره اسماعیل خان دَ ضلعو سره لګیدلیو ډګرو کښې میشته دی. دوئ هم قبائل دی. خپله شجره نسب دَ قیس دَ دریم ځوئے بیټن سره تړی. دَ بیټ نیکهٔ په ځامنو کښې دَ ورسپون او کجین اولاد ته بیټني وئیلے شي - دوئ دَ بیټ نیکهٔ په نامه هم یادیږی. دَ روایاتو په مطابق داخلق په اوله دَ کوهِ سلیمان په غرونو کښې اوسیدل. کله چه دَ بهلول لودهي ځوئے سکندر لودهي په دغه ځائے قبضه اوکړه نو دوئ نمرخاتهٔ پله دَ کسے غرهٔ لمنو ته کډے اوکړے. او دَ رودِ ګومل په غاړه او دَ ټانک په زمکه میشتهٔ شول. دوئ په لاندینو دریو برخو کښې ویشلي شوی دی:-

* تته، چه دَ جنډوله، سرهٔ غر او ډیره اسماعیل خان ضلع په ټانک تحصیل کښې پراتهٔ دی.
* دانا، چه دَ ګبر په غرونو او دَ بنوں په خواؤشا اوسیږی.
* ورسپون، چه دَ ټانک تحصیل وښار سره سره دَ نزدو چاپیره غرونو په لمنو کښې میشتهٔ دی.

بیټني ډیر بهادر او جفاکش قوم دے. او دَ فرنګیانو سره ئے ډیرے ډغرے وهلی دی. دَ دوئ غرونه زیاتره لغړ او پمن دی. او زیاته ګُزاره ئے دَ ګډو بزو په پالنه او تجارت باندے ده. سرکاری

ملازمتونه او موجبونه هم لری ـ ګبر د دوئ مرکزی مقام دے

دغه سیمه د ۶۳۸۰ فټه اوچت ګبر غرهٔ په لمنو کښے پروته ده۔

ښکلے زرخیزه وادی ده ـ اوبهٔ پکښے پریوانه دی۔ او زمکے ئے

سرسبز وشاداب دی۔

---

# دَ وزیرستان مشران

لکه څنګه چه په وزیرستان کښے له پخوا نه وزیر، محسود او

داوړ غټے غټے قبیلے میشته دی، دغه شان د دغو قبیلو ځان له

جدا جدا مشران هم راغلی دی۔ دغه مشران په څلورو طبقو

کښے ویش دی۔

## اوّله طبقه :

دا هغه طبقه ده، کومه چه په یاغستان کښے په وزیرستانی

اولس باندے دَ خپل افرادی قوّت، شجاعت، دولت او فهم وفراست

له کبله بوسر اقتدار وه۔ او د دوئ په یو ژغ به ټول اولس په

یوه خوله وو۔ دغسے مشری به د هر مشر په ذات پورے محدود

وه۔ داسے مشرته به ملک وئیلے شول۔ خو دغه ملکئ موروثی

نهٔ وے۔

## دوئیمه طبقه :

دا هغه طبقه ده چه کال ۹۵-۱۸۹۴ ء کښے انګریزانو دَ وزیرستان

په دواړو برخو قبضه لګوله نو ږو مبې ږو مبې ئې د لويو لويو کورنئ مشران او بااثره شخصيتونه د ملکئ په خطاباتو، موجباتو او مراعاتو اونمانځل. دغه مشرانو په بدل کښې د خپلو خپلو قبيلو، قامونو او سباخونو د کړو وړو اجتماعي ذمه واري په سر واخسته. او دغسې د موجوده ملکئ نظام په وجود کښې راغے. په ظاهره خو دغه ملکانان د خپلو خپلو قبيلو مشران وو. د حکومت په کور کښې د اولس د تورو سپينو واکداران وو. او د دوئ په هرغم و بنادئ کښې به شريک وو. ولے په پټه دوئ د انګريزانو ايجنټان وو. دغه ملکئ موروثي وے. او نن هم د هغوئ د اولاد په وراثت کښې پُشت په پُشت راروانے دی. د دوئ عنړ عنړ فرائض دا وو:-

په وزيرستان کښې د امن وامان فضا قائمول - د خپلو خپلو علاقو د حالاتو څخه حکومت باخبره ساتل - په وطن کښې د حکومت په خلاف د هر قسم تخريبي او دُشمندانه کاروايئ په حقله حکومت ته په وخت اطلاع ورکول - د فوج کشئ يا حالاتِ جنګ په دوران کښې د حکومت سره مرسته او د مخالفينو پنړغالی، کورونه، پټي او جائيد ادونه په ګوته کول - د حکومت د خواهش په مطابق د مختلفو قبيلو په مابين کښې نفاق اچول او تنازعات راپورته کول - او د حکومت او عوامو ترمينځه رابطه پيدا کول -

### ۳. درئيمه طبقه:

په دا طبقه کښې هغه خلق شامل دی، کوم چه د آزادئ حاصلو

په لړ کښې بې لوټه قربانئ ورکړې دی۔ او بیا ئې د ملک د استحکام او د حکومت پاکستان د ملاتړ په حق کښې ښه ورځ تکلیفونه ګاللی دی۔ دغو خلقو ته د حکومت پاکستان له خوا نه ملکئ ورکړې شوی دی۔ دا سے ملکئ ته لنګئ ویلے شی۔ دا قانوناً موروثی نۀ وی۔ ولے رولجاً وارث ته ملاویږی۔ د دویمے او دریمے طبقو په ملکانانو کښې دا فرق دے، چه هغوئ به د انګریزانو په کټه کار کولو او دوئ ئې د حکومت پاکستان په کټه کوی۔

د قامی خدمت په صله کښې د لنګئ د بخښش سلسله نن هم جاری ده۔

## څلورمه طبقه:

دا هغه زیرک، باهمته او مدبره خلق دی چه نۀ ملکئ لری او نۀ لنګئ، بلکه د وخت سره سره د خپلو قائدانه صلاحیتونو په برکت هم په حکومت کښې فعال رول لوبوی او هم په اولس کښې د مقبولیت خاوندان دی۔

د وزیرستان په قبائیلی مشرانو باندے مشتمل جرګے قانونی حیثیت لری۔ دغه جرګے د حکومت تر نګرانئ لاندے د علاقائی رواج په مطابق د مختلف نوعیت مقدمات فیصله کوی۔ او بیا د دوئ هره فیصله د ایف سی آر[1] زیر اثر عملی کولے شی۔ ولے که فریقین د باهمی رضا له مخے خپله مقدمه په شریعت فیصله کول غواړی، نو هیڅ

---

[1] کال ۱۹۰۱ء کښې په قانون کښے د ترمیم پیدا کولو په خاطر په پښتو نخوا کښے "فرنټیر کرائمز ریګولیشن" نافذ کړے شو۔ م

بندیږ پرے نهٔ وي -

## دَ وزیرستان دَ مختلفو مشرانو نسبي سلسلې :

**احمدزئ وزیر**
- ملک سوهان خان
- نجیب خان
- ملک مانی خان (امان الله خان)
- ملک محمد امین خان
- ملک غازي مرجان
- ملک نصرالله خان
- ملک فرید الله خان

**اُتمانزئ وزیر**
- شیخ بدین
- بادکی
- ملک آدم خان
- ملک سادے خان
- ملک زنګی خان
- ملک خاندان
- ملک عبدالودود خان

**دَ محسودو مشران**
- ملک جنګی خان
- ملک عمر خان
- ملک بادشاه خان
- ملک قطب خان
- ملک هاشم خان (ریټائرډ کرنل)

**دَ داوړو مشران**
- حاجي محمد
- ملک پائي محمد[1]
- ملک خان محمد
- ملک میراعظم خان
- ملک سلطان محمود خان

---

[1] مئ ۱۸۸۰ء کښې چه مسټر حاکم توچۍ ته راغلے وو نو هغه وخت په داوړو کښې دَ ملکو دَ ملک پائي محمد دَ مشرۍ دبدبه وه ۔ همدغرنګ په کال

# وزیرستان په مذهبي لحاظ سره

دَ عربو مشهور جرنیل عبدالرحمٰن ابن سمرہ یو زبردست فهیم، مدبّر او شجاع انسان تیر شوے دے۔ دَ دهٔ یو قوماندان المهلب ابن ابی صفره په کال ۴۴هـ ۶۶۴ء کښې په "البنّه" او "الاهوار" حمله کړے وه۔ دا دواړه ځایونه دَ عربو مؤرخینو دَ وینا مطابق دَ کابل او ملتان په شاهراه واقع وو۔

دَ "البتّه"[۱] نه موجوده بنّوں او دَ "الاهوار" نه لاهور مراد دے۔ چونکه اغلب گمان دادے، چه المهلب به دَ کابل نه دَ توچۍ په لار بنوں ته تیر شوے وی۔ نو دا امکان کیدے شی چه وزیرستان کښې به دَ اسلام رومبے ډیوه هم دَ دهٔ په لاس بله شوے وی۔ "په کال ۱۹۰۷ء کښې دَ توچۍ په وادی کښې یوه کتبه موندلے شوے ده۔ چه په سنسکرت او عربۍ دواړو ژبو کښې لیک ده۔ دَ دے کتبے تاریخ ۲۴۳ھ دے۔ او نن ورځ دَ پیښور په میوزیم کښې پرته ده۔ دَ توچۍ په علاقه کښې دَ محمود غزنوی دَ زمانے نه بنه[۲] ډیر

---

۱۸۹۲ء کښې دَ بنوں ډپټي کمشنر ایچ۔اے انډرسن چه دَ داوړو په حقله کوم رپورټ لیکلے دے، په هغه کښې دَ داوړو سترملک پائی محمد ښودلے شوے دے۔ کال ۱۸۹۵ء کښې چه رومبے انگریزان توچۍ ته راتلل نو هغه وخت دَ داوړو سترملک خان محمد خان وو۔ چه ډیره موده پس دَ ۲۹، ۳۰ ستمبر ۱۹۳۴ء په شپه په حق اورسیدو۔ *۱ نوم هم بنوڅی بنوں ته بنائے او وزیرو داوړ بنی وائی۔ **

کافي وړاندې سنه ۲۴۳ھ کښې دَ سنسکرت او عربئ مشترکه کتبه موندلې کيدل په دې خبره دلالت کوي، چه په دې زمانه کښې دَ مُسلمانانو اثر و رسوخ تر کافي حده په دې علاقه کښې خور شوې وو او دومره خلق مُسلمانان شوي وو - چه هغوئ عربي لوستلې او ليکلې شوه -

سره دَ دې دَ عربئ سره دَ سنسکرت ژبې موجودګي په دې دلالت کوي، چه دَ اسلام دَ خوريدو نه آګاهو دَ دې خطې دَ خلقو دَ ليک ژبه سنسکرت وه او دَ دې علاقو ټول خلق په هندو مذهب وو - او تر دې وخته سنه ۲۴۳ھ پورې لا هم اکثر خلق غير مُسلم او دَ سنسکرت ژبې دائره لا فراخه وه۔"[1]

مؤرخين دغه کتبه دَ صفاري خاندان په عهد حکومت پورې تړي - ولې چه په صوبه سرحد او قبائلي علاقو کښې ړومبې ړومبې اسلام دَ صفاري حکمرانانو په زيار خور شوې دې - او دغې خاندان دَ سنه ۸۶۱ء نه تر سنه ۹۰۰ء پورې په افغانستان، صوبه سرحد او سندھ و مکران کښې دَ اسلام دَ خورونې کامياب کوششونه کړي دي - مير علي ته نزدې په کانړو باندې دَ باختري يوناني، شاردا او عربي رسم الخط بعضې نورې کتبې هم موندلې شوي دي - دَ ډاکټر احمد حسن داني[2] په خيال کښې مؤخرالذکر کتبه قديم ترين اسلامي اثار دې - کوم چه په دې علاقه کښې په لاس راغلې دې -

---

[1] "پښتانهٔ دَ تاريخ په رڼا کښې" ؛ [2] "تاريخ صوبه سرحد" ؛

دغه کتبه په یو داسے تالاب باندے نصب وه، کوم چه چا مُسلمان حکمران جوړ کړے وو. په تالاب باندے دَدے کتبے دَ نصب کولو تاریخ جُمعه ۷، ستمبر ۸۵۷ء نوشته دے. دغے ځائے ته نزدے دَ عهدِ کوشان اثار هم موندلے شوی دی. په توچئ کښے چه کومه بله قدیمه کتبه دستیاب شوے ده. په هغه کښے دَیو مکان دَ تعمیر ذکر دے. دَدے رسم الخط کوفی دے. دغه کتبه ۲۴۸ھ کښے تیاره کړے شوے ده. دَ مالکِ مکان دَ نامے نه معلومیږی چه هغه مُسلمان وو. مگر دَ نامے په مناسبت عرب نهٔ معلومیږی. غرض دا چه دا دَدے خبرے څرګند ثبوت دے، چه هغه وخت وزیرستان ته اسلام رارسیدلے وو او ډیر خلق مُسلمان شوی وو.

سُلطان محمود غزنوی او شهاب الدین غوری هم په خپل خپل وخت کښے په ملتان باندے اکثرے حملے دَ توچئ په لاره کړی دی. او دغه سیمه ئے دَ اسلام په رنړا منوره کړے ده.

سربیره له دے دَ میرعلی تل په سړک باندے دَ بوبلئ نه یونیم میل شمال مشرق پله یو ځائے کښے خروشتی کتبه په لاس راغلے ده. دغسے بنوں میرانشاه سړک ته نزدے دَ عیدکو کلی په خوا کښے په حکم خان غونډئ کښے زړے مجسمے او دَ تاریخی اهمیت حامل نور شیان موندلی شوی دی. دَدے نه علاوه دَ توچئ په اکثرو سیمو کښے داسے بُتان موندلے شوی دی چه په هغو کښے دَ بنیادمو نه علاوه دَ غواوُ جوڼے شاملے دی او ځائے په ځائے په پخوانو قبورو کښے

خاورین لوښی او د دهاتونو کالی پتری او جامونه هم راجوت شوی دی دغه شان د عیدل خیلو داوړو په غرنیزه سیمه کښې د کنستلو په وخت په آهنی جالیو کښې نغښتلی د ایرو ډک خاورین منګی هم رابرخیره شوی دی، کوم چه د هندوانو د سوزیدلیو لاشونو په ایرو دلالت کوی.

د دے نه پرته په وزیرستانئ پښتو کښې چه په کثرت سره د هندی ژبې کوم توری استعمالیږی. د هغې په اساس موږ دا په یقین سره ویلے شو، چه پخوا به په ټول وزیرستان کښې هندو مذهب خور وو. په موجوده وخت کښې وزیرستانیان همګی مسلمانان او لهٔ خیرے پاخهٔ سنی مذهبی دی.

## وزیرستان او سیاسات:

دغه دومره سرتیرے اولس او آزاد منش وګړی په عیش د یوشمیر ملکانانو، نور لهٔ خیرے هیڅ قسم سیاسی حقوق نهٔ لری. دلته په سیاساتو مکمله پابندی ده. نهٔ سیاسی غونډے کیږی او نهٔ ژبه او قلم په خپل اختیار کښې دی. د جمهوری ادارو په انتخاباتو کښې امیدواران هم ملکانان وی، او رائے دهندګان هم. یتیمان هیڅ قسم سیاسی رول نشی لوبولے. د ژوند د نورو حقوقو په حقله کهٔ ورته (STATE OF NATURE) فطری ریاست او وایو نو بے ځایه به نهٔ وی.

## د وزیرستان رودونه: هسے خو په وزیرستان کښې ډیر رودونه

بهيږي - ولې لاندېنې څلور رودونه دَ خپل تاريخي پس منظر له مخې ډېر شهرت لري - توچي، ټانک زام، ګومل او کيتو -

## توچي:

توچي رود په وزيرستان کښې دَ ټولو نه لوئې رود دے - دغه رود دَ مرغې او مستوني رودونو دَ اتصال نه جوړيږي. دغه دواړه رودونه دَ اورګون دَ سوئيلې اړخ نه راځي - او دَ وزيرستان په سرحد باندے دَ دوه توئ په مقام وبله يوځائے کيږي - دَ شوال نه دَ مائيزر په سيمه کښې تر دته خيلو او دَ دته خيلو نه دَ داوړو په سيمه کښې دشينکي په لار بنوں ته ورګډيږي - دَ بنوں او مروتو په سيمه کښې ئے نوم بدل شي کمبيلا بللے شي - او دَ لکئ خوا کښې رود کرّم ته ورګډ شي - په افغانستان کښې دَ رود توچي اوږدوالے شپيته او په وزيرستان کښې ۱۲۵ ميله دے - دَ رود توچي په لار دَ افغانستان نه څو څو ځلے فوځونه راغلي دي او په هند ئے حملے کړي دي - دَ يوولسمې صدئ آغاز کښې محمود غزنوئ په دغه لار راغلے وو - او دَ بنوں دَ فتح کولو نه پس هند ته تير شوے وو - محمود غزنوئ شو به دَ اته نيم زره (۸۵۰۰) فته اوچت مزدک غره په لمن کښې راروان او دَ خرسينو دَ اوڅکي او زنکوټي په مخه به دتاوديبي الګړے په لار رود توچي ته راووتو - دَ توچي په لار به نيغ بنوں ته تير شو او بيا به دَ بنوں نه دَ هند په مختلفو علاقو ورغوته شو -

دَ غياث الدين بلبن په زمانه کښې به مغلوم دَ کرم، توچي

او د گومل په لار په ملتان او سنده حملے کولے. د افغانستان حمله آور به په یوه بله لار هم توچۍ ته راکوزیدل، کومه چه د خوست نه د کربزو او د سیدگیو په مخو د ډانړے په ډگری کښے د میرانشاه په خوا کښے توچۍ ته راتیریږی. دغے لارے اوس د پاخهٔ سرک شکل اختیار کړے دے. کال ۱۷۳۸ء کښے د نادرشاه فوځونه په دغه لار هند ته تیر شوی وو. کال ۱۹۱۴-۱۵ء کښے د افغانستان اولسی لښکرے هم د مزدک، سیدگیو او کربزو په لارو توچۍ ته راغلی وے. او د میرانشاه او شپانه خیسارۍ په قلعو ئے یلغار کړے وو.

درېیمه لار د رودِ کرم په غاړه سویلی افغانستان ته وتلے ده. پخوا به پرے بنغ قافلے او کاروانونه توچۍ ته راوتل او بیا ئے بنوں پنجاب ته مخه کوله. محمّد غوری چه په هندوستان کښے د اسلامی سلطنت بانی گڼړے شی، د کرم د درے په لار برصغیر ته داخل شوے وو.

## تپانک زام:

دغه رود د رزمک نه جنوب پله د دوه توئی په مقام د تاودے چینے او بدر توئے د گډون نه جوړیږی. او د دوه توئی نه مخکښے جنوب مشرق پله د سراروغه، انړی تنگی، کوټکی او جنډولے قلعو په لار ترخیرجی پورے بهیږی. سنټرل وزیرستان رود د رزمک نږی نه ترخیرجی پورے د دغے رود په غاړه تلے دے دغه رنگ د وانا

شهور شاخ او سپلا توئے سرکونه هم دَ رودِ ټانک زام په غاړه وتلی دی۔

## ګومل:

دغه رود دَ بیرمل په سیمه کښے دَ سلمان غرهٔ په سلسله کښے دَ ختیځ لونګونو څخه په دوو شاخونو کښے راوځی۔ دَ دومانډی سره دَ وزیرستان علاقے ته راګډ شی او بیا سوئیلی وزیرستان پله په غرونو غرونو کښے تر ګردآوٗ نزی راراورسی، چه دَ مرتضیٰ نه مغرب پله دوه میله مسافت لری۔ دَ دے ځائے نه دَ ډیره اسماعیل خان په ضلع کښے جنوب پله دَ لونی او کلاچی په لار بهیږی۔ دلته ورته خلق لونی رود وائی، او دریائے سندھ ته ورګډیږی۔

پخوا به دَ ګومل په لار نیغ غزنی ته ټګ راتګ کیدلو۔ او دَ او بنانو لوئے لوئے کاروانونه به دَ غزنی نه ډیره اسماعیل خان ته تلل راتلل۔ دغسے دَ قندهار دَ لوری نه هم دره ګومل ډیره اسمٰعیل خان ته لنډه لار ده۔ دَ ګومل وادی زرخیزه نهٔ ده۔ او کلی پکښے کم دی۔ وزیر دَ ګومل وادئ قطب پله او دَ ژوب دَ وادئ قبائل ئے جنوب پله اوسیږی۔

## کیتو:

دغه رود دَ افغانستان دَ خوست په قبلیز لویدیز بارډرباندے دَ جدرانو او تاڼیو له غرونو نه راوځی۔ او دَ دوڼی کوټ خوا کښے وزیرستان ته راګډ شی او بیا دَ سپین وام په سیمه کښے راتیریږی۔ دَ کیتو په مخه هم دَ افغانستان ګڼړو بادشاهانو او جرنیلانو په

هند حملے کړی دی۔

کال ۱۹۱۹ء کښے نادرخان دَ یو جرنیل په حیث په دغه لار راغلے وواو دَ ټل قلعه ئے فتح کړے وه۔

## پَه افغان بوندہ ری باندے دَ وزیرستان مشهور غرونه:

| | دَ غرهٔ نوم: | دَ سطح سمندر نه اوچتوالے: | |
|---|---|---|---|
| (۱) | خواجه حیدر | ۱۰,۲۷۰ | فټه |
| (۲) | غلیمه غار | ۱۰,۰۴۹ | 〃 |
| (۳) | کُنډی غر | ۱۰,۳۰۶ | 〃 |
| (۴) | ببیک | ۱۰,۰۸۴ | فټه |
| (۵) | خرکمر یا چارخیل | ۹,۹۲۵ | 〃 |

## پَه وزیرستان کښے دننه غرونو یوشولوړے څوکے:

| | دَ غرهٔ نوم: | دَ سطح سمندر نه اوچتوالے | |
|---|---|---|---|
| (۱) | ویږده: دَ رزمک نه قطب پله | ۷,۷۶۴ | فټه |
| (۲) | شویدر: 〃 〃 〃 | ۱۰,۹۵۵ | فټه |
| (۳) | پیرغل: په وزیرستان کښے دَ ټولو نه دَ اوچت غرهٔ اوچته څوکه چه دَ رزمک نه جنوب مغرب پله واقع دے.... | ۱۱,۵۵۵ | فټه |
| (۴) | نیشه: دَ رزمک نه مشرق پله... | ۷,۴۵۲ | 〃 |
| (۵) | کبرغر: دَ رزمک نه مشرق پله | ۶,۳۸۰ | 〃 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| (٦) | مومن: دَ وانا نه شمال مغرب پله | ١٠،٧٦٦ | فټه |
| (٧) | سرورکل: ″ ″ ″ | ١٠،٦٨٤ | ″ |
| (٨) | جانی میله: دَ وانا نه قطب پله | ٩،٢٩٥ | ″ |
| (٩) | کوټکوم: دَ وانا نه قطب پله | ٧،٧٨٩ | ″ |
| (١٠) | میچن بابا: دَ وانا نه مشرق پله | ٦،١٥٠ | ″ |
| (١١) | کنډی غر: ″ ″ ″ | ٨،١٤٩ | ″ |
| (١٢) | زاتیرائی: دَ وانا نه شمال مغرب پله | ٨،٣٨٦ | ″ |
| (١٣) | کرنئی سر: دَ وانا نه مشرق پله | ٥،٨٥٠ | ″ |

## دَ وزیرستان ځنګلونه:

دَ وزیرستان علاقه دَ سطح سمندر نه تر پنځو زرو فټو اوچتوالی پورې بې ځنګله ده۔ دَ دې نه اوچته سیمه سوختنی (خشاکی) لرګی او نورې خال خال اوُنې لری۔ دَ رزمک او وانا په اوچتو غرونو کښې چه دَ سطح سمندر نه دَ اووهٔ زره فټو نه تر لسو زرو فټو پورې اوچتوالې لری، لوئې لوئې ځنګلونه دی، چه پکښې نښتر، سرُپ او لمنځه په زیات کثرت سره دی۔ ګنړې چینې او لختی پکښې بهیږی او پریوانه کبل او سبزیانې پکښې توکیږی۔ دَ شوال دَ سیمې ویښې او شیلان دَ میرانشاه او تهانک په لار دَ پاکستان کوټ کوټ ته رسیږی۔ دغسې دَ دې سیمو زنړغوزی هم ملک کښې خوارهٔ وارهٔ پراته اوسی۔ دَ رزمک او بدّر په سیمو کښې په کافی

مقدار آلوګان پیدا کیږی او دَ پاکستان هر ځائے ته وړلے شی.

دَ وزیرستان په اکثرو غرونو کښے مزری هم پیدا کیږی او خلق ترے نه پړی او بدریڅی غړی، او پوزی، زوتونه او ټوکرئ وودی.

## په وزیرستان کښے معدنیات:

دَ قطبی وزیرستان په پائی خیلو داوړو کښے دَ شین کنډی په مقام دَ محمد خیلو داوړو په تنګه کوا کښے دَ کرومائیټ دوه لوئے لوئے درنګونه برخیره شوی دی. او ترلرے لرے ئے زکونه تلی دی. هم دلته په بویه کښے دَ شینکی پیکټ په خواؤ شا دَ اسبسټاس ذخیرے موجودے دی. دَدے نه علاوه دَ میرعلی په دره کښے شرکی کلی ته مخامخ ژاور کښے دَ کرومائیټ جوړت درنګونه پراته دی او خلقو ترے نه په ټرکونو مال اوړے دے. دَ داویکر او ویږدے په خواؤ شا کښے پرپیمانه میګنیز موجود دی. دَ میرعلی منظر خیلو وزیرو په سیمه کښے دَ کمکئ نومرزے په مقام دَ تورو ګټو لوئے لوئے کمرولاړ دی. په دغو کمرو کښے پریوانه او سپینه بنکاری. دَ میرعلی درے په خوله کښے دَ ښخوانو بټیو نخښے اوس هم موجودے دی. دلته به ښخوا تورے، چاړے، خنجر، کټورى او مختلف لوښی جوړیدل.

دَ میرعلی دَ کمے نومرزے په الکړ کښے دَ سرسایؤ په مقام دَ سرومیلو (COPPER) لوئے غر موجود دے او رګونه ئے ترلرے لرے پورے تلی دی. دَ میرعلی درے په سرینګه کښے اصلی سرویل

(تانبا) ملاویږي. دَ میرَوَغې دَ لواړګۍ په علاقه کښې جنوبي اړخ غرونو کښې دَ غولنګي چینه په مقام هم سرویل ملاویږي. دَ دے نه پورته دَ لواړګۍ په علاقه کښې دَ مانړےکونړ په مقام او په توت نړۍ کښې دَ زړمل په خواؤ شا هم دَ سرویلو علامے معلومیږي. دَ میرانشاه نه مشرق پله زیړ غرهٔ کښې په کافي مقدار سلفر موجود دي.

دَ میرانشاه نه شمال مغرب پله دَ غړوشتي الګډے نه چاپیره غرونو کښې دَ اوسپنې ذخائر ښکاریږي. ځنوا به مقامي خلقو دلته بټۍ کړېوے. په دے ځائے کښې دَ اسبسټاس زېکونه هم معلومیږي. دَ میرعلي تحصیل په غورغړي چینه کښې دَ قدرتي ګیس پوره پوره آثار ښکاریږي.

په جنوبي وزیرستان کښې دَ سپین کمر په مقام دَ سپینوسنګِ مرمرو لوئے لوئے کمرونه ولاړ دي. او خلق ئے په ترکونو ترکونو اوړي. دلته دَ نورو خال خال معدنیاتو آثار هم موجود دي.

دَ بائي خیلو داوړو په قطبي اړخ غرونو کښې دَ اغزګۍ په مقام هم کرومائیټ پیدا کیږي. او ورسره ورسره دَ عیدل خیلو کلي قطبي اړخ غرونو کښې دَ سیسے اوږدهٔ اوږدهٔ زېکونه تلي دي.

## دَ وزیرستان مشهور ډګرې:

* **شیراتاله ډګرے:** دغه ډګرے په قطبي وزیرستان کښې دَ میرعلي نه شمال مشرق پله په شپږ میله فاصله باندے پروت دے. او دَ تل میرعلي سړک ئے په مینځ وتلے دے. او هم په دغه سړک دَ ۲۲ نه

تر ۱۳ میله سیمه کښې غوړیدلې دے۔ دَ سطح سمندر نه دَ ۱۹۰۰ نه تر ۲۲۰۰ فټه پورے اوچتوالے لری۔ چاپیره ترے نه غرونه پراته دی۔ په قطب ئے کیټو رود بهیږی۔ او دَ کیټو نه په شپږ میله فاصله باندے کرّم رود شروع کیږی۔ دَ شیراتالے ډکری ټوله رقبه ۲۰،۰۰۰ ایکړه ده۔ په دا کښې تقریبًا ۱۵،۰۰۰ ایکړه زمکه آبادیدے شی۔ په دغه ډکری دَ توری خیلو وزیرو قبضه ده۔ او هم دوئ پکښې په ژمی اوسی او په اوړی بیخی لوګ وی۔ دَ دغه ډکری خاوره سپکه شګلوړه او زرخیزه ده۔ په اکثرو ځایونو کښې هیڅ کاڼړی نهٔ لری۔ تراوسه پکښې څهٔ خاص کرونده نهٔ کیږی۔ ولے پخوا پکښې ښرخانهٔ پله یو وخت کرونده شوے ده۔ او دَ کیټو رود څخه ورته دَ ویالے په ذریعه دَ اوبو بندوبست شوے وو۔ کومه چه دَ سپین وام نه ښکته راښولے شوے وه او پورته په سروبیک نړی ورتیره شوے وه۔

کهٔ چرے په کیټو رود باندے ورکوټے ډیم او تړلے شی نو یو خوا به شپیته کیوبکس اوبهٔ دَ شیراتالے دَ لسو زرو نه تر شلو زرو ایکړه پورے زمکه دَ کروندے جوګه کړی۔ او بل خوا به په ملک کښې ۹۰۰ کلوواټ بجلی زیاته شی۔

هم دغه رنګ کهٔ په کرّم تنګی باندے ډیم او تړلے شی نو دَ کیټو ډیم زیاتی سیلابی اوبهٔ به دَ کرّم تنګی ډنډ (جهیل) ته ورماتے شی، دَ دے نه علاوه چونکه دَ شیراتالے زوړ دَ باران ډیم په لوړی دے او بارانی اوبهٔ ئے شګلوړه خاوره هلته بهیوی نو دَ ډیم دَ ډکیدو

خطره ترے نه راولاړیدے شی- که چرے دغه سیمه آباده شی، نو دغه خاوره به په خپل ځائے پاتے شی- او دَ ډیم دَ ډکیدو خدشات به ورک شی-

په کرّم تنگی که مجوزه ۳۸۰ فټ اوبند او ۲۳۰ فټ پلن او ۳۰۰ فټه اوچت ډیم اوتړلے شی نو یو خوا به دَ بنّوں په سیمه کښے درے لکهه ایکړه زمکه دَ کروندے لاندے راشی او بل خوا به ۲۱۷۰۰ کلوواټ بجلی په ملک کښے زیاته شی- په دغه سکیم باندے دَ واپډا دَ محکمے دولس[۱۲] لکهه روپئی ابتدائی مصرف شوے دے- خو دَ مقامی متاثره کیدونکو خلقو دَ معمولی مطالباتو په وجه تراوسه کار پرے بند دے-

## سپیره روغه ډکرے:

دغه ډکرے دَ کیتو رود کس اړخ ته دَ شیرآتالے او مجوزه کرّم تنگی ډیم په مینځ کښے پروت دے- دغه سیمه دَ تل میرعلی په سرک باندے دَ شپاړس[۱۶] اوولس[۱۷] میله په خواؤ شا کښے پرته ده- که دلته لس ټیوب ویلونه نصب کړے شی، نو پنځه زره ایکړه زمکه به آباده شی- دَ کرّم تنگی ډیم نه متاثره کیدونکی کابل خیل وزیر که په سپیره روغه ډکری کښے آباد کړے شی، نو ډیر به خوشحال او سی-

## ډانډے ډکرے:

ډانډے ډکرے شپږ مربع میله شمالاً جنوباً پروت دے- ډیره زرخیزه خاوره او هواره علاقه لری- دَ ډانډے په ډکری له قدیمه

نه دَ درپه خیلو داوړو قبضه ده. او په نمرخاته پله لمن ئے دَ بوره خیلو وزیرو یو څو کلیے په نزدے وخت آبادے شوی دی.

کال ۱۸۹۵ء کښے چه پوهیے خُل فرنګی توچئ لاندے کړه نو دَ میرانشاه کلی نمرخاته پله ئے قلعه جوړه کړه. دَ دے قلعے نه به دانډے ډکری ته اوښان او نورخاروی دَ څرولو دپاره بوتلے شول. په داورځو کښے دانډے ډکرے بیخی ځنګل وو. او هیشه به په سرکاری اوښانو اوغیلو رمو باندے غدئ اچولے شوے. کال ۱۹۰۱ء کښے فرنګی په دانډے ډکرے کښے دَ نوے قلعے جوړولو دپاره ځائے خوښ کړو او جولائ کښے ئے ډیزائن او دَ: ۲,۱۷,۹۳۵ روپو تخمینه تیاره شوه. کال ۱۹۰۵ء کښے چه دَ میران شاه دغه قلعه چه اوس هم موجوده ده، تکمیل ته اورسیده. نو فیرنګی دَ دانډے ځنګل ختم کړو.

پخوا به دَ غلجیو او خروټیو اکثرے قافلے افغانستان ته دَ مداخیلو په لار تللے. ولے دَ مداخیلو دَ لوټ وشوک نه دا قامونه ستړی شول. او پوهیے خُل مارچ ۱۹۱۲ء کښے دَ غلجیو قافلے دَ دانډے ډکری په لار افغانستان ته روانے شوے. دَ بوره خیلو وزیرو او درپه خیلو داوړو ترمینځه دَ غلجیو نه دَ بدرګے رقم وصولولو په حقله معامله راغله. آخر درپه خیلو اوګټله او په دانډے کښے ئے دَ غلجیو نه دَ بدرګے رقم ترهغه پورے وصولولو ترڅو چه دَ پاکستان حکومت

---

له دَ دے قلعے نن صبا هیڅ نخښه نښانه نشته. ولے بیا هم دغه سیمه په "زاړه قلعه" شهرت لري.

( ایوبی دور ) دَ دوئ پہ رانګ بندیز نهٔ وو لګولے۔

پہ ۲۸ اپریل ۱۹۳۲ء دَ وانړے ډګری دَ بدرګے پہ لړکښے دَ درپہ خیلو او خروټیو غلجیو پہ مابین کښے یو خونړئ جھګړه اوشوه۔ پہ دے نښته کښے، چہ سبب ئے دَ بدرګے رقم وو، خروټیو پہ اعتبار کښے دَ درپہ خیلو نهٔ دیارلس[۱۳] تنه قتل او شپاړس[۱۶] کسان ژوبل کړل۔ دَ خروټیو غلجیو نه هم پنځه[۵] تنه مړهٔ او څلور تنه ټپیان شول۔ وروستو درپہ خیلو دَ خروټیو غلجیو څخه دَ خپلو مړو او ژوبل کسانو پوره بدل واخستو۔ او فروری ۱۹۳۳ء کښے دَ دوئ تر مینځه صُلح اوشوه۔

پہ ۱۱ ستمبر ۱۹۶۱ء دَ وانړے ډګری پہ ملکیت باندے یله نښته دَ درپہ خیلو او بوړه خیلو پہ مینځ کښے اوشوه او دَ دواړو ډلو څخه یو یو نفر پہ قتل اورسیدو۔ څهٔ موده پس ۱۳[۲] اګست ۱۹۷۳ء بوړه خیلو پہ وانړے ډګری کښے پټ پہ پټه دَ ویشو منډئ (ستمبر مارکیټ) جوړه کړه۔ او نوم ئے ورله "شمشیرآباد" کیښودو۔ درپہ خیل قام ورسره جنګ اوکړو۔ دوه[۲] تنه درپہ خیلان قتل شول۔ او پہ ۲۴ اګست ۱۹۷۳ء جرګه اوشوه۔

دَ فریقینو تر مینځه مقدمه شروع شوه۔ او پہ ۱۶ اکتوبر ۱۹۷۵ء دا فیصله اوشوه، چہ وانړے ډګرے به دَ فریقینو تر مینځه پہ نیمائ ویشلے شی۔ بوړه خیلو پکښے آغه دغه راواخستل، او پہ نتیجه کښے درپہ خیلو پہ ۲۹ ستمبر ۱۹۷۷ء شپه باندے پہ "شمشیرآباد" شبخون

اوکړو. هرځۀ ئې شنه لوخړه کړل او په مليونه روپئ تاوان ئې پورۀ خيلو ته اورسولو - او په منډئ ئې قبضه اوکړله. وروستو د حکومت د مداخلت په اساس د فريقينو په مابين کښې د ډانډې ډکرې د ينمائئ تقسيم سابقه فيصله برقراره او عملي شوه. او د شمشيرآباد په مقابل کښې د ۹ نومبر ۱۹۷۷ء نه تر ۲۷ نومبر ۱۹۷۷ء پورې درپه خيلو ځان له بيله داوړمنډئ جوړه کړه.

نمر پريواته پله ډانډې ډکرې نن صبا آباد شوې دې. ښکلي ښکلي کورونه، ټيوب ويلونه، شنې ونې او بجلئ پکښې ښکاريږي. ولې نمرخاته پله ډانډې ډکرې لاويران پروت دې خال خال آبادي پکښې شوې ده. حالانکه کثير ټيوب ويلونه په کښې نصب شوي دي.

## وانا ډکرې:

د سوئيلي وزيرستان ايجنسئ جنوب پله علاقه کښې دولس[۱۲] ميله اُوږد او اته[۸] ميله پلن ډکرې دې. او د سطح سمندر نه پنځه زره[۵۰۰۰] فټه اوچتوالي لري. د دغې سيمې په آباده برخه کښې د احمدزو وزير زلي خيل او توجي خيل شاخونه آباد دي.

## سپين ډکرې:

دغې ډکرئ په سوئيلي وزيرستان کښې لس مربع ميله زمکه نيولې

---

له د کله نه چه افغان مهاجرين وزيرستان ته راغلي دي، ددئ په دواړو منډيو د "درکې منډئ" نوم ايښودلې دې.

ده. دولس ۱۲ میله دَ وانا دَ سوئیلی اړخ نه او پنځه میله دَ توئي خوله په سیمه کښې دَ رودِ ګومل نه قطب پله ویر پروت دے. دَ سطح سمندر نه مجموعي طور ۲٫۸۰۰ فټه اوچتوالے لري. په دغه سیمه کښې دَ احمدزو وزیرو زلي خیل او توچي خیل شاخونه آباد دي.

## زرمیلان ډګرے:

په سوئیلي وزیرستان کښې دَ ګومل رود نه قطب پله دَ دومندی په سیمه کښې شپن ۱۲ شلے مربع میله ډګرے دے، چه دَ سطح سمندر نه ښلوڼ زره فټه اوچتوالے لري. دغه ډګرے دافغانستان، بلوچستان او وزیرستان په بونډري باندے واقع دے. دَ سوئیلي وزیرستان په آخري جنوب مغرب پله کوټ کښې پروت دے. په ژمي کښې ورکښې دَ سلمان خیلو غلجیئي پاوندہ اوسیږي. دَ دوئ کیږدئ خصوصاً دَ اورغږ یا داسے نورو الکړو په خواؤشا دَ چشمو په غاړو جوړے ښکاري.

## نوړ ډګري: دَ ذکرشو ډګرو نه علاوه، په وزیرستان کښې

نورهم کښي ډګري لکه بار واند او عمرغږے چه دَ سطح سمندر نه ۳٫۵۰۰ فټه اوچتوالے لري، دَ حکومت دَ خصوصي توجه په طمع پراته دي. همدغه شان دَ دته خیلو ډګرے دے. دا ډګرے هم لویه علاقه لري او دَ سطح سمندر نه ۴٫۵۰۰ فټه اوچت دے. دغه ټول ډګري دَ اوبو دَ ذرائعو په هیله دَ وخت دَ موافقو حالاتو په انتظار دي. که دَ اوبه خوربندوبست نے اوشي نو وسیع زمکه به دَ کروندے جوګه شي.

# دَوزیرستان توریالے اولس

دا نۀ چہ ګنی دَوزیرستان توریالی اولس یواځے دَانګریزانو سره جنګونه کړی دی بلکه چا هم چه دَ دوئ په زمکه دبلوڅیدو او پنجو ښخولو کوشش کړے دے، دوئ په یوه خوله داسے دغه ورسره وهلے ده چه په توبو ئے توبه ګار کړی دی - دَ دوی په خټه کښے قدرت څه داسے اسلامی مینه او ملی ننګ اغږلے دے چه چا هم ورته دَقوم ومذهب په ننګ جولئ نیولے دی، دوئ په کښے همیشه دَخپلو سرونو نذرانے اچولے دی - نۀ ئے چرے په مال صرفه کړے ده، او نۀ ئے دَڅه هیله طمع لرلے ده۔

که چرے دَ تاریخ پانړے اوکتے شی نو معلومه به شی چه دغے ننګیالئ سیمے په زړګونو توریالی پیدا کړی دی - نن هم تاریخ ګواه دے چه کله ۹۹۹ سنه کښے دَ سبکتګین بُت شکن ځوئے محمود غزنوی په تخت کښیناستو او دَ اسلام په ننګ ئے غزاګانے شروع کړے نو دَ کال ۹۹۹ سنه نه تر کال ۱۰۲۶ سنه پورے چه ده دَ پیښور پنجاب او بالائی سنده په علاقو کومے کامیابے حملے کړے وے او برے ئے موندلے وو، په هغو کښے دَ وزیرستان دَ توریالو

ځوانانو هم نمایان برخه ده ۔ دغه رنګ ئے دَ دهٔ دځوئے هم په
فراخ مټ ملاتړ کړے وو ۔ ولے یوخوا کهٔ دَوزیرستان توریال دَ
محمودؒ غزنوی په مرسته کښے دکفارو سره جنګیدل نو بل خوا به
ئے دَ دهٔ د تسلّطه ځنے خپله خاوره هم محفوظه ساتله او محمودؒ
غزنوی دخپل زبردست طاقت باوجود دَ دوئ خاورے ته په
کړه سترګه اونهٔ کتلے شول ۔ حالانکه هغه اکثر هند ته دَتوچیٔ
په لار راغلے وو ۔

دغسے حال دَ محمد غوری دے چه دَ توچیٔ په لار ئے دَ
هند په مختلفو ځایونو حملے کړے دی او دَ توچیٔ ځوانان ئے
په سختو معرکو کښے جنګولی دی ولے دَ دوئ په خاوره
ئے د تعرّض کولو زړهٔ نهٔ دے کړے ۔ همدغه شان چه ۱۲۰۵ء
کښے کله چنګیز خان په منګولیا کښے برسرِ اقتدار شو او په ۱۲۱۹ء
کښے ئے دَ غزنی حاکم محمد شاه خوارزم سره ورانه راغله او دَ محمد
شاه خوارزم ځوئے جلال الدین ترینه د توچیٔ په لار کالاباغ
ته نزدے تر دریاسندھ په شا راغے نو دَ چنګیز خان لښکرے
هم ورپسے نیغے دریاسندھ ته راورسیدے خو دَ چنګیز خان
غوندے طوفانی طاقت هم دَ وزیرستان دَ خاورے نه ډډه
اوکړه او د توچیٔ دَ باغ په شان ښکلے وادئ ته ئے په بدَه
کتلے شول ۔

وروستو د چنګیز خان ځوئے چغتائی دَ وزیرستان په خلقو

سخت ظلمونه اوکړل خو بیا ئے هم ایل نهٔ کړے شول -

کال ۱۵۰۵ء کښے چه بابر بادشاه دَ دره خیبر په لار په دویم مهم پیښور ته راغے او دَ پیښور نه دَ کوهاټ، ټل، بنوں، پېزو او گومل په لار تر دامان اورسید نو په دغه دوران کښے دهٔ په هره علاقه کښے لوټ وشوک کړے وو او په هره سیمه ئے دَ قبضے لگولو کوشش کړے وو - دهٔ د ټل او بنوں ترمینځه آباد وزیرو باندے هم چپل وَس کړے وو، ولے دَ خُولے خوند ئے پرے بنهٔ شوے نهٔ وو -

بابر بادشاه پخپل کتاب " بابرنامه " کښے لیکی چه :

"وزیر پښتانهٔ په خراج ورکولو کښے ډیر بدمست او بے قاعدے دی - دویٔ په دے موقع درے سوه گډے دَ خراج په ډول پیش کړے - ولے زهٔ به دَ دویٔ خبر آخلم "

خو دا سکوټ دروغ معلومیږی . البته دا کیدے شی چه دَ بابر دخوشنودیٔ دپاره به چپلو منصبدارانو ورته درے سوه میږے پیش کړے وی او دا به ئے هم ورته ویلی وی چه دغه دَ وزیرو نه د خراج په ډول راوستے شوے دی، ولے حقیقت کښے به ئے دغه گډے دچا شپانهٔ نه په زور راوستے وی او بابر ته به ئے هسے تیر ورکړے وی، ځکه چه تاریخ گواه دے چه دَ وزیرستان خلقو نهٔ خو دَ بابر اقتدار ته اونهٔ

دَ هغهٔ نه وړاندے دَ بل کوم حکمران اقتدار ته غاړه ایښی ده۔ سید بهادر شاه ظفر لیکی چه :

"دا حقیقت[۱] دے چه دَ دے قبائلو په باب کښے دَ بابر خواهشات دَ هغهٔ په ژوند کښے پوره نهٔ شول او دَ دے قبائلو په هر مهم کښے هغهٔ خپله ناکامی دَ نورو اهمو کشالو دَ سر انجام کولو په پرده کښے پټه کړے ده او دَ هغهٔ اولاد هم چه هغوئ ته دَ دے پښتنو ایل کول په میراث کښے پاتے شوی وو دا قبائل په خراج ورکولو مجبوره نهٔ کړے شول۔"

عارف محسود دَ خپل کتاب " وزیرستان کُرّم سے گومل تک" په صفحه ۱۳۶ باندے دَ میړے دَ واقعے نه غلط مطلب اخذ کړے دے هغه لیکی چه :

"بابر نے وزیرستان پر حملہ کیا تھا۔ جس میں زبردست خون و خرابہ ہوا تھا۔ تب کہیں جاکر وزیر قبیلے نے بابر کو خراج دینے پر آمادگی ظاہر کی تھی۔"

بابر چه دَ کومو وزیرو ذکر کوی هغه دَ وزیرستان په پوله باندے د تهل او بنوں ترمینځه پراتهٔ دی۔ دَ دغو یو موټی وزیرو نسبت بشپړ وزیرستان ته څنګه کیدے شی۔

نومبر ۱۵۲۵ء کښے چه بابر د پانی پت رومبئ جهګړے

---

۱۔ "پښتانهٔ دَ تاریخ په رڼا کښے"

دپاره د کابل نه هند ته را روانیدو نو ده خپل لشکر په ځلورو دستو کښې ویشلے وو چه په هغې کښې یوه دسته د توچئ یا نغر[ع۱] په لار راغلې وه۔ خو بابر له اګاهو نه د وزیرو داوړو سره دوستانه تعلقات قائم کړي وو، او دوئ نې همنوا کړي وو۔

د بابر نه علاوه د بنوں وزیرستان سیمو ته د مغلو نور بادشاهان هم زړه زړه کښې پسخید لی دی، وے کامیاب شوی نه دی۔ د کابل ګورنر شهزاده بهادر شاه چه د اورنګزیب ځوئے وو، په کال ۱۶۹۶ء کښې د خوست نه د توچئ په لار بنوں ته د راتلو شوق پیدا شو، ولے کله چه د خوست نه راووخوزیدو نو د وزیرو داوړو په علاقه بانډے قبضه لګول خوځه چه دوئ د خوست او بنوں ترمینځه د بدرګے په طور لوئے لوئے رقمونه هم ترے نه واخستل۔ په واپسئ شهزاده بهادر شاه بیا په دغه مخه راستون شو خو داځل ئې وزیرو داوړو ته د بدرګے رقم ورکولو نه انکار اوکړو۔ وزیرو داوړو د بنوں توچئ په منځ تنګئ کښې بریدونه پرے اوکړو۔ بے دریغه تاوان ئې ورته اورسولو، او شهزاده مجبور شو د لارے بدرګه ئې ورکړه۔

د شهزاده بهادر شاه د تګ سره بنوں کښې د ده د مقرر

---

ع۱ پخوا به چه د خوست نه په ډانډے کښې کومه لار د توچئ رود ته راوتله۔ هغې سیمې ته انغر ویلے شي۔

کړی شوی سالار صالت خان په خلاف بغاوت پورته شو۔ په کال ۱۶۹۹ء کښې بهادر شاه په جلال آباد کښې خبر شو، او دَ سپه سالار علی رضاخان په کمان کښې ئې یو درونـد لشکر تیار کړو او دَکرّے زیړاَن په غاړه غاړه بنوَں ته راروان شو۔ بنوَں ته لا نهٔ وو رسیدلے چه په لار کښې کابلَ خیلو وزیرو پرے حمله اوکړه۔ د سختے جهګړے نه پسته شاهی لښکر ماتے اوخوړه او بهادر شاه واپس کابلَ ته لاړو۔ د هغے ځائے نه ئې بیا درونډ فوځ ترتیب کړو او سره دَ ناصر خان دَخوستَ په لار توچئ ته راغے۔ دلته بیا وزیرو داوړو برید پرے اوکړو۔ ناصر خان معامله شناسی اوکړه او وزیرو داوړو ته ئې بدرګه ورکړه او په سلامتیا سره بنوَں ته تیر شو۔ په واپسئ بیا په دغه لار خوست ته روان شو او وزیرو داوړو خپله بدرګه ترے نه وصول کړه۔

دا حقیقت دے چه وزیرو داوړو ته خو دَ مغلو بادشاهانو او جرنیلانو بدرګه ورکړے ده او دَدوئ دَ خاورے په قبضه کولو کښې ناکامه شوی دی ولے معلومیږی دا چه مغلو هم تر خپله وسه بنهٔ زور ازمائی پرے کړے ده۔ نن هم په وزیرستان کښې دَدوئ نامه دَ بلاَ غوندے ګڼړلے شی او ښځې چه یو تربله بنیرے کوی نو وائی چه :

"اے تهٔ په مُغلو اووهلے شے"

او یا په څه کار پسې ځنډ کړی نو وړ ته وائی چه :

"څه مُغلو اوو هلې" یا "څه مُغل دربانډې پريوتل"

سيد بهادر شاه ظفر دَ "پښتانه دَ تاريخ په رڼا کښې" په

صفحه ۹۶-۱۳۹۵ ليکی چه :

"په سنه ۱۶۹۶ء کښې دَ اورنګ زيب عالمګير دَ حکومت په زمانه

کښې دَ هغه ځوئې بهادر شاه چه دَ بنوں علاقه فتح کړه

نو دغه وخت ئې په داوړو هم دولس زره روپئ

دَ کال ماليه مقرره کړه او سيد حسن نو مې سړې

ئې په دوئ حاکم مقرر کړو، ولې دَ اورنګزيب نه

پس دې علاقې بيا خودمختاری حاصله کړه -

دَ احمد شاه ابدالی په زمانه کښې داخلق هسې په نوم رعيت

وو او څه معمولی رقم به ئې دَ خراج په ډول ورکولو، ولې دَ

بادشاه دَ لوری نه به په دوئ څوک حاکم نه وو - دَ سدوزو او

بارک زو د جنګونو په دوران کښې دوئ بيا دَ ماليې نه ځان

آزاد کړو"

ابراهيم عطائی دَ " د پښتونستان مسئله دَ حق خود اراديت

په رڼا کښې په صفحه ۳۳ ليکی چه :

"هغه وخت چه دَ مُغلو اورنګزيب په هندوستان کښې

امپراطوری درلوده په سنه ۱۶۹۶ء کال کښې ئې دَ شهزاده بهادر

شاه په مشرئ ډير فوځ دَ بنوں خوا ته راوست او

غوښته ئې چه دَ پښتنو پر زمکه تصرف اوکړي او په تيره بيا دَ داوړو قبيله ترخپل حکم لاندے کړي او څه موده ئې سيد حسن نامي هم دَ داوړو دَ علاقے د حاکم په نامه نامزد کړو خو دَ داوړو غيرت مندو پښتنو دَ هغوئ دا حاکم او لښکر نهٔ پوزاے د خپلے علاقے څخه اوشړل بلکه له بنوں څخه هم اوتښتيدل - ترهغه وروسته بيا دَ افغانستان د حکمرانو څخه بل چا پر دواړو حکومت نهٔ دے کړے۔"

دغه رنګ کال ۱۷۳۸ء کښے نادر شاه ايراني هم دَ ټنګے توچئ په لار بنوں ته تير شوے دے او دَ داوړو دَ باغيچے په شان توچئ ته ئې خوله اُوبهٔ اُوبهٔ شوے ده، ولے د قبضے لګولو توان ئې پرے نهٔ دے ليدلے -

کال ۱۷۴۷ء کښے چه نادر شاه ابدالي چا قتل کړو او احمد شاه بابا دراني په قندهار کښے په تخت کښيناستو نو ټول پښتانهٔ کوم چه د مغليه خاندان دلاسه په لړزان وو، پو ځل بيا را اوچت شول او دَ يو لوئې پښتون احمد شاه بابا دَ بيرغ لاندے راغونډ شول او په هندوستان کښے ئې په سکهانو، مرهټو او راجپوتو تالان ګډ کړو - احمد شاه بابا چه د ۱۷۴۷ء نه تر ۱۷۷۳ء پورے دَ پنجاب نه تر دهلي پورے کومے حملے کړے دی، په هغو کښے دَ وزيرستان د تورزنو خلقو هم پوره پوره حصه وه - دَ احمد

شاه بابا په فوځ کښے دَ وزیرستان کنړ ځلمی شامل وو۔ بلکه احمد شاه بابا بخپله د توچئ په لار بنوں ته تیر شوے دے۔

همدغه شان کال ۱۷۴۹ء کښے دَ احمد شاه بابا سپه سالار سردار جهان خان دَ توچئ په لار بنوں ته تلے دے، وَلے کمال خو دا دے چه احمد شاه بابا دَ توچئ په لار بنوں ته خو تیر شوے دے، هلته ئے باقاعده حکومت کړے دے او قلنګونه ئے وصول کړی دی، وَلے دَ داوړو په سرسبزوشادابه علاقه ئے هیڅ قسم تعرض نهٔ دے کړے۔

احمد شاه بابا په کال ۱۷۶۱ء کښے دَ وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو شمیر خو په لاندینی ډول کړے دے چه :

وزیر ۶۰,۰۰۰، محسود ۱۸,۰۰۰، داوړ ۱۲,۰۰۰ او بیټنی ۱۲,۰۰۰ او بخپل فوځ کښے ئے بهرتی کړی وو، وَلے دَ دوی په علاقه ئے چرے هم بلوڅیدو ته مَلا نهٔ ده تړلے۔ دَ احمد شاه بابا نه وروستو ۱۱۸۸ھ کښے تیمور شاه دَ داوړو په لار بنوں ته تیر شوے دے او وزیرستان ته په بد نظر کتل خو څه چه باقاعده ئے وزیرو داوړو ته بدرګه هم ورکړے وه۔

کال ۱۷۸۱ء کښے تیمور شاه درانی لیکی چه :

"وزیر افغان یوه لویه او طاقتوره قبیله ده، کومه چه قریباً په یو لکھ کورنیو مشتمله ده او په یوه وسیعه او

دشوار گزاره علاقه کښې اوسيږي - دَ دوئ مثال دَ ځناورو دے ځکه چه بدون دَ خپلے غريزے سيمے گرځيدلو، په لاړو گودرو کښې ښکار لټولو او مړ کيدلو نه نور په هيڅ نه پوهيږي - دغه لويه قبيله بيخي آزاده ده، نهٔ کوم قسم محصول ادا کوي او نهٔ د چا حاکميت مني ـ"

دَ سدوزړو او بارکزو حکمرانانو په وخت کښې هم وزيرو داوړو چاته ماليه نهٔ ده ورکړے - فتح خان د شاه محمود دراني يو زبردست سردار او دَ افغانستان دَ مشهور آمير دوست محمد خان مشر ورور وو - په کال ۱۸۰۲ء کښې چه دهٔ شاه شجاع ته دَ پيښور په جهگړه کښې شکست ورکړو نو دے دَ پيښور نه دَ کوهاټ، ټل او بنو په لار ترداماڼ اورسيد - په کومه لار په چه تيريدو، دَ هغه ځائے په آبادئ به ئے محصول لگولو - دهٔ دَ ټل او بنو ترمينځه دَ وزيرستان په غيورو او آزادو قبائلو باندے هم د قبضے لگولو کوشش اوکړو، ولے دَ لرغونو بادشاهانو او سردارانو په شان دے هم کامياب نهٔ شو - فتح خان دَ وزيرو داوړو دَ ايل کولو کوشش کښې دَ دوئ سره سخت جنگونه کړي دي او دومره زيات ئے تنگ کړي وو چه نن هم دَ دهٔ نوم دَ بهادرئ په توگه استعمالولے شي لکه چه په وزيرستان کښې وئيلے شي چه :

"تهٔ پريږده، له کومے پاتے خون روغلے " يا

"تهٔ څهٔ پاتے خون يئے ـ"

## دَوزیرستان توریالی دَغیرو په نظر کښې

د وزیرستان دَ توریالی اولس په حقله ډیرو لیکوالو خپل تاثرات قلمبند کړی دی، ولې دلته زهٔ د هغو خلقو دَ لیک څخه یو څو اقتباسات قارئینو ته وړاندې کوم کوم چه په دغه سیمه بد بد وهل خوړلی دی۔

د "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" نومی کتاب په صفحه ۱۶۳ نوشته دی چه :

(۱) "دَ پیړیو د سختو حالاتو کړکیچنو طور وطریقو دَ دغو قبائلو په کړو وړو باندې زبښت اثر غورځولے دے۔ دَ دوئ د خانه بدوشو په شان طورِ زندګی، بے برګ وګیاه او لا حاصل وطن، خود مختارانه او جنګجویانه فطرت، د دوئ دَ بے شمیره ظالمانه عملیاتو په خلاف پرله پسے فوځی مُهمات، دَ دوئ ناقابلِ تسخیر غرونه او محکمتیا یوتربله داسے راغونډ شوی دی چه د صوبه سرحد په تاریخ کښې ئې ورله وسیع او اهمه برخه پیدا کړے ده۔"

هم د دغے کتاب په صفحه ۱۸۱ باندے داسے لیکلے شوی دی چه :

(۲) "که چرے دجهګړے نه پس څوک یو ژوبلی سړی ته نزدے کیدل غواړی، نو دا خبره ډیره ساتی چه په یو محسود یا وزیر کښې د ژوند دَ آخری داؤ لګولو پوره پوره

صلاحیت موجود وی۔

حمله آور که هر څو وَسله غورځولے ، بے وَسه او دُ پښتو

یَسْتو جوګه نه وی ، ولے بیا هم پخپل متعاقب بانډے د

وار کولو بنه چل ورځی ۔"

د صوبه سرحد سابقه ګورنر سر اولف کیرو په "دی پټهان"

کښے دُ وزیرستان د تورزنو قبائلو په ستاینه کښے لیکی چه :

"مختلفو سلطنتونو وخت په وخت دُ سوات او باجوړ

ته واخله تر دِتیراه د قبائلو پورے پخپلو محروسو مملکتونو

کښے دُ شاملولو کوششونه کړی دی ۔ مُغلو او درّانیانو

دواړو په دغه قبائلو د قبضے لګولو په سلسله کښے فوجی

اقدامات هم کړی دی ۔ دغه خبره درسته ده چه هغوی

کامیاب نه شول ، ولے په دغو علاقو بانډے ئے

دعوی ضرور وه ، مګر تر څو پورے چه تاریخ زمونږ ملګری

کوی نو هیڅ یو سلطنت هم دُ وزیرستان د قبائلو په قبضه

کولو کښے کامیاب شوے نه دے ۔"

هم دغه لیکوال بل ځائے لیکی چه :

"تر څو پورے چه دُ وزیرستان تعلق دے نو په تاریخ کښے

داسے یو ثبوت هم نه پیدا کیږی چه چا وربانډے حکمرانی

کړی وی ۔ انګریز غالباً واحد قوم دے چه دغے علاقے

ته ننوتلے وو او هلته ئے لوئے وړے قلعے جوړے کړے

وي، ولې د دوئ حکمراني هم فقط په قلعو کښې دننه وه او باهر ئې هیڅ قسم حکم نهٔ چلیدو او نهٔ د دې خلقو څخه دکوم ټیکس وغیره په حاصلولو کښې کامیاب شوي دي۔"

کپتان فریډي ګیسټ پخپل کتاب "انډین کیولري مین" کښې د وزیرو، محسودو دشجاعت، هیبت او پیش قبضې په حقله لیکي چه "مونږ ته حکم اوشو چه تاسو د نشانه بازئ مشق اوکړئ ولې چه تاسو د دنیا د بهترینو نشانه بازو په خلاف جنګ کولو له روان یئ...... زمونږ مقابله د قطبي پلوٹ وزیرو او سوئیلي پلوٹ محسودو سره وه۔ دوارۀ قامونه د دنیا مثلي شوي جنګیالي او نشانه باز دي۔"

مخکښې لیکي چه:

"دهر یوکس (وزیرستاني) سره د دنیا د ټولو نه خطرناکه وسله پیش قبضه موجوده وه۔ د دې پیش قبضې شکل ډیر خوفناک وو او مونږ اکثر هغه فوځیان لیدلي وو کوم چه په دې غوښ شوي وو، نوځکه دهر چا زړهٔ کښې د دې وسلې نه ویره وه۔"

مخکښې لیکي چه:

"زهٔ په ړومبي ځل په قبائلي جنګ کښې شامل شوې

---

عا په حواله د ماهنامه "حکایات" جون ۱۹۷۱ء۔ ابن صحرا

وم۔ ما دَخپل کمانډنګ افسر نه تپوس اوکړو چه دا څه وجه ده چه په دغه جنګ کښې دَانګریز لفټننټانو او ګورکها سپایانو مړی نهٔ څوک ښخوی او نهٔ ئې دَمیدان نه وړی؟ دهٔ په ځواب کښې راته اووئیل چه دا هغه جنګ نهٔ دے، چه څوک په کښې مړی ښخوی او یا ئې وړی۔ دلته که کومه ډله د مړو د تدفین دپاره پاتے کړے شی نو د هغې د قبرونو کنستل هم لازمی اوګڼړلے شی۔"

هم دغه لیکوال کیپټن فریډی ګیسټ بل ځائے لیکی چه :

"نمر لا پریوتے نهٔ وو۔ د سیکه رجمنټ د ۲۲ سیکهانو یوه ډله دَاُوبو په تلاش کښې اولیږلے شوه۔ د نیمے ګهنټے نه پس په ۲۲ کښې ۱۶ سیکهان ډیر ویریدلی او ساه نیولی بیرته راغلل، نهٔ ورسره ټوپک وو او نهٔ ایمونیشن۔ ښځې ګونګیان شوی وو او په مشکله ئې دومره قدرے اووئیل چه مونږ د کمرو په مینځ کښې یو ځائے روان وو۔ دَروستو نه راباندے حمله اوشوه او دَ اوّل ګُذار سره زمونږ نه شپږ سیکهان پریوتل او مړهٔ شول۔

مونږ چه په شا اوکتل نو لا هیبت واخستو، ولے چه پیش قبضے په لاسونو شلو پنځلسو ښځو په مونږ نتار ګډ کړے وو۔"

په وړاندے لیکی چه :

"ماته خپل کمانډنګ افسر اوویل چه پښتنے ښځے د نرانو په شان بهادرے او جفاکښے دی او دُ دوی کردار مکمل طور پاک وی۔ دخپل عزت په خاطر خپل اولاد هم قربانوی۔"

په وزیرستان باندے چه چا هم څه لیکلی دی، دهغے نه مراد وزیر، محسود، داوړ او بیټنی دی۔ څنو لیکوالو دُ اقلیت په وجه دُ داوړو بیټنو قامونو ته جداګانه حیثیت نهٔ دے ورکړے بلکه دُ وزیرو محسودو ښاخونه ئے ګڼړلی دی۔ ګنی تاریخ شاهد دے چه په وزیرستان کښے داوړیو داسے په اسلام مئین، غیور او جنګجو قوم دے چه هیشه ئے د دین و اسلام په نوم سَر و مال شندلی دی۔ ښاغلے عارف محسود دُ "وزیرستان کُرّم سے گومل تک" په صفحه ۱۲۸ لیکی چه:

"وزیرستان کے تمام سیاسی شخصیتیں داوڑ کی سرزمین پر ہی بام عروج کو پہنچیں اور ان لوگوں نے انکی مالی اور جانی اعانت کی۔"

بایزید رح روښان په خپل تحریک کښے داوړو کامیاب کړے وو دلاسه خان ته د سکهانو په خلاف داوړو مدد ورکړے وو د ادیکړ رح مجاهدانه تحریک داوړو چلولو۔ مولانا ګلاب رح دین ته دُ انګریزانو په خلاف دُ دینی تبلیغ دپاره داوړو خپله خاوره وقف کړے وه۔ د انګریزانو په خلاف دُ ملا پاونده رح ارادے داوړو محکمے کړے وے۔ همدغه شان فقیر ایپی رح دُ داوړو

په مرسته دُ فرنګی په خلاف پاڅیدلے وو، او تر آخره ورسره کلک ولاړ وو۔

دُبنوں ډپټی کمشنر ایچ۔ اے انډرسن دُ ۸ جون ۱۸۹۵ء په یو رپورټ کښې دُ داوړو پحقله لیکی چه :

"په برو داوړو کښې د محسودو، وزیرو او نورو بدمعاشانو[ع۱] شمیره د آبادئ په لحاظ یو په نیمه ده۔"

د "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه ۱۴۲ داسے نوشته دی :

"دوئ (داوړ) څو څو ځله د حکومت په خلاف جنګیدلی دی او د وزیرو سره ئے په ګنړو موقعو لکه د کال ۱۹۱۹ء او کال ۱۹۳۰ء غوندے ګړ بړ کښې حصه آخستے ده۔"

جنرل کولرج دُ داوړو پحقله په "آفیشل هسټری آف اپریشنز آن دی این۔ ډبلیو فرنټیر ۱۹۳۶-۳۷ء" په صفحه نمبر ۲ لیکی چه :

"دوئ (داوړ) محنت کش زمیداران دی او دُ خپلے زرخیزے زمکے په حفاظت کښې زمونږ سره په نره مقابله کوی۔"

کرنل ایچ سی ویلی Wyllie په خپل کتاب "فرام دی بلیک مونټین ټو وزیرستان" کښې دُ داوړو پحقله لیکی چه :

"اګر چه دُ مختلفو زمانو راسے داوړ د کابل دُ واکدارانو

---

ع۱ مونږ به ورته حرّیت پسند اووایو۔

تش په نوم محکوم وو، ولے عملی طور دوئ یعنی آزاد پاتے شوی دی۔"

دَ وزیرستان په حقله نه یواځے انګریزانو تعریفی کلمات لیکلی دی بلکه دے توریالی اولس ته زمونږ د خپل هیواد لوړو لوړو لیکوالو هم د خپل تحقیقی زیار په رنړا کښے دَ عقیدت ګلونه پیش کړی دی۔ جناب محمد شفیع صابرؔ صاحب دَ "تاریخ صوبه سرحد" په صفحه نمبر ۶۷۲ لیکی چه :

"مغلوں اور درّانی کی حکومت زیادہ تر علاقہ یوسفزئی پشاور اور کوہاٹ کے میدانی علاقوں تک محدود رہی ہے۔ ان میں سے کسی حکمران نے کبھی وزیرستان کی تسخیر کا ارادہ نہیں کیا۔ یہی وجہ ہے کہ اس خطّہ کے لوگ غلامی کے نام سے ناآشنا رہے اور ہر قیمت پر آزادی کا تحفّظ کرتے رہے۔"

# دوئیم باب

# دَ مغلو او سِکانو سره دَ غزې

## بایزیدؒ انصاری :

بایزید انصاری دَ یو لوئے مذهبی رهنما ، جرنیل او سیاستدان نه علاوه دَ وزیرستان او ورسره ورسره دگنړو پښتنو سیمو مشر هم وو۔ مخالفه ډله ورته پیر تاریکی وائی او پخپلو پیروکارانو کښے په پیرؒ روشان ، بایزیدؒ انصاری او بایزیدؒ روشان باندے شهرت لری ۔ دَ پښتو ژبے ړومبے مصنف دے ۔ خیر البیان مقصود المؤمنین ، صراط التوحید او فخر الطالبین دَده مشهور کتابونه دی۔

دَ بایزیدؒ روشان دَپلار نوم عبدالله وو۔ ډیر ښهٔ عالم صالح او دَ خپل وخت مدرس او قاضی وو۔ کال ۱۵۲۵ء کښے چه کله په هند کښے دَ پښتنو د لودهی خاندان بادشاهی شوه نو دَ غے

پښتون خاندان په وخت کښې ډیرو پښتنو هند ته کډې اوکړې او آباد شول۔ شیخ عبدالله هم په دغه زمانه کښې هند ته تلے وو، خو په اصل کښې په سویلی وزیرستان کښې دکانی ګرم او سیدونکے وو۔ بایزید رح روشان په کال ۱۵۲۵ء کښې په جالندهر کښې پیدا شو کله چه ۱۵۲۶ء کښې ابراهیم لودهی شکست اوخوړو او بابر بادشاه په پښتنو مسلط شو او هند ئے له پښتنو څخه اونیوو نو په پښتنو ئے ډیر زور وظلم شروع کړو۔

له دغے وجے نه شیخ عبدالله هم د بایزید رح روشان د پیدائش نه لږه موده پس خپل وطن کانی ګرم ته راغے۔ شیخ عبدالله په وړوکوالی کښې بایزید رح روشان خپل شاګرد ملا پائینده ته د سبق دپاره سپارلے وو، ولے هغه له کمکینے نه روحانیت ته مائل وو۔ او په ځائے د دے چه مروجه علوم ئے حاصل کړی وے هغه به هر وخت د کامل پیر په تلاش کښې سرګردان وو۔ ویلے شی چه کله مغلو اقتدار حاصل کړو، نو په پښتنو ئے څه راتیټه کړه چه شهنشاه اکبر خو د دین ومذهب کار ته هم کوتے واچولے، او په کال ۱۵۷۹ء کښې ئے د یو فرمان په ذریعه داحکم جاری کړو چه :

" شهنشاه په ټولو دینی او دنیاوی امورو کښې حاکم مطلق دے۔"

او ورپسے ئے بل داسے حکم اوکړو چه :

"د جُمعے په خطبه کښے دِ دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نوم نهٔ شی آخستے."

دَ دے نه علاوه ئے یو نوے دین جوړ کړے وو، چه په دین الٰهی موسوم وو، او حکم ئے جاری کړے وو چه خلق دِ دغه کلمه وائی چه:

"لا اِلٰهَ الا الله اکبر خلیفةُ الله".

دَ مغلو د ناکردو او دَ اکبر بادشاه دَ بے دینئ له جهته بایزید رح انصاری دَ دهٔ په خلاف پاڅیدو او دَ دین تبلیغ ئے شروع کړو چونکه د مغلو ډیر زور وو او بیا خصوصاً دَ اکبر بادشاه خو ډیره دبدبه وه، نو خپل پلار ئے هم مخالفت اوکړو.

بایزید رح انصاری دَ پلار نه مرُور شو قندهار ته لاړو. په قندهار کښے هم حالات دَ دهٔ موافق نهٔ وو. اوس دهٔ دَ توچئ علاقے ته سترگے راپټے کړے. داوړو ورته په رونړ تندی هرکلے اوو ئیلو او په بنهٔ درنه سترگه ئے ورته اوکتل.

دَ داوړو دَ علاقے نه دهٔ د خپل مشن خورونه شروع کړه او داوړو به ئے هر قسم مرسته کوله.

هر کله چه دَ ده سره افریدیو، اورکزیو، خلیلو، مهمندو، داودزیو گیگیانو، یوسفزو او بنگښو خپل ښگونه غبرگ کړل او پاخهٔ مریدان ئے شول نو دهٔ تیراه خپل مرکز اوټاکلو او په مُغلو ئے هغه چارے اوکړے چه دَ بایزید رح روشان نوم به هم ورته

باوڼ ښکاریدو۔

د مغلو سره دَ ډیرو جهګړو نه پس آخر دغه باتور په کال ۱۵۸۵ء کښې د ننګرهار دَ سیمې په برهو نو ے علاقه کښې دتور را غه په جهګړه کښې دُ مغلو جرنیل محسن خان دَ لاسه سخت ژوبل شو۔ دَ دے ځائے نه په سخته ګرمئ او عزو راغو کښې پلے تر هشنغر را اورسیدو۔ دلته په کالاپانړی نومی ځائے کښې هم په دغو شپو ورځو کښې وفات شو۔ او په هشنغر کښې خاؤرو ته اوسپارلے شو۔

ګوجر قوم دَ شپے په مهال د هغه دَ قبر بے حرمتی اوکړه۔ دَ بایزیدؒ مشر ځوئے شیخ عمر په دے ډیر دلګیر شو او د خپل پلار تابوت ئے رااوویستلو او دَ مغلو په خلاف به ئے د تبرک په طور دَځان سره ګرځولو۔

وائی چه دَیوسفزو په جنګ کښې هغه صندوق دَ مغلو لاس ته ورغے او هغوئ سیزلو او ایرے ئے آباسین ته واچولے، بل روایت داسے دے چه هغه صندوق سالم آباسین ته اچولے شوے وو، خو وروستو بیا روښنانیانو ته په لاس ورغلو او په کانیګرم کښې ئے ښخ کړو۔

سر اولف کیرو په "دی پټهان" کښې د صندوق دَ سیزلو واقعه په سنه ۱۵۸۱ء کښې ګنړی۔ په دا نسبت سره د دهٔ دَ وفات سن سنه ۱۵۸۵ء غلطیږی۔ د ښاغلی[1] بهادر شاه ظفر دَ انداز بے په مطابق دَ دهٔ

---

[1] "پښتانهٔ دَ تاریخ په رنړا کښې"

دَ وفات کال ۹۸۰-۹۸۶ھ ۱۵۷۹-۸۰ء ممکن کيدے شي -

دَ بايزيدؒ روښان پنځه ځامن وو- شيخ عمر، نورالدين، خيرالدين، کمال الدين او جلال الدين - د دهٔ دمرګ نه پس به دَ دهٔ ځامنو، نمسو، کړوسو او مريدانو دَ قبائلو په ملګرتيا کښې په مغلو بريدونه کول او خصوصاً شهنشاه اکبر او جهانګير خو ترے نه تر پوزے پورے وو- دَ بايزيدؒ روښان اولاد او پيروکاران تقريباً شپږ شلے کاله دَ مغلو دَ زبردست قوّت په خلاف اوجنګيدل -

دَ بايزيدؒ روښان نه پس د دهٔ ځوئے شيخ عمر دَ دهٔ جانشين شو او دَ پښتنو په علاقه کښے يو مذهبي حکومت قائم کړو- افريدي، اورک زي، بنګش، خليل، مهمند، مهمنزي او دَ يوسفزو څه حصّه ټول د دهٔ مريدان وو، ولے هرکله چه دَ اخوند درويزه له خوا نه دَ شيخ عمر د مذهبي حکومت مخالفت شروع شو نو دَ يوسفزو خانان او ملکانان هم دَ هغه په خلاف اودريدل او په نتيجه کښے د شيخ عمر او يوسفزو ترمينځه د سرکاوي، مينئ او باړه (تهوپيئ) په ټاپو درے جنګونه اوشول - دَ سرکاوي او مينئ په جنګ کښے شيخ عمر فتح ياب شو، او دَ باړه په جنګ کښے يوسفزي کامياب شول او شيخ عمر، خيرالدين او نورالدين درے واړه په قتل اورسيدل -

دَ دے نه وروستو دَ بايزيدؒ مشر ځوئے جلال الدين دَ روښنائي تحريک قائد شو او په جلاله معروفي شو-

جلاله خپل مرکز تیراه او ټاکلو او دُخپلو مریدانو په راغونډولو کښې لګیا شو او په لږه موده کښې ئې دومره طاقت بیا موندو چه اکبر ته زبردست دردِ سر جوړ شو- او اکبر مجبور شو په کال ۱۵۹۲ء کښې ئې د جلال الدین دګرفتارئ دپاره دروند فوځ وراولیږلو، سخت جنګ اوشو او جلال الدین ته بے شمیره جانی او مالی تلفات اورسیدل خو بیا هم دُهغهٔ په ارادو کښې څه تزلزل پیدا نهٔ شو بلکه په وړاندے نه ئے په زیات جوش دمُغلو مقابله شروع کړه-

په کال ۱۵۹۷ء کښې ئې چه جهانګیر په کابل کښې وو، په غزنی حمله اوکړه خو کامیاب نهٔ شو- په کال ۱۵۹۹ء کښې جلاله بیا د بنون ډیره اسماعیل خان او وزیرستان خلق راغونډ کړل او په غزنی ئے حمله اوکړه- غزنی ئے قبضه کړو او د غزنی ګورنر شریف خان کابل ته اوتښتیدو- د جلاله لشکر ته بے شمیره مال ومتاع په لاس ورغله، خو د غزنی نه دُراستیدو په وخت هزاره قبائلو په دهٔ برید اوکړو او عین دُجنګ په دوران کښې په یوه اتفاقی ګولئ اولګیدو او مړ شو-

د جلال الدین دُمرګ نه پسته د روښنائی تحریک قیادت "احداد" تر لاس کړو، چه د شیخ عمر ځوئے او دُجلال الدین وراره وو- د دهٔ په وخت کښې هم دُ روښنائی تحریک ښهٔ دبدبه وه او دُمغلو په خلاف په ډیر شدت سره جنګیدل- په کال ۱۶۲۶ء کښې دُ احداد سرګرمیانو لا زور اونیوو او هم په دغه کال

دکوهاټ د سیمې ډ لواغر په عزه کښې د مغلو سره په یو جنګ کښې ډ مغلو کماندار ظفرخان د لاسه او وژلے شو۔ او د ده د مرګ په انعام کښې ظفرخان د کابل د صوبے ګورنر او ټاکلے شو۔ ډ احداد په مرګ روښنائی تحریک ختم نه شو بلکه لا ئے د مغلو په خلاف شدت اختیار کړو۔ ډ هغه ښځه چه بي بي علائی نومیده، میدان ته راووته او زبردست طاقت ئے پیدا کړو۔ په تیراه کښې ئے ډ خیلو مرستیالو لوئے جمعیت قائم کړو او ډ خپل ځلمی زوئے عبد القادرخان سرداری ئے پرے اومنله۔

ډ احداد د مرګ نه پسته جهانګیر هم لږ موده پس ډ کابل نه بیرته لاړو او په کال ۱۶۲۷ء کښې په حق اورسیدو۔ او ډ ده ځوئے شاهجهان بادشاه شو۔

ډ احداد د مرګ نه پس اګرچه ډ تحریک واګے په حقیقت کښې د هغه ښځے بي بي علائی په لاس کښې آخستے وے، ولے په ظاهره ئے خپل ځوئے عبدالقادرخان وړاندے کړے وو۔ ډ شاهجهان د تخت نشینئ په اول کال ظفرخان ډ پیښور نه کابل ته روان شو۔ دغه وخت ډ خیبر په لار کښې ډ بي بي علائی او عبدالقادرخان په مشرئ کښې د افریدو او اورکزو درونه لښکر پنډ شوے وو۔ د ظفرخان امیرانو ډ خیبر په لاره ډ ده تګ خوښ نه کړو۔ ولے هغه ډ دوی خبره اونه منله او ډ خیبر په لار روان شو، مګر په خیبر کښې لا ورد ننه شوے نه وو چه ډ بي بي علائی

او عبدالقادر خان لښکر پرے ورپریوت او مغل فوځ ئے داسے وار خطا کړو چه دُ زښت شرمناک شکست سره ئے مخامخ کړو۔ بے دریغه ستړه اوشوه او دُعبدالقادر خان بریخو ته د پرېمانه مال و متاع نه علاوه دظفرخان د حرم بیبیانے هم په لاس ورغلے دُ دے فتح نتیجه دا شوه چه تقریباً ټول پښتانهٔ دُ بی بی علائیٔ او عبدالقادر خان په مرسته اودریدل۔ دا حُل عبدالقادر خان په پیښور باندے دُ حملے کولو پروګرام جوړ کړو۔ او په دے لړ کښے ئے چه دُ مهمندو، یوسفزو، ګیګیانو، ترکلانو او بنوڅ قبائل راجمع کول او په پیښور ئے د حملے کولو تیاری کوله نو په دغو ټولو قامونو کښے دُ داوړو لښکر هم په هرځه پوره موجود وو۔ او کله چه په ۱۲/ جون ۱۶۳۰ء دوئ پیښور محاصره کړو، او بیا په دوئ کښے بے اتفاقی راغله نو دُ مغلو دلاسه په بے خبرئ کښے د داوړو ډیر ځوانان تر تیغ تیر شول۔

دُ دینه پس بی بی علائیٔ او عبدالقادر خان چه د پښتنو دُ مرستے نه نا اُمیده شول نو دُ مغلو دُ یو حاکم سید خان په زبردست کوشش سره ئے د مغلو د حکومت سره صلح اوکړه او پیښور ته راغلل۔ وړے لږے ورځے پس عبدالقادر خان په پیښور کښے مړ شو۔

بی بی علائیٔ، د هغے وررور الله داد او دُ دوئ دُ کورنئ نور غړی دهلی ته اولیږلے شول او شاهجهان ورسره ډیر ښهٔ وضیعت اوکړو۔ د پښتو ژبے لوړ صوفی شاعر مرزا خان انصاری چه دُ

پښتو په کلاسیکی ادب کښې ځلانده مقام لری هم دَ دغې کورنئ غړے وو۔ دغه شاعر د نورالدین ځوئے او د بایزیدؒ روښان نمسے وو۔ دشاهجهان په فوځ کښې نوکرشوے وے او په کال ۱۶۳۶ء کښې اووژلے شو۔

## روښنیه تحریک :

دَ اکبر د مذهبی ګمراهئ په خلاف بایزیدؒ انصاری یو تحریک شروع کړے وو۔ دغه تحریک دپښتنو په تاریخ کښې د تحریک روښنیه په نامه شهرت لری۔ سیّد علی ترمذی چه دَ پیر بابا په نامه یادیږی، د دے تحریک سخت مخالف وو۔ دَ پیر بابا اسلاف په ازبکستان کښې د آمو دریاب په غاړه د ترمذ نومی قصبے اوسیدونکی وو، ولے نیکهٔ ئے په قندز کښې میشته شوے وو۔ دَ پلار نامه ئے سیّد قنبر علی وه، چه دَ بابر بادشاه په تربورانو کښې دَ تیمور نومے شاهزاده خوریئے وو او دَ دغې کورنئ ښځه ورے وادهٔ وه۔ سید قنبر علی دَ بابر په امیرانو کښې شامل وو او دَ امیر نظر بهادر خطاب ئے درلود۔

د پیر بابا یو مشهور خلیفه او شاګرد چه یو جیّد عالم دینی وو او دَ پښتو ژبے په ورومبنو لیکوالو کښې ئے نامه راځی دَ روښنا تحریک په مخالفت کښې د پیر مخکښے وو۔ دغے نومورړی عالم په اخوند درویزه شهرت پیدا کړے وو۔ په اصل کښې ترک وو۔ پلار ئے ګدائی او نیکهٔ ئے سعدی نومید و۔

بناغلی اللہ بخش یوسفی دُیوسف زئیؒ[1] افغان په صفحه نمبر
۳۳۴-۳۳۵ لیکی چه :

"دُ شیرشاه سوری دلاسه دُ شکست خوړلو نه پس همایون دُ مستقبل په تا بیا کښې حضرت سیّد علی ترمذی چه روستو دُ پیر بابا په نامه مشهور شو - دغه لوری ته په دے غرض رالیږلے وو، چه مذهبی رنګ کښے دُ بایزیدؒ دتحریک مقابله اوکړی. چنانچه پیر بابا دُیوسفزو په علاقه کښے دُ میشته کیدو نه پس په دا سے طاقت او سرګرمئ د بایزیدؒ مقابلے ته ملا اوتړله چه هغه سړے چه په دے علاقه کښے په "پیر روشان" مشهور وو، بیا به ورله "پیرتاریک" وئیلے شول او بایزیدؒ چه کوم خوب لیدلے وو، دهغے تعبیر حاصل نهٔ شو."

مخکښے په صفحه نمبر ۳۳۷ لیکی چه :

"د ګیګیانړو د علاقے نه دُیوسف زو (بنیر) علاقے ته دُ پیر بابا راتلل او د بنیر په باچا کلی کښے دُ هغه میشته کیدل دے خیال ته تقویت ورکوی، چه هغه به دُ همایون په وینا دے علاقے ته راغلے وی."

ابراهیم عطائی په " دُ پښتونستان مسئله د حق خوداراديت په رڼا کښے" په صفحه نمبر ۴۷ لیکی چه :

---

ع۱ "پښتانهٔ دُ تاریخ په رڼا کښے"

"دلته دَ مغلو له خوا سید علی ترمذی او اخوند درویزه دَ پښتنو په مینځ کښې هغه خلق ووچه دوئ له مغلو سره قد یمه چپلوی او نژادی علاقه هم درلوده او دوئ دحکومت طرفداران هم وو، نو طبعاً داخلق دَ روښانی مقابلې ته وپاڅول شول او پښتانهٔ څنې دَ روښان پرخوا او بله ډله دَ اخوند درویزه پرخوا اودریدل او د دوئ په مینځ کښې داخلی جنګ تود شو۔ په دے جهګړو کښے په زرونو پښتانهٔ مړهٔ شول او هغه مقصد چه دَ مغلو حکمرانانو درلود ښهٔ حاصل شو۔"

پښتنو مورخینو دَ بایزید انصاری په باره کښے مختلفے نظریے قائمے کړے دی۔ یوه ډله ئے لوړ ادیب، مذهبی مبلغ، روحانی پیشوا، دَ پښتنو د آزادئ علمبردار او دَ مغلو د استعمار لوئے مخالف ګڼړی۔ بلے ډلے چه مشر ئے اخوند درویزه دے، ورته بے دینه، ملحد، بدعقیده او یو چالاک پیر وئیلی دی ولے دَ سیّد بهادر شاه ظفر دَ وینا په مطابق :

"ترکومه چه دَ بایزید دَ الحاد او بدعقیدګئ تعلق دے تر ډیره حده دَ دے پخقله ټول شهادتونه دَ اخوند درویزه په اقوالو او لیکونو مبنی وو او ټول یک طرفه وو۔ په دے بناء دَ بایزید د عقایدو په حقله په غیرجانبدارانه طریقه اظهار خیال کول یو ډیر ګران کار وو، ولے دَ ښهٔ

مرغه اوس دُ بایزیدؒ انصاری خپل تصنیفات لکه خیرالبیان او صراط التوحید وغیره موندلی شوی دی - د صراط التوحید دمطالعے نه دُ بایزیدؒ حالات او تردیره حده دهغهٔ مذهبی خیالات او عقائد څرګندیږی - دُ دے کتاب د مطالعے په رنړا کښے دا وئیل زیاتے نهٔ دے چه کوم الزامات دُ اخوند درویزه له خوا هغهٔ ته منسوب شوی دی، هغه بیخی غلط او د مسلک د اختلاف نتیجه ده - برعکس د دے دُ صراط التوحید د مطالعے په رنړا کښے به دا وئیل بے ځایه نهٔ وی چه بایزیدؒ متشرع صوفی وو او دُ هغهٔ دا مقصد وو چه دُ شریعت د پیروئ او پابندئ په رنړا کښے خپل پیروکار د روحانیت اعلیٰ مدارجو ته اورسوی - دُ دے مقصد دحصول په لړ کښے هغهٔ اول د تحریر و تقریر او پند و نصیحت نه کار واخستو ولے چه په دے سره په خپل مقصد کښے کامیاب نهٔ شو نو دُ تورے چلولو نه ئے هم ځان اونهٔ شو غورزولو ۔ ؏۱

بنا غلے قیام الدین خادم دُ خپل کتاب "بایزید روشان" په صفحه نمبر ۱۱۶ دُ درویزه له طرفه په بایزیدؒ روشان باندے دُ عائد شوو الزاماتو پحقله لیکی چه :

"مګر درویزه والو دُ دغه موادو دُ اثبات او ثبوت دپاره دُ

---

؏۱ "پښتانهٔ د تاریخ په رنړا کښے"

روښان کوم یو کتاب نه حواله نهٔ ده ورکړے، چه سړی هغه ځایونه پسے کتلی وے. هر کله چه دنیا له سوء تفاهمو ډکه ده نو په مجرد سړی څنګه اعتبار وکاندی؟"

دَ انسائیکلوپیډیا آف اسلام مقاله نګار لیکی چه :

"دَ اخوند درویزه بیان په ډیر احتیاط سره سنجول په کار دے، ځکه چه هغه د بایزیدؒ د تعلیماتو عقیدتاً مخالف وو."

ښاغلے ګلاب ننګرهارے دَ مولوی محمد ظاهر شاه" دَخپلواکئ جهګړے" په صفحه نمبر ۱۵۸ رقمطراز دے چه :

"میاں روښانؒ د دین او روحانیت پښتون امام دے"

# دَ سکهانو دور

کال ۱۷۷۳ء کښې چې احمد شاه بابا وفات شو او سکانو يو ځل بيا خپلې هلې ځلې شروع کړې. او بيا چې ځل ۱۸۱۹ء کښې دَ مهاراجه رنجيت سنګه په کمان کښې دَ بنون علاقې ته رانوتل په دے خاوره ئې تر ۱۸۴۶ء پورے قبضه اوساتله نو په دے دوران کښې چې دَ سکانو په خلاف بنوڅو، مروتو او عيسىٰ خيلو کوم جنګونه کړي دی، په هغو کښې دَ وزيرستان توريالی ځوانان هم دَ دوئ سره اوږه په اوږه جنګيدلی دی.

په کال ۱۸۴۲ء کښې چې دَ عيسىٰ خيلو خلق راپورته شول، او په عيسىٰ خيلو کښې ئې دِ سکانو په واحده تهانړه چپاؤ اوکړو، نو سکانو دَ سردار سوچيت سنګه په کمان کښې دَ عيسىٰ خيلو په علاقه حمله اوکړه. سخته جګړه اوشوه. او دَ منکيړے نواب احمد خان دَ شديد مقاومت نه پسته سره دَ خپلو ملګرو داوړو ته مهاجرت راؤکړو. داوړو پناه هم ورکړه او دَ دهٔ په مرسته کښې

ئې په سکانو تاختونه هم شروع کړل.

دغه رنګ کال ۱۸۴۳ء کښې چه غازي دلاسه خان راپورته شو او په سکانو ئې لکه د بازغونې وهل شروع کړل نو د ده سترګې هم د وزیرستان پله وې. هر کله چه د بنوں د سیمې ګل حسن آمندي خوا کښې دلاسه خان په کهړک سنګهـ او سردار فتح سنګهـ باندې حمله اوکړه او سخته جګړه اونښته، او دلاسه خان په کمزورتیا راغې نو ده د مزید کمک حاصلولو دپاره داوړو ته ناسته اوکړه او هغوئ ئې په روڼې تندي ملاتړ اوکړو. "د بنوں او د وزیرستان تاریخ" لیکونکې ګل ایوب سیفي په صفحه ۱۱۷ لیکي چه:

> "د سکهـ خلاف چه بنوڅو څومره جهاد کړے
> دے، دوئ سره وزیرو محسودو هیڅ قسم مدد نه
> دے کړے. البته داوړو به بنوڅو مفرورانو ته کله نا
> کله پناه ورکوله. دلاسه خان چه کله به سکانو نه
> تنګ شو نو هغه به زاړه او بیماران خلق داوړو ته
> اولیږل. یو ځل پخپله هم تلے[1] وو"

د ګل حسن آمندي د جګړے نه پس چه دلاسه خان توچي ته راغے، نو داوړ د ده په حمایت کښې راغونډ شول او په سکانو ئې یرغلونه شروع کړل. سکان د دے نه ډیر تنګ شول. او په

---

[1] دلاسه خان داوړو ته یو ځل نه بلکه دوه ۲ ځله هجرت راکړے وو. یو ځل په ۱۸۴۰ء کښې او بل ځل دسمبر ۱۸۴۷ء کښې. دواړه ځله ئې په داوړو کښې کافي وخت تیر کړے وو.

داوړو خصوصًا دَ حیدرخیلو، مَولامکانو او ایپّي کلیو باندے ئے دَ فوځ کشئ فیصله اوکړه او دَ دیوان تاره چند پهٔ مشرئ کښے ئے پټ پهٔ پټه یو درونډ فوځ ورروان کړو۔ فوځ لا دَ داوړو حد ته نهٔ وو رسیدلے چه دَ وزیرو داوړو چغے ورورانډے شوے او داسے شندے ئے پرے اوکړے۔ چه دَ خپلو مړو ژوبلو پهٔ شمېر ئے سترې کړل، او پهٔ شا ئے بنوں ته اوتښول۔

## دَ تپاّیي کلي جګړه:

دلاسه خان هغسے توچئ کښے وو او داوړو بهٔ دَ دهٔ پهٔ مرسته کښے دَ سِکانو پهٔ چهاونړئ، کیمپونو او کانوائیو پرله پسے بریدونه کول۔ دغسے صورتِ حال یو ځل بیا سِکان وبله مرکه کړل۔ او پهٔ داوړو ئے دَ فوج کشئ فیصله اوکړه۔

کال ۱۸۴۴ء کښے دَ رام سنګه پهٔ کمان کښے دَ سِکانو یو درونډ فوځ چه پهٔ څلویښتو زنبورکو او یو زر سوارو باندے مشتمل وو، دَ توچئ پهٔ لورې ورروان شو۔ کله چه دغه فوځ دَ بنوں نه اووتو او تپاّیي کلي ته اورسیدو، نو وزیرو، داوړو دَ قاسم خان او کلابانډ خان چه پهٔ قوم منظرخیل وزیر وو، پهٔ مشرئ کښے حمله پرے اوکړه۔ سخته جګړه اوشوه۔ سِکانو ماتے اوخوړه او غازیانو ته بے شمېره مالِ غنیمت پهٔ لاس راغلو۔ دا یو داسے فیصله کن جنګ وو چه دَ سِکانو پهٔ توچئ ورختته خوځهٔ، چه دَ بنوں دَ علاقے نه ئے هم ډیر زلے پښے

اوختے۔ سر اولف کیرو په "دی پٹھان" کښې لیکی:

"سکانو په عزیزه علاقې دَ قبضې کولو او یا دَ
هغه ځائے دَ خلقو سره دَ براهِ راست رابطے قائمولو
هیڅ کوشش نهٔ دے کړے۔ هغه چرے هم سوات
بونیر، باجوړ، وادی کرم یا وزیرستان ته داخل
شوی نهٔ دی"۔

کله چه سر هربرټ ایډورډز دَ سکانو دَ منتظم په حیث په
کال ۱۸۴۷ء ۹ دسمبر بنوں ته راغے نو په دا شپو ورځو کښې دلاسه
خان هم بنوں کښې وو۔ روبے روبے دهٔ دَ ایډورډز سره دَ
ملاقات کولو په لړ کښې دَ څهٔ رغبت اظهار اونکړلو - ولے دَ ایډورډز
دَ پرله پسے بلنے او اصرار په وجه ئے آخر غاړه ورته کیښوده، او
ملاقات ئے ورسره اوکړو۔ خو دَ سکانو سره دَ ازلی عداوت له کبله
دے یو ځل بیا داوړ ته راغے۔ لشکر ئے ترتیب کړو او بنوں کښې
ئے دَ سکانو په چاؤنړئ او کیمپونو حملے شروع کړے۔ دغه وخت
دَ دهٔ عمر اویا کاله وو او شپږ ځامن ئے درلود۔ دَ لیفٹیننٹ کرنل سنبالښت
به دَ دهٔ یو توریالی ځوئے شیخ ستار کولو۔ چه په شیخی مشهور
وو۔ هم دغه رنګ دَ دهٔ بل ځوئے خوجک به بنوں کښې اوسیدلو
او پلار به ئے دَ روزمره حالاتو څخه خبر ساتلو۔ شیخی دخوجک
نه مشر وو۔

غازی دلاسه خان : غازی دلاسه خان بنوں کښې دَ داؤدشاکلی

اوسیدونکے وو۔ غالباً کال ۷۸-۱۸۷۷ء کښے پیدا شوے وو۔ ډیر توریالے او جنګیالے ځوان وو۔ دَخپلے خاورے په سرئے دَسِکانو سره ډیر جنګونه کړي دی۔ او زښت جانی او مالی تلفات ئے ورته رسولی دی۔ دَخپل قامی ننګ وغیرت او بے کچه شجاعت له کبله نن هم بنوڅی په دهٔ ویاړ ینی۔

په ۹ دسمبر ۱۸۴۷ء چه سر هربرټ ایډوردز بنوں ته راغے نو ټولو ملکانانو ورسره ملاقاتونه اوکړل، یواځے دلاسه خان وو چه دَدهٔ پروا ئے اونکړه۔ په دے حقله ایډوردز دَخپل کتاب "اے ائیر آن دی پنجاب فرنټیئر" په صفحه ۸۹ (جلد اول) لیکی چه:

"زما کیمپ ته راوښے سړے میرعالم خان آمندی راغلو او راتلو سره ئے یکدم اووئیل چه:
"دَ بنوڅو په سردارانو کښے چه چا اطاعت نهٔ دے قبول کړے، هغه یواځے دلاسه خان دے، کوم چه دَ خصوصی پام لرنے وړ دے"

مخکښے میرعالم خان آمندی په تفصیل سره لګیا شو چه:

"دلاسه خان دَ ښته داؤدشاه دَ ځلورمے برخے سردار دے۔ مګر دهٔ دَخپلے سرکشئ او بد مزاجئ له جهته په ټوله علاقه رُعب اچولے دے۔ په وطن کښے دَدهٔ شهرت محض دَسِکانو سره دَ دښمنئ په وجه دے"

* * *

ایډورډز دَ دلاسه خان دَ لیدو پرله پسے کوششونه شروع کړل او آخر په ډیرو خوږو پښتو خبرو ئے ځان پله راکښلو، او ملاقات ئے ورسره اوکړو.

مخکښے ایډورډز په صفحه ۹۰ لیکی چه:

"دلاسه خان چه دَ پنځوسو شپیتو سوارو سره په فاخرانه انداز کښے کیمپ ته راننوتو، نو دَ دهٔ په لیدو زهٔ ډیر خوشحال شوم، ځکه چه سکھ سردارانو چه زما دَ خیمے دَ جالیو نه هغه په دے حالت کښے په راتلو اولیدو نو دا سے ئے محسوسوله لکه چه دَ پنجرے نه زمرے راوتے وی"

دلاسه خان دَ ایډورډز په کیمپ کښے تر یوے میاشتے پورے پاتے شو. مګر دَ انګریزانو او سکانو دَ لاسه چه دهٔ خپله خاوره په خطر کښے اولیده. نو یوه شپه پټ دَ کیمپ نه اووتو او بیا ئے داوړو پله مخه اوکړه. دَ دلاسه خان په تګ ایډورډز ډیر دلګیر شو. دهٔ ته ئے دَ دلاسه ډیر خطونه اولیکل، ولے دهٔ څهٔ توجه ورنهٔ کړه. البته دَ عمر په انتهائی آخری شپو ورځو کښے دغه باتور بنوں ته لاړو او هم هلته په حق اورسیدو. قبر ئے دَ خواجه عبد الله بابا" په هدیره کښے اوس هم موجود دے.

---

# بنوں کښې دَ سکانو او انګریزانو شریک حکومت

سکهان په اول ځل ۱۸۱۹ء کښې دَ مهاراجه رنجیت سنګه په کمان کښې دَ بنوں علاقې ته راننوتلی وو. او په داسې طریقه ئې دَ ۱۸۱۹ء نه تر ۱۸۴۶ء پورې یعنې ۲۷ کاله خپله قبضه ټینګه کړې وه. په ۱۸۴۶ء کښې چې بنوں باندې دَ سردار دلیپ سنګه حکومت وو، دَ سکانو او انګریزانو دَ یوې معاهدې له مخه چې په لاهور کښې ترسره شوې وه، دَ سکانو دَ فوځي او انتظامي معاملاتو په لړ کښې انګریزان افسران هم مقرر شوي وو.

دَ لاهور دَ انګریزانو ریذیډنټ په حکم جرنیل کورټ لینډ او میجر ایډورډز دَ بنوں دَ انتظام دَ پاره مقرر شول. میجر ایډورډز نائب ریذیډنټ وو. دې دواړو افسرانو دَ انګریزانو او سکانو مشترکه اقتدار مضبوطولو په باره کښې ډیر اقدامات شروع کړل. دَ خپل اقتدار دَ استحکام دَ پاره دَ بنوں ناظم میجر ایډورډز دَ لاهور دَ انګریز ریذیډنټ په حکم بنوں کښې په ۱۸، دسمبر ۱۸۴۷ء دَ عزم په وخت دَ خپل لاس ډیزائن شده قلعې بنیاد کیښودو. نوم ئې ورله دَ رنجیت سنګه دَ ځوئې دلیپ سنګه په نوم دلیپ ګړه کیښودو. دغه قلعه چې دَ سطح سمندر نه ۱۲۷۹ فټه اوچتوالې لري، تر کال ۱۸۵۴ء پورې بیخي سرته اورسیده. دَ قلعې سره سره

ایډورډز یو نوے ښهر هم آباد کړو۔ وروستو دغه قلعه او ښهر دَ ایډورډز فورټ او ایډورډز آباد په نومونو یاد کړے شول۔ نن صبا دَ بنّوں قلعه او ښهر یادیږی۔

په کال ۱۹۱۰ء کښے دَ "ایډورډز آباد" په حقله دَ "قید یاغستان"[1] لیکونکے محمّد اکرم داسے نقشه پیش کړے ده:

" اصل بنوں ایک پرانا شہر ہے جو اب معمولی گاؤں کی صورت میں آباد ہے۔ اس سے دو میل کے فاصلے پر ایک نیا شہر "ایڈورڈز آباد" کے نام سے دریا کے کنارے آباد کیا گیا ہے، جس کی روز افزوں رونق، بازاروں اور کوچوں کی باقاعدگی، عمارات کی خوبصورتی خاصکر تجارتی کاروبار نے پرانے شہر کی گرم بازاری کو سرد کردیا ہے اور اس کی شہرت اور نام خود چھین لیا ہے۔"

دَ "ایډورډز فورټ" په حقله کیپټن فریډی کیټ په خپل کتاب[2] "انډین کیولری مین" کښے لیکی:

" بنوں میں ایک قلعہ ہے جس کی دیواریں مٹی کی ہیں اور اندر کمروں اور بارکوں وغیرہ کی ساخت اور شکل و صورت پرانے زمانے کے قیدخانوں کی سی ہے۔ قلعے

---

[1] "قید یاغستان" دَ محمّد اکرم اُورسیئر "آپ بیتی" ده۔ اکرم دَ کوجرانواله وو او په قطبی وزیرستان کښے دَ عید کو په خواؤشا په ۲۵ اپریل ۱۹۱۰ء غازیانو اِغوا کړے وو۔ [2] بحواله ماہنامہ "حکایت" جون ۱۹۷۱ء صفحه ۱۰۳۔

کے اندر دو پلٹنیں اور ایک رسالہ رہ سکتا تھا۔ بنوں میں
یہی قلعہ تھا جو قبائلوں کے حملوں سے محفوظ تھا۔ میں افسروں
کے میس میں گیا تو دیوار پر بہت سے انگریز افسروں کے نام
لکھے ہوئے دیکھے ۔ ہر نام کے آگے موت کی تاریخ لکھی ہوئی تھی۔
معلوم ہوا کہ یہ اُن افسروں کے نام ہیں جنہوں نے قلعے
کے اندرونی ماحول اور ساخت کی دہشت اور وحشت کے
زیر اثر خودکشی کی ہے ۔ یہ فہرست خاصی طویل تھی۔"

دَ ماهنامه "حکایت" مدیر مسئول ښاغلے عنایت الله دَ کیپټن
فریدي کیسټ دَ پورتني بیان په ضد هم دَ دغے صفحے په حاشیه
لیکي چه :

" میں انگریزوں کے زمانے میں اپنی رجمنٹ کے ساتھ
اس قلعے میں ایک سال رہا ہوں ۔ اسکا نام فورٹ ایڈورڈز
ہے ۔ یہ صحیح ہے کہ قلعے میں کئی انگریز افسروں نے خودکشی
کی تھی ۔ لیکن یہ کہنا صحیح نہیں ہو سکتا ہے کہ خودکشی کی وجہ
قلعے کی دہشت اور وحشت تھی ، بلکہ قلعے میں جاکر یہ خوشگوار
احساس ہوتا تھا کہ یہاں ہم قبائلوں کی گولیوں سے محفوظ
ہیں ۔ میرا ذاتی خیال یہ ہے کہ قبائلی علاقے میں جاکر انگریز
افسروں پر موت کا خوف طاری ہو جاتا تھا ۔ یہ خوف اُن
انگریزوں کیلئے زیادہ تکلیف دہ ہوتا تھا جو سمجھتے تھے کہ پٹھانوں
کے خلاف انگریزوں کی جنگ بے مقصد ہے ایسے حساس اور

زود پشیمان افسر حکم عدولی کی بجائے خودکشی کر لیتے تھے۔"

میجر ایډورډز یوخوا بنون کښې ډ خان ډ مضبوطولو انتظامات شروع کړي وو او بل خوا ئې توجئ پله ډ لاس اوږدولو خیال وو، او هر قسم معلومات به ئې راغونډول۔ په داوړو کښې ئې ډ سکهانو او هندوانو مذهبي پیشوایان ډ جاسوسانو په طور ساتلي وو۔

ایډورډز په کال ۱۸۴۷ء کښې ډ داوړو ټول شمیر، کلي، وسله او ملکانان معلوم کړي وو۔ ډ خپل کتاب "اے ایئر آن دی پنجاب فرنټیئر" په صفحه ۱۸۲ جلد اول ئې ډ داوړو مشران داسې ښودلي دي:

| ډ ټپې نوم | ډ مشر نوم |
|---|---|
| خدي | نواب او شودیدار |
| سوخیل یا وسوخیل | شیخ حسن |
| حیدر خیل | میرداد |
| عیدک | ولي او شادیدار |
| مبارک زئ (مبارک شاهي) | پایئو دین |
| ټپي | مداسان او خوندړي |
| میران شاه | زوریب |
| دربه خیل | اکبر شاه۔ مداسان او جهانګیر |

ـــــــــــــــ

ئه میرانشاه پلار ډ احمد، احمد پلار ډ جهانګیر، جهانګیر پلار ډ زبردست، زبردست

| | |
|---|---|
| همزوني | مامادي، ميرک او خانه زام |
| ملخ | شير خان، بلوچ او ادم |

دَ بنوں دَ قلعې په تعمير باندے ايډورډز بس نکړه بلکه دَ بنوں نه ئے لنډې ميله لرے قطب پله دَ کيمبتي په مقام هم کيمپ اولګولو. حالانکه دَ دغے کيمپ په لګولو باندے دَ بنوں او وزيرستان دَ سيمو غيرتمندو قبائلو ورسره زښت کشتا و خون اوکړو. خو متل دے چه:

"اونے اونے ته بچا وهلے! که تبر لاستے دِ نهٔ وے دَ خپلے کونے"

مطلب دا چه ايډورډز به چرے هم په کيمبتي باندے کيمپ لګاؤلو کښے کامياب شوے نهٔ وے، خو که ملک سوان خان ورسره مرسته نهٔ وے کړے -

## ملک سوان خان:

ملک سوان خان دَ بنوں سپرکه احمدزئ وزير وو- په سپرکي کښے باغوان خيل وو. دَ ملک سوان خان او ايډورډز دَ دوستئ سبب يو مشهور برطانوي سياح او پولټيکل افسر وليم مورکرافټ وو - کوم چه کال ۱۸۲۴ء کښے وزيرستان ته راغلے وو او دَ خپل خُفيه سياسي مُهم په دوران کښے دَ دهٔ ميلمه شوے وو- وليم مورکرافټ دَ دهٔ دَ مهمان نوازئ په تاثر کښے دهٔ ته يو توصيفي سند ورکړے وو او دغه سند دهٔ درويشت[۲۳] کاله په کوډي کښے خوندي ساتلے وو-

---

پلار دَ ګل حسين، ګل حسين پلار دَ زرباد شاه، زرباد شاه پلار دَ لائق شاه (راقم) ÷ ÷

دسمبر ۱۸۴۷ء کښے چه ایډورډز بنون ته راغے، نو سوان خان ورته هغه خط اوښودلو۔ دَ خط په موجب ایډورډز دهٔ ته دَ میلمستیا بلنه ورکړه او میلمه ئے کړو۔ ایډورډز رومبے رومبے دَ هرکلی په طور دَ سوان خان کیمپ ته سل روپئ ورا ولیږلے او بیا چه ترڅو پورے هغه هلته استوګن وو، تر هغه به دهٔ ته یومیه پنځه روپئ او دَ دهٔ ملګرو ته په سړی سر دوه دوه پونډه اوړهٔ ورکولے شول۔ سوان خان دَ ایډورډز په خوښه پښتو خبره اوغولیده او دَ میجر ایډورډز سره ئے دَ دوستئ په پټ کښے هرقسم تعاون ته ملا اوتړله۔

وزیر که هرڅو دَ ایډورډز په نظر کښے "باؤ" وو، خو دغه باؤ دَ سوان خان دَ ملګرتیا په برکت رام شوه۔ هم ئے دَ وزیرو تهل لاندے کړو او هم ئے دَ دوئ نوره سیمه۔ دَ دغے تاریخی بے ننګئ په عوض کښے سوان خان ته ئې دَ "وزیر وزیران" خطاب او دَ وزیرو نه دَ مالئے وصولو وظیفه ملاؤ شوه۔ خو متل دے چه:

"پښتو نیمه کافری ده۔"

سوان خان هم دَ خپلے پښتو دَ لاسه تیر وتو۔ یو ځلے ئے چه میجر ایډورډز ته دَ دوستئ لاس ورکړو، نو بیا یکښے دَ نام وننګ پروا نهٔ وه۔ ګنی دَ دهٔ سرع هم دَ قومی سود و زیان پوره پوره احساس وو۔ میجر ایډورډز دَ خپل کتاب په صفحه ۹۲ لیکی چه

" تیره شپه، ما چه په بستره کښے مطالعه کوله

نو دَ جنرل کورټ لینډ په دے خبره زښت حیران
شوم چه دَ وزیرو مشر سوان خان دے ته تیار نهٔ
دے چه دَ مالیئ سروئیرانو ته دَ وزیرو زمکے په
ګوته کولو دَ پاره څوک اولیږی، بلکه دا وائی چه وزیرو
چرے هم کوم بادشاه یا سردار ته مالیه نهٔ ده ورکړے
او نهٔ به ئے ورکړی؟

دَ جنرل کورټ لینډ دَ وینانه دا خبره ثبوت ته رسیږی چه ملک سوان خان سکوټ بے ننګه نهٔ وو، ګنی هغه به دَ مالیئ سروئیرانو ته قدم په قدم دَ وزیرو زمکے ښودلے وے. بلکه په دے لړ کښے دهٔ دَ ایډورډز سره هم پوره پوره اړوښت کړے وو. بهرحال ملک سوان خان بے ننګه وو، یا ننګیالے، خو دَ دهٔ دَ دوستئ په اساس میجر[1] ایډورډز په کیمبتی کښے کیمپ اولګولو خو دَ وزیرو مردم خیزه زمکے نور داسے ځیګرور ژنړی راپیدا کړل چه سوان[2] خان ئے شاته کښینولو. او په ایډورډز پسے ئے تورے راواویستے. دغه سرتیری ځوانان یو جان وو او بل سیلګے چه په قوم احمدزئ سپرکی وزیر وو.

---

[1] په کال سنه ۱۸۶۸ء کښے په لندن کښے وفات شو. [2] مارچ سنه ۱۸۵۳ء کښے په خپل مرګ مړ شو.

## دریم باب

# دَ فیرنګی مخنیوے

### دَ کیمبتی نښته:

په ۲۹/ مارچ ۱۸۴۹ء چه فیرنګی مکمل طور بنوں کښے دَ سکانو نه اختیارات ترلاسه کړل او بیخی ئے بے دخله کړل۔ او بنوں کښے ړومبے حُل فیرنګے ډپټی کمشنر نکلسن مقرر شو نو دَ غازیانو مخه یواځے فیرنګیانو ته شوه۔ شپه ورځ به ئے دَ بنوں په چاؤنړی او کیمبتی په کیمپ یرغلونه کول۔

په دے دوران کښے دَ فیرنګی سره دَ دوئ مشهوره نښته دَ کیمبتی په مقام شوے ده۔ واقعات داسے وو چه کال ۱۸۵۰ء کښے دَ دوؤ سرتیرو ځوانانو جان او سیلګی په مشرئ کښے یو دروند لښکر راغونړ شو او دَ بنوں نه اووه میله قطب پله دَ کیمبتی په کیمپ ئے یوه زوره وره حمله اوکړه۔ دَ فوځیانو او غازیانو ترمینځه دومره سخت جنګ اوشو چه په نتیجه کښے ډونلډ نومے یو غټ انګریز

منصبدار او ورسره ۵۰۴ تنه فوځیان قتل شول. د غسې دَ غازیانو له خوا نه هم ۹۳ تنه سرتیری ژمنری په شهادت اورسیدل.

فیرنګی چه دَ خپل فوځ دومره جانی او مالی تلفات اولیدل. نو په زړه کښې ئې دَ انتقام اُوربل شو او دَ لیونو په شان په کلیو ورغوټه شو او ۱۴۵ ډک ډوک کورونه ئې اوسیزل.

## دَ بهادرخیلو ړومبئ جګړه :

دَ وزیرستان توریالی ځانان یواځې په خپله خاوره نه، بلکه دَ فیرنګی پخلاف به هرچرې جنګیدل او دَ دین و مذهب په نوم به ئې سرونه شیندل. دَ خټکو په علاقه کښې چه دوئ کومې قربانئ ورکړی دی هغه نن هم دَ وزیرستان دَ ننګ وغیرت شمله اوچته ساتی. په دې لړ کښې دَ طوطکی جګړه دَ وزیرستان دَ تورزنو یوه مثالی معرکه ګڼړلې شی. دغه جګړه داسې اوشوه چه جنوری ۱۸۵۰ء کښې انګریزانو دَ مالګې درنګ نه دَ مالګې په ورلو دومره زیات محصول اولګولو. چه دَ عامو خټکو او تجارت پیشه خلقو دَ وس نه تیره خبره وه. په دې خلق راوپاریدل او هلته نزدې دَ کرنل پولک په کمان کښې میشته فوځ باندې ئې حمله اوکړه. سخت جنګ اوشو. په نتیجه کښې فوځ دَ سخت جانی او مالی تاوان سره مخامخ شو. او کرنل پولک په تیښته دَ لمبر فوځی کیمپ ته ځان خلاص کړو.

دَ خټکو په زمکه دَ دغې بریٔ له برکته دَ غازیانو حوصلې لا

زیاتے شوے۔ او شپہ ورځ دَ انګریزانو په خلاف بوخت شول۔
دا سلسله پوره او بنده شوه۔ اکتوبر ۱۸۵۱ء کښے دغو غازیانو دَ
طوطکی په مقام دَ انګریزانو په فوځ یوه بله غوټه اووهله۔ او دَ
فریقینو ترمینځه خونړے جنګ اونښتو۔ دَ یو څو ساعته سختے
نښتے نه پس په فوځ ماتے ګډه شوه۔ ولے کله چه دوئ دَ غازیانو
سینو ته برابریدل، نو دپاسه پرے دَ کرنل پولک په کمان کښے
تازه دم دستے رااورسیدے۔ او جګړه یو کرت بیا په تاؤدیدو شوه
او نولس[19] ورځے دوام ئے اوموندو۔ ولے دَ دے دومره طویلے مودے
باوجود غازیان په داسے شجاعت او استقامت سره ورمته وو۔
چه فوځ ورته ټینګ نهٔ شو او دَ میدانِ جنګ نه ئے پښے اووسپتے۔
په دے جګړه کښے دَ غازیانو له خوا نه ۳۹ تنه په شهادت اورسیدل۔
او دَ فیرنګی له خوا نه ۴۰۲ کسان قتل شول۔

## دَ بهادرخیلو دوئیمه جګړه:

جون ۱۸۵۲ء کښے کپتان کاکس چه دَ بنوں ډپټی کمشنر وو، دَ
طوطکی دَ شرمناک شکست په انتقام کښے په بهادرخیلو ختکو باندے
دروند فوځ وراوخیژلو۔ ختکو هم ډولونه اوغږول او په ۴ جون
ئے جوابی حمله پرے اوکړه۔ دغه حمله دومره سخته وه، چه دَ
فریقینو په مینځ کښے یو خونړے جنګ اونښتو۔ خو دَ بده مرغه دا
ځل دَ انګریزانو فوځ ډیر زور راوړے وو او لکه دَ سیلاب په هر
څهٔ ورخور شو۔ په کلی کښے ئے نهٔ واړهٔ زاړهٔ معاف کړل او نهٔ بے زبانه

ښاروی، هر څهٔ ئے ترتیغه تیر کړل. او دَ کلی ټول کورونه ئے ویران ویجاړ کړل. دَ ختکو په دے دواړو جګړو کښے وزیر او داوړ هم دَ دوئ سره اوږه په اوږه دَ فرنګی په خلاف جنګیدلی وو او په دے پاداش کښے فرنګی دَ ۱۸۵۱ء په موسم خزان کښے کابل خیل وزیر بلاکیډ کړی وو او ۵۲-۱۸۵۱ء کښے ئے پرے څو څو حمله فوځونه ورخوشی کړی وو.

## دَ سپړی او ګرانګ جګړه:

سره دَ دے چه دَ کیمبتی په جګړه کښے وزیرو ته بے دریغه تلفات رسیدلی وو. ولے بیا هم دَ دوئ حوصلے پست شوے نهٔ وے، او هغوی به ئے څو په څو یمه په فیرنګی بریدونه کول. دغهٔ جګړه هم دَ دغے سلسلے یوه کړئ ده. یوه ورځ عمرزو وزیرو (احمدزئ وزیر) دَ کرمے رود په غاړه دَ فیرنګی په میشتهٔ فوځ دومره سخته حمله اوکړه چه یو خوائے ۳۷ تنه فوځیان قتل کړل او بل خوائے بے شمیره دَ غنیمت مال ترلاسه کړو.

فیرنګی په دے ډیر تاؤ اوخوړو. او دَ غازیانو په پنډغالو ئے دَ فوج کشئ فیصله اوکړه. دغه پنډغالی دَ عمرزو وزیرو سپړی او ګرانګ نومے کلی وو. ګرانګ دَ بنوں نه قطب پله دولس[۱۲] میله لرے پروت دے. دَ بنوں دَ ډپټی کمشنر میجر نکلسن په کمان کښے له دریو لوریو نه فوځونه ورخوشی کړے شو ل.

دَ دسمبر ۱۸۵۲ء په ۲۱/۲۰ شپه باندے درے نیم زره فوځ دَ بنوں

نه دَ کیمبتی په لار- او هم دومره دَ سحر په خره کښې دَ لتمبو او برگنتو په لار په سپړی ورمارچ شو - سحر چه دَ عمرزو وزیرو ځوانانو خبریدل فوځ ئې له کلیو نه چاپیره شوے وو - دَ عمرزو توریالی ځنړی هم دَ خوبه ډکے سترگے ودپسے راپاڅیدل - داسے جنگ ئې ورسره شروع کړو چه دَ فوځیانو نه ئې وار پار خطا کړو -

دَ فیرنگی دریم فوځ دَ بنوں نه دَ کرم وادی په لوری تقریباً دَ دولس میله چکر خوړلو نه پس دَ کیمبتی په لار په جنگ کښې انښتی فوځ سره یو ځائے شو او جگړه یو ځل بیا په تاؤدیدو شوه -

دغه جگړه دَ ۲۰ دسمبر نه تر ۲۲ دسمبر پورے اوږده شوه - او په دے دوران کښې دَ فیرنگی دَلاسه دَ عمرزو وزیرو ۸۷ تنه سرتیری ځوانان په شهادت اورسیدل او ۱۷۰ ئې ډک ډوک کورونه لوخړه شول - دَ غازیانو دلاسه فیرنگی هم دَ ځان سره پنځه دپاسه ۳۰۵ درے سوه جنازے یوړے - په دغه ورځ دَ فیرنگی دَ فوځ ځلورمے ولے دَ خیسارهٔ په خوله کښې دَ نزدے نزدے غوندیو په لمنو کښې دَ عمرزو وزیرو کیږدئی او کورونه هم تباه کړل او ټول ئې دَ ځپلے سیمے نه اوشړل وروستو ځه موده پس ۱۸۵۳ء کښې بیرته ځپلے علاقے ته راغلل -

## محبت خان او زنگی خان :

محبت خان دَ هاتهی خیلو شاخ احمدزئی وزیر وو او زنگی خان دَ ملک شاهی شاخ اتمانزئی وزیر وو - یو خوا که ځان او سیلگی دَ مجاهدینو پیاوړے ډله کړ ځوله - نو بل خوا دغه دوه باتوران راپاڅی

او د وزیرستان په تاریخ کښې د یو نوی باب اضافه کوی۔

د دغو باتورانو په مشرئ کښې ننګیالو غازیانو چه د شیرنے د ملک آدم خان مداخیل ځوئے غلام خان هم ورسره وو۔ په ۲ نومبر ۱۸۵۹ء د لټمبر او ډومیل ترمینځه د چنغوسے الګړے په قبلیزه مورګه په یوه فوځی ډله برید اوکړو۔ د ډلے مشر فیرنګے د بنګال آرټیلری کپتان میچم د محبت خان او زنګی خان د لاسه قتل شو۔ د کپتان میچم د قتل نه پس دوئ دواړه د کرمے علاقے ته واوړیدل، او د کابل خیلو وزیرو په علاقه کښې میشته شول۔

## د میدانی غرۀ جګړه:

د کپتان آر۔ میچم[1] په مرګ فیرنګے ډیر او قهریدو او د غازیانو په پنډ غالی پسے د کوهاټ نه په ۱۵ دسمبر ۱۸۵۹ء د بریګیډیر این۔ بی۔ چیمبرلین په کمان کښې څلور زره فوځیان او یو زر د لیوی سپاهیان ورروان کړل۔ او څلورمه ورځ ټل ته اورسیدل۔ په بل لوری د غازیانو لشکر هم چه د خټکو بنګښو د ژنړیو سره تقریبًا درے نیم زره جوړیدو، د کرمے کابل خیلو په سیمه کښې د بلند خیلو نه اته میله جنوب پله د میدانی غرۀ په ډډو کښې راغونډ وو او د فوځ په انتظار وو، د بلند خیلو وزیرو دغه سیمه

[1] داټوم په ځنې کتابونو کښې میچن لیکلے شوے دے۔ ولے زړو کتابونو کښې میچم آر میچم دے. د ده په قبر او مقتل چه کومے لوحے لګیدلی دی په هغه باندے رابرټ رچرډ میچم نوشته دے۔

هغه وخت دَ حکومت افغانستان زیرِ اثر وه ـ په دا وجه بریګیډیر چیمبرلین دا غوره اوګڼړله چه دَ افغان حکومت دَ اجازت نه بغیر دغه علاقه کښې داخل نهٔ شي، نو فوځ څو ورځې په تَل کښې پاتې شو. هرکله چه دَ افغان حکومت حسن خان نومې یو حاکم چه دَ خوست ملیزئ وو، اجازت ورکړو. نو په ۲۰ دسمبر ۱۸۵۹ء فوځ دَ بریګیډیر چیمبرلین په کمان کښې دَ کرمې رود نه دَ بلندخېلو وزیرو په لار دَ میدانی غرهٔ خواته راپرېوت ـ

دَ غازیانو دا خیال وو چه فوځ دَ ګڼړو اوبو په لار چه دَ میدانی غرهٔ شمال پله ده، نهٔ شي راتلې، نو دوئ دا مخه نظرانداز کړې وه ـ او په دې خیال چه ګنی فوځ به دَ زخئ په لار راځي، نو دوئ ټول زور دَ میدانی غرهٔ جنوب پله وروړې وو ـ

مګر فیرنګي دَ دوئ سره چل اوکړو او په ۲۳ دسمبر نې ناڅاپې دَ ګڼړو اوبو له طرفه نه پرې دا سې زوردار حمله اوکړه چه فوځ او لښکر وبله ټتر په ټتر ورغلل ـ یو خونړې جنګ اوشو ـ او په نتیجه کښې ۷۹ تنه سپاهیان مړهٔ ګوډ شول او ۹۳ تنه غازیان په شهادت اورسیدل ـ او کوم چه ژوندی وو، هغوئ پرېیما نه مالِ غنیمت ترلاسه کړو ـ

بریګیډیر چیمبرلین چه څومره په داوه زړهٔ راغلې وو دومره په داغلې زړهٔ بیرته کوهاټ ته لاړو ـ په دغه جګړه کښې شریک کپتان ایچ ـ اے ـ نیول دَ خپل کتاب "کیمپین آن دی نارتھ ویسټ فرنټیر"

په صفحه ۱۴۸ د وزیرستان د تورزنو ځوانانو دا سې ستائنه کوي:

" د دوئ دارو مردکی چه ختم شول، نو خیږي

ئې راواخستل، کوم چه د وزیرو په لاسونو کښې د توغند

مثال لرلو، راوړاند ے شول او په یو ناتار ئې دا سې

رابانده او ور ول، چه د کفر سپاهیان ئې ژوبل کړل "

د میدانی غزې جګړې نه پس محبت خان او زنګی خان دواړه

د کرم کابل خیلو نه د بنوں د احمدزو وزیرو علاقې ته لاړل او

د فرنګی په چاؤنړئ او کیمپونو به ئې حملې کولے۔ فیرنګی په

احمدزو وزیرو فشار واچوو۔ څوک ئې د ملک نه اوشړل او د چا

ئې جائیدادونه ضبط کړل۔ داخلق چه نور هم زیات تنګ شول نو

د قامی ننګ و ناموس دا سې چینجی پکښې پیدا شول چه محبت خان

ئې لاس تړلے فیرنګی ته په کټ کښې وروړو او په هغه ځائے علام

کړے شو چرته چه دوئ کپتان میچم قتل کړے وو۔

د دے دلخراشه واقعې په حقله بناغلی عارف محسود د " وزیرستان

کرم سے گومل تک " په صفحه ۱۶۱ دا سې براس اوباسي:

" احمدزی وزیروں کے دامن پر یہ سب سے بڑا

تاریخی داغ ہے جو مٹائے نہیں مٹ سکتا "

د محبت خان ملګرے زنګی خان د دے واقعې په وجه محسودو

ته کډه اوکړه او په شابی خیلو کښې د ملک صدرالدین آکاه سره

میشته شو۔ ملک صدرالدین آکاه زنګی خان د خان سره د محسودو

مرکزی ځائے کانی ګرم ته بوتلو۔ دَ محسودو جرګه راغونډه شوه او ملک صدرالدین آتهاه زنګی خان دَ محسودو ستر ملک جنګی خان ته اوسپارلو او دائے ورته اووئیل چه :

" زهٔ دَ محسودو قام دَ تعاون نه بغیره زنګی خان ته پناه نهٔ شم ورکولے، ځکه چه انګریزی فوځونه دَ دهٔ په تلاش کښے لیواله ګرځی۔"

دَ محسودو مشرانو په خپلو کښے دَ صلاح و مشورے نه پس دا فیصله اوکړه چه :

" مونږ دَ فیرنګی مقابله نهٔ شو کولے، لکه څنګه چه احمدزو وزیرو محبت خان ورته حواله کړے دے، دغه شان مونږ له هم پکار ده چه زنګی خان ورته پیش کړو۔"

په دا موقعه دَ زنګی خان ښځه هم موجوده وه۔ هغې چه دَ حالاتو نزاکت ته اوکتل نو یکدم پاځیده او په نمجنو سترګو ئے اووئیل چه : " اے دَ وزیرستان غیرتمند و مشرانو! تاسو مهربانی اوکړئ ما ته یوه شیبه خپل خاوند راخوشے کړئ چه پوهه ئے کړمه چه که چرے فیرنګی درنه دَ پهانسئ په تخته دَ آخرنی خواهش تپوس کولو، نو ورته اووایه چه وزیرستان ته بریوانه ښکری رالولیږو ځکه چه دلته ښځے ډیرے او نران کم دی۔"

دَ يوے غمزيلے تور سرے پہ خُوله دَ پيغوړ دغو تهکو دَ مَحسودو دَ مشرانو اودهٔ غیرت رااولړزَوو او پہ يوه خُوله ئے دَ زنگی خان دَ زغشتے کانړے کيښودو۔

فيرنگے چہ دَ دينه خبر شو نو دَ بنوں او ډيره اسماعيل خان څخه ئے پرله پسے درے حُمله فوځونه ورمارچ کړل او دَ زنگی خان دَ گرفتارئ په لړ کښے ئے دَ محسودو، احمدزو، او اتمانزو وزيرو سره دِ غرے اووهلے، او دَ دوئ کلی کورونه ئے خاورے ايرے کړل۔

ملک جنگی خان او فقير شيرعلی خان شابی خيل محسود پخپله هم دَ زنگی خان دَ ژغورنے په جگړه کښے شهيدان شول، ولے فيرنگی دَ زنگی خان نوک ته هم اونهٔ کتے شول۔

## دَ ټانک اولنئ جگړه :

محسودو چہ دَ فيرنگی دَ مخالفت پروا اونکړه او دَ کپتان۔آر۔ميچم قاتل زنگی خان ته ئے پناه ورکړه، نو فيرنگی هم ورته منصوبے جوړے کړے او پہ کال ۱۸۶۰ء کښے ئے دَ جنرل سرنيول چيمبرلين پہ کمان کښے دَ شمالی او جنوبی وزيرستان پہ دواړو برخو دَ حملے کولو پروگرام جوړ کړو۔ دَ شمالی وزيرستان محاذ جنرل چيمبرلين ته اوسپارلے شو۔ او دَ جنوبی وزيرستان جنرل لمسډن ته۔ دَ جنرل چيمبرلين دا تجويز وو، چہ دَ ټانک او ډيره اسماعيل خان فوځونه دِ دَ شراونگی پہ لار کانی گرم ته ځان اورباسی او دَ بنوں فوځ دِ دَ اتمانزو وزيرو پہ سيمه کښے دَ ناتارکولو نه پس دَ شکتوئے او

خیسارهٔ په لار رزمک ته ځان اورسوی. او بیا دَ هغه ځلئے نه دِ دَ توړے په زور دَ محسود قوم مرکزی مقام مکین[۱] ته ځان اوکاږی. او بیا دِ دواړه فوځونه یو ځائے شی.

دَ جنرل چیمبرلین دا تجویز هم وو، چه دَ بنوں او ډیره اسمٰعیل خان دواړه فوځونه چه کله حرکت کوی، نو په لاره کښے چه هر څومره کلی او کوړونه مخے له ورځی هغه دِ وړه وړانه کوی.

هم دے میاشتے پس په وزیرستان بانده دَ فوج کشئ کولو په سلسله کښے دَ چیمبرلین په کمان کښے دَ ټانک په مقام دروند فوځ راغونډ شو. له بلے خوا نه دَ وزیرو محسودو لښکرے هم ورته په ۱۳ مارچ ۱۸۶۰ء ټانک ته رااورسیدے. فیرنګی ته چارو میے مخبری کړے وه. او په ۱۲ مارچ ئے جنګی تیاری او دفاعی اقدامات کړی وو.

دَ غازیانو لښکر دَ ټانک زام په خوله کښے پټ وو. دَ ۱۳ مارچ په ګائیز فوځ پټ په پټه ورغلو او حمله ئے پرے اوکړه. نیمهٔ تاوده او لاس په لاس جګړه اوشوه. او فریقینو ته بے دریغه تلفات اورسیدل دَ فیرنګی له خوا نه ۹۷ ته وژلی ژوبلی اوشول، چه اوولس[۱] انګریزان هم پکښے شامل وو. او دَ غازیانو له ډلے نه دَ مشهور ملک جنګی خان[۲] سره شپږ ملکانان او درے سوه[۳] غازیان په شهادت اورسیدل. غازیانو ته پریوانه جنګی سامان او نور مال و متاع هم په لاس ورغلو.

---

۱ مکین دَ رزمک نه ځلور میله جنوب پله دَ درے الګړے په کینړه موړ که دَ محسودو دَ کنړو کلیو سیمه ده، چه دَ سطح سمندر نه شپږ زره فټه

## جنګی خان محسود:

دَ ټانک په جګړه کښې چې دَ محسودو کوم مشران شهیدان شوی وو په هغو کښې دَ مخورېزئ له مخې نامتو سړے ملک جنګی خان وو. دے په قام منزئ وو. او دَ محسود قام ستر ملک وو. دَ جنګی خان دَ شهادت نه پس دَ دهٔ ځوئے عمر خان دَ محسودو مشری ترلاسه کړه. او په کال ۱۸۷۷ء کښې ئے درے۳ زره غازیان دَ ټانک په ښار ورواچول. ښار ئے لوټ کړو او کورونه او دوکانونه ئے په اُور خاورے ایرے کړل. عُمر خان دَ تُورے او مړانے په میدان کښې ډیر زر نام پیدا کړو. او انګریزانو ته "باؤ" جوړ شو. انګریزانو هم نهٔ دَ زور صرفه پرے اوکړه او نهٔ دَ زر و. آخر ئے افغانستان ته په کډه کولو مجبور کړو. څهٔ موده پس فیرنګی پرے دَ خپل مکرو فریب جادو اوکړو او بیرته ئے راوستو. کال ۱۸۸۸ء کښې دَ دهٔ په خپلوانو کښې حاجی او اعظمی دَ مابجی ملتړی پوسټ مات کړو. او کښې ټوپک او سامان ئے ترے نه یوړو. فرنګی دَ دغے مسروقه سامان دَ برآمد کولو کار عمر خان ته اوسپارلو. عمرخان چه دَ دوئ نه دَ سرکاری ټوپکو او سامان مطالبه اوکړه نو دَ دوئ په مینځ کښې خبرے ترخے شوے. او په نتیجه کښې دوئ دواړو عمرخان اووژلو. دَ عمرخان دَ مرګ نه پس دَ ملکئ پټکے دَ دهٔ ځوئے بادشاه خان په سر کړو. بادشاه خان هم فیرنګیانو لاس ته

---

اوچتوالے لری ډیره زرخیزه علاقه ده او ښکلی فطری مناظر لری ۞ ۲ له شیناغلے اثر صاحب دَ دهٔ شهادت دَ پلسین په جګړه کښې ښودلے دے، چه صحیح نهٔ دے ۞

کړے وو. دَ بادشاه خان په مرګ دَ دهٔ ځوئے قطب خان ملک شو. قطب خان دَ کال ۱۹۱۹ء په هلوکلو کښے دَ خپل ترهٔ آدم خان سره په افغانستان کښے وو. او دَ فیرنګی په خلاف بهٔ ئے پټ بربنډ فعالیتونه کول. هغه تر دسمبر ۱۹۲۵ء پورے دَ فیرنګی مخالف وو. وروستو ئے صلح اوکړه. او دَ ټولو محسودو خانانو تاکلے شو.

## دَ پلسین جګړه:

دَ تانک دَ جګړے نه وروستو دَ جنرل چیمبرلین او جنرل لمسډن دَ تاکلی تجویز او پروګرام په مطابق دَ ډیره اسماعیل خان او بنوں دواړو فوجی چاؤنړیو نه انګریزی فوځونه مارچ شول. دے دواړو فوځونو دَ وزیرو محسودو او داوړو په علاقه کښے یرغلونه اوکړل، په مقابله کښے سیمه ایزو خلقو هم پوره پوره زړونه پرے یخ کړل. دَ جنرل لمسډن په کمان کښے چکله فوځ په پلسین کیمپ اولګولو او بے غمه شو نو دَ ۲۲ او ۲۳ اپریل په منځنۍ شپه دَ پاځړی، خواجه خواص، قمرجان، باروډین او امیرګل په مشرۍ کښے پرے دریو زرو غازیانو حمله اوکړه. سخته جګړه اونښته او یو لوئے الغاو تلغاو کړه شو. غازیان او فوځیان وبله ګډ وډ شول. دَ تورو او چاړو جنګ شروع شو. په سوونو سکان او ډوګره ګان ترتیغه تیر شول. او دَ فوځ زیاتره برخه تباه کړے شوه. دَ نهوؤ تنو انګریزی افسرانو دَ مرګ نه پرته چه مشهور په کښے لفټیننټ لوئیس وو، شلورکم اته سوه ۷۹۶ تنه فوځیان قتل شول. او

فوځ ترڅلورو ورځو پورې دَخپلو مړو ګډو په سمبالښت کښې بوخت وو۔ دَدې نه چه اوزګار شو نو بیا ئې پیش قدمي شروع کړه. څو دَ باریړي درې ته لا سم داخل شوې نه وو، چه غازیانو پرې ورهله کړه او په داسې زور ئې پرې حمله اوکړه چه په لږ ساعت کښې ئې ترې نه دیرش[30] تنه قتل او شپږاتیا[86] تنه ژوبل کړل۔ ولے سره دَدې جنرل چیمبرلین زړهٔ ماتے نهٔ شو۔ او کاني ګرم او مکین ته ئې دَ ځان ایستلو قصد کړے وو۔ او کله چه کاني ګرم ته ورنزدے شو، نو غازیانو پرے بیا داسے زور راوړو او داسے فیصله کن حمله ئې پرے اوکړه، چه په شاء او تمبولو او دَ مکین دَ تګ ارمان ئې په زړهٔ پاتے شو۔ او په شلم[20] مئ پسته بنوں ته لاړو۔

دَ پلسین[1] دَ جګړے په حقله میجر جنرل سر جارج ینګ هزبینډ چه په دے جنګ کښې دَ کپتان په حیث شریک وو، په خپل کتاب "دَ ګائیډ[2] پلټنې سرګزشت" په مخ ۹۴، ۹۵ داسے خاکه راکښلې ده:

"مګر یوناڅاپه خدلئ خبر چه له کومے خوا نه دَ آسمان نه که دَ زمکے نه، په زرګونو وزیر راووتل او په انګریزی فوځ ئې چپاؤ راوړو" په صفحه ۹۵ لیکي چه:

"هغه سپین ختي غازیان تورے ترملا لکه طوفاني سیلئ په هر څه پاس راووختل"

---

[1] دَ جنډولے نه شمال پله درے میله فاصله بانده دَ تانک زام په کینډه مورګه او دَ ډیره اسمٰعیل خان رزمک روډ په ۷۸ میل باندے جنوب پله پروت دے، دغے ډګری ته سپینکے رغزئ هم وائي۔ [2] "زمونږ مجاهدین"

په صفحه ۷۹ باندې دَ دې جنګ منظر په دې ډول پیش کړی: "اوس دَ جنګ هنګامه تاوده شوله، ځېږې او

آسونه په هنړیدو او بنړیدو شول. ځیلې واګې او

پچواړی شلول ئې راواخستل. سیو غپا شروع کړه

بنیادم په چغو سر شول. دَ تورو دَ شرنګار، دَ ټوپکو

دَ ټهکار، دَ ژوبلیو دَ کوکار او دَ مرګونیو دَ زبیرګو

نه په دواړو غوږونو څه نه شول آوریدې."

دَ پلسین په جګړه کښې غازیانو فرنګی ته زښت جانی او مالی

تاوانونه رسولی وو. ولې دَ بده مرغه دَغازیانو دَ لوری نه هم ۸۵

تنه ځوانان شهیدان شوی وو.

## دَ ترکئ جګړه:

دَ انګریزانو په دور حکومت کښې داوړو ږومبئ حمله په

کال ۱۸۵۱ء کښې دَ ستمبر چوکئ دَ اوسنانو په کارت کړې وه. او سخت

تاوان ئې ورته رسولے وو. او بیا دَ هغې ورځې نه دَ دوئ مجاهدانه

سرګرمیو جریان اونیوو. کال ۱۸۷۸ء کښې به چه دَ بنوں ممندخیلو

وزیرو په فرنګی غدئ واچولے او بیا به دَ ویرې نه داوړو ته

راواوښتیدل، نو دَ حیدرخیلو په کلی کښې به ئې پناه واخسته. دَ

دې ځائې نه به دَ داوړو ژمړی هم ورسره ملګری شول او دَ فرنګی

په چاونړئ به ئې بریدونه کول.

فیرنګې دَ دې نه ډیر سترې شو او په ۱۰ جون ۱۸۷۸ء ئې دَ

دَ حیدرخیلو په کلی پسے فوځ روان کړو. داوړو ته چه اطلاع اورسیده نو دوئ هم راغونډ شول او دَ ترکئ[1] غرۀ په لمنو کښے ورته مورچه شول. فوځ لا خپل تاکلی شوی تاپي ته نهٔ وو رسیدلے چه په لار کښے داوړو پرے حمله اوکړه. دَ داوړو فریقونو ترمینځه سخته جګړه اونښته. توریالو داوړو داسے په دوه لاسی تورے اوچلولے او په داسے ځوانمردئ او جان نثارئ سره اوجنګیدل، چه فیرنګے ئے په شا بنوئ ته اوتمبولو.

په دے جګړه کښے دَ فیرنګی دَ لوری نه په شمار شمارلی ۲۵۰ فوځیان مړۀ کوږ شول. اوغازیانو ګڼې توپک او نور سازو سامان ترے نه ولجه کړو. په مقابل کښے دَ غازیانو له خوا نه هم ډیرش[30] تنه شهیدان او اتیا تنه ټپیان شول.

## دَ حیدرخیلو نښته :

دَ ترکئ جګړے په پاداش کښے فیرنګی سټمینٹ ۱۸۷۱ء کښے په داوړو باندے جرمانه اولګوله. داوړو دَ جرمانے ورکولو نه سکوټ انکار اوکړو. دَ فیرنګی قاصد ئے قتل کړو او په ځواب کښے ئے ورته ډیر سپک خط اولیکلو.

دَ فیرنګی په زړۀ کښے هسے هم دَ تیرے ماتے دَ انتقام اُور بلیدو، چه دَ وزیرو داوړو دغه حرکت ئے هم اولیدو، نو لا سره لمبه شو.

سربیره له دے وزیرو داوړو په خپلو مخاصمانه سرګرمیو کښے نور هم زیاتے

---

۱. دَ کجورئ قلا ته نزدے جنوب پله دَ توچي رود په اخوا غاړه تور غونډۍ ته ترکئ وئیلے شی.

راوستو۔ او انګریزانو به چه ممند خیلو وزیرو ته زور ورکړو نو دوئ به په خپله غیره کښې راوېنول۔ ځ مهمند خیلو وزیرو سره ځ داوړو ځ دے همدردئ او تعاون په حقله میسن[1] حکم (MASON HAKIM) ځ نارتهه ویسټ فرنټیئر ګزیټیئر" په بومبئ ځل چاپ کښې په صفحه ۱۵ لیکی چه:

"دوئ به وزیرو ته پناه او په تیره تیره زمکے ورکولے او ځ ممند خیلو ځ قبیلے کورنئ به ئے ځ توچئ په مختلفو کلیو ویشلے"۔

هم ځکه فیرنګی مجبور شو او یو ځل ئے بیا ځ برمګیډیئر جنرل کے (KEYS) په کمان کښې په ۶ مارچ ۱۸۷۲ء یو درونډ فوځ ځ بنوں نه داوړو پله په حرکت کښې راوستو۔ په دغه فوځ کښې یو مسلمان افسر محمد حیات خان هم موجود وو، کوم چه نائب کمشنر وو۔ کله چه فوځ ځ شینکی تنګی په سیمه ورګډیدو نو هرڅوک ځ داوړو ځ ویرے نه کوم چه په خونړئ بلاګانو مشهور وو، وارخطا وو۔ ځکه چه اکثرو سپاهیانو دوئ ځ ترکئ په جګړه کښې لیدلی وو او ځنو کسانو ئے هسے قیصے اوریدلے وے۔

آغا عباس[2] شیرازی کال ۱۸۳۷ء کښې په داوړو کښې ځ ګرځیدو راګرځیدو نه پس په خپل رپورټ کښې لیکلی دی چه:

---

[1] ځ سردار دوست محمد خان په زمانه کښې په کابل کښې برطانوی خبرنګار وو، میسن یو سیلانئ او ماهر ځ آثار قدیمه وو۔ [2] آغا عباس شیرازی یو جاسوس وو چه میجر آر لیچ (LEACH) ځ افغانستان او پنجاب په دوره لیږلے وو۔

"دَ داوړو په غورونو کښې یوه عجوبه غونډے قبیله اوسیږی. دَ یو ے سترګے وروځه او یو بریت خرئي او بږیره ساتی او دَ خپلو مخونو دَ بدرنګولو دپاره دَ سترګو نه ښکته پورته په کوتو رانجهٔ پورے کوی."

محمد حیات خان چه دَ خپلو سپاهیانو دَ خوف و هراس په حقله کوم کیفیت قلمبند کړے دے. او مِسَن حاکم په خپل رپورټ کښے په صفحه ع۱۲ را نقل کړے دے. هغه دَ لوستو وړ دے لیکی چه: "دَ اطلاعاتو په مطابق په ښکته میدان کښے دَ داوړو دروند لښکر موجود وو او خپل پوزیشن پله دَ پیش قدمئ په وخت زما سړی دومره هیبت اخستی وو، چه لا یخوا کنړ کسان تښتید لی وو."

دَ دغسے ویرے باوجود فوځ مخ په وړاندے تللو باندے مجبوره وو، او په اووم مارچ دَ حیدرخیلو کلی په مخه سره ډکنړو توپو، ټوپکو او تورو سنینو ورخور شو. دَ داوړو ژبړی هم وریسے را اووتل. او داسے چپاؤنے پرے ورووړو چه فوځ پښے اوخوئیدے او ناکامه پسته بنوں ته په زغلیدو شو. ولے دَ بده مرغه په دے دوران کښے دَ فیرنګی ځنو برېځو دَ حیدرخیلو کلی یو ے برخے ته اور واچولو او زښت تاوان ئے وراورسوو.

په دے جګړه کښے دَ فیرنګی دَ لوری نه ۳۶۰ کسان مړهٔ او ژوبل په میدان پاتے شول او بے شمیره آسونه او خچرے څهٔ ژوبل

او څه ژوندي اوبيولے شوے . او غازيانو ته پريمانه وسله او غنيمت په لاس ورغلو.

په مقابل کښے د داوړو د لوري نه هم ۴۳ تنه توريزن ځوانان شهيدان شول . په دا موقع داوړ په ډول راوتي وو . اوکوم کسان چې شهيدان شوي وو، په هغو کښے اکثرو د آغا عباس شيرازي د رپورټ تصديق کولو.

د آغا عباس شيرازي د وينا په اثبات او د محمد حيات خان د رپورټ په رڼا کښے ايډورډ اوليوټ هم د خپل کتاب "پټهان اينډ بلوچ" په مخ ۱۲۲ باندے ليکي چه :

"د يو تجربه کار جنګجو په حيث داوړ سړے دا مفکوره لري چه په دښمن باندے د ويرے ډيو هيبت ناک اثر غورځولو دپاره يو اړخ بيره کله او په وروځو بانړو سره شنه رنګونه اولګوي "

## باډے فقير :

د ده اصلي نوم پياؤنور وو . د سپين وام د سيپے حسن خيل وزير وو . يو روحاني شخصيت ګڼړلے شو، خو د مقامي تحقيقاتو په مطابق ئے په عملي جهاد کښے هيڅ قسم برخه نه درلوده . نه خو د خپلے فقيرۍ له کبله جهاد ته اوزګار وو، او نه ئے د کوم انګريز کافر په وينو خپله توره مرداره کړے وه . بناغلے اثرصيب د "زمونږ مجاهدين" په صفحه ۱۹۲ سهوًا ليکلي دي، چه :

"او په ۱۸۷۲ء کښې چې انګریزي فوځونو د کرنل ... په کمان کښې د داوړو په علاقه حمله کړې وه، په هغه کښې شهید شو."

حال دا چې هغه (بادے فقیر) "د کال ۱۸۹۵ء توچي پولټیکل ډائرئ" په مطابق ترکال ۱۸۹۵ء پورې ژوندے وو. وروستو په خپل مرګ په حق اورسیدو.

ما چې "دخپلو اکئ جګړې" د مؤلف ښاغلي مولانا محمّد ظاهرشاه نه د بادے فقیر د مبارزو په حقله پوښتنه اوکړه نو وے وئیل چې دا صحیح خبره ده چې بادے فقیر عملي جهاد نه دے کړے، ولے د غازیانو مرستیال ضرور وو.

ما (راقم) د بادے فقیر د زامنو، نمسو نه هم په ځو ځو کرته د هغهٔ د جهاد په باب له پوښتنه کړې دی، ولے هغوئ هم همیشه منفي ځوابونه راکړي دی.

## ګل عظیم او قاسم ګل:

ګل عظیم اصل کښې خوستوال وو. خو په عیدکو داوړو کښې ئے استوګنه کوله. او داوړو به په ډیره درنه سترګه ورته کتل. قاسم ګل عنیسوړے داوړ وو. دواړه ښهٔ تکړه ځوانان وو. او شپه ورځ به ئے انګریزان په ترار کړي وو. د مارچ ۱۸۷۲ء نه تر مارچ ۱۸۷۶ء پورے د ګل عظیم او قاسم ګل په مشرئ کښې که په فیرنګي هر څو حملے کیدلے خو په داوړو به ئے څهٔ عرض نهٔ

لړلو۔ ولے مارچ ۱۸۷۶ء کښے دَ فیرنګی دغه زغم ختم شو۔ دَحیدر خیلو، حسوخیلو او عید کو داوړو مشران ئے بنوں ته اوبلل او په جنوری فروری ۱۸۷۶ء کښے چه دَ ګل عظیم او قاسم ګل په مشرئ کښے دَ بنوں په "فیفتهـ پنجاب کیولري" باندے کوم غدئ اچولے شوے وے، دَ هغې جواب طلبی ئے ترے نه اوکړو۔

په تلوخو دَ داوړو مشران بنوں ته لاړل۔ ځکه چه بنوں یو تجارتی مرکز وو او دَ بنوں نه بغیره دَ دوئ ګزاره ګرانه وه۔ خو دوئ هغې خبرے ته غاړه کښینښوده، کومه چه دَ فیرنګی منشا وه - یعنی دَ فیرنګی په بار بار اصرار هم دَ داوړو مشران په دِے رضا نهٔ شول چه ګل عظیم او قاسم ګل حکومت ته لاس کښے ورکړی - ولے بیا هم دَ دوئ په خبرو پستو خبرو فیرنګی ته څهٔ نه څهٔ تسلی اوشوه۔

څهٔ موده پس چه ګل عظیم او قاسم ګل یو ځل بیا په بنوں غدئ واچوله نو دَ فیرنګی امید ونه خاورے ایرے شوے - دا واقعات داسے وو چه دَ ګل عظیم او قاسم ګل یو خپل ملګرے میرسلام چه دَ بنوں په "ففتهـ پنجاب کیولري" لاس باندے دَ یوے حملے په وخت کښے شهید شوے، او دوئ دواړو دَ هغهٔ دَ بدل آخستو سوګند اوچت کړے وو۔ نو دَ ۱۱، ۱۲، اګست ۱۸۷۶ء په مینځنئ شپه ګل عظیم او قاسم ګل دَ خپلو نورو پنځو ملګرو سره، چه دَ میرسلام سکه ورور هم پکښے شامل وو، دَ کچکوټ پُل دَ څلورو پولیس والاؤ په

گارت حمله اوکړه - ځلور واړه ئے قتل کړل او سامان ئے تر ے نه یوړه - په دے ډله کښے دوه تنه خوستوال ، یو داوړ او ځلور تنه وزیر شامل وو - دوئ اووه واړه شیخ عیدکو ته لاړل او هم هلته په عیدکو او مسکئ کښے میشته شول -

فیرنګی د گل عظیم او قاسم گل په سر داوړو ته سخته زورنه وړکړه او د دے دواړو حاضرولو مطالبه ئے تر ے نه اوکړه - خو داوړو څهٔ غوږ پر ے اونهٔ گرولو -

چونکه د داوړو ټول تجارتی کاروبار په بنوں منحصر وو ، نو داخل فیرنګی دوئ له څیر ے بلاکیږه کړل او په بنوں کښے ئے د دوئ جائیدادونه ضبط کړل - خو د دے باوجود دوئ تر نومبر ۱۸۷۶ء پور ے فیرنګی ته غاړه کښینښوده -

داپیره فیرنګی په دوئ درے نیم زره ۳۵۰۰ روپئ جرمانه کیښوه - و ے داوړ جرمانے ورکولو د پاره هم تیار نهٔ شول . بلکه تر فروری ۱۸۷۸ء پور ے د فیرنګی سره ئے هیڅ قسمه خبرو اترو ته څهٔ اهمیت ورنکړو - فرنګے مجبوره شو او یو ځل ئے بیا په داوړو د فوج کشئ او د قاسم گل او گل عظیم د نیولو مرکے شروع کړ ے - خو دا مرکے ئے ناکامه پاتے شو ے ، هیڅ عمل پر ے اونهٔ شو - ځکه چه داوړو د فیرنګی نه مخکښے بنهٔ ډب یښتلے وو -

د گل عظیم او قاسم گل د واردانتونو یوه ورځ نهٔ وه بلکه روزمره معمول وو - آخر فیرنګے تنګ شو - او د مئ ۱۸۷۸ء په شپږ ورځو

کښے ئے چه داوړ په لوئ اوغوبل کښے بوخت وو، دلفټینینټ منرزسمتھ (LT. MANNERS SMITH) او لفټینینټ مارډال (LT. MARDALL) په کمان کښے فوځ ورخوشے کړو. دغه فوځ لاسم دحیدرخیلو نه ترعید کوپورے نهٔ وو رسیدلے، چه داوړ ورمخکښے شول او په شاځ بنوں ته مات کړو. دحیدرخیلو نه ترشینکی تنګی پورے دَ فوځ نه پخلس ډیاسه درے سوه تنه مړهٔ شول، چه زیاتره ترے په لاره لاره روستو پاتے شوی وو. بیا چه فیرنګی په بنوں کښے دَ ګل عظیم اوقاسم ګل په سر ډیر داوړ ګرفتار کړل او دَ دوئ مالونه ئے ضبط کړل نو دَ جون ۱۸۷۸ء په ړومبئ هفته کښے دَ داوړو دَ مشرانو یوه جرګه بنوں کښے دَ فیرنګی ډپټی کمشنر سره ملاؤ شوه اوخبرے اترے ئے ورسره اوکړے. په دے موقعه داوړو فیرنګی ته ۹۰۱ روپئ جرمانه تحویل کړه، او فیرنګی ورته په بدل کښے دَ داوړو ټول قیدیان خوشی او مالونه واپس کړل. دَ داوړو قیدیان فیرنګی ډیره اسماعیل خان ته استولی وو.

## دَ مُلا اډیکړ جګړے:

په جنوړئ ۱۸۷۸ء کښے چه دَ فیرنګی فوځونه دمیجرجنرل لارډ رابرټس (LORD ROBERTS) په کمان کښے دَ کرمے په لارخوست ته ګډ شول نو مُلا اډیکړ دَ خوست نه داوړو ته هجرت رااوکړو او دَ ملخو په لاندے نومے کلی کښے ئے استوګنه اختیار کړه چه نن ئے هم نمسی هلته موجود دی. دَ دے مجاهد مُلا دَ بزرګئ هرځوک

قائل وو۔ لاندې داوړو هم سمدستي کور پښې ورکړل او په لښکر کښې ورسره شامل شول۔

د داوړو په دے لښکر کښې د اډیکړ ورور معظم الدین د آدم خان مداخیل وزیر خوئے غلام خان او د کاني روغے منظر خیلو ګلاب پیر مشهور او نوموړي غازیان وو۔ دوئ به اکثر د اډیکړ صاحب مشرۍ کښې د بنون تل او تل کرم په سرکونو باندے چپاوونه کول۔ د دوئ یو ځو مشهورے جګړے دلته لیکلے شي۔

## د ټانک دويمه جګړه:

یو څوا که د تل بنون او تل کرم سرکونو ترمینځه د مُلا اډیکړ تر مشرۍ لاندے داوړ جنګیدل نو بل څوا په سوئیلي وزیرستان کښې د ملک جنګي خان شهید خوئے عمر خان او مُلا حمزالله د فیرنګي سره برسرِ پیکار وو۔ د یکم جنورۍ ۱۸۷۹ء په شپه غازیانو د ملا حمزالله او عمرخان په مشرۍ کښې د ټانک په ښار حمله اوکړه۔ د سرکاري ملازمانو او هندوانو کورونه ئے لوټ کړل او بازار ته ئے اور ورته کړو۔ سیټبه پس د فیرنګي د کیمپ نه ورپسے چغه رااووته، او د جانبینو ترمینځه یوه توره لوخړه پورته شوه۔ د خپل پردي پیژند ګلو ګرانه شوه۔ د یو څو ګهړۍ الغاؤ تلغاؤ او سختے جګړے نه پس د فیرنګي د لورې نه ۲۵۳ تنه قتل شول۔ چه د فوځیانو نه علاوه مُلکي ملازمین او هندوان هم پکښے شامل وو۔ په مقابل کښې یو څو غازیانو پریمانه مالِ غنیمت ترلاسه کړو او بل څوا دیرش تنه توریالی

ځوانان په شهادت اورسیدل۔

## دَ سپېرې جګړه:

فروری ۱۸۷۹ء کښې دَ داوړو لښکر دَ کرمې په سرک دَ سپېرې په پوستې حمله اوکړه، او دَ سختې مقابلې نه پس ئې دَ فیرنګی نه ۲۶ بیده اوښان بوتلل او هم دغه رنګ ئې ترې نه ۳۶ تنه سپاهیان قتل او شل کسان سخت ژوبل کړل۔

## دَ تهل په کانوائ حمله:

په ۳۱ جنوری ۱۸۸۰ء دَ ښاغلی کلاب پیر په مشرئ کښې داوړو دَ مُلا ادیکړ دَ هدایاتو په مطابق دَ تهل په سرک په یوه درنه کانوائ حمله اوکړه۔ دَ سحر نه ترغرمې پورې سخت جنګ اوشو په نتیجه اووهٔ تنه فوځیان قتل او ۸۵ کسان ژوبل شول. غازیانو ۱۰۵ بیده اوښان او تقریبًا دَ لسلو زرو روپو مالیت مال اسباب په لاس ورغلو۔ او دَ یوڅو ژوبلیګو نه علاوه نور ټول روغ رمټ په خپله مخه لاړل۔

## په لیبر کیمپ باندې حمله:

په دې کیمپ کښې دَ فیرنګی قوائې کار او پریوانه تعمیراتی سامان موجود وو۔ دَ ګورکهیانو، سکانو او انګریزانو ټول ماهرین او افسران هم دلته اوسیدل۔ فیرنګی ورله "خټک لیبر کیمپ" نوم ایښې وو۔ مارچ ۱۸۸۰ء کښې دَ ملا ادیکړ په مشرئ کښې داوړو حمله پرې اوکړه۔ سخت جنګ اوشو۔ او په نتیجه کښې ئې فیرنګی ته دَ ۱۲۳

تنو مړو ګوډو نه علاوه چه ګڼ انګریزان هم پکښې شامل وو، کافی تلفات اوړسول - او په پنډه ونو پنډه ونو سامانونه ئے ولجه کړل -

## د باران په قلعه حمله :

مارچ ۱۸۸۱ء کښے یو ځل بیا د وزیرو، داوړو دوؤ سوو ۲۰۰ تو دیالو د مُلا ادیکړ د هدایاتو په مطابق د غلام خان مداخیل په مشرۍ کښے د بنوں د باران په قلعه چه ملیشیاوه پکښے، زبردست یرغل اوکړو. غازیانو د ورځے په لس بجے د قلعے دیوال ته اندریانے اولګولے او قلعے ته ورواښکیدل - له دننه نه ئے د قلعے د غولی ستروں په تبرونو مات کړو - او باهر ولاړ ټول غازیان پرے ورننوتل - په قلعه کښے دننه سپاهیانو باندے دومره هیبت پریوتو چه بغیر د څه مزاحمته له څیرے وسله او غورځوله، او په قلعه کښے دننه هرڅه ئے غازیانو ته په ګوته کړل - چا اسونه د قیزو نه اوښول، چا توپک په اوږه کړل - چا توړے ترلاسه کړے او چا د راشن پنډه ونه په سرونو کړل - ولے دوئ لا د قلعے نه پوره وتی نه وو، چه ناڅاپي د خطرے بیګل اوغږیدو او ژغ شو چه د فوځیانو چغه راورسیده -

غازیان د مالِ غنیمت درانه پیټي په سر په بیړه د قلعے نه په وتو شول - ولے د بده مرغه د قلعے د یوے ماڼۍ نه پرے ډزے اوشوے، او یو محسود ځوان ئے شهید کړو او باقي ټول واړه سالم او غانِم په خیله مخه لاړل - په دغه قلعه کښے چه څومره سپاهیان وو، هغه ټول د بزدلۍ په وجه برطرف کړے شول -

## دَ سپېړي په چوکۍ بله حمله:

دَ وزیرخان داوړ په مشرۍ کښې چه "ملا اديکړ" طالب او شاګرد وو، دَ داوړو يو درونډ لښکر دَ کرمے په سيمه کښې دَ مئي ۱۸۹۸ء دَ اولے او دويمے نيټے په مينځ شپه باندے دَ سپېړي په چوکۍ يوه بله حمله اوکړه او دَ سخت جنګ نه پس ئے دَ فيرنګی ټيرش تنه قتل کړل چه يو پکښے دَ محکمہ ټرانسپورټ افسر لفټيننټ ووډ هم شامل وو. غازيانو چوکۍ لوټ کړه او پريوانه مال و متاع ئے ولجه کړو.

## په داوړو جرمانے:

دَ مسټن حاکم "نارتھ ويسټ فرنټير کرنيټير" په رومبی ټل چاپ کښے په صفحه ۲۷ باندے لفټيننټ ګورنر دَ داوړو نه دلسے واويلا کړے ده:

"دَ بنوں په سرحد دَ مستقل امن و امن قائمولو په غرض لفټيننټ ګورنر دا غوره ګڼلے ده، چه داوړو ته سزا ورکړي، ځرنګه چه دَ مودو راسے بغاوت، مذهبی ليونتوب، دَ غلو غدئو دَ مرکو پناه غالی او دَ مفرورانو او سرحدی مهاجرينو پناه ګاه په وجه زمکه نتوره شوے ده. نهٔ خو به بيا ځرنګه په علاقه سرکار کښے بريد اوشی او نهٔ به څوک دَ برطانوی رعايه په وژلو دَ سزا نه بچ پاتے شی"

دَ لفټيننټ ګورنر دَ تجويز په مطابق په داوړو باندے په لاندينی

د ول جرمانه اولګیده -

په مجموعی طور دا جرمانه ټوله پنځوس زره روپئ وه - په دے کښے پنځلس زره روپئ په لرو داوړو او پنځویشت زره په برو داوړو، پینځه زره په منظرخیلو او حسن خیلو وزیرو او پینځه زره د شیرنے په مداخیلو وزیرو لګیدلے وه -

د شیرنے په مداخیلو ځکه جرمانه لګیدلے وه، چه یو خوا غلام خان مداخیل د کپتان میچم په قتل کښے د محبت خان او زنګی خان سره شامل وو - او بل خوا به ئے د داوړو په لښکر کښے د تهل کرم په سیمه کښے په فیرنګی برید ونه کول -

د ملا ادیکړ د وفات په خوشحالئ کښے مسن حاکم د خپل رپورټ په صفحه ۲۷ لیکی چه :

"مئ ۱۸۸۲ء کښے یو مشهور مذهبی پیشوا ملا ادیکړ د چا زوردارو تقریرونو به چه داوړ د فیرنګی په خلاف لمسول، وفات شو - اوس د داوړو رویه څه نه څه سمه ده، او صرف معمولی معمولی وارداتونه کوی "

ملا ادیکړ یو جید عالم او عظیم مجاهد وو - اصلی نوم نجم الدین وو، خو په خلقو کښے د ادیکړ په نامه مشهور وو - وئیلے شی چه په اصل کښے د تیراه وو - خو د افغانستان په خوست نومے علاقه کښے ئے د قدمے په مقام استوګنه کوله - د ده د وفات نه روستو د ده د کورنئ نور عزیز هم د ده په نقش قدم باندے برابر روان وو - د

مُلادیکړ ورور غازي معظم الدّین سرتیرے مردِ میدان وو۔ هم دغه رنګ دَ دهٔ ورارهٔ ملا محي الدین ادیکړ دَ افغانستان دَ خوست ناظم په وینا دَ لالاپیر په ملګرتیا کښے رزمک ته دَ منصف په حیث راغلے وو، ولے جون ۱۹۱۵ء کښے دَ میرانشاه دَ حملے نه وروستو دَ دهٔ حالات معلوم نهٔ دي۔ دَ مجاهد ادیکړ قبر په لاټکه و کښے دے او شپه ورځ پرے دَ عقیدت ګلونه شیندلے شي۔

## ملا ګلاب دینؒ:

مولانا ګلاب دینؒ دَ بنون سرکي خیل احمدزي وزیر وو۔ په داوړ شاو ممند خیلو کښے اوسیدلو او په "وزیرے مُلا" ئے شهرت لرلو۔ صحیح کال ئے معلوم نهٔ دے، ولے دَ بنون نه ئے داوړو ته هجرت راکړے وو۔ او حیدر خیلو داوړو مفت کور پیتے ورکړي وو۔

نوموړي هم دیني درسګاه لرله او هم به ئے دَ فرنګي په خلاف دَ جهاد تبلیغ کولو، خو په عملي جهاد کښے ئے کومه خاص برخه نهٔ درلوده، او نهٔ ئے توپونه یا اسلحه سازه کارخانه لرله۔ اثر افغاني صاحب، مولوي محمد ظاهر شاه، عارف محسود صاحب، ګل ایوب سیفي صاحب او عبد الحمید ترین صاحب چه دَ دهٔ دَ مبارزو په حقله کوم څهٔ لیکلي دي۔ هغه هسے فرضي قیصے دي او هیڅ بنیاد نهٔ لري۔

ښاغلے اثر صاحب دَ "زمونږ مجاهدین" په صفحه ۱۴۹ دَ دهٔ دَ تاریخ وفات په حقله لیکي چه:

"هر کله چه په کال ۸۱-۱۸۸۰ء کښے دَ وزیرو مسیدو او

داوړو په علاقه ڏ جنرل ګارډن او جنرل کنیډی په کمان کښې انګریزی فوځونو کومه حمله کړې وه، په هغې کښې شهید شو."

دا صحیح نهٔ ده، ځکه چه په کال ۱۸۸۰ء کښې چه دَ فیرنګی په خلاف کوم جنګونه شوی دی، هغه دَ ملا ادیکړ په مشرئ کښې وزیرخان داوړ کړی دی. دَ "۱۹ فروری ۱۸۹۵ء وزیرستان ډائرئ" په مطابق مولانا ګلاب دین" دَ کال ۱۸۹۳ء په خواؤ شا په خپل مرګ په حق رسیدلے دے. مولانا محمد ظاهرشاه په خپل قلمی کتاب "منادی جهاد" کښې موجود نوم ئے "دَ خپلو اکئ جګړے" دے، دَ دهٔ تاریخ وفات ۲۷ رجب ۱۳۰۹ھ ښودلے دے.

دَ مقامی تحقیقاتو او دَ معمّر سپین روږو مشرانو څخه دَ اخستی شوی معلوماتو په بنیاد دا په وثوق سره ویلے شی، چه مولانا موصوف هیڅ قسم عملی جهاد نهٔ دے کړے او نهٔ ئے شهادت نصیب شوے دے. ما چه دَ مولانا محمد ظاهرشاه نه دَ "وزیرے ملا" دَ جهاد په حقله تپوس اوکړو، نو راته وئیل ئے چه:

"مولانا ګلاب دین دَ بنوں نه توچئ ته دَ غزا په نیت هجرت راکړے وو. دَ دهٔ پروګرام دَ توپ او دَ اسلحه سازیے کارخانے دَ قائمولو وو. ولے دَ بده مرغه ډیر زر په حق اورسیدو، او ټول منصوبے ئے نیمګړے پاتے شوے."

<u>مُلاحمزالله</u>: په کومه زمانه کښې چه دَ ټل بنوں او بنوں کرم په

سیمو ملا ادیگرؒ په فیرنګی غوټې وهلې، هم په هغو شپو ورځو کښې د وزیرو محسودو په علاقه کښې ملا حمزالله غوبل پرې جوړ کړے وو۔ کله به ئې د ټانک او ډیره اسماعیل خان په مضافاتو تاختونه کول۔ او کله به ئې د بنوں په علاقه کښې حملې کولې۔ دغه میړنی مجاهد د بنوں احمدزئ وزیر وو، او د بیزن خیلو د شاخ نه وو۔ د فیرنګی د دشمنئ په وجه ئې سوئیلی وزیرستان ته کډه کړې وه۔ اکثر به بیرمل کښې میشته وو۔ خو کله کله به شکئ او د آنا کښې هم اوسیدلو۔ خلقو به ورته د عقیدت نه سرکائ ابا وئیل، ځکه چه دهٔ بشکلې سره سپینه څهره درلودله۔

شخصیت

مُلا حمزالله د یو مجاهد، عالِم او سپاهی نه پرته یو پرکشش هم وو۔ زبردست خوشنویس او د مُلا پاوونده استاذ وو۔ ملا حمزالله خپل ټول عمر د وطن د آزادئ مبارزو ته وقف کړے وو۔ او کال ۱۹۲۴ء کښې په خپل مرګ په حق اورسیدو۔ قبر ئې په شکئ کښې د مان توئ په سیمه کښې دے۔

د مُلا حمزالله او ملا کربوغےؒ ترمینځه سخت اختلافات وو حالانکه مُلا حمزالله د ملا پاوونده استاذ وو او مُلا کربوغه ئې مُرشد وو۔ د د ملا حمزالله د رفاقت په وجه د درپه خیلو قاضي نظیف او د عید کو مُلا فضل دین هم دواړه د ملا کربوغے په خلاف وو۔ دوئ به اکثر یو تربله مناظرے کولے او په پړه وړه کښې به بوخت وو۔ د ځغي نوموړی ملا حمزالله په حقله د بناغلی عبدالحلیم اثر نه د خپل کتاب "زمونږ مجاهدین"

په صفحه ۱۶۴ باندے یوه خندنئ سهوه شوے ده، لیکي چه :

" دَ مُلا پاونده " تربیت مُلا حمزالله خان وزیر کړے وو۔ ترڅو پورے چه دا نامور استاذ ژوندے وو، دَ هغهٔ په ملګرتیا کښے ئے جهادونه کول او چه هر کله هغه شهید شو، نو بیا دَ وزیرستان په محاذ دَ انګریزانو مقابله ئے په یواځے سر کوله "

حقیقت دا دے چه ملا پاونده پخوا کال ۱۹۱۳ء کښے په حق رسیدلے وو. او دَ دهٔ استاذ مُلا حمزالله وروستو کال ۱۹۲۴ء کښے په خپل مرګ وفات شو۔

## غازی زری بند :

کال ۱۸۹۱ء کښے دَ امیر کابل له خوا نه دَ افغانستان دَ منصور خان نومے حاکم ( ایجنټ ) په ځائے سردار ګل محمد خان مقرر کړے شو۔ دَ سردار ګل محمد خان دا وظیفه وه، چه په وزیرو محسودو کښے دَ فیرنګی په خلاف کرکه پیدا کړی۔ چنانچه دَ ژوب او ډیره[له] جاتو په ضلعو کښے ډیرمرګونه او بریدونه شروع شول. دهٔ دَ وزیرو یوځو

---

له ډیره اسمعیل خان، ډیره فتح خان، او ډیره غازی خان دریواړو ځایونو ته په اجتماعی توګه ډیره جات ویلے شی۔ اسماعیل خان، فتح خان او غازی خان دریواړه دَ یو بلوچ ملک سهراب خان ځامن وو۔ اسمٰعیل خان په ۱۴۸۱ء کښے ډیره اسمٰعیل خان آباد کړی او دَ فتح خان او غازی خان په نومونو ډیره فتح خان او ډیره غازی خان آباد شول۔+

مشران کابل ته هم په سیل بوتلل او دَ امیر عبدالرحمان سره ئے دَ دوئ ملاقات اوکړو۔ امیر کابل ورسره ډیر ښهٔ وضعیت اوکړو۔ او هر یو مشر ته ئے ۱۵۴۶ روپئ کالینه الاؤنس عنایت اوکړو۔

سردار ګل محمد خان چه بیرته راستون شو، نو په وانا کښے میشتهٔ شو او خپله وظیفه ئے جاری اوساتله۔ په نتیجه کښے په هر لوری خلق راپاڅیدل۔ او دَ زړی بند په مشرئ کښے چه دَ شکی شوډیا کے احمدزئ وزیر وو، په فیرنګی بانده ګوریلا حملو شدت اختیار کړو۔ فیرنګی دغسے صورت حال اونهٔ زغملے شو. او امیر کابل ته ئے اولیکل چه سردار ګل محمد خان دِ تر یکم اکتوبر ۱۸۹۲ء پورے دَ وانا نه اوځی۔ نو له دے کبله هغه دَ وانا نه په لرې فاصله بانده دَ افغانستان په علاقه کښے دننه وړے خوا ته واوړیدو۔ سردار ګل محمد خان کهٔ دَ وانا نه لاړو هم، خو زړی بند او دَ هغهٔ ملګری جمبیل به ورسره رابطه قائمه ساتله، او همیشهٔ دَ فیرنګی په خلاف په عمل کښے مصروف وو۔

له بلے خوا نه فیرنګی هم دا کوشش شروع کړے وو، چه دغه دواړه ملګری یا خو په څهٔ چل ول مُخلا کړی او یا ئے دَ مخے نه اوغړوی۔ دَ مخلا کیدو کار خو اونهٔ شو، ولے دَ زړی بند دَ یو محسود ملګری سره ئے دَ دهٔ دَ وژلو سودا اوکړه۔ واقعه داسے پیښه شوه، چه یو ورځ زړی بند دَ هغه محسود ملګری سره دَ انګریزانو په خلاف دَ یوے غزئ په دوران کښے زښت تږے شوے وو۔ او په لار کښے چه دَ اُوبو ډکه ویالهٔ

ځے له ورغله، نو ټوپک ئے په ځاګه کیښودو او په ویالۀ ورښکته شو د دۀ ځغے محسود ملګری روغوند ے د دۀ ټوپک اوچت کړو. او ځان ئے پرے اوکړو. زړی بند په موقعه شهید شو. او د دریو سوو روپو ټوپک ئے ملګری یوړو. د زړی بند یو بل ورور هم وو چه چیرائی نومید و او همیشه به د فرنګی په خلاف جنګ جګړو کښے اخته وو. او روستو د ژوب او غوالیری په سیمه کښے چه کوم سرکاری سوارۀ وژلی شوی وو، د ځغے په جرم کښے ګرفتار شو. او اووۀ کاله قید پرے اوخیژولے شو.

## د ټانک د سرکټ هاؤس واقعه :

دا واقعه د وانا جګړے نه مخکښے پیښه شوے وه چه کله مسټر بروس[۱] رومبی ځل ټانک ته راغلے وو. مسټر بروس په خپل کتاب "دی فارورډ پالیسی اینډ اِټس ریزلټس" کښے په صفحه ۳۱۲ یوه عجیبه واقعه درج کړے ده، هغه لیکی چه :

"وزیر سرے د وسلے خصوصاً د ټوپک[۲] د حاصلو په لړ کښے هر قسم جرأت کولو ته ملا تړی."

د دے وینا سره سم لیکی چه :

"زۀ د خپلو وارو زړو سره د ټانک په سرکټ هاؤس

[۱] په یکم جولائی سنه ۱۸۹۰ء د ډیره جاتو ډویژن آفشیټنګ کمشنر او سپرنټنډنټ اولګید و او په ۲۱ نومبر سنه ۱۸۹۰ء مستقل شو. په ۲۸ اپریل سنه ۱۸۹۶ء کښے ریټائرډ شو.

[۲] Breach Loading Arms

کښې تهم شوے وم۔ زمونږ دَ کوَر مخکښې یو ملټری کارټ وو، چه په خیمه کښې اوسیدلو۔ دغه شان دَ غولی دَ دروازے نه باهر دَ پولیس یو بل کارټ هم په وړوکے خیمه کښې اوسیدلو۔ مسټر ډونلډ[1] زمونږ میلمه وو۔ ما مسټر ډونلډ او زما ښځې دَ ډوډئ خوړلو نه پس دروازے ته مخامخ په برآمده کښې گپ لگولو۔ تکه توره شپه وه او باهر باران وریدلو۔ موږ دَ مقامی سنتری تیرے تیرے چغې واوریدے، خو چا څهٔ ځواب ورنکړو۔ ما ترے نه اوپوښتل چه څوک وو؟ دهٔ اووے چه داسے خیال مے اوشو چه زما په خوا کښې څوک تیر شو، خو دَ تیرے په وجه دهٔ تسلی بخش خبره اونهٔ کړه۔ کیدے شی چه سپے وی، ولے هغه نان کمیشنډ افسر مطمئن نهٔ وو۔ کارټ نے پسے اونیستو او دَ بنګلے چارچاپیره اونو بوټو تلاشی نے شروع کړه۔ درے تنو غازیانو چه دَ دوئ کیمپ سره نزدے په گڼړو بوټو کښې پټ وو، رازغلی کړو۔ کارټ ورپسے چغه کړه او درے څلور ډزے

---

[1] دَ مسټر بروس سره دَ ډیره جاتو په ډویژن کښې افسر وو۔ په ۱۲/ نومبر ۱۸۹۳ء په کابل کښې چه دَ ډیورنډ لائن معاهده کیدله هغه وخت دَ سرمورتیمر ډیورنډ سره یو دے هم وو۔ ډونلډ دَ وزیرستان په حقله ډیر معلومات لرل۔ وروستو دَ کرّمے افسر مقرر شو۔ * * * *

ئې پرې اوکړې، خو هغه دا سې او تښتېدل چې کارت ئې په نیوو یا ویشتو کښې بریالې نه شو - دَغازیانو غټ مطلب دا وو چې دَ سپاهیانو نه ټوپک یوسي خو دغه کارت اوس بېخي څک شوې وو. له دې جهته دَ دوئ توجه هم دَ کیټ نه باهر کارت پله شوې وه او یو غازي دَ یوې غټې اونې شاته ځان پټ کړې وو.

کله چې دَ پولیس سنتري ورنزدې شو، نو دهٔ ډزې پرې اوکړې. او هغه په عوږ اولګیدو. یو خوا چې دَ پولیس کارت ډزې واورېدې نو دَ خیمې نه بهر اووتل او بل خوا چې غازیانو خیمه خوشې اولیده، نو ورننوتل. دوه ټوپک ئې واخستل او خپله مخه ئې اوکړه. مستهٔ دوئ دَ لیوي یوه دسته ورپسې اولیږله چې لارې کودرې ورته بند کړي.

دغه دسته دَ یو مجاهد په نیولو کښې خوکامیاب شوه، او ټوپک ئې ترې نه برآمد کړو، ولې هغو نورو دوؤ تښتو غروونو ته پښې اوئیستلې.

دوئ زموږ په غولي کښې دَ بې رشه شودو ډکه خاورینه کټوئ هم موندلې وه، کومه چې موږ سحر له دَ سخي دپاره خوندي کړې وه. دوئ هغه هم دَ

ځان سره دَ غنمو پېټي ته اوړے وه، هلته ئې پېټۍ په
اُور ګرم کړي وو او خښتلي ئې وو او بيا ئې کټوئي ماته
کړے وه - سحر مونږ دَ غنمو دَ فصل ترخواوُ شا
دَ دوئي منډه موندلو - هم هلته ايرے او دَ کټوئ
ټکوري پراته وو. زما ښځه دَ خپل سخي په نهاره
پاتے کيدلو زښته دلګيره شوه ؟

# شلوړم باب

# دَ مُلا پاونده څرک

په ۳۰ / جولائی ۱۸۹۳ء د ژوب په سیمه کښے دَ پی، ډبلیو، ډی مسټر کیلی (Mr. KELLY) نومی یو انگریز اُور سپُور سره د خپل سوار قتل کړے شو۔

همدغه شان په ۲۰ / فروری ۱۸۹۳ء جنوړ لے ته نژدے دَ ژام په دره کښے دیو فوجی سوار او په غوالیری کوتل کښے دَ شلورو سپایانو قتلونه واقع شوی وو۔ دَ گومل په دره کښے د کال ۱۸۸۹ء نه چه فرنگی کله دغه لار پرانستے وه، دا ړومبی قتلونه وو۔

دَ مسټر کیلی قاتلان دوه تنه عبدالرحمان خیل محسود وو، یو دَ زری بند ملکرے جبیل او بل کرام وو۔ د ژام په دره کښے دَ وژلے شوو سپاهیانو قاتلان شاه زر، نامدار او نارګانی وو۔ دوی درے واړه عبدالائی محسود وو۔

دکومَل او ژوب په علاقو کښے چه کوم سپاهیان قتل شوی وو د هغو الزام په نیکزان خیلو او شاکی والو خلقو باندے اولګید او دَ دوارو قامونو څخه یوخوا شپیته تنه سرِي ګرفتار کړے شول او بل خوا ئے غیلے رے اونیولے شوے۔

فرنګی دَ محسودو په ملکانو باندے هم دَ قاتلانو دګرفتارولو په سلسله کښے فشار واچولو او سخت سخت صُعوبتونه ئے ورته اورسول۔ څو ورځے پس چه دَ محسودو یوه لویه جرګه ډیره اسماعیل خان ته راواوبللے شوه نو په هغه کښے ملکانانو دَ مستمر کیلےاو هغه د نورو سپاهیانو قاتلان هم لاس ترلی فرنګی ته پیش کړل۔

فرنګی په هغو پنځو وارو قبائلی جرګه مقرره کړه او په لاندینی ډول سزا ورکړے شوه۔ جمیل او کرام د مستمر کیلے د قتل په پاداش کښے اوۀ اوۀ کاله بامشقت قید کړے شول او شاه زر، نامدار او نارګائی درے واړه دوۀ دوه کاله بامشقته قید او پنځه پنځه زره روپئ جرمانه کړے شول۔

دغه شان دَ عبدالرحمان خیلو او نیکزان خیلو محسودو نه هم دَ نیک چلنئ په ضمانت کښے ګنړ یرغمال واخستل شول۔ فرنګی خو خپل لاس روغ کړو، ولے د محسودو غیرتی ځوانان چه دَ دے واقعے نه خبر شول نو لویو ورو ډیر تاؤ پرے اوخوړو او په وطن کښے دَ ملکانانو په خلاف زبردست شورماشور پورته شو۔

په دغه شورماشور کښے عبدالرحمان خیل او ګاړیړی محسود

ډیر مخکښې مخکښې وو - ملا پاوندهؒ چه د فرنګیانو د وینو ازلی تږے وو دغه وخت ړوند ړوند دیو عوامی مشر په حیث راوړاندے شو د خلقو قیادت ئے شروع کړو او دَ فیرنګی په خلاف ئے د جهاد اعلان اوکړو - د ملا پاوندهؒ اولنے کوشش دا وو، چه د محسودو هغه پنځه میره قیدیان چه کله پیښور جیل ته استولے کیږی نو په لار کښې ئے دَ مټ په زور د فیرنګی دَ پنجے نه خلاص کړی ولے د ډیر کوشش باوجود هم چه په دغه پروګرام کښې کامیاب نهٔ شو نو په هغو ملکانو پسے ئے راواخسته، کومو چه دغه ناوړے کار کړے وو - هغه ملکانان کوم چه په دے واقعه کښې ډیر مخکښې مخکښې وو، اووژلے شول او باقی پخپله روپوش شول -

وژلی شوی ملکانان [1] یو داویګر، دویم د مشهور مجاهد ملک موسیٰ خان پلار ملک کریم خان او دریم د ملک ارسلا خوئے چاپیرائی وو - دغه درے واړه دا سے قتل شول چه عبدالرحمان خیلو محسودو دَ جبیل او کرام په بدل کښې ملک داویګر ګیګا خیل قتل کړو، او دَ شا هیر عبدالائی شاخ خلقو دَ شازر، نامدار او نارګی په بدل کښې ملک کریم خان اووژلو - ملک میر اجل او براماتٔ نظر خیل پخپله روپوش شول -

فرنګے دَ خپلو ملکانانو دَ قتل په وجه ډیر دلګیر شو او د بدل

---

[1] فیرنګی وروستو دَ دهٔ خوئے محمد افضل دَ خپلے علاقے ستر ملک اوټاکلو او بنیګړے ئے ورسره اوکړے -

آخستو تیاری ئے شروع کړه - بس دغه ورځ وه چه ملا پاوندهؒ دَ فیرنګی په خلاف دَعوامو دیو مشرؔ حیث پاڅیدو او بیا لکه دنمر هله اوځلیدو، کله چه دَ وانا مشهوره جهګړه اوشوه -

ملا پاوندهؒ او دَ محسودو ژنړی لا دَ ملکانانو په خلاف لګیا وو چه دے میانځ کښے دَافغان او برطانوی حکومتونو ترمینځه په ۱۲ / نومبر ۱۸۹۳ء دَ "ډیورینډ لائن" معاهده ترسره شوه -

چونکه ملا پاوندهؒ په دغو شپو ورځو کښے دَ فیرنګی په خلاف باقاعده خپل مرکزونه جوړ کړی وو، نو فیرنګی دا غوره اوګڼړله چه ړومبے ړومبے په وانا کښے دفوځ مستقل او مضبوط ګریزن قائم کړی - مسټر بروس د افغان وزیرستان بونډ رئ دحد بندئ کمشنر مقرر کړے شو - د ده دمعاونت دپاره میسرز کنګ ، انډرسن او ګرانټ هم اوټاکل شول - مسټر بروس ته د بریګیډیر جنرل اے ایچ ټرنر په کمان کښے په وانا باندے د فوځی کیمپ لګولو دپاره لویه قوا هم ورکړے شوه -

مسټر بروس په ۱۳/ اکتوبر ۱۸۹۴ء دَ ډیره اسماعیل خان نه وانا پله روان شو او په ټانک کښے ئے پړاؤ اوکړو - د ټانک نه په ۱۶/ اکتوبر ځ په ورانډے روان شو او په لار کښے د کرب کوټ په مقام د ملا پاوندهؒ یو خط ورته ملاؤ شو - لیکلی ئے وو چه :

"که چرے دخان خیر غواړے، نو دَ وزیرو محسودو په خاوره دَ بلوڅیدو کوشش مه کوه - او هغه پنځه میره



ملا پاونده ؒ
چه دَ فیرنګیانو دَ وینو ازلی تږے وو۔

قیدیان راخوشی کړه کوم چه دَ محسودو ملکانانو درته حواله کړی دی "

مسټر بروس دَ ملا پاوندهؒ خط ته څه اهمیت ورنهٔ کړو۔ اوس یوخوا ملا پاوندهؒ دَ کبرژن بروس دَ غرور په وجه دَ مجاهدینو لشکر راغونډول شروع کړو او بل خوا دَ فیرنګی فوځ دکرب کوټ نه په ۲۵/ اکتوبر مارچ شو او په ۲۷-۲۶/ اکتوبر وانا ته اورسیدو۔ ملا پاوندهؒ یوځل بیا دَ نومبر په دویمه نیټه مسټر بروس ته اولیکل چه "کوره : هغه پنځهٔ میره قیدیان راخلاص کړه او دا یقین دهانی هم راکړه چه دَ ډیورینډ لائن راکښلو نه پس به دوزیرستان نه پښے اوباسیُ "

سرکش بروس بیا هم څه ځواب ورنهٔ کړو۔ ایله ئے دومره قدرے ورته اووئیل چه زما سره دِ دعلاقے متعلقه ملکانانؔ خبرے اوکړی وانا ته دتلو په دوران کښے مسټر ګرانټ او مسټر بروس ته چه دَ احمدزو وزیرو او کابل خیلو وزیرو کوم خطونه ملاوُ شوی وو۔ هغه دلته درج کولے شی - د افسوس مقام خو دا دے چه یو خوا ملا پاوندهؒ د انګریزانو نه دَ احمدزو او کابل خیلو وزیرو علاقه ژغوری او بل خوا دهغویُ مشران فیرنګی ته دعلاقے دقبضه کولو دعوت ورکوی -

یوڅو خطونه : دَ احمدزو وزیرو پحقله په ۱۱/ اکتوبر ۱۸۹۴ء دَ ډیره جاتو کمشنر له خوانه پنجاب ته یو ټیلیګرام ع۱ -

INDO-AFGHAN (WAZIRISTAN) BOUNDRY FILE NO I ع۱

"احمدزو وزیرو په شریکه یو درخواست کښې مسټر گرانټ ته په وانا باندې د قبضې لګولو دعوت ورکړو او د برطانوي حکومت لاندې د اوسیدو او د حکومت د منشا په مطابق ئې د خدماتو کولو خواهش څرګند کړو۔ دوئ په وطن کښې د امن قائمولو او د دشمن څخه د حفاظت دپاره هم وینا اوکړه۔ دوئ یوه سکیچ نقشه هم راکړې ده چه په هغې کښې د مستقل کیمپ لګولو دپاره ځائې ښودلې شوې دې کوم چه موزون ښکاري۔ دوئ نن بیرته وانون ته روان شول خو په ۱۸/ اکتوبر به په ځوړي کې زما سره بیا ملاویږي"

د کوتیان خان او نورو کابل خیلو مشرانو خط:

په نیټه د ۱۷-۱۸/ اکتوبر سنه ۱۸۹۴ء

زمونږ عظیم المرتبت دوست مسټر بروس، کمشنر، مسټر گرانټ عظیم خان او کپتان فضل حق ته:

د رسمي دعا وسلام نه پسته د تاسو ته دا معلومه وي چه ما کوتیان خان او دا سې نورو ملکانو خپلو کښې یوه مرکه اوکړه چه په هغې کښې د پوره صلاح ومشورې نه کار واخستې شو مونږ دې ته تیار یو چه خپل وطن انګریزانو ته ورکړو۔ په دې حقله مونږ خپل واک ماني خان[1] ته ورکړې دې

---

[1] د ملک سوان خان احمدزئي وزیر ځوئې وو۔ په ۱۵-۱۶/ جولائي سنه ۱۹۱۸ء په شکي کښې په خپل مرګ په حق اورسیدو۔ او هم هلته خاورو ته اوسپارلې شو۔

سردار شیر عبدالله خان مونږ ته لیکلی دی چه "تاسو بوتر بله مشوره اوکړئ چه آیا تاسو د امیر د لاس لاندې اوسیدل غواړئ که نه". مونږ د کابل خیلو ملکانو په یوه خُله ځواب ورکړے دے چه مونږ په ټانک کښې د میسرز بروس او ډونلډ په دائره اختیار کښې جرګه کړے ده او خپل وطن مو برطانوی حکومت ته ورکړے دے باقی دِ دا هم تاته معلومه وی چه که تاته چا د کابل خیلو مقله دا اطلاع درکړے وی چه هغوئ بدمعاشان دی او د جدرانو مالونه ئے لوټلی دی او د دوئ کورونه ئے وران کړی دی او شوکماران دی هغه به هسے بهتان وی - ځکه چه رومبے بوبکر نومی جدران چه د سردار شیر عبدالله یو منصبدار دے راغے او د کابل خیلو مال و متاع ئے لوټ کړل او کورونه ئے وران کړل -

دغه درېدیدلی خلق چه مونږ ته راغلل او مونږ ئے د دے نه خبر کړو چه بوبکر د دوئ کورونه وران کړی دی او مال و متاع ئے وړی دی نو زمونږ خلق هم چغه شول او د بوبکر په میله ئے یلغار اوکړو او انتقاماً ئے د هغے مال و دولت یوړل - د کله نه چه مونږ د انګریزانو سره جرګه کړے ده، د هغے ورځے نه مونږ چرے هم نه بدمعاشی کړے ده او نه شوکماری - مونږ صرف د خپلو بدو بدل

آخستے دے۔ مگر د نورو بد معاشئ نه مو لاس نیولے دے۔

دَ دے نه علاوه دِ تاسو ته دا هم معلومه وی، چه ملک سیّد گل او ملک حاجی کرم، کوم چه سردار شیر عبدالله ته ورغلی دی، هغه د خپلو بندیانو دَ خوشئ کولو امر ترے نه آخلی۔ ځکه چه سردار صاحب د ده پنځه نفر دَ امیر عبدالرحمان په بندیخانه کښے اچولی دی۔

دَ دغو دوو ملکانانو سره یو څو نور کسان هم تلی دی ولے زمونږ دغه کسان دَ کوم شرارت تصمیم نه لری تاسو مطمئن اوسئ۔

دغه خط د کابل خیلو ملکانانو په اتفاق رائے لیکلے شوے دے ملک کوتیان خان۔ ملک لال خان۔ رحمان۔ ملوک میراسان۔ ملک شین۔ مباز خان۔ رحمان، کتهائی، شند، علم الدین، لنړائی، پیاو، سربند، محمد علی شاه، غنی، عبدالرحیم پرِدِل، آنو خان۔

دغه خط د بند خان په لاس درلیږلے شی۔ انشاء الله په صحیح طور به اورسیږی۔ تاسو برطانوی افسران چه کوم قسم خدمت یا کار دپاره مونږ ته اطلاع راکول غواړئ نو د بند خان په ذریعه ئے رالیږئ۔ چه خدائے کا مونږ ته به رارسیږی۔[1]

[1] INDO-AFGHAN (WAZIRISTAN) BOUNDRY FILE NO I

## دَاحمدزئ وزیرو له خوا نه مستر بروس ته خط

نیټه ۱۷ - ۱۸ / اکتوبر ۱۸۹۴ء

عظیم خان، شهزاده محسود او عالی مرتبت مستر بروس ته (خدائے دِ ئے سرفراز لری) دوانړو دَ درویش خیلو له خوا دِ تاسو ته معلومه وی، چه مونږ ته ستاسو دَ خط مفهوم معلوم شو. دا سے معلومیږی چه تاسو لوس دلته د راتلو پوره پوره جوګه یئ. خو مستر بروس په آیوزی او لیفټیننټ ګورنر په لاهور کښے زمونږ سره دا وعده کړے وه چه دَ راتلو نه روستو به تاسو مونږ ته څه حقوق راکوئ اوس دَ هغے په حواله او څه د نورو قبائلی معروضاتو له کبله دا ضروری ده، چه تاسو او سرکار مونږ او بولئ چه یو تر بله مخامخ شو که دا سے او نه شی نو تاسو زمونږ دَ وطن سره هیڅ کار مه لرئ ځکه چه ګړبړ به جوړ شی او بیا به ئے تاسو زمونږ په سر راتپئ.

دَ امیر له خوا نه مونږ ته اطلاع ګانے راغلی دی چه:

"ستاسو وطن زما په حدود کښے شامل دے بنائ چه تاسو زما په دائره اختیار کښے پاتے شئ. زۀ به ستاسو سره ډیرے ښیګړے اوکړم"

مونږ دَ محسودو سره هم د جرګے کولو په خاطر کانی ګرم ته تلی وو. هلته محسودو مونږ ته خواست اوکړو، چه مونږ تاسو

ته پکار ده، چه د انګریزانو پخقله څه تهینګه تیراه اوکړو، ولے مونږ دوی ته اووئیل چه انګریزانو زمونږ سره ژبه کړے ده، که چرے ئے پوره کړه، خو بنه ګنی بیا به مونږ ستاسو سره اتفاق کوو - د اتفاق نه مخکښے د ملکانانو دپاره څه وئیل سود نه لری[عا] - دغه خط ملا سادی لیکلے دے او د بورخان په لاس درلیږلے شی -

(په دے خط باندے لاندینو کسانو مهرونه لګولی دی)

بنوچی - ګل شیرخان - زورورخان - طوری خان - محمد یارخان - ګلاخان - ترین خان - غین الدین - مرزا ګل - تارکئے بند خان - وزیرخان - سورک خان - اخوند - شیر محمد - داو خان - شهزاد - خمارخان - جندے خان - زیر محمد - سرخیل قلندرخان، شائی خان - پائینده خان - کرارخان - جانے خان دل خان - خان ګل - ګل محمد، سمندر او کوبان "

## د وانا جهګړه :

کله چه فیرنګے په لوئے شان وشوکت سره وانا ته اورسید و او کیمپ ئے اولګولو نو هغه وخت ملا پاوندہ رح هم په مقابل کښے ورته د غازیانو دروند لشکر راغونډ کړے وو چه وزیر، محسود، داوړ، بنوڅی او بیټنی قامونه په کښے شامل وو -

دغه لشکر په دریو زرو غازیانو مشتمل وو - د ۲-۳ / نومبر

[عا] INDO-AFGHN (WAZIRISTAN) BOUNDRY FILE NO I

سنہ ۱۸۹۴ء په شپه او سحر په ۲/۱ ۵ بجو لشکر د غښتو غښتو ډولونو په ګرځها
او دَ بیلو بیلو مشرانو لکه ملا پاوندهؒ، ملاحمز الله او جګړ په مشرۍ
کښې دَ مختلفو لوریو نه د بروس په کیمپ ورپریوتو۔
په کیمپ کښې یولوئے الغاو تلغاو ګډ شو۔ د نعرهٔ تکبیر ژغونه
پورته شول۔ په دوه لاسی تورے په چلیدو شوے او په چړو
سنګینو سینے غلبیل غلبیل شوے۔ ځینې غازیان په رساله ورخوشی
شول۔ د اَسونو پړی ئے اوشلول او اسونه لیونی شول ګډ عسکرئے
دَ پښو لاندے چیت کړل او ځینو کیمپ تالا والا کړو۔ لنډه دا چه
یوه خونړۍ جهګړه اوشوه او غازیانو په ۱۳۷ میله ټوپکو، درے زره
نغدو روپو، ۱۵۰ اَسونو او بے شمیره خوراکی موادو باندے قبضه
اوکړه او تقریباً سل بیده اوښان او خچرے ئے ژوبلے کړے۔
دَ دے نه علاوه ئے ۱۷۶۳ تنه سپایان او ۲۳ تنه انګریزی
منصبداران مړهٔ ګډ کړل، چه په هغوی کښې مشهور کسان لیفټیننټ
مکالے او لیفټیننټ انجلو قتل او سرجن میجر هیګ، کپتان لانګ
لیفټیننټ هربرټ، لیفټیننټ هارن بی او لیفټیننټ تامپسن سخت ژوبل
شوی وو۔
دَ مسټر بروس په قول[۱] د غازیانو څخه ۲۰۵ تنه شهیدان او ۲۵۰
تنه سخت ټپیان وو۔ په ټپیانو کښې مشهور توریالے جګړ هم شامل
وو۔ په دے جهګړه کښې زیاتره مړی ژوبلی دَ ملا پاوندهؒ او دَ هغو
پنځو میرو قیدیانو خیل ځیلوان وو، کوم چه ملکانو فرنګی ته لاس

[۱] "فارورډ پالیسی اینډ اِټس ریزلټس" صفحه نمبر ۲۷۰

ترلی حواله کړی وو- په دوئ کښې اکثر عبدالآلئ او کاریړی محسود وو
دَ شکی وزیر هم په کښې وو چه د زړی بند خپلوان وو- بناغلے جگر
شهیر او پښکاړئ د فوځ په مینځ ورکډ شوی وو او دَ بے مثاله شها مت
مظاهره ئے کړے وه- په وانا کښې د فرنگی د فوځ داسے خوند بد
شو چه دَ ډیورینډ کربنه په ځلئ پاتے شوه-

بناغلے عبدالحلیم اثر لیکی چه :

"د وانا په دے غزا کښې چه کوم غازیان زخمی شوی وو په
دغه غازیانو کښې یو نامور غازی جناب کاکا صاحب رح اتمانزئ
وزیر هم وو- یو څو ورځے ژوندے پاتے شو او بیا هم دَ
دغه زخمونو دلاسه په جمادی الاول سنه ۱۳۱۲ھ بمطابق
سنه ۱۸۹۴ء کښې شهید شو۔"

دَ جناب اثر صاحب سره زما اتفاق نشته، ځکه چه کاکا صاحب رح
یو روحانی بزرگ ضرور وو، ولے ده نه چرے غزاگانے کړے دی
او نه ئے شهادت نصیب شوے دے-

دَ وانا جهګړے محقله به د ځینو کسانو داخیال وی چه گنی
قبائلی شاه ځلمو به په اُودو فوځیانو ناځاپی چپاؤ وروړے وی
ولے حقیقت داسے نه دے- بروس ته به باقاعده دَ ملا پاونده رح دَ
هر قسم نقل وحرکت رپورټ رسیدلو- مسټر بروس دَ خپل کتاب
" دی فارورډ پالیسی اینډ اِټس ریزلټس" په صفحه نمبر ۲۶۸
لیکی چه :

"جنرل ټرنر حکم جاري کړو چه دځملاستي په وخت ډېر سرے خپله وسله په څنګ کښے ساتي او سحر دِ په څلورو بجو صف بندئ ته تیار اوسي ۔"

کومه شپه چه غازیانو دَ فرنګي په کیمپ حمله کوله، هغه شپه فوځیانو هم بنهٔ حفاظتي انتظامات کړي وو ۔ مسټر بروس په دے حقله په صفحه نمبر ۲۶۹ لیکي چه :

"هغه شپه په مونږ کښے چا هم جاے نهٔ نیستلے، ولے چه زمونږ دا پوخ یقین وو چه حمله را باندے کیدونکے ده ۔ مونږ دَ خپلو خیمو نه چاپېره بنهٔ دفاعي اقدامات او کړل او بیا سره دَ وسلو ځملاستو ۔ شپه زبنته تکه توره وه ۔ سحر په پنځو یا پنځه نیمو بجو ناڅاپي یوه شیطاني هنګامه جوړه شوه او کیمپ ته مخامخ دَ رسالے نه پرله پسے دَ بنیادمو الغاؤ تلغاؤ دَ ډولونو ګړزهار او دَ ټوپکو ټهکار راپورته شو ۔"

مخکښے په صفحه نمبر ۲۷۰ او ۲۷۲ لیکي چه :

"دغه هرڅه په داسے توره تیارهٔ کښے وو چه دَ دوست و دښمن پیژندګلو ګرانه وه او دَ نمر راختو پورے لاس په لاس جنګ جاري وو ۔"

"ما دَ ډیرو هغو افسرانو نه چا چه ګڼړ جنګونه لیدلي وو، دا واوریدل چه دَ دوئ دغسے ترخه تجربه مخکښے چرے هم نهٔ ده شوے ۔"

دَ وانا جهګړے نه پس ملا پاونده رح دَ غازیانو د پنځو غالي ځائے دخپل اُستاذ ملا حمزالله کلے شکائے او تا کلو۔

دَ دے ځائے نه به غازیانو دَ ملا پاونده او ملا حمزالله رح تر قیادت لاندے په کیمپونو حملے کولے۔ فیرنګے دَ دوئ د پرله پسے جنګ جهګړو نه تنګ شو او د محسودو یوه لویه جرګه ئے راوبلله او دائے په کلکه ورته اووئیل چه :

(۱) "هغه مشهور کسان لکه جګړ، پشکائ او شهیر تول حکومت ته حواله کړئ او هغه اُسونه، اوبنان، خچر او توپک کوم چه غازیانو دَ وانا کیمپ نه ولجه کړی دی بیرته حکومت ته تحویل کړئ یا د هر اُس، اوبن او توپک په سر حکومت ته پنځه پنځه سوه روپئ هرجانه راوُړئ۔

(۲) بله دا چه ملا پاونده دَ خپلے علاقے نه اوشړئ۔ کـه چرے تریکم دسمبر پورے تاسو دغه حکمونه عملی نه کړل نو ستاسو په خلاف به سخت اقدامات اوکړے شی"۔

په دغو شپو ورځو کښے ملا پاونده په شکی کښے وو او درے نیم زره لشکر ئے راغونډ کړے وو۔ د وزیرو محسودو د پرے جرګے ورته پنځه سوے شوے او دَ روغے جوړے وسونه ئے پرے اوکړل خو ده ورته په هیڅ قیمت غاړه کښینښوده۔ فیرنګی چه دَ طاقت په زور ملا پاونده مغلوب نهٔ کړے شو نو دا ځل ئے د خپل پلارینی مکر و فریب نه کار واخستو او په محسودو کښے ئے دَ ننګ و ناموس

دا سے چینجي تیار کړل چه هغوئ ملا پاوندهؒ ته زهر ورکړل۔

واقعه دا سے بیانیږي چه په ۲۵ / نومبر ۱۸۹۵ء ملا پاوندهؒ دَ مغل خیلو محسودو په یوه کورنئ کښے میلمه شوے وو، د ده سره دوه تنه نور ملګري هم وو۔ کوربه دریو واړو ته وریژے غوړي وړاندے کړل۔ دَ وریژو غوړو خوړلو سره سمد ستي دَ دوئ حالت بدل شو، او زهر و په کښے خپل اثر پریښودلو۔

ملا پاوندهؒ خو څو ورځے پس بچ شو، ولے د ده هغه نور دوه ملګري تر مودے اوکړیدل۔ د الله فضل وو، هغوئ هم دَ مرګ نه بچ شول۔

غازیان چه دَ دے نه خبر شول نو دَ هغے سړي دوړلو او کور سیزلو مرکه ئے اوکړه، خو ملا پاوندهؒ دوئ منع کړل۔ ورته وئیل ئے چه "دکور مالک په دے کار کښے ګنهګار نه دے، دغه کار چا بل کس کړے دے"! ملا پاوندهؒ ته اصلي مجرم معلوم وو، خو دَ قامي شر پورته کیدو له کبله غلے پاتے شو او هر څه ئے الله پاک ته اوسپارل۔

دَ مکین جهګړه :

فیرنګي له مودے نه په مکین باندے د قبضے لګولو ارمان په زړه کښے لرلو او په دے سلسله کښے ئے دوه ځله ناکامے هڅے هم کړے وے۔ د ملا پاوندهؒ په حقله چه د ده ټول تجویزونه ناکام شول، نو یوکرت ئے بیا په محسودو باندے د فوج کشئ فیصله اوکړه۔

دُ پروګرام په مطابق په ۱۸ / دسمبر ۱۸۹۴ء د ليفټيننټ جنرل سر وليم لاکهارټ په کمان کښے د محسودو په علاقه باندے دُ مختلفو اطرافو نه فوځونه ورخوشي کړے شول -

ا : دُ وانا نه د تيار زرے او شراونګي په لار کاني ګرم ته

ب : دُ جنډولے کيمپ نه دُ سرا روغه او مروبي په مخه مکين ته

ج : او دُ بنوں کيمپ نه دُ شکتوئي او خيسارو په لوري رزمک ته -

دغو فوځونو ته به چه څومره کورونه مخے ته ورتلل ، هغه به ئے سيزل او دغسے درے واړو فوځونه خپل خپل منزل مقصود کاني ګرم ، مکين او رزمک پله روان وو -

ننګيالو محسودو هم ورته جرګے مرکے کولے او دُ ملا پاونده يو طالب چه باران نومېدو او فريدئي غليزئي محسود وو ، په کاني ګرم کښے دولونه ګرزول او دُ فيرنګي په خلاف ئے دغزا دپاره خلق راغونډول - په ۲۱ / دسمبر چه فوځونه دُ محسودو په خاوره ورخواره شول نو دُ دوه توئي نه تقريباً دوه ميله لرے د ملا پاونده کلے ، مروبي باندے ئے يلغار اوکړو - دُ ده کورئے او سيزلو او دُ اوبو ژرنده ئے ورله ماته کړه - د دے نه پسته ئے په مکين کښے کيمپ اولګولو - دلته يو ځل بيا ملا پاونده خط ورته اوليکلو چه :

" خبردار[1] ! دُ محسودو په وړو زاګو او ښځو جينکو ظلمونه اونه کړئ ، ګني انجام به دِ ښه نه وی او هغه د وانا حشر ورپه

---

[1] بحواله پولېټيکل ډائري برائے ۱۷ - ۱۸ / دسمبر ۱۸۹۴ء

یادکړه - زهٔ د دے خط سره ستا دُ هغے ایپ، ډی کیمپ لیفټیننټ هارن بیٔ ځغه ولجه کړے شوے توره هم د عبرت په طور درلیږم کوم چه دُ وانا په جهګړه کښے سخت ژوبل شوے وو۔"

چونکه په دے موقع فیرنګی ډیر زور راوړے وو او په هرڅه پوره وو، نو ملا پاوندهٔ په ۲۴ / دسمبر دُ زړګر خیلو وزیرو په لار داوړ ته راواوړیدو۔ دُ دهٔ سره چیل واړهٔ زاګهٔ هم وو۔

فیرنګی له ډیره تاوه دُ ګاریړو، لنګرخیلو او فریدو محسودو په مانړیو او کیږدیو نتار اوکړو۔ د غه رنګ ئے د نیک زن خیلو کورونه هم برباد کړل۔

په دغه سفاکانه عملیاتو کښے فیرنګی دُ محسودو نه اتلس تنه یرغمال هم ګرفتار کړل، چه په هغوئ کښے یو نامتو مجاهد بناغلے شهیر دُ ملکانانو دلاسه دُ ملک کریم خان او چاپیری د قتل په بدل کښے اوو ژلے شو۔

په رسید وخو فوځونه کانی ګرم، مکین او رزمک ته اورسیدل او په خلقو ئے نتار اوکړو، ولے د غازیانو دلاسه په دوئ هم داسے شندے اوشوے چه دُ مکین خوشحالی ئے پرے ګنهیر کړه - دُ کُشت وخون په دے مهم کښے ۱۰۸۷ تنه فوځیان او ۱۶ انګریزی منصبداران قتل شول او په بل لوری دُ غازیانو له خوا نه ۴۳۵ تنه ځیګرور ژنړی په شهادت اورسیدل - په داوړو کښے دُ خپلو

وړو زاګو دَ سنبالښت نه پس او په محسودو د فوج کشئ نه روستو ملا پاونده رح د جنوری ۱۸۹۵ء تو له میاشت په مداخیلو وزیرو کښے دَملک سادے خان دَ تره ځوئے ایوب کره تیره کړله - او فیرنګی د ده په غیر موجودګئ کښے په سویلی وزیرستان کښے هرخوا فوځونه خواره کړل او وانا ئے مکمل طور محفوظه کړه - دَ دے نه پسته یو ځل بیا دَ ډیورنډ لائن په حقله په لاندینی ډول خط وکتابت شروع شو -

## اوّل مکتوب

د افغان ملکانو ملک محمد اکرم یحییٰ خیل، ملک سلطان خان، کتی خان او میرحضر (دغه ټلور واړه سلمان خیل وو) په نوم دَ افغان ګورنر سردار ګل محمد خان دَ مورخه یکم جنوری ۱۸۹۵ء یو مکتوب -

"دَ سلام نه پس عرض حال دا دے چه په ۳۱/ دسمبر ۱۸۹۴ء ماته د عالیجا امیر افغانستان ځنه یو فرمان راغلے دے چه د سردار شیرینډل خان دا اثر لاندے دَ خوست او وارسک ترمینځه او دَ زرمیلان او ګومل دَ سرحد اتو حدبندی شروع کیدونکے ده - په دے لړ کښے دَ برطانوی حکومت له خوا نه مسټر بروس نمائنده ټاکلے شوے دے او دَ دولتِ خداداد افغانستان له خوا نه زما او دَ شیرینډل خان دَ علاقے ملکانان مقرر شوی دی - نو اوس دَ مسټر بروس

په کیمپ کښې د پاسنو ملکانانو شمولیت لازمی دے چه هغه
دُ دوئ په موجودګئ کښې په ټا کلی شوو سرحداتو باندے
دحد بندئ نشانونه اولګوی او ملکانانو ته دافغانی او برطانوی
سرحداتو ترمینځه صحیح اطراف معلوم شی۔ دغه حد بندی
دُ دواړو افغان او برطانوی حکومتونو په خوښه کیږی، او
په نقشه کښې دننه ردوبدل نه پرته به په صحیح ډول
نشانات لګولے شی، ولے بیا هم که څه غلطی په کښې اوشی
نو دُ تصحیح دپاره به زما دعلاقے خلق ماته او دُ سردار
شیر دل خان دعلاقے خلق هغه ته رپورټ کوی۔"
ما په دے خط کښې تاسو ته دُ عالیجاه امیر دُ مکتوب
مضمون اور سولو۔ تاسو دُ عالیجاه په امرخانونه پوهه
کړئ او دُ هغه دُ منشا په مطابق قدم پورته کړئ"۔ ؏۱

## دوئیم مکتوب

دُ لیفټیننټ جنرل سرلا کهارټ کمانډنګ وزیرستان فورس
له خوا دخوسټ دګورنر سردار شیر دل خان په نوم د مورخه
۱۳/ جنوری ۱۸۹۵ء یو مکتوب۔
"دُ سلام نه پس هزهائی نیس امیر، هز ایکسلینسی وائسرائے
ته اطلاع ورکړے ده چه کله دُ وزیرستان د ټاک حد بندی
کولے شی، هغه وخت دِ افغان ملکانانو او د قرب وجوار مؤثرو

---

؏۱ په حواله "دُ ۲۵ تا ۲۹ / جنوری ۱۸۹۵ء پولیټیکل ډائری شمالی وزیرستان"

اشخاصو ته هم په "برټش بونډري کميشن" کښې د شموليت هدايات ورکړے شي. په دے باره کښې زه تاسو ته خواست کوم چه تاسو لطفاً د غسے افغان ملکانو او مؤثرو اشخاصو ته د دوه منډي په مقام د کنړ او ګومل رودونو په مقام اتصال باندے د روانے مياشتے په ۲۸/ تاريخ د "برټش بونډري کميشن" په کيمپ کښې د شامليدو هدايات ورکړئ ځکه چه دغه کار به حتماً په تا کلے نيټه شروع کولے شي.

او هر کله چه ملکانان او موثر اشخاص برټش کيمپ ته راورسي نو دوئ ته به په صحيح طور چيل او د برطانوي حکومت حدود په ګوته کړے شي." ع۱

## دريم مکتوب

د خوست د ګورنر (والي) سردار شيرين دل خان څخه د جے. ايس ډونلډ افيسر آن سپيشل ډيوټي کُرم په نوم يو مکتوب.

" د سلام نه پس ستاسو د ۱۹/ جنورئ خط مے مطالعه کړو تاسو ليکلي دي چه

"ماته د وزيرستان فيلډ فورس چيف پولټيکل افسر او برټش بونډري کمشنر وزيرستان بونډري، جنرل سر وليم لاکهارټ له خوا نه ستاسو په نوم مکتوب راغلے دے. ستاسو د ملاحظے دپاره زه هغه مکتوب درليږم او دا هيله لرم چه

ع۱ په حواله د" ۱۰ تا ۱۳/ جنوري ۱۸۹۵ء پولټيکل ډائري شمالي وزيرستان"

تاسو به ئې د دستیابئ په حقله ما خبر کړئ"

زه په دې لړ کښې بنه پوهیږم او د جنرل لاکهارټ خط مې

هم لوستلې دې - انشاءالله د دولت خداداد افغانستان په

سرحد به ټول ملکانان او معتبران د عالیجاه امیر د احکامو په

مطابق دومندي ته استولې شي" ع۱

## څلورم مکتوب

د ایل، ډبلیو کنګ، ډپټي کمشنر اینډ ډیمارکیشن افسر وزیرستان

ډي لیمیټیشن کمیشن DELIMITATION COMMISSION څخه د افغان

ګورنر سردار ګل محمد[ع۲] په نوم یو مکتوب

مورخه ۲۸ / جنوري سنه ۱۸۹۵ء

"د سلام نه پس عرض حال دا دې چه عالیجاه امیر

افغانستان د هند هز ایکسیلینسي وایسرائې او ګورنر

جنرل ته اطلاع ورکړې ده، چه د وزیرستان د حد بندئ

کولو په موقع به د افغانستان د ټولو علاقو متعلقه ملکانانو

او معتبرانو ته امر ورکولې شي چه د برټش ډي لیمیټیشن

افسرانو سره تر آخره پورې مله اوسي، ځکه چه د غوافسرانو

ته د خپل حفاظت په سلسله کښې افغان علاقې ته د فوځ

د داخلولو ضرورت پاتې نه شي" ع۳

ع۱ په حواله "د ۳۰ / جنوري تا ۳۱ / جنوري او یکم تا ۲ / فروري سنه ۱۸۹۵ء

پولټیکل ډائري شمالي وزیرستان" ع۲ د اورګون والي (ګورنر) وو- ع۳ په

حواله "د ۱۰ / تا ۱۳ / جنوري سنه ۱۸۹۵ء پولټیکل ډائري شمالي وزیرستان"

دَ تفصیلي خط وکتابت نه پسته د جنرل سر لاکهارټ د هدایاتو په مطابق په جنوبي وزیرستان کښې دَ ډیورینډ لائن په راکښلو باندې میجر وهاب، میجر پولاک، کپتان میکس وینې، لیفټیننټ شیرډ او ایل- ډبلیو کنګ چه دُوزیرستان ډی لیمیټیشن کمیشن ډپټي کمشنر او ډیمارکیشن افسر وو، په ۲۸ / جنوری سنه ۱۸۹۵ء کار شروع کړو-

دُحکومت افغانستان له خوا نه به دَ ډیورینډ لائن راکښلو په وخت دُ سردار شیرینډل خان او سردار ګل محمد خان د هدایاتو په مطابق د متعلقه علاقو ملکانانو او معتبرانو کار کولو- دُ دوی خاص اعتمادي برېځي به هم ورسره شامل وو-

په سوېلي وزیرستان کښې د ډیورینډ دغه کرښه تر ۱۲ / فروري سنه ۱۸۹۵ء پورې تکمیل ته اورسیده-

# پینځم باب

# په توچي کښې د فیرنګي میشته کیدل

فیرنګي چه په سوئیلي وزیرستان کښې د ډیورینډ لائن راکښلو نه اوزګار شو، نو په قطبي وزیرستان کښې ئې هم د دغې کرښې راکښلو بندوبست شروع کړو۔

فروري ۱۸۹۵ء کښې ئې د داوړو د مشرانو جرګه بنوں ته اوبلله دغه وخت فیرنګي لا په توچي کښې نه وو میشته شوې۔ ملا پاونده چه د دې نه خبر شو، نو د داوړو مشران ئې د بنوں د تګ نه منع کړل، ولې د ملک خان محمد خان محمد خیل داوړ او ملک ساده خان مداخیل وزیر په ترغیب دوئ بنوں ته لاړل او په ۱۸-۱۹ فروري ۱۸۹۵ء ئې د بنوں ډپټي کمشنر ایچ۔ اے انډرسن سره لیدل کتل اوکړل۔ انډرسن دوئ ته اوویل چه:

"مونږ غواړو چه فقط د افغانستان سره خپل سرحدات

جوت کړو او بیا بیرته بنوں ته راستون شو۔

په دے دوران کښے به تاسو د وزیرستان فیلډ فورس کماندړ سر ولیم لاکهارټ ته ځائے په ځائے د کیمپ لګولو دپاره ډګری، اګئ، خشاک، بوز او نور خوراکی مواد قیمتاً ورکوئ۔"

د داوړو مشران د فرنګی په خوښ و پستو خبرو اوغولیدل او ړومبے ړومبے خان محمد خان محمد خیل او نذر بند عیدک وړته غاړے کیښودے او بیا ورپسے ټولو ملکانو او مشرانو فرنګی ته په پوره تنئ معاهده کوتے او لګولے چه د راقم غور نیکه زبردست هم په کښے شامل وو۔

یوخوا انډرسن د داوړو د مشرانو سره په توچئ کښے د تلو راتلو معاهده کوله او بل خوا نے د بنوں نه مغرب پله دیارلس میله لرے د سیدګی په مقام د جنرل سر لاکهارټ په کمان کښے درو ند فوځ پنډ کړے وو۔ په ۲۴ / فروری ۱۸۹۵ء نے پخپله هم د قطبی وزیرستان د ډی لیمیټیشن کمیشن، کمشنر په حیث سره د خپلے عملے سیدګی ته ځان ورا ورسولو۔ او بیا په هم دغه ورځ فوځ د توچئ پله اوخوزیدو۔

کله چه دغه فوځ د عیدک کلی ته اورسیدو نو په ۲۶ / فروری نے اول اول د ملا پاوندہ رح کور وران کړو۔ داوخت ملا پاوندہ رح بخوا د عیدک نه کډه کړے وه او په مداخیلو، کابل خیلو او برو داوړو

کښې به ئې دُ فرنګی په خلاف دجهاد تبلیغ کولو۔

وروستو مارچ ۱۸۹۵ء کښې دُ سپین وام بادشاه فقیر ته هم ورغلو هغه په دے وخت سخت ضعیف وو خو بیا ئې هم د ملا پاوندهٔ سره دکلکے مرستے او تعاون کولو وعده اوکړه۔

په ۱۸ مارچ ملا پاوندهٔ دهغهٔ نه رخصت شو او تر تیراه پورے ئې دُ لشکر دراغونډولو زیار اویستو۔ په ۲۷ فروری ۱۸۹۵ء فیرنګے دُ عیدکو نه درپه خیلو ته اورسیدو۔ په ۲۸ فروری بانډے دُ درپه خیلو نه محمد خیلو ته روان شو۔ فیرنګی به دُ عیدکو نه تر هر پړاؤ پورے دخان سره د ټیلګراف تارونه او میټے هم لګولے۔ د محمد خیلو نه دغه فوځ تر یکم مارچ پورے دته خیلو ته اورسیدو۔ هلته دُ سردار شیرین دل خان په امر دُ افغانستان ملکانان هم شیرنے ته راغلی وو۔ دغه ملکانان ملک عبدالوحید زرمت خیل، ملک میر اکبر خان خوستوال او مرزا غلام رسول نومیدل۔ دُ دوئی سره ملک لال خان، ملک حاجي خان او ملک خان بهادر خان کابل خیل او ملک جامک او جان پیر ګیان خیل هم مله وو۔

دُ ډیورینډ لائن راکښلو په لړ کښے له اول نه د قطبی وزیرستان ملکانان شادم خان مداخیل، نبی خان مداخیل، سیّد خان خدرخیل (مامیت خیل)، پیاؤ خان حسن خیل (مامیت خیل) محمد اکبر خان توری خیل، کلیم توری خیل او خان محمد خان محمد خیل داوړ په شیرنے کښے موجود وو۔ په ۸ مارچ ۱۸۹۵ء د افغان او آتمانزو ملکانانو

او دَ ایچ اے انډرسن منصبدارانو په متفقه صلاح ومشوره او دَ نقشے په مطابق د ډیورینډ لائن په راکبنلو لاس پورے شو او بیا دغه کار په قطبی وزیرستان کښے د اپریل ۱۸۹۵ء ترنیمائے پورے ختم شو۔ دخطِ ډیورینډ د راکبنلو په دوران کښے چه فیرنګی سنهٔ ځان مضبوط کړو نو یو خوا جنرل سرلاکهارټ دَ سرحدا تو دحد بندئ په کار کښے بوخت شو او بل خوا ایچ اے انډرسن د بیرته تلو په ځائے د توچئ د مشرانو سره پټ سازباز شروع کړو او ځان ته ئے داسے ملګری پیدا کړل چه هغوئ ورته په توچئ کښے د مستقل پاتے کیدو په معاهده ګوتے او امضا ګانے ثبت کړے۔

دَ اپریل ۱۸۹۵ء په شروع کښے فیرنګی ته ډیر ډیر د وزیر قام لاندینو مشرانو ګوتے اولګولے۔

| | | |
|---|---|---|
| کیپات | مامیت خیل | وزیر |
| کالانائ | 〃 | 〃 |
| جمعه ګل | 〃 | 〃 |
| غزامیر | مامیت خیل | وزیر |
| ګل صاحب | 〃 | 〃 |
| ګلمیر | شوئ خیل | وُلئ وزیر |
| ملک خان | سردی خیل | 〃 |
| لالائ | جانی خیل۔ شوال | 〃 |
| زاریکائ | 〃 | وُلئ وزیر |

| | | |
|---|---|---|
| شیخ مجید | وروکائی | وزیر |
| فیروز | توری خیل | 〃 |
| تاوانیر | 〃 | 〃 |
| میاں دین | 〃 | وزیر |
| شازا دین | توری خیل | 〃 |
| طورخان | 〃 | 〃 |
| غزین شاہ | 〃 | وزیر |
| فتح میر | توری خیل | 〃 |
| سلام خان | 〃 | 〃 |
| لولائی | 〃 | وزیر |
| حاجی | توری خیل | 〃 |
| سردار | مامیت خیل | 〃 |
| سعد اللہ خان | 〃 | وزیر |
| لیتمک | 〃 | 〃 |
| غلامی | مامیت خیل | 〃 |
| باگد | 〃 | وزیر |
| نشہ دار | 〃 | 〃 |
| مامازی | مامیت خیل | 〃 |
| نیبات | 〃 | وزیر |
| خوجہ نیر | 〃 | 〃 |

| | | |
|---|---|---|
| مینار شاه | مامیټ خیل | وزیر |
| شاه بهرام | 〃 | 〃 |
| غجیم | 〃 | وزیر |
| شیخ | مامیټ خیل | 〃 |
| ګل محمد | 〃 | 〃 |
| میر صاحب | 〃 | وزیر |
| دیګ | مامیټ خیل | 〃 |
| سیرلائی | 〃 | 〃 |
| ګل | 〃 | وزیر |
| شیرمان | مامیټ خیل | 〃 |
| پیر حسن | توری خیل | 〃 |
| نیکم | 〃 | وزیر |
| کیلی | 〃 | 〃 |
| داګائی | توری خیل | 〃 |

دُ مداخیلو وزیرو له طرفه نه ملک سادے خان لا دُ ایچ -ا -ے انچ رسن سره خبرے اترے کولے، خو ورو ستو دوئ هم ګوتے ورته ثبت کړلے - یو څو میاشتے پسته په ۲۲، اګست ۱۸۹۵ء دُ داوړ قام ۵۸ تنو مشرانو هم فیرنګی ته په توچئ کښے دُ مستقل پاتے کیدو په معاهده ګوتے اولګولے، ولے دُ داوړو اکثرو مشرانو نے مخالفت اوکړو او فیرنګی ته نے ګوتے اونه لګولے - دُ فرنګی په دغو مخالفینو کښے

مشهور کسان دَ راقم غور نیکه، زبردست او شاهزاده[1] وو۔

## یوشریک درخواست

په ۶/ اپریل ۱۸۹۵ء چه فیرنگی ته دَ داوړو، درویش خیلو او کرْ ے والو له خوا نه کوم درخواست وړاندے شوے وو، هغه په لاندینی ډول وو:

"مونږ دَ لرے برے توچئ داوړ او دَ دره توچئ او کرْ ے درویش خیل وزیر دا عرضداشت وړاندے کوو، چه چونکه اوس برطانوی حکومت زمونږ علاقے ته رانوتلے دے نو مونږ دَ خپلو باهمی تنازعاتو او دَ محسودو د غلوغدئ په نتیجه کښے دا خواهش لرو چه حکومت دِ مونږ دَ خپل نیک سورے لاندے او ساتی او مونږ دا اپیل هم کوو چه هغه څه دِ مونږ ته هم دَ خپلے پښتو، رواجونو، خدماتو، گرځو تئ، الاؤنسونو ملکئ او دَ سیدانو، فقیرانو او پیرانو د معافئ په مطابق راکړے شی کوم څه چه په برطانوی حکومت کښے نورو نورو مقبوضه عزیزو سیمو ته ورکړے شوی دی او حکومت دِ

---

[1] دَ درپه خیلو بو مشر ملک وو۔ کال ۱۹۰۱ء کښے چه دَده خوئے خواجه مد خان چا قتل کړو نو د څه مودے دپاره ئے مداخیلو ته کډه او کړه، روستو ئے دخوئے بدل واخستو او بیرته خپل کلی ته راغے او په ۲۴/ مارچ ۱۹۱۶ء په خپل مرگ په حق اورسیدو۔

په هندوانو باندے زمونږ دَحقوقو او په کليو، جوماتونو او مزارونو باندے تاکلے شوے باجګزارئ ته په درنه سترګه اوګورى ـ

مونږ غواړو چه زمونږ په موجوده حيثيت او قوانينو کښے دِ دَکومو چه بنهٔ احترام او تعيل کولے شى، ګوتے نهٔ شى وهلے او زمونږ مقدمات دِ د شريعتِ محمدىؐ او دَجرګے په مطابق فيصله کولے شى ـ مګر هغه مقدمه چه فريقين ئے دَجرګے له رويه فيصله کول نهٔ غواړى او يا دا ســـے ... مقدمات چه هغه دَ شريعت محمدىؐ او جرګے په ذريعه نهٔ شى فيصله کيدلے، هغه دِ برطانوى حکومت پخپلـه دَ صحيح قانون لاندے فيصله کوى ـ

چونکه مونږ غريب خلق يو، نو د عدالتى فيسونو نه دِ مستثنىٰ کړے شو او حکومت دِ زمونږ نه هيڅ قسم ماليه هم نهٔ آخلى که چرے حکومت زمونږ نه ماليه غواړى نو د هغے تعين دِ په يو څل اوشى او بيا بيا دِ په کښے کمى بيشى نهٔ شى کولے ـ ځنګلونه دِ زمونږ په قبضه کښے پاتے شى او په دے حقله دِ هيڅ محصول نهٔ شى عائد کولے ـ

زمونږ په علاقه کښے دَ اوسپنو دُرنګونه دِ هم زمونږ په تصرّف کښے پريښودلے شى ـ که چرے حکومت په درنګونو قبضه لګول غواړى نو زمونږ دَګزراوقات دپاره دِ معقول

الاؤنس مقرر کړے شی، ځکه چه مونږ غریب خلق یو - زمونږ دُعلاقے قید یانو دپاره دِ دتوچئ په دره کښے جیل تعمیر کړے شی، که دا ممکنه نه وی نو دُ ډیره جاتو په حدود کښے دننه دِ وی -

هر کله چه دُتوچئ لار پرانستلے شی، نو په دے به دَ پاوندانو کاروانونه هم آمد و رفت کوی او زمونږه اونو او ورشوګانو ته به ضرر رسوی - نو کله چه دغه لار پرانستلے کیږی هغه وخت دِ په پاوندانو د بدرګے او ورشوګانو باج اولګی او مونږ ته دِ راکولے شی" ۱

## نعیم شودیاکے

په قطبی وزیرستان کښے فیرنګے دَ ډیورینډ لائن په راکښلو او نوځونو خورولو کښے خو کامیاب شو، ولے دَ توچئ توریالو ځنړیو هم داسے شندے پرے اوکړے چه تر ولایت پورے نے میمے پرے اوژړولے او دَ سیدګی نه تر شیرتنے پورے وزیرو داوړو دومره سختے سختے دغزے ورسره اووهلے چه آزادی پسند وګړی به تل ترتله پرے ویاړی - دغسے په مقابل کښے فیرنګی هم بے تحاشا جانی او مالی تاوانونه ورته اورسول - کله کله خو به نے خلقو ته داسے انسانیت سوز سزاګانے ورکولے چه دَ وحشت او بربریت حد به پرے ختم وو -

دَ نعیم شودیاکی، راشه دین، شواځیر او نذر دین دَ لاشونو سیزل

---

۱ "دی سم انګ اپ"

به دُ فیرنګی په لمن همیشه یو تور داغ اوسی۔

په ۲۶/ فروری ۱۸۹۵ء چه فیرنګی دُ عیدکو په سیمه کښې کیمپ اولګولو نو یو ګورکها سپائی دکیمپ نه په لرِه فاصله بانډے یو ځو اُوبنان څرولو ته بوتلل۔ دغه سپائی مکمل طور مسلح وو۔ هلته نږدے دُ دینی علومو یو طالب علم چه اولیدو نو سمدستی پرے ورغوټه شو او په خنجر ئے ورله ځیګر غلبیل کړو۔ د سپائی ټوپک ئے واخسے او په منډه شو۔ د سپائی دُ مرګ خبر چه کیمپ ته اورسیدو، نو په طالب پسے د فوځیانو چغه رااووته۔ طالب ئے راګیر کړو او په موقع ئے شهید کړو۔ بیائے دده مړے دُ عیدکو کیمپ ته یوړلو او په ۲۷/ فروری ئے د ټولو خلقو په مخکښې اوسیزلو۔ دغه طالب نعیم نومیدو او دُ احمد شودیاکی ځوئے وو، چه په قوم علی خیل توری خیل وزیر وو او دُ لرو داوړو په اُوزی کلی کښې اوسیدلو۔

## دُ درپه خیلو انښته:

یو خوا فیرنګی دُ ډیورینډ لائن په راکښلو کار شروع کړے وو۔ او بل خوا ئے دُ توچئ په سیمه کښې فوځونه خوارهٔ کړی وو۔ په ۱۱/ مارچ ۱۸۹۵ء دُ درپه خیلو کلی ته نخامخ په کټکی کښې چه کوم فوځ پروت وو، دهغے نه یو ځو دستے دُ درپه خیلو په کلی کښې دُ مانړیو نیوو دپاره روانے کړے شوے۔

دُ فوځ په دغو دستو کښې اکثر سیکان او ګورکهیان وو۔ لکه څنګه چه په هر پښتون وګړی دُ خپل کور کلی ستر ګران وی، دغه شان

درپه خیلو هم د فوځ منصبدارانو ته دکلی د ننوتو اجازه ورنهٔ کړه۔ فیرنګے د خپل طاقت په نشه کښے دومره مست وو چه د درپه خیلو دکلی سترسانتلو پروائے اونهٔ کړه او د مټ په زور په کلی ورننه شو۔

د درپه خیلو ځوانان هم ورپسے راووتل او داسے زوردار حمله ئے پرے اوکړه چه سپاهیان ئے لکه د لیونو په کوڅو کښے په زغلیدو کړل۔ ښځو جینکو به د کوټو د بامونو نه پرے داسے منګی کټوئی ورو لے چه ډیرو ته ئے ککرئی ورماتے کړے۔ سپاهیان څوک په کوڅو کښے مړهٔ کړے شول او څوک په ترپ له کلی اووتل۔

په دے انښته کښے ۵۷ تنه فوځیان مړهٔ کړے شول او یولس تنه درپه خیلان په شهادت اورسیدل۔ فیرنګے په خپل دغه ذلیل شکست دومره سخت دلګیر شو چه د درپه خیلو په کلی ئے د یو بلے حملے کولو تابیا اوکړه، ولے درپه خیلو په هم دغه ورځ کلے خالی کړو، او غرونو ته ئے کډے اوکړے۔

<u>راشه دین داوړ :</u>

د راشه دین اصلی نوم رشید الدین وو، خو خلقو به راشه دین بللو۔ یو ځیګر ور زلمے وو او د اسلامی علومو تحصیل ئے کولو۔ د د غے باتور د شجاعت قصه داسے بیانیږی چه د داوړو په بویه نومے علاقه کښے د فیرنګی لوئے کیمپ لګیدلے وو۔ په ۱۳ / مئ ۱۸۹۵ء د کیمپ نه په لږه فاصله میجر جنرل ډیوډ لیمنډ سره د خپل سائیس او اردلی

بال سنګهـ دَ اس نه کوز پلے روان وو۔ راشه دین له ورایه پرے سترګے ښخے کړے وے او دَ دوئ د راتلو په انتظار کښے دَ توت تر سورې لاندے ناست وو۔ دَ ده سره درے نفره نور ملګرې هم وو۔ په دے موقع د توچئ رود په غاړه ګڼړ وسله بند سپاهیان خوارهٔ وارهٔ ګرځیدل۔

دَ راشه دین سره پستول وو او دَ نورو ملګرو سره ئے چړے۔ کله چه لیمنډ ورنزدے شو نو دوئ پرے ناڅاپه ورغوټه شول او لکه دَ چرچڼړو یو تر بله وبله اونښتل۔ لیمنډ، بال سنګهـ او دَ لیمنډ سائیس هم درے واړه مُسلح وو، او یوه توره لوخړه ئے وبله پورته کړه۔

دَ راشه دین ملګرې سپینه خُوله چنړیان وو او هم په دغه شپو ورځو کښے د بنوں نه په رخصت راغلی وو۔ ولے سره دَ دے ئے دومره مړانه اوکړه چه درے واړه ملحدان ئے واصلِ دوزخ کړل۔ او بچپله په منډه شول، ولے د بډه مرغه د فوځیانو چغه ورپسے اورسیده او راشکیل ئے کړل۔ خو دغو باتورانو نیوو ته ځانونه ورنهٔ کړل او تر هغے ورسره تمتر په تمتر او چړو سنګینو کښے انښتی وو، تر څو چه شهیدان شوی نهٔ وو۔

راشه دین، شوائیر او نذر دین په موقع شهیدان شول او اباناسے ئی چه اصلی نوم ئے ابن یمین وو په منډه خلاص شو۔ فیرنګی د خپل لیمنډ[۱] مړے خو بنوں ته واستولو او بچپل مخصوص مړیستون کښے

---

[۱] اصل کښے لیمنډ په ۶ پنجاب انفنټری کښے لیفټیننټ وو، ولے دَ قتل

ئے بنخ کړو، ولے دَ راشه دین او دَ هغهٔ د ملګرو مړی ئے په روډ توچئ کښے وبله دلئ کړل او د ټولو خلقو په وړاندے ئے او سیزل، او بیا ئے په ۱۴/ مئ دَ دوئ دواړو کوروته هم وران کړل - دغه درے واړه زمریان په همزونو داوړو کښے دَ خړے کلی او سیدونکی وو- دَ راشه دین څلورم ملګرے اِبانائ د نعیم ګل اخوند څوئے وو، چه د اغزن کلی همزوئے داوړ وو- اصل کښے دے هم دَ خړے کلی وو- خو تقریباً د شپږو میاشتو نه ئے کورنئ په اغزن کلی کښے میشته شوے وه -

اِبانائ هم دریمه ورځ فیرنګی ته په ګوتو ورغلو او په ۱۶/ مئ ۱۸۹۵ئ ئے دَ داوړو دَ دیګان نومی کلی خوا کښے چاندمارئ کړو، او هم هلته ئے بنخ کړو-

---

نه پس ئے بنوں کښے په قبر د میجر جنرل لیمن لوحه نصب شوه چه نن هم موجوده ده-

ع۲ دَ خړے کلی او سیدونکی اصل کښے سیدان دی- کیدے شی چه پن په دے نسبت دا کلے په صحیح معنیٰ کښے دخیر کلے وی- دَ وزیرستان خلق خړے یا خرهٔ حفاظتی بندونو ته هم وائی - دغو سیدانو به دَ روډ توچئ دَ سیلابی اوبو پرضِد دَ حفاظت دپاره خپلو زمکو ته خړے جوړولے - کیدے شی چه په دے نسبت خړے کلے مشهور شوے وی په قدیمه فارسئ کښے شان و شوکت ته خُرّه وئیلے شی - دا هم امکان لری چه دَ سیدانو دَ جاه وجلال په نسبت دغه کلے په خُرّه کلی مشهور شوے وی او وروستو خُرّه په خرهٔ یا خړے بدل شوے وی -

دَ اباخې مړے فیرنګی اونۀ سیزلو، ولے چه هغه دَ نورو مړو په سیزلو دَ توچئ اولس زبنت برهم شوے وو او هرخواهنګامے او انګازے راپورته شوے وے۔

ایچ - اے انډرسن په دے حقله دا سے رپورټ لیکلے دے
"هغه سوزیدلیو لاشونو په توچئ کښے دومره لوئے اضطراب پیدا کړے دے چه که چرے دا سے واقعه بیا پیښه شی نو دَ یو پولیټیکل افسر په حیث به زۀ د دغسے کاروایئ سفارش چرے هم نۀ اوکړم۔"

دَ عام اشتعال نه علاوه په ۲۴ / مئ ۱۸۹۵ء دَ محمد خیلو داوړو ملادرویش او دَ دره په خیلو داوړو اخوند زاده محمد لطیف دَ فیرنګی یو مسلمان افسر غلام محمد خان ته ورغلل او اخطار ئے ورکړو چه :
"که چرے په توچئ کښے فیرنګے دځان سلامتیا غواړی نو نۀ دِ دَ مسلمانانو لاشونه سوزوی او نۀ دِ د هغوئ په مذهبی اُمورو کښے ګوتے وهی۔"

دَ دغے جرګے نه پسته فیرنګی په توچئ کښے دَ مړو دسیزلونه لاس اونیوو۔

نور اوکتال :

دَ میران شاه زړے قلعے[1] ته نزدے په ۱۷ / مئ ۱۸۹۵ء یو وزیر شپانۀ په وياله بانډے رمه اوبۀ کوله۔ دَ ویالے په غاړه دوه سپایان

---

[1] کال ۱۸۹۵ء کښے چه فیرنګے په وړومبی ځل توچئ ته راغی نو اوله

هم ولاړ وو، چه پولائیس نائیک میرعالم نومیدو او بل هری سنګهـ.
کله چه میرعالم یوخوا شو نو شپانهٔ په هری سنګهـ حمله اوکړه او قتل ئے کړو.

شپانهٔ پسنو ته زور ورکړو. ولے دُ بده مرغه سوارهٔ ورپسے وُرسیدل او شهید ئے کړو. فیرنګی دُ دهٔ رمه خو ضبط کړه ولے دُ تیرو احتجاجی مظاهرو په سبب ئے د دهٔ مړے او نهٔ سیزلو بلکه په ښنهٔ احترام ئے ښخ کړو.

د شپانهٔ دُ پور آخستو په ترځ کښے د انغر کلی نورو دووُ شاه خُلمو چه دُ شپانهٔ خپلوان وو، د ۲۴، مئی ۱۸۹۵ء په شپه په دولسو بجو د ایشے چوکئ ته ورواوړیدل او په سپاهیانو ئے بریډ اوکړو. درے تنه ئے قتل کړل او څلور تنه سخت ژوبل. دوئ پخپله هم دواړه شهیدان شول.

دغه ځوانان یو نور نومیدو او بل کتال. دُ دوئ مړی هم فیرنګی او نهٔ سیزل بلکه ښخ ئے کړل.

ګل باز او نور مست: دُ نور او کتال نه وروستو په یوه بله موقع هم

---

قلعه ئے د میران شاه بنوں په سرک اند ازتاً دُ یو میل په فاصله باندے جوړه کړه. دغه سیمه دُ میران شاه داوړو ده. په دے نسبت قلعه دُ میران شاه په نوم موسومه شوه. کال ۱۹۰۵ء کښے چه موجوده قلعه جوړه شوه نو فیرنګی هغه قلعه پریښوده، خو د قلعے هغه زمکه اوس هم په زړه قلعه شهرت لری. دغسے نوے قلعه هم په میران شاه قلعه اوبللے شوه. د قلعے سره جوخت سرائے هم په میران شاه شهرت پیدا کړو.

دَ غازیانو مړی اونه سیزلے شول ـ اوس دَ فیرنګی ستر مکے غرپیں لے وے او دَ سیزلو دکار نه به ئے احتراز کولو ـ

په ۲۵/ مئی ۱۸۹۵ء ملبان نورمست او د دوئ یو څو نورو ملګرو دَمیران شاه په کیمپ دَ شپے حمله اوکړه او یو تعداد سپایان ئے درغړئ کړل ـ دوئ پخپله هم دواړه شهیدان شول او مړی ئے فیرنګی ته وړپاتے شول ـ فیرنګی په دے موقع هم دواړه لاشونه خاوړو ته اوسپارل ـ دغه توریال هم دواړه دَ انغزکلی مامیت خیل وزیر وو ـ

## په کمبل حمله : ( LT • COMPBELL )

په ۳۱/ جولائی ۱۸۹۵ء لیفټیننټ کمبل او ورسره دولس تنه سواره دَ بویه کیمپ نه دمیروغه په طرف دلارے دمعائنے کولو دپاره وتلی وو ـ په راستیندو د کیمپ نه شپږ میله لرے جبارخان او ډنګرخان منظر خیلو وزیرو پرے یو څو ډزے اوکړے ـ یوه ګولئ د کمبل په پښه اولګیده، هډوکے ئے مات شو ـ بله دَ ده په اَس بنحه شوه ـ په موقع هلاک شو ـ او حمله کوونکی دواړه سلامت لاړل

## پولټیکل ایجنټان ( افسران )

دَ کال ۱۸۴۹ء نه چه فیرنګی د سیک نه مکمل طور صوبه[۱] سرحد واخستلو نو تر ۱۸۹۵ء پورے وزیرستان دَ ډیره اسماعیل خان او بنون

---

[۱] په ۹/ نومبر ۱۹۰۱ء کښے فیرنګی د سرحد په نوی ډول تشکیل اوکړو او دغه سیمه ئے څان ته بیله صوبه اوټاکله ـ

ضلعو د ډپټي کمشنرانو د اثر لاندې وو- ۱۲ / نومبر سنه ۱۸۹۳ء پورې دغه علاقه د برطانيې زير اثر نهٔ وه- کله چه امير عبدالرحمان د ډيورينډ لائن په معاهدهٔ دستخط اوکړو او بغير د بيرمل د وزيرستان دَ نورو علاقو نه دستبردار شو او اپريل سنه ۱۸۹۵ء کښې ډيورينډ لائن (کرښه) راکښلے شو، نو فيرنګي په توچئ کښې ځان آبادول شروع کړل او دَ ليوې پوستونه ئې جوړ کړل-

په ميران شاه کښې دَ موجوده قلعې نه جنوب پله په يو ميل فاصله باندې دَ ميران شاه بنوں په سړک يو لوئې مضبوط فوځي ګيريزن قائم کړے شو او هم په دغه کال اکتوبر سنه ۱۸۹۵ء کښې فيرنګي په توچئ قبضه اولګوله او د سوئيلي او قطبي وزيرستان دواړو برخو دپاره په ړومبي ځل پولټيکل ايجنټان مقرر کړے شول-

دَ سوئيلي وزيرستان پولټيکل ايجنټ وانا او دَ قطبي وزيرستان پولټيکل ايجنټ ميران شاه خپل مرکزونه اوټاکل - دَ وزيرستان يوه برخه ساؤتھ وزيرستان ايجنسي اوبللے شوه او بله توچي ايجنسي- وروستو دَ مرزيں وُسعت په بنا توچي ايجنسي په نارتھ وزيرستان ايجنسي کښې مدغم شوه-

## ډيورينډ لائن

هسے خو په ۲۵ / جون سنه ۱۸۳۸ء کښې د کابل شاه شجاع د يوې معاهدې له رويه دَ وزيرستان توريالي خلق سيکانو ته حواله کړي وو- او انګريزان

په کښې ګواهان ناست وو- خو وروستو چه حالات بدل شول- سیکان دَ انګریزانو دلاسه اووهلے شول، نو په کال ۱۸۹۳ء کښې فیرنګی یو ځل بیا دافغانستان سره دحد بندئ سوال اوچت کړو او دَ افغانستان سره ئے د خپل برید د جوتون بله معاهده اوکړه-

په دے معاهده کښې دَ فیرنګی له خوا نه سرمارټیمر ډیورینډ[۱] او دَ افغان حکومت له خوا نه پخپله امیر عبد الرحمان شریک وو- دوئ دَ خپلو دواړو مملکتونو ترمینځه د یو بے کرښے راکښلو معاهده اوکړه او نقشه ئے تیاره کړه، دغے کرښے ته دوئ "ډیورینډ لائن" نوم ورکړو-

په دغه معاهده باندے دافغانستان امیر عبدالرحمان په ۱۲/ نومبر ۱۸۹۳ء په کابل کښې دستخط اوکړو- دَ دغے معاهدے له مخه دَ بیرمل نه بغیر نور ټول وزیرستان دَ انګریزانو په قبضه کښې پاتے شو- د دے معاهدے په حقله امیر عبدالرحمان پخپله خود

---

[۱] بناغلے عبدالحمید ترین دَ خپل کتاب "فقیر ایپئ" په صفحه نمبر ۲ لیکی چه "دَ ډیورینډ قبر د ډیره اسماعیل خان په چهاونړئ کښې د چرچ په احاطه کښې دے- دا صحیح نه ده، ولے چه دغه قبر دَ لیفټیننټ جنرل هنری ماری ین ډیورینډ دے کوم چه یکم جنوری ۱۸۷۱ء کښې د ټانک په مقام د هاتی نه پریوتے وو او هلاک شوے وو او په رائل انجنیرنګ کښې تر لیفټیننټ جنرل عهدے پورے رسیدلے وو- هم دغه سهوه بناغلی عارف محسود هم په خپل کتاب "وزیرستان کُرّم سے ګومل تک" کښې کړے ده-

نوشت سوانح حیات کښے دا سے اظهار خیال کوی۔

"سر مارټیمر ډیورینډ په ۱۹/ ستمبر ۱۸۹۳ء د پیښور نه د کابل په نیت رار وان شو۔ د کابل په حدود کښے د داخلیدو نه پس د دے جرګے استقبال ته زما جرنیل غلام حیدر چرخی ولاړ وو۔

دا جرګه په ۲/ اکتوبر کابل ته راورسیده او د دوی په اعزاز کښے ډیوویشتو توپونو سلامی اوشوه۔ ما د خپل ځوئے حبیب الله په محل کښے د دوی د قیام بندوبست کړے وو د رسمی دربار نه پس مونږ زر په اصلی معاملاتو بحث شروع کړو۔ ډیورینډ یو ماهر سیاستدان او د فارسی ښه عالم دے خبره ډیره زر ترسره شوه۔ لیکن په دے غرض چه زما د مارټیمر ډیورینډ او د مشن د نورو غړو د خولے نه وتلے هر لفظ دے په ریکارډ کښے محفوظ کړے شی، ما خپل میر منشی سلطان محمد خان د پرده شاته کښینولے وو۔ دے نه خوچا لیدلے شو او نه زما نه بغیر د ده په موجودګئ څوک بل خبر وو۔ ما ده ته ویلی وو، چه د دوی هره خبره خوا که زمونږ سره وی یا د دوی په خپل مینځ کښے، په فارسی کښے وی یا انګلیسئ کښے، ټکی په ټکی لیک کښے راوله۔ او هغه (سلطان محمد خان) زمونږ دا ټولے خبرے په شارټ هینډ کښے اولیکلے او زما، د ډیورینډ او د جرګے د نورو غړو

ترمینځه چه کومے خبرے شوے وے، هغه په دفتری ریکارډ کښے خوندی دی۔

دَ دے ټولو خبرو اترو نتیجه دا شوه چه دَچترال او دره بروغیل نه واخله تر پیښور او د هغے ځائے نه ترکوه ملک سیاه (چرته چه ایران، افغانستان او بلوچستان وبله ملاویږی) پورے دَ سرحد جوتون په دے ډول اوشو چه واخن، کافرستان، اسمار، دلالپورے مهمند او دَ وزیرستان یوه حصه برمل زما په سلطنت کښے راغله او زهٔ د نوی چمن ریلوے سټیشن چغئ باقی وزیرستان بُلند خیل۔ کُرم۔ افریدی، باجوړ، سوات، بنیر، دیر، چلاس اوچترال په علاقو باندے دخپل حق نه دستبرداره شوم۔

دَدوئ دا قیام ډیر خوشګوار وو او د دے معاهدے په وجه ټولے غلطئ او تنازعے چه د دے علاقو په حقله به پورته کیدلے ختمے شوے، اوهر کله چه دَحد بندئ کربنه دَ پورتنئ معاهدے په مطابق دَ دواړو حکومتو نو دکمشنرانو په نګرانئ کښے قائمه کړے شوه نو دَسکوت او اطمینان فضا خوره شوه او زهٔ دَ الله تعالیٰ نه خواست کوم چه دا فضا دِ تل قائمه اوسی۔"؏

---

؏ په کابل کښے دَ ډیورینډ د معاهدے په ترخ کښے حکومت برطانیے دَ امیر دَ شپږ و لکهو روپو په رقم بنئ کالیزه ګرانټ کښے دَ شپږ و لکهو روپو مزید اضافه اوکړه۔

کال سنه ۱۹۰۱ء کښې چه امیر عبدالرحمان د فالج په عارضه وفات شو نو دَ ده ځوئے امیر حبیب الله خان د ډیورینډ دَ معاهدے تجدید په دے الفاظو کښې اوکړو :

"کوم لوظونه او معاهدات چه زما دَ پلار اعلیٰ حضرت امیر عبدالرحمان مرحوم او د برطانوی حکومت ترمینځه شوی دی، ما په هغے ټولو عمل کړے دے۔ عمل پرے کوم او عمل به پرے کوم۔"

فروری سنه ۱۹۱۹ء کښې دَ امیر حبیب الله خان د قتل نه پس چه امیر امان الله خان په تخت کښیناستو او دَ وزیرستان توریالو ځوانانو د ده په معاونت کښې په فیرنګی باندے تاخت و باخت شروع کړو۔ په شرمونو ئے اوشرمولو او آمان الله خان ئے د ده دَ استعماري پنجو نه آزاد کړو، نو په ۸/ اګست سنه ۱۹۱۹ء چه په راولپنډۍ کښې د ده مِشن په "معاهدۂ سنه ۱۹۱۹" دستخطونه کول نو ورسره ورسره ئے ډیورینډ لائن معاهده هم بیا تازه کړه۔

په اپریل سنه ۱۹۲۰ء کښې دَ منصورۍ په مقام د مستقلے صلحے د معاهدے په غرض یو بل کانفرنس منعقد شو۔ داځل دَ افغان وفد سردار محمود خان طرزی وو، چه د امان الله خان سخر او په هغه زمانه کښې دَ افغانستان وزیر خارجه وو۔ په دے معاهده کښې هم دَ ډیورینډ کرښه په لاندینو ټکو کښې په ښپل ځائے پاتے شوه او هیڅ قسم ردّوبدل په کښې اونه شو۔

"دوارو معززے جرگے په یوه خوله د هند او د افغانستان ترمینځه هغه حد بندي تسلیموي کومه چه د ۸/ اګست ۱۹۱۹ء د معاهدے په پنځمه دفعه کښې افغان حکومت منلے ده"

په ۲۲/ نومبر ۱۹۱۹ء دغه معاهده بیا تازه شوه۔

په ۷/ جنوری ۱۹۲۸ء چه کله امان الله خان تخت پرېښود، حبیب الله عُرف بچه سقه قبضه پرے اوکړه او بیا د وزیرستان د تورزنو شاه ځلمو په مدد سره بچه سقه او وهلے شو او اکتوبر ۱۹۲۹ء کښې نادر خان په تخت کښېناستو نو په ۶/ مئ ۱۹۳۰ء چه د برطانوي حکومت د امورِ خارجه سکریټري او په لندن کښې د افغان وزیر ترمینځه کوم خط وکتابت شوے وو، د هغې د لاندینو اقتباساتو نه دا معلومیږي چه شاه نادرخان هم د پخوانۍ معاهدۍ منلے وه او وزیرستان ئے د انګریزانو په خوله کښې غورځولے وو۔ لکه د برطانوي حکومت له خوا:

"مونږ ته دا مناسب ښکاري چه شاه محمد نادرشاه د سلطنتِ افغانستان په تخت د جلوه افروزۍ تر پیش نظر دا اعلان اوکړي، چه هغه معاهده اوس هم قائمه ده، کومه چه په ۲۲/ نومبر ۱۹۱۹ء په کابل کښې ترسره شوے وه - زه دغه خبره په معرضِ تحریر کښې راوستل غواړم، چه مونږ اوس هم دا غواړو چه دغه معاهدے بدستور پوره قائمے

او نافذ ے وی ۔"

دَ اعلیٰ حضرت نادر شاه له خوا :

"زهٔ په ځواب کښې دغه خبره په معرض تحریر کښې راولم چه مونږ غواړو چه دغه معاهدے بدستور پوره پوره قائمے او نافذ ے وی ۔"

کله چه په ۸/ نومبر ۱۹۳۳ء شاه نادر خان د عبدالخالق نومے یو طالب علم دلاسه د تقسیم اسناد دَ یوے جلسے په موقع اووژلے شو ۔ او شاه ظاهر شاه په تخت کښیناستو نو دهٔ په دَور کښې هم وزیرستان دَ انګریزانو زیر اقتدار پریښودلے شو ۔

۱۴/ اګست ۱۹۴۷ء کښې چه پاکستان جوړ شو نو دَ وزیرستان قبائلو په کښې پخپله مرضئ شمولیت غوره اوګڼړلو ۔

دَ امیر عبدالرحمان یو مکتوب

امیر عبدالرحمان په یو خط کښې ، کوم چه دهٔ وائسرائے هند ته په ۲۵/ صفر ۱۳۱۲ھ بمطابق ۲۷/ اګست ۱۸۹۴ء لیکلے وو ۔ دَ هغے په رڼرا کښې امیر موصوف د انګریزانو دَ دوستئ په آساس د اطمینان اظهار کوی ۔ او بیا د اورته په ګوته کوی ، چه د انګریزانو سره د دوستئ په تړون کښې افغان اولس دا هیله لری چه اوس به دَ روسیانو دَ شر نه په امن شی ۔ دَ دینه پرته د روس د توسیع پسندانه عزائمو په خلاف دَ دفاعی انتظاماتو او په افغانستان کښې دَ کړکیچنو حالاتو له کبله په ډیورینډ لائن باندے د کار تیزولو پخقله تاکید کوی ۔ ع۱

"بنائی چه ستاسو ایکسلینسی، برطانوی افسرانو ته اولیکی چه د سرحد د تقسیم پحقله زمونږ زړونه نهٔ زخمی کوی او دغه معامله زر تر سره کړی۔"

دٔ امیر عبدالرحمان د خط په ځواب کښې وایسرائے هند په ۱۳/ ستمبر ۱۸۹۴ء داسے لیکی چه :

"زهٔ تاسو ته اطمینان درکولے شم، چه ما برطانوی کمشنرانو ته خصوصی هدایات ورکړی دی، نهٔ یوازې دا چه هغوئی کارګرندے کړی، بلکه دغه هرڅه دٔ دوستانه جذبے لاندے اوکړی۔"

**ګلستان شهید :**

۲۶/ فروری[۲] ۱۸۹۵ء کښې چه دٔ جنرل سر ولیم لاکهارټ په

---

ع۱ "INDO-AFGHAN BOUNDRY" FILE NO I

ع۲ بناغلی عبدالحلیم اثر "دٔ زمونږ مجاهدین" په صفحه نمبر ۵۱-۵۲ سهوًا لیکلی دی چه "دٔ وزیرستے ملا صاحب دٔ شهادت نه روستو په ۱۸۹۲ء کښې چه دٔ برطانیے دٔ ملکه وکټوریه د بادشاهئ شپے ورځے وے۔ د فرنګی لښکرے د جنرل سر لاکهارټ په کمان کښې د توچئ پر سیمه وراوختے او دغه خاوره ئے اونیوه۔" حالانکه د جنرل سر لاکهارټ په کمان کښې د فرنګی لښکرے په کال ۱۸۹۵ء کښې توچئ ته راغلے او دغه سیمه ئے قبضه کړے وه۔ همدغه رنګ وزیرستے ملا صاحب د کال ۱۸۹۳ء په خواوشا په خپل مرګ په حق رسیدلے دے۔

کمان کښې په توچي فوځونه ورواوختل او اکتوبر ۱۸۹۵ء پورې فیرنګي دغه علاقه قبضه کړه نو ورپسې پولیټیکل ایجنټ ورته مسټر ایچ - اے - کیسن ع۱ MR.H.A.CASSON مقرر شو۔

دغه وخت ورته توچي پولیټیکل افسر ویلې شو۔ مسټر کیسن په ۱۳ / مارچ ۱۸۹۶ء د میرعلي تحصیل په دوره وتلے وو۔ او د حسوخیلو په کلي کښې د حاجي سرمست ع۲ زیارت کتو له روان وو۔ د برو خیلو داوړو ګلستان نومې یو ځوان چه د دے نه خبرشو نو دا ئې د حاجي سرمست د روضې بې حرمتي اوګڼړله۔ سمدستي ئې خپل دوه ملګري خبرکړل۔ دریو واړو تورې راواخستې او په مسټر کیسن ئې داسې زوردار حمله اوکړه، چه د ټکه ئې ټوټې ټوټې کړو۔ د تحصیلدار جمعدار ظفرخان په مشرئ کښې چه کومه بدرګه د مسټر کیسن سره موجوده وه، په هغو کښې سید شاه ع۳ نومې تپي داوړ ګلستان هم په تورو اووهلو او شهید ئې کړو۔

---

ع۱ داوړو به کیشنړ بللو۔ ع۲ حاجي سرمست په ختـه داوړ وو۔ د مغلیه دور سلطنت په زمانه کښې په علم پسې دهلي ته تلے وو۔ الله پاک د کرامت څښتن کړو۔ مغل بادشاهانو به ئې ډیر قدر کولو۔ کله چه وفات شو نو خپل کلي حسوخیلو ته ئې راوړو او د مغلیه طرز تعمیر بنګلے دوه منزله مقبره پرې جوړه کړے شوه۔ خو د وخت د تیریدو سره ئې اوس یو منزل ضائع شوے دے۔ د حاجي سرمست نور حالات معلوم نۀ دي۔ ع۳ ویلې شي چه د ده میراته شوه۔

دُ دهٔ هغه نور دوه ملګری زوته خان او میرحسن هم دَحسو خیلو په کلی کښې اونیولے شول او وروستو قید پرے او خیژولے شو.

دُملا پاوندهؒ سرګرمیٔ :

دُ مسټر کیسن دقتل سره په وزیرستان کښې وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو په فیرنګی پسے بړ هے اوو هلے او لورد لوری نه ئے په سرکاری کانوایٔ او پوستونو باندے بریډونه شروع کړل. خصوصاً دغه بریډونه په کال ۱۸۹۷ء او ۱۸۹۸ء کښې په ډیر زور شور سره وو.

په سویلی وزیرستان کښې ملا پاوندهؒ هم په ۲۸/جون ۱۸۹۶ء دُ مروتی نه راووتو. یو خوا ئے دُ مساعد وحالاتو له کبله دُ فیرنګی په خلاف تحریک روان کړو او بل خوا ئے دجهاد دپاره دُ "شکرانے" په نوم چنده ټولول شروع کړل.

په دے موقع دُ دهٔ سره اندازتاً دُ ن روکسانو لشکر وو، چه هغه وخت ورته شیخان او طالبان ویلے شول. انګریزانو هم د دهٔ په مقابل کښې ګنړ برخې پیدا کړی وو، ولے هغوی پخپلو ناوړو ارادو کښې کامیاب نهٔ وو. او دُ ملا پاوندهؒ تحریک په تیزیٔ سره مخ په وړاندے روان وو.

په ۳/جون ۱۸۹۶ء هغه رزمک ته راغلو او په ممی روغه منظرخیلو کښې ئے چنده وصول کړه او شپه ئے په رزانی کښې اوکړه. دچندے مقدار به دُملا پاوندهؒ په خوښه په اوربل ادا کولے شو. د دے ځائے نه هغه توت نری او پایٔ خیلو داوړو ته لاړو. هلته دملک خان محمد خان محمد خیل داوړ په لمسه پایٔ خیلو چنده ورنهٔ کړه او دهٔ

په بدل کښې د دوئ يو څو ماڼئ وو ته د اُور اچولو کوشش اوکړو۔

دَ دے ځائے نه ملا پاونده رح شير خانے او مائيزر ته لاړو۔ بيا په يکم جولائی نے دخيسارہ، توری خيلو، په ۲/ جولائی نے دعلی خيلو، توری خيلو، په ۳/ جولائی نے دَ ميرعلی مدی خيلو او په ۴/ جولائی نے دَ خوشحالئ د درے پلاری شاخ رسول خيلو څخه چنده وصول کړه۔

دَ ملا پاونده رح دکاميابے دورے نه فيرنګی اوويريدلو او ده ته نے خپل لوظونه وريه ياد کړل۔ ملا پاونده رح په ځواب کښے غلام محمد خان ته چه دَ پوليس اسسټنټ سپرنټنډنټ وو په ۴/ جولائی سنه ۱۸۹۶ء کښے خط اوليکلو۔

غلام محمد ته دَ ملا پاونده رح خط

"وزيرو محسود په دے رضا شوی دی چه دغه فقير (ملا پاونده) دخپلو طالبانو، شيخانو او نوکرانو په تعاون سره په غلو غدو، سودخورو او بے دينه خلقو چه دَ شريعت په خلاف کارکوی، بنديز او جرمانے اولګوی۔ دَ دے مقصد دپاره ما خپل ملګری راغونډ کړی دی او د سرکار سره دَ جنګ کولو هيڅ اراده نه لرم۔

په جاسوسانو اعتبار مه کوه کوم چه دَ پيسو دپاره دروغ وائی او د پيسو ګټلو لالچ کوی۔ سرکار ته دا هم معلومه وی چه زما سره دَ مسټر بروس مهرشده خط موجود دے چه د هغے متن دا دے چه:

"تو له غزنیزه سیمه مُلا پاوندهؒ ته بخشش ورکولے شي"۔ که چرے حکومت دغه سیمه بخشش نهٔ راکوي او خپله وعده نهٔ پوره کوي نو مهرباني اوکړه ما خبر کړه، چه زهٔ صبر کړم، ځکه چه زهٔ د جنګ طاقت نهٔ لرم۔ که چرے حکومت زمونږ غزنیزه سیمه د طاقت په زور نیسي نو بیا هم ما خبر کړه چه زهٔ او زما خاندان خپل جائیداد خرچ کړو او یو بل ملک ته هجرت اوکړو"۔[1]

دغه خط دُ ملا پاوندهؒ یو مخصوص خط نویس طالب لیکلے وو، چه په خټه حیدرخیل داوړ وو۔ په ۶/جولائی ملا پاوندهؒ خیساره ته اوختو او د دوسلی مامیت خیلو وزیرو نه ئے د شکرانے پیسے وصول کړے۔

د چندے د ټولولو په دوران کښے به ملا پاوندهؒ د ملکانانو او سرکاري اهلکارانو په خلاف هم تحریک چلولو او ملایانو ته به ئے ویل چه تاسو دُ دوئ د جنازے مونځ مهٔ کوئ۔ له دے نه پرته به دهٔ پټ په پټه دُ امیر سره د ملاقات په غرض کابل ته د تلو تیاری هم کوله۔ د محسودو ملکانانو سره دُ ملا پاوندهؒ د مخالفانه تحریک نه زبردسته ویره پیدا شوه او دُ وانا پولټیکل افسر اے۔جي ګرانټ ته ئے په ۱۵/جولائی ۱۸۹۶ء لاندینئ درخواست ورکړو۔

دُ محسودو ملکانانو درخواست

"مونږ حکومت ته دُ ملا پاوندهؒ د چال چلند په حقله چا چه د

---

[1] بحواله "فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ مورخه اګست ۱۸۹۶ء فائیل نمبر ۷۶"

محسودو په غروبو کښې زبردست طاقت پيدا کړے دے، دَ رپورټ کولو دپاره راغلي يو. هغه خپل ځان ډير معتبر او مقتدر ګڼړي. هغهٔ برملا اعلان کړے دے، چه هغه به دَ راتلونکے هفتے په ورځ دَ امير دملاقات دپاره کابل ته روانيږی. روميے به دَ بيرمل خليفه ګوری او بيا به سردار ګل محمد ته ورځی.

دَ دهٔ سره چه دَ بدرګے په توګه کوم خلق تلو ته تيار دی هغه عموماً محسود، احمد زئ او داوړ دی. په تيرو ورځو کښې چه دهٔ د شکرانے په نوم کومے روپئ غونډے کړے وے، هغه به هم دَ ځان سره اوړی. ويلے شی چه هغه به د مکين او سپين کمر په لار ارګن ته روانيږی.

دَ ملا پاوندہ دَ تيرو حرکاتو او موجوده کړو وړو له کبله زمونږ دا پوخ يقين دے، چه هغه چه هرڅه کوی، هغه دَ امير يا ګل محمد او يا دَ بيرمل خليفه په ايما کيږی. هغهٔ اوس دَ امير دَ ملاقات دپاره کابل ته دَ تلو پوره پوره تياری کړے ده، ممکنه ده، چه هغه په واپسئ دَ امير څخه دَ وسلے په شکل کښې څه امداد هم حاصل کړی. که چرے دغسے اوشی، نو کيدے شی چه هغه دَ محسودو په علاقه کښې دانګريزانو دَ ملازمينو په وژلو باندے مشکلات راپورته کړی، چونکه په دا سے حالاتو قابو راوستل زمونږ

دوُس خبرہ نۀ دہ، نوکیدے شی چہ زمونږ او د حکومت ترمینځہ تعلقات کشیدہ شی۔

مونږ ملکانانو دَحکومت وفادار یو او پخپلو ارادو کښے محکم یو، له دے جهت درخواست کوو، چه حکومت دِ زمونږ په خاطر په دے سلسله کښے مداخلت اوکړی۔

ملا پاوندہ رح دَخپلے ناراضګئ په بنا یو فرمان جاری کړے دے چه:

"مُلایان دِ د سرکاری ملازمینو، ملکانانو او جاسوسانو جنازہ نۀ کوی"

مونږ تحقیق کړے دے۔ دغسے حکمونه دَشریعت محمدی ص دَاصولو منافی دی او د مذهبی رسوماتو په اداکولو هیڅ قسم پابندی نۀ شی لګیدے۔ د مروتو مُلا (ملا داد محمد) په دے حقله په ډانګ پیلی ویلی دی چه:

"دَملا پاوندہ رح دداسے مسائلو فرمان دشریعت دَ اصولو او د محمد ص دَعقائدو خلاف دے"

مونږ ملا پاوندہ رح ته ویلی دی چه ته زمونږ سرہ په دے مسئله بحث اوکړه، مګر هغۀ انکار اوکړو۔ د مړګ نه پس د جنازے دَرسوماتو نۀ اداکول زمونږ دپارہ دَدقت او زمونږ د قبیلو دپارہ دَذلت باعث دے۔ ملا پاوندہ رح داسے حکمونه د امیر کابل یا د دۀ د نورو بریځو د ترغیب نه بغیر

هیڅ کله نه شي جاري کولے، نو ځکه مونږ خواست کوو، چه زمونږ په دغه مشترکه درخواست د همدردانه غور او شي او حکومت د د روانو حالاتو نه نیوے اوکړي[ع۱] ۔

په دے درخواست باندے لاندینو ملکانانو خپل مهرونه ثبت کړي دي ۔

۱- اعظم ، ګوری خیل
۲- تیرسام ، غلیزئ
۳- ظفر ، کامریرانئ
۴- اکبر شاه، شامیرانئ
۵- جنګ بهادر ولد بهادر دین، غلیزئ
۶- ګلادین، وزیرګائ
۷- محمد افضل ، لنګرخیل
۸- صاحب داد، تراکرائے، غلیزئ
۹- ګلامیر ، فریدائ
۱۰- قیصر ، شابی خیل
۱۱- آوالی
۱۲- سیّد
۱۳- حاجی محمد
۱۴- اسم شاه
۱۵- مسته خان
۱۶- نامر
۱۷- غازو
۱۸- غلی خان
۱۹- آزاد خان
۲۰- هلال
۲۱- قصاب
۲۲- شاهزاده
۲۳- شامیرائ
۲۴- صالح خان
۲۵- خواجه محمد
۲۶- کریم خان
۲۷- محمد یار

---

ع۱ ف نمبر ۲۷ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ مورخه اګست سنه ۱۸۹۶ء

۲۸- موسے داد
۲۹- قائم شاه
۳۰- فوجدار
۳۱- عملدار
۳۲- گل ولی
۳۳- شاهزر
۳۴- احمدخان
۳۵- عاشق
۳۶- محمدعلی
۳۷- تجبرخان
۳۸- زردک
۳۹- نظام الدین
۴۰- گل خان
۴۱- صاحب داد
۴۲- شاه وردین
۴۳- مامیدار
۴۴- شاهزاد، شابی خیل
۴۵- لال گل
۴۶- الله باغ
۴۷- غازی
۴۸- پهلوان
۴۹- کلیم
۵۰- بالاحصار

* * *

ملا پاوَنده رح یو خوا دَ انگریزانو او دَ هغوئ د مرستیالو په خلاف تحریک چلولو او بل خواۓ وزیرستان ته د فرنګیانو د راتګ او دَ .... ډیورینډ لائن دَ معاهدے په خلاف کابل ته د تلو تیاری کوله۔ په مقابل کښے د محسودو ملکانانو هم د دهٔ کړهٔ وړهٔ په نظر کښے ساتل۔ او هرکله ئے چه خطره محسوسه کړه نو یو ځل ئے بیا په ۱۷/جولائی ۱۸۹۶ء سنه دَ وانا پولیټیکل افسر اے۔ جی ګرانټ ته لاندینے درخواست وړکړو : دَ محسودو ملکانانو بل درخواست

"مونږ دَ محسودو مُعتمد ملکانان راغلي یُو او په مؤدبانه طور

غواړو چه حکومت ته د ملا پاوونده رح د چال چلن په حقله حقائق بیان کړو - د هغې وخت نه چه کله حکومت زمونږ سره په اپوزی[1] اګریمنټ کړے دے - او مونږ ته ئے الاؤنسونه راکړي دي، تر نن ورځے پورے قبائلی اولس زمونږ مخالف دے - خصوصاً ملا پاوونده رح په محسودو کښے دومره قدرت پیدا کړے دے، چه زمونږ په خلاف ئے لوئے بدګمانئ خورے کړے دي - د دے نه پرته مونږ دا هم په ګوته کول غواړو چه په مونږ کښے دننه هم د دوستئ په جامه کښے داسے بدخواهان موجود دي، چه هغوئ زمونږ جاهل او کوتاه اندیشه خلق زمونږ په خلاف لمسوی -

زمونږ دا یقین دے چه ترڅو پورے برطانوی حکومت زمونږ علاقے ته راغلے نه وی او قبضه ئے پرے لګولے نه وی، تر هغه به زمونږ قبائل همدغه شان اوسی - او زمونږ په خلاف به مخاصمانه سرګرمئ جاری ساتی -

مونږ نن حکومت ته په کلکه او په عقل و هوش سره درخواست کوو، چه زمونږ وطن ته راشی او د خپل کنټرول لاندے ئے راولی - او په کانی ګرم، مکین او داسے نورو ځایونو باندے چوکئ جوړے کړی - هر کله چه حکومت زمونږ وطن ته راشی او حکومت پرے روان کړی نو زمونږ دا پوخ اُمید

---

[1] ژوب ته اپوزے او فورټ سنډے مین هم ویلے شی -

دے چه مونږ به خپل قبائلی اولس دَ مشکلاتو پیدا کولو څخه منع کړے شو او په دغه واحده طریقه په وطن کښے د امن و امان قیام ممکن کیدے شی -

د امن قائمولو دپاره ، کوم ته چه مونږ پخپله هم مینه دار یُو، دا ضروری ده ، چه ملا پاوندهؒ دَ وطن څخه په وتو مجبوره کړے شی - ځکه هغه به همیشه زمونږ او د حکومت مخالف اوسی - دا ربنتیا دی چه ملا پاوندهؒ دا حکم کړے دے چه دَ سرکاری ملازم یا دَ هغو خلقو کوم چه دَ سرکار نه الاؤنسونه آخلی ، په مرګ دِ دَ هغوی دجنازے مذهبی رسومات نهٔ شی ادا کولے - او هغهٔ زمونږ او زمونږ د قبائلو په ما بین کښے زښتے بدګمانئ راپیدا کړے دی - ولے دا په دے نه چه ګنی مونږ دَ ځان دپاره وایوٗ - بلکه اوس واقعات اپوټه شوی دی او مونږ ویریږو چه څه داسے بلوه نهٔ شی راپورته چه مونږ هم رُسوا شو او حکومت ته هم مشکلات پیدا شی - دَ دے نه علاوه مونږ په دے بنهٔ پوهه یو چه یوه ورځ به ضرور حکومت زمونږه علاقے ته راننوځی او قبضه به پرے کوی - نو مونږه غواړو چه اوس حکومت راشی - ځکه چه نن وخت ډیر موزون دے - بلکه په دے حقله مونږ به ټینګه درخواست هم کوو - د قبضه کولو نه پس به دا علاقه دَ حکومت په تصرّف کښے راشی او په ټولو جنګلاتو ، زمکو او

تجارتي کاروبار به ماليه او اولګان اولګي، د کومونه چه اندازتاً دکال دوه لکهه روپئ محاصل جوړېږي -

په آخر کښې مونږ عرض کوو، چه هر کله دا علاقه قبضه کړے شي نو دَ غهٔ غهٔ ملکانانو الاونسونه دِ زيات کړے شي او دَ هغو وړو ملکانانو نومونه دِ، کوم چه لږ يا هيڅ څه قدرت نهٔ لري او دَ څه عملي امداد کولو جوګه نهٔ دي، د الاونس يافته کسانو د فهرست نه ختم کړے شي او هغه بچت دِ د لويو لويو ملکانانو په مابين کښې اوو يشلے شي - مونږ دا درخواست هم کوو، چه مونږ دِ د بيګار څخه مستثنیٰ کړے شو -

دَ پولټيکل افسر د هدايات په مطابق مونږ خواست کوو چه زمونږ درخواست دِ تر هغه پورے زير غور او ساتلے شي ترڅو چه د کابل نه په راستيدو دَ ملا پاوندہ ارادے معلومے شوے نهٔ وي -"[1]

په دے درخواست باندے لاندينو ملکانانو مُهرونه لګولي دي

| غليزئ | |
|---|---|
| ۱- محمد افضل، لنګرخيل | ۴- ساده مير، پالي خيل |
| ۲- جنګ بهادر ولد بهادر دين لنګرخيل | ۵- زوردست، شاميرائي |
| ۳- ګلا دين، وزيرګائي | ۶- مصطفیٰ، شابي خيل |
| | ۷- تيتائي، " |
| | ۸- محمد آياز، " |

---

[1] فائيل نمبر ۱۷۶ فارن (فرنټير) ډيپارټمنټ مورخه اګست سنه ۱۸۹۶ء

۹۔ شاھزر، شابی خیل

۱۰۔ لال گل، 〃

۱۱۔ شانیر، باروی خیل

## بھلول زئی

۱۲۔ میراجل، ھیبت خیل

۱۳۔ برامت خان، ایمل خیل

۱۴۔ عنبرین، شینکئ

۱۵۔ قجیر، 〃

۱۶۔ محمد علی، 〃

۱۷۔ حسنی، ایمل خیل

۱۸۔ امیر، 〃

۱۹۔ ماخر، 〃

۲۰۔ علی خان، 〃

۲۱۔ شادی، 〃

۲۲۔ اکبر خان، ایمل خیل

۲۳۔ رزم دین، عبدلائی

۲۴۔ عظیم خان، 〃

۲۵۔ موسیٰ خان 〃

۲۶۔ بارہ خان، ھیبت خیل

## شمن خیل

۲۷۔ اللہ باغ، خالی خیل

۲۸۔ غازی، 〃

۲۹۔ مورت خان، 〃

۳۰۔ ناصر خان، چوھر خیل

۳۱۔ امین خان، 〃

۳۲۔ بیلاک، 〃

۳۳۔ صانع، 〃

۳۴۔ لال گل، 〃

۳۵۔ لاڑے، 〃

۳۶۔ راشہ دین ولد دولت خان

چوھر خیل

۳۷۔ زرپیاؤ، چوھر خیل

۳۸۔ نظم دین، 〃

۳۹۔ شیخ بدین، سرنگ خیل

۴۰۔ رحیلا، چوھر خیل

۴۱۔ پھلوان ارمڑ

۴۲۔ شاھزاد، چوھر خیل

۴۳۔ میر عالم، خالی خیل

* * *

## دَملا پاوندهؒ هجرت :

ملا پاوندهؒ په ۲۲/جولائی ۱۸۹۶ء سره دَ کنړو کسانو چه ښځے هم په کښے شاملے وے، بیرمل ته لاړو۔ دَ دے ځائے نه په ۲۷/جولائی کابل ته روان شو۔ په ۳/اگست تیپ مازیگر کابل ته اورسید۔ کابل ته دَ دوئ دَ رسیدو پحقله "خبرنامهٔ کابل" په ۸/اگست ۱۸۹۶ء دا سے خبر شائع کړو۔

"دَ وانا تخنه اندازاً څلور زره وزیر کابل ته راورسیدل چه په کښے داوړ، کوهِ سیاه او تازی خیل سره د خپلو ښځو او ماشومانو شامل دی۔

دوئ تیپ مازیگر راورسیدل۔ سردار حبیب الله چه هغه وخت دَ سامعینو په محل کښے وو، خبر کړے شو او دهٔ حکم اوکړو، چه هر یو محمدزئ سردار دے دوه‌نسوو نفرو ته ځائے ځائیگے او دَ شپے ډوډئ ورکړی۔ دَ امیر په امر باندے دبالاحصار په څوا کښے دوئ ته خیمے اولگولے شوے۔ اوس دوئ په خیمو کښے اوسیږی او دَ کوتوالئ دَ منصبدارانو په نگرانئ کښے ورته په سرکاری طور دَ ورځے دوه ځله تقاله ورکولے شی۔

ملا پاوندهؒ د دوئ مشر دے۔ دوئ تراوسه دَ امیر په خدمت کښے نهٔ دی حاضر شوی۔ ویلے شی چه دوئ دَ انگریزانو لاندے اوسیدل نهٔ غواړی او دا آرزو لری چه دَ انگریزانو

سره د خط و کتابت نه پس امیر دُ دوئ علاقه بیرته واخلی".

په ۸/ اگست مازیگر ملا پاوِنده سره دُ نورو ګنړو مشرانو دامیر په خدمت کښے پیش شو او د"خبرنامهٔ کابل" په مطابق دُدوئ په مابین کښے لاندینئ خبرے اترے اوشوے ۔

"وزیر چه تراوسه د برطانوی حکومت رعایا نهٔ دی، غواړی چه عالیجاه ته خپل اطاعت وړاندے کړی، ځکه چه الله پاک تاسو ته دُ مسلمانانو بادشاهت عطاء کړے دے۔ که چرے تاسو زمونږ سره امداد د کوئ نو مونږ د انګریزانو سره جنګ کولو ته تیار یُو".

امیر په ځواب کښے ورته اووئیل چه :

"د انګریزانو سره زما پخه دوستی ده، نن تاسو هغوئ ته کافر وایئ او دُ هغوئ سره جنګ کولو ته تیار یئ ۔ صبا به دُهغوئ دُدوستئ په وجه زما سره جنګ کوئ ۔ مونږ دُ ملایانو په وینا زیاتره اعتماد نهٔ لرو".

ملا پاوِنده ورته اووئیل چه :

"الله پاک تاسو دُ مسلمانانو په بادشاهت نمائخلی یئ ـ او په هیمُ اصولو باندے ستاسو په خلاف مذهبی جنګ ممکن نهٔ دے او نهٔ دا سے مونږ کولے شو".

امیر ورته اووئیل چه :

"ما چه تاسو پروسږ را اوبللئ نو تاسو حاضر نهٔ شوئ

اوس چه تاسو مخپله بے وسه شوئ، نو دَ امداد دپاره راغلئ

مُلاپاوندهؒ په منځکښے اووئیل :

"مونږ اوس هم هغسے یو، څنګه چه مخکښے وو، او ستاسو حکم منلو ته هر وخت تیار یو۔ مخکښے د قبائلو ترمینځه د کورنئ کشالو په وجه زمونږ راتګ ممکن نهٔ وو، ولے نن چه مونږ ټولو په یوه خُوله ستاسو رضا ته غاړه کیښوده، نو دغه یو مونږ ټول حاضر یو۔"

په دے باندے عالیجاه ورته اووئیل چه :

"تاسو څو ورځے دمه اوکړئ او زهٔ به ستاسو په یزونو باندِ غور اوکړم۔"

امیر دَ دوئ سره څه خاص پذیرائی اونهٔ کړه۔ آورم چه امیر دَ دوئ سره څه داسے وضع اوکړه، چه دَ دا ئ ټول اُمید ونه به خاوړ سے شوے وی۔ اوس دوئ په بنار کښے غیر مسلح ګرځی راګرځی او دَ کوتوالئ افسرانو ترینه سلاح آخستے ده۔[1]

امیر افغانستان دَ مُلاپاوندهؒ سره د انګریزانو په خلاف کوم تحریک چلولو ته تیار نهٔ شو۔ البته دا خبره ئے ورته اوکړه، چه که چرے تاسو افغانستان ته د هجرت کولو خواهش لرئ نو مونږ ستاسو دَ قیام وطعام بندوبست کولو ته تیار یو۔ څکه چه دا یوه اسلامی فریضه ده۔

بله ورځ په ۹/ اګست ۱۸۹۶ء بمطابق ۲۸/ صفر ۱۳۱۴ھ دوئ

---

[1] ف نمبر ۲۷ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ مورخه ستمبر ۱۸۹۶ء۔

امیر کابل ته په شریکه لاندینۍ عریضه اولیکله :

"دَ سلام نه پس مونږ دمحسودو، داوړو او وزیرو مُلایان سیدان او ملکانان چه دَ وزیرستان دَ داوړو، محسودو او وزیرو خود مختیاره نمایندګان یو، دَ عالیجاه په لوړحضور کښې حاضر شوی وو او دَ عالیجا سره مو دځان او د وطن دَ ټولو له خوا نه ملاقات کړے وو او عالیجاه راته فرمائیلی وو چه :

"د ټیرو دیارلسو کالو په دوران کښې تاسو ایله اوس دلته راغلی یئ - حالانکه ما تاسو ته د احکام الهیؒ او دین محمدیؐ په مطابق ډیر هدایات درکړل، ولے هغو په تاسو هیڅ اثر اونهٔ کړے شو - اوس ما د مذهب اسلام په مطابق او دَ مسلمانانو د ښیګړے په خاطر دَ انګریزانو سره معاهدهٔ کړے ده او دَ برطانوی علاقے څخه دَ افغانستان سرحدی سیمه جدا کړے ده او د افغانستان کلهم اولس دغه پُرامنه معاهده قبوله کړے ده، کومه چه ما ترسره کړے ده - او هر څوک پرے خوشحال دی - ترڅو پورے چه د انګریزانو له خوا نه کومه خلاف ورزی نهٔ وی شوے، تر هغه به زهٔ دَ اسلامی احکامو او اصولو په مطابق دَ معاهدے برعکس هیڅ قسم قدم پورته نهٔ کړم - که چرے تاسو دَ برطانوی حکومت په رعیت جوړیدو مطمئن یئ نو زهٔ به ستاسو نه بے فکره اوسم او که چرے تاسو په برطانوی علاقه کښې نهٔ شئ

او سیدے، نو تاسو دَ خپلے علاقے نه دلته هجرت راواوکړی، ځائے ځائیګے او تهاله به درکولے شي۔ چونکه دغه معامله دَمذهب سره تعلق لری، نو زه مذهبی احکام ته شم نظر انداز کولے۔" "تاسو چه هرڅه او فرمایل هغه په حقیقت کښے دقوانین الهئ او محمدی دَ استحکام دپاره دی او مونږ بنه پرے پوهه شوی یو۔ په دے اساس مونږ خواست کوو، چه مونږ دَ زړه له کومی هجرت خوبښ کړے دے او مونږ به هجرت کوو۔ چونکه دَ سرحدی علاقو تقسیم عملی شوے دے او په سرحد بانډ دَ انګریزانو سره په شریکه صلاح ومشوره حد بندی شوے ده، نو مونږ هم دَ عالیجاه هدایاتو منلو ته تیار یو او اوس به دَ دوی (انګریزانو) سره هیڅ قسم جنګ جهګړے نه کوو۔

عالیجاه دِ مونږ ته دکرکیلے سامان، زمکه او دَ استوګنے دپاره ځایونه راکړی۔ خو مونږ دوه نور عرضونه هم لرو۔ اوّل دا چه یو اسلامی ملک ته په راتلو او دخپلو مسلمانانو ورونړو سره په میشته کیدو دِ برطانوی افسران په مونږ یا زمونږ په نورو قبائلو هیڅ تعرّض نه کوی۔

دویم دا چه برطانوی حکومت دِ مونږ ته دخپلو زمکو باغونو او کورونو قیمت راکړی۔ او عالیجاه دِ د برطانوی حکومت څخه زمونږ دَ جائیدادونو دقیمت پحقله پوښتنه اوکړی۔ دا به دَ عالیجاه په خوښه وی، چه دغه پیسے مونږ ته راکوی

یا ئې دَ دولت په خزانه کښې جمع کوی۔ دغه زمونږ خواست وو، کوم چه مونږ ستاسو په حضور کښې وړاندې کړو۔ مونږ اُمید کوو چه عالیجاه به زمونږ درخواست په غور سره اوګوری او زمونږ عرضداشت به تسلیم کړی۔ دغه به ستاسو یو عظیم نوازش وی[۱]۔"

دَ ملا همت الله وزیر په لاس اولیکلې شو (غالباً دا ملا حمزالله دے)

دستخطی :-

| | |
|---|---|
| ملا پاونده | ملک علی عبدلائی محسود |
| ملا نظیف[۲] | ملک کامل خان او نور |
| معلم شاه[۳] | دَ ډانې وزیرو قبیله : |
| رحیم شاه[۴] | نعیم ګل |
| ملا عبدالله نور | دل خان |
| دمکین قاضی عبدالرحمان او نور | لال خان منظرخیل ممی روغه |
| دَ محسودو ملکانان : | قدر خان |
| ملک عظیم خان ګوری خیل | پیر محمد او نور |
| ملک شاه دَ سپین کمر ملک شاهی | ملک نیاز ګل دوسلی مامیټ خیل |
| | ډانې دَ شیرنې مداخیل |

ع۱ ف نمبر ۱۷ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ مورخه ستمبر ۱۸۹۶ء۔

ع۲ دریپه خیل داوړ وو چه اوس ئې کورنئ په قاضیانو شهرت لری۔ شاخ ته ئې خوزانئ ویلې شی۔ ع۳ عمرزی هم زونې داوړ وو۔

ع۴ دکانی ګرم سید وو، چه پنځه روپئ معافی ئې درلوده۔

| | |
|---|---|
| ملک وزیرخان زرگرخیل | تراب ، محمد خیل داوړ |
| مامیټ خیل | طورخان، 〃 〃 |
| ملک سدرائی خدرخیل | نذیرمحمد 〃 〃 |
| مامیټ خیل | ملک شابال، بانړه میرانشاه |
| ملک فضل دین محمدخیل داوړ | داوړ - |

دُ عریضے ترلاسه کولو نه پسته امیر کابل ملا پاوندهؒ ته اوویل چه :

"تاسو بنه نه دی کړی چه دلته راغلی یاست، ځکه چه دلته ستاسو دُ کامیابئ هیڅ اُمید نشته ۔ ما دُ محسودو وزیرو او داوړو علاقه انگریزانو ته ورکړے ده او په دے حقله ے ورسره معاهده کړے ده ۔ ستاسو بعضے خلق ما ته مخکښے راغلی وو او ما دُ الاؤنسونو دُ قبلولو دپاره ورته وئیلی وو، خو هغوئ نه زما خبره اومنله او نه زما دُ افسرانو مطلب دا چه تاسو خپل وطن پخپله انگریزانو ته ورکړے دے ۔ اوس زه په دے معامله کښے هیڅ نه شم کولے ۔ تاسو دلته پاتے شئ او زه به حکومت هند ته ستاسو دُ راتلو پحقله اولیکم او بیا به تاسو خبر کړم"

دُ ملاقات په وخت امیر دوئ ته دا هم اوویل چه :

"تاسو دُ انگریزانو په خلاف جنگ جهګړے مه کوئ، که چرے حکومت چرته نوے قلعے جوړول اوغواړی، نو

تاسو فساد مه راپورته کوئ، بلکه دغتو غتو معاوضو مطالبه ترے نه کوئ".[1]

امیر کابل دغه وفد په کابل کښے ایسار کړو او د دوئ په حقله ئے وائسرائے هند ته لاندینے خط اولیکلو -

## وائسرائے هند ته د امیر کابل مراسله

۵/ربیع الاول ۱۳۱۴ھ مطابق ۱۵/ اگست ۱۸۹۶ء

"د سلام نه پس په مؤدبانه طور ستاسو ایکسلینسی ته اطلاع درکوم چه د داوړو او محسودو وزیرو لویه ډله چه په کښے درے سوه ۳۰۰ ښځے او خلور سوه ۴۰۰ نارینه او ورسره سیدان، علماء کرام، ملکانان، مشران او عام قبائل شامل دی، زما افسرانو ته بغیر د اطلاع ورکولو افغانستان ته راغلی دی. د هر یو کورنئ سره د قرآن پاک یوه نسخه موجوده ده - او په سرحد بانډے د ایساریدو بغیر نیغ کابل ته راپریوتی دی. ظاهره ده چه د وزیرستان مقامی افسرانو به هم د دے معاملے په حقله هز ایکسلینسی ته رپورټ استولے وی، ما د هر یو قبیلے سرکرده نفر خپل حضور ته راوبلل او د دوئ نه مے د دغسے سرگردانئ سبب اوپوښتلو. دوئ په ځواب کښے راته اووئیل چه:

"زمونږ د پاره په خپل پلارینی وطن کښے پاتے کیدل ناممکن

---

[1] ف نمبر ۷۶ فارن (فرنټیئر) ډیپارټمنټ مورخه اکتوبر ۱۸۹۶ء

او نامناسب دی، مونږ سره دُ خپلو سیدانو، علماء کرامو او شیخانو افغانستان ته راغلی یو او دُ خان سره مو قرآن پاک دشفاعت او تور سری دُ افغانیانو سره دُ ثالثی دپاره راوستے دی"

ما په خواب کښے ورته اوویل چه:

"په تیرو دیارلسو کالونو کښے ستاسو دُ هرے قبیلے کسان ماته څوڅو ځله راغلل او ما دوی ته دُ نصیحت او شفقت په توګه دمذهب اصول او قوانین دُ الله او دُ الله د پیغمبر دُ احکامو په مطابق بیان کړل. ولے په دوی ئے څه اثر اونه کړو-اوس ما دُ خپل روشانه مذهب د احکامو په مطابق او دُ مسلمانانو دُ بنیګړے په خاطر د انګریزانو سره دوستانه معاهده کړے ده او دُ دوو دولتونو ترمینځه د تقسیم سرحدی قطعات په ګوته شوی دی، کوم چه دُ دولت خداداد افغانستان او حکومت برطانیه د حدود په مابین کښے بیلتون او امتیاز راولی. سرحدی نشان بندی شوے ده او افغان اولس زما دغه پرامن معاهده قبوله کړے ده، نو دُ دغو حالاتو له کبله ترڅو چه دُ انګریزانو له خوا نه خلاف ورزی اونهٔ شی، ترهغه پورے زهٔ د اسلامی احکامو له مخے دُ معاهدے برعکس کار نهٔ شم کولے-که چرے تاسو دُ برطانیے حکومت په رعیت جوړیدو مطمئن یئ، نو زهٔ به هم ستاسو نه خاطرجمع اوسم-که چرے تاسو پخپله مرضئ او آزادئ دُ خپل پلارینی

وطن نه افغانستان ته هجرت کول غواړي، نو تېقاله او د استوګنې دپاره ځائي ځائيګې به درکولې شي - ځکه چه دا دَمذهب اسلام ځ دے او دَالله او د الله د پیغمبر دَاحکامو خلاف ورزی کول کړن کار دے - دَ پورتنو خبرو اترو نه پس ما دوئ دخپل حضور نه رُخصت کړل -

دويمه ورځ دوئ يو مشترکه درخواست اوليکلو چه خپل حالات ئے په کښې تفصيلاً بيان کړي وو او ما ته ئے وړاندے کړو - په درخواست باندے دَ دوئ مُهرونه ثبت دی او دَ چا چه مهرونه نشته، هغوئ پرے امضاګانے کړے دی ما د هغوئ درخواست ملاحظه کړو او هم دغه درخواست په اصلی شکل کښې ستاسو ايکسلينسی ته درليږم چه په خپله ئے هم ملاحظه کړئ او دَ دوئ دَ حالاتو او ضروریاتو نه ځان آګاه کړئ -

"دَ دلته راتګ پحقله دوئ خواست کوی، چه دَ برطانوی افسرانو په لاس چه دوئ ته کوم جانی او مالی تلفات اورسی او کوم پټې او کورونه چه دوئ پريښی دی، هغه دِ خرڅ کړے شی او قيمت دِ ئے دَ دوئ دپاره وصول کړے شی"-

ترڅو چه ستاسو دَ ايکسلينسی هدايات نه وی رارسیدلی ترهغے ما دَ دوئ د پورتنو دوؤ خواستونو ځواب ملتوی کړے دے - دَ دغو خلقو دَ بنيګړے دپاره چه ستاسو

ایکسلینسی کوم قسم کاروائی کول غوره گنڼۍ، هغه ستاسو
خپله مرضي ده، خو مهرباني به داوي، چه ځواب زر راکړئ
ځکه چه زه غواړم چه دوئ ته زر اُو رسوم او تسلي ورکړم.
چونکه دغو خلقو اولس ته حقایق ښودلي دي، چه دوئ
مهاجرین دي او په افغانستان کښے ئے پناه آخستے ده، نو
دا ضروري ده، چه زه تاسو ایکسلینسي ته اووایم چه د
دوئ دپاره څه انتظامات اوکړئ"۔ ع۱

## امیر کابل ته د وائسرائے هند ځواب

۱۰/ ستمبر ۱۸۹۶ء

" د سلام نه پس ما ستاسو د عالی مرتبت د ۵/ ربیع الاول
۱۳۱۴ھ بمطابق ۱۵/ اگست ۱۸۹۶ء دوستانه خط ترلاسه
کړے دے او د هغے اطلاع دپاره زه د عالیجاه مشکور یم
کومه چه کابل ته د تللیو وزیرو په باره کښے ده۔ همدغه شان
د هغوئ د هغے درخواست د نقل په رالیږلو شکریه ادا کوم، کوم
چه دوئ عالیجاه ته وړاندے کړے وو۔ برطانوي حکومت
په هغو درخواست کنندهګانو هیڅ اعتراض نه لري، کومو چه
افغانستان ته هجرت کړے دے او مونږ به خپلو افسرانو
ته هیڅکله دا اجازه ورنه کړو، چه دوئ د هغو خلقو په لار
کښے حائل شي کوم چه خپل وطن پخپله پریږدي۔ درخواست

ع۱ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ فائل نمبر ۶۷ مورخه ستمبر ۱۸۹۶ء

کښنده ګان مکمل طور آزاد دی، چه دخپلو قبائلی ملګرو په واسطه
په وزیرستان کښې دُخپلو زمکو او کورونو خرڅولو اهتمام اوکړی
برطانوی حکومت به دُ دوئ په شخصی جایداد کښې تر هغې
پورې هیڅ مداخلت نهٔ کوی، ترڅو چه دوئ د سرحد ی
کر ښې نه راپه دیخوا برطانوی علاقه کښې معاندانه اقدامات
نهٔ وی کړی" ۱

## دُ ملا پاونده رح راستنیدل

مُلا پاونده رح او دهغوئ ملګرو د امیر کابل سره دُ خبرو اترو نه پسته
خپل وطن ته دُ راستنیدو تیاری اوکړه - امیر کابل ملا پاونده رح ته دُ
رخصتیدو په وخت دولس سوه ۱۲۰۰ نغدې روپئ، یو ټوپک او یو
اَس ورکړو - دغه شان ئې ملا حمزالله ته هم اته سوه ۸۰۰ نغدې روپئ
او یو اَس ورکړو - دُ دې نه پرته ئې ټولو مُلایانو ته په سړی سر
یو یو زرتاری لنګئ او لس لس روپئ رخصتانه ورکړې - مُلایانو
ته ئې په سړی سر لس لس روپئ او عامو خلقو ته پنځه پنځه روپئ
د لارې خرچه هم ورکړه -

ملا پاونده رح د کابل په مشن کښې کامیاب شو یا ناکام - دا د دهٔ
دُ پیر مخ کاروائی نه اندازه لګیدې شی - بهرحال هغه په ۲۷ ستمبر
۱۸۹۶ء د کابل نه سره دُ خپلو ملګرو بیرته بیرمل ته راغلو او دُ ارګن
په مقام ورته اندازاً اوهٔ زره ۷۰۰۰ نفوس استقبال ته راغونډ شوی

۱ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۷۶ مورخه اکتوبر ۱۸۹۶ء

وو او دوئ په اتفاق سره دا سوګند اوکړو چه که چرے حکومت دَ مدا خیلو، خدرخیلو یا کنډیوام په مقام باندے د قلعے په تعمیر کار شروع کړی نو جهاد به ورسره کوو۔ په دا موقع دَ دهٔ سره دَ بدرګے په طور افغان عسکر هم موجود وو۔ دَ بیرمل نه ملا پاوندهؒ په ۷ / اکتوبر ۱۸۹۶ء د شوال په لاړخپل کلی مروبی ته راورسیدو او په همدغه ورځ ئے وزیر، داوړ او محسود دَ خصوصی مذاکراتو دپاره مروبی ته راوبلل - دا میر افغانستان سره دَ خپل ملاقات او مذاکراتو پحقله دهٔ خلقو ته اطمینان ورکړو، چه انشاءالله فرنګے به زمونږ په غرنیزه سیمه تجاوز نهٔ کوی۔ په دے ورځ دهٔ دَ جمعدار ګل داد اِیمل خیل په لاس دَ وانا پولټیکل افسر مستر ګرانټ او نائب تحصیلدار ته هم دَ اخطار په طور خطونه اولیکل۔

د نائب تحصیلدار په خط کښے دهٔ لیکلی وو چه :

" دا میر دَ جرأت په طفیل د مسلمانانو حوصلے ډیرے اوچتے او زړونه پُرجوش دی ۔ که چرے حکومت د مزید توسیع په خاطر کوم قسم حرکت اوکړی نو دَ مسلمانانو او انګریزانو په مابین کښے به لوئے فساد راپورته شی۔"[1]

مستر ګرانټ ته دَ ملا پاوندهؒ خط :

" د رسمی تسلیماتو نه پس تاسو ته خبر درکولے شی چه زهٔ د مسلمانانو دَ یوے ډلے په ملګرتیا کښے دَ اسلام بادشاه

---

[1] فارن (فرنټیر ) ډیپارټمنټ ف نمبر ۷۶ مورخه دسمبر ۱۸۹۶ء

امیر عبدالرحمان ته تلے ووم ۔ مونږ د خپل غزنیز وطن په ضمن کښې ده ته درخواست ورکړو ۔ امیر زمونږ د غزنیز وطن په لړ کښې زمونږ درخواست منظور کړو ۔ د امیر او د وایسرائے ترمینځه خط وکتابت شروع شو ۔ اوس زه پوخ امید کوم چه مسټر ګرانټ به د مزید پیشقدمئ نه احتراز اوکړي ۔ هسے نه چه د حکومت او مسلمانانو ترمینځه کومه ډغره یا تنازعه راپورته شي ۔ ځکه چه ټولو مسلمانانو خواکه بلوڅ او افریدی دی یاغلیزئ او سواتی دی ، دوئ د خپلو خپلو علاقو پحقله درخواستونه کړیدي او امیر منظور کړي دي ۔ د دے په نتیجه کښې د مسلمانانو په زړونو کښې جرأت پیدا شوے دے تاسو پرے غور اوکړئ چه په مسټر بروس او عظیم خان باندے څه چل شوے دے ۔ مناسب خو دا ښکاري چه د فساد د ختمولو په خاطر مزید حرکت ترک کړے شي"[1]

## د ملا پاوندهؒ او غلام محمد ملاقات

د کابل نه په راستنیدو ملا پاوندهؒ په دے کوشش کښې وو چه په وزیرستان کښې خون خرابه اونه شي او په پرامن طریقه خپله علاقه د انګریزانو د سامراجي پنجو نه اوساتي ۔ په دے حقله ده یو ځل بیا خان په خطر کښې واچولو او په ۶/ دسمبر ۱۸۹۶ئ نے د خپل یو ډیر زیرک او وفادار ملګري الیاس خان عبدالائي محسود ، چه ملک فتح

---

[1] فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۲۷ مورخه دسمبر ۱۸۹۶ئ ۔

خان شینکی محسود هم ورسره وو، په ذریعه دُجنډولے تهانیدار سردار غلام محمد خان سره دقلعے نه یو میل لرے پټ ملاقات اوکړو - دُ دواړو ترمینځه اعتبار وو، خو بیا هم دُ دواړو فریقینو له خوا دیرش څلویښت تنه مسلّح نفر موجود وو - د ملاؒ پاونده او سردار غلام محمد خان په مابین کښے لاندینۍ خبرے اوشوے - ملاؒ پاونده دُ دهٔ نه تپوس اوکړو چه :

"آیا حکومت غواړی چه زما سره روغه جوړه اوکړی ؟"

په دے حقله سردار چپ پاتے شو او دُ ملاپاونده نهٔ ے ایله دا اوپوښتل چه "آیا ستا منشا فقط دا ده" دهٔ په ځواب کښے ورته اووئیل چه "زهٔ خو راغلے په دے غرض یم" او دُ دے وینا سره ئے دا ورته په ګوته کړل چه کوم محسود چه په کابل کښے پاتے شوی وو هغه هم راستنهٔ شوی دی او دُ امیر څخه ئے نوے پیغام راوړے دے - ده مخکښے اووئیل چه ما د روغے جوړے په حقله دخپلے رضا ورغبت ثبوت پیش کړے دے - حکومت چه زما له خوا نه دُصلحے ابتدائی کوشش نهٔ قبلوی، نو زهٔ به امیر ته اووایم چه اوس قصور زما نهٔ دے او دغسے به دُ کابل سره زما تعلقات برقرار پاتے شی -

ملاؒ پاونده بله دا خبره اوکړه چه زهٔ غواړم چه په وزیرستان کښے دُ اسلام په ضد کاروایئ ختمے کړم او په غزنیزه سیمه خپله قبضه ټینګه کړم - په دے سلسله کښے چه زهٔ کوم کسان راغونډوم

حکومت دے د هغوئ پحقله بدگمانی نهٔ کوی - ملا پاوندہؒ مخکښے اووئیل چه "کله چه زهٔ د کابل نه واپس اُرګُن ته راورسیدم، نو هغه وخت اُوو زرو نفوسو زما تر وړاندے په قرآن پاک دا سوګند اوچت کړو او طلاقونه ئے واچول چه که چرے حکومت د کندیوام، خدرخیلو او مداخیلو په سیمو کښے د قلعو په تعمیر لاس پورے کړی، نو غزا به ورسره کوو- په دے کښے زهٔ هم شامل یم - کومو خلقو چه سوګندونه اوچت کړی دی په هغو کښے افریدی، درویش خیل او محسود هم شامل دی"۔

ملا پاوندہؒ مزید اووئیل چه زهٔ ځلویښت خصوصی ګزارشات لرم کوم چه زهٔ حکومت ته سنودل غواړم - په دے کښے اکثر دُ امیر کابل او دُ روسیا نو سره علاقه لری، د کومو نه چه حکومت ډیره استفاده کولے شی خوزهٔ به دا هغه وخت بیانوم، کله چه زما او دُ حکومت ترمینځه صلح او امن قائم شی۔

په آخر کښے ملا پاوندہؒ ورته اووئیل چه دُ محسودو اکثر ملکانان د خپل غرض له مخے زما او د حکومت ترمینځه روغه جوړه نهٔ غواړی او زما له خوا نه تاسو ته غلطے خبرے کوی۔ نو ځکه زهٔ حلفیه وایم چه زما موجوده خبرے مخلصانه دی او تاسو زما پحقله صحیح اطلاعات د ملک فتح خان شینګی خیل نه آخلئ۔ په دے موقع سردار غلام محمد دُ لاس خپله کهړئ تحفتاً ملا پاوندہؒ ته ورکړه - ملاؒ پاوندہ دا هم ورته اووئیل چه زهٔ غواړم چه په کوتکی کښے یوه قلعه

جوړه کړم او د ځانے خوښولو د پاره د یر زر حرکت او کړم ۔[1]

## دَ ملا پاونده دفاعی بندوبستونه

ملا پاونده که یو خوا دَ انگریزانو سره دَروغے جوړے او د غزنے سیمے دَ آزاد ساتلو پحقله خبرے اترے کولے، نو بلخوا ئے دځان د تحفظ د پاره دفاعی بندوبستونه هم کول ۔ دهٔ په څلورو ځایونو باندِ د قلعو جوړولو پروگرام ترتیب کړو ۔ یوه قلعه په تورووام، چه د شابی خیلو محسودو په خیسارهٔ کښے یو کلے دے ۔ په تورووام باندے دَ قلعے تعمیر اخلاص خان غوره کړے وو ۔ دغه ځائے د خیسارهٔ قلعے د پاره مستری چی هم منتخب کړے وو ۔ دویمه د شهور په سرک دَ برونډ په مقام ۔ دلته رومبے انگریزی فوځ پروت وو ۔ خو وروستو سروکئی ته منتقل شو ۔ دریمه قلعه په کوټکی باندے ۔ دغه سیمه دَ شینګی محسودو ده او دَ تیانک په لار دَ جنډولے قطبی اړخ ته نزدے ده ۔

ملا پاونده د قلعو د تعمیر په سلسله کښے د شهتیرانو او تیرانو د پاره خپل مخصوص ملګری اخلاص خان ته ۱۵۰ روپئ ورکړے، او په محسودو کښے ئے دا خبره مشهوره کړه، چه د کابل امیر د غزنے سیمے دَ آزاد ساتلو پحقله د دهٔ سره پخه وعده کړے ده ۔ بلخوا انګریزانو هم د مقامی ملکانانو په ذریعه د دهٔ مخالفت شروع کړو ۔ او حکومت دَ دهٔ په ملګرو کښے د هغو ملکانانو کوم چه د دهٔ سره کابل ته تلی وو،

---

[1] فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۱۱ مورخه جنوری ۱۸۹۷ء ۔

دجولائی ۱۸۹۶ء نه دَ فروری ۱۸۹۷ء اختتام پورے الاؤنسونه ضبط کړل۔

ملا پاونده دفروری ۱۸۹۷ء په ابتدائی شپو ورځو کښې په مروبی کښې دځیل لنګر دپاره یو خوا په ۲۰۰۰ روپو وسیع زمکه واخسته او بلخوا ئې هم هلته دَ اوبو ژرنده جوړه کړه۔ او دَ دے سره سره ئې یو خوا بلخوا دَ انګریزانو په خلاف ګوتے هم واچولے۔

## دَ ډاک په یکه برید :

دَ ملا پاونده د مخالفانه تحریک په اثر کښې دَ قطبی وزیرستان یو ے ډلے دَ بنوں میران شاه په سړک د ډاک په روانه یکه باندے حمله اوکړه[1]۔ کوچوان، یو سرکاری ملازم او د ټانګے دوه اسونه ئې اووژل او سامان ئې ترے نه لوټ کړو۔ دَ دغې واقعے په جُرم کښې توری خیلو وزیرو، مامیټ خیلو وزیرو او داوړو باندے ۱۴۲۰ روپئ جرمانه اولګولے شوه۔

## دَ میران شاه قلعے څخه دَ اوبنانو بوتلل :

دَ میران شاه د زړے قلعے په خوا وشا کښې د فیرنګی دَ کانوائی ګنړ اوبنان څی شوی وو۔ په ۲۸/ اپریل ۱۸۹۷ء د داوړو ژنړی ورته مرکه شول۔ حمله ئې پرے اوکړه او د سپاهیانو دَ پهرلاندے ترلی درے بیده اوبنان ئې بوتلل۔

دَ بویهٔ قلعے په اوبنانو غلا : دَ بویهٔ قلعے په خوا کښې د سرکاری

[1] په دغه زمانه کښې لاری موټرے نهٔ وے۔

کانوائې ګنړ اُوښان خې شوي وو۔ په ۳۱/ مئ ۱۸۹۵ء دَ وزيرو دا وړه خُوانانو غدئ پرے واچوله۔ فوځيان چه خبريدل، ترهغه پورے دوئ شپږ اُوښان ترے نه بوتلی وو۔

# دَ ماڼيزر جهګړه

اکتوبر ۱۸۹۵ء کښے چه فيرنګے په توچئ کښے دَ ډيورينډ لائن نه اوزګار شو او دغه سيمه ئے بيخي قبضه کړه، نو دکال ۱۸۹۶ء په آخر کښے ئے په بشپړ وزيرستان کښے لانديني ملټري اقدامات اوکړل۔ په سوبيلی وزيرستان کښے دَ وانا په مقام کينټونمنټ جوړ کړے شو او په سروکئ، جنډوله او شهور باندے چوکئ قائم کړے شوے۔

دَ فيرنګی دا مطلب وو چه دَ وزيرو، محسودو دَ حملو څخه ګومل او ژوب اوژغوري، او دَ وانا او شکی احمدزئ وزير تر نظر لاندے اوساتی۔ دَ قطبی وزيرستان په توچئ کښے هم ملټري اقدامات اوشول دَ فوځ هيډ کوارټر په ميران شاه جوړ شو۔ په سيدګی او عيدکو باندے چوکئ مقرر کړے شوے۔ دَ بنوں نه تر عيدکو پورے سړک هم تعمير کړے شو او ټوبيے ځل په ۱۲/ جون ۱۸۹۵ء دَ ډاک ټانګه عيدکو ته پرے راوستے شوه۔

دکال ۱۸۹۶ء په خزان کښے دَ ملکه وکټوريه په اجازت سره په

توچئ کښې تر دته خيلو پورې مستقل سول او ملټري هيڅ کوارټرونه جوړ کړے شول - فيرنګى اوس په اکثرو ځايونو کښې پولټيکل محرران هم تعينات کړل، چه باقاعده به ئې د خپلو علاقو حالات متعلقه افسرانو ته ليکل -

په مائيزر مداخيلو کښې هُنده رام نومے يو هندو پولټيکل محرر مقرر کړے شوے وو - دغه هندو په شيرنے کښې دليوى په يوه عارضى چوکئ کښې، د ملک سادےخان ترسورى لاندے اوسيدلو د هُنده رام په راتګ مداخيل قام ډير خوابدے شوے وو - بله دا چه دغه بدخويه هندو به اکثر د کلى په هغه ويالهٔ کښې اشنان کولو، دکوم نه به چه ښځو جينکو منګى ډکول - آخير مداخيل ترے نه زيښت تنګ شول او په ۹/ جون ۱۸۹۶ء وارث خان نومى يو ځوان چه په مداخيلو کښې د خواجه احمدخيلو د شاخ نه وو هُنده رام قتل کړو او افغانستان ته اوتښتيدو - فيرنګى د هنده رام د قتل په جُرم کښې په مداخيلو دولس سوه ۱۲۰۰ روپئ تعزيرى جرمانه عائد کړه - مداخيلو د جُرمانے ادا کولو ته غاړه کينښوده - فيرنګى په دغه جرمانه کښې درے سوه روپئ کمے اوکړو - مداخيل بيا هم ورته تيار نهٔ شول -

دا ځل د توچئ پولټيکل افسر مسټر ايچ - اے جى ( MR.H.A GEE ) د فوج کشئ فيصله پرے اوکړه - مطلب ئې دا وو، چه يو خوا به د مداخيلو نه جرمانه وصول کړى او بل خوا به هلته د ليوى پوسټ د پاره موزون ځائے اولټوى -

چنانچه په ۱۰/ جون ۱۸۹۷ء مستر ایچ - اے جی او کرنل بنی (COLONEL BUNNY) سره دَلوے فوځ دَ دته خیلو نه مائیزر پله روان شو -

دَ دته خیلو قلعے نه شیرنے اته میله ده او دَ شیرنے نه مائیزر قبلے پله اندازتاً ۲½ میله فاصله لري - مائیزر بنکلے لونګیزه او زرخیزه علاقه ده - د شمال نه جنوب پله ۲۵۰۰ گزه اوږدوالے لري او دَ مشرق نه مغرب پله ۱۲۰۰ گزه ساره او دَ سطح سمندر نه ۴۶۰۰ فټه اوچته ده - په بنکلیو ماڼیو او دلکشو کورونو آباده ده او زیاتره په کښے مداخیل وزیر اوسیږي -

کله چه فوځ دَ ورځے په ۳۰ ، ۹ بجو مائیزر ته اورسیدونو دَ درے پلاري کلی سره نزدے په خیوي زیارت[ع۱] میشته شو - ملک سادے خان ورته دَ تهقالے بندوبست کړے وو - ځینے انګریزانو دا لیکلي دي چه "مداخیلو فیرنګی ته فریب ورکړے وو یوخوائے دَ تهقالے په طمع مصروف ساتلي وو او بل خوائے پرے

---

ع۱ د بشیر مداخیل قام په شریکه زیارتګاه ده او دَ دوئ په قامی سطح تولے جرگے مرکے دلته کیږي - دَ دوئ نیکانو چه دلته پخوا کومے فیصلے او معاهدے کړے دي ، هغه نن هم دکاڼړي کرښے ګنړلے شي - دوئ نے دخیوي قران په نامه یادوي او دَ هیڅ قسم ردوبدل ګنجائش په کښے ممکن کیدے نه شي - خیوے وړوکي تالاؤ ته ویلے شي چونکه دَ زیارت سره له پخوا نه خیوے جوړ شوے دے نو په دا نسبت ورته دخیوي زیارت ویلے شي -

دَ حملے کولو تیاری کوله". دغه سکوټ دروغ دی ـ مداخیلو ملمستیا ضرور ورکړے وه، ولے د تهقالے دَ خوړلو نه پسته ماسپخین په دوؤ بجو فرعون مزاجه پولټیکل افسر مسټر ایچ اے جي چه دَ مداخیلو[2] جرګه رااوبلله او دوئ ته ئے بغیر دَ مهلت ورکولو د جرمانے په فوري ادائیګئ زور ورکړو، نو هغوئ دَ مسټر جي نه زښت خوابدی شول، ولے کله چه دهٔ دَ سرو ے پارټئ ته د مجوزه لیوی پوسټ دَ تعمیر دپاره ځائے هم په ګوته کړو او فوځیانو په فاتحانه انداز کښے دَ ډول و سرناسره اتڼ هم واچولو، نو خبره دَ زغم نه اووته. ناځاپه دَ ځجے ډولونه اوغړیدل ـ خلق راغونډ شول، او د پائیل سیئل، خدری، بټ، بړنیم او سادے خان په مشرئ کښے ئے په فیرنګي حمله اوکړه ـ د سترګو په رپ کښے دا سے سخت جنګ اونښتو چه دَ رومبئ ډزو سره کرنل بنّي او ورسره دوه نور فرنګیان کپتان براؤن CAPT. BROWN او لیفټیننټ کریک شینک LT. CRUICK SHANK په قتل اورسیدل ـ

دکرنل بنّي د قتل نه پس جهګړے شدت اختیار کړو ـ دتورو ټوپکو نه خبره لاس په لاس او سینه په سینه مقابلے ته لاړه، او دومره زبردست جنګ برپا شو، چه دَ فیرنګي دفوځ پښے مزید ټینګے نهٔ شوے او په تړپ ئے ځان شیرګنے ته ورسیتو ـ

په دے موقع دَ یو سرکاري سواره په اطلاع دَ دته خیلو نه امدادي دستے ورا ورسیدے ـ رومبے ئے دَ شیرګنے په کلي ګوله

باری اوکړه او بیا ئې ګنړ کورونه اوسیزل - فوځیانو دا هرڅه په منډه منډه کښې کول، ولې کله چه دلته هم غازیان ورپسې راورسیدل نو فیرنګی بیا ترپ ته زورور کړو او په یوه نیمه ۱½ ګهنټه کښې ئې د مایزرنه تر دته خیلو پورې ۱۰½ میله منډه اووهله -

د مداخیلو توریالی ځنړی هم تردته خیلو پورې ورپسې وو - په دغه جهګړه کښې په سوونو فوځیان مړه ګنړ شول او اوه تنه انګریزان قتل شول، چه مشهور په کښې کرنل بنی، کپتان براون اولیفټیننټ کریک شینک وو او لیفټیننټ هیګین سن LT. HIGGINSON سرجن کپتان کاسیډی CASSIDY اولیفټیننټ سټن براون LT. SETON BROWNE سخت ژوبل شول - وروستو سرجن کاسیډی هم د زخمونو دلاسه مړشو - مداخیلو په یو شمیراسونو قچرو، اوښانو، ټوپکو، تورو او راشن باندې هم قبضه اوکړه، ولې د بده مرغه په مقابل کښې ۵۳ تنه مداخیل وزیر هم په شهادت اورسیدل - فیرنګې چه په مایزر کښې د دغې شرمناک اوالمناک شکست سره مخامخ شونو یوځل ئې بیا په مایزر د حملې کولو تیاری اوکړه او په ۱۹/ جولائی سنه ۱۸۹۷ء د دته خیلو په مقام د میجرجنرل کوری برډ (CORRIE BIRD) په کمان کښې دوه بریګیډه فوځ راغونډ شو -

اوّل بریګیډ د کرنل ایجرټن COLONEL EGERTON په کمان کښې وو او دویم د بریګیډیرجنرل ډبلیو- پي سائیمنس W. P. SYMONS په کمان کښې وو - دغې فوځ په ۲۰/ جولائی سنه ۱۸۹۷ء په شیرنې او

مایزرز حملے اوکړے خو چونکه خلقو له ړومبئ نه کلی خالی کړی وو نو دٔ فیرنګی مقصد ترسره نهٔ شو - البته دٔ کلیو ټول کورونه ئے وران کړل او دٔ مداخیلو ځینو مشرانو ته ئے چیل شرائط وړاندے کړل، خو هغوئ هم ورته غاړه کینښوده او فیرنګی په بدل کښے دٔ مداخیلو په کړه، شوال او خینے دره KHINA VALLEY سیمو کښے نور ډیر کلی کورونه تالا ترغه کړل -

فیرنګی په ۳۱/ اګست سنه ۱۸۹۷ء د مداخیلو مشر ملک سادے خان هم ګرفتار کړو اوځلور کاله قید ئے پرے اوخیژولو، کوم چه دهٔ څه په بنوں، ډیره اسماعیل خان کښے تیر کړو او څه په لاهور کښے - ملک سادے خان ته ځکه سزا ورکړے شوه، چه دٔ هنده رام په قتل او دٔ مایزرز په جهګړه کښے د دهٔ پټ لاس وو - اګرچه فیرنګی په مداخیلو باندے هر قسم زور وظلم اوکړو؛ ولے داخبره هم دٔ یادو وړ ده، چه په دے دوران کښے دفیرنګی او دٔ فیرنګی د ډیرو بریخو ککرئ هم ماتے اوځیګرونه غلبیل شول - په شمیر تیر ۹۵۷ تنه مړی ژوبلی ئے اوشول -

دٔ اے - جی ګرانټ تجویز :

په قطبی وزیرستان کښے دحکومت په خلاف دٔ مختلفو دشمنانه وارداتونو او دٔ ملا پاوندہ دکامیاب پرمخ تګ نه انګریزان اوویریدل او دٔ وانا پولیټیکل افسر اے، جی ګرانټ دمورخه ۲۹/جون سنه ۱۸۹۷ء په یو خط کښے دٔ ډیره جاتو ډویژن کمشنر او سپرنټنډنټ ته داسے

تجویز وړاندے کړو۔

" د ملا پاوندهؒ سره زمونږ مخپله ملاقات ضروری دے، خو په دے حقله به بهتره دا وی، چه د ملکانانو له خوانه یوه داسے عریضه اولیکلے شی چه ملا پاوندهؒ د حکومت سره د مذاکراتو کولو دپاره راتلل غواړی او حکومت دِ د دهٔ سابقه کارګزاری نظرانداز کړی۔

بیا دِ هم په دغه عریضه بانڊے حکومت د دهٔ په خلاف د هیڅ قسم قدم نهٔ پورته کولو وعده نوشته کړی۔ که په دے ډول د دهٔ سره ملاقات اوشی نو ګټور به وی۔"

<u>مختلف بریدونه:</u>

یو خوا حکومت د ملا پاوندهؒ په حقله خال خال تدبیرونه سنجول بل خوا ملا پاوندهؒ د قطبی وزیرستان په خلقو کښے اشتعال پیدا کړے وو او د فیرنګی په خلاف معاندانه سرګرمئ زور آخستے وو۔

د مداخیلو په علاقه کښے د انګریزانو د وحشت او بربریت نه ډکے کاروایئ په وجه په ګرد وزیرستان کښے د انتقام اُور بل شوے وو نهٔ چهاونړئ محفوظے وے او نهٔ کیمپونه۔

په دے سلسله کښے د ډانډے واقعه ډیره مشهوره ده۔ وئیلے شی چه د میران شاه د زړے قلعے نه قطب پله به د سپاهیانو تر پهرے لاندے د کانوائی په سلګونو اوښان ځریدل۔

په ۱۳/ جولائی سنه ۱۸۹۷ء د خوستوالو، وزیرو او داوړیو یو ډلے

په دغه اوبنانو غدئ واچوله - دَ فوځیانو او غازیانو ترمینځه سخته مقابله اوشوه - آخر غازیانو میدان اوګټلو او دَ کانوائ نه ئے ۲۵ بیږ اوبنان په مهارونونیولی حوست ته واړول - په دغه جهګړه کښے څلور تنه غازیان په شهادت اورسیدل او ۲۱ تنه فوځیان قتل شول -

دَ اسلام چوکئ برید :

د ډانډے په جهګړے پسے ډیر زر دَ اسلام چوکئ وا پیښه واقعه شوه - اسلام چوکئ دَ بنوں میران شاه سړک په اتم میل باندے دَ ایف سی یوه چوکئ وه - روستو دغه چوکئ پرېښودلے شوه او په ۸/۳ میل باندے د درے غونډاری په موجوده مقام نوے ایف سی پوسټ جوړ کړے شو - دَ اسلام چوکئ په خوا کښے دَ سرکاری اُوبنانو لوئے کانوائ پړاؤ کړے وو - د وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو یو وړوکی غونډ ے لشکر پرے شبخون اوکړو - دَ اوبنانو دَ حفاظتی د ستے او غازیانو ترمینځه په تورو او چړو لاس په لاس جهګړه اونښته - شیبه پس دَ چوکئ[1] نه هم ورپسے د ایف سی سپاهیان رااووتل - اوس جهګړه لا تاؤده شوه او تر ډیرو ګهړیو اوځنډیده - آخر غازیان بریالی شول او ۱۷۶ بیده ئے اوبنان بوتلل او ۷ تنه ئے سپاهیان مړه ټپیان کړل -

په غازیانو کښے هم یو څو کسان برخیرن ژوبل شول -

دَ عمرزو برید : په ۳۰/ جولائی ۱۸۹۷ء د همزونو په سیمه دَ عمرزو کلی

---

[1] هغه پخوانئ اسلام چوکئ دبنوں دَ هوائ ډګر په وجه نن صبا بیا فعاله کړے شوے ده -

خوا کښې یوه سرکاری کانوائ پنځه شوے وه - داوړو غازیانو برید پرے اوکړو او د لږ ساعت مقابلے نه پس ئے ۱۶ بیړه اوښان ترے نه بوتلل او ۵ تنه ئے سپایان اووژل -

گورنر ته دَملاپاوندهؒ خطونه :

مسټر گرانټ چه دَ ملاپاوندهؒ سره د خپل ملاقات کولو بحقله کوم تجویز حکومت ته وړاندے کړے وو - هغه دَ ډیر غور و خوض نه پس منظور کړے شو - حالانکه دَ ډیره جاتو ډویژن کمشنر او سپرنټنډنټ ایچ - اے - انډرسن د دهٔ د تجویز سره متفق نهٔ وو - او په دے تهینګ وو، چه ملاپاوندهؒ ته اهمیت ورکول ښهٔ خبره نهٔ ده او هرڅه چه کولے شی، هغه دِ د ملکانانو په واسطه کولے شی ملاپاوندهٔ دِ ځان له بیل شخصیت او طاقت نهٔ شی تسلیمولے او نهٔ دِ د دهٔ سره براهِ راست خبرے اترے کولے شی -

بل خوا ملاپاوندهٔؒ ته هم د انګریزانو خوږ ځائے معلوم وو، چه کله به څه مسئله ورته پیښه شوه نو په هغه ځائے به ئے ورله ګوتے تینګے کړے - هغه ځائے دَ ملاپاوندهؒ سره د انګریزانو د روغے جوړے ارمان وو - د دے ارمان دَ ریږیدو په طمع به انګریزانو هغه هرڅه کول، د کوم څه خواهش چه به ملاپاوندهؒ کولو حالانکه دَ وزیرستان د آزادئ نه پرته د دهٔ په زړهٔ کښې کوم بل مرام نهٔ وو - په لاندینو دوو خطونو کښې دَ ملاپاوندهؒ اصلی مقصد جوت ښکاری دغه دواړه خطونه په ۶ / مارچ ۱۸۹۸ء د ملاپاوندهٔؒ له خوا نه دَ بنو

ډپټي کمشنر ایچ۔ اے کنمر ته ملاؤ شوی وو او اووه میاشتے د مخکښے په ۱۶-۱۷ اګست ۱۸۹۷ء د پنجاب لیفټیننټ ګورنر ته نوشته کړی وو او بیا ایچ- اے کنمر دُ تاخیر په وجه دواړه د ډیره جاتو ډویژن کمشنر او سپرنټنډنټ ته استولی وو۔

## لیفټیننټ ګورنر پنجاب ته دُ ملا پاونده ورومبئ خط

۱۶ ربیع الاول ۱۳۱۵ھ بمطابق ۱۶ اګست ۱۸۹۷ء

" زه د دے خبرے اظهار ضروری ګنړم چه زه ستاسو سره دُ روغے جوړے متلاشی یم او په عزت مآب باندے مکمل اعتماد لرم۔ زما دا یقین دے چه دا خبره به ستاسو د شهرت او نیک نامئ دپاره هم بهتره وی۔ زه د روغے جوړے کولو درخواست کوم۔ ځکه چه ما آوریدلی دی چه تاسو ډیر قابلِ اعتماد، وفادار او د خپله خبره ټینګ شخصیت یاست او دا هم هرچا منلے ده چه تاسو خپله ژبه نه بدلوئ۔ زه اُمید کوم چه عزت مآب به زما سره دُ روغے جوړے اهتمام اوکړی چه د غیسے هم ما ته او هم نورو مسلمانانو ته فائده اورسی۔ عالیجاه! که چرے د خدائے په فضل دغه راضی نامه اوشی نو بیا به چرے هم دُ مسلمانانو او انګریزانو په مینځ کښے دُ ښمنی او اختلاف راپورته نه شی۔ زما دویم خواست دا دے چه یو سړے کوم چه ستاسو سره یرغمال وو، نن صبا دُ دښمنانو دلاسه دُ پیل شوی کړ بر په وجه جیل

ته استولے شوے دے۔ زۀ اُمید کوم، چه تاسو به دَ دے خط ترلاسه کولو سره سم هغه لطفاً خوشے کړئ دَ هغهٔ نوم جګړ دے، او هغه ما ته بیخي بےګناه ښکاري۔ دَ خوشي کولو نه پس بۓ عزتمآب هغے یرغمال اوساتئ۔ هغه به ستاسو خیرخواه اوسي او دَ حکومت دپاره به ښهٔ خدمت اوکړے شي۔ سرکار چه د دهٔ نه کوم کار آخستل غواړي هغه به ئے اروموکوي ځکه چه هغه ډیر قابلِ اعتبار سړے دے۔ زما دریم خواست دا دے چه تاسو مهرباني اوکړئ ملک اخلاص خان ولدِ شادګل بهلولزئ او ملک حیدر ولدِ سوان غلیزئ ته دَوه شپږ خانیز ریوالور تحفتہً ورکړئ۔ که چرے عزتمآب دا نشي کولے نو دا مهرباني اوکړئ چه په بیعه ئے ورکړئ۔ دَ صلحے کولو نه پس به زهٔ تاسو ته خلو یښت داسے تجویزونه وړاندے کوم، چه په منلو به ئے یوخوا دَ حکومت څه تاوان نهٔ کیږي او بل خوا به زهٔ دَ دے جوګه شم چه مسلمانانو ته ډیره فائده اورسوم[1]۔

دَ خط په آخر کښے دَ ملا پاوندهٔ مُهر ثبت شوے دے۔

ګورنر ته دَ ملا پاونده دویم خط[2]

"زهٔ دا عرض لرم چه دمسلمانانو او برطانوي حکومت ترمینځه دَ راپورته شوے تنازعے پحقله څه اووایم ریه دے سلسله

---

[1] فارن (فرنټیئر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۳۸ مورخه ۱۸۹۸ء۔ [2] دَ ماټنرز جهګړه

کېنې) انګرېزان د مسلمانانو سره په دومره بېدردۍ سره مخامخ شول چه بيان ئې ممکن نه دے. دوئ زمونږ کورونه وران کړل، جائيدادونه موئ لوټ کړل، او نفوس موئ اووژل او دغه واقعه د انګرېزانو دپاره موجب بدنامۍ شوه.

دُ انګرېزانو او مسلمانانو ترمينځه دُ دغے ناچاقۍ اسباب يو څو هغه خاص سړي دي کوم چه د حکومت تنخواه داران دي. په دوئ کښې ځينے دُ محسودو قبيلے سره تعلق لري او څلور دُ حکومت ملازمين دي، چه عظيم خان، غلام محمد ملک خان محمد ولد پائي محمد داوړ او دُ وانا تحصيلدار محمد نوازخان نوميږي.

دُ دے خلقو يوه دا منشا وه چه د حکومت له خوا نه پخپله تنخواه کښې اضافه راولي او بل ئې دا مقصد وو، چه حکومت بدنام کړي. دُ وانا دُ حملے نه وروستو کمشنر، مسټر بروس او ډپټي کمشنر (پولټيکل ايجنټ) چه دُ محسودو جرګه شيخ بديِن[1] ته بللے وه او دا ئې ورته ويلي وو، چه "دُ ملا پاوندهٔ دپاره هيڅ خطر نشته او مونږ غرېزه سيمه دهٔ ته بخښلے ده."

نو هغه وخت دُ ځينو ملکانو په الاؤنسونو کښې اضافه

---

[1] دُ پيزو کوهِ شيخ بديِن، چه په ګرمۍ کښې پکښه آب وهوا لري اودُ سطح سمندر نه ۴۵۱۳ فټه اوچت دے. پخوا به اوړي کښې د ډيره جاتو او بنوں علاقو فوځي او انتظامي هيډکوارټرونه دلته وو.

اوشوه او په څینو کښې کمے۔ په آخر کښې دغه امر ټول اولس ته واورولے شو او خلقو ته پرے ډیر اطمینان حاصل شو څه موده پس هغو شر پسندو ملکانانو چه الاؤنس یافته دی خلقو ته اوویل چه حکومت لګیا دے د دوی علاقه قبضه کوی۔ ما په دے حقله د محسودو، وزیرو او داوړو د مختلفو بناخونو خلق راغونډ کړل او دا مے ورته اوویل چه چونکه حکومت زمونږ په علاقه قبضه لګول غواړی او مونږ ئے د مقابلے جوګه نۀ یو، نو پکار ده چه مونږ امیر ایماندار ته لاړ شو او هغوئ ته خپله معامله وړاندے کړو دغسے به انګریزان نۀ په مونږ تشدد اوکړے شی او نۀ به زمونږ ملک لاندے کړی۔ د پروګرام په مطابق مونږ د امیر ایماندار په حضور کښې حاضر شولو، هغه زمونږ سره په دومره مهربانئ او خوش خلقئ سره ملاؤ شو چه مونږ د هغې حقدار نۀ وو، مونږ امیر ایماندار ته دا عرض اوکړو چه انګریزان د زمونږ خاورے ته نۀ راننوځی۔ ځکه چه یو ځل دوئ دغه ملک زمونږ ملکانانو ته د شیخ بدین په مقام بخښلے دے۔

امیر ایماندار په ځواب کښې راته اوویل چه انګریزانو ما ته لیکلی دی چه هغوئ به په تاسو تشدد نۀ کوی، ولے د امیر نه د راستنیدو سره سم د حکومت فوځونه د داوړو د حدود

نه دته خیلو ته واورېدل او کله چه هلته اورسیدل نو شر انګیز وملکانانو ماته اووئیل چه انګریزی فوځونه به دَ وانا آ په لار د محسودو سیمے ته هم پیش قدمی کوی۔ ما دَ ملکانانو په خبرو باور اوکړو او فوراً مے ټول مسلمانان راغونډ کړل او په دے متفق شولو، چه حکومت ته به په ډانګ ټکی وایو چه که چرے زمونږ ملک ته فوځونه رانوځی نو زمونږ او دَ انګریزانو ترمینځه به خونریزی اوشی۔ له دے جهته مونږ حکومت ته یو عرضداشت اولیکلو او خبردار مو ورکړو چه که چرے زمونږ وطن ته د راتلو اراده لری نو زمونږ ستاسو ترمینځه به سخته جهګړه اونښلی، ځکه چه زمونږ وطن یو ځل مونږ ته دَ شیخ بدین په مقام بخښلے شوے دے۔

انګریزانو مونږ ته څه ځواب رانه کړو چه آیا دوی زمونږ وطن ته فوځونه رالیږی که نه۔ څه موده پس دَ خدائے په خوښه داسے اوشوه، چه دَ انګریزانو او مداخیلو درویش خیلو په مابین کښے دَ ګیر په سیمه کښے دَ مائیزر په مقام جهګړه اوشوه۔ دَ دے واقعے په پیښیدو زه ډیر زیات حیران شوم چه آخر داڅه وجه وه؟ چه درویش خیل او انګریزان ئے یو په بل دومره بدګمانه کړل، ما دَ دے غیر متوقع جهګړے په حقله ډیر تحقیقات اوکړل۔ آخر ماته معلومه شوه، چه دَ

انګریزانو او درویش خیلو ترمینځه دَجهګړے اصل سبب غلام محمد او خان محمد ولد پائی محمد داوړ وو - زهٔ پخپله هم پریشان یم ځکه چه دَبار بار راخوا دَآزادے علاقے خلق ماته راځی او وائی چه انګریزان به ستاسو ملک هم پرے نزدی او تپوس کوی چه آیا تاسو به جنګ ورسره کوئ که نه -

له دے کبله زهٔ تاسو ته خواست کوم چه په ملکانانو او دَسرحد په برطانوی افسرانو باندے زما اعتماد پاتے نهٔ دے - ملکانان زما او دَانګریزانو په مینځ کښے نفرت پیدا کوی - زما په خیال به دا ډیره ښهٔ وی چه اوس زما او دَانګریزانو په مینځ کښے دَامن فضا قائمه شی ، ځکه چه زمونږ دَخاوړے په نیولو کښے به حکومت ته نقصان ډیر او سود کم وی - دغه شان به دَانګریزانو په لاس زمونږ دَوطن قبضه مونږ ته هم دَتکلیف باعث شی او حکومت ته به هم ګټوره نهٔ شی ، ولے چه مونږ زراعتی زمکے نهٔ لرو - مونږ دَاُونو او مزرو په پیداوار ګزاره کوو او خدائے دغه زمونږ دَژوند ذریعه ګرځولے ده - زمونږ دَاوسیدو بله ذریعه دا ده ، چه مونږ په ژمی کښے دَشپږو میاشتو دپاره په برطانوی علاقه (علاقه سرکار) کښے مزدوری کوو او دَاوړی شپږ میاشتے په خپل وطن کښے تیروو - بله خبره دا ده چه انګریزانو له اوّل نه

زمونږ دُ وطن گټورے سیمے قبضه کړے دی، لکه څنګه چه داوړی او وانا دی، نو زهٔ درخواست کوم چه حکومت دِ په دے باره کښے ماته یو داسے فرمان رااولیږی چه باقاعده ستاسو مُهرونه پرے لګیدلی وی۔

که چرے عزت مآب دے ته غاړه نهٔ ږدی، نو زما په دماغو کښے یو بل تجویز هم شته، کوم چه به دُ حکومت دپاره ډیر مفید وی او هغه دا دے، چه حکومت چه کوم الاؤنسونه ملکانانو ته ورکوی، هغه دِ زما او دُ ملکانانو ترمینځه نیم په نیمه اوویشلے شی او ملکانان دِ په نیمو الاؤنسونو خدمتونه کوی۔ دویمه خبره داده، چه دَ اوبو او مزرو نه علاوه زمونږ په وطن کښے کوم بل ګټور څیز نشته حکومت دِ په علاقه سرکار کښے دَ دغو پیداوار په خرڅون معمولی غوندے ټیکس اولګوی۔ دلته دوه ملکانان دی چه نومونه ئے حیدرخان شابی خیل او ملک اخلاص خان بهلولزئے دی، حکومت دِ دا حکم اوکړی چه دَ پورتنو اوبو پیداوار به بغیر دَ دوئ د اجازت نهٔ شی خرڅولے۔ دریمه خبره داده چه دَ سرحد برطانوی افسرانو ماته لیکلی دی چه

"ماته به په ټانک او بنوں ضلع کښے ۹۰۰ کناله آبی زمکه راکولے شی"، ولے زهٔ دوئ خبروم، چه زهٔ به دَ دوئ هیڅ قسم پیشکش قبول نهٔ کړم ،ځکه چه دا زمونږ په مذهب

کښې روا کار نهٔ دے او هر قسم وبال ترے نه راولاړیدے شی۔

بهرحال که عزت مآب هم دا آرزو لری چه زهٔ دَ حکومت له خوا نه ارومرو څه قبول کړم، نو هغه به په یو شرط وی هغه دا چه لس علماء ماته په برملا اووائی چه ته څه قبول کړه، نو بیا به زهٔ قبول کړم ځکه چه دا بیا زما دَ مذهب په روئے غیر قانونی کار نهٔ دے۔ زهٔ به هغه زمکه هم قبوله نهٔ کړم، کومه چه زما دَ مذهب له رویه ماته ممنوعه وی، خوا که سرهٔ هم زرغونوی۔ هر کله چه زما او دَ حکومت په مابین کښې صلح اوشی، نو زهٔ به هغه وخت څلویښت تجویزونه وړاندے کوم که چرے حکومت هغه اومنل نو یو خوا به انګریزان دَ هر قسم مصیبت نه په امن شی او بل خوا به دَ مسلمانانو دپاره ګټور ثابت شی"۔[1]

مورخه ۱۷ ربیع الاول سنه ۱۳۱۵ھ بمطابق ۱۷/ اګست سنه ۱۸۹۷ء

دَ ملا پاونده ثبت شده مُهر

ملا پاونده[رح] که هر څو انګریزانو ته خطونه لیکل او هر څوئے دَ روغے جوړے خواهش ترے نه کولو، خو دَ دے دا مطلب نهٔ وو، چه ګنی هغه مجبور وو، بلکه هغهٔ په وزیرستان کښې بنهٔ مضبوط پوزیشن لرلو او یو منلے شوے طاقت وو او دغه طاقت انګریزانو

---

[1] فارن (فرنټیئر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۳۸ مورخه اپریل سنه ۱۸۹۸ء۔

هیڅکله نظرانداز کولے نه شو۔ په نتیجه کښے به دواړو فریقینو دُ خپل خصوصی مقصد لاندے یو تربله مصروف ساتل۔ دغسے امیر عبدالرحمان که هر څو په ظاهره دُ ملا پاوندهؒ نه لمن راکښله، ولے پټ په پټه به ئے هر قسم کمک ورسره کولو۔ توپک ئے ورکول، مالی امداد ئے ورته رسولو او خلقو ته به ئے دُ ده سره د تعاون کولو یخقله هدایات ورکول۔ دا هر څه به دُ ارګن دُ ګورنر سردار ګل محمد په واسطه کیدل۔ دُ ملا پاوندهؒ سره دغه وخت دُ امیر کابل د سلاح نه علاوه دُ انګریزانو نه دولجه شوو توپکو هم پوره تعداد موجود وو۔

هسے خو په ګرد وزیرستان کښے ملا پاوندهؒ یو مقبول لیډر او پُرکشش شخصیت وو او بیغیر دُ ملکانانو نور هر څوک دُ ده طرفدار وو، ولے عمردین عبدالائی محسود، ظلمن شینګی محسود، خالو عبدالرحمان خیل محسود، ګل داد عبدالرحمان خیل محسود او دُ بنوں دُ کیمپنئ سیمے جان او سیلګے د ده د مختلفو سرتیرو ډلو مشران وو۔ او هر وخت به دُ فیرنګی په خلاف بوخت وو۔

دُ دوئ نه پرته دُ جنوبی او شمالی وزیرستان هره سیمه فیرنګی ته اُور وه او پرله پسے به حملے پرے کیدلے۔

## جګر عبدالرحمان خیل :

جګر عبدالرحمان خیل محسود وو، چه دُ وانا په جهګړه کښے دُ یو لیډر په حیث جنګیدلے وو۔ په دے وجه هغه په یرغمالو کښے نیولے شوے وو۔ په جولائی ۱۸۹۷ء کښے هغه په ډیره اسماعیل خان کښے دُ یرغمالو

دَ سرائے تخته اوتښتيدو، ولے هم په دغه شپه دَ ډېرو په بنهر کښے سره دَ وَ سلے گرفتار کړے شواو دَ خپلو مشکوکو ارادو په بنا څلور کاله بامشقت قيد او پنځوس روپئ جرمانه شو۔ جگړ دَ مستېر کيلے اور سير او دَ قادر بخش جمعدار په قتل کښے هم ملوث وو۔ دغه شان د ملک داوېگر په قتل کښے هم شامل وو۔ دَ دينه علاوه ئے پخپل کلی کښے هم اتلس[۱۸] تنه سرى قتل کړى وو۔ هغه دومره سرتېرے وو چه دَ حکومت سره به هر وخت دَ جېل نه دَ دَه دَ تښتيدو وېره وه، په دے وجه هغه د ليفټيننټ گورنر په حکم دَ منټگمرى جيل ته استولے شوے وو۔ دغه باتور تر کال سنه ۱۹۲۹ء پورے دَ فيرنگى سره برسرِ پيکار وو او په افغانستان کښے غزنى ته نزدے دَ مياں جى سره په غوزبه کښے اوسيدلو او هم هلته په حق اورسيدلو۔

دَ لبر کيمپ تالان :

دَ کانى روغے په سيمه کښے فيرنگى يو لبر کيمپ قائم کړے وو، چه د تعميرى کارونو ماهرين، مزدوران، خره، اسونه او نور سازوسامان په کښے موجود وو۔ دَ کيمپ نه چاپيره ازغيچن تارونه تاو شوى وو او په څلورو وارو کُنجونو کښے به ئے سنترياتو گرځه شپه پهره کوله۔ يوه ورځ دَ خوست نه دَ بکاخيلو مفرورانو، تانړيو او خوستوالو لشکر ورپسے راغے او د ۳/ اگست سنه ۱۸۹۸ء په شپه په دغه کيمپ ورپريوتو۔ يو لوئے شور ماشور پورته شو او دغازيانو او فوځيانو ترمينځه زبردسته جهگړه اونښته فوځيانو دَ زښت خوف وهيبت نه وسله اوغورځوله۔ غازيانو کيمپ

تالا کړو او ۱۶۰ خرونه، ۱۳ اسونه او نور پرېمانه مال و متاع ئې تر لاسه کړو او پخپله مخه لاړل۔

دا هغه غازیان وو کوم چه د ډانډے نه هم اوښان بوتلی وو۔ د دغو غازیانو په وجه دَ بکاخیلو وزیرو، منظرخیلو وزیرو، توری خیلو وزیرو او داوړو یو څو کسان فیرنګی ګرفتار کړل او دَ منټګمری (ساهیوال) جیل ته ئې واستول۔ په منظرخیلو باندے د علاقائی ذمه واری په وجه دوه زره ۲۰۰۰ روپئ جرمانه اولګیده او پخپلو حدودو کښے د لشکر د راپرېښودو په سبب د زنګوټی په خرسینو او داویګر په سیدګیو باندے پنځه پنځه سوه روپئ۔

## په سرکاری رمه برید:

پخوا به دَ شودو او غوښو دپاره په فوځی کیمپونو کښے لوئے لوئے رمے ساتلے شوے۔ یو ځل دَ بویه قلعے نه په ۲۰۰ فټه فاصله باندے یوه لویه سرکاری رمه پېیوه شوے وه په ۱۷/ اګست ۱۸۹۸ء مامیټ خیلو ژنړیو برید پرے اوکړو او ۱۴۰ پسه ګډے بزے ئې ترے نه بوتلے۔ فیرنګی دَ دے جرم په پاداش کښے په مامیټ خیلو وزیرو باندے زر روپئ جرمانه اولګوله۔

## د ډاک په ټانګه برید:

په ۱۹ / اګست ۱۸۹۸ء دَ وزیرو داوړو غازیانو یوے ډلے دَ سورکیر او لکاغونډی ترمینځه دَ ډاک په یوه ټانګه باندے برید اوکړو۔ دوه سپاهیان، یو دَ ټیلیګراف سګنلر او د ټانګے سیک کوچوان ئې اووژل

او تهانګه ئې لوټ کړه -

## دګیمبتۍ دوېمه جهګړه :

لکه څنګه چه مخکښې دګیمبتۍ سیمه دُغازیانو د پټنې غالی ځای وو- دغه شان به اوس هم هر وخت غازیان په کښې ځیمبیدل او د فیرنګی په خلاف به ئې عملیات کول - فروری ۱۸۹۹ء کښې یوه شپه دُ بنوں نه فوځ ورمارچ شو او صبا سحر ئې دکلی نه ګیره تاو کړه -غازیان چه خبر شول نو دکلی دوو دنګو مانړیو ته اوختل او په فوځیانو ئې دَ توپکو لوخړې ورپرېښودې- فیرنګی په دغو مانړیو پسې وار په وار توپونه راوړل، او سخته ګوله باری ئې پرې اوکړه- مانړۍ خو رنګې شوې ولې غازیانو ته هیڅ تاوان او نهُ رسیدو- اوس غازیان ورپسې باهر راووتل او داسې جنګ ئې ورسره اوکړو چه فوځ بیرته بنوں ته پسې وُیستے- فیرنګی دوېمه ورځ بیا په دغه سیمه حمله اوکړه خو کامیاب نهُ شو، او په دغو دواړو هڅو کښې په ګنړ ګنړ لی ۸۵ تنه فوځیان هلاک او بے شمیره ژوبل شول -

## دُ ملا پاونده په خط کارګزاری :

ملا پاونده یوځل بیا دَ اګست ۱۸۹۹ء په آخر کښې دَ محسود نائب تحصیلدار شاهزاده غلام محمد ته اولیکل چه :

" په وزیرستان کښې دَ موجوده ګړبړ حالاتو

له کبله زهٔ ستاسو سره ملاقات کول غواړم ".[1]

شاهزاده غلام محمد د دهٔ خواهش حکومت ته وړاندې کړو او بیا لاندینی خط و کتابت پرې اوشو۔

"مورخ شمله ۲، اکتوبر ۱۸۹۹ء

منجانب قائم مقام سکریټري حکومت پنجاب۔ محکمه خارجه

برائے چیف سکریټري گورنمنټ پنجاب۔

زهٔ گورم چه ملا پاونده" څوڅو ځله د حکومت سره د دروغ جوړې کولو خواهش ښکاره کړې دے۔ کله هغه د وانا پولټیکل افسر سره د ملاقات پروګرام جوړوی او کله په قبائیلی الاؤنسونو کښې د برخے د پاره وینا کوی۔ اوس هغه د نائب تحصیلدار شاهزاده غلام محمد سره د ملاقات کولو تجویزونه وړاندې کوی۔ دا حقیقت دے چه ملا پاونده په محسودو کښې د لوئے اثر خاوند دے، که چرے هغه دے ته مائل کړے شی، چه د حکومت الاؤنس قبول کړی نو دا امکان کیدے شی چه د یو مذهبی جنونی رهنما په حیث به د دهٔ طاقت ترڅهٔ حده ختم شی۔

د حکومتِ هند دا خیال دے، چه دا به ډیر

---

[1] فارن فرنټیر ډیپارټمنټ: ف نمبر ۱۷ - مورخه ستمبر ۱۸۹۹ء۔

دانشمندانه اقدام وی، چه دَ وانا پولټیکل افسر کهٔ
کیدےشی، نو چه دَدهٔ سره دَ لیدو کتو دغه زرینه
موقع ترلاسه کړی۔

موږ دے ته مائله یُو چه دَ مُلاّ سره صلح کول
یو کټور کار اوګڼو۔ او دَ حکومت په طرفدارانو کښے
دَ دهٔ نوم شامل کړو۔ زهٔ دَ عزت مآب لفټیننټ ګورنر
دَ غور وخوض دَپاره دغه مشوره تجویز وم[1]"

ملا پاوندهٔ" به کهٔ هرڅو دَ انګریزانو سره خط وکتابت کولو او
دَ روغے جوړے خبرے به ئے وروړاندے کولے، خو په وزیرستان
کښے دَ دهٔ بریڅو په خپلو معاندانه سرګرمیو کښے هیڅ کمے نهٔ راوستو،
بلکه هغهٔ بچپله هم په ۲۳ اکتوبر ۱۸۹۹ء په دریو زرو مشتمل
لښکر راغونډ کړے وو او کوټکی، سپلا توئی، بروند، خیسارهٔ او
شکی ته ئے دَ تلو پروګرام جوړولو او دا به ئے وئیل چه که چرے
فیرنګے هغسے دَ کندیوام په لار دَ ډاک ترسیل جاری لری، نو
جنګ به ورسره کوو۔ دغه خبرے دَ وانا پولټیکل افسر ته هم پتے
نهٔ وے او زښته ویره ورسره وه، او حکومت دَ دهٔ په خواهش
ټانک ته درووند فوځ راغوښتے وو۔

انګریزانو کهٔ یو خوا دَ ملا پاوندهٔ" په خلاف فوجی تیاری کوله نو
بل خوا ئے دَ دهٔ سره دَ روغے جوړے کولو نهٔ هم لاس نهٔ آخستو

---

[1] فارن (فرنټیر) ف نمبر ۱۷ مورخه اکتوبر ۱۸۹۹ء۔

او په دے سلسله کښے به د افسرانو په مابین کښے په ډیر خفیه ډول خط وکتابت جاری وو او هر قسم کوششونه به کیدل۔

په ۳، نومبر ۱۸۹۹ء چه د ټانک څخه د جنوبی وزیرستان پولیټیکل افسر ایچ۔ ډی۔ واټسن د ملا پاونده په حقله د ډیره جاتو ډویژن کمشنر او سپرنټنډنټ ته کوم خط لیکلے وو۔ د هغے د متن په رڼا کښے نوڅه دا ډول خط وکتابت روان وو۔

دا خط په ۷، نومبر ۱۸۹۹ء مسټر انډرسن، چه د ډیره جاتو ډویژن کمشنر او سپرنټنډنټ وو، د حکومت پنجاب چیف سکرټری ته لیکلے وو:

"مسټر واټسن رپورټ کوی چه اوس "مُلا" د یو باغی اقلیت په مشرئ پورے تنګ شوے دے او د یوے دوستانه تصفیئے دپاره تیار دے۔ دغسے به محسود ملکانان هم د دهٔ په صُلح خوشحال اوسی او په دے کښے خاص مشکلات هم نهٔ معلومیږی چه مُلا پاونده د پولیټیکل افسر یا کوم بل منصبدار سره، چه په چا اعتماد لری، ملاقات ته غاړه کیږدی، ولے چه دهٔ ته پخوا هم په ډیر کرته تسله ورکړے شوے ده، چه هغه برطانوی علاقے ته په آزادانه ډول راتلے شی، ولے دا سے معلومیږی چه هغه دغسے تش په نوم اطمینان ته اهمیت نهٔ ورکوی، او نهٔ به ئے تر هغه

پورے ورکړی، ترڅو پورے چه پولټیکل افسر پخپله ډاډګیرنه وی ورکړے۔

دَ محسودو علاقے ته چه دَ عزت مآب لفټیننټ ګورنر دَ دورے نیټه راشی، نو ملکانان به په خوشحالئ سره دَ عزتمآب په وړاندے دا درخواست پیش کړی چه دَ مُلا تیر دِ په هیر کړے شی او دَ حکومت سره دَ روغے جوړے موقعه دِ ورکړے شی۔

دَ دے درخواست په سبب به پولټیکل افسر دَ دے جوګه شی، چه دَ ملکانانو تعاون او اثر استعمال کړی او بیا دَ مُلا خواهش او وضع معلومولو نه پس دهٔ ته دَ ملاقات دعوت ورکړی. دَ مسټر واټسن دا خیال دے چه

مُلا پاوندهٔ به نغد الاؤنس قبول نهٔ کړی
البته دَ زمکے عطیّه به په دا شرط قبوله کړی
چه هغه جُومات پرے جوړ کړی او بغیر دَ څهٔ
تعرّضه په علاقه سرکار کښے میشتهٔ شی۔

زهٔ دَ مسټر واټسن دَ رائے او تجویز سره متفق یم او دَ منظورئ دَ پاره ئے سفارش کوم۔ زما خیال دے چه دَ مُلا سره دَ ملاقات اهتمام ممکن دے، خو مذاکرات دِ ډیر په احتیاط سره پرمخ وړلے شی او دَ حد نه زیات تشویشی نمائش دِ نهٔ کیږی۔ هیڅ تلوار نهٔ دے پکار۔ او پولټیکل افسر

ته دے دَ خپلو تدبیرونو دَ تکمیل په لړ کښے وخت ورکړے شی۔ مگر بیا هم که مونږ هرڅو محتاطه اوسو، خو مُلّا پاونده به ئے داسے انګیری چه حکومت دَ ده سره دَ روغے جوړے په حقله زښته آرزو لری، نو ظاهره ده چه هغه به ډیر زیات مطالبات وړاندے کوی، خو اُمید دے چه په آخر کښے به ئے کم کړی او یوه مناسبه تصفیه به اوشی۔ نور خو څهٔ، هغه که صرف دومره هم قائل شی چه بغیر دَ کوم خوف وخطره علاقه سرکار ته راشی، نو بیا به هم مونږ ګټور اوسو۔ خو دَ دے سره سره به بلاشک وشُبه یوه لویه خطره هم موجوده اوسی، ځکه چه دغه احتمال کیدے شی، چه که چرے خبرے اترے ناکامه شی نو دَ مُلّا په دماغو کښے به ضرور خلل راشی او له دے نه به لا زیات مضر اوګرځی څومره چه هغه اوس دے۔ مجموعی طور زهٔ داخیال کوم، چه دغه خطر آخستل څهٔ بدکار نهٔ دے، ولے چه که چرے مذاکرات کامیاب شی نو ګټه به ډیره وی او غالب یقین دا دے، چه مذاکرات به کامیابیږی۔ مسټر واټسن اوس په جنوبی وزیرستان کښے ډیرے میاشتے خدمت کړے دے او محسود په ده ډیر اعتماد لری۔ ځکه چه دوئ ئے پیژنی۔ دا به اوس ډیره ښهٔ وی چه دوئ هغه مذاکرات شروع او

په مخ یوسی کوم چه دهٔ دَ حکومتِ هند دَخواهشاتو پوره کولو
دَپاره تجویز کړی وو.[۱]

په دے شپو ورځو کښے انګریزانو په وزیرستان کښے دَملیشئے دَ
بهرتئ کولو پروګرام روان کړے وو. ملا پاوندهٔ یو ځل بیا دوئ ته
اخطار ورکړو، چه تاسو چه څهٔ کوئ نو پوهیږے زما سره پرے مشوره
کوئ۔ ملکانان به تاسو تیر باسی. کهٔ داسے نهٔ کوئ نو عنقریب
تاوان به راولاړ شی. فیرنګی به دَ ملا پاوندهٔ په اخطار هیڅ غوږ
نهٔ کړولو، ولے چه هغه دَ دهٔ مونږ ویستو ته لیواله وو. مراد
ئے دا وو، چه یا یار شی او یا خوار۔

په دے سلسله کښے به فیرنګی یو خوا دا کوشش کولو چه
مُلا پاوندهٔ دَ حکومت خپل شی او بل طرف ته به ئے دغه هر څهٔ
دَ ملا پاوندهٔ او دَ وزیرستان دَ خلقو نه پټ ساتل او داسے به
ئے ظاهرولے چه ګنی حکومت دَدهٔ په روغه جوړه کښے کومه ذاتی
دلچسپی نهٔ لری. په آخر کښے دَ مستر ګرانټ دَ تجویز په مطابق حکومت
پخپله دَ محسودو ملکانانو له خوا نه دَ ملا پاوندهٔ دَ معافئ دَپاره
لفټیننټ ګورنر ته په لاندینی ډول عریضه اولیکله او په ۲۲ نومبر
۱۸۹۹ء دَ سروکئ په مقام په دربار کښے وړاندے شوله۔

"مونږ دَ دریو محسودو قبیله ستاسو په حضور کښے
لاندینے عرضداشت وړاندے کوو، چه ملا پاوندهٔ دَ محسودو

---

[۱] فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ۔ ف نمبر ۱۷ مورخه دسمبر ۱۸۹۹ء

په قبیله کښې یو سرګرده لیډر دے. او همیشه دَحکومت نه په تردّد کښې اوسی . موږ غواړو چه حکومت دِے دَ دهٔ په حقله دَ روا داری نه کار واخلی او په علاقه سرکار کښې دِے دهٔ ته دَ آزادانه نقل وحرکت اجازه او اطمینان ورکړے شی، چه دَ دهٔ او دَحکومت په مابین کښې اعتماد قائم شی. که چرے دَ مُلّا سره ښهٔ وضعیت اوشی نو دا به یو ډیر سودمند کار وی. ځکه چه هغه کهٔ هر څو دَحکومت مخالف نهٔ دے، خو بیا هَم حکومت په دهٔ اعتماد نهٔ لری. دا وجه ده، چه ټول بدمعاشان ئے هم دَحکومت مخالف ګنړی، او دَ مختلفو وارداتو نه پس دَ دهٔ په کوړ کښې پناه آخلی. او دغه کار همیشه زموږ دَپاره دَ تکلیف باعث اوسی.

دَکله نه چه دَ مُلا پاوندهٔ او افسرانو ترمینځه په آزادانه توګه میل میلاپ شروع شی، نو په عزیزه سیمه یا کوهستان کښې به کوم تشویشناک صورتِ حال نهٔ راپورته کیږی.

مُلّا پاوندهٔ دَ حکومت سره دَ روغے جوړے زیات آرزومند دے، نو ځکه موږ دَ محسودو ملکانان دا په ټینګه وایو، چه حکومت دِے دَ دهٔ تیرے کارګزاری معاف کړی او دَ دهٔ سره دِے دَ داسے مشفقانه سلوک وضع اوشی په کومه چه بادشاهان ښکلی ښکاری "

............ ستاسو دَ نیکنامئ خواهان -

درخواست کننده گان :

۱- شاه سلیم : مُهرئے لګولے دے
۲- الله باغ ″ ″
۳- غازی ″ ″
۴- میرابات ″ ″
۵- میراجل ″ ″
۶- بهادر دین ″ ″
۷- ګل داد خان ″ ″
۸- فتح خان شینکی ″ ″
۹- امین خان ″ ″
۱۰- بدرقه خان ″ ″
۱۱- بادشاه خان : دستخطئے کړیدے
۱۲- آدم خان ″ ″
۱۳- محمد ایاز شادی خیل ″ ″
۱۴- فتح روز ″ ″
۱۵- محمد افضل : دستخط ئے کړے دے
۱۶- جبال خان ″ ″
۱۷- ظفر خان ″ ″
۱۸- کابل خان ″ ″
۱۹- داویکر خان ″ ″
۲۰- اعظم خان ″ ″
۲۱- کاکړ خان : مهرئے لګولے دے
۲۲- علی جان ″ ″
۲۳- میراَجل ″ ″
۲۴- فقیر خان ″ ″
۲۵- لال ګل ″ ″
۲۶- اعظم خان ″ ″
۲۷- ګل دین ″ ″

***

---

له فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ. ف نمبر ۱۷ مورخه دسمبر ۱۸۹۹ء.

# دَمُلا پاوَنده او مسٹر واٹسن ملاقات

د ملک الله باغ، ملک غازی شمن خیل، محمد آیاز شابی خیل، پهلوان اُرمړ او جرس ولد میراجل هیبت خیل د کامیابو کوششونو په برکت دَ انګریزانو له خوا د ملا پاوَنده سره دَ روغے جوړے پروګرامونه مکمل کړے شول. خو په دے کښے یو داخنړ راغے چه د دسمبر ۱۸۹۹ء کښے دَ بنوں ډپټی کمشنر بنوں کښے دَ ملا پاوَنده یو خصوصی نفر حکیم خان شابی خیل محسود سره دَ خپلو دریو اُوښانو ګرفتار کړو.

ملا پاوَنده په دے فعل ډیر دلګیر شو او دَ حکومت نه ئے دَ حکیم خان دخلاصید و مطالبه اوکړه او ورته وئیل ئے چه "یو خو حکیم خان د حکومت مجرم نهٔ دے او بله دا چه دَ وانا پولټیکل افسر ماته دَ خپلو یو څو نفرو او اُوښانو پحقله په علاقه سرکار کښے دَ خوځیدو او سود سودا کولو اجازت نامه راکړے دهٔ." د حکومت له خوا په حکیم خان دا الزام وو، چه دَ ټانک زام په قلعه چه کومه حمله شوے وه، په هغے کښے دے هم شامل وو او په ۵ / مارچ ۱۸۹۹ء ئے دَ ففتهٔ پنجاب کیولری یو څو سواره هم وژلی وو او ټوپک ئے ترینه اوړی وو.

بهرحال حکیم خان که مجرم وو هم، خو انګریزانو دَ ملا پاوَنده په خبره تیرے نهٔ شو کولے، هغه ئے ټانک ته راوستو او دَ ملا پاوَنده سره ئے دَ ملکانانو په ذریعه دا فیصله اوکړه، چه د حکیم خان په

بدل کېنې به ترهغې پورې يو څو معتبران او دُملاپاوندهٔ رح دپرګنی ملکانان دحکومت سره يرغمال اُوسی ترڅو چه ملاپاوندهٔ رح د حکومت دکوم عزيز سره ملاقات نهٔ وی کړې او حکيم خان به هغه وخت خوشې کولې شی، کله چه ملاپاوندهٔ رح دُ ملاقات دپاره جنډولې ته روانيږی -

ملاپاوندهٔ رح دُ انګريزانو سره دُ خپل ملاقات په ترڅ کېنې دُ محسود و وزيرو، داوړو او بيټنو ګڼ خلق راغونډ کړی وو او مکمله صلاح ومشوره به ئې ورسره کوله -

دغه شان به ملکانانو هم دُ انګريزانو له خوا نه د دهٔ سره خبرې اترې کولې - آخر دُ مسټر واټسن، پولټيکل افسر وانا او ملاپاوندهٔ رح ترمينځه د ۲۶ / فروری سنه۱۹ء په کاڼيز دُ دوټک خلهٔ په مقام چه دُ شهور او ټانک زام مقام اتصال دے او دُ جنډولے نه دُ حيدرړی کچ په سړک اندازتاً د يو ميل ياڅه کم وبيش فاصله باندې واقع دے دُ ملاقات تعين اوشو - شرط په کېنې دامقرر شو چه د ملاقات په دوران کېنې به دُ ملاپاوندهٔ رح سل نفر خپلوان دُ جنډولے په قلعه کېنې ساتلې شی او هم دغه شان به دُ محسودو څنې يرغمال کېنيولې شی چه په هغو کېنې به دُ ملاپاوندهٔ رح رشته داران، دُ ميراجل هيبت خيل ځوئې او ملک مُوال شابی خيل هم شامل وی -

جنډولے ته دُ تلو نه اول ملاحمزالله هم ملاپاوندهٔ رح ته ځان رااورسولو - دُ هغې نه پس ټول پروګرام مرتب او عملی شو -

په دے موقع دَ ده او دَحکومت ترمینځه دَمن اکراتو خبرے خورے شوے وے او په زرګونه نفوس راغونډ شوی وو۔ کله چه ملا پاوندهؒ جنډولے ته راورسیدو، نو حکیم خان خوشے کړے شو۔ دغه شان ۶۳ ملکانان او ۱۱۵ یرغمال چه اکثر په کښے دَ ملا پاوندهؒ خیل خپلوانؒ او معتبران وو، دَ جنډولے قلعے ته راغلل او دغسے دَ مسټر واټسن او دَ ملا پاوندهؒ دَ ملاقات ترتیبات روان وو۔

دَ ورځے په دوو بجو ملا پاوندهؒ دَ تا کلی شوی ځائے پله حرکت اوکړو۔ په دے موقع هم په زرګونو اولس راغونډ شوے وو۔ یوخوا دَ حفاظتی اقداماتو په لړ کښے دَ مسټر واټسن سپاهیان خوارهٔ وو او بلخوا دَ ملا پاوندهؒ وسله بند شیخان، مریدان، طالبان او تیمانؑ په جوش وخروش کښے مورچه زن وو۔

دَ محسودو ملکانانو خو به ترهرچا نه زیاتے منډے وهلے۔ یو زبردست جشن بنګاریدو۔ چرته چه ملا پاوندهؒ او ملا حمزاللهؒ نمونځونه کول، هلته په اُونو کښے سرهٔ سرهٔ بیرغونه رپیدل، چه دَ

ع۱ دَ احمد شاه بابا په فوج کښے به دَ هر سردار سره یو شمیر فالتو سپاهیانؒ وو۔ دغو سپاهیانو ته به تیمان ویلے شول۔ دوی به وقتاً فوقتاً په دشمن غدئ اچولے او لوټ شوک به ئے کولو۔ څه به چه په لاس ورغلل، هغه به دوی ته بخښلے شول۔ ځکه چه دَ سرکار له خوانه نهٔ خو دوی ته وظیفه ملاویدله او نهٔ تنخواه۔ په وزیرستان کښے نن هم عوام تیمان بللے شی۔

نمانځه نه فارغ شول نو اندازتاً دَ سلو مسلح کسانو په معیّت کښے دواړه خپل منزلِ مقصود پله روان شول او وروستو محکښے به نے سرے سرے جهنډے رپیدلے -

دَ فریقینو په رضا دَ متعلقه بدرګو وسله بند نفر لرے لرے تقسیم کړے شول او په مینځ کښے نے دواړه فریقین وبله کښیناستل ملا پاونده رح، ملا حمزالله رح او دَ دوئ ملګری دَوطن دَ دود و دستور په مطابق په توشکو کښیناستل او انګریزان په کرسیو، کومے چه دوئ دځان سره راوړے وے - په دے موقع دَ مستر واټسن سره میجر هارمن، لیفټیننټ جیوټ JEWIT او دَ محسودو تحصیلدار محمد اعظم خان وو او دَ ملا پاونده رح سره ملا حمزالله رح او یو څو شیخان -

دَ دے ملاقات په حقله مستر واټسن په خپل رپورټ نمبر ۳۸۸ مورخه ۵/ مارچ سنه۱۹۰۰ء کښے دَ ډیره جاتو کمشنر او سپرنټنډنټ ته لیکی چه[1] :

" په دے موقع دَ زرو نه پورته محسود اولس موجود وو او زمونږ دَ اندازے په مطابق پنځه یا شپږ سوه دَ مختلف نوعیت ټوپک بنګاریدل[2] او دَ نورو وسلو خوځه شمیرنه وو" مخکښے لیکی چه :

"ملا پاونده رح دَ قوارے نه غټ دروند سړے دے او تکه توره

---

ع۱ فارن (فرنټیر) ډیپارټمنټ ف نمبر ۲۶ مورخه مارچ سنه۱۹۰۰ء -

ع۲ BREACH LOADING RIFLES.

ګنړه ږیره او ښکلی خد وخال لري. ده د سره جیکټ دپاسه د ملا نه ښکته تر زنګانه پورې زغره آغوستې وه او د استرا خان ( ASTRA KHAN ) خولۍ دپاسه ئې خود هم په سر کړې وو. په کمربند کښې ئې یو خنجر او یو ریوالور وو. ملا حمزالله رح د ورکوټي قد سړې دې. په ښکلې تازه مخ باندې شنه ږیره لري."

د منذاکراتو په وخت مسټر واټسن، تحصیلدار محمد عظیم خان ملا پاونده رح او ملا حمزالله رح پاتې شول او باقي له څیرې په ډډه کړې شول. ملا پاونده رح د خپلو مطالباتو په لړ کښې مسټر واټسن ته اوویل چه: "زه غواړم چه ماته اجازه راکړې شي، چه زه په پرامن طریقه او بغیر د څه خرنړه خپل مذهبي تبلیغ ته دوام ورکړم.

بله دا چه ماته د موجوده کربښې ( د پوستونو لائن) نه اخوا زما په قبیله کښې د حکومت د مداخلت کولو هیڅ جواز نه معلومیږي یعني (جنډولہ، سروکئ، ګنده اوبه او وانا) او زه به ډیر خوشحاله یم چه حکومت د دغې کربښې نه اخوا کوم پوسټ تعمیر نه کړي. او هم دې د ګنداوام د موجوده لارې نه د ډاک تریل تبدیل کړې شي."

ده مزید اوویل چه:

"حکومت دې د محسود و سره یو بونډري حد مقرر کړي، چه

دهغې نه اخوا دَ محسودو په معاملاتو کښې دخل اندازي نهٔ کوي"
دهٔ دا هم په ګوته کړل چه :
" اوس اوس درې څلور سوه بيټني ما ته راغلي وو او ما ته ئې
دَ دې خواهش اظهار اوکړو، چه هم دغه شان بونېرى
لاړشي دِ زمونږ. په علاقه کښې هم مقرر شي."
دَ مسټر واټسن سره دَ پورتنو مطالباتو ځواب نهٔ وو او ايله ئې
دومره قدر اووئيل چه :
"زهٔ به په دې باره کښې حکومت آګاه کړم."
دَ دې نه پس مسټر واټسن دَ ملا پاونده رح نه دَ تخليه خواهش
اوکړو. چنانچه ملا حمزالله رح او دَ دهٔ شيخان پاڅيدل او يوا ځې ملا پاونده رح
مسټر واټسن او ورسره دَ محسودو تحصيلدار محمد عظيم خان
پاتې شول - په دې موقع مسټر واټسن په دهٔ باندې دَ ذاتي
مطالباتو په حقله ډير زور واچولو، خو ملا پاونده رح څه توجه ورنهٔ
کړه او ورته وئيل ئې چه :
"په ډيره اسماعيل خان کښې چه دَ محسودو کوم يرغمال دي
هغه دِ خوشي يا تبديل کړے شي."
مسټر واټسن په ځواب کښې ورته اووئيل چه "دهغو محسودو سره
کوم چه سنګينه قانون شکني کړې وي، همدردي کول ناممکن
معلوميږي. البته که آئنده دَ دوئ چال چلن ښهٔ شي نو دَ دوئ يرغمال
به خوشي او يا تبديل کړے شي."

دهٔ مخکښې اووئیل چه" دُشابی خیلو محسودو، چه دغلیزئ یو شاخ دے، الاؤنسونه دِ زیات کړے شی۔"

واټسن په ځواب کښې ورته اووئیل چه" فی الحال حکومت په الاؤنسونو کښې دُ ردوبدل کولو اراده نهٔ لری او کله چه په دے حقله څه کولے شی نو دُ شابی خیلو مطالبه به هم زیرغور راوستے شی۔"

مسټر واټسن ملا پاوندهؒ ته دا هم اووئیل چه" تهٔ په علاقه سرکار کښې ترهغه وخته پورے آزاد گرځیدے شے ترڅو پورے چه تهٔ زمونږ سره دوستانه تعلقات لرے۔"

مسټر واټسن پخپل رپورټ کښې لیکی چه :

" ما وَس پرے اوکړو، چه هغه خپل ذاتی یا دُ خپلو رشته دارانو په باره کښې څه عرضداشت راوړاندے کړی، ولے هغهٔ په دے شرمیدلو او خبره به ئے په قبائلو کښې دحکومت دُ مداخلت پحقله راوا ړوله۔"

دُ دے خبرو اترو نه پس مُلا پاوندهؒ خپل ملگری، ملاحمزالله ملک الله باغ، پهلوان، جرس او اعظم خان گوری خیل راوبلل او په سرسری طور ئے ورته ټولے خبرے واورولے۔ دغه ملاقات دوه گهنټے جاری وو او په آخر کښې مسټر واټسن دُ ملا پاوندهؒ سره دُ دوو میاشتو پس واناته نزدے خیساره کښې یو بل ملاقات اوټا کلو۔

څومره چه ملکانانو دُ ملا پاوندهؒ له طرفه نه حکومت او مسټرواټسن ته هیله طمع ورکړے وه او څومره چه دحکومت امید ونه پیدا شوی

وو۔ هغه هرڅه اپوته شول او د ملا پاونده او مسټر واټسن د ملاقات څه سودمنه نتیجه رابرڅیره نه شوه۔

د دے ملاقات په حقله مسټر واټسن په خپل رپورټ کښے دا سے واویلا کړے ده :

"مجموعی طور زه د نتیجے نه مطمئن نه وم ځکه چه د ملا رویه هغه شان اطاعت پذیره نه وه، د کومے چه ماته امید راکړے شوے وو۔ د ده د رویے نه معلومیده، چه دے یو داسے سړے ځان نه ګڼړی چه هغه د حکومت سره د خپل ځان په حقله یوه معقوله فیصله کول غواړی، بلکه ده خپل ځان یو قبائلی وطن پرست ګڼړلو او په حالیه[1] شورش وفساد کښے د خپلو ملګرو څرګند سازوباز منلو ته تیار نه وو۔ غالباً په دے چه هغه ملکانان چا چه ثالثی کوله په دے کوشش کښے وو چه دواړه فریقین په دے چل وبله خپل کړی، چه ماته ئے اطمینان راکولو چه د ملا عرضونه به د حد نه زیات میانه وی او د ملا سره ئے داوعده کوله، چه کوم مطالبات ته کوے، په هغے به ارو مرو همدردانه غور کولے شی۔"

## د زام په چوکئ شبخون :

لکه څنګه چه د واټسن د رپورټ نه معلومیږی، د حکومت او د ملا پاونده ترمینځه مفاهمت اونه شو او په وزیرستان کښے هغسے بیا

---

[1] د مائیزر واقعه۔

لوئے انتشار او هنګامے راپورته شوے -

په ۹ - ۱۰ / جنوری ۱۹۱۰ء محسودو دَ زام پولیس په چوکئ باندے شبخون اوکړو - دَ چوکئ په دروازه دننه ورګډ شول او دَ سپاهیانو سره ئے لاس په لاس وهل ټکول شروع کړل - دَ یو ے شیبے تو د جنګ نه پس غازیان بریالی شول او دَ پولیس والاؤ څخه ئے ۱۶ تنه سپاهیان قتل او ۱۷ میله ټوپک ولجه کړل او بخپله له خیرے سلامت لاړل -

دَ باران[1] په چوکئ ختنه :

په ۱۸ / جون ۱۹۱۰ء دَ محسودو، وزیرو او داوړو یو ے ډلے دَ اُوبو څښلو په بهانه دَ باران چوکئ ته یو څو کے ور اولیږلو - په چوکئ کښے ټول ۲۲ تنه سپاهیان وو، خو په دے موقع څوک غیر حاضر وو، څوک اُوده وو او څوک په ټنګ ټکور کښے مشغول وو -

څو کی دَ چوکئ جائزه واخسته او ملګرو ته ئے مکمل حال اووئیلو دَ عزم ے وخت وو - غازیان په چوکئ ورا وختل او ټول سپاهیان ئے سلامی کړل -

دَ چوکئ د دفعه دار نه ئے کُنجئ واخسته او ۲۵ میله ټوپک ۱۷ سنګینونه او ۱۵۴۸ دانے کارتوس ئے ترے نه یوړل -

په ټانګه برید :

دَ ۲۷ / اګست ۱۹۱۰ء په مابنام په مال و متاع ډکه یوه سرکاری ټانګه چه څلور تنه سرکاری منصبداران هم په کښے سواره وو، دَ

---

[1] دَ بنوں هغه سیمه چرته چه اوس مشهور باران ډیم جوړ شوے دے -

مرتضیٰ په خوا کښې محسودو ژنړیو راګیره کړه ـ څلور واړه منصبداران ئې قتل کړل او په تهانګه کښې باربشپړ مال ومتاع ئې ولجه کړو ـ

## دُپریدو په سپاهیانو حمله :

په ۳ / نومبر ۱۹۰۱ء دُ مرتضیٰ فوجي چوکئ نه بارډر پولیس په پریدو کښې وتلو، چه لر په وړاند ے تیر شو او بیا بیرته راستنیدو نو دُ یو ے غونډئ خوا کښې پر ے محسودو غازیانو حمله اوکړه او کنړ مړی ژوبلی ئې تر ے نه اوکړل ـ

## شپږم باب

# ملیشیا MILITIA

هرکله چه د وزیرستان په جنګیالئ سیمه کښے د سِکانو، ګورکهیانو، ډوګره ګانو او نورو هندوستانی فوځونو ګزاره ګرانه شوه، او لور د لوری نه پرے ننګیالو ځوانانو ناتار جاری کړے وو او د فیرنګی په خلاف خلق د غزا میدان ته راوتلی وو، لکه چه د "هسټری آف دی انډین مونټین آرټیلری" لیکونکے بریګیډیئر جنرل ګراهم د خپل کتاب په صفحه ۱۱۱ لیکی چه:

"کال ۱۸۹۹ء کښے په جنوبی وزیرستان کښے د بد امنئ نوے دور شروع شوے وو"

نو په داسے حالاتو کښے لارډ کرزن یو بل تجویز او سنجولو هغه دا وو چه: "د وطن سویه د وطن په سپی اونیسی" او په یاغستان کښے پخپله یاغستانیان یو تربله او جنګوی او په قول د مسټر بروس:

"باید چه هغه کسان زموږ په فوځ کښے

راشی، کوم چه په خپلو غرونو کښے زموږ مخالفت
کوی ؛ [1]

دَ وزیرستان دَ خلقو نه چه دَ فیرنګی فوځیان څومره خوفزده او ترهیدلی وو، دَ هغے اندازه دَ کپتان ایچ۔ایل۔ نیول دَ هغے رپورټ دَ اقتباساتو نه په ښه شان لګی، کوم چه ده دَ خپل کتاب "کیمپین آف دی نارتهـ ویسټ فرنټیئر" په صفحه ۳۲۵،۳۲۶ درج کړی دی۔ دغه اقتباسات اصل کښے دَ اسسټنټ کمشنر نارتهـ ویسټ فرنټیئر پراونس دَ یو رپورټ مورخه یکم فروری سنه ۱۹۰۲ء نه آخستی شوی دی هغه دادی:

"دَ کال سنه $\frac{۱۸۹۹ء}{۱۹۰۰ء}$ دوُو کالونو په دوران کښے بارډر ملټری پولیس دَ خوف وهراس له کبله بیخی بے کاره وو۔ تر څو پورے چه ماته معلومه ده، نهٔ خو دَ دوئ دَ لاسه چرے یو محسود وژلے شوے دے او نهٔ ژوبل شوے۔ داثبوت ته رسیدلے خبره ده چه دَ بارډر ملټری پولیس یو سپاهی هم دَ محسود سړی وژلو ته تیـنګیدے نهٔ شی۔ هغه پرے ډزے ضرور کوی، ولے تر وسه ئے وژنی نه ؛"

دَ وانا دَ مشهورے جګړے نه آګاهو فیرنګی دَ وزیرستان قبائلو ته فوځ کښے دَ بهرتی کولو په حقله څهٔ خاص اهمیت نهٔ ورکولو او

---

[1] "دی فارورډ پالیسی اینډ اِټس ریزلټس" صفحه: ۳۱۹ ÷ ÷

داخیال ئے وو، چہ دوئ دَ شجاعت هیڅ جوهر نۀ لری۔ ولے دَ دغے جگړے نه پس ئے دا کوشش شروع کړو چه په فوځ کښے زیات نه زیات مقامی ځوانان واخلی۔

په دے لړ کښے مسټر بروس دَ خپل کتاب " فارورډ پالیسی اینډ اِټس ریزلټس" په صفحه ۳۲۲ لیکی چه:

" دَ دے نه وړومبے زمونږ په افسرانو کښے دا خبره مشهوره وه، چه دوئ کمینه خوئ بوئ لری او څۀ بهادره قبیله نۀ ده، ولے زۀ نۀ پوهیږم چه هغوئ دغسے رائے څنګه قائمه کړے وه، ځکه چه دوئ دَ دے نه په مخکښے موقعو هم بنۀ مړانه ښودلے ده۔"

په دے سلسله کښے فیرنګی په کال ۱۹۰۰ء کښے دَ سوئیلی او قطبی وزیرستان په دواړو برخو کښے دَ قبائیلی اولس نه دَ ملیشیا په نوم یو خصوصی فوځ بهرتی کړو، چه دَ خټکو، بنګښو، افریدو مهمندو او وزیرستان په زړه وروځوانو باندے مشتمل وو۔

په کال ۱۹۰۱ء کښے دغه ملیشیا دَ کپتان فرګوسن په کمان کښے دَ قطبی وزیرستان په خاوره دَ عیدکو په رنګئ قلعه کښے مقرر شوه او " نارتھ وزیرستان ملیشیا " نوم ورله کیښودے شو۔

کال ۱۹۰۵ء کښے چه دَ میران شاه موجوده قلعه جوړه شوه نو هلته منتقل کړے شوه۔ وروستو دَ قطبی وزیرستان کوټ کوټ ته اورسیده، او اکثر مقامی خلق پکښے واخستے شول۔

کال ۱۹۰۴ء پورے پہ قطبی وزیرستان کبنے باقاعدہ فوځ موجود وو۔ ولے دَ هغې نه پس ورو ورو پہ وتو شو او ټول چارج ملیشے واخستو۔ دَ یکم مئی ۱۹۲۲ء نه دَ ملیشے نوم نوم بدل شو، او "توچی سکاؤټس" نوم ئے اوتاکلے شو۔ همدغه شان دَ موجوده شمالی وزیرستان ایجنسئ نوم چه اول "توچی ایجنسی" وو، پہ "نارتھ وزیرستان ایجنسئ" بدل شو۔ پہ سویلی وزیرستان کبنے ملیشیا پہ یکم جولائی ۱۹۰۱ء کبنے دَ کرنل رچرډ هرمن پہ کمان کبنے تشکیل کړے شوه۔ او ړومبے ړومبے هیډکوارټر ئے خرګی او ټاکلے شو۔ جون ۱۹۰۱ء کبنے وانا ته اورسیده۔ پہ کال ۱۹۰۳-۴ء کبنے ئے ډیره ترقی اوکړه۔ وروستو کال ۱۹۲۳ء کبنے ئے جنډوله هیډکوارټر مقرر کړے شو۔

دَ سویلی وزیرستان ملیشے ته به اول "ساؤتھ وزیرستان ملیشیا" ویلے شوه۔ دَ کال ۱۹۲۱ء نه ئے "ساؤتھ وزیرستان سکاؤټس" نوم کیښودے شو۔

دَ وزیرستان پہ دواړو برخو کبنے چه پہ مقامی ځوانانو مشتملے ملیشئ کمان واخستو، نو فیرنګی څه نه څه دَ اطمینان ساه واکښله۔ مګر دغه دَ کرنګ نوشته ډیره زر ورانه شوه او دَ وزیرستان غیرتمند ځوانان چه د فیرنګی پہ غولی ورګډ شول، نو ملاپاوندهٔ ته لا ښهٔ موقع پہ لاس ورغله او دَ ملیشئ پہ دغو مقامی سپاهیانو کبنے ئے داسے سرتیری برابر کړل، چه دَ هغوئ دَ لاسه کښې انګریزان منصبداران اووژلے شول او دَ فیرنګی امیدونه ئے خاورے ایرے کړل

## سیلګائی:

دَ بنوں سپرکه احمد زئی وزیرو وو۔ پلار ئے میاں خان نومیدو له وړوکوالی څخه ډیر زړه ور او حوصله مند ځوان وو۔ دَ ینځلسو[۱۵] کالو په عمر کښے ئے ټوپک په اوږه کړے وو۔ او دَ خپل فطری جرأت او شجاعت له کبله دَ انګریزانو په خلاف دَ یوڅو سرتیرو ځوانانو سرغند ے جوړ شوے وو۔

جان دَ دهٔ یو تکړه او ځیرکه ور ملګرے وو۔ کال ۱۸۵۰ء کښے دوئ دَ فیرنګی په خلاف لښکر راغونډ کړو او دَ بنوں کوهاټ په سړک او بنوں په علاقه کښے سرکاری کیمپونه او کانوائ تر پوړے راوستل۔

انګریزانو به شپه ورځ دَ سیلګی دَ نیوو کوششونه کول، او عنټ عنټ رقمونه به ئے پسے شیندل، خو په یوه طریقه ئے هم لاندے کولے نهٔ شو۔ یو ځلے چه پولیس پرے چپاؤ وروړو، نو دهٔ په ډیرے بهادرئ سره ځان ترے نه خلاص کړو۔ دَ سیلګی کور په کیمبتی کښے وو، کوم چه په هر لحاظ نبهٔ محفوظه وو۔ دَ غدئ او بریدونو کولو نه پس به ئے ځان خپل کور ته رسولو۔ برطانوی حکومت چه دَ سیلګی دَ وارداتونو نه ډیر ستړے شو، نو یو وار ئے بیا په کیمبتی باندے دَ فوج کشئ فیصله اوکړه۔

## دَ کیمبتی دریمه جګړه:[۳]

دَ میجر جنرل ایم۔ جی۔ ایجرټن (EGERTON) په کمان کښے دَ تل (کرم)

عَیدکو، برکَنتو اوبنوں څخه په یوه ورځ او یو ساعت فوځونه روان شول. او په ۱۸، نومبر سنہ ۱۹۰۲ء ئے په کَیمبتی حمله اوکړه. دَ سَیلگی په کور دَ گوله باریٔ کولو نه مخکښے مسټر ډونلډ (Donald) چه یو پولیټیکل افسر وو، دَ سَیلگی کور ته نزدے ورغلو او دهٔ او دَ دهٔ ملگروته ئے دَ امن پیشکش اوکړو. دَ دے پیشکش واقعه ډاکټر ټی. ایل. پینل (Pennal)، دَ خپل کتاب "اِمنگ دی وائیلډ ټرائبز آف دی فرنټیئر" په صفحه ۲۰، ۲۱ داسے لیکلے ده:

"دهٔ ځواب راکړو چه ما پخه اراده کړے ده' چه دَ هغې کور ته چرته چه زهٔ پیدا شوے او لوئے شوے یم خپل ځان په دومره بهادریٔ سره قربان کړم، څومره چه کیدے شی. موبږ دَ دهٔ په درناوی کښے دا ضرور وائیو، چه دوئ تر هغه وږے اونکړے، ترڅو چه مسټر ډونلډ بیرته خپل صف ته نهٔ وو رسیدلے۔"

سَیلگی چه دَ مسټر ډونلډ دَ امن پیشکش قبول نهٔ کړو، نو کرنل ټانوچی (Tonnochy.د) دَ دهٔ کور ته نزدے په شپیته[۶۰] گزه فاصله توپونه راوړل، خو دهٔ لا سم شیټ پورے برابر کړے نهٔ وو چه دَ غازیانو دَ لوری نه یو مرد کے راغلو او دَ کرنل ټانوچی ټټر ئے سورے کړو. جنرل ایجرټن چه دَ کرنل ټانوچی غږ صبیدل واوریدل نو په زړهٔ کښے ئے دَ انتقام اُور په لمبو شو. او دَ سیلگی په کور ئے دَ توپونو داسے غونډارری اُووره ول، چه اکثر ټول ملگری ئے په

شهادت اورسیدل ۔ توریالے سیلګائی لکه دَ زمری اوڅهرید و او دَ فوځ په یو بل افسر کپتان وایټ (Wite) ئے دَ ټوپک داسے رسا وړ اوکړو چه دَ ټکه ئے دَ کرنل ټهانوچی سره دوزخ ته اورسولو۔ او سپاهیان لکه دَ سیلاب په کور وراوختل او هرڅه ئے ورله وران ویجاړ کړل ۔ دَ سیلګی اکثر ملګری تار په تار شول ۔ پنځله هم سخت ژوبل شو ۔ وله سره دَ دے ئے دَ دوئ دَ پنځونه په ډیره مړانه ځان اوئستلو ۔

په دے جګړه کښے دوه غټ غټ فرنګیان او ۲۱۳ فوځیان اووژلے شول او دَ غازیانو دَ لوری نه ۳۵ تنه مړی ژوبلی اوشول۔ په کلی کښے دَ نور مالی تاوان نه علاوه شپږ شپیته برجونه هم اونړولے شول۔

اپریل ۱۹۰۳ء کښے دغو باتورانو یوځل بیا په دغه سیمه کښے په سړک روان فوځ باندے حمله اوکړه۔ لفټیننټ جے۔ اے ډی لانګ هارن (Long horn) ئے قتل کړو۔ دَ بده مرغه دَ دوئ یو ملګرے لا دَ لانګ هارن سره په منګلو وو، چه فوځیانو ژوندے ګرفتار کړو او بیا وروستو په دار اوځړولے شو۔

## دَ کپتان باؤرنګ قتل :

کپتان باؤرنګ دَ سوئیلی وزیرستان پولټیکل ایجنټ وو۔ دَ ۲۰ دسمبر ۱۹۰۴ء په شپه هغه دَ سروکئ په قلعه کښے اوده وو۔ او دَ ده یو اردلی چه کابل خان نومیدو او دَ سوئیلی وزیرستان ملیشئے

سپاهي وو. دَ دهٔ نه څو قدمه لرے په مانځه ولاړ وو. دَ مانځهٔ نه چه فارغ شو او پاڅيد و، نو په کپتان باورنګ ئے نظر پريوتو. په سترګو ئے تيارهٔ راغله. په زړهٔ کښے ئے اسلامي ننګ وغيرت څرېکے اووهلے، او لکه دَ قهريدلی زمري پرے ورغوتته شو. او کپتان باوُرنګ ئے په خوب اودهٔ اووژلو. بيا سمدستی دَ قلعے چت ته اوختو او ټوله قلعه ئے په لړزان کړه. په دے دوران کښے کښے دَ محسودو ملکانان را اورسيدل. او په خوږو پښتو خبرو ئے راکوز کړو. ولے دَ راکوزيدو سره چا بُزدل دَ شانه په ټوپک اوويشتلو خو سره دَ دے هم مړ نهٔ شو. او وروستو دَ ډيره اسماعيل خان په جيل کښے په زندئ کړے شو. دغه توريالے ځوان په قوم درامون خيل بهلولزئ محسود وو.

## دَ رچرډ هارمين قتل :

دَ کپتان باوُرنګ دَ قتل نه وروستو په دريمه مياشت دَ لفټيننټ کرنل رچرډ هارمين[1] (HARMAN) دَ قتل واقعه پيښه شوه. واقعات داسے وو، چه کال ۱۹۰۵ئ کښے چه دَ ملا پاوندهٔ[2] دَ مجاهدانه عملياتو زور وو او دَ فيرنګي په خلاف ئے خلقو کښے زبردست جوش وخروش راپورته کړے وو. نو دَ وانا په کيمپ کښے دَ مليشئے دَ وزيرو محسود

---

[1] دَ وانا په قلعه کښے دَ کرنل رچرډ هارمين په مقتل يو بنګلے يادګار جوړ شوے وو. ولے دَ کال ۱۹۱۹ئ په هلو ګلو کښے وران شو. وروستو بيا دوباره جوړ کړے شو او اوس هم دَ پولټيکل ايجنټ بنګلے ته مخامخ موجود دے.

مقامی سپاهیانو هم دا فیصله اوکړه چه د کیمپ دننه ټول انګریزان قتل کړی، او د ټوک کیمپ ملا پاونده ته حواله کړی.

دغه وخت په کیمپ کښې دننه ټول څلور انګریزان افسران وو. کرنل رچرډ هارمین پکښې د کپتان باورنګ په ځائے قائم مقام پولټیکل ایجنټ وو. د ۱۱ فروری ۱۹۰۵ء په شپه چه دغه څلور واړه انګریزان په مِس کښې دننه ناست وو او ګپ شپ ئے لګولو. نو د تیاکلی پروګرام په مطابق صابرخان نومے شابی خیل محسود په ټوپک سنګین خیژولے غلے غلے ورروان شو. د بده مرغه د انګریزانو نظر پرے پنځ شو او ورپسے راپاڅیدل. ځیګرور صابرخان وارخطا نهٔ شو او یکدم ئے په کرنل رچرډ هارمین باندے د سنګین داسے رسا ګزار اوکړو چه د تکه په زمکه راپریوتو.

صابرخان چه بل ګزار پرے کولو، تر هغه قابو کړے شو. د ده د ګرفتارئ په وخت په کیمپ کښې لوئے بغاوت پورته شو، خو فیرنګیانو په ډیر چل ول حالات معمول ته راوستل.

په صابرخان باندے مقدمه شروع شوه. بیان ترے نه واخستے شو، ولے ده خپل نوم ملګری اُونهٔ ښودل. بس هم دا ئے وئیل چه:

"ما خو ملازمت هم په دے غرض کولو چه زهٔ غونډه فیرنګیان مړهٔ کړم او د کابل خان په نسبت زما د بهادرئ زیات صفتونه اوشی."

سر ایولین هاول، کوم چه هغه وخت د نوی پولټیکل ایجنټ په حیث راغلے وو، لیکی چه :

"هغه (صابرخان) ماښام په زندئ کړے شوَ وِلے
دَ زندئ نه مخکښے لکه څنګه چه دَ محسودو ژنړیو قاعده ده
دهٔ دَ خپل ژوند آخری نیمه ګهنټه په کوټه کښے دَ ځان
په سنګارولو او سترګو تورَولو تیره کړه، یو عجیبه کیفیت
پرے خور وو. او دَ حورو سره دَ ملاویدو په امید
په ډیرے بهادرئ سره مرګ ته ورتر غاړه وتو."[1]

دغه ځیګرور ځوان دَ ملا پاوِنده" دَ کورنئ څخه وو او دَ ملازمت نه ایله درے میاشتے کیدلے.

## دَ کپتان ډونلډسن قتل:

دَ سویئلی وزیرستان پولټیکل ایجنټ ته چه دَ صابرخان او دَ هغهٔ دَ ملګرو دَ ارادو او پروګرام پته اولګیده، نو دَ ټولو نه ئے ټوپک واخستل، او اوئے شړل. څو میاشتے پس ئے بیا بحال کړل. هم په دغو ځوانانو کښے دَ سلطانئ شاخ یو شابی خیل محسود چه پښکائی نومیدو، نومبر ۱۹۰۸ء کښے دَ بنوں په مقام کپتان ډونلډسن قتل کړو. دَ پښاکی سره یو بل ملګرے ګلاب جان هم په دے واردات کښے ملګرے وو.

دا واقعه داسے وه چه بنوں ته دَ فوځ یو نوے پلاټون راتلونکے وو. دَ فوځئ دود دستور په مطابق په بنوں کښے موجود رجمنټے دَ

---

[1] "دی پټهان"، مؤلف سر اولف کیرو.

بینډ او باجو سره استقبال ته ورروانے وے۔ بریګیډ میجر کپتان ډونلډسن هم پکښې شریک وو۔ کله چې دغه رجمنټې د بنوں د قلعې په خوا کښې تیریدلے، نو پشکائی ورته له اول نه د یو پلکی لاندے پټ شوے وو۔ کپتان ډونلډسن چې پرے وربرابر شو نو یکدم ئې پرے د تماچې ډز اوکړو۔ او د تکه ئې ساړه خوله کړو۔ پشکائی پخپله هم بچ پاتے نهٔ شو۔ او په زخمی حالت کښې ګرفتار شو او څهٔ موده پس په پهانسئ کړے شو۔

## په کپتان کنی (Knee) حمله:

کپتان کنی د نارتهـ وزیرستان ملیشیے کمانډنټ وو۔ د ۲۷، مئی ۱۹۰۹ء په ورځ هغه په قلعه کښې دننه د مِس په برآمده کښې ناست وو۔ هلته نزدے د یو بکاخیل وزیر سپاهی چې په هسپتال کښې سنتری وو، سترګے پرے ښخے شوے وے، او په زړهٔ زړهٔ کښې ورته کرل ریبل۔ ناڅاپه ئې ټوپک راواخستو، او په کپتان کنی ئې دالسے ډزے اوکړے، چه بیا ئې غږ اونکړے شو۔

د بده مرغه دغه باتور پخپله هم په موقعه د یو څو انګریزانو کپتان مونس (MONES)، لفټیننټ مِکنزے (MECHENZE) او کپتان بُل (BOLL) د لاسه ګرفتار شو۔ او وروستو عِدام کړے شو۔

## په کپتان ګریویئس حمله:

په ۲۸، مئی ۱۹۰۹ء د شینکی پوسټ سره نزدے محسودو د ډاک په تانګه حملے کولو ته اوتپله۔ په دا ورځ په تانګه کښې ګریزن انجنیر کپتان

کریویئس سوار وو۔ دَ گریویئس چه له ورایه نه په غازیانو نظر نه شو، نو وارئے خطا نکړو او یکدم ئے ډزے پرے اوکړے۔ غازیانو هم سمدستی ځوابی پاړونه پرے اوچلول۔ کپتان گریویئس، کوچوان او دَ ټانګے عنبرک دواړه آسونه اولګیدل۔ خو زخمی کوچوان دواړه آسونه په داسے ترپ بوتلل، چه غازیان ارمان ژن په ځائے پاتے شول۔

## دَ کهجورئ په پیکټ حمله:

دَ ګل حسین محسود په مشرئ کښے امین، زوزی، ګلاجام داوړ او سلیم جانی وزیر په ۱۰ جولائی ۱۹۰۹ء دَ کهجورئ په خوا کښے دَ ملیشئ په یو پیکټ حمله اوکړه۔ دا دَ سحر مال وو۔ او دَ فریقینو تر مینځه دوړه شدیده جګړه اوشوه، چه په لږ وخت کښے غازیانو دَ ملیشئ نه اوولس سپاهیان سره دَ یو غټ منصبدار قتل او څوارلس میله ټوپک ولجه کړل۔

دَ بده مرغه دَ دوئ له خوا نه هم امین، زوزای او یو پائنده خیل وزیر په شهادت اورسیدل۔

## دَ لکئ جګړه:

په ۱۱ مارچ ۱۹۱۱ء دَ غازیانو یوے دیرش کسیزے ډلے دَ کمال شاه شابی خیل محسود په مشرئ کښے دَ مروتو په علاقه کښے لکئ ته نزدے دَ باندړه ایازخان په مقام دَ ملټری بارډر پولیس په یوه دسته حمله اوکړه۔ سخته جګړه ئے وبله اوکړه۔ په نتیجه کښے دَ ملټری بارډر پولیس کماندار کپتان ستهرلنګ او شپږ سپاهیان هلاک او دولس تنه

ژوبل شول - دَ غازیانو له خوا نه اتهٔ کسان شهیدان او درے[۳] زخمیان شول. دَ بده مرغه ژوبلی نفر فیرنګی ته ورپاتے شول، چه څهٔ موده پسته په دار او خیژ مے شول -

## په هاتهی خیلو وزیرو فوج کشي :

دَ بنوں هاتهی خیلو وزیرو به اکثر دَ بنوں په چهاؤنړی او دَ لتمبر ډومیل تر مینځه په فوځیانو حملے کولے - فیرنګی دَ سزا ورکولو په نیت فوځونه ور روان کړل او په ۱۱ رمئ سنه ۱۹۱۱ء نیم فوځ دَ لتمبر او ډومیل په مینځ کلیو ورخور شو، او نیم دَ برګنتو الګړے په لار خیساره رغزی ته مارچ شول - او بیا دَ کیمپتی په لار بنوں ته پستنه شول - کله چه دغه فوځونه په هاتهی خیلو وزیرو ورختل، نو هغه وخت دوئ هم په اتفاق ورپسے راووتل او داسے سخته مقابله ئے ورسره اوکړه چه په نتیجه کښے درے[۳] انګریزان او څلیرویشت[۲۴] فوځیان قتل او بےشمیره ژوبل شول - فیرنګی له ډیره تاوه شپیته[۶۰] تنه بےګناه ساره لاسی کلیوال اونیول، او تر موده ئے په بندی خانو کښے تکلیفونه ورکړل - دَ غازیانو دَ لوری نه هم په دے انښته کښے درے[۳] تنه شهیدان او څلور تنه سخت ټپیان شول.

## دَ سروکئ کیمپ محاصره :

کال سنه ۱۹۱۱ء کښے دَ سروکئ په مقام یو لوئے فوځی کیمپ لګید لے وو، چه په څنګ کښے ئے دَ جنډولے نه وانا ته دَ ټیلیګراف لائن هم تلے وو - دَ غازیانو یو ے ډلے په دغه کیمپ باندے دَ حملے کولو فیصله

اوکړه - رومبے رومبے ئے دَ وانا او جنډولے لائن پریکړو - او سړوکئ ئے ځان ته خوشے کړه - بیا ئے په کیمپ حمله اوکړه - او ډیرے ورځے ئے محاصره کړو -

کله چه ټانک او مرتضیٰ ته اطلاع اورسیده، نو دَ هغځایه امدادی دستے ور پسے رااورسیدے او په غازیانو ئے حمله اوکړه - دَ یو څو گهړئ مثالی جنګ په نتیجه کښے دَ فیرنګی دَ لوری نه ۲۷ تنه اووژلے شول - او دَ غازیانو له خوا نه څلور کسان په شهادت اورسیدل -

## دَ سپین وام اولنے جنګ:

دا واقعه داسے وه، چه دَ سپین وام په سیمه کښے یو دروند فوځی کیمپ لګیدلے وو - غازیانو دَ اپریل ۱۹۱۳ء په رومبو شپو ورځو کښے حمله پرے اوکړه او کیمپ ئے محاصره کښے اونیولو - دَ کیمپ دننه چه فوځیان ډیر تنګ شول - نو یو خوا دَ کوهاټ دَ لوری نه ورپسے دَ تل په لار امدادی فوځ راغے او بل خوا هم په دغه ورځ دَ بنون نه په ۷ اپریل غازیان او فوځیان وبله مخ په مخ ورغلل - سخت جنګ اوشو او دَ انګریزانو له خوا نه دوه کم اتیا کسان فوځیان او دوه انګریزان اووژلے شول - او په مقابل کښے دَ غازیانو څخه نهه ۹ تنه شهیدان او پنځلس ۱۵ ژوبل شول - غازیانو ته په دے جنګ کښے یو شمیر آسونه، خچرے او اوښان په لاس ورغلل -

دَ شپانه خیساری رومبئ جګړه: دَ برے توچئ په سیمه کښے دَ

سترے دربالئ الکہ ے په سئ مورګه دَ دته خیلو نه شمال مشرق ته په اووهٔ میله فاصله باندے دَملیشئے یو ځوکئ وه. دغه ځوکئ دَ شپانه خیساری په مقام باندے واقع وه. په ۱۴/۱۵ اپریل ۱۹۱۳ء دَ ملا حمزالله په مشرئ کښے دَ غازیانو یو لوئے لښکر چه اکثر په کښے محسود وو، په دغه ځوکئ شبخون اووهلو او محاصره کښے ئے راوستل دَ میرانشاه نه ور پسے دَ کپتان ایون (ivems) په کمان کښے دَ ملیشئے امدادی دسته ورغله۔

دَ لښکر او ملیشئے تر مینځه سخته انښته اوشوه. چه په کښے دَ فیرنګی له خوا نه په شمیر تیرے پنځه کم شپیته جنازے اوچتے شوے او غازیان دَ ذخیره صحیح سلامت بیرته واوریدل۔

---

## اُووم باب

# مُلا پاوندهؒ

مُلا پاوندهؒ دَ استونئ شاخ شابی خیل غلیزئ محسود وو۔ تقریبًا کال سنه ۱۸۶۳-۶۴ء کښې په خیل کلی مروبی کښې زیږیدلے وو۔ اصلی نوم[1] ئے معلوم نه دے۔ ولے خلقو کښې په مُلا پاوندهؒ مشهور وو۔ او خط وکتابت به ئے هم په دغه نوم کولو۔ چونکه هغه دَ پاوندهؒ په

---

[1] بنا غلے عبد الحلیم اثرؔ دَ "زمونږ مجاهدین" په صفحه ۱۴۳ لیکی چه "دَ ملا پاوندهؒ اصلی نوم محی الدین وو، په قام شابی خیل وزیر وو"۔ دا صحیح نه ده۔ مُلا پاوندهؒ په قام وزیر نه بلکه محسود وو۔ په کورویک کښې یو ځل ما دَ ملا پاوندهؒ دَ ځوئے صالح دین نه دَ پلار دَ اصلی نامے په حقله تپوس اوکړو۔ نو وئیل ئے چه دَ پلے نامے نه ئے مونږ نهٔ یو خبر۔ نهٔ پوهیږم چه اثر صاحبؒ دَ ده اصلی نوم څنګه معلوم کړے دے۔ اثر صاحب په صفحه ۱۶۴ باندے لیکی چه "دَ اولنی جنګِ عظیم سنه ۱۹۱۴ء نه وروستو عزا کلانے دَ کرم ایجنسئ او شمالی او جنوبی وزیرستان دَ مُلا پاوندهؒ په مشرئ کښې شوید ی"۔ دا هم صحیح نه ده، ځکه چه مُلا پاوندهؒ لا مخوا په ۲، نومبر سنه ۱۹۱۳ء وفات شوے وو۔

شان په وجود غولیبچ او ریخته وو، نوګیدې شي چه په دا نسبت وربانده د پاوندهٔ نوم پوخ شوې وي. دا هم امکان لري چه دَدهٔ اصلي نوم هم دغه پاونده وي. ځکه چه دَدهٔ په مُهر کښې هم "ملا پاونده" کنده شوې وو، او امضاګانې (دستخطونه) به ئې هم دَ مُلا پاونده په نوم کولې، حکومت هم ملا پاوندهٔ نوشته کړې دې.

مُلا پاونده په دیره عزیبه کورنئ کښې پیدا شوې وو. دَ آتو کالو په عُمر کښې دَ خپل کورنه په سبق پسې اووتو. یو خوا بل خوا ئې دَ مذهبي علومو تحصیل اوکړو. دَ مُلا توب پګړئ خو ئې نصیب نهٔ شوه. ولې دَ یو عظیم شخصیت په حیث ئې دَ وزیرستان په تاریخ کښې یو ځلانده باب پرانستو.

اثر افغاني صیب او عارف محسود صیب چه دَ سوات بابا یا دا سې نورو جګړو کښې دَدهٔ دَ شمولیت کوم ذکر کړې دې، هغه دَ تاریخي څیړنې او مقامي تحقیقاتو له رویه صحیح نهٔ دې. ولې چه ملا پاوندهٔ په ۱۸۶۳-۶۴ء کښې پیدا شوې او تقریبًا دَ پنځوسو کالو په عُمر کال ۱۹۱۳ء کښې وفات شوې دې. او دَ سوات بابا جګړې په کال ۱۸۶۳ء کښې وې، یعنې دَدهٔ دَ پیدا ښت په کال.

دَ غزا په میدان کښې دَدهٔ اُستاذ مولانا حمزاللّٰه وو. سره دَدې چه دَ مُلا حمزاللّٰه او دَ کربوغ حاجي محمد انور ترمینځه تعلقات خوشګوار نهٔ وو. ولې بیا هم ملا پاونده دَ مُلا کربوغ مرید وو. مُلا پاوندهٔ په کال ۱۸۸۸ء کښې دَ داوړو عیدکو کلي ته راغې، او دلته

میشتهٔ شو ۔ دَ دے ځائے نه بهٔ ئے دَ وزیرو داوړو لښکر روان کړو، او دَ بنوں په فوځی چاونړئ به ئے تاختو نه کول ۔ هم په دغو شپو ورځو کښے دهٔ دَ بنوں دَ سنټرل جیل یو ګورکها سپرنټنډنټ هم اووژلو ۔

څهٔ موده پس عیدکو، داوړو ورله کور جوړ کړو او دَ ملک زمترا ورارهٔ ملک ګل حیدر خپله خور په نکاح ورکړه ۔ دَ مُلا پاوندهٔ مشهور مجاهد ځوئے شاهزاده فضل دین" دَ دغے داوړے ښځے ځوئے وو ۔ څو کاله پسته مُلا پاونده" دَ داوړو نه محسودو ته لاړو ۔ هلته ئے ځان ته حجره او جومات جوړ کړل ۔ او لنګر ئے جاری کړو ۔ په دا زمانه کښے ملا پاونده" دَ وزیرستان دَ غیورو خلقو په زړونو کښے ځلانده مقام پیدا کړے وو ۔ خلقو به دَ لنګر دپاره شکرانے ورکولے ۔ او دَ میښے نه به ئے ورته ماما وئیل ۔ په کال ۱۸۹۳ء کښے چه مولانا ګلاب دین" عُرف وزیرے مُلا په حق اورسیدو، نو ملا پاونده" یو کرت بیا داوړو ته راغے، او دَ عیدکو کلی په ملاخیلو شاخ کښے ئے ځان ته کور او جومات جوړ کړل ۔

دَ وزیرے ملا" دَ مرګ نه آګاهو به مُلا پاونده" صرف په ژمی کښے داوړو ته راتلو ۔ ولے وروستو اوړی په ژمی میشتهٔ شو ۔ او دَ بنوں په زمکه به ئے په سرکاری ځایونو حملے کولے ۔ کال ۱۸۹۴ء کښے چه دَ افغان او برطانوی حکومتونو ترمینځه دَ ډیورنډ لائن (کرښے) راکښلو بندبنا شروع شوه، نو ملا پاونده بیا محسودو ته لاړو او دَ فیرنګی سره

لاس وکړیبان شو ۔ دَ دهٔ دَ غزاګانو مرکزونه شکانئ اومروړے دو۔ په وزیرستان کښې چه دَ اکتوبر سنه ۱۸۹۴ء نه تر نومبر سنه ۱۹۱۳ء پورے څومره جنګونه شوی دی، هغه یا خو دَ مُلاپاوندهٔ پخپله مشریٔ کښې وو. او یا دَ دهٔ په نغوته ـ

مُلا پاوندهٔ" دَ بے مثاله شجاعت، کلکو ارادو او پُرکشش شخصیت څښتن وو۔ دَ یولوئے مجاهد او قائد نه علاوه دَ وزیرستان خلقوخپل رُوحانی پیشوا هم ګڼلو۔ دَ فیرنګیانو دَ وینو ازلی تږے وو. او همیشه به ئے دَ باز په شان غوتے پرے وهلے۔ دَ دهٔ دَ بهادریٔ کارنامے دومره شاندارے دی، چه دَ انګریزانو اکثر کتابونه اودَ هغه وخت دفتری مثلونه پرے ډک دی ـ

دَ مرګ نه یوڅو ورځے مخکښې دهٔ دَ کربوغے مُلا ته دا سے خط لیکلے وو: "دَ افریدیو سپین روبو ته زما دَ دُعا سَلام نه

پس دغه ترغیب ورکړیٔ چه دویٔ محسودو ته دَ توپونو دَ جوړولو قابل او ماهر کاریګر رالواستوی"

دَ دے مردِ مجاهد په حقله چه دَ "قیدِ یاغستان" لیکونکے محمّد اکرم په صفحه ۲۱۷ چه څهٔ لیکلی دی، دَ هغے نه دَ دهٔ دَ لوئ عظمت او همه ګیر مقبولیت اندازه په ښهٔ دول لګیدے شی:

"محسود قوم میں ایک ملا صاحب پاوندہ" نامی نے بہت رسوخ پیدا کر رکھا ہے۔ ہزارہا لوگ اس کے اشارے پر جان دینے کو تیار ہیں۔ کئی لڑائیاں لڑ چکا ہے۔ اس

علاقہ میں اُسے ایک بزرگ ولی مانا جاتا ہے۔ اور اس کے ہر حکم کی وحی کی طرح تعمیل کی جاتی ہے۔ علاقے کے سب اقوام جو مسلمان کہلاتی ہیں اس کے آگے سر تسلیم خم کئے ہوئے ہیں۔ ان دنوں یہ خبر گرم ہوئی کہ ملا پاوندہ خوست میں تشریف لائے ہوئے ہیں۔ اور حاکم خوست سے جہاد کے متعلق کچھ عہد و پیمان ہو رہے ہیں ....... اچانک عین نصف شب کے وقت مئی ۱۹۱۰ء کی بائیسویں تیئیسویں تاریخ مُلا پاوندہ کا ایک نامہ بر پہنچا اور ملا صاحب کی طرف سے فراریوں کو پیغام دیا۔ کہ اسی وقت تیار ہو کر ان کے پاس چھاؤنی میں پہنچ جاؤ۔ یہ کہہ کر قاصد دوسرے لوگوں کو خبر کرنے کیلئے آگے روانہ ہوا۔ اور ہمارے گاؤں میں اس پیغام سے عجب برقی رو پیدا کر گیا۔ ؎

آگ سے گویا لگا دی تودۂ بارود میں

سوائے لالہ سندر لال کے سب اُٹھ بیٹھے اور جانے کی تیاریاں شروع کرنے لگے۔ آپس میں کھچڑی پک رہی تھی اور طرح طرح کی قیاس آرائیاں ہو رہی تھیں۔ لیکن سب کا اتفاق تھا، کہ ملا صاحبؒ نے جہاد کیلئے ہمیں بلایا ہے۔ اور اب ہم جلد انگریزوں کو نکال باہر کریں گے۔ بعض جوشیلے جوان خیال کرتے تھے کہ انگریز لڑینگے نہیں اور تُوچی انکے حوالے کر کے چلے جائیں گے۔

عورتیں اُٹھ بیٹھیں اور ان کے لمبے لمبے بالوں میں کنگھی لگا دیا گیا۔ چپلیاں جو کر دھاڑا مارنے کے واسطے اکٹھی بنائی جاتی تھیں، آپس میں تقسیم کرلی گئیں۔ اگر کسی کے پاس کارتوس کی کمی تھی تو زیادہ کارتوس والے نے اپنے پاس سے اُسے دیئے۔ کمریں پٹکوں کے کمربندوں سے خوب کس لی گئیں۔ آنکھوں میں سُرمہ لگایا گیا تاکہ دوربینوں کا مقابلہ اپنی تیز آنکھوں سے کرسکیں۔ خنجر تیز کرلئے گئے۔ رائفلیں صاف کی گئیں۔ اور آخر اپنے اپنے نمبردار (مشر) کے پیچھے گاؤں سے باہر نکل کر جمع ہوگئے۔

اپنے وطن اور ملک کی خاطر قربان ہونے کے خیال سے جو مسرت ان کے چہروں پر برس رہی تھی اور جسطرح وہ پروانہ وار جنگ کی آگ میں کُودنے کیلئے آمادہ ہو رہے تھے، اس سے میرے دل میں یہ جذبہ پیدا ہوا تھا، کہ کاش میں بھی اپنی ناچیز جان ان کے شریف مقصد پر قربان کرسکتا"

فیرنگی دَ مُلا پاوندهٔ دَ گرفتارولو ډېر کوشش نه کړې وه۔ نهٔ ئې دَ زهرو صرفه پرے کړے وه، او نهٔ دَ نوں څهٔ۔ په جنورئ سنه ۱۹۱۲ء کښې چه دَ افغانستان دَ سمتِ جنوبي نائب الحکومت شاغاسي محمّد اکبرخان مُلا پاوندهٔ متوّن ته اوبللو اودهٔ دَ ورتلو تیاری

لہ مزرینې شپلئ چه زُوت ورته وئیلے شي۔ ؎

شروع کړه، نو په ۳۰ جنوری فیرنګی ورته د توچئ په سیمه کښې د توت نزې ترخواؤ شا مورچې اولګولے. مُلاپاوَنده چه د دغے سیمے ته رااورسیدو، نو چا خبرکړو او په شا محسودو ته لاړو. فیرنګی ډیر خفه او خرمخې پاتے شو۔

مُلا پاوَندهؒ ډیر قوم پرست وو۔ او همیشه به ئے دا کوشش کولو چه د وزیرستان ټول قامونه وبله متحد کړی او د فیرنګی په خلاف ئے یو موټے او یو آواز کړی۔

په دے سلسله کښې دهٔ په خان خوشحُله ډیرښا کام هم اوړے دے۔ یو ځل چه ملاپاوندهٔ د وزیرو محسودو ترمینځهٔ د پرله پسے جنګ وجدل نه ستړے شو۔ نو اګست ۱۸۹۱ء کښې ئے د مصالحتی کوششونو په آساس د فریقینو یوه لویه جرګه وزمک ته رااوبلله او مذاکرات ئے ورسره شروع کړل۔ منظرخیلو، مداخیلو او توری خیلو وزیرو د ملک سادے خان مداخیل د غیر موجودګئ په وجه د ملا پاوندهؒ خبرو ته څهٔ اهمیت ورنه کړو۔ دا خو لاڅهٔ چه بوره خیلو وزیرو د دهٔ شیخانو ته د تهقالے ورکولو نه هم انکار اوکړو۔

ملاپاوَنده په زړهٔ زړهٔ کښې ډیرخفا شو، خو په خپلو محسودو ملکرو ئے هیڅ قسم اظهار اونکړو۔ بلکه دوئ ته به ئے هم د صبر تلقین کولو۔ خو کله چه حالاتو نور هم نازک صورت اختیار کړو، نو پاڅیدو او سره د خپلو محسودو ملکرو خپلے سیمے پله روان شو

په تلو تلو کښې دَ محسودو يوه ډله غلې غونډے ترے نه پاتے شوه او دَ بورة خيلو دَ يو ملک اَس ئے او وژلو۔ غرض ئے دا وو چه وزيرو ته معلومه شي، چه مُلا پاوَنده دَ دوئ نه خفه لاړو۔

وزيرو په خُواب کښې دَ محسودو په هغه ډله حمله اوکړه۔ او دومره سخته بلوه جوړه شوه چه شلور ديرش[۳۴] تنه محسود قتل شو او يخلس[۱۵] تنه توري خيل وزير۔ دَ محسودو په مړيو کښې يو فقير نومے دَ ملا پاوندهٔ دَ ترهٔ خوئے او شير شيخان هم شامل وو۔ توري خيلو وزيرو دَ محسودو دَ ويرے نه دَ رزمک سيمه خالي کړه او خيسارهٔ ته ئے کډے اوکړے۔ ملا پاونده په دے سانحه سخت دلګير شو۔ خو بيا هم دهٔ دَ جذباتو نه کار وانهٔ خستو او په خدائے پاک ئے صبر اوکړو۔ که څه هم دهٔ غوښتلے چه دَ خپلو محسودو بدل واخلي نو دهٔ به هم هغه وخت دَ ډيرو توري خيلو وزيرو وينے بهيولے وے۔ خو نا، دهٔ ته دَ توري خيلو وينے هم دَ خپل فقير وينه ښکاريدهٔ په داسے سخت حال کښې چه دَ سړي جذبات آخري حد ته رسيدلي وي، ملا پاونده دَ وزيرو محسودو ترمينځه دَ مصالحت کوشش شروع کړو۔ او دَ توري خيلو مشرانو ته ئے داسے خط اوليکلو:

"محسود خپل پور آخستو ته ډير ليواله دي، خو زهٔ ئے منع کوم، څومره دَ افسوس خبره ده، چه ماتهٔ دَ خپلو خوردو توري خيلو ملکرو دَ لاسه دَ حملے په سبب دومره شديده صدمه اورسيده۔

دا یو داسې کار دې چه نهٔ به ئې سرکار (انګریزان) او بخښلې شي او نهٔ امیر (امیر کابل) بهر حال زهٔ په چا باندې هم تور تپل نهٔ غواړم. دغه هر څهٔ یوه داسې سهوه وه، چه اوس ئې په داډول ازاله کیدې شي، چه توري خیل محسود و ته دَ خپلو مقتولینو خون بها ورکړي. او دَ هغوئ نه ورلې شوې ټوپک واپس کړي."

زموږ دغه توریالی او نومیال مشر په خپل قوم دومره مئین وو، چه کله ئې په ۲ر نومبر ۱۹۱۳ء جامې بدلولې، نو هغه وخت هم دهٔ دَ خپل قوم غم ژړلو، او دَ وفات کیدو نه لږه شیبه مخکښې ئې دَ وصیت په طور قوم ته یو خط لیکلې وو، چه دَ دهٔ دَ مرګ نه پس دَ دهٔ په قبر باندې په لویه جرګه کښې واورولې شو. په دغه خط کښې ملاپاوندهٔ قوم ته داسې وصیت کړې وو:

"تاسو خپل قومیت برقرار اوساتئ. انګریزان په خپل وطن باندې بلوسئې ته مهٔ پرېږدئ. په خپلو کښې بدئ ریتئ ختمې کړئ او یو تر بله غلې غړئ مهٔ کوئ چه فیرنګې ستاسو په علاقه دَ پنجو لګولو بهانه موندهٔ نهٔ کړې شي."

دَ ملاپاوندهٔ دَ آخري خواهش په مطابق دَ دهٔ څوارلس کلنې ځوئې ملا فضل دین دَ دهٔ جانشین مقرر کړې شو او دَ شاهزاده

خطاب ورکړے شو۔ دَ عُمر په لحاظ فضل دین په خپلو ورونړو کښے کشر ے وو۔

دَ ملا پاونده" په مرګ که ؛ یو خوا انګریزان دَ خوشحالئ نه په جامو کښے نهٔ ځائیدل، نو بل خوا په وزیرستان کښے کور په کور ویرونه شهٔ، چه په ګرده پښتونخوا کښے ماتم کیدلو۔ دَ افغانستان امیر حبیب الله خان هم دَ کابل څخه دَ دهٔ ځامنو ته تعزیتی پیغام رالیږلے وو۔ او دَ دوئ سره ئے غم شریکی ښکاره کړے وه۔ امیر کابل په خپل خط کښے دَ مرحوم جانشین ته دَ خپل پلار الاؤنس جاری ساتلو په حقله هم تسلی ورکړے وه۔

دَ ملا پاونده" په مرګ چه دَ افریدیو سپین روبو له خوا دَ محسودو مشرانو په نوم کوم تعزیتی خط راغلے وو، دَهغے متن په لاندینی ډول دے:

"ټول آفریدی اُولس دَ مُلا پاونده" په وفات ډیر غمژن دے، او دَ دهٔ په حق کښے دُعا کانے کوی۔ موږ مُلا فضل دین ته دَ پلار په ځائے دَ جانشین کیدو مُبارکی وړاندے کوو۔ او ورسره ورسره داخواست هم کوو، که چرے فرنګی زموږ په علاقه کښے دَ خیبر موجوده سړک کوم چه موږ دَ عام آمدو رفت دپاره فرنګی ته ورکړے دے، دَ ریل ګاډی دپاره فراخولو او زموږ شنته ورسره راشی نو محسود به زموږ ملاتړ کوی؟

دَ ملا پاونده" دَ مرګ په حقله په وزیرستان کښې روښي رپمبي دغه افواه خوره شوه، چه مرحوم ته دَ فیرنګی په ترغیب خپل ځوی صاحب دین زهر ورکړی دی، او دهٔ دَ فیرنګی نه په انعام کښې دیرش زره کابلئ روپئ او په پنجاب کښې یوه بنګله او نوره یر جائیداد حاصل کړے دے. خو دَ صاحب دین نه دیں زر دَ خلقو خیال بدل شو، او دَ زهرو ورکولو تور په فیرنګی وراوتیل شو. دَ خلقو په صاحب دین باندے دَ زهرو دَ معاملے ګمان ځکه راغلے وو چه دَ مودو نه ئے دَ پلار سره ورانه وه. بهرحال مُلا پاونده" ته نهٔ صاحب دین زهر ورکړی وو، او نهٔ فیرنګی، بلکه په خپل مرګ په حق رسیدلے وو. او هسے دَ دهٔ دَ زهرو په افواه دَ محسودو په خپل مینځ کښې او دَ فیرنګیانو په کیمپونو کښې مرګ ژوبله اوشوه.

مُلا پاونده" په خپل ژوند کښې شلور ښځے کړے وے: ګل بی بی منزئ ښځه، ارمړه ښځه، او داوړه ښځه. له دغو ښځو څخه دَ دهٔ دا لاندینی اووهٔ ځامن وو:

(۱) صالح دین، (۲) شمس الدین، (۳) ګل دین، (۴) غازی میرجان (۵) فضل دین، (۶) کریم داد، (۷) صاحب دین.

دَ مُلا پاونده" سره به عموماً دَ زرو پنځلس سوو مجاهدینو لښکر ګرځیدو. او کله کله به دغه لښکر تر دریو څلورو زرو پورے اورسیدو. دهٔ به ورته لنګر جاری لرلو. او غله به دَ داوړو نه ورتلله، کومه به چه په عیدکو کښې څهٔ دَ چندے په توګه

او څه پۀ بیعه راغونډېدله او بیا به مروجي او شکي ته استولے شوه.

مُلا پاونده" دَ خپل فراخه حساب کتاب دپاره باقاعده منشیان ساتلی وو. ملا عبدالرحیم دَدهٔ مشهور منشي وو، چه دَحساب وکتاب ساتلو نه علاوه به ئے دَ ملا پاونده" له طرفه نه دَخلقو او حکومت سره دَضروري سوال وځواب خط وکتابت هم کولو.

دَ دغه عظیم مجاهد روضه مبارکه رزمک ته نزدے دَ محسودو په مروجي نومے کلی کښے ده. ګڼړے خلقے ورځلیږي، او دَعقیدت ګلونه پرے نولي.

## مُلا پاونده" دَ خپلو دُښمنانو پۀ نظر کښے:

دَ مُلا پاونده" دَ مجاهدانه تحریک په اساس پۀ وزیرستان کښے چه انګریزان دَ کوے ستونځے سره مخامخ شوي وو، هغه دَ سرحد په تاریخ کښے یو ځلانده باب دے. ولے سره دَدے دوئ په خپلو اشارو کښے دَ دهٔ دَ لوړ شخصیت، بے مثاله شجاعت او شاندارو کارنامو اعتراف په ښهٔ زړهٔ او سپیڅلو ټکو کښے کړے دے. یو انګریز لیکوال ایولین هاول (Evelyn Howel) په خپل کتاب میژ (MIZH) کښے لیکی چه:

"تول هغه انګریزان افسران به کوم چه دَ مُلا سره کله هم مخامخ شوي دی، په دا متفق اوسی چه دَدهٔ پرجوش کردار، مرعوب کن شخصیت او پۀ زړهٔ پورے خبرو به هغه څوک ضرور متاثره کول، کوم به چه دَدهٔ

سره ملاویدل. سره دَ دے چه مُلا نهٔ خو دَ کوے لوئے کورنئ نه وو، او نهٔ ئے ځهٔ تعلیم وو، ولے بیا هم دَ سرحد په تاریخ کښے دَ دهٔ دومره غټه برخه ده، بلکه دَ دے تاریخ یوځو بابونه دَ دهٔ په سوانح حیات ډک دی. هغه ځهٔ معمولی سړے نهٔ وو. ........ کهٔ دَ خوش قسمتئ نه مُلا پاونده" په یوه ښهٔ زمانه کښے په یو ښهٔ مقام پیدا شوے وے نو دَ دهٔ شمیر به په عظیم المرتبت انسانانو کښے کیدلے"۔

سر اولف کیرو په "دی پټهان" کښے لیکی چه:

"که چرے محسودو هم دَ یوسفزو غوندے صفات او نفاست لرلے، نو دَ دا سے لیډر په قیادت کښے به دوئ هم دَ میاں گل په شان دَ سوات هسے مستحکم ریاست قائم کړے وے"۔

مُلا پاونده" ته دَ "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه ۲۹۲ "شاهِ وزیرستان" ویلی شوی دی. او هم دَ دغے کتاب په صفحه ۲۱۲ ورته "دَ وزیرستان خود ساخته بادشاه" ویلی شوی دی. لارډ کچنر ورته "مُضر پیشوا" وائی۔

دَ ملا پاونده" په حقله میجر جنرل جے. جی. ایلیټ (Elliot) لیکی: "دهٔ ته دَ ملکئ دَ الاؤنس پیشکش اوشو، اوّل خو هغه شرمیدو، ولے آخر ئے دَ تللو روپو ماهانه ملکی

قبوله کړه کومه چه دَ بل ملک په نسبت لس کونه
زیاته وه، وروستو په هند کښې ځکه هم ورکړے
شوه، ولے کله چه دَ انګریزانو په قتلولو کښې دَ دهٔ
دَ سازش خبره دَ شک نه اووته نو دَ دهٔ ټول اعزازات
بیرته واخستلے شول."

میجر جنرل ایلیټ بل ځائے په صفحه ۲۳۰ رقم طراز دے چه:

"دا دَ تعجب خبره نهٔ ده، چه دَ ملا پاونده څخه دَ
اعزازاتو اخستلو سره سم دَ دهٔ دَ مرګ کال ۱۹۱۳ئ آخری
شپو ورځو پورے په وزیرستان کښې امن وامان ممکن
نهٔ شو."

دَ میجر جنرل ایلیټ دَ پورتنی بیان نه دا معلومیږی چه دَ دهٔ
په خیال کښې ملا پاوندهؒ دَ انګریزانو په خلاف ټول جنګونه دَ
ذاتی مفاداتو په خاطر کړی دی. ولے دَ دهٔ بیان ته کهٔ په غور
اوکتے شی. نو صفا ښکاریږی، چه دَ انګریزانو له خوا نه ملا پاوندهٔ
ته دَ اعزازاتو او مراعاتو پیشکش، او همدغسے دَ دهٔ له خوا نه
دَ ذاتی مفاداتو مطالبات، دَ دواړو لوبغاړو ترمینځه دَ یو بل دَ
راپرزولو دپاره سیاسی اټکلونه وو.

کهٔ چرے دَ ملا پاوندهؒ په مطالباتو کښې حقیقت وے، نو دهٔ به
چرے هم داسے حالات نهٔ وے پیدا کړی، چه دَ دهٔ دَ ذاتی مفاداتو
په ضد وے. دَ ملا پاوندهؒ دَ مبارزې اصلی روح دَ وطن دَ آزادئ

مرام وو، کوم چه دهٔ په هر ډول مخ په وړاندے وړلو.

میجر جنرل ایلیټ مخکښے په صفحه ۲۱۳ لیکی چه :

"ملا پاونده" دَ خپل وفات ۲، نومبر ۱۹۱۳ء پورے

شل کاله دَ محسودو په معاملاتو باندے حاوی وو.

او دهٔ دَ حکومت له خوا نه دَ خپل قوم په حق کښے تول

مفاهمانه کوششونه ناکام کړی وو."

ډاکټر ټی. ایل. پینل په خپل کتاب "امنګ دی وائیلډ ټرائبیز

آف دی افغان فرنټیئر" کښے لیکی چه :

"دَ پښتنو اولس په ژوند باندے دَ مُلایانو ډیر

زیات اثر دے، او عموماً دا عقیده لری چه دَ دوی

په کرامت سره دَ فیرنګی دَ ټوپک مرمئ بے ضرره

کیدے شی."

مخکښے دَ ملا پاونده" دَ روحانی مقبولیت په حقله په صفحه ۱۱۶

دا سے لیکی چه :

"دَ کال ۱۸۹۷ء جنګ نه مخکښے مُلا پاونده" نومے یو مُلا

دَ کرامت خښتن یادیدو، او کوم پښتانه چه ما لیدلی

وو، هغوئ به په یقین سره وئیل چه دا خبره مونږ

آزمائیلے ده، بلکه په خپلو سترګو مو لیدلے ده چه چا ته

به دهٔ دُعا اوکړه، په هغو به ګولئ اثر نهٔ شو کولے."

دَ ملا پاونده" په حقله دَ دهٔ دَ دښمنانو تاثرات خو تاسو اولوستل

اوس دَ وطن دَ آزادئ دَ دے لوئے علمبردار، مردِ مجاهد او عظیم روحانی پیشوا په باره کښے دَ یو پاکستانی لیکوال سیّد مظهرعلی شاه کج فهمی هم اوکړئ ۔ هغه په "درے مسعود" نومے کتاب کښے لیکی چه : "دَ ملا پاونده" دَ اخلاقو قیمت صرف ۵۰ روپئ وو"

زهٔ به په دے حقله هیله دومره قدر عرض اوکړم، چه کچرے مُلا پاونده" خپلے کورنئ ته دَ انګریزانو دَ زمانے کوم مراعات او اعزازات په وراثت کښے پریښے وے نو موږ به دَ مظهرصیب تور په تور ګڼړلے وے ۔ ولے که حقیقت دَ دے برعکس وی، نو مظهر صیب دِ هم دَ یوزرے سر اونیسی او هم دَ غوږونو پیڅکے ۔ له دے نه علاوه دَ ډیره جاتو دَ ډویژن کمشنر مسټر اندرسن هغه مکتوب دِ هم بنهٔ په ځیر اوګوری ، کوم چه دهٔ دَ جنوبی وزیرستان پولټیکل افسر ایچ ۔ ډی ۔ واټسن دَ یو رپورټ په رڼا کښے په ۷ نومبر ۱۸۹۹ء دَ حکومت پنجاب چیف سیکریټری ته نوشته کړے وو، متن ئے دا دے :-

"ملا پاونده" به نغد الاونس قبول نکړی ۔ البته دَ زمکے عطیّه به په دے شرط قبوله کړی، چه هغه جُومات پرے جوړ کړی او په غیر دَ څهٔ تعرضه په علاقه سرکار کښے میشتهٔ شی"

## دَ ملا پاونده" عکس :

دَ مُلا پاونده" چه کوم عکس پښتنی اولس ته معرفی شوے دے،

دَ هغې په حقله بناغلي ګلاب ننګرهارے دَ مئ او جون ۱۹۶۹ء "کابل"
مجلّه کښې داسے بيان کوي:

"بېنوا صاحب يو وخت دَ رحمان بابا جيبي ديوان
دَ آفسټ دَپاره خطاطي کړو، نو دَ رحمان بابا دَ ځينو
بيتونو په فحوا ئې دَ دهٔ ځنې تصويرونه تيار
کړل. يو تصوير پکښې دَ دے نيم بيت په اساس وو،
چه: ع رحمان کوږ دستار تړلے قلندر دے.

نوره قواره بالکل دَ رحمان بابا دَ هغه معروف پوښتړيټ ده، خو
تاؤ کړے وَل وَل پګړئ ئې ورته کږه تړلے ده. دا تصوير دَ قبائيلو
رياست ته راوړے شو او يو وخت...... چه دَ مجاهد او غازي مُلّا
پاوَنده مرحوم دَ تصوير ضرورت شو، نو هم دغه دَ کږے پګړئ دَ
خاوند رحمان بابا تصوير دَ "ملا پاونده" په نامه کړے شو. او بنائي
چه دَ غازي مُلا پاونده" نوم اوس هم دَ هغه تصوير لاندے ليکلے وي."

## دَ انګريزانو قتلونه:

دَ "ملا پاونده" په مرګ انګريزانو دَ اطمينان ساه راکښله او زړونه
ئې په قلار شول. ولے دوئ خبر نهٔ وو، چه دَ دهٔ نه پس به دَ وزيرستان
هر دم خيزه خاوره نور داسے توريالي راپيدا کړي چه هميشه به دَ
دوئ په سترګو کښې ازغي اوسي. دَ "ملا پاونده" دَ وفات نه پس دَ دهٔ
توريالي ځوئ ملا فضل دين دَ جهاد بيرغ پورته کړو او دَ وزيرستان
ټول قامونه ئې دَ انګريزانو په خلاف راپورته کړل. دا وړوکے فيرنګے

ترے نہ چاپیرہ پروت وو، لا پہ توچئ کښے گوتے واچولے۔ پہ "توچي پولټيکل ايډمنسټريشن رپورټ براۓ ۱۴-۱۹۱۳ء" کښے دَ هغه وخت پولټيکل ايجنټ ليکي چه:

"دَ داوړو خلقو، خصوصًا هغه، کوم چه په دے لړے دړه کښے اوسيږي، له ځيرے دَ وفادارئ څه علامے ځرګندے نهٔ کړے۔ دَ شرپسندو سره برملا همدردي کوي او دَ سرکار سره دَ تعاون هيڅ خواهش نهٔ لري۔"

په داسے حالاتو کښے چه فيرنګي ته دَ وزيرستان ګوټ ګوټ تنور شوے وو، غازيانو ورته بے دريغه تلفات او صدمات اورسول۔ چه مشهور يکښے دَ کپتان ټيلر، ميجر ډاډ او ميجر انډرسن دَ قتل واقعات دي۔

## دَ کپتان ټيلر قتل:

په سوئيلي وزيرستان کښے دَ وانا په کيمپ کښے دَ مليشئے يو سردار په پنشن روان وو، دَ هغهٔ په اعزاز کښے دَ ۲۹ جنوري ۱۹۱۴ء په شپه خټک ډانس کيدلو۔ په دے موقعه کپتان ټيلر هم موجود وو۔ دَ مليشئے دَ يو بيټني سپاهي سترګے پرے اونهٔ چليدے او پرے ورغوړه شو، قتل ئے کړو۔ سپاهي دَ ځان دَ ويستو هله ځله اوکړه خو بچ نهٔ شو او په موقعه شهيد کړے شو۔

## دَ ميجر ډاډ قتل:

ميجر ډاډ (Major Dodd) دَ ساؤتھ وزيرستان مليشئے سابقه

کماندار وو. او دَ جنوبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ وو. کپتان براؤن (BROWN)، لفټیننټ هیکی (Hickie) او مکینزي (Mackenzie) دَ ساؤتھ وزیرستان ملیشې انګریزان افسران وو. په دوئ کښې هیکی مونټین ګنر وو. دَ ۱۲ اپریل سنه ۱۹۱۷ء په ماښیګر دغو ټولو وارو افسرانو دَ ټانک په پولټیکل هاؤس کښې ټینس کولو. میجر ډاډ او کپتان براؤن لوبه بس کړه، دَ بنګلې مخې ته کښیناستل او په میئوشئ کښې بوخت شول. سرفراز خان نومې یو ملکشې محسود چې دَ میجر ډاډ اردلی وو، او لهٔ مخکښې نه دَ بنګلې په یو ګوټ ځائے کښې پټ ناست وو، ناڅاپه په میجر ډاډ او کپتان براؤن باندے ډزے اوکړے. میجر ډاډ زر نهٔ رسا او لګیدو او دَ ټکه سر دَ لاندے په زمکه راپریوتو. لوئے شور ماشور ګډ شو، او دَ سرفراز خان دنیولو تابیا اوکړے شوه. سپاهیانو کهٔ هر څو دَ هغهٔ دَ ګرفتارولو کوشش کولو خو ناکام به شول. ځکه چې په داسے ځائے کښې مورچه شوے وو، چې څوک به نزدے ورتلل نو هغه به بیا نخښه کړے وو. په دے دے کښې لفټیننټ هیکی او ورسره دوه پنځه سپاهیان هم قتل شول. آخر دَ یو سړی شپې دَ ځلکې مقابلې کولو نه پس دغه توریالے ځوان هم شهید کړے شو. وئیلے شي چې سرفراز خان دَ ملا فضل دین او دَ دهٔ دَ پلار دَ مشهور منشي ملا عبدالرحیم په لمسون دا اِقدام کړے وو.

اګرچې دَ میجر ډاډ دَ قتل سره سم سرفراز خان هم په ځائے

شهید شوے وو، خو دَ فیرنگی زړهٔ پرے لا سوړ نهٔ وو، او هر وخت به ئے دَ دهٔ په کورنئ پسے سرهٔ مرڅی کرځول. آخر هغوئ افغانستان ته په کډه کولو مجبور شول. دَ محسودو اولس چه دَ دے نه خبر شو، نو دَ ملا فضل دین په مشرئ کښے ئے په کانی گرم یوه لویه جرګه اوکړه. او دَ فیرنګی دَ جبر و استبداد په خلاف ئے دَ سرفراز خان دَ کورنئ ذمه واری واخسته او هغه په وطن کښے پاتے شول.

## دَ میجر انډرسن قتل: (Anderson)

سره دَ دے چه مُلا پاوندهٔ وفات شوے وو، ولے دهٔ چه دَ وزیرستان په توریالی اولس کښے دَ انګریزانو په خلاف دَ نفرت کوم زهر اچولی وو، دَ هغے اثر به ورځ په ورځ زیاتیدو. دغه واقعه هم دَ ملا پاوندهٔ دَ هغه زهرو اثر وو. مامک خان دَ اورمړخیلو شاخ بهلولزئ محسود وو. په فوځ کښے ملازم وو، او دا وخت په بمبئ (بهارت) کښے وو. ډیر حساس او بهادر ځوان وو. انګریزان ئے زښت بدی شول او هر وخت به ورته زړهٔ کښے خوټکیدو.

یوه ورځ چه دهٔ ته میجر انډرسن دَ غلامئ پیغور ورکړو نو لا سره لمبه شو. په ۲۰ نومبر ۱۹۱۲ء ئے په میجر انډرسن موقع برابره شوه. دَ ټوپک په یو ډز ئے داسے سوړ سخ کړو چه بیا ئے رق او نهٔ وهلو. مامک خان پخپله هم ګرفتار شو، او په دار اوخیژولے شو.

**مُلا حاجی محمد:** دغه توریالے مُلا شوځیا کے احمدزئ وزیر وو او

په قاضي صاحب ئې شهرت لرلو. پلار ئې شمال نومیدو. قاضي صیب دَ یو دروند لښکر قیادت کولو. او شپه ورځ به دَ فرنګي تسلط په خلاف برسرِپیکار وو. دَ ده څلور درې ورونه سلام خان ګل سلام خان او شاه سلام خان هم تکړه غازیان وو. او دَ بنوں په زمکه په مختلفو غزاګانو کښې په شهادت رسیدلي دي.

دغه باتور قاضي صیب په کال ۱۹۲۶ء کښې په خپل مرګ په حق اُورسیدو.

## میاں جي:

دَ ملا پاونده[2] په اولسي جرنیلانو کښې میاں جي ډیر نامتو مجاهد وو. پلار ئې بوجې نومیدو، او په قام نانوخیل عبدالرحمٰن خیل محسود وو. ډیر جوشي، پیاوړے او بریدي ځوان وو، او ډیوے سرتیرے ډلے مشري به ئې کوله. میاں جي دَ انګریزانو دَ سر دښمن وو. او دَ خپلو پرله پسے حملو په وجه به ئې هغوئ ته ډیر سخت جاني او مالي تاوانونه اورسول. فیرنګے چه ډیر تر ے نه تنګ شو نو افغانستان ته ئې په ګډه کولو مجبور کړو. افغان حکومت غزني ته نزدے په غوزبه کښې آباد کړو. ولے دَ ے ځائے نه به هم هغه څو په څو یمه وزیرستان ته راتلو او په انګریزانو به ئې یرغلونه کول. دغو یرغلونو چه ډیر شدت اختیار کړو. نو فیرنګي افغان حکومت ته زور اوکړو. افغان حکومت ترکستان ته منتقل کړو. خو څه موده پسته، هغه بیا غوزبه ته راغلو، او په وزیرستان کښې به ئې

په برطانوي حکومت باندے حملے برېدونه کول ـ دغه مجاهد ترمودو اوجنګيدو او په سختو سختو معرکو کښے ئے د خپل شجاعت جوهر اوښودل ـ آخر د کال ۱۹۰۸ ئه په مني کښے د تيارزه تراوره په جګړه کښے په شهادت اورسيدو ـ

د دهٔ په مرګ باندے ملاپاونده" زښت دلګير شو ـ ولے چه مياں جي يو خوا د ګڼړو صلاحيتونو څښتن وو، بل خوا هغه د دهٔ بنے لاس وو ـ ايوليئن هاول په خپل کتاب "ميزډ" کښے په صفحه ۸۹ ليکي چه:

"کهٔ چرے ملاپاونده" د اسلامي تاريخ نه خبر وے نو مياں جي به د "سَيفُ الحق " په خطاب نمانځلے وے ـ يعني د خالدِ ثاني خطاب به ئے ورکړے وے"

# اتم باب

# پکتیاوالے لښکرے

د وزیرستان تورزن اولس به چه د انګریزانو سره کوم جنګونه کول او یا به ئے د دوئ د لاسه کوم زحمتونه ګالل، په هغه کښے به د افغانستان د ولایتِ پکتیا ننګیالی پښتانه هم سم شریک وو. د دوئ لښکرے به هم د وزیرو او داوړو په مرسته کښے توچئ ته راتللے او د انګریزانو په خلاف به ئے جنګونه کول. په دے لړ کښے د دوئ یو څو مشهورے حملے دلته درج کولے شی.

## په میران شاه اوله حمله:

په ۲۸ نومبر ۱۹۱۴ء په افغانستان کښے د پکتیا د جدرانو، تانړیو، ګربزو، او خوستوالو یو دروند لښکر په ډانډے کښے د دُردانی په مقام میشته شو. دغه لښکر اندازاً په دولسو زرو نفوسو مشتمل وو. زبردست دولونه ګرزیدل، پوکانړئ غزیدلے، او

میند اړونه اچولی شوی وو. دَ یو سیدکی جاسوس په خوله چه فیرنګے دَ دے نه خبر شو، نو دَ میرانشاه سرائے ئے مکمل طور خالی کړو.

دَ ۲۸ نومبر شپه ترینمائی په خیر تیره شوه، ولے دَ شپے دَ چاودون سره په ۵-۳۰ بجے او په ۲۹ نومبر ناڅاپه غازیان دلیونی ملنګ[1] او سالم پیش په مشرئ کښے دَ میرانشاه په بازار ورپریوتل. دَ لوټ بازار او تښتو دوکانونو باوجود دوئ دَ ۶۹,۲۶۵ روپو دَ مالیت سامان ترلاسه کړو. او بازار ته ئے اور ورته کړو. دَ میرانشاه قلعه، دَ لړے او بړے توچئ نه دَ ټیلیفون او ټیلیګراف لائن پریکیدلو په وجه جدا کړے شوه.

دَ لښکر زیاته برخه لا په عزونو کښے وه. ایله څری بری راپریوتی وو. باقی لښکر دَ محسودو دَ لښکر انتظار کولو، ځکه چه مُلا محی الدین ادیګر[2] او لالا پیر محسودو ته تلی وو، او نور لښکر ئے راغونډولو. دَ منګلو لښکر هم لا په لارے وو. موجوده لښکر کښے اکثریت دَ جدرانو وو. ولے دَ لیونی ملنګ ترمشرئ لاندے تاڼزی او کرېز هم یکښے په اقلیت سره

---

[1] دَ لیونی ملنګ اصلی نوم خوناپیر وو او خانمیر به هم بللے شو. دَ سخی صیب مشهور ملنګ وو. او ګردیز ته نزدے دَ بانوزو او سیدونکے وو. خلقو به ملا فقیر هم بللو. دَ اپریل ۱۹۱۶ء په آخری هفته کښے دَ خوست په مقام په خیل مرګ مړ شو. دَ ترک وجرمن دَ اتحاد په بنیاد به دَ فیرنګی په خلاف دَ جدرانو لښکرے اکثر دهٔ راغونډولے.

[2] دَ مُلا ادیګر ورارهٔ وو.

شامل وو. دغسې وزیرستانی ژنړۍ هم پکښې خال خال ښکاریدل. دا وخت فیرنګی په کیمپ کښې دننه پاتې کیدل غوره اوګڼل، او په غازیانو ئې هیڅ قسم تعرض اونکړو.

غازیانو چه بازار لوټ کړو او وئې سیزلو، نو دَ داندې چاپیره غرونو ته اوختل او دا مرکه ئې اوکړه، چه دَ شپې به په کیمپ چپاؤ وروړی. غازیان دَ مرکې نه پسته بې غمه په اخلی پخلی کښې اخته شول. فیرنګی ورسره چل اوکړو. په بې خبرۍ کښې ئې دَ دریو لوریو نه سخته حمله پرې اوکړه او دوئ ئې مینځ کښې راګیر کړل. فیرنګی خپله درې پلټیزه حمله په داسې ډول اوکړه، چه لفټیننټ پرینډر ګوسټ (Prender gost) دَ درپه خیلو کلی دَ لوری نه سپاهیان پرې ورروان کړل. کپتان جوتم (Jotham) دَ میرانشاه سرائې مخامخ غرونه ورته مورچه کړل او میجر جی، بی، سکاټ (G. B. Scott) دَ همزونئ دَ شنې خوړې الکړې نه ورسره راتاؤ شو او په غازیانو ئې حمله اوکړه.

دَ غازیانو او فوځیانو تر مینځه یوه خونړۍ جګړه اونښته. غازیان که هر څو بې خبره لاندې شوی وو، ولې بیا هم په داسې استقامت او شهامت ورته اړم شول چه فیرنګي ئې په شا او تمبولو، او ۱۸۱ تنه مړی ژوبلی ئې ترې نه اوکړل. په مقابل کښې دَ غازیانو څخه هم اتلس ۱۸ تنه شهیدان او ګڼ ټپیان شول. په شهیدانو کښې دَ تاپړیو مشر ملک میرزا علی او ورسره یو مُلا هم شامل وو چه مړی

ئې فیرنګی ته ورپاتې شوی وو. دَ مُلّا په جیب کښې دَقرآن پاک یوه نسخه او دَلاندینی متن په فارسیٔ کښې لیکلے یو خط هم وو:-

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دَ دُعاء وسلام نه پس دَ داوړو ملکانانو او عوامو ته اطلاع ورکوله شی چه دَ تیرو ورځو راسے دَلعنتی فیرنګی طاقت دومره کم شوے دے، چه دَ میرانشاه دَ قلعے دَحفاظت دَپاره ایله پنځوس[۵۰] نفر رنګروټان پاتې شوی دی. کچرے دَ دوؤ[۲] سوو کسانو لښکر راغونډ شی، نو مونږ به دَ میرانشاه سرائے او قلعه په آسانه قبضه کړے شو. محسودو هم درے[۳] قلعے وهلی دی او ټول ټوپک ئې تر ے نه ولجه کړی دی. امضاء کنندګان:

(۱) ملک خان محمدؒ (۲) شاه زر (۳) مداکبر (۴) شاه ګل،
(۵) امان ګل (۷) ملاصاحب روزګل ټنکرچی (۸) ملک خون بادشاهؒ

که چرے ممکن وی نو مونږ ه دَ نائب تحصیلدار ځخه هم به اجازت آخستې دے. دَ عالیجاه لالا پیر ځخه دعاء وسلام-

په تاریخ ۹، ذی الحجه سنه ۱۳۳۲ھ بمطابق ۲۹، اکتوبر سنه ۱۹۱۴ء

نویسنده:

میرزا خان ګل

## د شپانهٔ خیساری دوٸیمه جګړه:

دَ افغانستان جدرانو، تانړیو، ګربزو او خوست والو یو ځل بیا دامرکه اوکړه، چه دَ شپانهٔ خیساری په قلعه حمله اوکړی. دَ حملے نه مخکښے دوئ ملک سادے خان مداخیل ته هم خط اولیکلو۔ ملک سادے خان دَ قطبی وزیرستان واحد شخصیت وو، په چا چه دَ افغان او برطانوی حکومتونو نه علاوه دَ عوامو نظر هم مرکوز وو۔ دَ بد قسمتئ نه دغه خط ملک سادے خان ته دَ جګړے نه وروستو په لاس ورغلے وو۔

دا خط په فارسی ژبه کښے وو، او دا سے متن ئے درلود:

" دَ سلام نه پس دِ تاسو ته معلومه وی چه دَ جدرانو، تانړیو او خوستوالو یو لښکر راغونډ شوے دے۔ دَ دغے خط تر لاسه کولو سره باید چه تاسو هم بغیر دَ څهٔ تاخیره لښکر راغونډ کړئ او په کفارو (فیرنګی)، باندے کوم چه اوس بیخی کمزوری شوی دی، حمله اوکړئ او اوئے شړئ۔ انشاء الله اوس دَ خارجیانو دَ ورهٔ کیدو ورځے دی۔ دَ جرمن بادشاه نه خبر راغلے دے، چه هغوئ اسلام قبول کړے دے او په فیرنګیانو پسے ئے راخستے ده، تا ته هم خواست دے چه (دَ دوئ په خلاف) هله ګله جوړه کړئ۔ دَ بنوڅو ختکو، مروتو، او افریدیو څخه هم خبر راغلے دے،

چه دوئ په يوه خوله جهاد ته تيار دي "

دغه لښکر تقريبًا په لسو زرو غازيانو مشتمل وو. دَ لښکر مشران ليونے فقير او سالم پيش وو. دغه لښکر دَ افغانستان نه دَ مزدک عزه په مخه دَ اوڅکي او زنکوټې په لار بانده په ټاؤ ديبي الګه کښے راکوز شو. دولونډ ئے وهل او په ۲۵-۳ دَ شپانه خيسارۍ قلعے ته چاپيره شو. وزير و داوړ چه خبر شول نو هغوئ هم پکښے ګډ شول. دَ قلعے کماندر ته دوو مدا خيلو غازيانو اووئيل چه که تاسو بغير دَ مقابلے لښکر ته قلعه حواله کړئ، نو دَ سر امن به درکړے شي. کماندر چه ورته آنے بهانے شروع کړے نو دوئ په ۷، جنوري ۱۹۱۵ء په قلعه حمله اوکړه، او ډيره سخته خونړۍ جګړه اونښته. چونکه دَ لښکر دَ راتلو نه آګاهو دَ ميرانشاه قلعے ته اطلاع رسيدلے وه، نو هم په دغه ورځ سحر وختي د کپتان اې. جوتم (Jothem.) په کمان کښے نارتھ وزيرستان مليشيا ور روانه کړے شوه او دَ مليشيئ په ور رسيدو سره جګړه لا تاؤده شوه. او دَ څو ګنټو شديد جنګ نه پس سپاهيان دَ سخت شکست سره مخامخ شول او په شمار سمیرلی درے سوه اويا کسان ترے نه په قتل اورسيدل. چه يو پکښے کپتان جوتم پخپله هم شامل وو، کوم چه دَ بيتي جدراڼ دلاسه وژلے شوے وو. غازيانو خصوصًا ساتي اسماعيل خيل، عظيم علي خان خيل جدراڼ، دَ جدراڼو دَ آمازئ شاخ ځوانانو او دَ تاڼيو يوے قبيلے بے شميره آسونه، خچرے، ټوپک او نور سازوسامان ولجه

کړو۔ دَغازیانو دَ لوړی نه هم اتیا[۸۰] کسان سرتیری شهیدان شول کپتان ای۔ جوتم په انګریزانو کښے ډیر مقبول وو۔ او دَدهٔ په مرګ ئے زینت ویرونه اوکړل۔ دَ کپتان ای۔ جوتم قاتل دَ ملک میری جدران ورارهٔ بیتی وو، چه په شاخ دَ زیړوک علی خان خیل وو۔ چونکه دَ کپتان ای۔ جوتم وسله بیتی ولجه کړے وه، په دا وجه جدرانو خپل مشر اوتاکلو۔

## دَ میرانشاه دوئیمه جګړه :

دَ کال ۱۹۱۵ءَ دَ مارچ په درویشمه نیټه[۲۳] دَ منګلو، جدرانو، تلوڅیو او خوستوالو اندازًا دَ لسو زرو غازیانو یو دروند لښکر دَ کرمی په سیمه کښے دَ لالیړے او بیاؤ شاه ترمینځه خور وور پنهٔ وو، هم په دغه ورځ ئے دَ شاګی او خوست مُلا په لاس دَ دُری جان[۲۴] نوے یو سړی تر دستخط لاندے دَ توچئی پولټیکل ایجنټ ته دَ اخطار په توګه دَ لاندینی متن یو خط ورا ولیږلو :

"په دا وړو کښے دے دَ حکومت برطانیه نمائنده ته دَ ملک دُری جان له خوا دا معلومه وی، چه دَ کله نه چه دوئ (فیرنګیانو) دغه سیمه قبضه کړے ده له هغه وخته نه غریب اوخانه بدوش جدران خپل وخت دَ برطانوی حکومت په علاقه کښے تیروی اوځان ته روزی پیدا کوی۔ ولے یو کال مخکښے حکومت برطانیه بغیر دَ څهٔ وجے ډیر جدران وغیره خلق جیل[۲۵] ته واچول

او هلته مړهٔ شول. دَ حکومت له خاطره (فی الحال) دغه نوټس ورکولے شي چه که چرے دَ خان خيال غواړے، نو په دے باره کښے په بونېرئ باندے دَ جدرانو، تانړيو، ګربزو او منګلو مشرانو سره خبرے اترے اوکړه. که موږ پر شولو، نو دَ حکومت خبرو ته به غاړه کيږدو، او که حکومت زياتے کړے وی، نو زموږ دَ تاوان څهٔ بندوبست دِ اوکړے شي. ګني په بل صورت کښے به ورته سخت تاوان اورسولے شي. ولے چه دَ منګلو وغيره لښکر راغونډ شوے دے، او دَ فيرنګي سره جنګ کولو ته ليواله دے. بله دا چه ستاسو په علاقه کښے چه دَ جدرانو کوم جائيدادونه پاتے شوی دی، هغه هم اوس غوښتونی دی.

له دے نه پرته که ته دَ هغو جدرانو، تانړيو، منګلو او خوستوالو خون بها راکوے، کوم چه ستاسو په جيلونو کښے مړهٔ شوی دی او خپل بلاکيټ اوچتوے، نو هر څهٔ به په خير شي، ګني خير دِ نشته. کچرے ځواب راکول غواړے، نو دَ تيرګل او عالم خان اتمان تانړيو په لاس ئے رااوليږه؟

دغه لښکر په ۲۴ مارچ ۱۹۱۵ء دَ ډيورينډ لائن نه راوړيدو او دَ ميران شاه نه قطب پله په شپږ ميله فاصله باندے پړشګئ ميله

میشته شو۔ دَ لښکر مشران غلام خان جدران، شاه حسین، لیونے فقیر، مُلا محی الدین ادیکړ، سالم پښ، الله گل جدران، طوطي میرزائی ،
نور گل تانړے او عالم خان تانړے وو۔ دَ تانړیو د لښکر مشر کلوم دین
ملک خابی خیل وو۔ په لښکر کښے هر قسم جنګی سامان موجود وو۔
تورے، نیزے، خنجر، ټوپک، عن چه کوتک هم راوړی شوی وو۔
ځنے نش لاس خلق هم پکښے وو، دوئ دَ وریژو او اوړو ډک کوړی
راوړی وو۔او تر یوے هفتے پورے راشن ئے درلود۔ دَ هر قوم سره
خپل خپل بیرغ وو، چه کلمه شریفه پرے لیکلے شوے وه۔ کودکلوم خان
الله گل جدران او مُلا محی الدین آدیکي په آسونو سوارهٔ وو۔ په لښکر
کښے اکثریت دَ جدرانو وو۔ کله چه دوئ میرانشاه ته راروانیدل هغه
وخت په غلنګ کښے دَ منګلو درونډ لښکر جمع شوے وو۔ دَ منګلو او
محسودو تر مینځه دَ دغے لښکر کشئ په حقله دَ الله گل ملک په ذریعه
خبرے اترے کیدلے۔ هغه وخت منګلو، جدرانو ته ویلی ووچه تاسو
زمونږ دَ راتللو انتظار کوئ، خو جدرانو دَ دوئ انتظار اُونکړو، او
میران شاه ته روان شول۔

فیرنګی دَ دوئ دَ اخطار په ځواب کښے پټ په پټه دَ جنرل فین FAN
په کمان کښے فوځ وراولیږلو او په ۲۶ مارچ ئے هغه وخت دَ توپونو
او ټوپکو حمله پرے اوکړه، چه لښکریان په خوارهٔ خوب اودهٔ وو۔
دغے نابیبرے حملے په غازیانو کښے بے کچه خوف و هراس پیدا کړو
ولے بیا ئے هم زړونه راټینګ کړل. او داسے مقابله ئے ورسره

راواخسته، چه دَ فیرنگی غروبه ئے تس نس کړو او دَ لفټیننټ کریج (GRIEG) او سیکنډ لفټیننټ جان ویل (Jhan Will) سره ئے په شمیر تیر ۸ـ۵ کسان مړهٔ او دوه نیم سوه ۲۵۰ ژوبل کړل. لفټیننټ کریج دَ میرزالئ دلاسه قتل شو. خو اَس او تماچه ئے زیباګل ولجه کړل.

میرزالئ او زیباګل دواړه ډیر سرتیری ځوانان وو. میرزالئ تانړے وو. او زیباګل دَ خوست اسماعیل خیل وو. وروستو مئی ۱۹۱۵ئ کښے زیباګل دَ ملک حسین منډیزی دَ وراره دَ لاسه قتل شو. هسے خو په دے جګړه کښے مجموعی طور دوه سوه ۲۰۰ کسان شهیدان او درے سوه ۳۰۰ ټپیان شوی وو، ولے دَ سالم پیش په ملګرتیا کښے چه کومه پیاوړے ډله دَ چرخوئ په خوا مورچه شوے وه او زبردسته توره ئے کړے وه، دَ هغے نه په یو ځائے شل تنه ځوانان په شهادت رسیدلی وو.

افغان حکومت په هغو ټولو قامونو باندے جرمانے اولګولے کوم چه په میرانشاه حمله کړے وه، یا دَ خپل ټک (برید) نه راوړیدلی وو. دغه جرمانه ټوله درویشت ۲۳ زره کابلئ روپئ وه. په دے کښے دولس سوه ۱۲۰۰ کابلئ روپئ په جدرانو وه او باقی په اسماعیل خیلو، تانړیو، او منډیزیو باندے. افغان حکومت ورته دا هم اووئیل چه ترڅو پورے تاسو ټولو دَ پُرامن اوسیدو ضمانت نهٔ وی راکړے، ترهغه به دَ حکومت برطانیه څخه ستاسو دَ بندیانو هیڅ مطالبه اونهٔ کړے شی.

په دے جګړه کښے د تانړیو د یو مشهور توریال لیونے ملک ورور هم شهید شو۔ لیونی ملک د بدل آخستو په ترڅ کښے په ۱۲ فروری ۱۹۱۶ء د ډاک په سرکاری تهانکه، کومه چه د درے وستے نه پکّی کلی ته روانه وه حمله اوکړه۔ د تهانکے کوچوان او محمّد حسین شاه نومے یو سول محرّر ئے قتل کړل او سامان ئے ولجه کړو۔

## مُلا عبدالحکیم :

مُلا عبدالحکیم ملک دینائی محسود وو۔ پلار ئے غلئین نومید و او د مُلا پاوندهؒ د داوړے ښځے لور پرے واده وه۔ ډیر عالم او فهیم سړے وو۔ سیاسی پوهه ئے هم درلوده۔ د مُلا پاوندهؒ مکمل طور رازدار او معاون وو۔ خو د دوئ ترمینځه تول روابط په مخفی ډول وو۔ په ظاهره به ئے ځان د انګریزانو خیرخوا ښائیلو، ولے په پټه به ئے د دوئ د بیخ ویستلو دپاره منصوبے جوړولے۔ انګریزانو ته د دهٔ مخالفانه عزائم هغه وخت څرګند شول چه کله مُلا پاوندهؒ په حق اورسید۔

د انګریزانو دا کوشش وو، چه د حکومت برطانیه حامی صاحب دین د خپل پلار مُلا پاوندهؒ جانشین مقرر کړی، چه دوئ ته په وزیرستان باندے قبضه ساتلو کښے کوم خرخښه پاتے نهٔ شی۔ ولے مُلا عبدالحکیم د دوئ د دغے خواهش په

په ځنډ قدم پورته کړو او د کانی ګرم په مقام ئې د محسودو یو لوئې جرګه ته، چې صدارت ئې ملا حمزالله کولو په ډانګ پیلی اوویل چې: "د وفات کیدو په وخت ملا پاوینده" ماته وصیت کړے دے، چې د ده جانشین دے د ده ځوئ مُلا فضل دین اوټاکلے شی؟ په دا خبره باندے د محسود قام اتفاق اوشو او مُلا فضل دین د خپل پلار ملا پاوینده" جانشین او ټاکلے شو.

مُلا فضل دین د عمر نه ډیر کم وو، خو ملا عبدالحکیم په ډیر ښکلی ډول د ده تربیت شروع کړو. هم ئې په علمی دولت مالامال کړو او هم ئې په رزمی فن کښې یکتا کړو. هم ئې په اولسی معاملاتو کښې بلد کړو او هم ئې په سیاسی اټکلونو پوهه کړو. دغه مجاهد مُلا تر کال ۱۹۲۹ء پورے د برطانوی حکومت په خلاف ښه فعال رول اولوبولو. ولے د دے نه پس ئې د بدن د کمزورتیا له کبله ګوشه نشینی اختیار کړه. او په ۳ مارچ کال ۱۹۵۱ء کښې په خپل کلی کښې په حق ورسیدو. او هم هلته خاورو ته اوسپارلے شو. د ده ښځه چې د شاهزاده فضل دین سکه خور وه، په ۲۲ ستمبر کال ۱۹۷۸ء کښې وفات شوه.

## سالم پښ:

سالم پښ د لالیڅے ګربز وو. ډیر بیباوړے او بریدی ځوان وو. د توچئ په اکثرو جګړو کښې ښه په مړانه جنګیدلے وو. د سالم پښ یو بل وروړهم وو، چې زنګی خان نومیدو او د

دهٔ سره به په اکثرو حملو بریدونو کښے شریک وو.

ذ دهٔ دریم ورور پیر گل نومید و چه ذ صدیق کلی[1] په خواؤشا کښے ذ کشکئ په مقام څان ته کوټ جوړ کړے وو. ذ سالم پښ وارداتونو چه ډیر زور اونیوو نو ذ افغانستان امیر حبیب الله خان ذ خوست نه خارج کړو، قندهار ته ئے اوشړلو.

په ستمبر ۱۹۱۴ء کښے امیر ترے نه پابندی لرے کړه او بیا خوست ته راغے. سالم پښ به ذ څان سره یوه ځیگروره ډله گرځوله. کله کله به ئے په یوائے څان هم بریدونه کول. یوځل ذ ۲۶ جون ۱۹۱۶ء په شپه دهٔ او ملگروئے بنوں کښے ذ بلدیئے په گودام حمله اوکړه. او ډیر مال و متاع ئے ترے نه یوړو. ذ دهٔ نور ملگری خو په خپله خپله مخه لاړل، ولے دهٔ په پالوکهو کښے څان پټ کړو. او بله ورځ ئے ذ سیدگی په مقام ذ کانوائے ذ کیمپ په سنتری بیا برید اوکړو. قتل ئے کړو او ټوپک ئے ترے نه یوړو.

سالم پښ به ذ هندوانو ذ اغوا او په هغوئ باندے ذ بونگو آخستلو شوق هم کولو. او ذ دغے شوق ذ لاسه یوځل ذ ۴، ۵، مارچ ۱۹۱۶ء په شپه چه دهٔ ذ هرمزو داوړو کلی کښے ذ یو هندو په کور غدئ واچوله، نو ذ کلی چغه ورپسے ورسیده. سخت ئے ژوبل کړو او په اتم مارچ ۱۹۱۶ء خپل کلی لالیړه کښے په حق اورسیدو. ذ سالم پښ ذ مړانے اندازه ذ قطبی وزیرستان "سټیټمنټ آف دی

---

[1] ذ خوست په مضافاتو کښے واقع دے او په صوبه کښے مشهور دے.

آفینسس کمیټه د یورنګ دی ایر ۱۹۱۶-۱۷ء[1]" د رپورټ نه په مننه شان لګیدے شي۔ په دے رپورټ کښے لیکلی دی چه:

"په خوست کښے د سالم پښ د مقابلے داسے بل قانون شکن پاتے نه شو، چه په شجاعت او استقامت کښے د ده سیال وی۔ پکار ده چه اوس د ده د مرګ نه پس حالات پرسکون شی۔"

د وزیرستان خلق لوهار ته پښ وائی، سالم هم د اصل نه لوهار وو۔ هم په دا نسبت به خلقو ورته پښ ویل، کنی پخپله ئے پیشګری نه کوله۔ د ده د بدل په هڅه کښے د ده ملګرو د ۲۲، جون ۱۹۱۶ء په شپه د هرمزو کلی نور انور نومے یو ملا اووژلو۔

## ګل حسن محسود:

ګل حسن په اصل کښے ناناخیل محسود وو۔ ډیر بیباوړے او توریالے ځوان وو۔ په کال ۱۹۰۸ء کښے ئے په سوئیلی وزیرستان کښے د انګریزانو په خلاف ګړے بړے شروع کړے۔ کال ۱۹۰۹ء کښے فرنګی د سوئیلی وزیرستان نه په هجرت کولو مجبور کړو او په حسوخیلو داوړو کښے میشته شو۔ دلته ئے داوړه ښځه په نکاح کړه او د دوو سرتیرو ژنړیو مداخیل داوړ او ساده خان داوړ سره ملګرے شو۔ دریو واړو به کله په کیمپونو حملے کولے او کله به ئے فوځی ګشتونه راښکیل کړی وو۔ کله به ئے هندوان اغوا کول او کله به ئے په بازارونو

---

[1] STATEMENT OF The OFFENCES COMMITTED DURING The YEAR 1916-17

غدئ اچولے۔ لنډه دا چه په توجئ کښے به دوئ پخپله خواردا تو کول، خو د افغانستان مفروران به ئے هم رابلل او د ځان سره به ئے کرځول۔ آخر فيرنګی درباره د توجئ نه اوشړل اوخوست ته ئے کډے اوکړے۔ په خوست کښے هم دوئ د انګريزانو مخالفت پرے نښودو۔ او افغان حکومت لغمان ته خارج کړل۔ مئ ۱۹۱۲ء کښے د لغمان نه درياړه بيرته خوست ته راغلل۔ او تيراه ته ئے کډے اوکړے۔ په تيراه کښے ئے څۀ موده تيره کړه۔ ولے بيا پسته خوست ته راغلل او په ګډه آخاره کښے ميشته شول۔ خو مياشتے پس اکتوبر ۱۹۱۲ء کښے ګل حسن او د دۀ ملګرے ساده خان افغان حکومت ګرفتار کړل۔ د دوئ سره د ګډه آخارے ملک الياس هم ګرفتار کړے شو۔ په دے درياړو باندے دا الزام وو، چه دوئ د جلندر شاه نومے يو سپيرکی وزير قاتل عبدالرحمن سپيرکی وزير پسے د وژلو کوشش کړے وو۔ خو نومبر ۱۹۱۲ء کښے د لالا پير په سفارش د خوست بريګيډيئر بيا خوشی کړل۔ ګل حسن به اکثر د خپلو ملګرو مداخيل او ساده خان په ملګرتيا کښے د ملا پاونده[1] په جګړو کښے هم شرکت کولو۔ او د دۀ د مرګ نه چه خبر شول، نو درياړه شهزاده فضل دين ته په ښال ورغلل او غم شريکی ئے ورسره ښکاره کړه۔ په دا موقعه ګل حسن د محسودو مشرانو ته داخواست اوکړو چه زۀ

---

[1] مونږ صبا ورته حسن کوټ ويئيلے شی۔

دَ افغان حکومت نه زښت ویریدم، کهٔ چرے تاسو ماته دلته
په وانکی کښے دَ میلے دپاره غوبے راکړئ نو ډیره به ښهٔ وی۔

دَ محسودو مشرانو دَ دهٔ خواست منظور کړو۔ خو ګل حسن
هلته کلے کور جوړ نکړے شو او بیرته توچئ پله راغے او دَ شهزادهٔ
فضل دین په عزا ګانو کښے بوخت شو۔ فیرنګے چه پرے خبر شو نو
دَ عیدکو دَ نائب تحصیلدار شیربهادرخان په ذریعه ئے سختئ پرے
شروع کړے۔ ګل حسن چه ډیر تنګ شو نو په ۳۰ مئ ۱۹۱۴ء بنوں
ته نزدے دَ درے غوندارۍ په مقام ئے په روان تمتم کښے په
شیربهادرخان باندے ډزے اوکړے، هغهٔ هم تماچه پرے اوچلوله
او ګل حسن برخیرن غوندے په پښه باندے تپی شو۔ وے
شیربهادرخان په موقع مړ شو، او پستول ئے ګل حسن یوړو۔ دَ
شیربهادرخان دَ قتل په وجه فیرنګی دَ لرو داوړو شپږ تنه مشران
ګرفتار کړل، چه په هغوئ کښے دَ موسکئ ملک حبیب خان او دَ
حسوخیلو تاوان شاه هم شامل وو۔ دوئ ټول څوارلس څوارلس کاله
بامشقته بندی کړے شول۔ دَ دے نه علاوه فیرنګی دَ هرمزو دَ
عصمت خان کوټ هم اونړولو۔ ګل حسن په دے ډیر زهیر شو او
دا ویره ورسره پیدا شوه چه اوس به داوړ قام ضرور دَ دهٔ مخالفت
شروع کړی۔ وے داوړو چه همیشه راسے ئے ننګیالو ته پناه
ورکړے ده، دَ ګل حسن نه هم څهٔ ګله اونکړه۔ مګر خو ورځے
پس دَ دے پخپله دَ داوړو نه خوست ته لاړو۔ هلته ئے دَ خپلو ملګرو

ساده خان او شنازار، خوستوال سره ورانه راغله او اپریل ۱۹۱۵ء کښې دَ دوئی د لاسه قتل شو. شنازار خوستوال لاړو دَ سالِم پیش سره ملګرے شو. او فیرنګی دَ ګل حسن په مرګ ډیره خوشحالی اوکړه.

په ګل حسن باندے دَ ساده خان دا شک راغلے وو، چه هغه دَ دهٔ ښځے ته په بد نیت وو. بهرحال دوئی دواړه لالاپیر ګرفتار کړل او قاضی ته ئے پیش کړل. قاضی دواړه دَ بیلو بیلو متهو سره اوتړل او په عوښونو ئے ورله میخونه تک وهل.

دَ افغان حکومت دا خیال وو، چه ګنی شنازار او ساده خان دواړو دَ ګل حسن په سر دَ فیرنګی نه روپئ خوړلی دی. دَ ډیرو خلقو دا ګمان هم وو، چې دَ ګل حسن په قتل کښې دَ دهٔ خپله ښځه هم ملوثه ده. په دے وجه حکومت هغه هم ګرفتاره کړه. دَ هغے نه چه ناظم تپوسونه اوکړل، نو وئیل ئے چه: " زما دَ خاوند په قتل کښې دَ حکومت برطانیه هیڅ لاس نشته. هغه ساده خان په خپلو ذاتی بدو وژلے دے." ناظم دَ دے په دا سے ځواب ډیر غصه شو او بد رد ئے ورته اووئیل او دَرکه ئے ورکړه چه دَ ګل حسن دَ قتل بدل به ستا نه آخستے شی.

دَ دے نه پس دغه ښځه دَ شمل عبدالجلیل ته اوسپارلے شوه. مئی ۱۹۱۵ء کښې دَ ګل حسن دَ قتل ملزمان ساده خان، شنازار او دَ ګل حسن ښځه درېواړه دَ افغان حکومت تربدرګے لاندے کابل جیل

ته واستولے شول۔ دَ کل حسن ښځه دَ افغان بدرګے څخه په لار کښے پته شوه، شیراتلے ته راغله او دَ هغه ځائے نه خپل کلی حسو خیلو ته راورسیده۔

## مدّاخیل داوړ:

مداخیل داوړ دَ زیرکئ کلی اوسیدونکے وو۔ ډیر بیاوړے او دلاوړ ځوان وو۔ دے او دَ دهٔ یو توری خیل وزیر ملګرے، چه خندرائی نومیدو، په څهٔ جرم کښے قید شوی وو او دَ میرانشاه په جیل کښے پراته وو۔ دَ ۱۱، جنوری ۱۹۰۹ئ په شپه دوئ جیل مات کړو او خوست او تښتیدل۔

دَ "قیدِ یاغستان" لیکونکے محمّد اکرم چه اپریل ۱۹۱۰ئ کښے دَ مدّاخیل خپلو خپلوانو اِغوا کړے وو، په صفحه ۱۹۰ لیکی چه:

"مدّاخیل غالبًا اس گاؤں کا متموّل ترین آدمی تھا اور اپنے دو بھائیوں کو ساتھ لیکر فرار ہوا تھا۔ یہ سب اکٹھے رہتے تھے۔ اصل میں مدّاخیل سزا پاکر بنوں[1] کے جیلخانہ میں مقیّد تھا۔ اس نے اپنے بھائیوں کو پیغام بھیجا کہ فلاں تاریخ کو تم اپنی جائیداد اور فصلیں بیچ کر نقد روپیہ کی صورت میں تبدیل کر لو۔ بھائیوں نے اس کے حکم کی تعمیل کی۔ اسکے بعد اس نے اطلاع

---

[1] بنوں کښے نه بلکه دَ میرانشاه په جیل کښے بندی وو۔ راقمؔ

بھیجی کہ فلاں دن اور فلاں وقت جیل سے بھاگونگا تم تیار رھنا۔ چنانچہ مقررہ وقت اور دن پر وُہ جیلخانہ سے بھاگ گیا۔ اور سب بھائی ھجرت کرکے خوست میں آباد ہوگئے۔ جہاں زمینیں وغیرہ خرید لیں۔ اسکے بھاگنے کا قصہ اس کا بھائی قمری بڑی تفصیل کے ساتھ سنایا کرتا تھا (لیکن یہاں تفصیل کی گنجائش کہاں) یہ سارا خاندان سفاکوں کا تھا اور ھمارے فراری اکثر کہا کرتے تھے کہ اگر تمہارا فدیہ نہ پہنچا تو ھم تم کو مدّاخیل کے پاس بھیج دینگے۔

مدّاخیل بڑا مغرور تھا۔ فرار سے پہلے حج بھی کرچکا تھا۔ اس کی لمبی لمبی بھوری مونچھیں اور تراشیدہ داڑھی تھی۔ اس کا مشورہ فراریوں پر بڑا اثر دکھتا تھا۔........... اسکی شکل وصورت سے میرے دل پر قدرتاً ایک ھیبت چھا جاتی۔ اسلئے حتّی الوسع میں اس کے سامنے سے گریز کرتا۔"

دَ مفرورانو څخه دَ تیښتې په وخت محمّد اکرم خپل حالات داسې بیانوي :

" اس نالے کے دونوں بُلند پہاڑ جنکی چوٹیوں پر میری بیتاب نگاھوں کے سامنے فراریوں کی شکلیں

نمودار ہوتیں اور ہیبت سے ہر گھڑی کئی
آڑنگے اور کئی مدّاخیل پیدا ہوکر غائب ہوتے جاتے۔

کال ۱۹۱۲ء کښې چه جدرانو په متّون لشکرکشی کوله، نو هغه وخت مدّاخیل دَ لالاپیر په ایماء دَ ګل حسن محسود او سالم پش په ملګرئ کښې دَ افغان حکومت ډیره مرسته کړې وه، او حکومت ئې دَ زښت نقصان نه بچ کړے وو. دَ فیرنګی په خلاف چه دَ مدّاخیل مخالفانه سرګرمیو زور اونیوو نو فیرنګی دَ امیرِ کابل حبیب الله خان ګرېوان ته لاس واچولو. هغهٔ دَ خوست نه خارج کړو لغمان ته ئې اوشړلو. جون ۱۹۱۲ء کښې دَ څهٔ مودے نه پس بیا خوست ته راستون شو. دَ خوست نه دهٔ او ګل حسن محسود تیراه ته کډے اوکړے. دَ تیراه نه به دوئ دَ کوهاټ او بنوں ترمینځهٔ حملے کولے. مدّاخیل دومره سخت بریدی وو، چه یو ځل ئې دَ ځلورم او پنځم اپریل ۱۹۱۳ء په مینځنئ شپه دَ خپل ورور عیدل خیل په ملګرتیا کښې دَ عیدکو دَ پوسټ سنتری له خوا نه دَ ازغیچن تارونو په شپول کښې ولاړ دوه تهتوان راخلاص کړل او بوئے تلل - وروستو هم دغه تهتوان دهٔ بیا په فیرنګی خرڅ کړل. پولټیکل انتظامیه دَ ده نه زښته نالان وه - او هر وخت به ئې دَ دهٔ په ټک راټک او کړو وړو پسے جاسوسان لګولی وو. یو ځل دَ ۲۶ اګست ۱۹۱۳ء په شپه دَ عیدکو نائب تحصیلدار دَ زیرکئ کلی سره نزدے دَ دهٔ نه

سکاؤټس چاپېره کړو، پنځلس خوږ شو، ولې يو ملګرے ئے شهيد شو. دَ سکاؤټس نه هم درې تنه قتل او يو سخت ټپي شو.

ستمبر ۱۹۱۴ء کښې مَداخيل دَ افغان حکومت نه خفه شو او دَ خپلو اتهو ملګرو په ملاتړ کښې ئے دَ درَاګی په چوکۍ حمله اوکړه. زښت تاوان ئے ورته اورسولو. او پنځله هم برخيرن عونډے زخمي شو. نومبر ۱۹۱۴ء کښې چه دَ مَداخيل معاندانه کاروايۍ دَ زغم نه اووتلے نو فيرنګي يو ځل بيا افغان حکومت رااټينګ کړو. په دغه موقعه مَداخيل په لاکنړو کښې دَ ملک غازي مَيرجان سره همسايه وو. افغان حکومت ملک غازي مَيرجان ته زورنه ورکړه، چه ياخو مَداخيل دَ ځان نه لرے کړه او يا ئے دَ حکومت برطانيه په علاقه کښې دَ پرامن اوسيدلو ضمانت راکړه. ولې دَ دے باوجود دَ ۱۴ نومبر ۱۹۱۴ء په شپه مَداخيل دَ عَيدکوکلي نه دَ سرکاري ډاک دَ شلورو ټانګو ټټوان، کوم چه دَ بدرګے تر حفاظت لاندے تړلي شوي وو، پرانستل او بوځ تلل.

دَ ۹ جنورۍ ۱۹۱۵ء په شپه مَداخيل دَ دوميل په بازار غدۍ واچوله او دَ هندوانو دَ دوکانونو نه ئے دَ دوۍ په خپل اوښ پريمانه رخت بار کړو. او خوست ته ئے يوړلو. مَداخيل هغه اوښ دَ لالاپير په لاس په درې سوه افغانۍ خرڅ کړو. مَداخيل چه په دغه شپو ورځو کښې په کړَه مداخيلو کښې

اوسیدو ، دَ ۲۶ ر جنورئ ۱۹۱۶ئ په شپه دَ سپین وام کیمپ نه یو بل اوښ بوتلو. دَ ۲۳ ر اګست ۱۹۱۶ئ په شپه مداخیل سره دَ خپلو پنځو ښتو ملګرو دَ بنوں دَ خوجړئ سیمے میرهوس خان نومے لمبردار اوتښتولو. دَ بنوں نه دَ سپین وام قلعے ته دَ دوئ دَ ډیوو او ناکه بندئ حکم اوشو، ځکه چه دوئ تول دَ خوست نه راغلی وو. نو درے ډلے ملیشیا وراووته او ناکه بندی ئے اوکړه. هرکله چه دوئ په ۲۴ ر اګست دَ سپین وام نه مغرب پله څلورمیله لرے پیش خو الکړے ته رااورسیدل، نو دلته دَ ملیشئے سره مخامخ شول. پوره دوه ګهنټے جګړه ئے وبله اوکړه. دَ مداخیل دَ لوری نه پکښے پیردل خان، مهرجنک، میروالی اوعلی زر شهیدان او پخپله مداخیل، کدی بنوڅے، خانسردار اوګل سردار چه دواړه ورونړه وو، سخت ژوبل شول.

څۀ موده پس مداخیل روغ شو او یو ځل بیا ئے دَ ۲۴ ر اګست ۱۹۱۷ئ په شپه دَ یو څو ملګرو سره په بنوں کښے دَ سکانو په کیمپ یرغل اوکړو، دوه اسپے او دوه آسونه ئے تر ے نه بوتلل. مداخیل به دَ غدئ برید ونو نه علاوه دَ ټیلیفون تارونه هم پریکول دَ دۀ دوه ډیر توریالی ځامن وو، چه یو مداکیپ او بل مدا لائ نومیدو. دغه دواړه دَ فقیر ایپی" تکړه غازیان وو او دَ چشمے په سانحه کښے شهیدان شول. دَ مداخیل یو بل تکړه ورور هم وو، کوم چه دَ کابل په جیل کښے مړ شوے وو. مداخیل یوائے غدئ

بریدونه نهٔ کول، بلکه دَ وزیرستان په ټولو لویو لویو نښتو او جنګونو کښې به ئې هم برخه اخستله. زموږ دغه توریال او ننګیال مجاهد خواږ شا په کال ۱۹۴۵ء کښې دَ روژے په مبارکه میاشت کښې دَ خپلو دښمنانو د لاسه قتل شو.

دا واقعه داسے پیښه شوه، چه دهٔ دَ توری خیلو وزیرو یو غل چه دَدهٔ دَ کور نه ئې پسونه پټول، وژلے وو. دغه خپلوانو هر وخت دَ بدل آخستو په تکل کښې مَداخیل پسے لګیدلی وو. خو دَ حملے جرأت ئې پرے نهٔ شو کولے. کله چه مَداخیل ډیر ضعیف شو نو دهٔ پخپله دا کوشش شروع کړهٔ چه دَدهٔ دښمنان هم دَدهٔ ځنځه بدل واخلی. نو نهٔ به ئې دَ ځان زغښته کوله او نهٔ به ئې دَ دښمنانو څهٔ پروا. دغسے هغوئ موقعه اوموندہ او هم دَدهٔ ځنځه ئې بدل واخستو.

## نهم باب (۹)

# دَ مُلا فضل دین فعالیتونه

هسے خو مُلا فضل دین دَ پلار دَ وفات سره سم دَ انګریزانو په خلاف دَ جهاد علم پورته کړے میدان ته راوتلے وو، ولے دَ نومبر ۱۹۱۵ء نه چه په څومره جوش وخروش سره دهٔ خپل عملیات پرمخ اوړل او دَ انګریزانو نهٔ یو دوه خطا کړې وو هغه دَ ستائینے جوګه دی۔

دَ دهٔ په مشرئ کښے په ۱۸، نومبر ۱۹۱۵ء دَ کهجورې کچ په ګنړو پیکټونو باندے حملے اوشوے او دَ فیرنګی نه پنځویشت[۲۵] تنه قتل او لس تنه سخت ژوبل شول۔

دَ نومبر په ۲۹، نیټه تورمند و ته نزدے دَ ساؤتهه وزیرستان په ملیشیا برید اوشو۔ شل[۲۰] تنه سپاهیان قتل او دیارلس[۱۳] تنه زخمیان شول۔ غازیانو ته ۲۵ میله ټوپک هم په لاس ورغلل۔

دَ مارچ ۱۹۱۶ء نه یو ځل بیا دغه ژړې راغونډ شول او دَ مُلا فضل دین په مشرئ کښے ئے اپریل ۱۹۱۶ء کښے په انګریزانو اوولس[۱۷]

حملے اوکړے. دغه ټولے تالے حملے دَ ډیره اسماعیل خان په ضلع کښے وے. دَ وزیرستان په سیمه کښے چه کومے حملے شوے وے دَ هغو خو بیخی شمار نهٔ وو. په ډیره اسماعیل خان کښے چه کومه حمله دَ مانجی سره نزدے دَ ایف سی په سپاهیانو باندے شوے وه هغه ډیره سخته وه. په هغه کښے اووهٔ ویشت تنه سپاهیان قتل او دوهٔ تنه مرګونی شوی وو. او په یوولس میله ټوپکو ئے غازیانو قبضه کړے وه.

## دَ کربیسی سر جګړه:

دغه جګړه په کال ۱۹۱۷ئ کښے شوے وه. او دغه کال دَ انګریزانو دپاره یو منحوس او بدترین کال وو. په "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۲۵ئ" کښے دَ دغے کال په حقله داسے واویلا شوے ده:

"کال ۱۹۱۷ئ په وزیرستان کښے ډیر مشهور وو. دَ جنګِ عظیم په دغو شپو ورځو کښے به دلته هر وخت بریدونه، شوکے، مرګونه او عام لا قانونیت خور وو."

په داسے تشویشناکو حالاتو کښے دَ ګومل په غاړه دَ مرتضیٰ او سپینکی کچ په سرک چه کوم کار روان وو، په هغے باندے محسود قام ډیر غصه او راپاریدلے وو. او دَ سروکئ په خوا کښے دَ زرو تنو غازیانو یو لښکر راغونډ شوے وو. دغو غازیانو دَ مُلا حمزالله او مُلا فضل دین په مشرئ کښے دَ سروکئ په قلعه کښے نار تهٔ وزیرستان ملیشیا قلابند کړه. کمانډر ایف. ایل هجز

( F.L.HUGHES ) دَ نیمے شپے یوه سَل کسیزه ډله کریپسی سر ته اولیږله او سحر پخپله هم ورغلو۔ په دغه ډله باندے محسودو دَ کوټ او ماچکے په مشرئ کښے په ۲، مارچ ۱۹۱۷ء حمله اوکړه۔ سخته جګړه اونښته۔ او دَ سنګینونو او خنجرونو په دغه جګړه کښے میجر ایف۔ ایل هجز سره دَ پنځو نورو فوځی منصبدارانو قتل شو۔ دَ ساه ورکولو نه مخکښے میجر هجز خپل توپک، دوربین او ګهړئ مات کړی وو۔ له دے نه پرته دوه کم پنځوس[۴۸] تنه سپاهیان قتل، پنځلس[۱۵] تنه ژوبل او یوولس[۱۱] تنه سره دَ ۳۸ میله توپکو دَ غازیانو په لاس ژوندی بندیان شول۔

دَ دغے جګړے اطلاع چه وآنا ته اورسیده، نو په غلیم پسے یوه ډله کومک راورسید، خو دَ مقابلے توان ئے رانه وړو او بیرته کهجوری کچ ته اوتښتیدل۔ او دَ ډیره جاتو برګیډ سره یوځائے شول۔ دغه کالم دَ کهجورئ کچ نه دَ درګئ او بهٔ او مدی جان په لار سروکئ ته لاړو او په تلو تلو کښے ئے بروند کلے اوسیزلو۔

## دَ غوالیری نری جګړه:

په ۹، اپریل ۱۹۱۷ء په راشن او میګزین پُر یوه لویه کانوائی دَ کهجوری کچ نه رارونه وه۔ دغه کانوائی کښے باقاعده فوځ او ملیشیا دواړه شامل وو، او دَ بارګیرو اوښانو، خچرو او اَسونو نه علاوه نور هم کنږغاړوی پکښے شامل وو، هم په دغه ورځ غازیانو په غوالیری نری کښے حمله پرے اوکړه۔ او دَ دواړو فریقینو

ترمینځه دَ تورو په شرنګار او ټوپکو په ټقار کښے داسے خونړے جنګ اوشو، چه دَ فیرنګی نه خلور[۶۲] شپیته تنه مړهٔ اتهٔ[۲۸] ویشت تنه سخت ژوبل او دوه[۲] نفره ژوندی اونیولے شول۔

بل خوا غازیانو ته په غنیمت کښے ۴۲ میله ټوپک، یو شمیر اوښان، اسونه او خچرے په لاس راغلل۔ او دَ غازیانو نه ایله درے[۳] تنه شهیدان او پنځلس[۱۵] تنه ټپیان شول۔

## دَ تیارزے قلعے واقعه :

دغه هم دَ اپریل سنه ۱۹۱۷ء واقعه ده، دَ تیارزے په قلعه کښے دَ وزیرو او افریدیو پنځویشت[۲۵] سپاهیان تعینات وو۔ دَ دوئ کمانډر حوالدار انګورخان زلی خیل وزیر وو۔ دَ غرمے په وخت ناڅاپه په انګور خان ته خپل ورور میرکل خان، چه دَ ملیشیۓ سابقه حوالدار وو، راغے او په غوږ کښے ئے ورته څهٔ اووئیل۔ شیبه پس دَ دَ میرکل خان او انګورخان دواړو کډے تیارزے قلعے ته راورسیدے۔ میرکل خان ورپښے مورچه شو او انګورخان دننه موجود ټول سپاهیان باهر په لرګو پسے واستول۔ دَ سنتری نه ئے هم ټوپک واخستو۔ دَدے نه پس ئے دَ "ملاپ شیشه" ماته کړه چه دَ وآنا سره څوک میلاپ اونکړے شی۔ بیا ئے ټوله وسله، دیارلس[۱۳] بکسونه ګوله بارود او یو بکس دستی بمونه ترلاسه کړل او لاړل په ډیورنډ لائن باندے دَ خروټیو دَ قبیلے سره همسایه شول۔

دَ نیلی کچ جګړه : په یکم مئی سنه ۱۹۱۷ء دَ نیلی کچ نه یوه لویه کانوائ

کهجورۍ کې پله روانه وه، غازیان چه پرے خبر شول نو دَ نیلي کې په خوا ؤ شا کښې ورته مورچه شول. کله چه دغه کانوائ پرے وربرابره شوه، نو غازیانو پرے هپه اوکړه. دومره سخته نښته اوشوه، چه په لږ ساعت کښې دَ فیرنګی دَ لورې نه پنځه کم سل[95] تنه قتل او ۱۵۳ کسان ژوبل شول. او غازیانو ترے ته ۶۴ میله ټوپک او نور ګڼ ساز و سامان ولجه کښے اونیوو. دَ غلیم په مقابل کښې له غازیانو نه ایله یو تن شهید او نهه[9] تنه ټپیان شول۔

## دَ شیرنے[1] الګډے جګړه: (Sheran Algad)

دَ وانا نه سروکئ ته دَ فوځ یوه دسته راغلے وه. اصل کښے دغه دسته ټانک ته روانه وه، خو دَ دے دپاره په سروکئ تم شوے وه. غازیان چه خبر شول نو پولټیکل ایجنټ ته ئے د اطلاع ورکولو په غرض دَ سروکئ قلعے ته دوه سړی دَ مخبرئ په بهانه ورا ولیږل، مطلب ئے دا وو، چه حکومت خبر کړی نو ملیشیا به ورپسے راواباسی، او دوئ به حمله پرے اوکړی. خو ملیشیا ورپسے راونه وتله. ماښام شو او غازیان دَ خوژمه سر او سروکئ تر مینځه دَ شیرنے الګډے په سیمه کښے پټ شول. دغه دَ ۱۰ مئ ۱۹۱۷ ئ شپه وه. دَ ساؤتهه وزیرستان ملیشیا پټ په پټه له دوئ نه تاؤ شوه او حمله ئے پرے اوکړه. په خوب اوده

---

[1] په " داستان پارینه " کښے شیران الګډ لیکلے شوے دے۔

غازیانو بانده دومره سخت هیبت پریوتو چه له تکه اوځیا تنه په شهادت اورسیدل، چه مشهور پکښے دَ یو نامتو مجاهد خسان ملکرے زارے خون وو۔ ولے دَدے باوجود دَ دوئ مشر شیردل خان چه عبدالرحمان خیل محسود وو، وارخطا نهٔ شو۔ په غازیانوئے دَ شاباش ژغ اوکړو او دَ نعرهٔ تکبیر سره ئے په ملیشیا جوابی حمله اوکړه۔ او داسے لاس په لاس وبله ورغلل چه سپاهیان ئے په شا دَ سروکئ قلعے ته اوزغلول۔ دَ بده مرغه په دغه جوابی حمله کښے شیردل خان پخپله هم په شهادت ورسید، ولے غازیانو دَ فیرنګی نه دَ دهٔ بدل یو په دوه واخستو۔ دَ دوؤ انګریزانو کپتان ډیوډسن او دَ هغهٔ دَ ملګری دَ هلاکت نه علاوه پنځهٔ دَ پاسه[185] نهه شلے سپاهیان قتل او درے[93] نوی تنه سخت ټپیان شول، او غازیانو په ۱۲۳ میله ټوپکو او پریمانه سازوسامان بانده قبضه اوکړه -

## دَ چهوټا غوالیری انښته :

په ۱۶، مئ ۱۹۱۷ء چهوټا غوالیری ته نزدے دَ فیرنګی لویه کانوائ کومل پله روانه وه۔ او سروکئ ته ئے راشن وړلو۔ هم په دغه ورځ دَ محسودو په دوؤ سوو[300] مشتمل لشکر حمله پرے اوکړه۔ دَ کانوائ دَ ژغښتے ډله ئے راګیره کړه او دومره ئے وارخطا کړه، چه هرڅهٔ ئے غازیانو ته په میدان پریښودل، او دوئ نیلی کچے ته پښے اوویستے۔ په نتیجه کښے دَ فیرنګی دَ لوری نه

درویشت [۲۳] تنه قتل او نهه [۹] تنه ژوبل شول او غازیانو په ۲۵ میله ټوپکو او په راشن او میګزین بار کنړو اوښانو او خچرو باندے قبضه اوکړه.

## د وانا دویمه جګړه :

د وانا په مقام اوله جګړه په کال ۱۸۹۴ء کښے هغه وخت شوے وه چه لا په وزیرستان کښے فیرنګے مستقل طور نۀ وو آباد شوے. د دے دویمے جګړے په وخت وانا کیمپ جوړ شوے وو او ملیشیا پکښے میشته وه.

په ۱۸ مئی ۱۹۱۷ء د ملا حمزالله په مشرئ کښے د وزیرو محسودو یونیم زر کسانو پرے حمله اوکړه. سخته جګړه اوشوه چه پکښے د ملیشیے له خوا نه څلویښت [۴۰] تنه قتل او دوه دیرش [۳۲] تنه سخت ژوبل شول. او ۱۷ میله ټوپک او یونیم زر [۱۵۰۰] دانے کارتوس ئے غازیانو ته په لاس ورغلل.

## ملا فضل دین ته د امیر کابل مکتوب :

انګریزان چه د ملا فضل دین د مخالفانه عملیاتو څخه تنګ شول نو د امیر کابل حبیب الله ګریوان ته ئے لاس وراوږد کړو. هغۀ ملا فضل دین ته اولیکل چه :

"په فیرنګی باندے د نور زیاتی حملو کولو نه محسود قام منع کړه، ګنی د افغان حکومت له خوا نه د هیڅ قسمه امداد توقع مۀ کوه."

مُلا فضل دین دَ امیر کابل دَ مکتوب څخهٔ پرواه اونکړه. او هم هغسے به دَ فیرنګی په خلاف شپه ورځ برسرِ پیکار وو.

## دَ توت نری دغره :

دغه حمله دَ ملک موسیٰ خان محسود په مشرئ کښے شوے ده. دا یوه داسے مثالی حمله یادیږی، چه دَ جرأت و شجاعت په میدان کښے ورته فیرنګے کوته په خُولهٔ وو.

دَ "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه ۲۸ باندے دَ دے حملے په حقله نوشته دی، چه :

"دَ سرحد په تاریخ کښے دا یو زبردست جُرأتمندانه واردات وو."

دَ دے واقعے تفصیل داسے دے، چه دَ توت نری[1] په قلعه کښے دَ ملیشئ کنږ تعداد سپاهیان تعینات وو. ویلے شی چه دغو سپاهیانو به اکثر دَ کلی هغو ښځو جینکو ته اشارے کولے، کومے به چه په مال یا لرګو پسے په دغه لار تلے راتلے. ملک موسیٰ خان چه دَ دے نه خبر شو نو زړهٔ ئے ډیر بد شو. یوه ورځ ئے ورته دَ خپلو ملګرو سره مرکه اوکړه او دَ ۳۱ مئی ۱۹۱۷ء په سحر ئے دَ قلعے خواؤشا مورچے اونیولے. کله چه دَ غرمے لس نیمے بجے شولے، نوخپل دوه

---

[1] دَ رزانی دته خیل سړک ته نزدے دَ منظرخیلو یوه دره ده. پخوا به په دے لار دَ دته خیلو نه دیګان ته نزدے بهیرونه وتل. هم په دغه خواؤشا کښے دَ توت نری قلعه ده، چه نن هم موجوده ده.

تکړه تکړه ځوانان سره دَ چاړو دَ بنځو په جامه کښې قلعې ته ورا ولیږل
شته کړی وه. سپاهیان په بارکونو کښې خوبدی وو. یو څو سنتریان
په دروازه ولاړ وو او یو پاس په بام پهره ورکوله. دَ پهرے
سنتریانو چه سرے ښځے جامے اولیدے، نو سرو شنو ورته
اوښول او په اشارو ورته لګیا شول. غازیان هم دواړه ترپلو
پټ مخونه نیغ ور روان شول. او دَ رسیدو سره ئے په سنتریانو
برید اوکړو او له تېکه ئے دوه تنه اووژل. ملک موسیٰ خان چه له
اول نه ورته په تاک کښې ناست وو، دَ خپلو ملګرو سره پرے ورغوته
شو. ړومبے ړومبے ئے کارت کمانډر او دَ ګیټ سپاهیان اوویشتل
چه هسے نه دَ قلعې ستر ور پورے کړی. بیا ئے دَ قلعې په چهت پاس
سنتری چه په دیواله راجوت وو، په نخښنه کړو او ساړه خوله ئے
کړو. دَ دے نه پسته غازیان قلعې ته ورننوتل. اول ئے کمانډر
صوبیدار قتل کړو. او بیا ئے یو خوا بل خوا باړونه یکښې اوچلول.
دَ قلعې سپاهیان دَ دغے نابیره تهاکے له کبله دومره هیبت واخستل
چه په تیښته شول، څوک په ترپ خلاص شول او چا په قلعه
کښې دننه لټے اوتهکولے. دَ تیلیګراف یو بابو چه دَ دته خیلو قلعې ته
اطلاع ورکوله، نو دَ ړومبی یو څو تهکو سره یوے تاوډے ګولۍ
په ځائے سوړ کړو.

په دے خونریزه نښته کښې دَ ملیشئ له خوا نه شپیته کسان
مړهٔ ژوبل شول، او غازیانو په غنیمت کښې ۶۰ میله ټوپک، ۵ مَسکِټس (MUSKETS)

یو لکھ شل زره کارتوس ، پنځه سوه[۵۸۱] یو اتیا روپئ او نور ډیر سامان ولجه کړو. د دته خیلو قلعی ته د توت نری قلعی څخه د ټیلیګراف په ذریعه اطلاع د فیرنګی سره چټکه شوه او د میرانشاه نه ئے جنګی طیارے وراولیږلے، ولے اوس اوبهٔ د وریښه تیرے شوے وے او غازیانو پښے ویستلے وے.

## د ټانک زام پیښه :

په ۷، جون ۱۹۱۷ء د ټانک نه جنډولے ته د خیرجی او زام په لار درونډ فوځ روان وو. د زام پوسټ نه ورسره د ګورکهیانو د ۱۲۰ کسانو بله ډله هم ملګرے شوه. غازیانو د ټانک زام په خولهٔ کښے دومره سخته حمله پرے اوکړه، چه دواړه فریقه وبله لاس په لاس ورغلل او د یو بل شیبے تاؤدے جګړے په نتیجه کښے د فیرنګی د لوری نه دوه کم شپیته[۵۸] کسان قتل او اوهٔ ویشت[۲۷] تنه ژوبل شول. دغسے د محسودو په غازیانو کښے هم څهٔ نه څهٔ مرګ و ژوبله اوشوه. په دے موقعه چه کله یو مرکوټی مجاهد ته یو انګریز منصبدار په فاتحانه انداز کښے ورخواته شو، نو هغهٔ روغوندے خپل ټوپک راوچت کړو او په فیرنګی ئے داسے رسا ګذار اوکړو چه له تکه ئے سوړ سمخ کړو.

## د تیارزه تاور سیزل :

د ټانک زام جګړے نه یو څو ورځے وروستو د ساؤتھ وزیرستان ملیشئے یو حوالدار او یو څو سپاهیانو د تیارزه تاور څخه ۲۵ میله

توپک، دیارلس[۱۳] صندوقه کارتوس او یو شمیر بمونه راغونډ کړل. تاوړے غازیانو ته حواله کړه او دوئ پنډونه په سراوتښتیدل. غازیانو هم څهٔ څوپرے توبرے ترے نه اویستو او تاوړ ته ئے اور ورته کړو.

## دَ سروکئ جګړه:

دَ سروکئ قلعے په خواؤ شا کښے دَ ملیشئے یو لوئے ګشت روان وو. په ۱۰ ر جون ۱۹۱۷ئه غازیانو پرے حمله اوکړه. دَ بده مرغه غازیان په شمیر کم وو او سپاهیان زیات. نزدے وه چه غازیان مغلوب شوی وے، ولے دَ اسلامی ننګ وغیرت له مخے ئے داسے شجاعت اوښودلو، چه دَ نعرهٔ تکبیر دَ ړومبی غږ سره ئے په سپاهیانو زمکه اوچورلوله. پوره نیمه ورځ جګړه اوشوه. او دَ ملیشئے له خوا نه ۲۲ کسان مړی ژوبلی اوشول، چه په هغوکښے دَ شپږ[۲۰] شلو کسانو توپک غازیانو ولجه کړل.

## دَ نانو کلی تباهی:

دَ محسودو مخالفانه سرګرمئ چه ترحد نه واوړیدے نو انګریزانو یو ځل بیا په دوئ باندے دَ فوج کشئ پروګرام جوړ کړو او ړومبے هدف ئے نانو کلے اوټیوو. چنانچه په ۲۰ ر جون ۱۹۱۷ئه یو لوئے فوځ دَ شهور رود نه شپانه رغزی ته پورے وتو. داوخت موسم ډیر خراب وو. سخت باران وریدلے وو، او آسمان هغسے دَ وریځو نه ډک وو. دَ غازیانو دا خیال وو، چه کهٔ لږه شیبه فوځ په شپانهٔ رغزی

ایسار کړے شی نو ذ پاسه به نیز پرے راشی او ډ کنګخړو په خیر به ئے په مخه واخلی - ذ پروګرام په مطابق دوئی هم هلته فوځ ایسار کړو، ساعت پس نیز راغے او په شپانهٔ رغزی کښے خور وور فوځ ئے په مخه واخستو- زښت تاوان ئے ورته اورسولو- او ذ فوځیانو ګنړ توپک کلی والو خلقو په الګنړو پالو کښے مونده کړل- کله چه نیز تیر شو او ذ فیرنګی پاتے فوځ ساه صورت شو، نو ذ ناٖنو په کلی ورپریوتو او لوټ لتاړ ئے کړو- توریالو غازیانو هم مقابله ورسره شروع کړه، او ذ نیز نه پاتے فوځ ئے هم بد بد اوډبولو- فیرنګی ناٖنو کلے خو تباه کړو، وے ذدهٔ ذ فوځ څخه هم شپږ[۱۲۰] شلے تنه مړهٔ او څلویښت[۴۰] کسان ژوبل شول-

ذ جون په درویشتم[۲۳] تاریخ دغه فوځ نړی رغزی ته روان شو او هلته ئے هم هر څهٔ نیست ونابود کړل- ذ ناٖنو کلی ذ تباهئ په په دے هڅه کښے ذ غازیانو له خوا نه جانی ستړه خو اونهٔ شوه- وے له حده زیاته ژوبله پکښے واقع شوه-

په خیسارهٔ[۱] کښے یرغل:

په ۲۴ جون ۱۹۱۷ء ذ فیرنګی هم دغه فوځ کوم چه په ناٖنو کلی ورختلے وو، شیرنے درے ته اورسیدو او مورچے ئے اوښوے- بیائے ذ خیسارهٔ په وادی کښے ذ عباس خیلو، وزرهٔ، منزئ، ناناخیلو او غازی کوټ په آبادیو تالاں ګډه کړو او هر څه ئے

---

[۱] ذ خیسور یا خیسارهٔ په نومونو دوه[۲] رودونه دی یو په قطبی وزیرستان[ن] کښے او بل په سوئیلی کښے.

وبله خاوړه ایرې کړل۔ دَ دغې فوځ څخه په دا موقعه هم
پنځه کسان نور قتل او شپږ ویشت نفره زخمیان شول۔

## لسم باب

# دکال ۱۹۱۹ء غزا کانے

دُ دغے مختصر اینگلو افغان جنگ پس منظر دا سے بیان بری چه د استریا شاهزاده فرانس فرډی ننډ په سرویه کښے دُ بوسنیا صوبے په خاوره قتل کړے شو۔ استریا په دے تاؤ اوخوړو او په سرویه ئے حمله اوکړه۔ په دغه حمله دُ نړئ حکومتونه راپورته شول۔ روس امریکه، برطانیه، فرانس، اټلی، بلجم، جاپان، استریلیا، رومانیه مانټګرو، یونان، نیوزی لینډ، سویلی افریقه، پرتګال او هندوستان په سرویه اودریدل او جرمنی، هنګری، بلغاریه په استریا، چه ورسره په ۱۱/ نومبر ۱۹۱۴ء ترکی هم ورسره ملګرے شو۔ دغسے په ۲۸/ جون ۱۹۱۴ء یولوئے جنګ اونښتو او په ۱۱/ نومبر ۱۹۱۸ء ختم شو۔ دُ حکومت برطانیه او افغانستان ترمینځه په جولائی ۱۸۸۰ء کښے دُ یو معاهدے له مخه دُ افغانستان خارجه تعلقات دُ حکومت برطانیه زیر اثر وو۔ په دے وجه دُ ترکی د اعلان نه وړو مبے افغان امیر حبیب الله په ۲۴/ اګست دا اعلان کړے وو، چه دے دُ ترکو جرمن په مشترکه حمله کښے

یعنې غیرجانبدار دے، ولې دَ افغان امیر ورور نصرالله خان دَ ترکو جرمن حامي وو او دَ خپل ورور حبیب الله نه ئې زړه تور وو. دغه شان په افغانستان کښې نور هم زیاتره نفوس دَ فیرنګي په خلاف دَ ترکو جرمن په طرف وو.

په دے کشمکش کښې به په افغانستان کښې عجوبه افواګانې راتوکیدلے او وزیرستان ته به رارسیدلے. دَ دغو افواګانو په سبب به په وزیرستان کښې دَ ملا فضل دین او ملک موسیٰ خان په مشرۍ او دَ لالا پیر او زاکیم شاه په ایماء دَ فیرنګي په خلاف هر وخت بلوے راپورته کیدلے.

فروري ۱۹۱۴ء کښې یو ځل دا افواه خوره شوه چه :

"دَ جرمن بادشاه ویلهم (WILHELM) مسلمان شوے دے او دَ خپل زوړ نوم په ځائے ئې اسلامي نوم غازي مرجان ایښے دے."

فروري ۱۹۱۵ء کښې بله داسے افواه خوره شوه چه :

"دَ ترکو جرمن فوځونه هرات ته رارسیدلي دي او په هندباندے دَ حملے کولو تصمیم لري. کله چه هند فتح شي نو دَ افغانستان دَ امیر تر بادشاهت لاندے به پریښودلے شي. دَ هند سره سره به مصر هم دَ امیر افغانستان تر قلمرو لاندے اوسي. انګلینډ به دَ جرمن او ترکي ترمینځه ویشلے شي."

په دے پسے بله دغه افواه اوګوړیدله چه :

" امیر کابل دَ جرمن بادشاه ته دَ اسلام راوړلو دعوت ورکړے
دے او هغه قبول کړے دے۔"

مارچ ۱۹۱۵ء کښې دریمه افواه دا سے رپورت شوه چه :

" دَ ارګون حاکم محمد هاشم دَ کابل ناظم له طرفه نه یو مکتوب
وصول کړے دے چه په هغې کښې دا سے نوشته دی، چه ترکی
سلطان دَ افغانستان امیر ته اطلاع ورکړے ده چه ۳۰۰،۰۰۰
ترکی فوځیان به عنقریب دَ افغانستان په مخه دَ هند سره
برطانوی حکومت حمله کوی۔ امیر ته ئے دا هم لیکلی دی چه
په قیمت سره دَ راشن بندوبست اوکړه۔"

په ارګون کښې دغه خبره هم دَ هر خاص وعام په خوله وه، چه :
ترکی سلطان دَ افغانستان امیر ته یوه توره او دوه بنګړی رالیږلی
دی او ورته وئیلی ئے دی، چه که چرے دَ سرو کار ته ملا تړے
نو توره واخله، ګنې دَ ښځو بنګړی به ستا دپاره موزون وی۔"

دَ دغو افواګانو نه علاوه اکتوبر کال ۱۹۱۵ء کښې دَ ترکو جرمن مشن
هم کابل ته رارسید لے وو، کوم چه تر مئی ۱۹۱۶ء پورے په کابل کښې
میشته وو او په افغانستان کښې ئے دَ غازیانو یوه دا سے ډله پیدا کړے
وه، چه هغوئ دَ انګریزانو په خلاف قدم پورته کولو ته تیار وو، ولے
امیر حبیب الله ورته غاړه کینښوده۔ دَ کال ۱۹۱۸ء په دغه لوئے جنګ
کښې دَ جرمنۍ شکست خوړلو سره ترکی هم شکست اوخوړو۔ فیرنګی دَ
مسلمانانو سره دا قول کړے وو چه ترکی خلافت او مقامات مقدسه

به په آمان وی - چه جنګ نے اوګټلو نو ترکی سلطان وحید الدین نے قید، په عراق، فلسطین او شام نے قبضه اوکړه او دَ ترکی حکومت برخے کولو تجویزونه نے اوکړل - په دے باندے دَ دنیا مسلمانانو کښے زبردست اضطراب پیدا شو، او دَ فرنګی په خلاف نے هرچرے احتجاجونه شروع کړل -

چونکه ترکی سلطنت عثمانیه کښے مکه معظمه، مدینه منوره، بیت المقدس او نور مقامات مقدسه هم شامل وو، نو دَ هند مسلمانانو په ۲۳/ نومبر ۱۹۱۹ء تحریک خلافت آغاز کړو - مقصد نے دا وو، چه ترکی خلافت او مقامات مقدسه په آمان پاتے شی -

دَ تحریک خلافت دَ موثر کولو دپاره تحریک موالات یا تحریک عدم تعاون شروع کړے شو او دغسے ډیرو مسلمانانو افغانستان ته هجرت اوکړو - دَ دغے عالمی بے چینئ له کبله په افغانستان او وزیرستان کښے هم هنګامے تیزے شوے، ولے امیر حبیب الله غلے ناست وو -

په داسے نازکو حالاتو کښے چه هغه دَ خپل مشر ورور نصر الله خان او افغان کمانډر انچیف نادر خان سره دَ ښکار دپاره لغمان ته لاړو نو دَ فروری ۱۹۱۹ء په ۱۹-۲۰ شپه باندے چا ئخپله خیمه کښے قتل کړو - دَ امیر دَ قتل سره نصر الله خان دَ بادشاهئ اعلان اوکړو دَ امیر ځوئے آمان الله خان په جلال آباد کښے دَ ګورنر حیثیت لرلو - ده هم قبائل راغونډ کړل او په ۲۹ فروری نے دَ بادشاهئ اعلان اوکړو دَ خوش قسمتئ نه افغان فوځ دَ امان الله خان مرسته اوکړه - او هغه

اقتدار ترلاسه کړو- چونکه امان الله خان دُ سیاسی شعور خښتن وو نو دُ خپل پلار په شان نے دُ فرنګیانو پابندئ ته غاړه کینښوده، بلکه په تخت باندے دُ کښیناستو سره سم نے دُ افغان اولس دُ خواهش په مطابق دُ انګریزانو په خلاف دُ جهاد اعلان اوکړو-

دُ دے اعلان سره دُ افغانستان نوی کمانډرانچیف صالح محمد خپل هیډکوارټر دُ خیبر مغربی خُلے ته نزدے ډاکئ پله راوړو- په ۴/ مئ نے په باغ کښے خپل فوځونه میشته کړل- په ۵/ مئ باندے افغان فوځ دُ لنډی کوتل دُ اوبو سلسله قطع کړه او دُ اُوبو د انتظامیے غړی نے ټول قتل کړل- په جلال آباد کښے دُ وسلو ورکولو دپاره په زرګونو قبائل راغونډ کړے شول- څه خوست پله په غونډیدو شول او تقریباً پنځلس سوه په قندهار جمع شول-

په دغو افغان سپاهیانو کښے اکثر دُ هند دُ ټاک نه واوړیدل او په فیرنګی نے حملے شروع کړلے- په ۶/ مئ ۱۹۱۹ء فیرنګی هم اعلانِ جنګ لوکړو- دُ فیرنګی دُ اعلان جنګ سره سمدستی افغان جرنیل نادرخان خوست ته راغے او خلقو ته نے دُ انګریزانو په خلاف ټوپک او دارو مردکی ورکړل-

په ۲۳/ مئ باندے چه افغان جرنیل دُ متون نه سره دُ دریو زرو افغان فوځ په هاتهیانو بار توپونو او بے شمیره قبائلی غازیانو دُ کیتو رود په غاړه غاړه بنکته راروان شو نو په توچئ کښے هم لوئے شور ماشور پورته شو- دُ ملیشے نه دُ توچئ اکثر مقامی سپاهیان په تښتیدو شول

فیرنګی دمئ په ۲۵/ تاریخ دبرے توچئ ټول پوستونه خالی کړل. هم په دغه ورځ ئے د شیوے قلعے نه هم دسپین وام قلعے ته ملیشا راوبلله ولے دلته ئے هم ډیر اونه لګیده، دقلعے ټول زائد سامان، دارومردکی او دبوزو بوګړو ته ئے تلے ورکړو او دعیدګو قلعے پله ئے مخه اونیوه خو دوئ دکیتو بنی مورګے ته لاسم نه وو پورے وتی، چه دجرنیل نادر خان فوځونه راورسیدل او په لمبو کښے پټه دسپین وام قلعه ئے قبضه کړه.

کله چه فیرنګے دسپین وام قلعے نه دعیدګو قلعے ته تښتیدلو، نو هغه وخت دملیشے نه دصوبیدار پت خان غوندے یو داسے زبردست منصبدار سره دخپلو اتلسو سپایانو یاغی شو او دغازیانو سره شامل شو، چه دملیشے دملا تیر ګڼړلے شو. دجرنل نادرخان سره یوائے افغان فوځ نه وو، بلکه په دغه فوځ کښے دوزیرستان دتوریالی اولس لښکر او هغه سپایان هم شامل وو کوم چه دجهاد په نیت دملیشے نه تښتیدلی وو. په ۲۵/ مئ چه ددته خیلو، توت نری، شپانه خیساری او بویه قلعے هم خالی کړے شولے نو په توچئ کښے لوړ دلوری نه په انګریزانو غوبل شروع شو.

په داسے سخت وخت کښے دملیشے نه دوزیرو، داوړو اکثر مقامی سپاهیان هم یاغی شول. پخپلو قلعو وریږنوتل او ړومبے ړومبے ئے د بوئے قلعه اوسیزله. دافریدیو ځوانانو چه مقامی سپایان په بغاوت اولیدل نو دوئ هم دملیشے نه اوتښتیدل او په خپلو سپایانو ئے باړونه

راباندے کړل - دغسے دَ برے توچئ تولے ملیشے، کومے چه میرانشاه
ته په شا راماتے وے، ګرده شپه غازیانو او خپلو یاغی سپاهیانو او ړزولے
دَ ۲٦/مئ په سحر دغه ملیشے په ډیر شواخون سره میرانشاه ته راورسیدے
دَ میران شاه قلعے ته یوخوا دَ برے توچئ ملیشے پناه راوړله، بل خوا هم
په دغه ورځ په ډانډے کښے دَ دریو زروتانړیو لشکر ډولونه اوګرزول.
او دَ دُردانی کیمپ نه ئے ګیره تاؤ کړه - کیمپ کښے دننه دَ فوځ او ملیشے..
ترمینځه ناچاقی راغله او دَ ملیشے ۱۵۰ تنه مقامی سپایان دَ کیمپ نه اووتل
او په لشکر کښے شامل شول -

دغسے یوخوا دَ کرم پاړه چنار په محاذ دَ جنرل نادرخان لشکرے دَ
فیرنګی سره برسرپیکار وے او بل خوا په توچئ کښے دَ ملیشے مقامی سپایان
او قبائلی ځوانان ورمته وو -

په دا سے نازک صورتِ حال کښے چه دَ توچئ پولټیکل ایجنټ میجر
آر ګیریټ (MAJOR R. GARRAT) دَ میران شاه دَ قلعے جائزه واخسته او دَ
ملیشے د وزیرو داوړو بلکه افریدیو سپاهیانو په نبض ئے ګوتے کیښوے
او دَ هر چا په رګونو کښے ئے دَ ایمان حرارت محسوس کړو نو دَ نار تـه
وزیرستان ملیشے کمانډنټ ته ئے هدایات ورکړل، چه دَ وزیرو داوړو
مقامی سپاهیان دَ قلعے نه بهر اوباسئ او دَ میران شاه قلعے چارج سیکانو
او ډوګره ګانو ته حواله کړئ - اوس یوخوا چه دَ برے توچئ ملیشا میران
شاه ته راورسیده او بلخوا په ډانډے کښے دَ غازیانو دَ ډولونو ګرزهار
په تیزیدو شو نو دَ میران شاه په قلعه کښے دننه دَ ملیشے وزیرو داوړو

سپاهیانو ته هم دَ قوم ننګ وغیرت مخې ته اودرېدو او خیالات ئې بدل شول۔

پولیټیکل ایجنټ دَ دوئ دَ وینستو حکم خوکړے وو، ولے دَ دوتو نه مخکښې دوئ دَ جمعدار ترین خان په مشرئ کښې په قلعه کښې د ننه په ۲۷/ مئ ټوپک لاسوته کړل، دَ الله اکبر نعرے ئې اوکړے او دَ سیکانو او ډوګره ګانو سره ئې جهګړه شروع کړه۔ د افریدو ځوانانو په زړونو کښې هم اسلامی مینې غزونې اوکړے او دَ غازیانو سره ملګری شول۔ اوس جهګړه لا سخته شوه او دَ یو بے شیبې دست بدست جنګ په نتیجه کښې سپایانو دَ قلعے په دیوالۀ کښې سورے اوکړو او سره دَ بے پیمانه مالِ غنیمت، ټوپکو او سنګینو بهر اووتل۔

کله چه دغه باغی سپاهیان دَ قلعے نه ورچنې وتل، هغه وخت دَ قلعے نه تقریباً پنځه زره غازیان چاپیره وو۔

دَ میران شاه دریمه جهګړه :

دَ میران شاه قلعه تر ۳۰/ مئ پورے محاصره وه۔ دَ مئ په ۳۱ تاریخ دَ قلعے نه ورچنې دَ جنرل لوکاس GENERAL LOCAS په کمان کښې دَ فوځیانو او غازیانو تر مینځه سخته جهګړه اونښته۔ په دے کښې دَ غازیانو ځنې ۳۶ تنه شهیدان او ۴۹ تنه ژوبل شول او دَ فیرنګی دَ لوری نه مجموعی طور ۲۷۵ تنه مړی ژوبلی اوشول۔

په دے ورځ غازیانو دَ میران شاه بازار هم لوټ کړو او دَ هغه وخت دَ سرکاری اندازے په مطابق ئې دَ یو نیمو لکهو روپو مالیت سامان

تر لاسه کولو نه پسته بازار ته اُور ورته کړو. دَ فیرنګی په وړاندے نهٔ یواځے دَ برے توچیٔ دَ قلعو اِنخلا او دَ میران شاه دَ قلعے محاصره وه بلکه په قطبی وزیرستان کښے دَ ملیشے دَ هرے قلعے نه دَ وزیرو داوړو سپایان یاغی شوی وو. هم دغه حال دَ لرے توچیٔ وو. دَ بنوں ضلعے دَ سیدګی او میرزال دَ پوستو نو نه علاوه نور په ټولو قلعو دَ خدائے قهر رابنکته شوے وو. په میران شاه کښے نمرخانهٔ پله ټولے شپږ قلعے وے. په ۲۷/ مئ په دے کښے صرف دوه روغے پاتے شوے وے. یوه دَ عیدکو قلعه وه او بل دَ ایشیا پوسټ. حالانکه دغه هم دواړه محاصره شوی وو. او په سخت وبال کښے راشکیل وو. په ۲۶/ مئ دَ شینکی پوسټ سپاهیان سیدګی پوسټ ته تښتیدلی وو. دَ دوی داخیال وو، چه ګنی دَ جنرل نادرخان لشکر دَ سپین وام نه دے پله راروان دے. دغه شان دَ ۲۶/ مئ په شپه دَ کهجوریٔ قلعه هم خالی کړے شوے وه او سپاهیان سیدګی ته تښتید لی وو.

دَ ۲۳/ مئ نه پس چه نادرخان دَ سپین وام قلعه قبضه کړه او بیا په ۳۱/ مئ ئے دَ ټل قلعه هم اونیوه نو وروستو په ۵/ جون په دغه قلعه پسے دَ کوهاټ نه دَ ټل په مخه دَ بریګیډیر جنرل آر. ایچ ډائر (BRIGADIER GENERAL R. H. DYER) په کمان کښے لوئے امدادی فوج راغے.

جنرل ډائر اوّل دَ جنرل نادرخان نه خپله مخه ځنګ نه کړه او دَ مشهور ملک بابرک جدران علیه په مشریٔ کښے چه دَ افغانیانو کوم څلور زره

لشکر دَ تهل نه مشرق مغرب پله جنګیدو، په هغه ئې حمله اوکړه. دَ بابرک[1] او ډایر[2] ترمینځه شدید جنګ لګیا وو، چه په دے مینځ کښې په دهلی کښې لارډ چمسفورډ وائسرائے هند دَ ویرے نه او بوربنیدو او امان الله خان ته ئې دَ خبرو اترو دعوت ورکړو. امان الله خان قندهار ته دَ سردار عبدالقدوس په نوم او تهل ته دَ جنرل نادرخان په نوم دَ ډزبندئ حکم اوکړو. دَ جنرل نادرخان او ډایر ترمینځه لاندینے خط وکتابت اوشو.

جنرل نادرخان ورته اولیکل چه "ما ته دَ مرکز نه حکم راغلے دے

---

ع۱ بابرک دَ افغانستان جدران وو. په حکومت کښې بنه مقبول وو او په قامی چارو کښې ئې پوره اثرورسوخ لرلو. شاه ظاهرشاه ئې په زمانو بدګمانه شو او فوج کشی ئې پرے اوکړه. دَ ده مشر ځوئې مزرک په ۱۲/ جون ۱۹۴۷ء دَ دته خیلو په مقام حکومت برطانیه ته ځان اوسپارلو، او په ایبټ آباد کښې میشته شو. وروستو په ۱۴/ ستمبر ۱۹۷۸ء پخپل مرګ په حق اورسیدو دَ شهید ملت لیاقت علی خان قاتل سید اکبر دَ بابرک ځوئې او دَ مزرک کشر ورور وو. ع۲ جنرل ډائیر په امرتسر کښې کمانډنټ وو. دغه دکال ۱۹۱۹ء شورش دَ هند په ګټ ګټ کښې تو کیدلے وو. په دے لړ کښې په ۱۳/ اپریل ۱۹۱۹ء دَ اتوار په ورځ دَ امرتسر په جلیانوالا باغ کښې یو سیاسی جلسه کیدله. جنرل ډایر ګولئ پرے اوچلولے او په لس منټه کښې ۳۷۹ تنه هلکان او سړی کړی وړی قتل شول، او ۱۵۰۰ تنه ژوبل.

چه جنګ ملتوی کړه او دې بندې کړه." "زه به په توپونو او ټوپکو تاله ځواب درکړم - ستا کاغذ ما ډویژنل کمانډر ته لیږلے دے - نور ځواب به هغه درکړی."

دَ افغان او برطانوی حکومتونو ترمینځه چه هر څه فیصلے کیدلے هغه به کیدلے، ولے دَ وزیرستان توریالی ژنړی په هغې هیڅ اړنه وو. پرله پسے به ئے بړے وهلے وے او په فیرنګی ئے یرغلونه کول.

دَ سورکمر پوسټ دَ ۲۷/مئ په کاښز داسے تسلیم شو چه په پوسټ کښے دننه یو وزیر منصبدار دَ اُوبو د ټینک ټوټئ خلاصه کړه او.... ټینک ئے خالی کړو. سپاهیانو چه دَ اُوبو قلّت محسوس کړو، نو دَیو ے شپے جنګ نه پسته بخپله په ۳۱/مئ تسلیم شول.

دَ عیدکو په قلعه کښے دَ میران شاه دَ قلعے په شان زیاتره خطره دَ ملیشے دَ مقامی سپاهیانو نه وه او بلخوا دَ قبائلو مستقل لشکر هم ترے نه کلکه محاصره تاؤکړے وه - له دے کبله دَ پوسټ کمانډر لفټیننټ روز ROSE دَ ملیشے ټولو مقامی سپاهیانو ته حکم ورکړو، چه تاسو سره دَ خپلو ټوپکو او پنځوسو کارتوسو دَ قلعے نه ورچنے اوځئ، ولے په دے میاشت کښے په ۴/جون دَ عیدکو او میران شاه دَ قلعو دپاره دَ بنوں څخه امدادی فوځ راورسیدو او محاصرے ئے ماتے کړے - کله چه دغه فوځ په ۱۸/نومبر ۱۹۱۹ء په میران شاه راغونډ شو او خپلے قلعے ئے بیرته واخستے نو دَ وزیرستان دَ خلقو نه ئے دَ بدل په آخستو لاس پورے کړو او په وزیرو کښے ئے دَ دته خیلو او میران شاه ترخوا وشا ټولے کیږدۍ

تهل (توچي)، انغر کلے، توغزی کلے، سپلګه رسول خيل، پلنګزی، سورکوټ او د کهجوری د وزيرو غونډه کلی او سيزل - دغه شان ئے په داوړو کښے د خدی، ايپی او حيدرخيلو په کليو راتيټه کړه او اوئے سيزل - د برے توچئ داوړو خپل کلی خالی کړی وو او غروتو ته ئے هجرت کړے وو. د درپه خيلو سيمه په دغه وخت ميدان جنګ وه نو دوئ هم پخوا د همزونو ميرزالی رغزی ته کډے کړے وے -

د دے نه علاوه ئے په وزيرو کښے په تول خيلو باندے زر زروپئ جرمانه اولګوله - او په داوړو کښے ئے په تپی-/۱۰،۰۰۰ روپئ په پلالی او غونډی کلی باندے-/۱۸۰۰ روپئ او په بړوخيلو او بانډه باندے پنځه پنځه سوه روپئ جريمه اولګوله -

چونکه د وزيرو داوړو دلاسه فيرنګی ته يو خوا ډير مالی تاوان رسيدلے وو او بلخوا ۷۶۶ تنه وسله بند سپاهيان ترے نه ياغی شوی وو، نو د وزيرو په جرمانه کښے-/۲۰۰۰ زره روپئ او د داوړو په جرمانه کښے-/۳۳۴۰۰ روپئ مزيد اضافه اوشوه - د وزيرو نه ضمانت کښے دوه سوه ميله توپک هم واخستل شول -

## د وانا دريمه جهګړه

په قطبی وزيرستان کښے چه د انګريزانو په خلاف کومے هنګامے روانے وے، د هغے خبر چه تر ۲۵/ مئ پورے سوئيلی وزيرستان وانا ته اورسيدو نو ميجر جي - ايچ - رسل (MAJ. G. H. RUSSEL) تولو قلعو ته افسران اوليږل او د خالی کولو هدايات ئے ورکړل - د ميجر رسل

دا خیال وو، چه په ۲۱ / مئ په نیکهٔ بند باندے میشته افغان فوځ چه راخبر برې، ترهغه به ژوب پله پسې اوباسی، خو ده دا سکیم کامیاب نهٔ شو۔

دَ ۲۶ / مئ په شپه باندے دَ وانا په قلعه کښې دَ وزیرو محسودو سلو تنو مقامی سپاهیانو چه څینې افریدی هم په کښې وو، په قلعه حمله اوکړه۔ ګنړ افسران او سپاهیان ئے اووژل او په خزانه ئے ... قبضه اوکړه او ۱۱۹۰ میله ۳۰۳ ټوپک، اتیازره کارتوس، یو تعداد دوربینو نه پنځوس مسکټس MUSKETS شپیتهٔ زره نغدے روپئ، پریمانه راشن او نور ډیر سامان ئے ولجه او یو شمیر اوبنان، اسونه او خاروی ئے دَ ځان سره بوتلل۔

دَ دے غے جهګړے پحقله دَ "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه نمبر ۳۶ باندے دا سے مرقوم دی۔

"هغه وخت په نتیجه کښې دَ دوئ (باغیانو) وقار ډیر بلند شو" دَ حملے په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې دَ میجر رسل په کمان کښې دَ دریو سوو سپاهیانو یوه ډله چه دَ فیرنګی وفادار خټک سپاهیان او پنځه انګریزان هم په کښې شامل وو، دَ شپے په لسو بجو پټ په پټه دَ قلعے نه ژوب پله په ترپ اووتله۔ دَ شلو میلو فاصله لنډه ولو نه پس چه دَ ګومل جنوب پله اورسیدل، نو دَ بده مرغه هلته هم دوئ خپل پوسټ دَ غازیانو په ګیره کښې اولیدو۔ اوس بله چاره نهٔ وه۔ دوئ مزید ۱۴ میله سفر اوکړو او دَ ژوب دَ رود په سیمه کښې دَ مغل کوټ قلعے ته ورننوتل۔

## دَمُغل کوټ جهګړه :

دَ میجر رسل دغه پله لا سمه دَ مُغل کوټ قلعې ته ورنه وتلې نه وه چه دپاسه دَ غازیانو لښکر پرے راورسیده او قلابند ئې کړه - دوه شپې او دوه ورځې غازیان دَ قلعې نه چاپېره پراته وو - دریمه ورځ چه میجر رسل دَ خپلو ملګرو په زبون حالئ زښت زهیر شو نو په ۳۰/ مئ ئے دَ قلعې په دیواله کښې سورے اوکړو او پرے اووتل -

دَ قلعې نه چاپېره لښکر چه دوئ اولیدل نو ګېره ئې ترے نه تاؤ کړه او جنګ ئې ورسره شروع کړو - دَ فریقینو ترمینځه خونړئ جهګړه اوشوه او میجر رسل په تاؤده جهګړه کښې سره دَ یو څو سپاهیانو پټ په پټه دَ آپوزئ قلعې ته ځان ورسولو او د پاتې فوځ نه ۴۳ تنه سپاهیان نه او دوه تنه انګریزان قتل او دوه تنه سخت ژوبل شول او غازیانو ته پریما مالِ غنیمت او جنګی سامان په لاس ورغلو - په دغه جهګړه کښې دَ وانا او مُغل کوټ نه علاوه دَ کرب کوټ، تانی او تو ئې خوله قلعو ملیشا هم شامله وه -

## دَ آپوزئ جهګړه :

دَ میجر رسل او دَ هغه دَ ملګرو په وتود لښکر غږې مړه نه شول ملا ګانې ئې پسے اوترلے او دَ سختے ستومانئ باوجود دَ آپوزئ[1] قلعې نه تاؤ شول او په همدغه ۳۰/ جون ئې حمله پرے اوکړه او دا سے په دوه لاسی تورے ئې اوچلولے چه په یوه شیبه کښې ئې ۳ تنه غټ غټ انګریزان او ۲۵۴ تنه سپاهیان قتل کړل - بلخوا دَ مُغل کوټ او

[1] آپوزئ ته ژوب او فورټ سنډیمین هم وئیلے شی -

آپوزی په دواړو جهګړو کښې دُغازیانو له خوا نه هم مجموعی طور ۱۱۳ تنه ځوانان په شهادت اورسیدل

## دُجنډولې قلعې محاصره :

دُګرنئ، جته او خیرګی قلعو دُانخلا او قلابندئ نه علاوه په ۲۸/ مئ دُملا فضل دین په مشرئ کښې تقریباً شپږ و زرو غازیانو دُجنډولې قلعې نه محاصره تاؤ کړه - دغه محاصره تر ۷/ جون پورې اوږده شوه او په قلعه کښې دننه دُغازیانو دلاسه ډیر مړي ژوبلې اوشول - یوخوا دومره سخته ګرمي وه چه درجه حرارت ۱۱۵ ډګرئ ته رسیدلې وو او بلخوا دُ اُوبو سخت قلت وو او په قلعه کښې دننه سپاهیانو ته به په سرې سر دُورځې یو یو بوتل اوبه ورکولې شوې - په ۲/ جون دا فیصله اوشوه چه ټول ځاروی، چچرا او اسونه دِ خوشې کړې شي، ولې چه اکثر ټول دُتندې نه مرګونی وو او دُبیمارئ دُخوریدو سخته خدشه وه -

ځاروی خوشه چه بنیادم هم دُتندې نه کږ وو، ولې په ۹/جون دا محاصره ماته کړې شوه او دُدې نه بخوا فیرنګی په ۲/جون دُټانک نه راغوښتې فوځ باندې دُمانجی او په ۴/جون دُګرنئ دُقلعو محاصرې هم ماتې کړې وې -

## دُفرلې قتل : (FURLEY)

په یکم جون ۱۹۱۹ء دُمیران شاه په ډانډې ډګرې کښې دُدردآنی په مقام دُغازیانو او فوځیانو ترمینځه په یوه انښته کښې دُفوځیانو دلورې نه سکنډ لیفټیننټ فرلې سره دُیو څو سپاهیانو قتل او ګنړ سپاهیان

ژوبل شول ـ غازیان ذخیره سلامت لاړل

## په چودهوان حمله :

فیرنګی د مانجی، ګرنټی اوجنډو ولے وغیره قلعو محاصرے خو ماتے کړے، ولے د ننګیالو او توریالو ځوانانو حوصلے ئے ماتے نۀ کړے شوے او هر هغه کار به ئے کولو، چه فیرنګی ته به پرے سوخت رسیدلو۔ دغسے د ۴ ـ ۵ / جون په شپه د شیرانی قبیلے ځینو ځوانانو د چودهوان په هغه آبادئ چرته چه د انګریزانو او هندوانو زیاته برخه وه، شبخون اوکړو آبادی ئے لوټ کړه او پخپله سلامت لاړل۔

## د بنوں په هوائی ډګر شبخون :

د ۱۴ / جولائی ۱۹۱۹ء په شپه غازیانو د بنوں د هوائی ډګر په سائبان باندے یوه شدیده حمله اوکړه ـ غازیان او فوځیان وبله په سنګینونو ګډ شول او یو په بل ئے بمونه غورځول شروع کړل ـ یوه شیبه سنۀ تاوده جهګړه اوشوه خو چونکه د فوځ دغه ډله، له اوّل نه چا مخبر آګاه کړے وه، نو غازیانو څه خاص تاوان ورته اونۀ رسولے شو ـ البته درے تنه ئے قتل او پنځه تنه ئے مرګونی کړل، چه وسله ئے غازیانو ولجه کړه۔

## د کهجورئ په یو پیکټ حمله :

په ۲۹ / جولائی ۱۹۱۹ء غازیانو په لرے توچئ کښے کهجورئ ته نژدے د ملیشے په یو پیکټ حمله اوکړه ـ د یو څو ګهړئ مقاومت په نتیجه کښے ۳ تنه سپاهیان قتل او ۷ تنه سخت ژوبل شول ـ غازیانو نولس ۱۹ میله توپک ترینه ولجه کړل او پخپلو مخو لاړل ـ دغه رنګ ...

واقعات په ۳/ اګست دَ ایشا او میران شاه په قرب وجوار کښې هم پېښ شول -

## دَ شینکی تنګی انښته :

په ۸/ اګست ۱۹۱۹ء دَ ملک موسیٰ خان محسود په مشرئ کښې غازیانو دَ بنوں توچئ په پوله دَ شینکی تنګی په فوځ حمله اوکړه - ۲۹ تنه فوځیان قتل او ۱۶ تنه سخت ژوبل شول او دَ غازیانو له خوا نه ایله یو څو مړی ژوبلی اوشول -

## دَ سیدګی سانحه :

په ۲۳/ اګست ۱۹۱۹ء دَ بنوں په سیمه کښې دَ سیدګی کیمپ بارډر پولیس رلو تلے وو او یو خوا بلخوا ئے حفاظتی پیکټونه لګولی وو - هر کله چه دوئ ډیوټی پوره کړه او بیرته کیمپ ته روانیدل نو دَ دوه نیمو سوو ۲۵۰ غازیانو لشکر حمله پرے اوکړه سنه ګرمه جهګړه برپا شوه ، خو دَ بدۂ مرغه غازیان بے پامه او ناخبره دَ ارمړ کارونو په زد کښې راغلل او ۳۵ کسان وژلی ژوبلی په کښې اوشول - اګرچه بارډر پولیس ته هم کافی جانی او مالی تلفات اوړسیدل ، ولے غازیان له حد نه زیاتے صدمے سره مخامخ شول -

## دَ ګمبیلے په کیمپ ختنه :

دَ مړنو غازیانو یوے ډلے دعیسیٰ خیلو دَ پولیس والاؤنه په یوه شخړه کښې شپاړس ۱۶ میله توپک ولجه کړی وو - په ۲۹/ اګست ۱۹۱۹ء چه دغه ډله دَ مروتو دَ ګمبیلے سیمے ته را اورسیده نو هلته ئے یوه پیره بیا په فوځئ کیمپ حمله اوکړه او دَ شدید مقاومت په نتیجه کښې ئے دَ

فیرنګی د لوری نه ۳۵ کسان قتل او ۲۴ تنه سخت ټپیان کړل۔ غازیان د خیره روغ رمټ لاړل۔

## د زرکانۍ جهګړه:

زرکانۍ د ډیره اسماعیل خان په کلاچۍ تحصیل کښې د دراَبن او کوړ سړک په اتم میل فاصله باندے یو کلے دے چه د ایف سی پوسټ په کښې واقع دے۔

د دغې پوسټ سره نزدے په ۱۹ / ستمبر ۱۹۱۹ء د غازیانو یو دروند لشکر په یوه عسکری قافله، چه اکثر په کښې د بارډر پولیس سپاهیان شامل وو بریډ اوکړو۔ د غازیانو او سپاهیانو ترمینځه سخت جنګ اوشو او په نتیجه کښې څلور تنه انګریزان او ۲۳۲ تنه سپاهیان هلاک او شپږ تنه ژوندی اونیولے شول او په مقابل کښې د غازیانو له خوا نه ۵۳ تنه شاه ځلمی په شهادت اورسیدل۔ غازیانو په یو توپ او ۳۵ میله ټوپکو هم قبضه اوکړه۔

## د مانجی جهګړه:

مانجی د ټانک په تحصیل کښې د منزۍ نه ۳½ میله جنوب پله د ګومل رود بنۍ مورګے ته نزدے یوه علاقه ده۔ په دغه علاقه کښې د .. ایف سی یو لوئے پوسټ تعمیر شوے دے۔ مانجی کلے د دغې پوسټ نه تقریباً نمرخاته پله یو میل لرے پروت دے۔ په ۵ / اکتوبر ۱۹۱۹ء د غازیانو یو دروند لشکر مانجی کلی ته نزدے په اونو بوټو کښې غلے پټ شوے وو او د یوے فوجی رسالے انتظار ئے کولو۔ کله چه رسالــه

رااورسیده، نولشکر پرے وراوداتکل اوداسے شدیده حمله ئے پرے اوکړه چه دَ سپاهیانو نه وارپار خطا شو، خپل مړی ژوبلی ئے پریښودل او دَ میدانِ جنگ نه ئے په منډه منډه ځانونه ویستل - بله ورځ فیرنګی بیا ځان بنه قوی کړو او په پرونو وژلو ژوبلو پسے ورغلو - لشکر هغسے دَ دوئ په انتظار کښے موجود وو، او یو کرَت ئے بیا داسے زوردار حمله پرے اوکړه، چه دَ فیرنګی نه ئے زاره مړی هیر کړل او دَ نوو په ویر ئے اخته کړو - په دغه جهګړه کښے دَ فیرنګی له خوا نه ۳۰۹ تنه سپاهیان او دوه تنه انګریزان اووژلے شول - او وسله ئے غازیانو یوړه - او په مقابل کښے دَ غازیانو له خوا نه اووه تنه زړنړی په شهادت اورسیدل -

په ۱۹/ اکتوبر فیرنګی دَ وانا نه چاپیره په هغو ټولو کلیو باندے بمباری اوکړه، کوم چه په دغه جهګړه کښے برخه اخستے وه -

## دَ ګرنئ جهګړه :

په ۱۷/ اکتوبر ۱۹۱۹ء دَ غازیانو یو لوئے لشکر راغونډ شو - دَ مرتضیٰ او دَ نورو نزدے نزدے قلعو نه ئے دَ اوبو سلسله قطع کړه - دَ فوځ چغه چه وریسے رااووته نو غازیان دَ ګرنئ په لورکاره شول او په ۲۰/ اکتوبر ئے دَ ګرنئ نه منزئ پله روان فوځ باندے حمله اوکړه - دَ سخت مقاومت نه پس دَ فیرنګی دَ لوری نه ۳۶ تنه قتل او ۴۶ تنه ژوبل شول او په غازیانو کښے ایله یو څو ویشتلی اوشول -

## دَ کهجورئ انښته :

هم په دغه ۲۰/ اکتوبر په توچئ کښے غازیانو دَ کهجورئ خوا کښے

په یوه کانوائی برید اوکړو- فیرنګی دٔ عیدکو قلعے نه ورپسے دٔ ایم - ټی په امدادی فوځ راوړو- دٔ یوځو ګهړو شدید جنګ نه پسته دٔ فیرنګی دٔ لوری نه ۲۳ تنه قتل او ۲۸ تنه زخمیان شول او دٔ غازیانو له خوا نه ایله یو څو مړی ژوبلی اوشول-

دٔ وزیرو محسودو جرګے :

فیرنګے دٔ وزیرو محسودو دٔ تواترو حملو نه ډیر تنګ شو او په ۳/ نومبر سنه ۱۹۱۹ء ئے خیرجی ته دٔ محسودو او په ۹/ نومبر ئے میران شاه ته دٔ وزیرو جرګے راوبللے-

په جرګو کښے فیرنګی وزیرو محسودو ته مختلف شرطونه واوړول- او محسودو ته ئے تر ۱۱/ نومبر او دٔ توچئ وزیرو ته ئے تر ۱۷/ نومبر پورے دٔ تعمیل ژمنه ورکړه - په دغو شرطونو کښے دٔ ګنړو جرمانو لګولو، دٔ موجبونو او معاوضو ضبطولو، دٔ یکم مئ نه دٔ حکومت له خوا دٔ ولجه شوو ټوپکو او نور جنګی سامان برامد کولو او دٔ حکومت دٔ هغو حقوقو، دکوموله مخه چه په وزیرستان کښے دٔ فوځونو ساتلو، قلعو جوړولو او سړکونو تیرولو وضاحت شامل وو- دوئ ته دا هم واوړول شول، چه که چرے تاسو دغه شرطونه اونهٔ منئ نو دٔ دوارو قامونو په خلاف به سخته کارروائی کولے شی- دغو سرتیرو قامونو دٔ فیرنګی شرطونو ته غاړه کینښوده- په نتیجه کښے یوخوا په محسودو باندے بمباری شروع شوه او بلخوا دٔ توچئ په وزیرو فوځونه ورداوختل-

دٔ توچئ په وزیرو فوځکشی: په ۱۲/ نومبر سنه ۱۹۱۹ء دٔ فیرنګی فوځونه دٔ میجر

جنرل کلیمو (CLIMO) په کمان کښے د بنوں نه مارچ شول او په ۱۷/ نومبر دته خیلو ته اورسیدل - په دے ورځ په وزیرو باندے د طیارو په ذریعه د وارننگ پرچے هم اوغورځولے شوے چه :

"د کوم علاقے خلق چه د فیرنګی حکمونه اونه منی، په هغے به بمباری کولے شی"

په ۱۷/ نومبر جنرل کلیمو د تیتی مداخیلو او حسن خیلو نه علاوه د نورو توځو قامونو جرګے دته خیلو ته راوبللے او د تفصیلی بحث ومباحثے نه پسته دوئ وقتی طور د فیرنګی شرطونه په ځان اومنل - دویمه ورځ فیرنګی په مداخیلو کښے د کرڅے په سیمه بمباری اوکړه او په نتیجه کښے د دوئ مشرانو هم عارضی طور د فیرنګی شرطونو ته غاړه کیښوده -

اوس د دته خیلو نه دغه فوځونه بیرته د رزدانی کیمپ ته اوکوچیدل او د هغے ځائے نه دویمه ورځ د بنوں پیزو په لار تهانګ ته لاړل او تر ۱۳/ دسمبر پورے جنډولے ته اورسیدل -

په محسودو بمباری :

فیرنګی چه د خیرجې په مقام په محسودو کوم شرطونه عائد کړی وو او دوئ تر یولسم نومبر پورے اونه منل نو د ۱۳/ نومبر نه سخته بمباری پرے شروع شوه - دغه بمباری تر یوے میاشتے پورے جاری وه - په دے موقع چه د جنګی طیارو وړه وړه بمونو کار اونه کړے شو او د ختو بخسو تے څه تاوان اونه رسولے شو، نو د لسو لسو زرو پونډو وغټ او شعله زن بمونه ئے پرے غوځار کړل، ولے سره د دے ئے هم چه په محسودو

باندے خپل شرطونه اونهٔ منلے شول، نو فیرنګی په دوئ باندے هم دَ فوجکشئ فیصله اوکړه۔

دَ شاه دَوله حرکتونه :

په ۳۱/ مئی ۱۹۱۹ء یو خوا دَ افغانستان او دَ هند دَ برطانوی حکومتونو ترمینځه په جزبندئ باندے دستخطونه شوی وو، بل خوا افغان بریګیډیر شاه دَوله سره دَ دریو سوو (۳۰۰) عسکرو او شپږو توپونو وانا ته نزدے راغلے وو۔ او دَ ملیشے په قلعه ئے قبضه کړے وه۔ دَ وزیرستان په خلقو کښے به ئے دَ فیرنګی په خلاف پروپیګنډه کوله او دَ وانا، کانی ګرم سروکئ او ګومل په آبادیو کښے به ئے دورے کولے۔ چاته به ئے سوغاتونه ورکول او چاته به ئے دارو مردکی۔ دَ چا سره به ئے مالی معاونت کولو او څوک به ئے په خپل فوځ کښے آخستل، چه دَ ملیشے په خالی قلعو قبضه اوساتی۔ دَ فیرنګی په خلاف دغه هنګامے او بلوے په تیزئ سره روانے وے، په شمیر تیر دوه زره (۲۰۰۰) مقامی سپاهیان دَ وزیرستان دَ ملیشے نه فرار شوی وو۔ دَ دوئ سره خپل ټوپک، مشین ګنونه، دوربینونه او نور هر قسم جنګی سامان هم موجود وو۔

دوئ به په وزیرستان کښے ګرځیدل او دَ مقامی خلقو په ملګرئ کښے به ئے په انګریزانو حملے کولے۔ دَ دوو زرو میله ټوپکو نه علاوه دغو سپاهیانو تقریباً یو ملین کارتوس، پریمانه نغد دولت او اندازتاً دَ -/۳۵۰۰۰ زرو روپو مالیت قسما قسم خزلے هم لوټ کړے وے۔ دَ باغی سپاهیانو نه پرته مقامی خلقو هم پوره پوره بوده کړے وه۔ پنځلس سوه (۱۵۰۰) میله

ټوپک[1] خو یواځې مقامي خلقو په مختلفو جهګړو کښې اوېږي وو او ۱۴۴۸ بیده اوښان او ۴۲۶۷ نور د مختلف نوعیت څاروي، اسونه او خچر بوتلي وو۔ د هغه وخت د انټلي جنس د رپورټ په مطابق په وزیرستان کښې ۲۳ هزار غازیان د فیرنګي سره برسرپیکار وو او د دغو جنګ جهګړو په دوران کښې د فیرنګي اتیا قلعې او چوکۍ سیزلې شوې وې، چه مشهورې په کښې دا وې۔ سپین وام، کجورۍ، بویه، ټل (توچي) احمد خیل، توت نري، شپانه خیساري، شیوه، ایشا، دته خیل، سرکاوي زیړکي کمر، وانا، شینکي کیمپ، تناۍ، خجوره، سپین کځ، تورمانډ، مغل کوټ ګل کځ، آپوزي، درګۍ، وومیړه (تیارزه) مرتضی او توې خوله۔ د میران شاه، درداني، عیدکو، سیدګي او جنډولې قلعې او پوستونه په سخته محاصره کښې راغلي وو۔

## د امان الله خان د جهګړو نه پسته:

په ۳/ جون سنه ۱۹۱۹ء د افغان او برطانوي حکومتونو په مابین کښې که هر څو عارضي صلح شوې وه، ولې د وزیرستان په غازیانو باندې د هغې څه اثر نه وو شوې، او دوئ به هغه شان خپلې مبارزې جاري ساتلې د دغو مبارزو یو حقله د "ملټري رپورټ آن وزیرستان سنه ۱۹۳۵ء" په صفحه

---

[1] د انټلي جنس د رپورټونو په مطابق په وزیرستان کښې په کال سنه ۱۹۰۲ء کښې دوه زره ټوپک موجود وو، خو وروستو کال سنه ۱۹۲۱ء کښې تر شلو زرو نه اضافه شول۔ کال سنه ۱۹۲۰ء پورې په دست بدست جنګ کښې توره ډهال هم استعمالیدل۔

نمبر ۱۲ دا سے واویلا شوے دہ :

"دَ دغو مُهماتو په دوران کښے چه دَ مقتولینو او مجروحینو په شکل کښے کوم تلفات مونږ ته اورسیدل هغه هومره مخکښے مونږ یا قبائلو ته دَ سرحد په یو محاذ هم نهٔ وو رسیدلی او نهٔ مخکښے چرے دَ قبائلو دومره مړی په میدان کښے پاتے شوی وو"

## دَ افغان او برطانوی حکومتونو ترمینځه صلح :

جنرل نادرخان چه په ۳۱ / مئ ۱۹۱۹ء سنه په ټل قبضه اوکړه او دغه شان کوهاټ او پیښور هم په خطره کښے پریوتل نو برطانوی حکومت دَ حالاتو دَ نزاکت احساس اوکړو - یو خوا ئے امان الله خان ته په کابل او جلال آباد باندے دَ بمبارئ کولو اخطار ورکړو او بلخوا ئے دَ عارضی صلحے مذاکرات ورسره شروع کړل - په ۳ / جون دَ صلحے اعلان اوشو - دَ اعلان نه پسته په ۲۴ / جولائی ۱۹۱۹ء سنه دَ صلحے پخقله دَ شرطونو دَ فیصله کولو په غرض دَ افغان حکومت نمائنده جرګه دَ سردار علی احمد جان په مشرئ کښے راولپنډئ ته راغله - په ۲۶ / جولائی دَ دواړو حکومتونو دَ وفدونو ترمینځه خبرے اترے شروع شوے - دغه خبرے تر ۸ / اګست پورے جاری وے او هم په دغه نیټه دَ دواړو حکومتونو په مابین کښے عارضی معاهده اوشوه -

دَ دے عارضی معاهدے له مخه دا فیصله اوشوه :

"فیرنګیان به دَ افغانستان په کار کښے بیا لاس نهٔ وهی او افغانستان چه چا سره تعلق ساتل غواړی آزاد دے"

د دے معاهدے له رویه

۱ - امیر امان الله خان د افغانستان خود مختاره بادشاه تسلیم شولو۔

۲۔ د افغانستان خارجه پالیسی د فیرنگی د اثرونفوذ نه بیخی آزاده شوه ۔

۳۔ په امیر افغانستان باندے د تاج برطانیه کالیزه پنشن بند شو"

په دے معاهده کښې د افغانستان او هندوستان ترمینځه سرحدی بریدهم هغه ډیورینډ لائن په لاندینو الفاظو کښې او منلے شو۔

" افغان حکومت د هند او افغانستان ترمینځه هغه حد بندی تسلیموی کومه چه سابق امیر حبیب الله منلے ده"

په دغه معاهده باندے د برطانوی حکومت د لوری نه د صوبه سرحد چیف کمشنر سر هملتن گرانټ او د افغان حکومت د لوری نه سردار علی احمد جان دستخطونه اوکړل ۔

د ډیورینډ لائن د بحال کیدو په وجه د افغانستان عام اولس ډیر خفه شو۔ په دے وجه اپریل ۱۹۲۰ء کښې یو ځل بیا د منصورۍ په مقام د مستقلے صلحے د معاهدے په غرض یو بل کانفرنس منعقد شو۔

دا ځل د افغان وفد مشر سردار محمود خان طرزی وو۔ چه د امان الله خان سخر او په هغه زمانه د افغانستان وزیر خارجه وو۔ په دے معاهده کښې هم ډیورینډ لائن برقرار پاتے شو او هیڅ ترمیم په کښې اونه شو۔ په دے حقله د کال ۱۹۲۱ء په معاهده کښې داسے مرقوم دی

" دواړه معززے جرگے په یوه خوله د هند او افغانستان ترمینځه هغه حد بندی تسلیموی، کومه چه د ۸/ اگست

۱۹۱۹ء په پنځمه دفعه کښې افغان حکومت منلے ده۔"

دَ افغانستان دَ دے دریم جنګ نه پس ډیرے اهمے نتیجے اووتلے۔ دَ دے نه پسته دَ افغانستان حکومت دَ دنیا دَ نورو ملکونو سره دَ سیاسی تعلقاتو په قائمولو کښې آزاد شو۔ چنانچه فروری ۱۹۲۱ء کښې دَ حکومت روس او افغانستان ترمینځه یوه دوستانه معاهده اوشوه او امان الله خان دَ روس په لوری مائل شو۔

دغه شان په یکم مارچ او ۲۲/جون ۱۹۲۱ء افغان حکومت دَ ترکیه او حکومت ایران سره هم دوستانه معاهدے اوکړے۔

## کال ۱۹۱۹ء دَ انګریزانو په خوله :

دَ امان الله خان په جهګړو کښې په وزیرستان کښې دَ ملا فضل دین ملک موسیٰ خان او رمضان خان نه علاوه دوه نور توریالی مشران هم میدان ته راوتلی وو او دَ مختلفو ډلو قیادت به ئے کولو۔ دغه ځوانان یو صوبیدار پټ خان مداخیل وزیر وو او بل جمعدار ترین خان توری خیل وزیر وو۔ دَ ترین خان سره دوه نور غازیان هم دَ یادونې دی، چه یو مومن شاه نومیدو او بل محمدی۔ مومن شاه هم دَ یاغی کیدو نه رومبے په ملیشا کښې صوبیدار وو۔ دوئ دواړه مداخیل وزیر وو، او دَ کلینجر غزه نه به ئے اکثر دَ میران شاه په قلعه توپونه او باړونه چلول۔

دَ کال ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښې چه دَ ذکر شوو مشرانو په قیادت کښې وزیرستانی اولس امان الله خان ته دَ خود مختاره بادشاهت په ګټلو کښې کومے تورے وهلے وے او فیرنګی ئے په شرمونو شرمولے وو، دَ هغې پخلے

میجر جنرل ایلیټ دَخپل کتاب "دی فرنټیر سنه ۱۸۳۹-۱۹۴۷ء" په صفحه نمبر ۲۴۷ داسے اعتراف کوی :

"هر وخت به دَ لاقانونیت دوره وه۔"

بریګیډیر جنرل ګراهم دَخپل کتاب "هسټری آف دی انډین مونټین ارټیلری" په صفحه نمبر ۲۰۸ داسے واویلا کوی :

"لکه څنګه چه ذکر شوے دے، دَ افغانستان سره دَ جنګ بندئ معاهده په ۳/جون شوے وه، مګر افغانیانو تر ۸/اګست پورے نهٔ وه عملی کړے، او دَ تاخیر دغے مودے په قبائلی اولس کښے زښت مشکلات راپیدا کړل۔ خصوصاً په ټول سرحد کښے دَ توچئ او جنوبی وزیرستان دَ قلعو دَ انخلا په وجه دَ ... برطانیے وقار ډیر پریوتو۔"

سر اولف کیرو په "دی پټهان" کښے لیکی چه :

"په قبائلی علاقه کښے دَ مهماتو په دوران کښے انګریزانو دَ واَنانه واپسی ضروری ګڼړلے وه، ځکه چه هلته قبائلو تقریباً دَ جدید قسم په دولسو سوو (۱۲۰۰) ټوپکو او لسو لکهو کارتوسو قبضه کړے وه۔"

دَ هغے وخت پولټیکل ایجنټ میجر آر۔ کیریټ په "توچی پولټیکل ایډمنسټریشن رپورټ فار دی ایئر سنه ۱۹۱۹-۲۰ء" کښے رقمطراز دے چه :

"دَ داوړو په شان دَ یوے مُضرے قبیلے مخه، دَ یو عظیم

مملکت په وړاندې یوه شرمناکه او غیرمطمئنه فضـــا معلومیږي -

دَ حکومت د وقار بحال کولو په لړ کښې وړومبې وړومبې دَ برې توچي ازسرِ نو قبضه کول ضروري کار دے"

## یوولسم باب

# دَ فيرنګي انتقامي هڅه

دَ افغان او برطانوي حکومتونو ترمينځه چه صلح اوشوه، نو دَ فيرنګي دا پوخ يقين راغے، چه اوس به په وزيرستان کښے ساړے اوبه تو نے شي، بدې نے اوو هلے او يو ځل بيا دَ وزيرو محسودو او داوړو په علاقو کښے په خوريدو شو۔ او دَ خپلو پريښودلو قلعو په آبادولو ئے بناء اوکړه۔ ولے توريالي غازيان چه په قول دَ سر اولف کيرو جديد قسم وسله ئے لرله بيا ورته دَ فولادو ديوال شول او داسے جنګونه ئے ورسره اوکړل چه هميشه به په پښتني تاريخ پرے وياړي۔ دَ مئي نه تر نومبر سنه ۱۹۱۹ء پورے په فيرنګي تولے تهاڼے ۱۸۲ حملے اوشوے او بے شميره فيرنګيان او فوځيان په کښے قتل شول۔

**دَ امان الله خان تشکر :**

امان الله خان دَ شکرګزارئ دپاره دَ وزيرستان هغه تول ملکانان او ياغي سپاهيان افغانستان ته اوبلل، کوم چه دَ کال سنه ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښے دَ دهٔ دَ خودمختاره سلطنت په ګټلو کښے فعال او مرکزي کردار ادا

کړے وو، دوئ ته ئے پېڅسرې سر یوه یوه چغه، تمغه او سل [100] روپئ نغد
انعام ورکړو۔ دغسے دَ ملیشے یاغي حولدارانو ته دَ چُغے او تمغے نه علاوه ...
شپږ شلے [120] روپئ او صوبیدارانو ته درے سوه [300] روپئ نغد انعام ورکړے شو۔

دَ سپینکي رغزي جهګړه :

فیرنګي ته چه دَ مئ نه تر نومبر ۱۹۱۹ء پورے دَ غازیانو دلاسه
کوم شرمناک تلفات رسیدلي وو، دَ هغے د انتقامي بدل آخستو په ترڅ
کښے ئے دَ سوېلي وزیرستان په وزیرو محسودو ګنړے بمبارئ اوکړے
دَ وزیرو محسودو ځیګرورو زنړي، چه دَ بمبارئ نه مرعوب نه شول نو
فیرنګي ورسره بل چل اوکړو۔ یوخوا ئے په جنډوله باندے دروند
فوځ راغونډ کړو او بل خوا ئے یوا ځے دَ محسودو جرګه راوبلله او ورته
ئے اوویل چه :

"وزیر قام زمونږ او ستاسو په شریکه دشمن دے، مونږ غواړو
چه په وزیرو فوجکشي اوکړو، ولے کله چه زمونږ فوځونه دَ
سروکئ، دراګئ او سره منزه په لار واناته تیریږي نو تاسو
څه غرض پرے مه کوئ۔"

په دے جرګه کښے دَ افغانستان یو سابقه قامي جرنیل ملک بهادر
دین چه په غلیزو محسودو کښے دَ لنګرخیلو دَ شاخ نه وو هم شامل وو۔
هغه یکدم پاځیدو او فیرنګي ته ئے په ځواب کښے اوویل چه :

"مونږ به صبا سردار مدینه صلی الله علیه وسلم ته څنګه
مخامخ کیږو، چه نن یوخوا زمونږ په وزیرو ورونړو کفار

یلغار کوی او بلخوائے مونږ تماشه - دا یو ناممکن کار دے"۔

فیرنګی چه د بهادر دین مختصر خو جامع ځواب واؤریدو، نو وزیر ے پریسبود ل او څو ورځے پس ئے د جنډولے نه د کوتکی او سرا روغه په لار و د محسودو په علاقه فوځونه ورخوشې کړل - دغه فوځونه چه د جنرل سکین (SKEEN) په کمان کښې د جنډولے نه اوو تل او شپږ میله لرے جنوب مغرب پله د سپینکی رغزی په لوری روان شول نو په یوولسم دولسم او دیارلسم دسمبر ۱۹۱۹ء ورسره خلقو پوره پوره مقابله اوکړه -

د جنډولے نه تر سپینکی رغزی پورے د سړک او لارو جوړولو کښې ۹۶ تنه فوځیان ترے نه قتل شول - د دے نه علاوه چه کله دغه فوځونه د جنډولے نه روانیدل هغه وخت جنرل سکین د ځیرجی نه هم جنډولے ته نور فوځ راغوښتے وو - په ۱۷ / دسمبر چه د ځیرجی فوځ جنډولے ته را اورسیدو نو د فوځ په یو پیکټ، چه د ... جنډولے قلعے ته مخامخ د تهانک زام په کینډے مورچے لګیدلے وو غازیانو پرے حمله اوکړه - د غازیانو او فوځیانو ترمینځه یوه شیبه لاس په لاس جنګ اوشو - په نتیجه کښې ۱۳۴ تنه سپاهیان هلاک شول او شل تنه غازیان په شهادت اورسیدل -

غازیانو ته ۲۲ میله ټوپک او پریمانه مال غنیمت هم په لاس ورغلو - د دغے انښتے نه پس د غازیانو مخه بیا د سپینکی رغزی فوځ ته اوګرځیده - دغے فوځ چه کله په ۱۸ / دسمبر د سپینکی رغزی په ډګر کښې کیمپ

لګولو نو غازیانو دَ الله اکبر دُ غږونو سره داسے زوردار حمله پر ے اوکړله چه دُ فوځ پسنے تېښکے نه شو ے او په لږ ساعت کښے ۲۷۵ کسان تر ے نه قتل شول۔ بل خوا دُ غازیانو له خوا نه ۱۳ کسان شهیدان او ۴۰ کسان ټپیان شول۔

دُ ترکئ غونډئ جهګړه :

فیرنګی چه په سپینګی رغزی کیمپ اولګولو نو دُ حفاظتی انتظاماتو تر مخه ئے مخامخ دُ ترکئ غونډئ په سر دُ یو پیکټ لګولو ضرورت محسوس کړو۔ چنانچه دروند فوځ ئے راغونډ کړو او په ترکئ غونډئ ئے د پیکټ په لګولو لاس پورے کړو۔

بل خوا غازیانو ته هم دُ دغے پیکټ اهمیت معلوم وو او له اوّل نه ورته په یوه خُله چمتو ناست وو۔ دوئ په ۱۹/ دسمبر دُ ملا فضل دین ملک موسیٰ خان او باز[1] په مشرئ کښے له مختلفو سمتونو نه حملے پر ے اوکړ ے او یو خونړ ے جنګ اونښتو۔ دُ ټوپکو دُ ویشتو نه خبره دُ چړو، نیزو تورو او سنګینو لاس په لاس جنګ ته اورسیده۔ لور په لور فریادونه او دُ وینو رودونه روان شول او دغه خونړئ نښته دُ ۱۹ دسمبر نه تر ۲۱/ دسمبر پر له پسے در ے ورځو پور ے اوږده شوه۔

په د ے در ے ورځنئ جهګړه کښے په غازیانو باند ے یو خوا دُ آسمان دُ لوری نه جنګی طیارو بمونه مردکی ورول او بل خوا دُ سپینګی رغزی نه پر ے

عـلـ[1] ملک باز چه په بوزئ ئے شهرت لرلو، اسمٰعیل خیل عبدلائ محسود وو او دُ موسیٰ خان خیل وو۔

تو بو نو قیامت جوړ کړے وو ولے سره دَ دے دویٔ په داسے مړتوب او ثابت قدمیٔ سره جنګیدل چه فوځ ئے مخه اَونیوے شوه۔ او په درېمه ورځ ئے په مشکله سپینکی رغزی ته پستنه پښے ویستے۔ جنرل سکین دومره وارخطا وو چه هلته ئے هم فوځ ته حکم ورکړو چه میګزین غازیانو ته پریږدیٔ او تاسو جنډولے ته ځانونه اورسویٔ، ولے دغه وخت دَ مشهور مجاهد جګړ عبدالرحمان خیل محسود ورور ملک بالیم خان چه دَ دویٔ سره په کیمپ کښے موجود وو، جنرل سکین ته دا مشوره ورکړه چه:

"همدلته تم شیٔ، که تاسو بے شمیره سټ یئ نو غازیان هم دَ نور زیاتی جنګ توان نهٔ لری۔"

دَ ملک بالیم خان خبره جنرل سکین ته معقوله ښکاره شوه او تر هغے هلته پاتے شو، ترڅو چه دَ جنډولے نه ورپسے تازه دَم فوځ نهٔ وو رارسیدلے۔ کله چه تازه دَم فوځ راغلو نو هغه مخکښینے زیلے فوځ ئے واپس کړو۔

غازیان هم دَ خپلو وژلو ژوبلو او مال غنیمت په سنبالښت کښے خوارهٔ شول۔ دَ کُشت وخون په دغه لړزوونکی جنګ کښے دَ ۲۳ انګریزانو دَ قتل نه سِوا ۲۱۷۹ تنه فوځیان هلاک او ۱۴۵۶ تنه ژوبل شول۔ په مقابل کښے دَ غازیانو له خوا نه ۲۵۰ تنه شهیدان او ۳۰۰ زخمیان شول۔ غازیان که څخپلو تلفاتو هرڅو زهیر وو، ولے بل خوائے په غنیمت کښے په بے شمیره جنګی سامان، ۵۹۳ میله ټوپکو، ۱۰ لوئس ګنو، پریمانه راشن او نور مال ومتاع باندے هم قبضه کړے وه۔

دُ دے خونړۍ جھګړے دُ نتیجے په حقله دُ "ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه نمبر ۴۳ درج دی چه :

"مګر اخلاقی فتح دُ محسودو په نصیب شوه۔"

هم په دغه صفحه مخکښے دُ محسودو دُ بهادرۍ اعتراف په دے ټکو کښے کیږی :

"په دے هولناک جنګ کښے محسودو دُ تیغ وتفنګ دُ پوره استعمال یو شاندار مثال قائم کړو۔ خصوصاً هغه وخت دوی دُ زبردست شجاعت او استقامت مظاهره اوکړه، کله چه دغه شمشیر زن زمونږ په تعاقب کښے بغیر دُ څه تردد لکه دُ لیونو راخوشی وو او زمونږ سره لاس په لاس شخړه کښے اونښتل۔

دوی په داسے انداز کښے اوجنګیدل، چه هغه شان مخکښے کله هم نۀ وو جنګیدلی۔ دُ دوی حملے ډیرے منظمے او فعالے وے۔ شائید دا په دے وجه چه په دوی کښے دُ اعلیٰ تربیت یافته سابقه حوالداران او دُ ملیشے دُ سپاهیانو اکثریت وو۔"

دُ انزری تنګی جھګړه :

په ۲۹/ دسمبر ۱۹۱۹ء دُ سپینکی رغزی فوځ کوټکی ته مارچ شو۔ شمال جنوب پله ئے بنه محکم پیکټونه قائم کړل او تر ۷/ جنوری ۱۹۲۰ء پورے په کوټکی کښے پاتے شول۔

په ۲/ جنوری دُ سپینے غارے ورسکی خوا کښے غازیانو دُ دغے فوځ په یو پیکټ سحر دُ لګولو او بیګاه دُ پرېښودلو په وخت دوه حمله دومره

سختې حملې اوکړې، چه د فوځیانو څخه ئې ۳۵ تنه قتل او ۹۵ تنه سخت ژوبل کړل. د بده مرغه په مقابل کښې د غازیانو له خوا نه هم ۷ تنه ځوانان شهیدان او ګڼ ژوبل شول.

په ۵/ جنوري غازیانو یو ځل بیا په دغه پیکټ د زړه له سویه داسې حمله اوکړه، چه د سترګو په رپ کښې ئې ترې نه ۴۸ کسان قتل او څلور سوه زخمیان کړل. د وزیرستان توریالو ځوانانو که هر څو د فیرنګي مرئ تربته کړې وه او ساه آخستو ته ئې نه پریښودلو، ولې بیا هم هغه په وزیرستان باندې د مکمل قبضې لګولو خوب نه لیدل. په دې موقع ئې هم د وزیرو محسودو یوه لویه جرګه رااوبلله او جنرل سکین ورته د دوئ په علاقه کښې د سړکونو، پوستونو او کیمپونو د تعمیر مقله خپل پروګرام واورولو، ولې وزیرو محسودو د دغه پروګرام ته غاړه کیښنبوده او ډیر سخت ځواب ئې ورکړو. جنرل سکین په دې تاؤ اوخوړو او د کوټکي د کیمپ نه ئې د سراروغه په لور په محسودو پسې ملا اوتړله.

سراروغه ته د انړي تنګي په لړمون کښې لار تیریږي. انړې تنګې د غرونو په مینځ کښې یو تنګ ځائې دې چه اتیا ګزه اوږد، دوا لړی او دیرش ګزه پلن والې او په دواړو غاړو ۱۵۰ فټه دنګې غرنیزې پوزې لري.

په دې شپو ورځو کښې په وزیرستان کښې سړکونه نه وو، فوځونه به په خوړو، الګړو او کڅکو کښې تلل راتلل او ځان ته به ئې لارې کودرې سمولې. اګرچه غازیان د سپینکي رغزي او ترکئ جهګړو نه لا په خود

نه وو او دُ سخت ساړه او برله پسې واوړو پر یو تو نه زښت ډېر دمه شوی وو او لوږې تندې کمزوري کړي وو، ولې بیا هم دُ ملا فضل دین او ملک موسیٰ خان په مشرۍ کښې دُ انړي تنګي په پرشو کښې دُ فوځ په انتظار کښې چمتو ناست وو.

کله چه فوځ پرې وربرابر شو، نو غازیانو بارونه پرې راباندې کړل. جنرل سکین هوښیار وو، چه دُ حالاتو نزاکت ته ئې او کتل نو دُ پسپا کیدو حکم ئې ورکړو، ولې عین په هغه وخت غازیانو حمله پرې راوړه. او لس تنه سپایان ئې قتل او ۴۳ تنه ټپیان کړل. په مقابل کښې دُ غازیانو له خوا نه دیرش نفره په شهادت اورسیدل.

دُ غازیانو دغه لشکر تر ۹/ جنوري پورې دریو زرو ته اورسیدو. فوځ چه دُ انړي تنګي نه پسته شو نو دُ کوټکۍ نه ئې دوه میله قطب پله کیمپ او لګولو او یو څو دستې په زیړي وام (ZERIWAM) باندې دُ چوکۍ جوړولو په نیت مخ په وړاندې تیرې شولې.

غازیانو دُ زیړي وام په دغه چوکۍ هم حمله اوکړه او فوځیان ئې په شا کوټکۍ کیمپ ته او پرول او په ترپ ترپ کښې ئې ۱۸ تنه هلاک او ۱۴۲ تنه سخت ټپیان کړل. په ۲۰/ جنوري یو ځل بیا دُ دې پیکټ دُ جوړولو کوشش اوکړې شو ولې دا ځل لاسم فوځیان وررسیدلی نه وو چه توریالو غازیانو برید پرې اوکړو او په شا ئې کوټکۍ کیمپ ته اوزغلول. په دې موقع هم دُ فوځیانو نه ۲۵ تنه قتل او ۳۸۴ تنه زخمیان شول او دُ غازیانو دُ لورې نه ۷۴ تنه شهیدان او ګڼ ټپیان شول.

فیرنگی درے کرته دٔ انړي تنګی نه دٔ تیریدو هڅه اوکړه، ولے هره پیره دٔ ناکامئ سره مخامخ شو- آخر جنرل سکین دا فیصله اوکړه چه دٔ تنګی نه پټ په پټه دٔ شپے تیر شی -

په ۱۱/ جنوری دٔ شپے په دریو بجو فوځ پیشقدمی شروع کړه- صبا تر یوولسو بجو پورے ئے دٔ تنګی دواړه مورچے قابو کړے او سکیټونه ئے پرے اولګول - فوځ که هر څو پټ په پټه په انړی تنګی قبضه اوکړه هم خو یو څو بیدارو غازیانو ترے نه ۱۷ تنه سټ او ۲۸ تنه ژوبل کړل. صبا سحر چه نمر ستر ګه وهله نو دٔ فوځ په ملاتړ کښے جنګی طیارے هم راوړسیدے او په الکړو پالو ئے غوټے شروع کړے- په دغه ورځ چه تنګے قبضه شو او پیکټونه پرے اولګیدل، نو باقی فوځ بیا پسته دٔ کوټکی او زیړی وام (انړي تنګی) کیمپونو ته لاړو- په ۱۴/ جنوری چه څینے فوځ دٔ انړي تنګی نه تیر شو او څینے لا پاتے وو، نو غازیانو حمله پرے اوکړه- ډیره سخته جهګړه اونښته- فوځیان او غازیان وبله لاس په لاس ورغلل- په چړو او سنګینو وهل شروع شول او داسے خونړئ جهګړه اوشوه، چه دٔ فیرنګی پیشقدمی په ځائے پاتے شوه او دٔ اساخان (ASA KHAN) په خوا کښے ئے دٔ رود په کڅ کښے کیمپ اولګولو- دٔ کیمپ دٔ زغښتے دپاره فوځ چه په خواجک غونډئ باندے پیکټ قائم کړو، نو په دے پیکټ باندے هم غازیانو دومره شدیده حمله اوکړه، چه یو تر بله په چړو سنګینو وهلو نه علاوه یو په بل دستی بمونه غورځول او سنګباری هم شروع شوه - په دغه ورځ په غازیانو باندے جنګی طیارو هم سخت

قیامت جوړ کړے وو - دُ درنو درنو بمونو له زوره په فضا کښے دومره خاوڑے اوچتے شوے وے، چه دوه گوتے په نظر نه راتلے - په دے گرد و غبار او گړزهار کښے یو څو باتورانو په طیارو باندے شیش برابر کړو، او دُ رومبو دزو سره ئے دوه طیارے بنکته راوغورځولے او دریمه ئے داسے بده بده اوویشتله، چه دُ یو څو غوپو خوړلو نه پس هغه هم دُ شونړه دُ سیمے په ډگر کښے پریوتله -

په دے ورځ دُ فیرنگی له خوانه ۲۵۰ تنه هلاک او ۶۰۰ تنه ژوبل شول - دُ دے نه علاوه نهه کسان فیرنگیان هم اوو‌ژلے شول - چه مشهور په کښے لیفتیننټ کرنل جے - ډی - کراوډی (CROWDY) او لفتیننټ کرنل چیمبرلین وو -

دُ انړی تنگی جهګړے په حقله سر اولف کیرو په "دی پټهان" کښے لیکی چه :

"په دغه پنځه ورځنی جهګړه کښے دوه زره سپاهیان هلاک زخمی یا ورک شوی وو، چه په هغے کښے ۳۴ تنه قتل شوی افسران هم شامل وو -"

دُ ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" او "هسټری آف انډین ارټیلری" په مطابق په دے جهګړه کښے دُ فوځی مقتولینو شمیر ۶۰۳ او مجروحینو ۱۶۸۳ ښودلے شوے دے - او ۹ کسان قتل شوی انګریزان ښودلی شوی دی - په ملټری رپورټ آن وزیرستان ۱۹۳۵ء" کښے دُ شهیدانو شمیر ۳۶۷ ښودلے شوے دے او په "فرسټ پنجاب رجمنټ" کښے

ابراهیم ۲۰۰م بنود لے دے۔

په دے جهګړه کښے غازیانو ته ۲۰۰ میله ټوپک، یو شمیر تورے، نیزے او پریمانه خوراکی مواد په لاس ورغلی وو۔

اګرچه په دے خونړی جنګ کښے دَ غازیانو سره کافی ټوپک موجود وو، ولے تردغه وخته پورے دَ لاس په لاس جنګ کښے تورے نیزے هم استعمالیدلے او یوه زبردسته وسله ګڼړلے شوه۔ چونکه دَ دواړو لوریو څخه بے دریغه جانی تلفات واقع شوی وو په دے وجه غازیان دَ څو ورځو دپاره خوارۀ شول او دَ خپلو مړو ژوبلو په بند وبست کښے اخته شول۔

فیرنګی ته دغه وقفه ګټوره ثابته شوه او په ۱۸/ جنورئ فوځ په مزه مزه مخکښے تیرشو او دَ سرارو غه په دګری کښے ئے کیمپ اولګولو او تر ۲۸/ جنورئ پورے هلته میشته شو۔ پوره دمه ئے اوکړه او په قلار قلار ئے خپل ریزرو فوځ راغونډ کړو، مګر په دے دوران کښے هم ځینو غازیانو یو څو مړی ژوبلی ترے نه اوکړل۔

دَ برورۀ تنګی جهګړه :

دَ انړی تنګی په جهګړو کښے دَ وزیرو، محسودو او بیټنو خلقو څخه ډیر مړی ژوبلی شوی وو او زښت ستومانه شوی وو۔ داحل دوئ دَ نورو علاقو په غازیانو پسے هم دَ معاونت دپاره لورینی اولیږل او لوردَ لوری نه لشکرے ورروانے شوے۔ دَ داوړو او بنوڅو سره په دے کښے دَ افغانستان دَ خوست دوه مشهور توریالی مجاهدین لالا پیر او حاجی

عبدالرزاق[ع۱] هم شامل وو، کوموچه دَ یولوئے لشکر قیادت کولو او کَنره وَسله او توپونه ورسره وو۔

په بل لوری دَ افغانستان یو بل تورزن او ننګیالے ځوان بریګیډیر شاه دوله هم په واَنا کښے سره دَ خپل فوځ میشته وو۔ دَ احمدزو وزیرو لشکر به ئے راغونډولو او دَ غازیانو سره به ئے دَ دارو مردکو او خپلو دوؤ توپونو ورکولو قولونه کول۔

دَ لالا پیر او حاجی عبدالرزاق په راتګ دَ شاه دوله دَ امداد او دَ ملا فضل دین او ملک موسیٰ خان په بلنه دَ غازیانو دَ دروند لشکر تیار شو او دَ بروړه تنګی په سیمه کښے میشته شو۔ دغه لشکر دَ انړی تنګی لشکر په نسبت بنه قوی او منظم وو۔ دَ ۲۳/ جنوری سنه ۱۹۲۰ء په تکه توره شپه کښے دَ سرارو غنه نه نیم فوځ مارچ شو او دَ دغے فوځ یو سے پهلے چه دَ تانګ زام په بنیٔ مورګه بروړه تنګی ته نزدے دَ سرکی غره په سر پیکټ نګولو، نو غازیانو حمله پرے اوکړه۔ دَ یو سے شپے تاوده جهګړے نه پس ئے ۴۰ تنه فوځیان قتل او ۶۳ تنه ژوبل کړل۔

دَ فوځ سره جنګی طیارو هم معاونت کولو او په روهبی ځل دَ سرارو غه په نوی ایر پورټ باندے طیارے کښینولے شوے۔ په ۲۵/ جنوری فوځ دَ بروړه تنګی په کیڼه مورګه دَ کرکنړیٔ په ورسکی باندے هم پیکټ اونګولو، و لے دلته هم غازیانو ورسره سخته مقابله اوکړه او

---

ع۱ جید عالم دین وو او دَ افغانستان په اولسی او حکومتی چارو کښے ئے فعال رول لوبولو۔

تقریباً ۶۰ تنه ئے قتل او ۳۵ تنه مرګوني کړل - خو د دے باوجود فوځ د بروړه تنګی دواړه غاړے قبضه کړے - په ۲۸ / جنوری سحر په پنځ نیمو بجو د سرار وغه کیمپ نه یوه بله فوځی ډله اووته او د تنګی مینځ ئے قابو کړو - دلته د بروړه تنګی الګړه ے او د ټانک زام جنکشن دے - او س باقی فوځ د بروړه تنګی په لار مارچ شو -

په دے فوځ باندے توریالو غازیانو حمله اوکړه - سخته جهګړه اوشوه او د فیرنګی د لوری نه ۹۷ تنه قتل او ۱۶۲ تنه ټپیان شول - کوم فوځ چه د تنګی نه وتلے وو، هغے په احمد وام کښے کیمپ اولګولو او کوم چه لا پاتے وو، هغه په شا سرار وغه ته مات شو - په دے کښے ګڼړ بارګیر څناور هم شامل وو - په ۲۹ / جنوری په هغو ټولو ځایونو باندے کوم چه فیرنګی بله ورځنی قابو کړی وو، پیکټونه جوړ کړے شول - په دغه ورځ د شاه دوله توپونو په فیرنګی برله پسے غوندارې ورول، او فوځ ئے مخکښے تګ ته نه پریښودلو - د احمد وام په سیمه کښے چه د غازیانو کوم لشکر راغونډ وو، د هغے شمیر تقریباً څلور زره وو او کافی وسله ورسره وه - په دے کښے تقریباً ۱۶۰۰ د وانا احمدزئ وزیر وو چه دوه توپونه هم ورسره وو -

فیرنګی چه د سرار وغه نه قطب پله سیمه کښے ګڼړو اونو بوټو، کنډو کپرو او پالو الګړه وته اوکتل، په کوم چه غازیان له اول نه محفوظه مورچه شوی وو - نو د پرمخ تګ مخه ئے اونه لیده - جنرل سکین دلته هم د انزړی تنګی اټکل اوکړو او د شپے تګ ئے غوره اوګڼړلو - د فروری

دَ میاشتے په رومبیٔ نیټه چه دَ شپے سپور.مئ پریوته نو دَ پاؤ باندے دریو بجو نه فوځ پیشقدمی شروع کړه - صباچه غازیان خبر یدل فوځ دوه میله مخکښے تلے وو۔

غازیان ډیر خوابدی شول ، ولے بیا هم له یو خوا نه دَ شاه دوله دوؤ توپونو گوله باری پرے شروع کړه او له بلے ډډے نه توپکو باړونه پرے راباندے کړل او دَ یو څو گهرو تاؤدے جهګړے نه پسته ئے ترے نه ۷۵ کسان قتل او ۹۷ تنه زخمیان کړل - بلخوا دَ فوځ دَ حفاظت د پاره چه کومے جنګی طیارے ګرځیدلے ، د هغو دلاسه ۳۷ تنه مجاهدین شهدان ۹۳ ډک ډوک کورونه وبجاړ او په غیلو غیلو ښاروی مره کړی شول -

دَ زیات بادو باران ، واؤرو ، یخنئ او کرنګونو له کبله غازیان تهینګ نهٔ شول او له مجبورئ نه لشکر خور شو - فیرنګے هم لږ ساه صورت شو ولے دَ موسم دَ ناخوشګوارئ له جهته هم هلته تم شو - دَ ۴ - ۵ / فرورئ شپه ئے په جنجال اوکړه او بله ورځ ئے په پیازه رغزی کیمپ اولګولو - دلته تر ۱۴ / فرورئ پورے پاتے شو - کله به ئے یو خوا بلخوا کلی کورونه ورانول او کله به ئے پیکټونه سرکونه او لارے ګودرے جوړولے -

دَ کوټکی واقعه :

په ۱۳ / فروری ۱۹۲۰ء دَ فوځ یوے ډلے د کوټکی په کلی کښے دَ یو کور ماڼئ په زبردستئ قبضه کړے وه او دَ پیکټ په طور ئے استعمالوله په دے شپو ورځو کښے دَ پرله پسے بارانونو او واؤرو له کبله دَ کورونو دیوالونه او چهتونه یخی خوړین شوی وو - بله دا چه دَ ماڼئ په چهت

باندے فوځیانو دَ شګوړکے بوجئ هم دلئ کړے وے او چهٹ نے زښت دروند کړے وو۔ لږه شیبه پسته چهٹ پریوتو او فوځیان ورلاندے شول۔ دَ خاوُرو او کاکش لرے کولو نه پس ۱۵ تنه مړه او ۷ تنه زخمیان رابرخیره شول۔

دَ محسودو په سیمه یرغل:

جنرل سکین چه دا اولیده چه دَ غازیانو لشکر منتشر شو نو بوځل ئے بیا دَ محسودو یو جرګے ته دیکه ورکړه چه "ترڅو پورے مونږ ته مسروقه ټوپک بیرته راوُړی نهٔ وی، جریمه مو داخله کړے نهٔ وی او دَ مکین او کانی ګرم په سر مومزید دَ دوؤ دوؤ سوو انګریزی ټوپکو جرمانه تحویله کړے نهٔ وی، ترهغه به حکومت تاسو معاف نهٔ کړی او ستاسو په علاقه کښے به بدستور ناتار جاری لری"۔ دَ دے نه پسته یو خوا دهٔ دَ خپلو شرطونو دَ تعمیل بحقله محسودو ته زمنه ورکړه او بلخوا ئے په فوځ کښے اضافه اوکړه، او زبردست جنګی ترتیبات ئے اونیول۔

محسودو دَ جنرل سکین شرطونه اونهٔ منل او په نتیجه کښے دهٔ په ۱۵/ فروری ۱۹۲۰ء دَ مشهور مجاهد ملا پاوندہ کلی مروبی باندے دَ ښپے چپاوُ ورووړو۔ هرڅه ئے لټ په لټ واړول او بیا ئے دَ کلی سره نزدے کیمپ اولګولو او پیکټونه ئے قائم کړل۔ په دے موقع غازیان نهٔ وو، خود کلی خلقو ورسره څه نه څه مقابله اوکړه او ۳۴ تنه مړی ژوبلی ئے ترے نه اوکړل۔

شهزاده فضل دین دَ فروری په هم دغه روانه میاشت کښے احتیاطاً

دُخپل پلار ملا پاوندہ قبر سپړلے وو او دُده مړے ئے وُچوام ته اوړے وو او دُ منئ هم الګړے په سر کېښے ئے زمکے ته امانت ورکړے وو۔ په دویمه ورځ دغه فوځ تاؤدے چینے پله پیشقدمی اوکړه۔ دُ تاؤدے چینے رغزے دُ مکین نه دوه میله لرے دے۔ دلته هم دوئ پیکټونه قائم کړل، خو دُ کلیو خلقو نه په آرام پاتے نه شول۔ دُ ۱۹ - ۲۰ / فروری په شپه دغه فوځ دُ مکین په سیمه وراوختو او زبشته تباهی ئے اوکړه۔ ۱۶۰ کورونه ئے اوسیزل او سل دنګے دنګے ماڼړئ ئے مسمار کړے۔ په مقابل کښے دُ فوځ څخه ۶۸ تنه هلاک او ۳۸ تنه مرګونی شول۔ دُ بده مرغه په دغه ورځ دُ مکین دُ سیمے نامتو مجاهد زارخان هم سره دُ خپلو یو څو ملګرو په شهادت اورسید لو۔

په ۲۰ / فروری باندے دغے فوځ جنوب مغرب پله دُ دارا تو ئے په کلیو یرغل کړو۔ غازیان هم ورمته شول۔ کلکه مقابله ئے ورسره اوکړه۔ ۳۶ تنه ئے قتل او ۷۰ تنه ئے سخت زخمیان کړل۔ فوځ دُ ډیروا لی له کبله بریالے شو او ۱۷ ماڼړئ او ۱۶۰ کورونه ئے رنګ کړل۔

په ۲۱ / فروری باندے فوځ یو ځل بیا دُ غازیانو دُ ینی غالی ځائے مرزو سبی باندے یرغل اوکړو او لوټے لوټے ئے کړو۔ دُ مکین په سیمه کښے مزید نورے ماڼړئ هم اونړولے شوے او مجموعی طور ۵۱ ماڼړئ او ۲۵۰ کورونه وران کړے شول۔ په یکم مارچ باندے دغه فوځ دُ جنګی طیارو په مدد سره دُ مکین نه اووتو، خو په تلوتلو کښے غازیانو ترے نه ۱۲ تنه سپایان مړه او ۶ تنه ژوندی اونیول۔

دَ مکین فوځ په دوه تو نے باندے کیمپ اولګولو - په ۲۹ / فروری دَ کانی ګرم ځینو ملکانانو په دے نیت چه کانی ګرم دَ فیرنګی دیلغار نه بچ کړی ، جنرل سکین ته دَ تاوَدے ځینې په مقام ۱۰۳ انګریزی توپک او ۲۴۰۰ نغدے روپئ پیش کړے - خو دغه هرڅه دَ مطلوبه تعداد نه کم وو بلکه توپک خو اکثر بیخی ناکاره وو - په دے وجه فیرنګی دوئ ته اووئیل چه فوځ به ارومرو په کانی ګرم ورخیژی -

دغسے په ۲ / مارچ فوځ روم بے تر بدر تو ئے پورے پکتونه جوړ کړل او بیائے په ۳ / مارچ پیشقدمی شروع کړه - په دے موقع غازیان ډیر کم وو او دَ فوځ مزاحمت ئے اونه کړے شو - فوځ دَ مټ په زور ځان اورسیتو او په لدها باندے ئے کیمپ اولګولو ، خو په تلو تلو کښے غازیانو بیا هم یو شمیر مړی ژوبلی تر ے نه اوکړل -

په ۶ / مارچ ځینے فوځ په لدها کښے پاتے شو او ځینے دَ کانی ګرم په طرف مارچ شو او دَ کانی ګرم نه ئے نیم میل لرے مشرق پله کیمپ قائم کړو - په دغه موقع هم غازیانو ورسره زبردسته ډغره اووهله او ۸۳ تنه مړی ژوبلی ئے تر ے نه اوکړل -

دَ فیرنګی دغه فوځ په کانی ګرم کښے تر یو ے میاشتے پورے پاتے شو او خلقو څه مات ګوډ توپک ورکړل او دَ کانی ګرم سیمه ئے تر ے نه بچ کړه - اوس دغه فوځ په ۶ / اپریل دَ بربدر په سیمه ورا وختو او ډیر کورونه او ګڼ شمیر مانړئ ئے تباه کړے - دغه مانړئ او کورونه اکثر دَ ناناسیلی ( NANA TSILAI ) او سینے تیږه ( SINE TIZHA ) په کلیو کښے وو - فیرنګی دَ

ناناسیلی په مقام کیمپ اولګولو- بله ورځ ګیګاخیلو پله پیشقدمی اوشوه- او دُعبدالرحمان خیلو په آبادئ باندے ئے یلغار اوکړو- دلته په فوځ باندے دُغازیانو یو ټولګی برید اوکړو او دُ ټکه ئے ۵۳ تنه هلاک او ۲۹ تنه ژوبل کړل-

دا غازیان دُ شکی احمدزئ وزیر وو- په ۸/ اپریل دغه فوځ واپس کانی ګرم ته روان شو- او دُ بدرتوئے خواته پرے غازیانو بیا برید اوکړو او دُیو ے اوږدے اوشدیدے جهګړے نه پسته ئے ۲۷ تنه قتل او ۴۲ تنه زخمیان کړل- دُ دغے مهم په دوران کښے یو خوا فیرنګی دُ کانی ګرم نه ترلدهے پورے دُ لاریو د تګ قابل سړک تعمیر کړو او بلخوا ئے دُ برطانوی حکومت دُ هدایاتو په مطابق په لدها باندے دُ مستقل طور فوځ میشته کولو دپاره لوئے کیمپ اولګولو-

له دے نه پرته په پاړه رغزی، سراروغه او ټانک باندے هم فوځونه میشته شول-

## په مکین ګوله باری :

فروری سنه ۱۹۲۰ء کښے په محسودو باندے دُبرله پسے تاخت وباخت نه پس دُ فیرنګی دا خیال وو، چه اوس به محسود قام خصوصاً دُ مکین او سیدو نکی دُ سرکار په خلاف معاندانه رویه پریږدی، ولے دُ افغانستان بریګیډیئر شاه دوله او حاجی عبدالرزاق لاترجنوری سنه ۱۹۲۱ء پورے په وانا کښے میشته وو او وزیر و محسود به ئے دُ حکومت په خلاف لمسول- فیرنګی به که هر څو وسونه پرے کول خو عبدالائی، عبدالرحمان خیل، جلال خیل او بند خیل

محسودنه په قلاریدل او هم هغسې به ئې خپلې مخاصمانه سرگرمئ جاری ساتلې او دلدهې او پیارشې ترمینځه به ئې واردات ونه کول - فیرنګی بوځل بیا په ۱۰/ جولائی سنه ۱۹۲۰ء فوځ ورخوځې کړو او په مکین او دمکین په مضافاتو باندې ئې شدیده ګوله باری اوکړه، ولې کله چه دغه فوځ بیرته ستنیدو نو محسودو غازیانو هم داسې زورداره حمله پرې اوکړه چه په لږ ساعت کښې ئې ۶۳ تنه قتل او ۱۴ تنه سخت ژوبل کړل.

## دزام برج جهګړه:

دفیرنګی په خلاف دتیرو هلوځلو نه وروستو محسودو غازیانو ترڅه وخته پورې سکوت اوخوړو او دهرڅه نه ئې لاس اونیول، ولې ناڅاپه دکال سنه ۱۹۲۰ء په خزان کښې یوځل بیا راپورته شول او په فیرنګی ئې حملې شروع کړې.

دزام برج جهګړه هم ددغو هلوځلو یوه کړئ ده. برج زام یا زام برج دفرنټیر کنسټبلرئ یو ورکوټې غونډې پوسته وه، چه دخوړه رود په بنئ غاړه آباده وه. دغه ځائې ددراڼن نه مغرب پله اته میله او ددرازنده نه مشرق پله څلور میله پرتاؤ لری. هم په دغه مقام باندې غازیانو په ۱۱/ ستمبر سنه ۱۹۲۰ء دایف سی په یوه دسته داسې خوفناکه حمله اوکړه، چه دسپاهیانو څخه ئې یو دوه خطا کړل او دسترګو په رپ کښې پنځلس تنه سپاهیان، دولس تنه ژوبل او دوه نفر ژوندی اونیولې شول - دایف سی بلې ډلې ته چه پته اولګیده نو چغه ئې پسې رااوکړه - غازیانو هغه هم راګیره کړه او ۳۸ تنه ئې سپاهیان درغږئ کړل

او څلويښت ميله ئے توپک ترے ټولجه کړل۔

## دَکوړ بريج جهګړه :

کوړ بريج دَ ټانک نه جنوب مغرب پله په ۱۱/ ميله فاصله باندے دَکوړ په سيمه کښے يو پُل دے، چه دَ هغے په خواوشا کښے دَ فيرنګي يو لوئے کيمپ لګيدلے وو، او په زرګونه سپاهيان او افسران په کښے اوسيدل۔

دَ اکتوبر سنه ۱۹۲۰ء په ۲۱-۲۲ شپه چه دَ کيمپ خلق دَ ديوالئ[ع۱] په خوشحالئ کښے مشغول وو، تقريباً شپږ وشلو غازيانو حمله پرے اوکړه۔ دغه حمله داسے اوشوه چه سائين خان نومي يو سرکاري ملازم، چه په قوم زلي خيل احمدزئ وزير وو، غازيانو ته روميے خرکني اوکړه او بيا دَ ده په اشاره دَ کيمپ په لوئے ګيټ ورننوتل۔ روميے ئے دَ ټيليفون تارونه پرے کړل، چه هسے نه څوک ټانک يا منزئ ته اطلاع تيره کړي، بيا دَ افسرانو په مِس او دَ هندوانو سيکانو او ډوګره ګانو په ټولګيو ورګډ شول۔ په کيمپ کښے يوه اندوهناکه چغه پغه اولګيده۔ غازيانو په شرابو، جوارئ او نورو فضولياتو کښے چور دَ ډيرو کافرانو ګوګلونه په مردکو غلبيل کړل۔ دَ يو څو ګهړو دست بدست جنګ نه پسته په کيمپ کښے دننه ۳۸ تنه هلاک او ۴۰ تنه ژوبل شول، چه په هغے کښے درے تنه وژلي او درے تنه ژوبلي انګريزان هم شامل وو۔ له دے نه پرته غازيانو ته ۱۲۶ ميله توپک، ګنړ اسونه، خچرے او اوښان هم په لاس ورغلل۔

---

ع۱ دَ هندوانو يو مذهبي تهوار۔

چونکه په دغه خونریزه شبخون کښې اکثر د وانا احمدزئ وزیر شامل وو۔ نو فیرنګي په دوئ باندې ځلویښت زره روپئ نغدې او ۲۵۰ میله قبائلي ساخت بوړی (۳۰۳) ټوپک جرمانه اولګوله او سمدستي ئې ترې نه وصول کړه، ولې په احمدزو وزیرو باندې دغو جریمو څه خاص اثر اونهٔ کړې شو او څو ورځې پس ئې هم هلته بیا د انګورخان (افغان اعزازي فرقه مشر) او رحیم دادخان په مشرئ کښې په سرکاري موټر بریداوکړو درې تنه ئې فیرنګیان اووژل او درې تنه نور فوځي منصبداران۔ او د دوئ تماچې او نور سازوسامان ئې لوټ کړو او موټر ته ئې اور ورته کړو۔

د لدهې په پیکټ برید:

په ۵/ نومبر سنه ۱۹۲۰ء غازیانو د لدهې په سیمه کښې د فوځ په یو پیکټ برید اوکړو او له تمکه ئې ۱۶ تنه قتل او ۱۱ تنه ژوبل کړل، چه په هغې کښې هم درې تنه مړهٔ او درې تنه پرهرژلي انګریزان شامل وو۔

د دې نه علاوه هم په دغه میاشت کښې د جنوري او سراروغه په سیمه کښې غازیانو په مختلفو بریدونو کښې د فوځ نه ۱۲۳ تنه سپاهیان قتل کړل او ۶۳ بیده اوښان ئې ولجه کړل۔ په دې پسې جوخت د دسمبر په میاشت کښې غازیانو تقریباً په ۱۳ معمولي بریدونو کښې د فیرنګي نه ۱۱۵ تنه سپاهیان او ۶۴ بیدهٔ اوښان ژوبل کړل۔

د وانا په وزیرو نا اثار:

په محسودو باندې د فوځ کشئ په دوران کښې فیرنګي دومره طاقت نهٔ درلود، چه د وانا احمدزو وزیرو ته ئې هم سزا ورکړې وې خو په

زرهٔ زرهٔ کښې به ورته ضرور خوږیدی۹ ، ولې چه دَ محسودو سره دَ دوی مرسته او بخپله خاوره کښې دَ افغان بریګیډیر شاه دوله پر یښودل دَ فیرنګی نه پټ نهٔ وو۔

چنانچه فیرنګی په ۱۰/ اکتوبر سنهٔ ۱۹۲۰ء دَ وزیرو یوه لویه جرګه مرتضیٰ ته راوبلله او لاندینی احکام ئې ورته واورول۔ چه

"تاسو به په جرمانه کښې څلویښت زره نغدې روپیئ او دوه نیم سوه میله ټوپک حکومت ته داخلوئ۔ دَ مئ سنهٔ ۱۹۲۰ء تریکم تاریخ پورې به دَ فوځ نه اوړی شوی ټول ټوپک بیرته راوړئ او دَ پرامن اوسیدو په ضمانت کښې به حکومت ته مزید شل زره نغدې روپیئ او درې سوه میله ټوپک تحویلوئ۔"

له دې نه پرته په ۱۰/ نومبر دَ مُرتضیٰ په مقام په یوه بله جرګه کښې په وزیرو باندې دَ دوؤ سوو قبائلی ساخت ټوپکو مزید جرمانه ولګولې شوه۔ دا شرط هم ورسره وو چه که چرې وزیرو دَ فیرنګی د احکامو تعمیل اونهٔ کړې شو نو دَ دوئ په خلاف به سخت اقدام کولې شی۔ دَ وزیرو اکثر مشران قصداً نهٔ خو په دې جرګه کښې شامل شوی وو او نهٔ ئې دَ فیرنګی احکامو ته غاړه کیښوده۔

فیرنګی چه پوهه شو چه وزیر دَ ویریدو نهٔ دی، نو دَ نومبر سنهٔ ۱۹۲۰ء په ۱۱/ تاریخ ئې دَ وزیرو په هغو ټولو کلیو بمباری اوکړه، کوم چه دَ حاجی عبدالرزاق سره زیات تعاون کولو۔ دَ دې نه پس په ۱۲/ نومبر فوځ هم په حرکت کښې راغلو او دَ جنډولې نه دَ شهور تنګی په لار مارچ شو او

په ۱۸/ نومبر سروکي ته اورسيدو۔

په سروکي کښې دَ حاجي عبدالرزاق فوځ لا ميشته وو، خو دَ لړوالی له جهت هغه اووتو او دَ فيرنګي فوځ په کښې ډيره واچوله۔ دا فوځ تر ډيرو ورځو هلته پاتې شو۔ په ۱۵/ دسمبر دَ وزيرو مشرانو فيرنګي ته ۲۲،۴۰۶/- نغدې روپئ، ۱۵۱ ميله اصلي توپک او ۶۷ ميله قبائلي ساخت توپک راوړل۔ خو فيرنګي قبول نۀ کړل، ولې چه دغه هرڅه دَ مطلوبه تعداد نه کم وو۔ چنانچه په ۱۶/ دسمبر دَ سروکي ځنځه په نيم نه زيات فوځ بيا روان شو او په ۲۲/ دسمبر وانا ته اورسيدو او دَ احمدزي وزيرو ناکه بندي ئې اوکړه، ولې په دې دوران کښې دَ دوئ نه هم په تلو تلو کښې ۶۳ تنه مړي ژوبلي اوشول۔

## ګړوړ بريدونه :

وانا کښې چه فوځ کيمپ اولګولو نو دَ غازيانو وړو وړو ټولګيو دَ فوځ په ګشتونو او پيکټونو باندې يرغلونه شروع کړل او فيرنګي ئې دَ ژبسي ستونځې سره مخامخ کړو۔

په ۶/ مارچ سنه ۱۹۲۱ء دَ سروکي دَ سيمې مريزسر باندې غازيانو دَ فوځ په يوه ډله بريد اوکړو۔ ۲۷ تنه ئې اووژل او ۲۴ تنه سخت ژوبل۔

څو ورځې پس په ۱۴/ مارچ دَ غازيانو يوې بلې ډلې دَ روغه کوټ په سيمه کښې په يوه سرکاري کانوائ حمله اوکړه او ۵۷ تنه ئې ترې نه قتل کړل۔ دَ دې نه علاوه ئې يوشمير اوښان او خچرې هم ژوبلې کړې۔

په مقابل کښې فيرنګي هم دَ وانا دَ وزيرو کورونه ماڼړئ او بې حسابه

جایدادونه تباه کړل۔

آخر دَ مارچ په ۱۵ نیټه وزیرو فیرنگی ته ۴۰،۸۳۱/- نغدے روپئ ۱۹۵ میله قبائلی ساخت ټوپک او ۱۳۳ میله ولایتی ساخت ټوپک تحویل کړل۔ فیرنگی چه لاس روغ کړو، نو په وانا، شهور تنگی او سروکئ کښے ئے مستقل طور دَ فوځ دَ میشته کولو فیصله اوکړه۔

په قوائے کارو حملے :

دَ انگریزانو په نزد کال سنه ۱۹۲۱ء ډیر سپیره او منحوس گنړلے شو۔ هره ورځ به جنگ جهگړے، بریدونه او ډزه ډوزه وه۔ یو خوا دَ وزیرستان اولس بخپله دَ اسلامی جوش او ملی ننگ له رویه سکرو ته ووا و بلخوا دَ افغانستان دَ افسرانو ترغیب او کمک پرے لا دَ تیلو کار کولو۔ چنانچه په ۱۴/ جنوری سنه ۱۹۲۱ء غازیانو دَ جنډولے خوا ته نزدے دَ سړک په قوائے کارو حمله اوکړه او ۱۵۲ تنه مړی ژوبلی ئے ترے نه اوکړل۔ هم په دغه ۱۴/ جنوری دَ غازیانو بلے ډلے دَ سرا روغه په خوا وشا کښے دَ سړک په نورو قوائے کارو باندے برید اوکړو او له تکه ئے ۴۷ تنه مړی ژوبلی ترے نه اوکړل۔

دَ دے نه علاوه دَ جنوری په میاشت کښے دَ لدهے په سیمه ۱۷ او په فروری کښے ۱۸ حملے اوشوے۔ په دغو حملو کښے دَ فیرنگی دَ لوری نه ۳۳۹ تنه هلاک او ۴۱۳ تنه ژوبل شول او دَ غازیانو له خوا نه اتیا تنه په شهادت اورسیدل۔ په ۲۰/ مارچ دَ منزئ او خیرجی ترمینځه تقریباً سل تنه غازیان راغونډ شول او په یوه سرکاری کانوائ ئے حمله اوکړه۔ ۹ تنه سپاهیان ئے قتل او ۵ تنه سخت ژوبل کړل۔ غازیانو ۵۰ بیده

اُوبنان هم ولجه کړل۔

په ۲۴/ مارچ غازیانو دَ پیاړه رغزی سره جوخت دَفوځ په یوه دسته برید اوکړو۔ سخته جهګړه اوشوه۔ او دَ فیرنګی دَلوری نه ۷۴ تنه قتل او ۳۴ تنه ژوبل شول۔

فیرنګے په دغسے تشویشناکو حالاتو زښت دلګیر شو او له ډیره قهره نے دَ ۲۸/ نه تر ۳۰/ مارچ پورے پرله پسے درے ورځے په مکین بمباری اوکړله۔

دَ وانا په سیمه کښے چه کوم فوځ میشته وو، په هغے به هم اکثر غازیانو بارونه چلول او تاوان به ئے ورته رسولو۔ خصوصاً اوبنان اُسونه اوخچرے به ئے ترے نه خښتول۔ دَ اپریل په میاشت کښے دَلدهے په سیمه کښے هم وارداتونه زیات شول۔ او یوځل بیا فیرنګی بمباری پرے شروع کړه او تر یوے هفتے پورے به روزانه دوه دوه ځله پرے بمباری کیدله۔ آخر محسودو دَمکین نه کډے اوکړے او یوخوا بلخوا میشته شول۔

## دَ شینکی تنګی جهګړه :

دَ مئی سنه ۱۹۱۹ء په ورومبو بلوو کښے چه دَ ملیشے کوم مسلح سپاهیان یاغی شوی وو هغوئ به شپه ورځ دَ فیرنګی په کیمپونو، پیکټونو او ګشتونو تاختونه کول۔ دَ ۱۰-۱۱/ اپریل سنه ۱۹۲۰ء په شپه بانډے دَ بنوں توچی په پوله شینکی تنګی کښے دَ یاغی ملیشے یوے ډلے په فوځی پیکټ حمله اوکړه او دَ یوے شپے دَ نښتے په نتیجه کښے ئے اتلس تنه سکهان اووژل او

وسله ئے ترے نه ولجه کړه۔

## دَ جنجال جهګړه:

جنجال دَ ټانک زام په سیمه کښے دَ ډیره اسماعیل خان او رزمک په سړک باندے دَ نوی، سل میله خواؤشا پرتو ئے کلی او کلے دے۔ په دے سیمه کښے خرم خیل، شینګی خیل او بهلول زی محسود اوسیږی۔ په ۲۴ اپریل ۱۹۲۱ء دَ ملک موسی خان په مشری کښے تقریباً څلورو سوو غازیانو دَ جنجال په خوا کښے دَ فیرنګی په یوه کانوائی حمله اوکړه۔ غازیان دَ کانوائی په مینځ ورګډ شول۔ جهګړه دَ ټوپکو نه تیره شوه نوبت تر لاس په لاس پرزولو او دَ چړو سنګینو استعمال ته اورسید۔ یوه خونړیزه نښته اوشوه او په کانوائی کښے په ګډګډوله ۶ انګریزان او ۱۱۱ فوځیان قتل او ۸۳ تنه ژوبل شول۔ غازیانو کانوائی چور کړه او په مالونو بار اوښان، لیږدے قچرے او زین کړی اسونه ئے بوتلل۔

## دَ سیدګی په پیکټ حمله:

دَ اپریل په همدغه ۲۴ نیټه ننګیالو غازیانو دَ بنوں په سیمه کښے دَ سیدګی قلعے په خوا کښے دَ سکهانو په یو پیکټ حمله اوکړه۔ ۱۹ تنه سپاهیان ئے ووژل او ۱۷ تنه سخت ژوبل کړل۔ او غازیان تر ے صحیح سلامت لاړل۔

## دَ بنوں واقعه:

لکه څنګه چه دَ وزیرستان په ګټ ګټ کښے وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو دَ فیرنګی پر ضد دشمندانه سرګرمئ آغاز کړے وے، دغه رنګ

دَ بنوں ممند خیلو وزیرو او دَ داوُد شاه کلی بنوځو هم په فیرنګی صرفه نهٔ کوله۔ هم به ئے پخپله غدیٔ برید ونه پرے کول او هم به ئے بهرنیو غازیانو ته پناه ورکوله۔ فیرنګی دا هرڅه لیدل، خو دَ بے وسیٔ نه چپ وو، ولے هر کله ئے چه قدرت بیا موند نو په ۱۰/ میٔ ۱۹۲۱ء ئے په ممند خیلو وزیرو او دَ داوُد شاه کلی په بنوځو باندے دَ بنوں، کُرم ګهړیٔ او بارآن څخه په مختلفو لارو فوځونه ورخوشی کړل او ګهیره ئے ترے نه تاو کړه۔ په ګنړ ګنړلی ۱۹۰۰ تنه بے ګناه سړی ئے ګرفتار کړل، چه په هغو کښے اتیا تنه ځوانان جیل ته واستولے شول او ترمودو ئے دَ قید و بند صعوبتونه اوګالل۔

دَ دے نه علاوه ئے په سوونه آتشینه وَسله او کارتوس او نیول او دَ خلقو ډک کورونه او جائیدادونه ئے خاوُرے ایرے کړل۔

دَ عیدن کوانبنته :

دَ وزیرستان قبائل چه دبنوں دَ واقعے څخه خبر شول، نو دَ انتقام جذبے سرهٔ لمبه کړل۔ په ۱۲/ میٔ ۱۹۲۱ء داوړو دَ عیدکو نه بنکته په روان پیاده فوځ باندے حمله اوکړه۔ او یوولس تنه سوارهٔ ئے سره دَ خپلو اَسونو قتل او ۱۳ تنه زښت ژوبل کړل۔ غازیانو په غنیمت کښے په دولس میله توپکو هم قبضه اوکړه۔

دَ سپین ورسک ګهیره :

لکه څنګه چه فیرنګی دَ بنوں ممند خیلو وزیرو او داوُد شاه کلی بنوځونه په پته ګهیره تاو کړے وه، دغه رنګ ئے په ۲۱/ میٔ ۱۹۲۱ء

دَ وانانه ترسپین ورسک پورے ناځاپي فوځونه راتاو کړل او ۴۸ تنه وزیرے گرفتار کړل۔

بلخوا هم په دغه ورځ داوړو دَ زیرکئ په خوا کښے په فوځ حمله اوکړه او دَ خیلو وزیرو ورونړو بدل ئې واخستو۔ ۹ تنه سواره ئې قتل او ۱۲ تنه ټپیان کړل۔ دغسے ئې ۱۳ اُسونه هلاک او ۱۷ سخت ژوبل کړل۔

## دَ سیډګۍ په پیکټونو حملے :

په تیرو ورځو کښے چه دَ بنوں ممند خیلو وزیرو ته دَ فیرنګي په لاس کوم تاوان رسیدلے وو، هغه دوئ هیرولے نه شو او هر وخت به ئې دَ بدل آخستو مرکے کولے۔ آخر یوه ورځ موقع په لاس ورغله او په ۲۲ مئ سنه ۱۹۲۱ء ئې دَ سیډګۍ په نواح کښے په نهم نمبر پکټ باندے حمله اوکړه۔ ۱۳ سپاهیان ئې قتل او ګنړ ژوبل کړل۔

دوه ورځے پس ئې بیا په همدغه سیمه کښے په دوؤ نورو پکټونو لسم او دولسم نمبر سخت حملے اوکړے او په نتیجه کښے ۲۰ تنه سپاهیان هلاک او ۱۵ تنه سخت ژوبل شول۔ او غازیانو دَ ۱۶ میله ټوپکو تر لاسه کولو نه پسته پښے اوویستے۔

## دَ شینکئ تنګي واقعه :

په ۳/ جون سنه ۱۹۲۱ء دَ کهجورئ قلعے نه بنوں پله دَ شینکئ تنګي په سیمه کښے دَ ملیشے یو صوبیدار چه څلور تنه سپایان هم ورسره وو، دَ توچئ په رود کښے کبان نیول۔ توریالو غازیانو حمله پرے اوکړه۔ پنځه

واړه ئې قتل کړل او وسله ئې ترې نه ولجه کړه۔

## دُچشمئ انښته :

دُجون په هم دغه ۳/ تاریخ دُمیران شاه دُچشمئ په مقام چه دُ ملیشې یوه ډله دُ تورغرهٔ پیکټ ته ورختله، نو غازیانو راګیره کړه او دُ پوره مقابلې نه پس ئې ۱۲ تنه قتل او ۱۳ سخت مرګونی کړل۔ غازیانو په بیړه بیړه دیارلس ټوپک ترې نه قبضه کړل او پخپله مخه لاړل۔

## دُلوړیسې خوابرید :

په ۱۷/ مئ سنه ۱۹۲۱ء دُ بنوں په سیمه کښې دُ بنوں میران شاه په سړک دُلوړیسې الګډ ے په مقام غازیانو په فوځ حمله اوکړه۔ دُ فوځ سره د ملیشې سپاهیان هم ملګری وو۔ سخته جھګړه اوشوه۔ په نتیجه کښې دُ فوځ له خوا نه ۱۴ تنه قتل او ۱۷ تنه ژوندی اونیولے شول۔ غازیانو دُ دوئ ۲۶ کچرے، ۲۴ غوایان او نور سازوسامان تر لاسه کړو او پښې ئې اوویستے۔

## دُجنډولے انښته :

په دغه انښته کښې دُ فیرنګی د لوړی نه یو غټ منصبدار لیفټیننټ کرنل شرلاک ( SHERLOCK ) هلاک شوے وو۔ واقعات دا سے وو چه په ۲۹/ جون سنه ۱۹۲۱ء جلال خیلو محسودو دُجنډولے خوا کښې په فوځ حمله اوکړه۔ دُ فریقینو ترمینځه سخت جنګ اوشو او په نتیجه کښې یو انګریز افسر کرنل شرلاک او ۱۱۷ تنه سپاهیان قتل او ۹۷ تنه سخت ژوبل شول دُ یو څو ویشتلیو نه علاوه، غازیان دُ خیره سلامت لاړل او پر بیمانه مال

غنیمت ئے وبله اورسیدو۔

## دُ سپینکی خُلی جهگړه :

سپینکے خُلے دُ ویږدَ ے سر په غونډیو کښے وړے وړے څوکے دی، چه په لمنو کښے ئے یوه فراخه لارتیریږی۔ دغه لار دُ دته خیلو قلعے نه نمرخاته پله درے میله لرے پرته ده او دُ دته خیلو نه تر دیګان پورے پیاده خلقو ته ډیره لنډه پریوځی۔ دغه سیمه دُ منظرخیلو وزیرو ده او دُ سطح سمندر نه ۵۴۰۰ فټه اوچتوالے لری۔ دُ سپینکی خُلی نه قطب پله دُ محمد خیلو داوړو پلسین[1] نومی یولوئے رغزے پروت دے۔ دُ دے جهګړے واقعات داسے بیانیږی، چه دُ نومبر سنه ۱۹۲۱ء په ۲۶/ تاریخ دُ فیرنګی لوئے فوځ چه ملیشا هم په کښے شامله وه دُ بریګیډ کرنل ایچ۔ ای۔ هرډن (H-E. HERDON) په کمان کښے دُ دُردانی (میران شاه) نه روان شو او په ۳۰/ نومبر دته خیلو ته اورسیدو۔ دُ کرنل هرډن داپروګرام وو، چه په دته خیلو کښے ملیشا میشته کړی، نو بچیله بیرته دردانی ته راستانه به شی۔ کرنل هرډن بنه په مزه دته خیلو ته اورسیدو۔ ملیشا ئے میشته کړه او بچیله بیرته راروان شو۔ په تلوتلو کښے به دُ فوځ حفاظتی دستو دُ غرونو په سرونو پیکټونه قائمول او باقی فوځ به مخ په وړاندے تیریدلو۔ دُ کومو پیکټونو نه به چه فوځ تیرشو، نو هغه به هم وروستے راپاڅیدل۔ دغه شان په سپینکی خُلی باندے دُ لګیدلیو پیکټونو څخه هم چه دُ فوځ زیاتره حصه دُ پلسین رغزی پله راتیره شوه او پیکټونه وروستے راپاڅیدل، نو په ۱۱/

---

[1] نن صبا دلته په ډیر عجلت سره ودانی روانه ده۔

دسمبر ۱۹۲۱ء تقریباً دُ دوؤ سوو غازیانو لشکر دُ جمعدار ترین خان په مشرئ کښې دُ پیکټ په هغو سپاهیانو حمله اوکړه او دغسې د اصلی وُسلو او بهتر تربیت یافته فریقینو ترمینځه یو منظم جنګ اونښتو۔

دُ جنګ په دغه هنګامه کښې چه دُ ترین خان نظر دُ فوځ په هغو دستو پریوتو، کومې چه دُ خپلو ملګرو سپاهیانو دُ مدد دپاره بیرته راستنیدے، نو یوے اوچتے غونډئ ته اوختو۔ چونکه ترین خان په ملیشا کښې جمعدار پاتے شوے وو او دُ فوځئ طور و طریقو نه ښهٔ واقف وو نو دلته دهٔ دُ فوځ هغو دستو ته دُ آئینے او جهنډئ په ذریعه پیغام ورکړو، چه :

"تاسو مهٔ راځئ، هیڅ خطر نشته"۔

په دے کشمکش کښې هغو دستو پوره تاخیر اوخوړو او غازیانو دُ فوځ په راشکیلے دستے ښے شندے اوکړے۔

دُ فوځ دُ امدادی دستو په رارسیدو سره غازیان او فوځیان وبله لاس په لاس او تبر په تبر ورغلل۔ جمعدار ترین خان هم ځان ته یو سیال اوکتو، یو غټ فیرنګے ئے رایسار کړو۔ دواړه سره په منګولو شول او لکه دُ جنجکو ئے یو تربله پرزول شروع کړل۔ آخر دُ جمعدار ترین خان زور پرے تیر شو، فیرنګے ئے خملاؤ او دُ ټکه ئے په ځیګر پیش قبضه ورننخه کړه۔ دُ فیرنګی دُ وینو دارے چه دُ ترین خان په مخ اولګیدے نو یکدم ترے نه پاڅیدو۔ فیرنګے هم وارخطا نهٔ شو، تماچه ئے راوویسته او په ترین خان ئے داسے رسا ګُذار اوکړو چه هم بیرته په هغهٔ ورپریوتو۔

دُ سپینکی خلی نه چه دده کپښ واخستے شو نو په لار کښے ئے دُ مدا خیلو دُ شهیدانو کلی په مقام دُ شهادت جام نوش کړو۔

په دغه جهګړه کښے ۲۹۲ تنه فوځیان سره دُ دریو تنو انګریزانو هلاک او ۱۱۳ تنه ژوبل شول۔ دُ دے نه علاوه غازیانو ته ۱۴۲ میله ټوپک، ۲۹ څخرے، ۳۷ بیډ بازګیر اوښان، ۲ ویچرګن (VICHER GUN) یو لوئیس ګن (LEWIS GUN) ۳ تماچے او نور ګڼر جنګی سازوسامان او راشن په لاس ورغلو۔ په مقابل کښے دُ جمعدار ترین خان سره ټول ټال ۱۳ تنه غازیان په شهادت اورسیدل۔

جمعدار ترین خان:

جمعدار ترین خان شهید خوشحالی توری خیل وزیر وو۔ پلار ئے حیدر نومید و۔ دغه توریال په نارتهه وزیرستان ملیشا کښے جمعدار وو او دُ خپلے جانبازئ له کبله ډیر مقبول وو۔

کله چه دُ کال ۱۹۱۹ء غزا ګانے شروع شوے نو دُ دهٔ په زړهٔ کښے هم اسلامی مینے جوش اووهلو۔ حالانکه فیرنګیانو د دهٔ نه دُ وفادارئ پوره پوره اُمید ونه لرل او دُ مئ ۱۹۱۹ء په ۲۷/تاریخ دُ توچئ پولتیکل ایجنټ میجر آرکریپښ دُ وفادارئ په صله کښے انعام هم ورکړے وو، ولے هر کله چه دغه ورځ په شپه بدلیده، نو دُ دهٔ دماغ هم بدل شو او دُ شپے ئے ګڼر سپاهیان دُ ځان سره ملاوُ کړل او په قلعه کښے دننه ئے دُ ټولو فیرنګیانو دُ قتلولو منصوبه جوړه کړه او هم په هغه ساعت ئے حمله پرے اوکړه۔ بس دغه ورځ وه چه ترین خان دُ فیرنګی په خلاف راپورته شو او بیا ئے دُ

ژوند تر آخری سلګئ پورے توره اونه غورځوله۔

ترین خان ډیر بهادر او په جنګی حکمت عملئ پوهه نوموړے انسان وو۔ د وزیرستان په خاوره چه د ده په مشرئ کښے د انګریزانو په خلاف کوم جنګونه شوی دی هغه ډیر منظم او کامیاب وو او د غازیانو په نسبت به د انګریزانو جانی او مالی تلفات په څوچنده زیات وو۔ د ده په شهادت سره د توچئ د غازیانو بیخی بنے لاس پرے شو۔

د مرګ نه اګاهو ده دا وصیت کړے وو چه :

"ګورئ ! ماچه د انګریزانو تر لاسه لاندے خاوره کښے ښخ نه کړئ۔ ما د افغانستان آزادے خاورے ته یوسئ او هلته مے اوسپارئ۔"

چنانچه د ترین خان د آخری خواهش په مطابق هغه خوست ته یوړے شو او هم هلته ښخ کړے شو۔

<u>علی مرود :</u>

علی مرود د جمعدار ترین خان تکړه ملګرے وو او مړنے غازی وو۔ اصلی نوم ئے علی مراد خان وو۔ دغه توریالے ځوان د مایزر خوجی خیل مداخیل وزیر وو۔ څه موده د میران شاه په کلی کښے هم اوسیدلے وو۔ د علی مرود د تیرے غرځ واقعه نن هم خلق په ډیر شوق سره یادوی۔

دا واقعه داسے وه، چه د میران شاه کلی په خوا کښے د توچئ رود په غاړه غازیانو د جمعدار ترین خان، صوبیدار پټ خان او علی مرود په مشرئ کښے په ګشت وتلی فوځیانو باندے حمله اوکړه۔ د سختے جهګړے نه

پس دٔ فوځیانو د امداد دپاره دٔ میران شاه د قلعے نه تازه دٔم فوځ رااورسیدو
غازیان دٔ لړ والی له کبله دٔ تیرے غرهٔ یوے څوکے ته اوختل او دٔ هغے
ځائے نه ئے په فوځیانو باړونه شروع کړل - په دے موقع علی مرود یو
بل چل اوکړو - دٔ یوے اوږدے لکړے په سر ئے خپل خټ (قمیص)
اؤ ویزاند کړو او دٔ یوے لوئے پرشے شاته کښیناستو - شیبه په شیبه به
ئے فوځیانو ته هغه لکړه جګوله -
فوځیانو به دٔ روغ سړی ګمان پرے اوکړو او یو سور اؤر به ئے
پرے اوورٔولو - علی مرود به زر لکړه ښکته کړه او یو څو دقیقے سکوت به
ئے اوخوړو - بیا به ئے ورته لکړه هسکه کړه او فوځیانو به اؤر بل پرے
شروع کړو - په دے چل دهٔ دٔ فیرنګی زیښت دارو مردکی ختم کړل - دٔ ...
علی مرود ځوئے شاه زران هم دٔ فقیرایپی (رح) یو نامتو او توریالے خلیفه وو،
او دٔ فیرنګی په خلاف به هر وخت بوخت وو - وروستو په کال ۱۹۷۸ء کښے
پخپل مرګ په حق اورسیدو -

## پیټ خان :

دغه توریالے ځوان په پیټ مشهور وو - دٔ کرشے خضرخیل مداخیل
وزیر وو او دٔ زوروهٔم اوسیدونکے وو - پیټ خان په نارتهٔ وزیرستان ملیشا
کښے صوبیدار وو - ډیر پیاوړے او رٔعبدارے انسان وو - فیرنګیانو خپل
وفادار ګڼړلو او دٔ ۱.۵.M انعام یافته وو، ولے په ۲۵ / مئ چه کله دٔ
سپین وام دٔ قلعے ملیشا دٔ عید کو قلعے ته تبنتیدله، نو هغه وخت صوبیدار
پیټ خان هم سره دٔ خپلو اتلسو سپاهیانو دٔ ملیشے نه بیل شو او دٔ غازیانو

سره مل شو۔ صوبیدار پټ خان ډیرے جهګړے اوکړے، کله چه ترین خان په شهادت اورسید و نو انګریزانو په ده دومره سخت فشار واچولو، چه افغانستان ته ئے په کډه کولو مجبور کړو۔ افغان حکومت په خوست کښے پټے ورکړو او آباد ئے کړو۔

دا باتور د پاکستان د قائمیدو په وړومبو څو کالونو کښے بخپل مرګ په حق اورسیدو او هم هلته په خوست کښے د شهید ترین خان د مزار سره څنګ په څنګ خاورو ته اوسپارلے شو۔

دولسم باب

# خاصه دار

فیرنگي وانا ته خو رسيد لے وو، لور په لور ئے پاخه پاخه پيکټونه جوړ کړي وو او پوره دولس۱۲ مياشتے ئے تيرے کړے وے، ولے په دے دومره موده کښے يوه ورځ هم داسے نۀ وه چه غازيانو به په کانوائي، گشتونو او پيکټو ناتار نۀ وي کړے. آخر فيرنگي مجبوره شو او يو ځل ئے بيا د دسمبر ۱۹۲۱ء په شپږو ورځو کښے د وانا قلعه پريښودله. ولے دا ځل ئے بل چل اوکړو، د وانا قلعے، سړکونو، او کانوائي د حفاظت د پاره ئے د محسودو نه خاصه دار واخستل. وروستو دغه خاصه دار په گومل او وزيرستان کښے د هر يو قوم نه واخستل شول او تول تعداد ئے خلور زره ته اورسيدو او په مختلفو چوکيو، پيکټونو او قلعو کښے تعينات کړے شول.

د وانا نه ۳۵۷ تنه واخستل شول او د وانا گومل په لائن باندے مقرر کړے شول. دغسے د نومبر ۱۹۲۱ء په مينځني شپږو ورځو

کښې چه د محسودو نه کوم ۶۰۰ کسان خاصه دار آخستی شوی وو هغه په ۲ دسمبر د لدّهے او سرآروغه ترمینځه په ډیوټئ اولګیدل ۔ وروستو په اپریل ۱۹۲۳ء کښې د وزیرستان د ټولو قامونو نه مزید خاصه دار واخستل شول ۔

په ۲ دسمبر خاصه دارو د ریګولر فوځ نه د وآنا چارج واخستو او د خیرجی او نیلی کچ پوستونه ئے په ۱۷ دسمبر واخستل ۔ د وآنا نه ریګولر فوځ په یکم دسمبر رخصت شو ۔ په ۵ دسمبر ئے مړو کئ خالی کړه، او په ۲۰ دسمبر غونډ فوځ په جنډوله جمع شو ۔ د جنډولے نه بیا دغه ټول فوځ د هند په مختلفو مقاماتو ویشلے شو ۔ د خاصه دارو د ټاکلو سره عبدالرزاق یو ځل بیا راپاڅید او د خاصه دارو د بڅوېلولو کوششونه ئے شروع کړل ۔

چونکه فیرنګی یو ځل د نارته وزیرستان ملیشئے د مقامی سپاهیانو د لاسه ټس خوړلے وو ۔ نو اوس ئے عقل و هوش په ځائے وو او په وزیرستان کښې پاتے فوځ ئے د هنګامی حالاتو تر مخه په ټانک زام او توچئ کښې میشته کړو ۔ د لدّهے او کوټمل په لائن باندے چه خاصه دار مقرر شول او د باقاعده فوځ نه ئے د سړک د ساتنے ډیوټی واخسته نو د جنورئ او فرورئ ۱۹۲۲ء په میاشتو کښې د توچئ په سیمه کښې هم په لاندینی ډول خاصه دار بهرتی کړے شول ۔

په قطبی وزیرستان کښې ټول ۵۷۲ تنه خاصه دار واخستلے شول ۔

په دے کښے، (۱): دَ توری خیلو، مامیت خیلو او داوړو نه ټول ۲۵۲ تنه بهرتی کړے شول. دغو خاصه دارو به دَ کهجوری او میرانشاه په مابین کښے په پیکټونو کښے خپله وظیفه سرته رسوله.

(۲) شپیته تنه خاصه دار چه دیرش کسان توری خیل او دیرش تنه مامیت خیل وو، دَ ټل (توچئ) په زاړه قلعه کښے او تیا کلے شول.

(۳) دوه سوه شپیته خاصه دار دَ داوړو، منظرخیلو، مداخیلو او خدرخیلو نه بهرتی کړے شول. دوئ به دَ میرانشاه او دته خیلو ترمینځه ډیوټی ورکوله. دَ دته خیلو نه ریګولر فوځ په ۲۰ فروری ۱۹۲۲ء اووتو. دَ دے نه پسته ورو ورو خاصه دار په زیاتید و شول. او په قطبی وزیرستان کښے ئے ټول شمیر ۱٫۲۴۹ ته اورسیدو.

په ګډه وزیرستان کښے دَ خاصه دارو ټوله شمیره ۵۳۸۲ شوه. په دے کښے ۲٫۰۲۰ تنه محسود، ۳۶۲ کسان بیټنی، ۲٫۴۹۴ وزیر او ۵۰۶ داوړ وو. دَ دوئ فرائض دا وو:

(۱) په اولس باندے دَ افسرانو دَ حکم تعمیل کول،

(۲) افسرانو ته مطلوبه کسان حاضرول،

(۳) دَ خپلے علاقے دَ رپورټونو په حقله تفتیش کول،

(۴) دَ تښتولے شوی کسانو درک معلومول،

(۵) دَ غازیانو په خلاف مقابله کول،

---

ل دَ پاکستان دَ جوړیدو نه را په دیخوا دَ ځنو ځنو علاقو په خاصه دارو کښے دَ ضرورت ترمخه وخت په وخت اضافه راروانه ده.

(۶) دَ افسرانو بدرنگه، او دَ سړکونو او پوستونو ساتنه کول.

همېبه رومبې به هر يو خاصه دار ته پنځويشت[۲۵] روپئ ماهانه تنخواه ورکولې شوه، ولې اوس ئې دَ وخت سره سره زياتيږي. په خاصه دارو کښې دَ سپاهي نه تر صوبيدارئ پورې عهدې دي. هر يو خاصه دار ځان ته خپل ټوپک، جامې، راشن او ميګزين پيدا کوي. دَ خپلې علاقې نه دَ دوئ بدلي بل ځاۍ ته نهٔ کيږي.

## دَ رغزي کلي برید:

په يکم جنوري ۱۹۲۲ء دَ داوړو دَ رغزي کلي په ځاۍ کښې دَ فوځ يو څو پيکټونه لګيدلي وو. دَ ډيوټئ نه پسته چه کله دَ دغو پيکټونو سپاهيان راپاڅيدل نو عين په دغه وخت غازيانو پرې حمله اوکړه او په لږه شيبه کښې ئې دولس[۱۲] تنه سپاهيان ترې نه قتل کړل. دَ مړو شوو کسانو ټوپک او کمربندونه غازيانو تر لاسه کړل او په خپله مخه ترې[ئ] لاړل.

## دَ ملتړئ په موټر حمله:

په ۹ مارچ ۱۹۲۲ء دَ محسودو دَ سورکمر په سيمه کښې دَ ملتړي په يو جيپ کښې يو فوځي منصبدار او ورسره اته[۸] ميرهٔ فوځيان روان وو. محسودو غازيانو ورته لار اونيوله او انهه[۹] واړه ئې اووژل وسله او نور سازوسامان ئې لوټ کړو او جيپ ته ئې اُور ورته کړو.

## دَ لوړپيسے دويمه انښته:

هم په دغه ۹ مارچ نيټه دَ بنوں ميرانشاه په سړک دَ درپے غونډارۍ

نه مخکینې دَ لوړیسے الکهړے په مقام باندے غازیانو دَ سِکانو په یو پیکټ حمله اوکړه۔ یوه شیبه جنګ اوشو او په نتیجه کښې غازیانو دیارلس۱۳ میړهٔ سِکان قتل کړل، او یوولس۱۱ میله ټوپک ئے ترے نه ولجه کړل۔

## په جلال خیلو محسودو بمباری:

انګریزان دَ جلال خیلو محسودو دَ پرله پسے تاخت وباخت نه تر پوزے پورے راغلی وو۔ او همیشه به ئے داموقعه څارله چه دوئ ته یوه داسے سنګینه سزا ورکړی چه تل ترتله ئے یاده اولری دغسے یو خوا که ځ جلال خیلو خپلو مخاصمانه سرګرمیو ته زور ورکړے وو۔ نو بل خوا انګریزانو هم ورته لکه دَ مار په شان ګُذار ته ځان تیار ساتلو۔ آخر دواړه سره په ډغره شول۔ او دَ ۱۹۲۲ء په ۱۲، مارچ فیرنګی په جلال خیلو دومره سخته بمباری اوکړه چه دَ دوئ بشپړ آبادی ئے خاورے ایرے کړه اودَ زیښت جانی او مالی تاوان سره ئے مخامخ کړل۔ ولے دَ دے باوجود هغوئ مرعوب نهٔ شول۔ او هغسے به ئے په فیرنګی پسے بډے وهلے وے۔ په یکم جولائ ۱۹۲۲ء ئے دَخاصه دارو په زغښته کښے دَ بروړه تنګی سره نزدے په روانه کانوائ حمله اوکړه او سخت تاوان ئے ورا ورسولو۔ دَ سپلائ دَ یو انګریز افسر کپتان ایډمسټن (EDMISTON) سره ۵۳ کسان سپاهیان قتل او ۴۲ تنه سخت ژوبل شول۔ او غازیانو ته کنړ آسونه، لیږدلی اوبنان او خچرے په لاس ورغلے۔ چونکه دَ دے

واردات په حقله دَ فيرنګي زيات شک په احمدوام کلي وو. نو يوه شپه ئې پټ په پټه فوځ ترے نچاپيره کړو او دَ جلال خيلو نزدے نزدے کورونه تول ئې اوسيزل.

## په عبدالرحمٰن خيلو محسودو بمباري :

دَ لدّهے سره نزدے چه په کوم پيکټ حمله شوے وه او فيرنګي ته پکښے زيښت جاني او مالي تاوان رسيدلے وو، دَ هغے په تاوَ کښے فيرنګي په عبدالرحمان خيلو محسودو باندے دَ يوولسم اګست نه تر اوولسم اګست ۱۹۲۲ء پورے پرله پسے بمباري اوکړه او خلقو ته ئې کافي تلفات اورسول.

# دعبدالرزاق شورشونه

دَ سپرلي په موسم کښے يوځل بيا حاجي عبدالرزاق دَ وانا په وزيرو کښے دَ فيرنګي په خلاف هنګامے راپورته کړے. په ۱۱ ر مارچ ۱۹۲۲ء غازيانو په ګومل کښے دَ کهجوري کچ او سپين ترمينځه دَ فيرنګي په کانوائي بريد اوکړو. کانوائي ئې لوټ کړه. او په پنځه ويشتو پنځو نو مالِ غنيمت ئې يوړلو. دَ اپريل په څلورمه نيټه غازيانو دَ وانا په خاصه دار ګيريزن حمله اوکړه. او قلابند ئې کړو.

دَ فيرنګي چه نور وس پرے اونهٔ چليد و، نو جنګي طيارے ئې ورپسے راوګځے کړے او دَ ۷ ر اپريل نه تر ۱۰ ر اپريل پورے ئې پرله پسے بمباري پرے اوکړه. غازيان مجبور شول، قلابندي ئې ماته کړه او په خپلو مخو خوارهٔ شول. فيرنګي دَ احتياط په طور دَ مرتضیٰ

پوسټ دپاره دَ ملیشئے پنځه سوه سپاهیان وَآنا ته اولیږل، او دَ خاصه دارو سره ئے میشته کړل۔

## دَ رزمک سړک:

دَ کال ۱۹۲۲ء دَ جولائی په میاشت کښے دَ ایشیا رزمک په سړک باندے دَ خاصه دارو په حفاظت کښے کار شروع شو۔ او وروستو دا اعلان هم اوشو چه رزمک کښے به فوځ میشته کیږی۔ په وزیرستان کښے دَ فوځ لوئے کیریزن اول په لدها وو۔ له دے نه پسته دغه کیریزن رزمک ته تجویز کړے شو۔ او دَ دے سره سره برطانوی حکومت په ټول وزیرستان باندے دَ مستقلے قبضے اچولو تجویز هم منظور کړو۔

## یوه خطرناکه افواه:

دَ لدهے نه دَ فوځ کیریزن لا رزمک ته نهٔ وو منتقل کړے شوے چه دا افواه خوره شوه، چه انګریزان دَ وزیرستان نه دَ وتلو تیارے کوی۔ افواه خهٔ وه چه دَ وزیرستان په ټولو قامونو کښے مخاصمانه کارروائی راپورته شوے او پولټیکل صورتِ حال ئے زښت ګډ وډ کړو۔

## دَ سروکئ په خاصه دار پوسټ حمله:

دَ کال ۱۹۲۲ء په یوویشتم نومبر غازیانو دَ ملیشئے دَ سابقه صوبیدار حیات خان (ملک آیوت) او آدم خان په مشرئ کښے چه دواړه په کوز خیسارهٔ کښے دَ منزئ شاخ نه وو، دَ سروکئ په

خاصه دار پوسټ حمله اوکړه، او خاصه دار ئے ترے نه اوشړل۔

دَ حیدری کچ خاصه دار چه له دے نه خبر شول نو هغوئ هم حیدری کچ پریښودلو۔ دا خو لا څه، چه دَ نومبر په دغه میاشت کښے دَ مکین په سیمه کښے چه فیرنګی دَ خاصه دارو کوم پوسټ جوړولو، هغه هم دَ ملک موسیٰ خان دَ ویرے نه نیمګرے پاتے شو۔

## دَ دوسلی سړک:

په جنورئ ۱۹۲۲ء کښے دَ ایشیا، زمک په سړک باندے چه کوم کار شروع شوے وو، هغه تر ۱۵ر دسمبر پورے دومره قدرله جوړ شو، چه تر دوسلی پورے فوځونه پرے تیر شول۔

## دَ ډیکسن قتل

په شپاړسم ۱۶ دسمبر ۱۹۲۲ء دَ ملک موسیٰ خان ډلے څلورو غازیانو دَ سړک دَ جوړولو څو افسران اووژل، چه یو پکښے رائل انجنیئر لفټیننټ ډیکسن هم شامل وو۔

فیرنګی دَ دغه واردات دعویٰ په عبد الائی محسودو اوکړه۔ او دَ خپلو افسرانو قاتلان ئے ترے نه اوغوښتل۔ محسودو دے ته غاړه کینښوده، او فیرنګی په عبد الائی، جلال خیلو کوری خیلو، او کاریرو محسودو باندے دَ اوولسم ۱۷ دسمبر نه تر شپږو هفتو پورے پرله پسے بمباری اوکړه۔ بل خوا دَ لدهے څخه په مکین هم ګوله باری اوشوه۔ په دغه ورځ دَ جنوبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ میجر پارسن

هم په گولئ اولګيد و او يو لاس ئې بيخي بيکاره شو. او دَ هغې ورځې نه په ګوډ پارسن مشهور شو.

ميجر پارسن داسې زخمي شو، چه کومې طيارې بمباري کوله په هغې کښې دَے هم ناست وو، او پائلټ ته به ئې دَ محسودو دَ خاص خاص کليو نښانې ورښودلې. مړنو غازيانو پاس په آسمان کښې داسې په تخنبه کړو چه له تڼکه ئې دَ ميجر پارسن نه ګوډ پارسن جوړ کړو. دَ لفټيننټ ډيکسن په قتل کښې ډير رول دَ شابي خيلو محسودو دَ استونئ شاخ يو لوئې ټهيکدار حيدر خيل لوبولے وو. دغه ټهيکدار دَ سرآروغه رزمک په سړک دَ فيرنګي په خلاف هلو ځلو کښې هم پوره حصه آخستے وه. په دے وجه فيرنګي دَ کال ۱۹۲۴ئ دَ اګست په مياشت کښې دَدهٔ په کلي بمباري اوکړه.

دَ بمبارئ په دوران کښې دَ غازيانو دَ لاسه يوه طياره په ګولئ اولګيده او لاندے په زمکه راپريوته. سکوارډن ليډر کيپل دَ حيدر خيل په لاس ژوندے ورغلو، ولے وروستوئے په يو څو شرطونو خوشے کړو.

## رزمک ته دَ فيرنګي تګ:

په ۴ جنورۍ ۱۹۲۳ئ دَ ميجر جنرل جيکب دَ کمان لاندے دَ ميرانشاه دَ درداني کيمپ نه يو لوئې فوځ دَ رزمک په لور روان شو. دَ فوځ سره دغه وخت يوولس سوه ۱۱۰۰ خچرے، يوځيم ۱۵۰ نه بيده اوښان، او دوه زره شپږ سوه ۲۶۰۰ نور دَ مختلف قسم څاروی وو. دغه فوځ چه

رزانی پورے اورسیدو، نو هلته ئے کیمپ اولګولو. دَ پوره دے نه پسته
دَجنورئ په درویشتمه نیټه چه سخته واوره پریوتله، دَ رزانی
نه دغه فوځ په ړومبئ ځل رزمک ته مارچ شو. لار زښته خرابه
وه. او ټوله لاره یو واورین فرش جوړ شوے وو. دَسخت سارهٔ
او واورے له کبله غازیانو څهٔ غم غرض پرے اونکړے شو. او
فوځ رزمک ته اورسیدو. خو بیا هم څینو څینو سرتیرو ځوانانو
په قلار پرے نهٔ ښود.

## دَ رزانی او ډمډیل سړک:

دَ فورډ لاریو دپاره خو دَ ایشیا نه تر رزانی پورے سړک بخوا په
۱۲ د سمبر ۱۹۲۰ء پرانستلے شوے وو، ولے وروستو په ۳۰ د سمبر
دَ غټو غټو فوځی ګاډو کانوائئ هم ډمډیل ته پرے تیره شوه.
دغه شان دَ ټانک زام په سیمه کښے هم هیوی ایم. ټی کانوائ
دپاره تر سرا روغه پورے سړک مکمل شوے وو.

## په مکین او عبدالائی باندے فوج کشي:

فیرنګی چه په عبدالائی محسودو باندے کوم شرطونه ایښی وو.
او دوئ دَ هغو منلو ته تیار نهٔ شول، نو دَ سختې یخنئ او واورے
باوجود په یکم فروری ۱۹۲۲ء دَ لدهے نه بشپړ فوځ پیاړے ته روان
شو او په ۳ فروری مروبی ته اوکوچیدو. په لار کښے دَ جنرل میتی سن
(Matheson) په کمان کښے نور فوځ هم ورسره یو ځائے شو. بله ورځ
دغه دواړه فوځونه تاؤدَ ے چینے ته روان شول.

په څلورم فروري دَ رزمک فوځ هم ورغلو او په تاوُده چينه میشته فوځونو سره یوځائے شو۔ اوس دغو فوځونو دَ طیارو ترحفاظت لاندے دَ ۵ ، فروری نه تر ۱۳ ، فروری پورے دَ مکین ، عبدالائی او بند خیلو په کلیو باندے یلغار اوکړو۔ کورونه اوجانداوو ئے لوټ کړل۔ آبادئ ئے خاورے ایرے کړے۔ نهٔ ئے بنیادم معاف کړل نهٔ څاروی، هرڅهٔ به چه په مخه ورتلل، هغه به ئے ترتیغ تیرول او دغسے دَدے چنګیزی ډول یلغار په دوران کښے دَ نور مال و متاع نه علاوه ئے په ریښو ریښو غله او په دلئ دلئ بوس هم تر لاسه کړل۔ دَ محسودو په دغو مصیبت ځپلو کلیو کښے دَ مشهور مجاهد ملک موسٰی خان کلے لالی خیل هم شامل وو۔ فیرنګی چه دلته زړهٔ سوړ کړو، نو دَ مروږی دَ خواوُشا نه ئے په مکین باندے هم ګوله باری اوکړه۔ ولے سره دَ دے غازیانو ترے نه ۲۴۲ میرهٔ هلاک او ۱۱۵ میرهٔ سخت ژوبل کړل۔ دَ محسودو په خلاف دَدے لوئے مُهم په دوران کښے فیرنګی دا هم فیصله اوکړه، چه دَ موټرو دَ آمدورفت قابل سړک به ذریعه سراروغه دَ رزمک سره او جنډولا دَ سروکئ سره مربوط کړی۔

فوځونه لا په تاوُده چینه میشته وو چه دَ مارچ په میاشت کښے دَ وزیر فورس جے۔ او۔ سی، دَ محسودو دَ ټولو څاخونو یوه لویه جرګه تاوُدے چینے ته راوبلله او ورته ئے اووئیل چه :

"حکومت په وزیرستان کښے نور سرکونه او دَ تانګ نام

او سروکئ په سیمو کښې دَ سکاوُټس پوستے جوړول غواړی
تاسو ته دِ ے معلومه وی چه کهٔ چا هم څهٔ لاس پښه
اوخوزول، نو انجام به ئے ښهٔ نهٔ وی، بلکه دَ اُوچوسره
به لانده هم لوخړه کړے شی۔

دَ دے نه پسته دَ رزمک فوځ په دولسمه مارچ بیرته رزمک ته لاړو، او دَ جنوبی وزیرستان فوځ، چه په ۹ دسمبر پیازڅے رغزی ته کوچ کوونکے وو، نو تاؤ دے چینے ته نزدے غازیانو دَ فوځ په یو پیکټ حمله اوکړه. سخته جګړه اوشوه او دَ فوځ څخه ۳۴ تنه مړی ژوبلی اوشول -

## په شکی او دآنا باندے بمباری :

دَ کال ۱۹۲۳ء دَ فروری په اتویشتمه نیټه احمدزو وزیرو دآنا ته نزدے دَ سکاوُټس په یو څوکئ باندے حمله اوکړه او سخت جانی او مالی تاوان ئے ورته اورسولو. فیرنګی په دے واقعه ډیر تاؤ اوخوړو او د دآنا او شکی په سیموئے پرله پسے دَ مارچ په دوئیمه، دریمه، څلورمه او دولسمه نیټه وحشیانه بمباری اوکړه. په دآنا او شکی چه کله بمباری کیدله. نو هغه وخت غازیانو هم دَ جنګی طیارو سره سمه مقابله کوله. یو څو ویشتونو دَ ټوپکو په بارونو کښے دوه طیارے راښکیلے کړے او سمدستی ئے ښکته راوغورځولے او لیبے ترے نه اوچتے شوے. په دغه شپو ورځو کښے یوخوا فیرنګی دَ وآنا په وزیرو باندے قیامت جوړ کړے وو،

او بل خوا لالا پیر په کانی گرم کښې دَ فیرنګی خلاف خپلو سرګرمیو ته زور ورکړے وو۔

په څلورم اپریل ئے دَ کانی ګرم په مقام دَ محسودو لویه جرګه راغونډه کړے وه، او دَ فیرنګی په خلاف به ئے چاته نغدے روپئ ورکولے او چاته بارود و مرمئ۔ دغه صورتِ حال دومره ابتری پیدا کړے وه، چه فیرنګی وانا ته نژدے خپل یو پوسټ خالی کړو او فوځیان ئے وانا ته منتقل کړل۔ دَ وانا نه هم دغه فوځیان په ۱۳، اپریل اووتل او په منزل منزل په اوولسم اپریل جنډولے ته اورسیدل۔

په توچی خیلو بمباری:

څنګه چه په وانا کښې احمدزو وزیرو په فیرنګی وبال راښکته کړے وو، دغه شان دَ میرانشاه دَ دردانی کیمپ نه شمال پله دَ افغانستان په سرحد باندے دَ احمدزو وزیرو یو بل شاخ توچی خیلو هم دَ جنورئ ۱۹۲۳ء نه دَ فیرنګی په خلاف هلے ځلے شروع کړے وے۔ دغو هلو ځلو چه ډیر زور واخستو، نو په ۱۲، اپریل ۱۹۲۳ء دَ دوئ په کیږدیو سخته بمباری اوشوه۔ او دَ نور تاوان نه علاوه پنځوس نفر واړهٔ زاړهٔ هم پکښې مړهٔ شول۔

فیرنګے خپلے انتقامی جذبے دومره ړوند کړے وو چه دَ بمبارئ کولو په دوران کښې خپل تاک ترے نه ورک شو او دَ افغانستان په علاقه کښې دننه هم طیارو ځائے په ځائے بمباری اوکړه۔ چه په نتیجه کښې ئے دوه تنه افغانیان شهیدان، پینځه تنه ټپیان او

اُووهٔ نیم شله ځاروی په هلاکت اورسیدل - دَ دغې واقعې په لړ کښې دَ حکومتِ هند او حکومتِ افغانستان دواړو له خوا نمائندګان کښیناستل او په خپلو کښې ئې یوه تصفیه اوکړه - چه دَ هغې تر مخه حکومتِ هند افغان حکومت ته لس زره روپئ معاوضه ورکړه -

## دَ سړکونو جوړښت :

دَ کال ۱۹۲۳ء دَ اکتوبر تر اتو ویشتمې نیټې پورې رزمک ته دَ ډیره اسماعیل خان دَ سیمې نه دَ بروړه تنګی په لار او دَ ژاور کلی، اکاخیلو او پیازه په مخه سړک تیر شو او موټرونه پرې چلان شول -

ایشیا رزمک روډ پخوا په ۷ راګست مکمل شوې وو - او سپک ایم ټی ګاډی رزمک ته پرې چلیدل - هم دغه رنګ خاصه دارو او سکاوټس پوستونه هم ځائې په ځائې قائم کړې شوی وو -

## دَ مُلا پاونده دَ مړی راستونول :

مُلا فضل دین چه دَ انړی تنګی جګړې نه پسته فروری ۱۹۲۱ء کښې دَ خیل پلار مُلا پاونده مړې دَ مروبی نه اوړې وو او په وچوام کښې ئې دَ منډیچ الګړې په سر کښې زمکې ته امانت سپارلې وو - هغه ئې په مئی ۱۹۲۳ء کښې بسته مروبي ته راوړو - او هم په هغه پخوانی قبر کښې ئې ښخ کړو [1]

## دَ لفټیننټ ویستر قتل :

دَ سرا روغه او رزمک نوې سړک چه سرته اورسیدو نو ملک موسیٰ خان

---

[1] وئیلې شی چه دَ ملا پاونده مړې مکمل طور سلامت وو - ÷

پرے متواتر بریدونہ شروع کړل - په ۹ جولائی ۱۹۲۳ء دَدهٔ دَ ډلے یو ځو شابی خیلو او شکتوئے والو محسودو دَ پیاړه او دوه توئے (DWATOi) تر مینځه یو فیرنګے افسر لفټیننټ وبستر قتل کړو۔

## دَ میجر فینس قتل :

میجر فینس (Finis) دَ ژوب ایجنسئ پولټیکل ایجنټ وو۔ په ۳۰ نومبر ۱۹۲۳ء چه کله هغه پخپل موټر کار کښے دَ فورټ سنډیمن نه مانی خوا پله روان وو، نو دَ آسابند (Hana Band) دره کښے زلی خیلو وزیرو دَ رحیم داد خان په مشرئ کښے برید پرے اوکړو او قتل ئے کړو۔

دَ میجر فینس په قاتلانو پسے فیرنګی ډیر زور اولګولو، خو هغوئ ځنے دَ واَنا نه شمال مغرب پله ډیورینډ لائن ته نزدے په چینائ (Chinai) کښے میشته شول او ځنے یو خوا بل خوا خوارهٔ وارهٔ شول۔

فیرنګی دَ دوئ دَ ګرفتارئ په سلسله کښے په سری سراتهٔ اتهٔ زره روپئ انعام اوشندلو۔ دَ میجر فینس، وزیر قاتلان خو بچ شول۔ ولے دَ دوئ دوه شیرانی ملګری فیرنګی ته په ګوتو ورغلل۔

په میجر فینس باندے شپږو غازیانو حمله کړے وه، دوه تنه مړنړی وو، چه یو لنډک نومیدو او بل دوستکائ۔ باقی څلورو کسانو کښے علی جان او رحیم داد دَ بیرمل وزیر وو۔ او آدم خان او مشرائے ذلی خیل وزیر وو۔ محکنبینی دوه تر کال ۱۹۳۵ء پورے ژوندی وو او وروستو په خپل مرګ په حق ورسیدل۔ رحیمداد تر کال ۱۹۸۳ء پورے ژوندے وو۔ دَ فقیر ایپی مشهور غازی فرمان الله خان دَ دهٔ ورارهٔ وو۔

رحیم داد خان او دوستگی دوه میله ټوپک هم تر ے نه وړی وو.

## دَ کوټکی برید :

کال ۱۹۲۴ء کښے چه فیرنګی په وزیرستان کښے مستقل میشته کید و بندوبست اوکړو او لور په لوری ئے دَ سړکونو په تعمیر لاس پورے کړو، نو په مقابل کښے وزیر، محسود، داوړ او بیټنی هم ورته راپاڅیدل او ترخپله وسه ئے کلکه مقابله ورسره شروع کړه. په دے لړ کښے په ۱۰ رجنوری ۱۹۲۴ء دَ کوټکی سره نزدے چه دَساؤته وزیرستان ملیشئے یو ے ډلے دَ سړک دَ زغښتے (R.P) ډیوټي کوله، نو محسود و غازیانو حمله پرے اوکړه. له تکه ئے پنځلس[15] تنه سپاهیان قتل او یوولس[11] تنه سخت ژوبل کړل. غازیانو په غنیمت کښے په پنځلس[15] میله ټوپکو او کافی کارتوسو هم قبضه اوکړه. په دغه موقع یو محسود غازی چه دَ یو زخمی سپاهی ټوپک پله ئے ځټه کوله، نو هغه ُسمدستی پرے ډزے اوکړے او په موقع ئے شهید کړو. وروستو دغه سپاهی هم دَ غازیانو دَ لاسه قتل شو او ټوپک ئے ترے نه ولجه کړو.

## دَ مستونګ الګډے جګړه :

په ۱۶ر مارچ ۱۹۲۴ء دَچکمالی کیمپ نه یوه فوځی دسته دَمستونګ الګډے خواته دَ پیکټ لګولو دپاره روانه وه. غازیان چه پرے خبرشول، نو راحصاره ئے کړه او دَ یوے شپے تاوُدے جګړے په نتیجه کښے ئے دوه[2] لوئے لوئے هندوستانی افسران او ۳۶ تنه فوځیان هلاک او ۴۲ میله ټوپک، یو لوئیس ګن (Lewis gun) او ۲,۴۵۰ کارتوس

ولجه کړل - دَ چګمالی کیمپ ته چه دَ دغے واقعے خبر اورسیدو نو فوځیانو

ورپسے دَ چغه رائیستو تیاری شروع کړه - خو په دے دوران کښے دَ مخامخ

غزۀ نه یو غازی په کیمپ کښے دننه په یو انګریز افسر باندے

داسے نخښنه برابره کړه چه دَ هغه اوږدمبی ډزسره ئے سور سمخ او ورسره

یو سپاهی سخت ژوبل کړو - او دغسے دَ دوئ چغه په ځائے ناکامه

پاتے شوه - دَ مستونګ الګړے په دغه جګړه کښے اکثر غازیان

عبدالرحمان خیل محسود وو -

## دَ تم تم شوکه :

تر دغه وخته پورے په سړکونو باندے دَ لاریو عام چلن لا

نۀ وو جاری شوے - او لاری صرف دَ فوځ دَ ضروریاتو دپاره چلیدے -

دَ عامو خلقو تګ راتګ به اکثر په دوه آسی تم تمونو کښے کیدلو -

کانوائی به چه نۀ وه نو دَ سرکاری ملازمانو آمد ورفت او رسد

رسانی به هم دَ تم تمونو په ذریعه کیدله - په دے لړ کښے په ۱۸ اپریل

۲۴ سنه ۱۹۲۴ء دَ خلیرئیشتو محسودو یوے ډلے دَ ډرابن او ډیره اسماعیل خان

ترمینځه دَ ساګو (SAGU) په مقام باندے په یو تم تم حمله اوکړه -

او ۱۷ کسان سرکاری ملازمان ئے اِغوا او تقریباً دَ څلورو زرو روپو

سامان ئے ولجه کړو - وروستو دغه مُغویان (تښتولے شوی کسان)

په معقوله بونګه خوشی کړے شول -

## دَ مانجی پوسټ جګړه :

په پنځلسم ۱۵ مئ سنه ۱۹۲۴ء دَ مانجی پوسټ خوا ته نزدے دَ ایف سی

سپاهیانو یو لوئے کاروان روان وو۔ دَ فرادئ او عبدالرحمان خیلو محسودو ځمکې چه پرے خبر شول، نو تقریباً ۱۵۰ کسان ورته دَ لارے په اوږو بوټو او کندو کپرو کښے پټ شول۔ کله چه سپاهیان پرے ور برابر شول نو دوئ پرے حمله اوکړه۔ سپاهیانو هم ورته مورچے اونیوے او یوه درنه جګړه اونښته۔

دَ یو څو ساعته سخت مقابلے نه پس سپاهیان ټینګ نهٔ شول او دَ مانجي پوسټ پله ئے پښے اوئیستے۔ په دے جګړه کښے یوځلویښت [41] تنه سپاهیان قتل او درے [3] اویا کسان ژوبل شول، د دے مقابل کښے څلور تنه غازیان شهیدان او یو زخمی شو۔ غازیانو ته په غنیمت کښے ۸۳ میله ټوپک، ۳۵۰۰ کارتوس او یو تعداد تورے نیزے په لاس ورغلے او په خپله مخه خوارهٔ شول۔

## دَ الیګزنډر په چوکئ برید:

دَ کال ۱۹۲۲ء دَ جون په شلمهٔ [20] او څلیریشتمه [24] نیټه غازیانو په رزمک کښے دَ الیګزنډر چوکئ ترخواؤ شا دَ فوځ په یوے دستے دوه ځله حملے اوکړے۔ دغه دواړه حملے دومره سختے وے، چه دَ سترګو په رپ کښے ئے دَ فوځ نه درویشت [23] کسان قتل او ۳۳ تنه سخت ژوبل کړل. غازیان دَ څیرے صحیح سلامت لاړل۔

## دَ سرا روغه برید:

دَ جولائی کال ۱۹۲۲ء په پنځمه نیټه دَ سرا روغه په سیمه کښے غازیانو دَ ملیشئے په یو پیکټ حمله اوکړه۔ دَ ټکه ئے دیارلس [13] کسان

قتل کړل او ټوپک ئے ترے نه یوړل ۔

## په کوز شکتوئے بمباری:

دَ محسودو په سیمه کښے به چه کومے حملے کیدلے، هغه به فیرنګی دَ کوز شکتوئے والو نه انګیرلے، په دے وجه په کوز شکتوئے کښے دَ شابی خیلو محسودو په کلیو باندے دَ ۲۶ ر جولائی سنه ۱۹۲۴ء نه تر ۲۸ ر جولائی پورے پرله پسے بمباری اوکړه ۔ دَ بمباری په آخرنئ ورځ دَ فیرنګی شپږ جنګی طیارے په دومره سختو لوخړو کښے راګیرے شوے چه لرو بر ترے نه خطا شول ۔ دوه طیارے خو صحیح سالمے کښینو لے شوے، ولے پاتے څلورو طیارو کښے دوه دَ رزمک په سیمه کښے پریوتے، بله دَ عید کو کلی په خوا کښے اولویده، او څلورمه په بر شکتوئے کښے دَ شاه ولی الکډے په سیمه کښے راګوزاره شوه او ټوٹے ټوٹے ورے شولے ۔

## دَ جی ۔ ایچ ۔ ټیپ قتل:

لفټیننټ جی ۔ ایچ ۔ ټیپ (G.H.Tapp) په ساؤتھ وزیرستان سکاؤټس کښے افسر وو ۔ په ۹ ر دسمبر سنه ۱۹۲۴ء دهٔ دَ سروکی نه شمال پله په بروند رغزی (Barwand) کښے رنګروټانو ته تربیت ورکولو ۔ دَ ګیګا خیلو محسودو یوے ډلے پرے ډزے اوکړے او ټیپ ئے په ځائے ساړهٔ خوله کړو ۔ په دغه غازیانو پسے دَ فیرنګی چغه راووته ۔ او په لاره کښے وبله لاندے باندے شول ۔ سخته جګړه اونښته ۔ چه په نتیجه کښے دَ فوځیانو له خوا نه نوریځلس (۱۵) کسان مړهٔ او پنځه دیرش (۳۵) سخت ژوبل

شول۔ مقابل کښې دَ غازیانو له خوا نه شپږ تنه شهیدان او اووهٔ تنه ژوبل شول۔

## دَ جنډولې سړوکۍ سړک :

دَ جنډولې سړک په کال ۱۹۲۳ء دَ مئ میاشت کښې شروع کړې شوې وو۔ او په ستمبر کال ۱۹۲۴ء کښې سړوکئ ته په مکمل ډول ورسیدو۔

## نوې قلعې :

دغه شان په سوئیلی وزیرستان کښې په سراروغه، انزری تنګی، چکمالی او سپیلتوئ باندې زیرِ تعمیر نوې قلعې هم ترجون ۱۹۲۴ء پورې بیخی سرته اورسولې شوې۔

## دَ ټل پُل :

دَ ایشیئ رزمک په سړک باندې دَ روډِ توچئ دَپاسه ټل پُل په ۱۶ / جون کال ۱۹۲۴ء په پوره ډول تکمیل ته اورسیدو او ټریفک پرې چالان شو۔

## په احمدوام او عمر مرغزی بمباری :

فیرنګی یو ځل بیا دا کوشش شروع کړو، چه دَ عبدالرحمان خیلو او داسې نورو یو څو محسودو قامونو سره کوټې پټې کړی او خاموشئ ئې کړی۔ مګر دَ فیرنګی دا مرام ترسره نهٔ شو۔ او خصوصًا دغو خلقو لا کلکې ملې ورپسې اوتړلې۔ کله به ئې دَ سرکاری پوستونو نه هندوان او سرکاری ملازمان تښتول، کله به ئې دَ ټیلیفون تارونه شلول او کله به ئې دَ بنځو ضلعو نه سرکاری څاروی راوستل۔ او چه دَ راوستو

موقع به ئې پرے برابره نهٔ شوه نو هم هلته به ئې وژل۔ فيرنګي د دې نه ډير تنګ راغې۔ او آخر دا چه په اووم فروری کال ۱۹۲۵ء ئې په احمدوام او عمر زغزی باندے سخته بمباری اوکړه۔

## دَ ګومل پولیس په چوکئ حمله:

دَ کال ۱۹۲۵ءَ دَ فرورئ دَ شلم او یو ویشتم تاریخ په مینځ شپه غازیانو دَ ګومل پولیس په چوکئ شبخون اوکړو۔ پولیس والا هم ورپسے راپورته شول، او دَ دواړو ډلو ترمینځه زبردسته مقابله اونښته۔ غازیان په دا سے ځوانمردئ او استقامت سره ورمته شول، چه دَ پولیس والوُ پښے اوخوئیدے۔ او دَ څوکئ نه په تیښته ئې پیښه اوکړه۔ لږه شیبه پس غازیانو په چوکئ قبضه اوکړه۔ او په چوکئ کښے دننه ئې دَ نورو خزلو نه علاوه په ۳۷ میله ټوپکو او بے شمیره کارتوسو چُور ګډ کړو۔ دَ پولیس والوُ نه په دے موقع لس کسان قتل او دیرش تنه ټپیان شول۔

## دَ ټانک او غزنی خیلو سړک:

دَ بائین په دره کښے دَ ټانک او غزنی خیلو سړک په فرورئ کال ۱۹۲۵ءَ کښے رو جبه روجبه دَ موټرونو دَ ټریفک دپاره بند شو۔

## دَ دُرداني کیمپ ورانول:

دَ میرانشاه نه قطب پله په ډانډے کښے دَ دُرداني په مقام یو لوئے فوځي کیمپ قائم کړے شوے وو۔ او دَ وزیرو داوړو غازیانو به اکثر محاصره ترینه تاوُ کړے وه۔ آخر فیرنګي دَ دے کیمپ په زغښته

کښې بې وسه شو او په اتویشتم ۲۸ فروري ۱۹۲۵ء ئې خالي کړو- وقتي طور فوځ د میرانشاه قلعې ته منتقل شو او د کیمپ آبادي ټوله ورانه کړې شوه.

## د شیوې قلعې از سرِ نو تعمیر:

د شیوې قلعه چې د کال ۱۹۱۹ء په شورش کښې ورانه شوې وه، یو ځل بیا جوړه کړې شوه- او په ۲۶ر فروري ۱۹۲۵ء توچي سکاؤټس پکښې میشته شو-

## د بنوں او ډیره اسماعیل خان په ضلعو کښې حملې

| کال | حملې | بنیادم |  |  | د ولجه شوي سامان مالیت |
|---|---|---|---|---|---|
|  |  | اغوا شده | مجروحین | مقتولین |  |
| ۱۹۱۹-۲۰ء | ۳۲۴ | ۱۴۹ | ۲۲۷ | ۱۹۷ | ۱۲ لاکھ ۷۶ هزار |
| ۱۹۲۰-۲۱ء | ۲۳۳ | ۱۰۶ | ۱۲۵ | ۱۸۸ | یو لکھ ۶۶ هزار |
| ۱۹۲۱-۲۲ء | ۱۲۹ | ۵۰ | ۵۶ | ۱۰۸ | ۸۷ هزار |
| ۱۹۲۲-۲۳ء | ۷۳ | ۳۳ | ۳۶ | ۴۲ | ۴۲ هزار |
| ۱۹۲۳-۲۴ء | ۴۴ | ۲۱ | ۱۶ | ۶ | ۳۴ ″ |
| ۱۹۲۴-۲۵ء | ۲۵ | ۷ | ۲ | ۱۸ | ۶ هزار |

حواله: "ملټري رپورټ آف وزیرستان ۱۹۳۵ء صفحه نمبر ۷۹-

**د سروکي سړک:** د سروکئ وانا په سړک باندې د کال ۱۹۲۸ء د مارچ په میاشت کښې د سروکئ نه تر تانې پورې د لاریو او موټرو آمد و رفت شروع شو-

## دَ رزاني دتّه خيلو لاړ:

دَ کال ۱۹۲۸ء نومبر مياشتې پورې دَ رزاني نه تر دتّه خيلو پورې دَ ريډيو دَ ټک راټک جرګه لاړ سر ته اورسيده.

## په ډاويډسن حمله:

لفټيننټ ډاويډسن ( DAVIDSON ) نومې يو انګريز افسرچه ګريزن انجنيئر وو، په ۱۸ دسمبر ۱۹۲۸ء دَ کرب کوټ او تـاني په خواؤشا کښې روان وو، يو څوغازيانو پرې حمله اوکړه. ډاويډسن ئې سخت ژوبل کړو، او بچـيله سلامت لاړل.

## دیارلسم باب

# ملک سادے خان

ملک سادے خان د ملک آدم خان مداخیل وزیر ځوئے وو۔ او د شیرنے او سیدونکے وو۔ د دهٔ یو بل ورور غلام خان نومید و۔ چا چه د کال ۱۸۷۸ء نه تر مئ ۱۸۸۲ء پورے د مُلا ادیکړ په مشرئ کښے د فرنگی په خلاف د تَل بنوں او تَل کرم په سرکونو سخت جنگونه کړی دی۔

نومبر ۱۸۵۹ء کښے د کپتان میچم په قتل کښے د محبت خان او زنگی خان سره غلام خان هم ملګرے وو۔ آدم خان د اتمانزو وزیرو سردار وو او دومره طاقتور وو، چه هلته په کابل کښے امیر عبدالرحمان ترے نه په لرزان وو۔ او د ډیرے ویرے نه ئے دے او د دهٔ ځوئ غلام خان دواړه په زهرو اووژل۔ د دغے واقعے په حقله د "ټرائبز آف وزیرستان" لیکونکے لفټیننټ کرنل سی۔ای۔ بروس په صفحه ۱۷ لیکی چه:

"په وزیرستان کښے د دوئ د کورنئ پوزیشن کمولو په خاطر امیر عبدالرحمان د زنگی خان نیکهٔ آدم خان او

ترهٔ غلام خان دوارهٔ په زهرو وژلی وو.[له]

اپریل ۱۸۸۱ء پورے ملک آدم خان ژوندے وو. دَ دهٔ دَ مرګ نه پس دَ اتمانزو وزیرو مشری ملک ساده خان ته اوسپارلے شوه. ملک ساده خان ډیر بااثره شخصیت وو. او دَ خپلے تورے، پخته عزم او سیاسی شعور په اساس ئے افغان او برطانوی دواړو حکومتونو کښے بنهٔ مؤثر کردار ادا کولو، او دواړو به په نظر کښے ساتلو. دَ دهٔ دَ بنو به ئے ستائنه کوله او په بدو به ئے سترګے پټولے.

دَ کال ۱۹۱۹ء په ګړبړ کښے دَ ملک ساده خان پوره پوره لاس وو. ولے فیرنګی په دهٔ باندے دَ بلوشے جرأت نهٔ شو کولے. او په تشو رپورټونو کښے به ئے براس ویستو.

دَ توچئ پولټیکل ایجنټ میجر ګریټ (Garrett) په خپل رپورټ:

"Note regarding penative measures in connection with Tochi-rising, Dated 10 june 1919" کښے دَ ملک ساده خان په حقله لیکی چه:-

"په مداخیلو کښے موږ فقط دَ یو سرغنه احتیاج لرو، کوم چه ساده خان نومیږی. دغه سړے دَ مایزر دَ عذارانه واقعے په سبب یو کُل جیل ته هم تلے دے او دَ دهٔ کړهٔ وړهٔ نهٔ یواځے په مداخیلو بلکه په ټولو وزیرو اثر پریشتلے دے.

داخولاڅهٔ، چه په تیرو ورځو کښے دَ ملیشئ هغه

---

[له] دَ زهرو دَ واقعے نهٔ خو صحیح تاریخ معلوم دے او نهٔ حقیقت.

هندوستاني افسران هم دهٔ بے لاڑے کړي وو، دَ کومو په ذريعه چه ګرد سپاهيان ګمراه شوي وو۔ دَ ساده خان دَ ضرر رسانه اثر لاندے وزير اوس هم دومره غدار دي، څومره چه دَ نن نه دوه ويشت[22] کاله آګاهو وو۔ تر څو پورے چه ساده خان دَ کومے سنګينے سزا سره مخامخ شوے نهٔ وي، يا دَ هميشه دپاره دَ دغے سرحد نه شړلے شوے نهٔ وي، تر هغے په وزيرو هيڅ اعتماد نهٔ شي کيدلے۔"

دَ کال ۱۹۱۹ء کړ بړ خو څهٔ، چه دَ کال ۱۸۹۵ء نه تر کال ۱۹۲۵ء پورے په قطبي وزيرستان کښے دَ افغان او برطانوي حکومتونو په نظر کښے بل داسے خوانان وو، چه دَ ساده خان سيالي ئے کړے وے۔ په کال ۱۹۲۵ء کښے چه دغه توريالے خوان وفات شو، نو دَ دهٔ دَ ملکئ پټکے دَ دهٔ دَ نوموړي خوئ زنګي خان په سر او تړلے شو۔ کال ۱۹۲۶ء کښے فيرنګي دَ "خانصاحب" خطاب ورکړو، ولے څومره چه فيرنګي دَ ملک زنګي خان نه دَ وفادارئ توقع لرله، هومره ئے ترے نه حلق تريخ شو۔ او دَ ملکئ پټکے تړلو سره هغه دَ فيرنګي په خلاف ميدان ته راووتو۔ په ۱۹۲۸ء کښے دَ مارچ په ۲۹ نيټه چه دَ وزيرستان جي۔ او۔ سي جنرل ويګرام (Wigram) سره دَ نورو ګڼو افسرانو او بے شميره فوځيانو دَ زنګي خان سره دَ ملاقات کولو په غرض کړشے له ورغلو او په مايئر ئے دَ فوج کشئ خبره ورسره اوکړه۔ نو دهٔ

سکوټ انکار اوکړو۔ او دَ خپل قام په غاړه چاړهٔ راکښلو ته تیار نهٔ شو۔ دا خولاخهٔ ؟ چه دهٔ دَ جنرل ویگرام ډیر سپکاوے هم اوکړو۔ کله چه دے په جرګه ورګډیدو، نو نهٔ خو زنګی خان پخپله تعظیماً ورته پاڅیدو او نهٔ دَ دهٔ ملګری۔ بلکه په دا موقع ئے کنزفراریان هم راغونډ کړی وو۔ هسے هم دَ زنګی خان جرګه به دَ فراریانو آماجګاه وه۔

دَ افغانستان مشهور ایجنټ زاکیم شاه خو به هر وخت ورسره موجود وو۔ کال ۱۹۲۸ء کښے چه انګریزان دَ دهٔ دَ حرکتونو څخه دَ تورو وئیو ډک شول، نو دَ دهٔ مواجب او خطابات ئے ضبط کړل، او دَ مدآخیلو دغه علاقه ئے تر ۱۹ جنوری ۱۹۲۹ء پورے ناکه بند کړه۔ دغسے ئے په زنګی خان نور هم وسونه اوکړل، خو مجال وو، چه هغه ئے دَ خپلے لارے نه راواړولے وے۔ آخر فیرنګے مجبوره شو او دَ زیاتی کړ بړ له ویرے نه ئے زنګی خان ته ټول مراعات او اعزازات واپس ورکړل۔

زنګی خان سکوټ اُمّی (اَن پړه) وو۔ ولے زبردست څیرکړ، مستقل مزاج او دَ غیرمتزلزلو ارادو خاوند وو۔ په کمسنی عمر کښے ئے دَ اتمانزو وزیرو مشری ترلاسه کړے وه۔ هم ئے په حکومت خپل رُعب منلے وو او هم ئے په اولس کښے شان قائم کړے وو۔ هغه سوچه مُسلمان وو او دَ وزیرستان سره ئے بے کچه مینه لرله۔ په ۲۷ اګست ۱۹۲۸ء چه یوځل ابراهیم خیلو وزیرو دَ کوم قامی کشالے په وجه دَ سپین کمر په محسودو باندے دَ لشکر کشئ فیصله اوکړه نو هغه وخت

زنګی خان دَ زبردست فهم وفراست نه کار واخستو. او هغه لښکر ئے دَ محسودو په ځائے په فیرنګی ورواچولو. او بے حسابه تاوان ئے ورته اورسولو. زموږ دغه دروند، نومورے او په قام مئین مشر په معمولی تنازعه دَ خپلو تربورانو دَلاسه اووژلے شو.

دَ واقعاتو تفصیل داسے بیانیږی، چه دَ زنګی خان دَ خپل تره ځان حبیب سره له مودو نه تعلقات خراب راروان وو. دَ خان حبیب سکه تربوران دَ زنګی خان سره وره په وره اوسیدل. ولے دے پخپله ترے نه لرے وو. یوه ورځ دَ دوئ په مابین کښے په زمکه تنازعه راپورته شوه، او په نتیجه کښے ئے په ۳۰ اپریل ۱۹۳۵ء سحر وختی دَکور نه باهر زنګی خان، دَ دهٔ یوکش ورور صاحب جان او دَ دهٔ دَ ترهٔ ځوئے مجان درېواړه قتل کړل.

قاتلانو دَ خان حبیب په کوټ کښے پناه واخسته. دغے خونریزه تصادم په مدا خیلو کښے اشتعال پیدا کړو. دَ مدا خیلو قامی لښکر راغونډ شو او دَ خان حبیب دَ کوټ نه چاپیره شو. دَ سخته مقابلے نه پسته ئے په ۲ مئ دَ خان حبیب کوټ تباه کړو او دیارلس ۱۳ نفر خپلوان ئے ورله اووژل. دوئ ناربینهٔ، دوه زنانهٔ او شپږ ماشومانو په تیښته ځانونه خلاص کړل. او دَ داوړو ملک میراعظم خان محمدخیل کره ئے پناه واخسته. په دغه نښته کښے دَ مدا خیلو دَ قامی لښکر نه هم اته ۸ کسان مړهٔ او لس تنه ژوبل شول.

زنګی خان دَ ۲ مئ په سحر په خپل پلارینی مریتون کښے ښخ

کړے شو، او هم په دغه ورځ دَ اتمانزو وزیرو دَ مشرئ پګړۍ دَ دهٔ
دَ مشر ځوئے خاندان په سر او تړلے شو۔ دغه وخت دَ خاندان عمر
صرف ۲۷ کاله وو۔ دَ زنګی خان په جنازه او دَ خاندان په دستاربندئ
کښے په زرګونو قبائل شریک شوی وو۔

دَ نارتھ وزیرستان پولیټیکل ایجنټ کپتان جی۔ سی۔ ایل کریکټن
(Crickton) په "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ ۳۶-۱۹۳۵ء" کښے
دَ زنګی خان په حقله رقمطراز دے، چه:

"اګرچه ده په پوره ډول هغه بے مثاله پوزیشن
حاصل نکړے شو کوم چه دَ دهٔ پلار سادے خان را
خپل کړے وو۔ ولے بیا هم زنګی خان ترخپله مرګه
پورے په قطبی وزیرستان کښے بلاشک و شُبه یَو
طاقتور او ذی اثر ملک وو۔ دَ خپل پلار په شان
چه دهٔ دَ وزیرو په قبیله کښے کوم عظمت پیدا کړے
وو، هغه دَ خپلے قبیلے سره دَ دهٔ دَ هغو غیر مصالحانه وفادارئ
خلوص او ضد مرهونِ منت وو، دَ کومو په اساس به چه
دهٔ دَ هغوئ آزادی یا نور مفادات دَ غیرو دَ عصبیت
څخه محفوظ ساتل، خواه که دغه برطانوی حکومت وو
یا افغان، او یا کومه بله قبیله۔"

دَ اتمانزو وزیرو دَ مشرکیدو په وخت دَ ملک خاندان عمر
ډیر کم وو۔ ولے دَ خپلو لرغونو مشرانو په نقشِ قدم باندے داسے

نیغ روان شو چې انګریزان ورته ګوته په خوله پاتې شول.

هم په دغو شپو ورځو کښې چې مجاهدِ اعظم الحاج فقیرایپیؒ دَ انګریزانو په خلاف دَ جهاد اعلان اوکړو. نو دغه باتورهم ورسره پوره پوره ملا اوتړله. نه ئې په سر صرفه اوکړه او نه په دولت چیل ته لاړو، په کلی ئې بمباری اوشوه او تاوانونه ورته اورسیدل، خو مجال وو، چې فیرنګی ته ئې غاړه ایښې وے.

دَ نارتھ وزیرستان پولټیکل ایجنټ سی. بی. ډیوک (DUKE) په "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ برائے ۱۹۴۱-۴۲ء" کښې دَ دهٔ په حقله داسے واویلا کړے ده:

"خاندان هغسے په خپله قبیله کښې دَ حکومت دَ وفادارو غړو په ویرولو کښې بوخت دے. سره دَ دے چې په عمومی توګه قبائلی احساسات دَ دهٔ په خلاف دی. ولے بیا هم دَ دهٔ په رویّه کښې دَ اصلاح هیڅ علامے نهٔ ښکاریږی. له دے کبله دَ ۲۹ مارچ ۱۹۴۲ء نه تر یکم اپریل ۱۹۴۲ء پورے دَ دهٔ په کلی شپږ ځلے بمباری اوشوه."

دغه توریالے ملک دَ قوم او ملک پوره پوره وفادار وو، او خپل خاندانی وقار او عظمت ئې په ښهٔ ډول برقرار ساتلے وو. کله چې پاکستان جوړ شو، نو ملک خاندان هم په ډیر اخلاص سره خپله وفاداری ورته وړاندے کړه. ملک خاندان، چې څو مره دَ اتمانزو وزیرو

دَ یو مشر په حیث په حکومت کښې درانښت لرلو، هومره ئے په وزیرستانی اولس کښې هم مقبولیت درلود۔ دَ خپل فقیرانه خوئ بوئ له کبله به هرچا مینه ورسره کوله۔ دَحکومت او عوامو ترمینځه به چه څهٔ کشاله پیښه شوه۔ نو دهٔ به همیشه دَ عوامو طرفداری کوله، او دَ یتیمانو لشکرته به په ورانده روان وو۔

زموږ دغه نیک سیرته، زړهٔ ور او په قام مئین ملک دَ اوږدے بیماریٔ نه پس په ۲۶، ستمبر ۱۹۸۶ء په حق اورسیدو۔ او دَ دهٔ په ځائے دَ دهٔ مشرے ځوئے عبدالودود خان جانشین او ټاکلے شو۔

## لالا پیر:

لالا پیر دَ افغانستان دَ خوست په منطقه کښې دَ کړا آخارے لوئے ملک وو۔ اصلی نوم ئے محمّد حسین شاه وو۔ په دے نسبت سره کړا آخارے ته اوس حسن کوټ هم وئیلے شی۔ هرکله چه ډیورینډ لائن راکښلے شو: نو هغه وخت به لالا پیر په وزیرستان کښې دَ انګریزانو په ضد او دَ امیر کابل په حق کښې خلق راپورته کول او دَ جهاد تبلیغ به ئے ورته کولو۔

دَ دهٔ په ژبه کښې څهٔ داسے تاثیر وو، چه محسود، وزیر، داوړ او بیټنی به همیشه دَ فرنګی سره برسرِ پیکار اوسیدل۔ دهٔ به هر وخت وزیرستانی اولس ته وئیل چه:

"فرنګی په کال ۱۸۹۵ء کښې تاسو سره وعده کړے وه، چه دَ افغانستان سره دَ حد بندیٔ سرته رسولو

نه پس به دَ وزیرستان نه بیرته اوځي. ولے هغه اوس وعده خلافي کوي او لګیا دے په وزیرستان بانْدے دَ دائمي پنځو ښځولو ترتیبات ترړي. راځئ چه غیرت اوکړو او چله پاکه خاوره ترے نه آزاده کړو"

لالاپیر په خپل کلي اَو موسترپل کښے باقاعده لنګر جاري کړے وو او کنړغازیان او مفروران به ورسره اوسیدل. دَ "ملټري رپورټ آن وزیرستان سنه ۱۹۳۵ء" په صفحه ۵۷ بانْدے ورته (Khost fire brand) "دَ خوست آتش نشان" ویئلے شوي دي. لالاپیر دَ افغانستان دَ مرکزي حکومت ایجنټ وو. او دَ ډیر سیاسي شعور، نفسیاتي پوهے او جنګي مهارت خښتن وو. ده په وزیرستان او افغانستان کښے پوره پوره اثرورسوخ قائم کړے وو.

په کال سنه ۱۹۱۰ء کښے دَ "قید یاغستان" مصنف په صفحه ۳۰۷ او ۳۱۲ دَده دَ شخصیت دا سے خاکه راکاږي:

"معلوم ہوا کہ فراریوں کے معزز اور ہر دلعزیز بزرگ لالاپیر بذاتِ خود تشریف لائے ہیں ........ وہ ایک سفید گھوڑی پر سوار تھے۔ سفید ریش، دُبلا بدن، کپڑے نہ بہت میلے اور نہ اُجلے، اور ایک پرانے فیشن کی مدوّر شیشوں کی عینک زیبِ چشم کئے ہوئے تھے۔ اُس وقت گاؤں کے تمام فراری ان کے گرد جمع تھے۔"

لالاپیر دَ المجاهد ادیکر صاحب" شاګرد وو او په لانړه واوړه کښے

ئے سبق تر ے نہ وئیلے وو۔ کال ۱۹۳۷ء کښے تقریبًا د شلو کالو په عمر کښے وفات شو۔

## زاکیم شاه:

په بیرمل کښے د مړغے پیپلی کابل خیل وزیر وو۔ دهٔ هم د ملا پیر په شان د افغان حکومت سره رابطه لرله او د ملا پاوندهٔ او وزیرستان په حقله به ئے مرکز ته اطلاعات استول۔ د شاغاسی محمد اکبر خان، چه د سمتِ جنوبی (پکتیا) نائب الحکومه وو، بریښے وو۔ شاغاسی په متون کښے سکونت درلود۔ او د کردین، اُرګن او خوست علاقے تر ے لاندے وے۔

شاغاسی په جنوری ۱۹۱۲ء کښے پوچه پوچه اُرګن ته راغلے وو۔ وروستو د څه جرم په پاداش کښے د کابل امیر حبیب الله په توپ کښے والوزولو۔ د شاغاسی د ملازمت په دوران کښے زاکیم شاه هم د تانړیو د دراکی حاکم وو۔

زاکیم شاه ډیر جابر او رُعب دار ے بنیادم وو۔ ښځوا به د تانړیو نرو ښځو پړداګونه (پړتوګونه) نهٔ اغوستل، او بیرد ے او بیرد ے شړئ یا او بیردهٔ تر ښځو خټونه (قمیصونه) به ئے اغوستل۔ زاکیم شاه چه په اول ځل دراکی ته راغے نو په هر هغه کس به ئے دوه غیرن جریمه لګوله، چا به چه پړتوګ نهٔ وو آغوستے۔ د دهٔ جنتی نو مے نوکر به چه د تانړیو د کلیو په مخه راتللو نو خلقو به د جرمانے د ویر ے نه په مال پسے تللیو کسانو پسے عزرونو ته پړداګونه وړل۔ د

زاکیم شاه یو بل ورور هم وو، چه زالِم نومیدو. هغه ډیر بیاوړے وو او هر وخت به دَ فیرنګی په خلاف سرګرمئ کښے لګیا اوسید و، یو ځل ئے دَ دتہ خیلو خواکښے دَ ډاک په تپانګه هم حمله کړے وه او نښت تاوان ئے ورته رسولے وو.

زاکیم شاه تر کال ۱۹۳۳ئ پورے ژوندے وو، دَ هغے نه پس ئے ټول حالات په تیارهٔ کښے دی.

## دَ خیرجی محسودو په رمو حمله:

دَ سروکئ قلعے په خواکښے چه دَ فوځ څخه کوم مړی ژوبلی شوی وو، دَ هغے دَ برامته نهٔ ورکولو په جرم کښے فیرنګی په ۳۰ر اکتوبر ۱۹۲۸ئ دَ کنډی غر نه جنوب پله دَ خیرجی محسودو په رمو حمله اوکړه او زرګ میږے اودرے میله ټوپک ئے دَ شپانو څخه تر لاسه کړل. دَدے نه علاوه ئے اووهٔ کسان څرولاسی شپانهٔ هم ګرفتار کړل.

## دَ بوستان برید:

دَکال ۱۹۲۹ئ په ۱۴ر جون لفټیننټ سټیفن (Stephens) او اے. ایس. کاربرال (A/S Corbral.) دَ رزمک ترخوا په موټر کښے روان وُو یو څو غازیانو، چه دَ بیاړ‌ژے محسود وو، دَ بوستان په مشرئ کښے حمله پرے اوکړه. انګریزان ئے دواړه قتل او موټروان ئے سخت ژوبل کړو.
دَ فوځیانو څه ور پیسے اووته، خو څوک ئے رالاندے نکړے شول.
انګریزان په دے لا اوقهریدل، او دَ بوستان په نیولو پسے ئے شپه ورځ یوه کړه. یوه ورځ دَجنوبی وزیرستان نائب پولټیکل ایجنټ پیکمن

(Peekman) په مشرئ کښې ملیشیؤ او خاصه دارو پټ په پټه دَ دهٔ له کوره څخه گهیره تاؤ کړه. او کنج په کنج ئے دَ دهٔ پلټنه اوکړه، مگر پیدا ئے نکړے شو. ولے چه هغهٔ لا مخوا بیرمل ته پښنے ئیستلے وے. فیرنگی هلته هم دَ نائب پولټیکل افسر محمّد نوازخان په مشرئ کښې دَ احمدزو وزیرو ملکانان او کنرخاصه دار ورپسے اولیږل. هرسیمه ئے اولټوله خو دَ بوستان درک ئے معلوم نکړے شو. آخر دَ دهٔ بیگناه خپل خپلوان ئے گرفتار کړل او تر مودوئے په بندی خانو کښې اوکړول۔

دَ فیرنگی زړهٔ په دغے هم سوړ نهٔ شو. یو خوا ئے دَ دهٔ دَ گرفتارئ په سرغټ غټ انعامونه اوښندل او بل خوا ئے دَ خاصه دارو په ذریعه کوشش نور ورپسے تیز کړو۔

توریالی بوستان ته چه دَ وطن هر ځائے تنور شو، نو مجبورًا ئے افغانستان ته کډه یوړله او په کابل کښې میشتهٔ شو۔

## څوارلسم باب

# دَ سقاؤ جګړې

امان الله خان دَ کال ۱۹۱۹ء اینګلو افغان جنګ کښې چه انګریزانو ته کوم بے دریغه تلفات رسولی وو او شرمونده ئې ورپه غاړه کړې وو په هغې باندے نۀ تاریخ پرده اچولے شوه او نۀ دَ سلطنت برطانیه واکدارانو هیرولے شول. دغو هر څۀ به دَ سپین پوستو په ګوشت و پوست کښې دَ ازغو په شان چیچ کولو. ولے امان الله خان دا هر څۀ هیر کړی وو. یو خوائې خپل زبردست جرنیل نادر خان دَ وزیر جنګ دَ عهدے نه مات کړو او دَ سفیر په حیث ئې فرانس ته اولیږلو. هغه په دے مرور شو او استعفیٰ ئې ورکړه. بل خوا دَ خپل حکومت په نهم کال په ۷ دسمبر ۱۹۲۷ء دَ دنیا په سیل اووتو. دَ دۀ سره ملکه ثریا هم وه. دَ تلو په وخت امان الله خان خپل جانشین ولی محمد بدخشانی مقرر کړے وو. دغه بد کرداره بدخشانی او دَ فیرنګیانو سفیر همفرے دَ دۀ په خلاف دَ مختلفو ذریعو نه داسے پروپیګنډه شروع کړے وه، چه ټول اولس ئې ترے نه بدګمانه کړے وو. هر کله چه په ۲۸ جون کال ۱۹۲۸ء

امان الله خان بیرته کابل ته راغی، نو ده دَ خپل قام په نبض کوتے کښیښودے او دَ راتلو سره ئے دَ وطن نه یورپ جوړول شروع کړل - په دے باندے اولس خوابدے شو - او په ۸، نومبر ۱۹۲۸ء ځائے په ځائے شورش راپورته شو - وروستو دَ سرکاری منصبدارانو په کوته دغه شورش په ټول وطن کښے خور شو - او دَ یو انقلاب شکل ئے اختیار کړو -

په کابل کښے دَ انګریزانو سفیر همفرے دَ یو ماشکی ځوئے بچه سقه رامخکښے کړو - دَ بچهٔ سقه اصلی نوم حبیب الله خان وو - پلار ئے عبدالرحمان خان نومید و - او دَ افغانستان دَ هغه فوځ چه " دَ نمونے ټولے " په ورته ویئلے شول، یو سپاهی وو - دَ نمونے دا فوځ په کال ۲۲-۱۹۲۱ء کښے دَ ترکی جرنیل جمال پاشا په نګرانئ کښے قائم شوے وو - وروستو دغے فوځ ته دَ خپلے بهادرئ له کبله په ارګ کښے ځائے ورکړے شو - چونکه دغه دَ حکومت یو مخصوص فوځ وو - نو په دے وجه به عمومًا دوئ ته چوټی نهٔ ملاویده - او سپایان به اکثر خپلو کورونو ته لیواله وو، او پټ په پټه به یو یو، دوه دوه تلل او څو ورځے پس به بیا راتلل -

دَ دوئ په دے چل چه حکومت خبر شو نو دَ کابل په څلور طرفه لارو کښے ئے پیرے چوکئ مقرر کړے او دوئ به ئے رانیول - یوه ورځ بچه سقه هم دَ خپلو ملګرو سره په پټه کور ته روان وو - په لار کښے پرے دَ پیرے سپایان پیښ شول او یو تربله مشت و ګریوان شول - بچه سقه وزے پرے اوکړے او یو څو سپایان ئے په ټوپک اوویشتل -

په هغو کښې یو مړ شو۔ بچه سقه دَ مړهٔ سپاهي ټوپک واخستو او کوږ پله ئې مخه اوکړه۔ بس دغه ورځ وه، چې هغه مفرور شو۔ او شوکمارۍ ئې شروع کړه۔ وروستو دَدهٔ سره یو بد نام ډاکو سید حسین هم ملګرے شو۔ او دواړه دَ سرکاري افسرانو او فیرنګیانو په مرسته دَ امان الله خان په خلاف میدان ته راووتل۔

دَ امان الله خان په خلاف رو ښه اُور دَ شنوارو نه پورته شو۔ دَ هغې سپرغۍ تر هرات او ترکستان اورسیدل او په نتیجه کښې ئې په ۷ر جنوري ۱۹۲۹ء امان الله خان دَ تخت نه کوز شو او خپل ورور عنایت الله ئې پرے کښینوو۔ امان الله خان په ۱۴ر جنوري ۱۹۲۹ء قندهار ته لاړو۔ او دَ هغه ځائے نه دَ چمن په لار اټلي ته اورسیدو۔ په دریمه ورځ بچه سقه کابل ته راغے او دَ جمعې په ورځ ئې دَ خپلې بادشاهۍ اعلان داسے اوکړو:

"امیر بچه سقه حبیب الله، دَ هغهٔ ورور حمید الله معین سلطنت، سید حسین وزیر جنګ، عطاء الحق وزیر خارجه، عبد الغفور وزیر داخله او شیر جان وزیر دربار۔"

بچه سقه خپل وکیل التجار امام الدین چاریکائي پیښور ته دَ سردار عبد الحکیم خان په ځائے رااولیږلو۔

بچه سقه چې کله دَ کابل په تخت قبضه کوله، نو جنرل نادر خان هغه وخت په فرانس کښې وو۔ هغه چې خبر شو او دَ نړۍ دَنس نه

کراچۍ ته راغلو. په ۲۴ فروری ۱۹۲۹ء د افغانستان په نیت د کراچۍ نه پېښور ته را روان شو. هم په دغه ورځ د لاهور په ریلوے سټېشن مولانا ظفرعلي خان د تحریک خلافت د یو لیډر په حیث د هغهٔ سره ملاقات اوکړو. او د هغهٔ نه ئے د هغهٔ د ارادو په باب کښې پوښتنه اوکړه. جنرل نادرخان په ځواب کښې ورته اووئیل چه :

"زما دا اراده ده، چه زهٔ به تر هغے پورے قلار نشم
تر څو مے چه د کابل تخت د بچه سقه نه بېرته
آخستے نهٔ وی، او امان الله خان مے پرے کښېنولے نهٔ وی"

جرنیل نادرخان د خپل پروګرام په مطابق د پېښور نه د کُرمے په لار افغانستان ته داخل شو او د سمتِ جنوبي په خوست نومې علاقه کښې مېشته شو.

په ابتدا کښې هغهٔ د تیراه افریدیو او اورکزیو نه د لشکر د حاصلولو کوشش اوکړو، ولے وروستو ئے د وزیرستان قبائیلو ته وفدونه راولیږل.

جنرل نادرخان د کال ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښې د وزیرستان خلقو یو جرنیل په حیث پېژندلے وو. د دهٔ د اطلاع سره سم د وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو لشکرے خوست ته روانے شوے او په ۲۰ ستمبر ۱۹۲۹ء او ۲ اکتوبر ۱۹۲۹ء ئے د دهٔ سره د خوست په مقام لیدل کتل اوکړل. په دغو لشکرو کښې د وزیرستان د مختلفو قبیلو

نه علاوه بنوڅي هم شامل وو. دَ دغو مختلفو لشکرو نامتومشران شهزاده مُلافضل دين، ملک موسیٰ خان محسود، ملک شودی خیل داوړ، او ملک دانړے مداخیل وزیر وو. جنرل نادرخان دَ وزیرستان لشکرو سره دَ هړیوب په مقام یوه جرګه اوکړه او په دے کښے په دے ډول خبرے اترے اوشوے:

ملک دانړے نادرخان ته اووئيل چه...

"دَ بچه سقه سره دَ جنګ کولو نه آګاهو به زموږ یوڅو مطالبات ضرور منلے شي، هغه دا دي چه: (۱) دَ بريالي کيدو نه پس به دَ کابل تخت بيرته امان الله خان ته سپارلے شي.

(۲) دَ جنګ شروع کولو نه آګاهو به موږ ته په سړي سر يوه يوه کمبله، يو يو جوړ څپلۍ، يوه يوه تماچه او يو يو ټوپک راکولے شي.

(۳) دَ کاميابۍ په صورت کښے به موږ ته په سړي سَر دَ خوست په منطقه کښے شپېته شپېته جريبه زمکه راکولے شي.

(۴) په آخر کښے موږ دا خواهش هم لرو چه جرنيل صاحب دِے زموږ دَ مطالباتو دَ منلو په ترڅ کښے دَ خپل لاس ليکلے فرمان راکړي."

جنرل نادرخان چه دا واوريدل، نو په سترګو کښے ئے اوښکے راغلے،

او دَ غزیوه ډک آواز کښے ئے اووئیل چه:

"زما دِ په قرآن پاک سوګند وی، چه کله دَ کابل دَ تخت په کتلو کښے بریالے شم، نو زهٔ به ئے بیرته امان الله خان ته سپارم۔ باقی ستاسو دَ مطالبو په حقله به زهٔ دومره قدر عرض وکړم، چه زهٔ خو ښن یو ملنګ یم کهٔ چرے ما دومره قدرت لرلے، نو تاسو ته څهٔ حاجت وو، ما به هر څهٔ په خپل مټ کړی وے۔ خو دا ستاسو تر وړاندے مے چه څولئ ښوئلے ده، نو پوهه شئ چه زما لاسونه تش دی"

په دے خبره وزیری قام پخپله کښے وبله مرکه شو او په اتفاق ئے دَ داوړو لشکر ته اووئیل چه:

"موښږ وزیرو تاسو ته واک درکړے دے، هر څنګه ځواب چه تاسو مناسب ګنړئ، نادرخان ته ئے ورکړئ۔ زموښږ به پرے امنا وی"

په دے موقعه ملک شودی خیل پا څیدو او خلقو ته ئے اووئیل چه:

"اے خلقه! نن موښږ دَ نادر کاکا نه هیڅ شے نهٔ غواړو۔ بس۔ دے زموښږ بادشاه او موښږ ئے رعیّت یو، ځکه په سقاؤ بسم الله ده"

بیا ئے جرنیل نادرخان ته مخ ورواړولو او ورته اوئے وئیل چه:

"نادر کاکا! اوښکے دِ پاکے کړه۔ هغه دَ راتلو په
وخت مے دَ چنړی دَ خوږ (دَ خپلے ښځے) اوښکے هم لا
نه دی هیرے"۔

دَ ملک شودی خیل په خبرو جنرل نادرخان دومره خوشحال شو او په دهٔ ئے دومره مینه راغله، چه کله سقاؤ اووهلے شو، نو دَے ئے په ډیر عزت و احترام سره په کابل کښے تَم کړو او دَ جرنیلئ په خطاب ئے اونمانځلو۔

دَ ملک شودی خیل دَ وینا سره لشکریانو ډولونه اوغږول او په بچه سقه پسے ئے ملے اوتړلے۔ روښے جنګ دَ تیرے کنډؤ په مقام اوشو۔ دغه جنګ یو فیصله کُن جنګ ثابت شو۔

دَ سقاؤیانو پښے راټینګے نهٔ شوے او بچه سقه په ۸، اکتوبر ۱۹۲۹ء سره دَ خپلو واړو زاړو دَ "ارګ" نه اووتو او دَ سمتِ شمالی په لور ئے پښے اوکښے۔

دَ وزیرستان تورزنو په ۱۰، اکتوبر کابل فتح کړو۔او جرنیل نادرخان په ۱۶، اکتوبر ۱۹۲۹ء دَ خپلے تخت نشینئ اعلان اوکړو۔ سر اولف کیرو په خپل کتاب "دی پټهان" کښے وزیرستانی اولس ته دَ کال ۱۹۱۹ء مختصر اینګلو افغان جنګ او بیا کال ۱۹۲۹ء کښے دَ سقاؤ په خلاف جګړو کښے دَ خپلے بے مثاله قربانئ او بهادرئ له کبله دَ خپلے زمانے "بادشاه ګر" وائی۔

په افغانستان کښے چه دَ جرنیل نادرخان تخت په قلار شو نو

دَ وزیرستان دَ توریالو محنه بیا فیرنګی ته شوه. خو مجموعی طور دَ خلقو پام لا هغسې کابل پله وو. ولې چه اکثر مشران هلته وو.

سړکونه:

فیرنګی دَ سقاؤ دَ جګړو په دوران کښې دَ غازیانو دَ غیر موجودګئ نه پوره پوره فائده اوچته کړې وه. او په وزیرستان کښې دَ سړکونو جال خور کړې وو. دَ وانا په سړک چه کال ۱۹۲۷ء کښې دَ سروکئ نه کوم کار شروع وو، هغه په دسمبر ۱۹۲۹ء کښې بشپړ مکمل شوې وو.

په دوه تونو کښې دَ تکی زام پُل په نومبر ۱۹۲۸ء کښې سرته رسیدلے وو. او دَ کوټکی په فروری ۱۹۲۹ء کښې مکمل شوې وو. هم په دغو شپو ورځو کښې دَ منزئ نه فوځ هیډکوارټر مستقل طور وانا ته بدل کړې شوې وو. دغه رنګ دَ میرعلی نه تل (کرم)، ته سړک هم دَ ګذارې جوګه شوې وو.

لنډه دا چه اوس فیرنګی ته دَ وزیرستان حالات څه نه څه سازګار شوی غوندې وو. په دې حقله "دی هسټری آف دی مؤنټین آرټیلری" لیکونکے جنرل ګراهم په صفحه ۲۳۰ دا سې لیکلی دی چه:

"دَ توچئ او ساؤتھ وزیرستان سکاؤټس به دَ خپلو ډیوټو سرکولو په لړ کښې په آزادانه طور ګرځیدل."

رمضان خان محسود: رمضان خان دَ کال ۱۹۳۰ء نو نوموړے مجاهد مشر وو. دَ ده ورور سادے خان هم دَ تورے او مړانے په میدان کښې



رمضان خان محسوّد

دَچا دَ توپ نه به چه دَ سرآروغے قلعه په تراره وه۔

ثانی نهٔ لرلو۔ هسے خو دوئ دواړه درے کاله پخوا دَ انګریزانو په خلاف راپورته شوی وو۔ ولے کال ۱۹۳۰ء کښے ئے په ډیرے تیزئ سره خپلے مخاصمانه سرګرمئ په مخ روانے کړے۔

رمضان خان یو قبائیلی ساخت توپ هم درلود۔ اواکثر به ئے دَ سراروغه په قلعه ګوله باری کوله۔ هم په دغه کال یو ځل رمضان خان دَ ساده خان، مولانا ګلین، قامی جرنیل علی بات، قامی جرنیل میرعلی خان بهلولزئ محسود او فقیر محمّد سلیم خان احمدزئ وزیر په ملګرئ کښے دَ سراروغه په قلعه حمله اوکړه۔ یو خوا غازیانو دَ ټوپکو په باړونو کښے راګیره کړه او بل خوا رمضان خان پرے ګوله باری شروع کړه۔ دَ بده مرغه دَ زیات ګرموالی له کبله توپه اوچاؤدله او په بخروئے دوه تنه توریالی غازیان شهیدان شول۔ دَ توپے دَ خاموش کیدلو سره سم دَ فیرنګی جنګی طیارے په فضا کښے راڅرګندے شوے۔ او په غازیانو او ورسره ورسره ئے دَ شمن خیلو او بهلولزو محسودو په کلیو سخته بمباری شروع کړه۔ دَ دغے بمبارئ په اثر کښے ۳۷ کسان غازیان شهیدان، ۷۹۳ کورونه تباه او په غیلو عنیلو څاروی سته شول۔ په مقابل کښے دَ فیرنګی څخه هم څلوېښت تنه فوځیان مړهٔ او اوښیا کسان سخت ژوبل شول۔ دغه شان دَ توپے یو څو رسا ګزارونو باندے په کیمپ کښے دننه هم پوره تاوان وربښن شو۔ رمضان خان دَ لدهے په میدان نوے سیمه کښے دَ سلطانه کلی اوسیدونکے وو۔ او په شمن خیلو محسودو کښے دَ باډوا دَ شاخ نه وو،

پلار ئې الله باغ نومیدو. دَ رمضان نور درې وروڼه عزیزخان، سادے خان اوفرمانه خان به هم هر وخت دَ برطانوی استبداد په ضد بوخت وو. فرمانه خان په ټولو کښې کشرے وو. او په ختړی مشهور وو. دا میرنے په اپریل ۱۹۵۹ء کښې په خپل مرګ وفات شو.

رمضان خان روجے په خاصه دارو کښې صوبیدار وو. ورېستو دَ جهاد شوق په مخه یوړو، هرځۀ ئې پرېښودل او نوموړے غازی شو. په خپلو پیسو ئې توپ جوړ کړو او دَ انګریزانو په خلاف ئې غزاګانې شروع کړې. دغه ننګیالے ځوان چه دَ فیرنګی دَ استعماری قوت نه ډیر تنګ شو نو افغانستان ته ئې هجرت اوکړو.

په کال ۳۱-۱۹۳۰ء کښې دَ وزیرستان توریالو ځلمو دَ رمضان خان په مشرئ کښې دَ آمو دریاب په خوائ شا دَ ابراهیم بیګ په شغړو کښې ډیره مړانه کړے وه. له دے جهته شاه نادرخان دۀ ته په افغانستان کښې پیټے ورکړے وو. او اعزازی نائب سالار ئې ټاکلے وو. دغه توریالے ځلمے کال ۱۹۳۶ء کښې دَ خوست په مقام په خپل مرګ په حق اورسیدو، او ځامنو دَ کابل او پیښور په لار بیرته خپل وطن ته راوړو او دلته ئې ښخ کړو.

## دَ دته خیلو جګړه:

دغه جګړه په کال ۱۹۳۰ء کښې دَ دته خیلو په مقام شوے وه. واقعات داسے وو، چه دَ لوئې اختر په ورځ د ماما زیارت په مقام دَ مدا خیلو خدرخیلو او نورو ګنړو خلقو لشکر راغونډ شوے وو، او

وار په وار به ورته علماء کرامو تقریرونه کول۔

په دے موقعه مولانا عین الدّین دَجهاد په حقله داسے پُرجوش تقریر اوکړو چه ننګیالو زړونو سمدستی ټوپک راواخستل او دَ دتّه خیلو په قلعه ئې دَحملے تړه اوکړه۔ هم په دغه ۱۱ رمئ ۱۹۳۰ء ئې دَ مولانا عین الدّین، ملک ارسلاخان او ملک ډانړے په مشرئ کښے دَدتّه خیلو په قلعه چپاؤ وروړو او حمله ئې پرے اوکړه۔ اکثر ټول غازیان مداخیل وزیر وو۔ دَقلعے چاپیره ازغیٖن تارونه ئې پرے کړل او تقریبًا درے سوه غازیان دَ قلعے لوئې ورهٔ ته ورا ورسیدل او قلعه ئې محاصره کړه۔

فیرنګی دَ مکرو فریب نه کار واخستو۔ یو خوائې پټ په پټه دَ میرانشاه نه جنګی طیارے راواغوښتلے او بل خوا ئې غازیانو ته دَ صوبیدار سید وخان په ذریعه داپیغام وراولیږلو چه:

"که چرے په قلعه کښے دننه ټولو سپاهیانو ته
دَسرامن ورکوئ نو مونږ به دروازه لرے کړو، او
هرڅهٔ به تاسو ته حواله کړو۔"

غازیانو داخبره خوښه کړه او وعده ئې ورسره اوکړه۔ چونکه دَ فیرنګی بریڅو په دوئ باندے قصدًا وخت اړولو، نو داخل ئې بله بهانه وروړاندے کړه، ورته وئیل ئې چه "تاسو دغه هرڅهٔ لیکلی راکړئ۔" هرکله چه په ۱۲ رمئ غازیان دَاعتبارنامے لیکلو ته کښیناستل، نو په دے مینځ کښے دَ میرانشاه نه جنګی طیارے

راورسیدے۔ سخته بمباری ئے شروع کړه او غازیان ئے دَ بمونو په غرمبار او دَ مشین گنونو په ټکاں کښے پټ کړل۔ دَ دے سره سره دَ قلعے دَ چت نه هم سپاهیانو باړونه پرے راباندے کړل۔ غازیان هم کفن په سَر تړلی راغلی وو۔ دا سے گونډے ئے ورته ښځے کړے چه ترمانشامه ئے ټق قدرے اونهٔ وهلو او په یوځ مقابله ئے ورسره اوکړه۔ په دغه اولنئ ورځ جگړه کښے پنځلس[۱۵] تنه غازیان په شهادت اورسیدل، او دیرش[۳۰] تنه سپاهیان اووژلے شول۔ په دا موقع کهٔ دَ ملک ارسلاخان[۱] په مشرئ کښے دَ غازیانو یوه ډله دَ دته خیلو قلعے قطب پله عزهٔ ته نهٔ وے ختلے او دَ قلعے په چت مورچه شوی سپاهیان ئے نهٔ وے وژولی، نو نور به هم ګڼ غازیان په شهادت رسیدلی وے۔

دَ غازیانو سره چه کارتوس ختم شول نو ملک ارسلاخان پرے دولس سوه[۱۲۰۰] دانے کارتوس اووېشل او دَ دوئ پښے ئے مضبوطے کړے۔ فیرنګی چه اوکتل چه دَ دته خیلو دَ قلعے محاصره نوره هم سخته شوه، نو داخل ئے دَ ۱۴ مئی نه شپاړس جنګی طیارے ورته مقرر کړے او په نزدے نزدے کلیوئے هم بمباری شروع کړه ولے سره دَ دے ئے هم محاصره ماته نکړے شوه۔ څنو غازیانو قلعه راتینګه کړه او څنو خپلو خپلو کلیو پله مخه اوکړه۔ فیرنګی بله چاره اونهٔ لیده، یوځائے په هوائی طاقت کښے نوره اضافه اوکړه او

---

[۱] دَ کرتے مداخیل وزیر وو۔ دَ نورشاه[۲] خوئ او دَ سابقه ایم۔ این۔ اے ملک جهانګیرخان[۳] پلار وو۔

بل خوا ته په ۱۵، مئ د رزمک کیمپ نه د لواړګی په مخه لوئ فوځ
رااوغوښتلو او په دا سیمه کښې ئے راپړیښودلو. د فوځ د راتلو په
وخت اکثر غازیان د خپلو وژلو ژوبلو په سمبالښت کښې مصروف وو
په دا سبب د دته خیلو د قلعې محاصره ماته کړے شوه. په دغه
پنځه ورځنئ جګړه کښې د غازیانو او د نزدے کلیو څخه ۳۷ تنه شهیدان،
په زرګونو څاروی سټ او ۳۳۹ کورونه وران ویجاړ شول. د ما ئیزو
او کڅے آبادئ خو د بمونو د لاسه بیخي خاورے ایرے شوے.
د فیرنګی له خوا نه دیرش تنه سپاهیان په رومبئ ورځ او اووه
تنه وروستو هلاک شول. فیرنګی د دغے واقعے په جرم کښې د دے
سیمے په مداخیلو باندے پنځه زره روپئ تعزیری جرمانه اولګوله.

## د بویئے جګړه :

د دته خیلو جګړے په دریمه ورځ خونګی دزے مچا مداخیل
وزیر د محمد خیلو داوړو په کلی کښې غوریږ راپورته کړو چه:

"هلئ زرشئ! مداخیلو او خدرخیلو د دته خیلو
قلعه فتح کړه او بے شمیره مالِ غنیمت ئے یوړو، تاسو هم
څه اوکړئ؟"

ملخو داوړو چه دا واوریدل نو د دوئ په زړونو کښې هم ملی
غیرت څړیکے اووهلے، لور د لوری نه ډلونه اوګرځیدل او د شیرزمان
محمد خیل داوړ په مشرئ کښے ئے په ۱۴، مئ ۱۹۳۷ء د بویئے په
قلعه حمله اوکړه. په دے ورځ یو خوا د دته خیلو قلعے په خواؤشا

کلیو زبردسته بمباری کیدله، او بل خوا دَ بوړیځ په قلعه باندے ملغو داوړو دَ ټوپکو، مشین گنو او دستی بمونو قیامتِ صُغرا راتیت کړے وو، او تقریبًا پنځه گهړئ سخت جنګ اوشو- دَ دے په نتیجه کښے اووهٔ تنه داوړ مجاهدین په شهادت اورسیدل او درے پنځوس[53] سپاهیان مړهٔ کوږ شول-

## دَ سیګه کلی یلغار:

سیګه کلے دَ لدهے نه مغرب پله واقع دے او کاریږی محسود پکښے اوسیږی- دَ دے کلی خلقو یو خوا دَ غازیانو څخه دوهٔ اِغوا کړی هندوان راټولی وو، او بل خوا به ئے همیشه دَ دوئ په خلاف دَ انګریزانو مرسته کوله- له دے کبله په ۲۸ مئ سنه ۱۹۳۰ء دَ جلال خیلو کیکړیو او شکتوئے محسودو په نرګسی الګډه کښے چه دَ پیاڅے نه شمال پله ده، یو لوئے لښکر راغونډ شو- او په ۳۰، ۳۱ مئ باندے ئے په سیګه یلغار اوکړو او ټول کلے ئے اوسیزلو-

په دغه الغاؤ تلغاؤ کښے دَ لښکریانو نه هم پنځوس تنه مړی ژوبلی اوشول- څو ورځے پس فیرنګی دَ هغو ټولو غازیانو په کلیو بمباری اوکړه، کوم چه دَ سیګه کلی په یرغل کښے برخه اخستے وه-

## دَ سراروغے قلعے محاصره:

دَ کال سنه ۱۹۳۰ء دَ جولائ په شپږم[6] مه نیټه غازیانو دَ رمضان خان او سادے خان په مشرئ کښے دَ سراروغه قلعه محاصره کړه- له یو خوا نه به دَ رمضان خان توپ پرے ګوله باری کوله او له بلے دوے نه

به غازیانو باړونه پرے چلول. د محاصرے د جولائی ترڅوارلسمے نیټے پورے اوږده یده. د توپ د غونډارو په وجه په قلعه کښے دننه د اوبو او بجلئ لائن ته زبردست نقصان اورسید و او هلته میشته درے انګریزان افسران کپتان فیلکسی ولیم، کپتان مورس او کپتان ډوری کاپ سخت پریشانه وو. غازیانو د قلعے ترخواوشا د خاصه دارو څوکئ او ډنډے رغزی پوستے هم اوسیزلے او هم په دغه ورځ ئے د ټانک زام په غاړه په یو باغ کښے هغه پمپنګ ستیشن هم تباه کړو، د کوم نه به چه قلعے ته اوبهٔ ورکولے شوے.

اوس د اوبو د کمئ په وجه په قلعه کښے دننه سپاهیان لا په زحمت شول. په اتم جولائی د لشکر یوے ډلے د ښاغلی تاپ عبدالائی محسود په مشرئ کښے چه په قلعه د ورختو فیصله اوکړه، نو ناڅاپه د قلعے څخه پرے مشینډار راوچلیدو، او تاپ ئے سره د خپل یو تکړه ورور، شهید کړو. د تاپ په شهادت غازیان دومره زهیر شول، چه د سرارو غه قلعے محاصره ماته شوه. او دوئ په خپل ویراخته شول. د رمضان خان د توپ غونډاری به د اوسپنو نه جوړیدل. قطر ئے پاؤکم درے انچه (۲¾")، اوږدوالے نهٔ انچه او وزن نهٔ پونډه وو. د چلولو دستهٔ ئے د سرویلو وه.

## د سادے خان برید:

د رمضان خان ورور سادے خان چه په شپږم جولائی ۱۹۳۷ء د دخپل ورور په ملاتړ کښے د سرارو غه قلعے محاصره محکمه کړه، نو پخپله

لاړو په اووم جولائی ئے تقریبًا دَ یوینم زر (۱۵۰۰) غازیانو لښکر راغونډ کړو او دَ ساؤتھ وزیرستان سکاؤټس په انړی تنګی پوسټ ئے شبخون اوکړو۔ ملیشئے ته ئے زښت تاوان اورسولو۔ څلیریشت کسان ئے مړۀ او ۷ یم ته ئے سخت ژوبل کړل۔

## دَ شابی خیلو په کلیو بمباری:

فیرنګی پرله پسے په شپږم، اووم، اتم او نهم جولائی ۱۹۳۰ء باندے دَ شابی خیلو محسودو په کلیو بمباری اوکړه او سخت تاوان ئے ورته اورسولو۔ هم دغه رنګ ئے دَ سرارو غه په سیمه کښے په نهم جولائی دَ سادے خان په لښکر هوائی حملے اوکړے۔ او شل تنه شاه زلمی شهیدان او نولس تنه ټپیان شول۔ په دے پسے ئے جوخت دَ میدان په الګډه کښے دَ بدین زو په کلیو بمباری اوکړه۔ دغو جنګی طیارو دَ کانی ګرم په لار کښے دَ سرارو غه نه دَ رمضان خان په راستون شوی لښکر هم بارونه اوچلول، ولے څۀ تاوان ئے ورته پیښ نکړے شو۔

## دَ تاؤدے چینے جګړه:

دَ بدین زو دَ بمبارئ نه مخکښے چه په دولسم جولائی فوځ دَ تاؤدے چینے نه دَ نوے تاؤدے چینے او لدهے په لار میدان ته تللو نو دَ بدر دَ سیمے غازیانو حمله پرے اوکړه۔ دَ یو څو ګړئ سختے نښتے نه پسته دَ فوځ له خوا نه څلور څلویښت کسان سټ او ۳۷ تنه ژوبل شول۔ او په مقابل کښے دَ غازیانو څخه صرف اوولس تنه مړی ژوبلی اوشول۔ ولے په دغه ورځ دَ بدین زو په کلیو یوځل بیا بمباری اوشو۔

## په نذرخیلو بمباری :

دَ بدین زو دَ کلیو په تباهئ باندے دَ فرنگی زړهٔ سوړنهٔ شو۔ په اوولسم او اتلسم جولائی سنه ۱۹۳۰ء ئے په نذرخیلو محسودو او سینے تیزه باندے هم بمباری اوکړه او سخت تاوان ئے وراورسولو۔

دَ جولائی په ۲۲، او ۲۳، نیټه په دوهم ځل په نذرخیلو بمباری اوشوه۔ او دَ جولائی په شلیرویشتمه نیټه سحر صبا پرے دریم ځلی بمباری اوشوه۔ ډیر کورونه ئے وران ویجاړ او بے شمیره څاروی او وارهٔ زاړهٔ ئے ژوبل کړل۔

## دَ سپین تنگی جګړه :

سپین تنگے دَ بنوں په ضلع او دَ دوهمیلی تانړے په سیمه کښے دَ هاتی خیلو وزیرو یوه مشهوره علاقه ده۔

دغه واقعه داسے پیښه شوے وه، چه کله دَ خلافت کمیټئ او دَ کانګرس دَ غړو نه انګریزان سخت تنګ شول، نو لوی دَ لوری نه ئے دَ سیاسی خلقو ګرفتاری شروع کړه۔ په جلسو او جلوسونو ئے پابندی اولګوله او دَ ځنو ځنو لیډرانو په ګرفتارئ پسے ئے نغد انعامونه اوشندل۔ دَ ایوب خان وزیر، مهرداد خان وزیر او قاضی فضل قادر بنوڅی په خلاف هم دَ ګرفتارئ وارنټونه جاری کړی شوی وو۔ قاضی فضل قادر په بنوں کښے دَ اسماعیل خیلو وو۔ ډیر زړهٔ ور او شعله بیان مقرر وو۔ دغو دریو وارو لیډرانو دَ سپین تنګی په مقام په ۲۴ اګست سنه ۱۹۳۰ء یوه لویه جلسه تماکلے وه۔ دَ جلسے دَ

اِنعقاد په وخت تقريبًا شپږ سوه تنه وزير، بنوڅي، خټک او مروت راغونډ شوي وو. دَ بنوں ډپټي کمشنر ګډ نې دَ کپتان ايشکرافت (Ashcroft) په کمان کښې فوځ، بارډر او پوليس وراوليږلو. کله چه دغه قوا هلته اورسيده، هغه وخت قاضي فضل قادر خلقو ته دَ انګريزانو په خلاف تقرير کولو. کپتان ايشکرافت دَ وررسيدو سره قاضي صاحب له بزيرے مبارکے نه اوښيوو او په تماچه ئے اوويشتلو.

دَ تماچے دَ ډز سره په کپتان ايشکرافت باندے دَ منډيوے ګنج نومے يو خټک ځوان دَ تبرګی ګزار اوکړو. کپتان رسا په سر اولګيدو او دَ تيکه سارې خولهٔ شو. بس اوس دَ فوځ او دَ خلقو لاسو پښتنو تر مينځه لاس په لاس او تهتر په تهتر جګړه اونښته. دَ سختے مقابلے نه پس په دغه جنګ کښې ۲۷ پښتانهٔ ځوانان شهيدان او ۳۰ کسان سخت ژوبل شول. او انتيا کسان ګرفتار کړے شول. دَ فيرنګی دَ لورې نه يو کپتان ايشکرافت او اتهٔ تنه سپاهيان قتل او لس تنه زخميان شول.

دَ فضل قادر شهيد" مړے انګريزانو دَ ځان سره يوړو او دَ بنوں په سنټرل جيل کښې ئے ښخ کړو. په دغه جلسه کښې اکثر هغه تول خلق موجود وو او ګرفتار شول، په کومو پيسے چه فيرنګی انعامونه شندلی وو. نو دَ انعامونو هغه پيسے دَ هلاک شوو سپاهيانو وارثانو ته ورکړے شوے. په دے جګړه کښې دَ بنوڅو، خټکو او مروتو مړی ژوبلی کم وو، ولے دَ وزيرو جنازے دَ ميدانِ جنګ نه دَ بهير

په شانے راروانے وے۔

**د سرکونوجال:** په کال ۱۹۳۰ء کښے د ټل میرعلی سرک دومره ښهٔ شو چه ایم۔ ټی پرے ټک کولے شو او په مزه مزه به پرے چلن کیدو۔ د تاؤ دے چینے وانا سرک ترلده پورے مکمل شوے وو۔ او اکتوبر ۱۹۳۱ء پورے دغه سرک تر کانی ګرم پورے جوړ کړے شو۔ د ټناۍ ګل کچ سرک په کال ۱۹۳۰ء کښے شروع شوے وو، او د کال ۱۹۳۱ء جون په میاشت کښے تکمیل ته اورسیدو او د ګل کچ، فورټ سنډیمن سرک سره ئے (Link) رابطه قائمه شوه۔

**پُلونه:**

د مئ کال ۱۹۳۱ء تر آخری ورځو پورے په هغو ټولو رودونو باندے، چه سرکونه پرے پورے وتلی وو، لکه رزمک جنډوله رود، د سپین وام د کیتو رود، د ټل میرعلی په سرک او وانا ته نزدے په تیارزه الګړ باندے پُلونه مکمل او تیار شول۔

**په جلال خیلو چپاؤ:**

په ۱۵ فروری ۱۹۳۱ء د ساؤتهـ وزیرستان سکاؤټس پټ په پټه د شپے د جنډولے نه جنوب پله په جلال خیلو، ګرنئ، مستونګ او اُورمانئ (URMANAI) الګړو کښے په محسودو چپاؤ ورووړو. او دغے ناببیره تاکے په وجه ئے د جلال خیلو محسودو ځنے په براهمته کښے دوه څلویښت[۴۲] کسان سړي اونیول او اته ویشت[۲۸] بیدهٔ اوښان، دوه نوي[۹۲] څاروي، ۱۵۵ پسه میږه ویزے او اته[۸] میله ټوپک ترلاسه کړل۔

همدغه رنګ په ۲۵ مارچ ۱۹۳۱ء توچي سکاؤټس دَ ډانډے په ډګرې کښے دَ توچي خیلو وزیرو په کیږدیو یرغل اوکړو، ۴۷ تنه سړي ئے ترے نه ګرفتار کړل او ۲۶ بیده ئے اوښان، شپږ خرهٔ، یونیم زر ۱۵۰۰ پسهٔ میږے، وزے او درے ۳ میله ټوپک قبضه کړل۔

## دَ فلائینګ افسر وآل واقعه:

دَ کال ۱۹۳۱ء دَ اګست په اوومه نیټه مسټر وآل دَ میرانشاه هوائي ډګر په چاپیره غونډیو کښے دَ بمبارئ مشق کولو۔ هرکله چه دهٔ خپله طیاره په بشکته راښکته کوله نو دَ لاندے نه پرے چا دَ میچوغنے (وسلے) داسے رسا ګزار اوکړو چه مسټر وآل ئے دَ ټکه په یوه سترګه ړوند کړو۔ دَ دے واقعے دَ پیښیدو سره سمدستي په ۴۵ منټ کښے دننه په هغه سیمه کښے موجود ټول خلق ګرفتار کړے شول۔

وروستو دَ دے جرم په پاداش کښے په ټول خیلو وزیرو باندے جرمانه اولګیده۔ ځکه چه په مسټر وآل چا دَ میچوغنے ګزار کړے وو هغه دَ ټول خیلو وزیرو یو شپون وو۔

پنځلسم باب

په ډیره اسماعیل خان کښې

# هندو مسلم فساد

دُ مسلمانانو او هندوانو په مابین کښې بنیادی تفاوت دُ مذهبی عقائد و اختلاف دے - هندوان مُشرک دی بُتانو ته سجدې کوی او مسلمانان توحید پرست دی، دُ ایکی یو الله عبادت کوی -

دُ مسلمانانو ژوند او دُنیا دُ هندوانو د ژوند او دنیا نه بیخی جُدا دی - دُ دوئ ترمینځه هیڅ شے شریک نهٔ دے - دغه وجه ده چه له قدیمه نه دُ دوئ ترمینځه شدید عداوت راروان دے - او په دے باره کښې هندوانو همیشه دُ مسلمانانو نه سبقت اوړے دے - په کال سنه ۱۹۲۲ء کښې دُ محرم په موقع په ملتان کښې هندو مسلم فساد اوشو - په کال سنه ۱۹۲۳ء کښې په سهارن پور او په کال سنه ۱۹۲۴ء کښې په کوهاټ کښې فسادات راپورته شول -

هم په دغو ورځو کښې دُ مُسلم دشمن تنظیمونو شدهی او سنگهټن سرگرمئ هم زور آخستے وو - دُ سنگهټن تحریک واحد مقصد دا وو چه بُزدله او بے زړهٔ هندو کښې دلاوری او زړهٔ ورتیا پیدا شی - دُ شدهی تحریک مطلب دا وو چه دُ هندوستان نور قامونه دُ هغوئ دُ خپلو خپلو

مذهبونو نه هندي مذهب ته راواړولے شي ۔ دَ دغے تحريک اندازه د دے شعرنه په ښنه ډول لګيدے شي ؎

هندو تم ميں ہے اگر جذبہ ايمان باقی
رہ نہ جائے کوئی دنيا ميں مسلمان باقی

او يا دَ لاچئ (کوهاټ) دَجيون داس هندو نظم ؎

مسلمان کی هستی مٹانی پڑے گی بنائينگے کعبے کو ہم جا کے مندر
تمہيں بھی يہ گھنٹی بجانی پڑے گی اٹھاؤ مصلے سنبھالو نمازيں

دَ کال ۱۹۲۶ء خبره ده چه په دهلي کښے يو اسلام دشمن سوامی شردهانند دَ ساده او کم عقلو کلی والو مسلمانانو دَمرتد کولو دپاره "شدهی تحريک" روان کړے وو ۔ دَ انګريزانو په سرپرستئ کښے به ئے دَ اسلام په خلاف دَ هندوانو په اخبارونو کښے رنګ په رنګ بيهوده خبرے ورکولے ۔

کله کله به ئے دا هم په کښے اوليکل چه په فلانکی تاريخ دومره مسلمانانو اسلام ترک کړو او "شدهی" يعنی هندوان شول ۔ په دے خبره به مسلمانانو کښے ډير زيات اِضطِراب پيدا کيدلو او دَخلقو په زړونو کښے به ايمانی جوش وهلو ۔

يوه ورځ په دهلی کښے چه دغه اسلام دشمن شردهانند دَخپلو مريدانو په مينځ کښے ناست لاف کولے، نو عبدالرشيد نومے يو غازی حمله پرے اوکړه او کومکل ئے ورله په چاړه سورے سورے کړو ۔ دغه مرد مجاهد پخپله هم ګرفتار شو ۔ دَ پنجاب او دهلی مسلمانانو دَه دَ خلاصولو دپاره زبنت کوششونه اوکړل، ولے بچ نه شو او دَ شردهانند دَ قتل په جُرم کښے په

سولئ او خېژولے شو۔

په کال ۱۹۲۸ء کښې دُعبدالرشید د شهادت نه دوه کاله وروستو دُ شردهانند یو هندو مُرید پروفیسر پنډت چمپوهنی لال دُ سرکار دوعالمؐ په خلاف یو کتاب اولیکلو، چه نوم ئے "رنګیلا رسول" وو۔ د بعضو مورخینو داخیال دے چه دغه کتاب مهاشه کرشن لیکلے وو۔ بهرحال چه چا لیکلے وو، خو چهاپ کړے راجپال نومی هندو وو، چه دُ لاهور په انارکلی کښې ئے دوکان کولو۔

په دغه کتاب کښې ملعون لیکونکی دُحضور سردار دوعالم حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم دُ کورنی ژوند په حقله دُ هرزه سرائی یو انتها کړے وه۔

کله چه مسلمانانو ته دُ دغے کتاب پته اولګیده نو مسلمانانو دُحضور اکرمؐ په ناموس حملے کول برداشت نهٔ کړے شول او سخت احتجاج ئے اوکړو۔ هندوستان او خصوصاً دُ پنجاب په کټ کټ کښې دُ کتاب په وجه دُ مسلمانانو په زړونو کښې اُورونه بل شول او دُ راجپال په خلاف ئے غیظ و غضب له حد نه اووتل۔ آخر دُ کوهاټ نه ورپسے عبدالعزیز خان غزنوی نومے یو مرد مجاهد لاهور ته ورغلو۔ چونکه عبدالعزیز خان راجپال نهٔ پیژندلو، نو سهواً ئے په دوکان ناست یو بل هندو قتل کړو۔ عبدالعزیز پخپله هم ګرفتار شو او څوارلس کاله قید پرے اوخېژولے شو۔

دُ ده نه پسته خدابخش نومے یو بل شیرفروش ځوان په راجپال حمله اوکړه، خو دا حمله هم کامیابه نهٔ شوه۔ راجپال بچ شو او خدابخش اووهٔ کاله قید شو۔

دُ راجپال سره اوس دُ سر ویره پیدا شوه۔ دُ فرنګی حکومت نه ئے دُ پولیس مدد او غوښتلو او پو سپاهی به همیشه دُ ده په دوکان پهره کوله۔ دغه دواړه سرتیری چه جیل ته لاړل، نو یو بل سرفروش بناغلے علم الدین راپاڅید او دُ راجپال دُ مرګ تابیا ئے او کړه۔ علم الدین په لاهور کښې دُ محله "چابک سواران" وو۔ یوه ورځ ئے څه پیسے دُ ځان سره واخستے او لاړو په بازار کښې ئے چاړه پرے واخسته۔ بیا نیغ دُ راجپال دوکان پله ورروان شو۔ دغه وخت راجپال په دوکان ناست وو او پولیس واله ورسره نه وو۔ علم الدین چه اولیدو نو سمد ستی پرے ورغوتیه شو او په چاړه ئے زیپ زیپ کړو۔ دغه مردِ مجاهد هم ګرفتار شو او مقدمه پرے روانه شوه۔

دُ هند مسلمانانو په یوه خوله دُ ده دُ خلاصون کوششونه شروع کړل ولے دُ بده مرغه کامیاب نه شول او دُ ۳۱/ اکتوبر سنه ۱۹۲۹ء په سحر په دار کړے شو۔

دُ غازی علم الدین په مقدمه چه دُ مسلمانانو او هندوانو ترمینځه کومه رسه کشی او شوه، دُ هغے په نتیجه کښې دُ هندوانو او مسلمانانو په مابین کښې دُ دشمنئ اُور لا په لمبو شو او دُ دغو لمبو سپرکی دُ هند ګټ ګټ ته اورسیدل۔ په کراچئ کښې یو غیرتمن پښتون عبدالقیوم خان پاڅید و او دُ شدهی تحریک یو غټ هندو راهنما نتهورام ئے مردار کړو او پخپله دُ شهادت مرګ ته ورتر غاړه وتو۔

دُ ډیره اسماعیل خان هندو مسلم فساد هم دُ دغو واقعاتو یوه کړئ وه۔ په ۱۲/ اګست سنه ۱۹۳۱ء دُ ډیره اسماعیل خان په زمکه هندو مسلم فساد راپورته

شو۔ چونکه دلته دَ هندوانو آبادی زیاته او دَ مسلمانانو کمه وه، په دے سبب دَ ډیره والو دَ ملاتړ او معاونت د پاره دَ وزیرو، محسودو او بیټنو ځوانان هم هلته اورسیدل او په هندوانو ئے حمله اوکړه۔

هندوان پخپلو پخپلو کورونو کښے مورچه شوی وو او په مسلمانانو ئے به ئے دَ آتشینو وسلو سورلُور ورولو۔ په مقابل کښے مسلمانان هم دَ خدائے په مینه کښے دومره مست وو، چه چا هم دَ سر پروانه کوله بلکه پرله پسے ئے دَ خدائے په دښمنانو باندے ناتارګانے کړے وو۔ چا کورونه سیزل چا دوکانونه لوټل، چا په چړو سنګینو دَ مشرکینو سینے څیرلے او چا دَ سرو مرمیو باران پرے ورولو۔ بس یو قیامت صغری وو، چه د ډیرو په زمکه رابنکته شوے وو۔

دغے کُشت وخُون او تاخت وتاراج تر ۱۹/ اګست پورے طول اوښوو آخر فیرنګی دَ پولیس، بارډر او فوځ په زور په حالاتو قابو بیامونده۔ په دغه فساد کښے ۴۰ تنه هندوان هلاک او ۸ تنه ژوبل شول۔ دَ هندوانو ۲۶۰ کورونه او دوکانونه اوسیزلے شول۔ او ۴۰ دوکانونه لوټ کړے شول حکومت په دے سلسله کښے دَ هندوانو او مسلمانانو له خوا نه ۲۵۰ تنه سړی ګرفتار کړل۔

په ډیره اسماعیل خان کښے چه دَ هندو مسلم فساد کوم اُورلګیدلے وو دَ هغے سپرغئ په ۱۵ / اګست سنه ۱۹۳۱ء کلاچئ کښے هم په لمبو شوے خو فیرنګی ډیر زر حالات قابو کړل او چندان تاوان اونه شو۔ ایله یو څو دوکانونه او کورونه اوسوزیدل او دوه تنه هندوان قتل شول۔ دَ دے نه پس

دَ هندو مسلم فساد دغه اُور چرے هم مړ نهٔ شو۔ د غے اُور په کال سنه ۱۹۴۶-۴۷-۴۸ کښے دَ بهارت په صوبه بهار، بمبئ، کلکته، کشمیر او داسے نورو ښارونو کښے په ملیونونو نفوس سکاره کړل۔ نن هم دغه اُور کله په مقبوضه کشمیر کښے سَر راپورته کړی او کله په احمد آباد یا دَ بهارت په نورو صوبو کښے۔

## دَ سائینج او واول قتل :

لفټیننټ ټی۔ ایم سائینج (SYNGE) او دَ رائل ټینک کارپس پرائیویټ واول (WHAWELL) دواړه په ۲/ نومبر سنه ۱۹۳۱ءِ دَ وانا نه جنډولے ته په لاری کښے روان وو۔ دَ سروکئ نه مغرب پله دَ مادیجان پوسټ نه بهر پرے زارخان نومے ګیګاخیل محسود برید اوکړو او دواړه ئے داسے ژوبل کړل چه ساعت پس ئے خولے ویتے کړے۔

دغه توریالے او سرباز ځوان، چه په زاړے معرفی وو، خاصه دار وو، او دغه وخت ئے سرکاری وظیفه اجرا کوله۔ فیرنګی دَ ده دَ نیوو او وژلو ډیر کوششونه اوکړل، خو په لاس ورُ نغلو او بیرمل ته ئے کډه اوکړه۔ هلته ئے هم چه دَ فیرنګی دلاسه ژوند په تراړ شو نو دَ حکومت افغانستان په اجازه جولائی سنه ۱۹۳۲ءِ کښے ترکستان ته لاړو۔ دَ ده دَ نیوو نه چه فیرنګے نا اُمیده شو نو په بهلرګزو محسودو ئے لس زره روپئ جرمانه اولګوله۔

## دَ ایسټ قتل : (EAST)

مئ سنه ۱۹۳۲ءِ کښے یوه ورځ دَ ایپی کلی یو داوړ ځوان په میران شاه کښے دَ رائل ائرفورس ایل۔ اے۔ سی۔ ایسټ قتل کړو۔ دغه سرتیرے

پخپله هم گرفتار شو او خاصه دارو لاس ته ورلے حکومت ته حواله کړو. او

څه موده پس په زندئ کړے شو۔

دَ غلجیو برید :

دَ سپین وام په علاقه کښے دَ شیوے شمال مغرب پله سیمو کښے له قدیمه نه غلجئ دَ ژمی په موسم کښے راوړي او دلته ئے څروی دغو غلجیو په ۲۸ / نومبر سنه ۱۹۳۲ء دَ توچئ سکاوټس په سپاهیانو، چه په گشت وتلی وو، دَ زخے نری او تاوا ازسر په سیمه کښے حمله اوکړه۔ لس تنه سپاهیان ئے قتل او ۲۵ تنه سخت ژوبل کړل۔

دَ فیرنگی دغه بدل په زړه اولیکلے شو۔ بل کال چه غلجئ بیا دغے سیمے ته راغلل نو په ۲۳-۲۴ / مئ سنه ۱۹۳۳ء شپه باندے دَ میدانی او پستے پالے په نواح کښے توچی سکاوټس چپاؤ پرے وروړو، او په نتیجه کښے ئے دَ غلجیو څخه ۶۰ بیډ اوبنان قبضه او ۳ میړه اوبښ بانه شهیدان کړل۔ په دے میئے کښے دَ غلجیو دَ لرے لرے خیمو خلق ورپسے راچغه شول او دَ توچی سکاوټس نه ئے هم پنځه تنه سپاهیان هلاک کړل۔

دَ رزمک په سیمه برید :

په ۲۲ / جولائی سنه ۱۹۳۳ء دَ رزمک په سیمه کښے یوه فوجی ډله په گشت وتلے وه۔ غازیان چه پرے خبر شول نو راایساره ئے کړه او یو څو گهړئ ئے بد بد وبله او ډزول۔ په نتیجه کښے دَ ډلے کماندر صوبیدار او ورسره دولس تنه سپاهیان په قتل او رسیدل، او غازیانو سلاح او سازوسامان ترے نه ترلاسه کړو او پخپلو مخو لاړل۔

## دَ شاه ولی جهګړه :

دَ شاه ولی الګړے دغه جهګړه دا سے اوشوه چه په ۴ / ستمبر سنه ۱۹۳۳ء رزمک کالم دَ شکتوئے په لار والاړدین ته په ګشت وتلے وو۔ دَ دغے کالم کمانړر کپتان ټی۔ آر۔ ایوان (EVANS) وو۔ په ۵ / ستمبر دغه کالم دَ شکتوئے په آخری جنوبی حد کښے ترمیر بوش کلی پورے مخکښے تیر شو او بیا په هم دغه ورځ بیرته راستون شو، خو په ۷ / ستمبر غازیانو دَ شاه ولی الګړے او زنګړه (JANGAL) الګړے په جنکشن کښے حمله پرے اوکړه۔ دَ یو ے شپے جنګ نه پسته دَ فوځ دَ لوری نه کپتان ایوان سره دَ نورو ۱۷ تنو سپاهیانو قتل او دوه تنه سخت ژوبل شول۔

## دَ پک ملنګ لشکر :

کال سنه ۱۹۳۳ء کښے دَ وزیرستان په خاوره دَ امان الله خان ملګری دَ نادر خان په خلاف راپاڅیدل او په مختلفو نومونو ئے لکه پک ملنګ، تورملنګ او لیونے فقیر دَ کابل په تخت باندے دَ امان الله خان دَ بحال کولو تحریک روان کړو۔

خلقو ته به ئے دَ کال سنه ۱۹۲۹ء په دوران کښے دَ بچه سقه دَ معزولولو او غنا ئمو راوړلو قصے وربه یادولے۔ دغسے نادر خان لا ژوندے وو چه اګست سنه ۱۹۳۳ء کښے دَ وزیرستان د قبائلو یو قوی لشکر په خوست باندے حملے کولو ته تیار شو۔ انګریزانو دَ دغے لشکر دَ مخنیوی دپاره فوځ ورمخکښے کړو، ولے هغه ایسار نه شو او دَ خپل تهاک نه واوړیدو او په خوست کښے ئے متون قلابند کړو۔ دَ انګریزانو مخه بل رو خطا شو۔ آخر ئے ستمبر سنه ۱۹۳۳ء

کښې د هغوی ټولو خلقو په کورونو بمباري اوکړه کوم چه په دغه لشکر کښې شامل وو. په دې چل لشکر خو منتشر شو، ولې ډیر وخت تیر نه شو چه هم په دغه کال نادرخان قتل کړے شو. وروستو افغان حکومت د دغې کړبړ په پاداش کښې یوخوا د وزیرستان د اکثرو مشرانو الاونسونه ضبط کړل او بلخوا ئې لیونے فقیر معاف او تور ملنګ یا پک ملنګ ګرفتار کړو او خپله سزا اورته اورسیده.

## د تاؤ دے چینے وانا سړک:

په دغه سړک باندے ډیر په تیزئ سره کار لګیا وو او تر یکم جنوری سنه ۱۹۳۴ء پورے بیخي تکمیل ته اورسیدو او ټریفک پرے جاري شو.

## د غلجیو بل برید:

لکه څنګه چه فیرنګي چل بدل نه وو هیر کړے، دغه شان غلجیو هم فیرنګي ته چل پور په زړه کښې ساتلو او موقع به ئې ورته لټوله. چنانچه په ۱۱/ جنوري سنه ۱۹۳۴ء چه د سپین وام قلعے نه شپږ میله شمال مغرب پله په یشخوا (AZHKA) الګړے کښے د توچي سکاؤټس یوه ډله په ګشت وتلے وه او د غلجیو ژړنري پرے خبر شول نو د پښتني ننګ او انتقامي جذبے له کبله خاموش پاتے نه شول، او په ملیشا ئې داسے حمله اوکړه چه د ټکه ئې ۱۳ تنه سپاهیان قتل او ۱۵ تنه سخت ژوبل کړل. په دے کښې دوه تنه خاصه دار هم ووچه یو وژلے شوے او بل ټپي شوے وو.

په دغه وقوعه باندے فیرنګے دومره برهم شو چه لور په لور ئې

په غلجیو پسے راواخسته ۔ په ۱۳/ جنوری کرّم سکاوُټس دُ شبک په سیمه کښے ۱۳ غلجیُ او ۱۲۰ بیدہ اُوښان اونیول ۔

همدغه شان دُ فروری په میاشت کښے دُ ډیره اسماعیل خان په علاقه کښے ۳۹ تنه غلجیُ او ۲۳۰ بیده اُوښان گرفتار کړے شول ۔ د دے نه علاوه په دویٔ باندے ۱۳۰۰۰/- نغدے روپیٔ او شل میله ټوپک جرمانه هم اولگولے شوه ۔

## دُ زلی خیلو وزیرو برید :

په ۲۹/ مئی ۱۹۳۲ء دُ وانا نه شمال مغرب پله په منزه الگړے کښے زلی خیلو وزیرو دُ ساوتھ وزیرستان سکاوټس په یوه ډله حمله اوکړه یو څو گهړیُ کلکه مقابله اوشوه او دُ سختے مجادلے نه پسته سپاهیانو دُ مقابلے تاب رانهُ وړے شو او مخ په زغلید وشول ۔ په نتیجه کښے دُ گهزو ټپیانو نه پرته دُ سکاوُټس څخه پنځلس تنه قتل شول او دُ غازیانو نه درے تنه په شهادت اورسیدل ۔

## دُ وانا آبادول :

هسے خو وانا ته څو څو ځله فوځونه راغلل لاړل ۔ ولے یو ځل نے هم دُ مستقل میشته کید وطاقت اونهُ لرلے شو ۔ دسمبر ۱۹۲۹ء کښے چه دُ منزیٔ نه یو ځل بیا دُ فوځ هیډکوارټر وانا ته منتقل کړے شو ۔ نو فیر تګے لږ ساه صورت شو ۔ وروستو ستمبر ۱۹۳۲ء کښے دُ وانا د مستقل طور آبادولو فیصله اوشوه او دُ کوارټرونو په تعمیر لاس پورے کړے شولو ۔

## دَمینه ورخان پړزے:

مینه ورخان خاصه دار وواو دَ دوسلي ووزي خیل وزیر وو۔ همیشه به ئے انګریزان په سترګو کبنے خلي وو۔ یوه ورځ ئے وار پرے برابر شواو په ۳/۴ نومبر ۱۹۳۵ء شپه باندے ئے دګړدئ په کیمپ کښے په "ایسټ یارک شیر (EAST YARK SHIR) باندے پړزے اوکړے او دَ ټکه ئے .. رجمنټل سرجنټ میجر قتل کړو۔

دَ بده مرغه دغه توریالے ځوان هم په موقع ګرفتار شو۔ فیرنګی قبائلي جرګه پرے مقرره کړه او دَ جرګے دَ فیصلے په مطابق څوارلس کاله بامشقته قید اوزر روپئ جرمانه شو۔

سربیره له دے دَ دوسلي دَ نورو خاصه دارو او ملکانانو په خلاف هم سخت اقدامات اوشول۔

## شپاړسم باب

# شهزاده ملا فضل دین

دغه نوموړے او توریالے مجاهد د ملا پاوونده ځوئے وو۔ د پلار د وفات په وخت د ملا فضل دین عمر څوارلس کاله وو۔ په دے نسبت د ده د پیدائش کال سنه ۱۸۹۹ء جوړیږی۔ مخیل مشر ورور یے دویم وو، خو د ملا پاوونده د وصیت په مطابق د پلار جانشین او ټاکلے شو او خلقو د "شاهزاده" خطاب ورکړو۔ نن هم په "شهزاده" پیژندلے شی۔ د ده جانشین هم په "شهزاده" شهرت لری۔ ملا فضل دین د دستار بندئ دپاره کربوغے ته د تګ اراده اوکړه۔ دسمبر سنه ۱۹۱۳ء کښے د مروښی نه عیدکوټه لاړو او د خپل نیکه زمترا کره ئے شپه اوکړه۔ د هغے ځائے نه بله ورځ کربوغے ته لاړو۔ د کربوغے ملا انور د مشرئ پټکے ورپه سر کړو او دعا گانے ئے ورته اوکړے، او ده په شکرانه کښے یو بنګلے اُس ورکړو۔

ملا فضل دین که هر څو کمسنه وو، ولے بیا هم د داسے غیرمتزلزلو ارادو او پوخ شعور مالک وو، چه دخپل زبردست شجاعت او قائدانه صلاحیتونو په اساس ئے ډیر زر د خپل پلار شاندار مقام ته ځان

اورسولو۔

دَ دےغ جنګيالي او بريالي مُلا پخقله دَ" ملټري رپورټ آن وزيرستان ۱۹۳۵ء" په صفحه نمبر ۲۲ دا سے نوشته دى :

" هغهٔ (مُلا پاوندهٔ) خپل ځوارلس کلنے دويم پسمانده ځوئے ... فضل دين خپل جانشين نامزد کړو، چا چه په تدريجي ډول دَ خپل پلار مقام ته ځان اورسولو او په خپل اقتدار او وقار کښے ئے تر هغه حدهٔ اضافه اوکړه څومره چه دده پلار په محسودو کښے دَ يو عظيم محاصم ليډر په حيث دَ تيرو کالونو دَ شديدے دشمنۍ په دوران کښے درلود۔"

ملا فضل دين د پلار دَ وفات نه پس په رومبي ځل اکتوبر ۱۹۱۴ء کښے کابل ته لاړو او هلته ئے دَ سردار نصرالله خان سره په عام دربار کښے ملاقات اوکړو۔ دَده سره په دے موقع ملک سادے خان مدا خيل او سالم پښ هم ملګرى وو۔

سردار نصرالله خان چه ملا فضل دين اوليدو نو پاڅيدو او په ولاړے ئے مصافحه ورسره اوکړه۔ بيا ئے دَ خپل زوړ آشنا ملا پاوندهٔ په مرګ ورته تاسف ښکاره کړو او په ټول دربار کښے ئے دَ مرحوم په حق کښے دعاءِ مغفرت اوکړه ۔ دَ دعا نه پسته مُلا فضل دين سردار نصرالله خان ته دَ ميرشے دَ تورے وړئ يوه قرا قلي او يو شارټ ګن پيش کړل او ورته ئے اوويل چه : "دغه زما دَ پلار ورثه ده۔"

سردار نصرالله خان دواړه توکه قبول کړل او ډير خوشحال شو

او ملا فضل دین ته ئے د پلار رینی لنگر د پاره د کال اته زره کابلئ روپئ منظور ے کړے - او په دے کښے ئے ورته څو په څومره د مزید اضافے کولو وعده هم اوکړه - وروستو سردار نصر الله خان د ده سره په خپل محل کښے خفیه ملاقات هم اوکړو -

ملا فضل دین هم د خپل پلار غوندے په قوم ډیر مئین وو او د وزیرو محسودو ترمینځه پرګنو، مقتالو او مجادلو ته به زښت زهیر وو -


یوځل په ۴ / جون سنه ۱۹۱۴ء محسودو چه په رزمک کښے د توری خیلو وزیرو کنړ کسان اووژل، مانړئ ئے او سیزلے او زمکے پټي ئے ترے نه قبضه کړل نو د دے غے کشالے فیصله کولو په لړ کښے د ملا فضل دین په زیار او د خوست د ناظم په وینا د لالا پیر، ملک سادے خان او محی الدین ادیکړ په ثالثئ کښے د وزیرو محسودو لویه جرګه راغونډه شوه - په دے جرګه کښے ملا فضل دین پخپله هم شریک وو او لاندینئ فیصله اوشوه -

۱- چونکه عبدالائی محسودو بغیر د څه علته د وزیرو سره ایښے شوے کانړے مات کړے دے او په رزمک کښے ئے مانړئ سیزلے دی نو ملک موسیٰ خان به مداخیلو او توری خیلو وزیرو ته -/۷۰۰ کابلئ روپئ نغد ے او شپږ پسونه جرمانه ورکوی -

۲- په راتلونکی اوړی کښے به محسود په رزمک کښے د وزیرو ورانے مانړئ بیاله سره پخپل خرچ جوړوی -

۳- وزیر او محسود دواړه قامونه به دا سوګند کوی، چه دوئ به آئینده یو بل باندے هیڅ قسم تیرے زیاتے نه کوی -

U4297



شهزاده ملا فضل دین محسود
چاچه دَ خپلو جنګي صلاحیتونو په برکت فرنګي دَ زنبتو تلفاتو سره مخامخ کړي وو

۴۔ کوم یو فریق چه دغه فیصله ماته کړی، دهغه نه به -/۳۰۰۰ کابلۍ روپۍ جرمانه وصولولے شي او کوم الاؤنس چه ورته دُ کابل دحکومت له خوا ملاویږی، هغه به ضبطولے شي۔"

ملا فضل دین فطری طور ډیر جنګجو او دلیر انسان وو۔ دُ قامی معاملاتو سمولو نه علاوه دُ مجاهدانه منړوترړو نه هم بے غمه نهٔ وو۔ دکال ۱۹۱۷ء سنه په وړومبو شپو ورځو کښے ئے دُ فیرنګی په خلاف سخته هلے ګلے شروع کړے وے۔ نهٔ خو تباه کن بمباریٔ ددهٔ دمجاهدانه عزیمت تر وړاندے خنړ وونه اچولے شول او نه فوځ کشیٔ پرے غلبه حاصلولے شوه۔ بس دے وو، لشکرے وے او شپه ورځ په انګریز سامراج حملے او بریدونه وو۔

ملا فضل دین رح دُ خپل دُور یو داسے اثرناک شخصیت وو، چه دُ افغان او برطانوی دواړو حکومتونو پام ئے ځان ته راګرځولے وو۔ او نن هم دُ دهٔ په شاندارو کارنامو دُدغو دواړو حکومتونو دفترونه ډک دی۔

مُلا فضل دین رح دُ کال ۱۹۱۲ء سنه نه تر کال ۱۹۲۹ء سنه پورے دُ فیرنګی په خلاف بنه په فراخ مټ جنګیں لے دے، ولے کال ۱۹۳۶ء سنه کښے چه فقیر ایپی رح راپورته شو او دُ انګریزانو په خلاف ئے دُغزا بیرغ بلند کړو نو هغه وخت دُدهٔ هغه ولوله انګیز جذبات سارهٔ شوی وو۔ په خفیه ډول به ئے دُفقیر ایپی رح هر قسم ملاتړ کولو، ولے بخپله به دُ جنګ وجدل نه په ډډه اُوسیدو۔ شاید په دے وجه چه ملا فضل دین دُ افغان حکومت سره روابط لرل او په دے وخت افغان حکومت دُ انګریزانو په خلاف خپله پالیسی نرمه کړے وه او دوستانه تعلقات ئے ورسره قائم کړی وو۔

کال ۱۹۴۷ء کښې چه پاکستان جوړ شو نو ملا فضل دین په روڼه تندی ورته هرکلے اووئیلو او حکومتِ پاکستان ورته دَ لنگر دپاره زر روپۍ ماهانه وظیفه عنایت کړه۔

کال ۱۹۴۸ء کښې چه دَ کشمیر جنګ اونښتو نو دغه مردِ مجاهد یو ځل بیا راپورته شو، وزیرستانی لشکرے ئے روانے کړے او دَ کشمیر په سیمه داسے اوجنګیدو، چه دَ کشمیر نقشه ئے په نوی ډول دنیا ته وړاندے کړه۔

په کال ۱۹۶۴ء کښې شاهزاده صاحب ته دَ حج بیت الله سعادت نصیب شو۔ او په ۲/ فروری ۱۹۶۸ء پخپل مرګ په حق اورسیدو۔ د ده پنځه ځامن پاتے شول چه نومونه ئے وجیه الدین، سراج الدین، تاج الدین، اصل الدین او ظاهر الدین دی۔

دَ ده دَ وصیت په مطابق د ده جانشین وجیه الدین اوټاکلے شو۔

## ملک موسیٰ خان:

ملک موسیٰ خان په سویلی وزیرستان کښې عبدالائی محسود وو، او په مکین کښې دَ منډیچ په سیمه دَ لالی خیلو کلی اوسیدونکے وو۔ دَ پلار نوم ئے کریم خان وو او نیکه ئے سردار عظیم خان نومیدو۔ کریم خان دَ مستهر کیلے دَ قاتلانو جیل او کرام په سر کښې دَ محسود قوم دلاسه قتل شوے وو ځکه چه ده او دَ ده ملګرو دغه دواړه سرتیری حکومت ته حواله کړی وو۔

دَ پلار د قتل نه پسته موسیٰ خان ملک شو۔ په کال ۱۸۹۵ء کښې چه فیرنګی دَ وانا جهګړے نه پس په محسودو فوځونه ورخیژول نو په هغه موقع ئے ملک موسیٰ خان هم ګرفتار کړے وو۔ داوخت دَ ده ځوانی

وه - وروستو فیرنگی په ډېر عزت او احترام سره خوشې کړو - ملک موسیٰ خان د ملا فضل دین همځولې او د غزا ملګرې وو - د لوئې شجاعت، روښانه ذهانت او لوړ شخصیت څښتن وو - د افغانستان اعزازی نائب سالار وو - هم ئې په افغانستان کښې اثر و رسوخ لرل او هم په وزیرستان کښې، ولې څومره چه د کابل حکومت ته مرغوب وو - هومره برطانوی حکومت ته معیوب -

په آزادئ مېن موسیٰ خان د خپلې خاورې په ننګ د انګریزانو په خلاف دومره جرائتمندانه او قابل ستائیش عملیات کړی دی - چه په سرحد کښې به د فیرنګی د وخت دا سې کم اثار وی، چه د ده د ویاړنې ذکر په کښې نه وی - هسې خو د کال ۱۹۱۴ئ نه تر کال ۱۹۲۹ئ پورې د فیرنګی په خلاف چه څومره غزاګانې شوې دی، په هغو ټولو کښې به یا خو ملک موسیٰ خان بخپله شریک وو او یا به ئې لاس وو په کښې، ولې زیات زور ئې هله پیدا کړو کله چه د کال ۱۹۱۹ئ غزاګانې آغاز شوې -

ملک موسیٰ خان ته به غازیانو جرنیل وئیل او خپل کمانډرانچیف ئې ګڼړلو - انګریزانو هم پخپلو رپورټونو کښې ورته د غازیانو کمانډرانچیف وئیلی دی - مسټر بروس د خپل کتاب "دی ټرائیبز آف وزیرستان" په صفحه نمبر ۱۵۸ لیکی چه :

"موسیٰ خان دا ثبوت ته رسولې ده، چه هغه یو لوئې سړې دې او په دې کښې څه شک نشته چه که چرې هغه تسلیم شوې وې، نو بخپله قبیله کښې به یو پُر اثر شخصیت ګڼړلې

شوے۔"

هم په دغه کتاب کښې بل ځائے په صفحه نمبر ۱۵۷ دا سے رقمطراز دے چه :

"ما څو څو ځله دا خبره په ګوته کړے ده چه ترهغه پورے پولټيکل حکام ته دا ممکنه نۀ ده چه په وزيرستان کښې د امن صورتِ حال قائم کړي، ترڅو چه موسیٰ خان د افغانستان څخه پرله پسے غټ غټ الاؤنسونه وصولوی۔"

ملک موسیٰ خان هم د مُلا فضل دين رح په شان د فقیر ایپی رح په غزاګانو کښې عملی برخه نۀ درلودله۔ البته د فيرنګی سره ئے ورانه وه او د فقير ایپی رح هر قسم مرسته به ئے کوله۔ او سنۀ په درنه سترګه به ئے ورته کتل۔ مسټر بروس په صفحه نمبر ۱۵۷ ليکی چه :

"د رزمک د قبضه کولو او د محسود و سره د عمومی تصفيے نه راپه ديخوا د ده (موسیٰ خان) دشمنی په نۀ شميرده۔"

هم دغه رنګ د جنوبی وزيرستان پولټيکل ايجنټ ميجر بريزنچيل خفيه رپورټ" ساوته وزيرستان ايډ منسټريشن رپورټ فار دی اير سنه ۲۹-۱۹۲۸ء" کښې ليکی چه :

"د موسیٰ خان او نورو هغو محسودو مخالفينو، کوم چه افغان تنخواداران دی، طرزِ عمل د حکومت په خلاف د کوے واقع ذمه دار نۀ دے۔"

ملک موسیٰ خان د خپلے سابقه سرګرمیٔ په پاداش کښې افغانستان



ملك موسے خان محسود

چه هم سپاهی وو آو هم جرنیل

ته په هجرت کولو مجبوره کړے شوے وو. افغان حکومت کور پټے ورکړی وو او هر قسم امداد به ئے ورسره کولو.

دَ آزادئ دَ کارزار دغه تورزن ځوان دَ پاکستان دَ آزادئ و په ابتدائی کالو نو فروری سنه ۱۹۵۶ء کښې بخپل مرګ وفات شو او په منډیر کښې خاورو ته او سپارلے شو او دَ ده ځوئے خیر محمد دَ ده جانشین او تها کلے شو.

## اوولسم باب

# فقیر ایپی رح

اُونه دَ غیرت وے په میوو دَ شجاعت ډکه
نے دَ آزادئ وے په نغمو دَ شهادت ډکه

دَ فقیر ایپی رح اصلی نوم میرزا علی خان وو۔ پلار ئے ارسلاخان[1] نومیدو او نیکهٔ ئے محمد ایاز خان۔ په کال ۱۸۹۷ء کښے دَ کهجورئ قلعے سره جوخت په ګړته نومے بانډه کښے پیدا شوے وو۔ په قوم اتمانزئ وزیر وو۔ په اتمانزو کښے ابراهیم خیل، په ابراهیم خیلو کښے توری خیل او په توری خیلو کښے مدی خیل وو۔ میرزا علی خان چه دَ شپږو کالو شو

---

[1] عبدالحمید ترین دَ "فقیر ایپی" په ص ۶۵ لیکی چه: "ملا ارسلاخان دَ مولوی ګلاب دین سرکی خیل وزیر دستِ راست وو. او کال ۱۹۳۱ء کښے دَ انګریزانو په خلاف جهاد کښے شریک شوے وو. او دهٔ دولس[240] شله کښتے کارتوس په غازیانو ویشلی وو"۔ داحقیقت نهٔ دے، ارسلاخان نهٔ مُلا وو او نهٔ دَ مولوی ګلاب دین دستِ راس۔ دَ کال ۱۹۳۱ء په جهاد کښے چه کوم ارسلاخان ۲۴۰ کښتے کارتوس په غازیانو تقسیم کړی وو هغه دَ کړشے مداخیل وزیرو چه دَ ملک جهانګیر خان مرحوم پلار وو۔ دَ غه سهو عارف محسود هم په "وزیرستان کرم سے ګومل تک" کښے کړیده۔



**فقیر ایپیؒ**

چاچه په تشو لاسو دَ سلطنتِ برطانیه غوند دَ عظیم طاقت سَر
ښکته کړے وو۔

نو پلار په سبق کښېنولو۔ یو څو کاله ئے د خپل کلی په جوماتِ کښے تیر کړل بیا ئے د اتۀ کالو په عُمر کښے بنوں ته واستولو، او په نوره کښے د بازار احمدخان د سیمے مولوی گل خوشدل سره شاګرد شو۔ د نوره نه علاوه میرزاعلی خان د بنوں په نورو جوماتونو کښے هم د دین علم حاصل کړو۔ څۀ موده پس بیرته توچئ ته راغے او د داوړ په علاقه کښے ئے د علم تحصیل شروع کړو۔ په دے دوران کښے د دۀ پلار وفات شو او د دۀ مشر ورور مولانا شیرزمان په کال ۱۹۲۲ئ کښے د کورنۍ جائیداد خرڅ کړو او په سپلګه او شام کښے ئے پټی واخستل۔ په سپلګه کښے ئے یو ښکلے جُومات، کور او حجره جوړ کړل۔ دغه شان ئے په شام کښے هم آبادی اوکړه۔ د دے نه پسته میرزاعلی خان یو ځل بیا بنوں ته لاړو او په سبق وئیلو کښے مشغول شو۔ بنوں کښے دۀ د خپل پاکیزه سیرت او صالحانه اعمالو له کبله دومره مقبولیت حاصل کړو چه د بنوں یو جیّد عالمِ دین قاضی شیرزاد[1] خپله لور په نکاح ورکړه۔

میرزاعلی خان چه وادۀ اوکړو، نو د بنوں نه بیرته سپلګے ته په کډه راغے۔ ترڅۀ وخته پورے دلته میشته شو۔ خو چه کله ئے مور بی بی په حق ورسیده، نو سپلګه ئے پریښوده او د داوړ په ایپی[2] کلی کښے ئے سکونت اختیار کړو او د مولوی عالم خان څخه ئے

---

[1] اصلی نوم ئے حیات الدین وو خو په شیرزاد ئے شهرت لرلو۔ د تحریکِ خلافت په دوران کښے د فاطمه خیلو کلای بنوں نه ئے افغانستان ته هجرت کړے وو۔ [2] د ایپی کلی

دَ درس وتدریس سلسله جاری اوساتله - میرزا علی خان ته به یواځې بنوځو نه بلکه داوړو هم په درنه سترګه کتل - دَ ایپي کلی داوړو په شریکه کوړ، جومات او حجره ورته جوړ کړل او دَ لرې لرې کلیو نه به خلق ورته دَ روحانی فیض حاصلولو دپاره راتلل. چاته به ئې دُعاګانې کولې او چاته به ئې دارو دَرمل ورکول - کال ۱۹۲۸ء کښې چه دهٔ دَ حج بیت الله شریف د پاره تشریف یوړو، نو په راستونید وئې لا دَ بزرګئ او فقیرئ شهرت خور شو - دَ خلقو ورسره بے کچه عقیدت پیدا شو - هم په دغو شپو ورځو کښې دَ "فقیر ایپي" په نامه مشهور شو - او تر اوسه هم په دغه نوم پیژندے شي -

په کال ۱۹۳۴ء کښې فقیر ایپي" دَ سید حسن الګیلانی عُرف نقیب صاحب جلال آبادی دَ ملاقات دپاره دَ پیښور په لاره جلال آباد ته روان شو خو چونکه دهٔ پاسپورټ نهٔ درلود، له دے کبله په طورخم اوینوے شو او دَ خاصه دارو په نګرانئ کښې بیرته میرانشاه ته راوستلے شو -

---

اصلی تلفظ آئی پي کلے دے، خو دَ تعلیم یافته طبقے دَ غلط کثرتِ استعمال په وجه اے - پي کلے شو - فقیر ایپي ته به خلقو دَ آئی پيئ فقیر وئیل - اوس هم دَ داوړو وزیرو په ژبه دغه نوم آئی - پي راځي - آئی پي دَ آیوبي نه وتلے دے - چه صحیح شکل ئې آیوبي دے - دَ وزیرستان خلق آیوب ته آئیپ وائي - په دا نسبت دَ آیوبي نه هم آئیپي ( I.P ) جوړ شو -

ګنی په اصل کښې دَ ایپي کلی نوم ایوبی کلے دے، یعنی دَ ایوب کلے - ( راقم ) ؍ ؍ ؍

دلته دَ دوئ دَ تقوىٰ دارئ او پرهيزګارئ شخه هرڅوک آګاه وو. نو پولټيکل انتظاميئ په ډيراحترام سره پوهينوده، او دائے ورته اووئيل چه کچرے ته ارو مرو افغانستان ته تګ غواړے نوعکس او باسه چه پاسپورټ درله تيار کړو. فقيرايپي داخبره خوښه نکړه، او دَ تګ پروګرام ئے ملتوى کړو. څه موده پس دَ دهٔ سره دوه نور روحانى پيشوايان يو ځائے شول، چه يو دَ افغانستان دَ کټه واړ فقير علم جان نوميدو، او بل دَ داوړو مولانا محمد خان چه په "موسکئ فقير" مشهور وو، دوئ په خپلو کښے دا مرکه اوکړه، چه دَ نقيب صاحب نه په طريقت کښے لاس نيوه اوکړى. دغه شان درياړه دَ خوست په لاره جلال آباد ته اورسيدل او دَ نقيب صاحب دَ ملاقات شرف ئے حاصل کړو. او درياړو دَ نقيب صاحب جلال آبادى په لاس په طريقه قادريه کښے بيعت اوکړو. او په رُوحانى فيوضاتو خړوب بيرته راغلل.

اوس فقيرايپي يو خوا ته لنګر جارى کړو. او بل خوا دَ خپل مُرشد کامل دَ هدایاتو په مطابق په ډير شوق و ذوق سره په عبادت او رياضت کښے مصروف شو. دَ تقوىٰ دارئ او پرهيزګارئ له مخے به دَ دهٔ په دُعاګانو کښے زبردست اثرات ښکاره کيدل. دوئ ټول خلور وروڼه وو، چه په هغو کښے مشر مولانا شيرزمان وو. دويم ميرزا على خان (فقيرايپي)، دريم مُلاميرزمان خان او دَ ټولو نه کشر ګل زا على خان وو. ګل زا على خان دَ فقيرايپي دَ عزاګانو په ابتدائى

دوړ کښې ژوندے وو۔ او مُلا میرزمان دَ فقیرایپي دَ غزا کانو نه مخکښې په خپل طبعي مرګ وفات شوے وو۔ ولے مولانا شیرزمان دَ فقیرایپي سره اوږه په اوږه دَ ګڼړو مجاهدو کولو نه پس په ۸ / جون ۱۹۴۷ء په خپل مرګ په حق ورسیدو۔

لکه څنګه چه دَ فقیرایپي اولاد نهٔ وو، دغه شان دَ دهٔ دَ نورو دوؤ وروڼړو هم اولاد پاتے نهٔ شو۔ البته دَ ګل زاعلي خان یکي یو ځوئے نیازعلي خان پاتے شوے دے، چه دَ فقیرایپي جانشین دے۔

اِسلام بي بي :

دَ اسلام بي بي اصلي نوم رام کوري وو۔ بنوں کښې دَ جهنډو خیلو (غیسکی) اوسیدونکي وه۔ دَ پلار نوم ئے میوه رام او دَ مور ئے منسه دیوي وو۔ نیکهٔ ئے ملاپ چند (لاپي) او ترهٔ ئے هرنام داس نومیدو، چا چه دَ دے په مقدمه کښې ډیره دلچسپي اخسته۔

اسلام بي بي په جهنډو خیلو کښې یو سید زلمی امیر نورعلي شاه ته په ۳۶/۳ ۵ مسلمانه شوه۔ امیر نورعلي شاه ورته نورجهان نوم کښیښود۔ او شرعي نکاح ئے ورسره اوتړلو۔ دَ اسلام بي بي وارثانو هرنام داس او منسه دیوي دَ ډومیل په تهانړه کښې دَ امیر نورعلي شاه په خلاف رپورټ درج کړو، چه اسلام بي بي نابالغه ده او امیر نورعلي شاه په چل وَل مُسلمانه[1] کړے ده۔ دوئ په خپل رپورټ

---

[1] آرتهر سوِن سن دَ خپل کتاب " نارتهه ویسټ فرنټیئر پیپلز اینډ ایونټس " په ص ۳۲۷ لیکي چه : " چاند بي بي دَ یو هندو تاجر بنځه وه چه په بنوں کښې اوسیدله



اِسلام بی بیؒ

دَچا په ننګ چه بے شمیره غازیان په شهادت رسیدلی دی۔



سَیّد امیر نور علی شاہؒ

دَ اسلام بی بی میرهٔ چه ترننه وریسے ژک ژوندے ورک دے۔

کښې دا هم لیکلي وو، چه اسلام بي بي دَ ځان سره ډیر نقد و جنس هم وړي دي۔ حکومت دَ امیر نورعلي شاه دَ کور تلاشي واخسته، خو هیڅ په کوتو ورنهٔ غلل۔ دَ اسلام بي بي دَ وارثانو سره ویره پیدا شوه، او دَ ډومیل په تهانړه کښې ئې بل رپورټ درج کړو چه زمونږ رومبنے رپورټ غلط وو، او مونږ په امیر نورعلي شاه باندے هیڅ قسم دعویداري نهٔ لرو۔ امیر نورعلي شاه چه دَ دوئ دَ بل رپورټ نه خبر شو، نو زړهٔ ئې ډاډه شو۔ خو بیا ئې هم احتیاطاً اسلام بي بي دَ سوړنئ دَ سیمے پک اسماعیل خیلو ته بوتله او هلته دَ خپل ماما ځوئے میرزا علي خان کره استوګن شو۔ دواړه ښهٔ په مزه اوسیدل او امیر نورعلي شاه به ورته دَ دین سبق ښودلو دَ بده مرغه

---

یو وزیر جبراً اِغوا کړه او اسلامي نکاح ئې ورسره اوتړلو۔ دا صحیح نهٔ ده ځکه چه هغه پیغله وه او پخپله رضا او رغبت یو ښوځي زلمي ته مسلمانه شوے وه، نوم ئې چاند بي بي نه بلکه اسلام بي بي وو۔ هم دغه سهو پروفیسر عبدالحیٔ هم دَ "افغانستان او سرحد" په صفحه ۲۹۵ کړے ده، پروفیسر صاحب چه دَ وزیرستان په حقله څهٔ لیکلي دي هغه کلهم تکي په تکي دَ حقیقت نه بعید دي۔ سره دَ دے چه فاضل مصنف پخپله هم پښتون دے۔ ولے بیا هم چه ده دَ وزیرستان تاریخ څو مره مسخ کړے دے او دغه مجاهد او په اسلام مئین اولس ئې دَ یو وحشي او ظالم په شکل کښې ښکاره کړے دے، هغه قابلِ افسوس دے۔ په تیره تیره دَ جنګي قید یانو خولو ته دَ ښځو متیازے کول به پروفیسر صاحب ته په خپل ځان مړانه ښکاري، ولے مونږه دغسے فحش حرکات غندو۔ (راقم)

هندوان چه دَ امیرنورعلی شاه او دَ اسلام بی بی دَ وارثانو دَ روغے جوړے نه خبرشول نو په یوه خوله ئے دَ منسه دیوی او هرنام داس دَمدد کولو اعلان اوکړو - داخو لاڅهٔ چه هندوانو دَ منسه دیوی له طرفه نه دَ بنوں دَ ډپټی کمشنر په عدالت کښے دَ امیرنورعلی شاه او دَ هغے دَ خپلوانو په خلاف استغاثه هم اوکړه : چه زهٔ کُنډه ښځه یمه او جهنډو خیلو کښے اوسیږمه - څوارلس پنځلس کاله کیږی، چه میړهٔ مے مړ دے - رام کوری زما نابالغه لور ده او مُلزمانو رانه په زور تښتولے ده -

دغه شان ئے په خپله استغاثه کښے نور هم کِذب و دروغ نوشته کړل - کعب نومے فیرنګی ډپټی کمشنر چه دَ هندوانو استغاثه اوکتله، نو دَ امیرنورعلی شاه کشر ورور امیرعبدالله شاه ئے رااوبللو او ورته ئے اووئیل چه اسلام بی بی هندوانو ته پسته ورکړی-امیر عبدالله شاه چه دغه خبره امیرنورعلی شاه ته اوکړه نو زمکه پرے اوچورلیده - دَ ډیر غور و فکر نه پسته دوئ دواړه په دے خبره متفق شول، چه امیرنورعلی شاه دِے اسلام بی بی دَ سپین وام په مخه افغانستان ته بوځی -

په دے سلسله کښے دوئ ترکیبتی لاړل - ولے دَ سی-آئی-ډی یو مُسلمان سب انسپکټر ارباب عطاءالله خان دوئ دَخپلے ارادے نه واړول او داسے ورته اووئیل چه فیرنګے ستاسودَ پروګرام نه خبر دے - او په سپین وام ئے ستاسو دَ ګرفتاریٔ بند وبست کړے دے -

امیر عبدالله شاه او امیر نور علی شاه دواړه ډیر پریشان شول او یو تربله صلاح ومشوره نه پس ئې داغوره اوګڼله چه اسلام بی بی او امیر نور علی شاه دې دواړه دَ شمالی وزیرستان شام سیمې ته لاړ شی. خو دا کار هم اونه شو څکه چه: "یو ځوبے ننګه او خود غرضه وزیرو تربے نه په هر پنځه میله باندے شپږ ۱۲۰ شله روپئ دَ بد رګے په طور غوښتے[۱]" له دے کبله اوس دوئ دَ ټانک په لاره تیکسی کښے شام ته تګ غوره کړو. امیر عبدالله شاه دَ حکومت او دَ هندوانو له ویرے نه قصدًا دَ یو هندو تیکسی کرایه کړو. امیر نور علی شاه او اسلام بی بی دواړه دَ کیمبتی نه راستون شوی وو او دَ بنوں نه نیم میل لرے دَ خلیفه نیکه بچک کښے دَ امیر عبدالله شاه په انتظار کښے پټ ناست وو.

امیر عبدالله شاه موټر راوستو او دواړه ئې پکښے رخصت کړل. دَ بده مرغه چا مخبر دَ دوئ دَ تګ نه آګاهو حکومت خبر کړے وو، او دَ غوریوالے په تهانړه دَ دوئ دَ ګرفتارئ بندوبست شوے وو. هلته رسیدو سره سم دواړه ګرفتار کړے شول. په دے موقع چه تهانیدار دَ اسلام بی بی نه دَ نوم پوښتنه اوکړه نو دے دَ خپل رومبنی نوم نورجهان په ځائے اسلام بی بی ورته اوښودلو. او بیا دَ هغ وړځے نه هم په دغه نامه مشهوره شوه. اسلام بی بی دَ غوریوالے تهانړے نه نیغه جیل ته واستولے شوه.

---

[۱] بنوں او دَ وزیرستان تاریخ: صفحه ۲۷۲.

او مقدمه پرے شروع شوه ۔ دَ بده مرغه اسلام بی بی په عدالت کښے دَ یو هندو سول سرجن په رپورټ شپږ میاشتے نابالغه شوه، حالانکه دَ دوَمیل په تهانړه کښے دَ دے عُمر دَ قانون په مطابق دَ بلوغت وو ۔ کعب ډپټی کمشنر دَ هندوانو طرفداری اوکړه او اسلام بی بی ئے سمندر شاه نومے یو سیکھ ته په دے شرط اوسپارله، چه کله بالغه شی، نو په عدالت کښے به بیا بیان ترے نه آخستے شی ۔

دَ اسلام بی بی سیکھ ته حواله کول څه وو، چه دَ بنوں په مُسلمانانو سرے لمبے پورے شوے ۔ هر طرف نه ډلے ډلے ځوانان راغونډ شول او دَ سمندر شاه په کور ئے حمله اوکړه ۔ سمندر شاه ئے سره دَ اسلام بی بی په خپل کور کښے قلابند کړو ۔ ځنے ځوانان په چاونړئ ورپریوتل، چا په کچهرئ حمله اوکړه او چا دَ ډپټی کمشنر په بنګله تالان ګډ کړو ۔

لور په لور بلوے راپورته شوے او دَ بنګلو، عدالتونو او سرکاری دفترونو زښته تباهی اوشوه ۔ آخر فیرنګی په بنوں کښے مارشل لا او کرفیو اولګوله ۔ بیا هم چه دَ امن آثار ښکاره نهٔ شول نو حکومت دَ حالاتو دَ نزاکت له مخے سمدستی اسلام بی بی ملک تجلی خان شاه بزرګ خیل ته په سپُرد کړه ۔ دَ فیرنګی او دَ هندوانو یوه مرکه وه ۔ کله چه حالات معمول ته راغلل، نو یوه شپه دَ ډپټی کمشنر او پولیس سپرنټنډنټ په کمان کښے دَ تجلی خان له کور نه سرکاری قُوا چاپیره شوه او اسلام بی بی ئے په زبردستئ ترے نه راوُیسته او بوتلئے نومے

مشهور دولتمند هند و په موتړ کښې هوشیارپور (بهارت) ته یوړه.

فیرنګی د اسلام بی بی د کم سنئ په وجه امیر نورعلی شاه قید کړو او د هرې پور جیل ته ئے واستولو. د جیل نه چه راخوشے شو، نو ځان ځان ته به کرځیدلو. سیّد عبدالله شاه ورله وادهٔ اوکړو. یوه لور ئے هم پیدا شوه. خو دے به هم هغه شان د اسلام بی بی د جدائئ په غم کښې لیونے وو. آخر یوه ورځ چه د خپلو ملګرو سره سوات ته لاړو، نو د هغې ورځے نه تر نن ورځے پورے بیا بیرته کورته رانغے او نهٔ ئے د مړهٔ ژوندی درک معلوم شو.

سیّد عبدالله شاه د دهٔ لور خپل ځوئے ته په نکاح کړے ده، او تراوسه ژوندئ ده.

## د فقیرایپی ظهور:

د فیرنګی په یک طرفه فیصله باندے د بنوں خټکو او مروتو اولس ډیر دلګیر شو او د حکومت په خلاف ئے بنوں کښې ځائے په ځائے احتجاجی جلسے شروع کړے. دا خولاڅهٔ، د توچئ وزیر او داوړ چه د اسلام بی بی د واقعے نه خبر شول نو هغوئ لاسکرونه شول. په ۱۱ اپریل ۱۹۳۶ء د بنوں علماء کرامؒ او مشران توچئ ته راغلل او د عیدکو په کلی کښې ئے د داوړو د علمائے کرامو، ملکانانو او سرکرده مشرانو سره د فیرنګی د ناکردو په خلاف غونډه اوکړه. په دے موقعه فقیرایپی هم موجود وو. جرګه ایئرو مشرانو خپلو کښې دا فیصله اوکړه چه برطانوی حکومت دِ فوری طور او بلاچون وچرا

اسلام بی بی مُسلمانانو ته حواله کړی، ګنی نتیجه به ئے ښهٔ نهٔ وی۔ دَ جرګے دَ خوریدو په وخت ځنو ځنو ځوانانو خپل جذبات قابو نکړے شول، او درے سرکاری لاری ئے تباه کړے۔ دَدے نه پسته دَ داوړو سترګے یواځے فقیر ایپی پله راوګرځیدے مګر هغهٔ بیخی خاموشی اختیار کړے وه۔ او پټ په پټه به ئے دَ بنوڅو دَ وفدونو سره خبرے اترے کولے، ولے دَ دوئ ترمینځه چه څهٔ موافقه اُونهٔ شوه نو احمد خان[1] او زما (راقم) پلار زر بادشاه دَ خپل کلی یو مجاهد، عالم او قاضی محمد نظیف، چه دَ مشهور مجاهد مُلا پاونده همکار وو، په واسطه داپیغام وراولیږلو چه:

"بنوں کښے چه دَ مسلمانانو سره دَ فیرنګی دَلاسه کوم زور زیاتے شوے دے، په هغے باندے دَ هر یو مُسلمان په زړهٔ کښے دَ انتقام اور بلیږی۔ ښهٔ به وی چه تاسو میدان ته راوځئ او دَ خلقو قیادت سنبال کړئ."

فقیر ایپی دوئ ته څهٔ ځواب ورنکړو۔ بله ورځ بیا دوئ قاضی صاحب وراولیږلو۔ داځل فقیر ایپی ورته غاړه کښیښوده او ورته ئے اووئیل چه: "دوئ دِے صبا ملک اژدر ته په لشکر راشی زهٔ به هم ورشم او یوه جرګه مرکه به اوکړو."

په ۱۵ اپریل احمد خان او دَ راقم پلار دَ دریپه خیلو کلی دمان

---

[1] احمد خان دریپه خیل داوړ، چه زما دَ پلار سکه ماما وو۔

راوبلل او ډولونه ئې پرې اووهل - دَ ډولونو په ګړزهار به شمېره نفوس راغونډ شول - او دوئ ورته تقريرونه شروع کړل چه:

"نن په اسلام بي بي باندې دَ ننګ وغيرت کولو ورځ ده، څوک چه ځان ته مُسلمان وائې، هغه دِ راځي چه دَ فيرنګي خلاف دَ ملک اژدر په لويه جلسه کښې شموليت اوکړي."

دَ اسلام بي بي واقعې په توچئ کښې زبردست جوش وخروش پيدا کړے وو، او لوردَلورې نه به دَ داوړو ژنړي ملک اژدر ته راجمع کيدل - دَ ډولونو ګړزهار، دَ پوکانړو چغار او دَ ټوپکو ټقاردَاسلامي ننګ وغيرت يوه مثالي مظاهره وړاندې کوله -

دَ توچئ رود په ګټو کښې نهٔ دَ وسلې بند ځوانانو کې وو او نهٔ دَعلماءِ کرامو - نهٔ زاړهٔ ځائيدل او نهٔ واړهٔ - بس هر څوک به په زړهٔ زړهٔ کښې دَاسلام بي بي په ننګ فيرنګي ته خوټکيدل - يو درونډ لشکر راجمع شو او دَ توچئ رود په غاړه غاړه ملک اژدر[1] پله روان شو - په تلو تلو کښې ورسره دَ ميرانشاه او داسے نورو کليو سرتيري

---

[1] دَ رودِ توچئ په غاړه تپي کلي ته نزدے دَعزهٔ په لمن کښې دوه[2] مشهورقبرونه دي، له قديمه نه دلته هر کال دَ حج په ورځ عوامي ميله لګي - پخوا به پکښې نيزهٔ بازئ کيدلے، ولے اوس پکښې صرف ننداړے او نشانه بازئ کيږي.
وئيلے شي چه په دغو قبرونو کښې يو دَ ملک اصغر نومے عرب مجاهد قبر دے.
کوم چه په ملک اژدر شهرت لري - دلته نزدے دَتپل (توچي) لوئے آهني پُل هم تيارے شوے دے -

هم شامل شول۔ او ملک اژدر ته اورسیدل۔ هلته دَ لرے توَجیُ داوړ هم رارسیدلی وو او یوه درنه جلسه شروع شوه۔ هرچا به په میدان کښے دَ زړهٔ براس ویستلو۔ دَ فیرنګی دَ زور زیاتی، دَ اسلام دَ سپکاوی او دَ وطن دَ عزت او حفاظت په حقله زوردار تقریرونه اوشول۔ په آخر کښے داوړو په یوه خُوله په بنوں باندے دَ حملے کولو فیصله اوکړه۔ په دے دوران کښے فقیرایپی په شنهٔ څادر کښے نغښتلے په اس سور راغے او دَ یو سړی نه ئے اوپوښتل چه دَ داوړو مشرانو څهٔ فیصله اوکړه؟"

خلقو ورته اووئیل چه: "که چرے فیرنګے په خپل ضد ټینګ شی او دَ اسلام بی بی په بیرته راکولو کښے پس و پیش کوی، نو دغه لشکر به په بنوں حمله کوی"

فقیرایپی دا خبره خوښه نهٔ کړه او خلقو ته ئے اووئیل چه:

"ګوری! انګریزان بے شمیره فوځونه، وسلهٔ طیارے او خوراکی مواد لری۔ دغه شان مُخ په مُخ مقابله ئے ډیره ګرانه ده، ولے چه موږ په هر لحاظ سره کمزوری یُو۔ کچرے تاسو ورسره جنګ کول غواړئ، نو راځئ چه په دا خبره یو ځل بیا غور و فکر اوکړو او یو بل ګټور تدبیر اوسنجوو۔"

دَ فقیر ایپی په دغو خبرو یوه زبردسته غوغا جوړه شوه۔ او یو تر بله کُنکوسے شروع شوے، چا به وے چه دَ فیرنګی ایجنټ دے او چا

به وے چه بدړے ئے خوړلے دی. آخر چه خلق یو ځل بیا وبله جرګه شول او په ساړه دماغ ئے د دهٔ په خبرو غور اوکړو، نو په بنو ئے د حملے کولو اراده پریښوده. او یو نوے ترکیب غوره کړے شو.

هغه دا وو چه، د یوے عزیزے علاقے په یو محفوظه مقام د غازیانو یو مرکز قائم شی او بیا د هغه ځائے نه د فرنګی په خلاف ګوریله جنګ جاری کړے شی. په داخبره ټول متفق شو او به یوه خوله ئے نیتاسی ته د تلو فیصله اوکړه. په دغه ورځ لشکر به کوزو داوړو کښے شپه تیره کړه او بله ورځ نیتاسی ته لاړو. هلته تر ۱۹ اپریل پورے د لشکر تعداد تر خلورو زرو پورے اورسیدو.

د خیساره توری خیلو وزیرو په دغه لشکر کښے د شاملید و نه انکار اوکړو. اوس لشکر ته د یو مشر ټاکلو مسئله وړاندے شوه. په دے لړ کښے ډیرے جرګے مرکے اوشوے. خو آخر اتفاق په فقیر ایپی اوشو او د لشکر د مشرئ پټکے ورپه سر کړے شو او احمد خان دریه خیل داوړ د دهٔ نائب منتخب کړے شو او د دے سرخلقو د ډولونو په ګرزهار او د ټوپکو په ټقار کښے مست میندلو ولچولو.

دغه لشکر بله ورځ شکتوئے ته لاړو خو بیا ژر خیساره ته راستون شو. او د توچئ علماء کرامو د فتوے په مطابق فقیر ایپی د انګریزانو په خلاف د جهاد اعلان اوکړو. انګریز انتظامیه هم د داوړو د لښکر نه غافله نهٔ وه. او د دوئ هر قسم نقل وحرکت به ئے په نظر کښے ساتل او خال خال حربے به ئے پرے استعمالولے.

آخر دَ وزیرستان انګریز ریذیډنټ دَ داوړو لشکر ته دَ خوریدو اخطار ورکړو، وَلے هغوئ پرے څهٔ غوږ او نهٔ ګرولو۔ دویم ځل ئے دَ طیارو په ذریعه دَ وارننګ پرچئ پرے اوغورځولے۔ بیا هم لشکر منتشر نهٔ شو۔ دریم ځل ئے په ۲۳ اپریل سکاؤټس وراولیږلو۔ او په ایپي کلی کښے ئے دَ فقیر ایپي او ورسره ورسره دَ دوؤ نورو سرکرده مشرانو آبادئ ورانے کړے۔ بیائے دَ داوړو مشران راوبلل او سخت نوټس ئے ورکړو چه که چرے تاسو خیل خلق دَ خیسارهٔ نه راستون نکړئ، نو ستاسو تور سرے به بے ستره، کورونه وران، او جوماتونه شهید کړے شي۔

دَ فقیر ایپي په لشکر کښے اکثریت دَ هغو داوړو وو دَ کومو کرړوان ته چه دَ فیرنګی لاس په آسانه رسیدے شو۔ زیاتره پکښے ملکانان، خاصه داران، ټهیکداران او تاجران وو۔ دَ فیرنګی په نوټس دَ داوړو مشران خپلو کښے وبله جرګه شول او په یوه خوله ئے دَ حسوخیلو کلی غازی مرجان او حاجی کمال الدین فقیر ایپي ته وراولیږل دوئ دواړو په خیسارهٔ کښے دَ کیوه په مقام دَ فقیر ایپي سره ملاقات اوکړو۔ فقیر ایپي چه دَ دوئ خبرے واوریدے، نو هغو ټولو داوړو ته ئے، کومو چه حکومت کښے څهٔ منصب لرلو او یا دَ حکومت له خوا نه ورته کوم خدشات ممکن کیدے شول، رخصت ورکړو۔ داوړو په دے خبره ډیر خفګان ښکاره کړو۔ وَلے هرکله چه دَ فیرنګی اراده نه خبر کړے شول، نو له ناکامه په بیرته ټک راضی شول۔ ځکه چه

دا معامله دَ جاني او مالي تاوان نهٔ وه، بلکه دَ ناموس وه. فقير ايپي خپل نائب احمد خان او دَ راقم پلار ته هم دَ بيرته تللو اجازه ورکړه او داسې ورته اووئيل چه: "ستاسو عزت زما عزت دے، انشاء الله چه دَ فيرنګي په بنکاره مخالفت نه به تاسو ماته په حکومت کښې دننه زيات ګټور اوسئ. چنانچه په ۲۵ اپريل دَ داوړو اکثر خلق دَ فقير ايپي نه پسته لاړل او فقط يو شمير کسان ورسره پاتې شول.

په دے موقع وزيرو دَ فقير ايپي هيڅ قسمه حمايت نهٔ کولو. کوم خلق چه دَ فقير ايپي سره پاتې وو، په هغو کښې نامتو کسان غنم رنګ داوړ، دَ فقير ايپي خپل دوه روزه مولانا شير زمان او ګل زاعلي خان، دَ فقير ايپي سخر قاضي شيرزاد بنوڅے، دَ توري خيلو وزيرو مهر دل زر بينائي، لمدے خيل او عيد حسن وو. فرنګي دَ دے موقع نه فائده اوچته کړه او په ۲۶ اپريل ئې دَ توچي سکاؤټس په ذريعه د لړے توچيئ سيمه بلاکيډ کړه او دَ داوړو په لشکريانو کښې ئې هغه تول کسان، کوم چه څهٔ حيثيت درلود او يا سرکاري ملازمين وو ګرفتار کړل. او دَ ۲۷ اپريل نه تر ۲۶ جولائي پورے قيد کړے شول. دَ دے نه علاوه فيرنګي په ۱۶ جون دَ داوړو جرګه راوبلله او دولس زره روپئ جرمانه ئې پرے اولګوله. کومه ورځ چه دَ داوړو خلق دَ خيسارهٔ نه راستونيدل، هغه ورځ فقير ايپي ډير مايوسه پاتے شو. خپلو ملګرو ته ئې اووئيل چه: "اوس دَ دے بغيره بله چاره نشته

چه موږه دَ افغانستان په بريد ورواوړو او دَ هغه ځلئ نه خپل تحريک په مخ يوسو."

په ۱۱، مئ مازيګر دُ خيسارهٔ دَ سين ورو کے کلی مشران فقيرايپي ته راغلل او دَ تهقالے ست ئے ورته اوکړو. فقيرايپي دَ دوئ تهقاله قبوله کړه. او هم دغسے دَ يو بل په اصرار په دے کلی کښے دَرے ورځے پاتے شو. څلورمه ورځ دَخيسارهٔ توری خيلو وزيرو هم دَ تهقالے ست ورته اوکړو. فقيرايپي دَ دوئ ملمستيا هم منظوره کړه. اوس چرته دَ ورځے تهقاله خوړلے او چرته دَ شپے، او دغه سلسله تر ډيرو ورځو پورے اوږده شوه او دَ فقيرايپي سره يوځل بيا کنړ خلق ملګری شول. دَ فيرنګی په زړهٔ کښے لا هغسے دَ فقيرايپي نه ويره وه، او دَ قربانئ دَ ګډ په شان به ئے په اوبو کښے چارهٔ ليدله. بار بار به ئے دَخيسارهٔ توری خيلو وزيرو ته ديکے ورکولے چه فقيرايپي دَ خپلے علاقے نه اوشړئ او دلته دِ لشکر نهٔ راغونډوی. دوئ به په ځواب کښے ورته اوويل، چه فقيرايپي يو فقير سړے دے، خلق ورته دَ عقيدت له مخے تهقالے کوی. دَ يو څو شيخانو نه علاوه نور هيڅ لشکر ورسره نشته، نهٔ دَجنګ قدرت لری او نهٔ مخالفانه عزيمت.

له دغو ورځو نه دَ وزيرستان ننګيالے اولس په دوو ډلو کښے تقسيم شو. يوه هغه ډله وه، چه له شپږو مياشتو راسے ئے فيرنګے په دا مجبورولو چه دَ فقيرايپي هجرت او دَ جهاد اعلاميه به ضرور دَ فيرنګی او دَ مسلمانانو تر مينځه په يوه لويه پيمانه خونريزی راپورته کړی. نو

ښه به داوي چه د فقیر ایپي مطالبات تسلیم کړے شي۔

بله هغه ډله وه، چه د وزیرستان ننګیالي او توریالي علماء دین او غازیان پکښے شامل وو۔ دغو علماؤ هم له شپږو میاشتو راسے خلقو ته د خدائے په لار کښے او د وطن په ننګ د سرونو شندلو او په خپلو کښے د یو موټي کیدلو تبلیغ کولو۔ دغه رنګ به مړنو غازیانو هم د فقیر ایپي نه چاپیره په توپکو لاسونه وهل او په فیرنګي باندے حملے کولو ته لیواله ناست وو۔

فقیر ایپي په خیسارهٔ کښے ډیرے ورځے تیرے نکړے. کله چه د اوړي موسم راغے او خلقو د ګرمۍ له زوره یخو ځایونو ته کډے اوکړے، نو دے هم ګرویوم ته لاړو او د مۍ نه تر ستمبر پورے په شام، ګرویوم او شکتوئے کښے پاتے شو۔ په دے دوران کښے ده د وزیرو محسودو، داوړو او بیټنو سره د فیرنګي په خلاف ډیرے جرګے مرکے اوکړے او په شکتوئے کښے ئے د ملا فضل دین او دین فقیر سره هم لیدل کتل اوکړل او د جهاد په سلسله کښے ئے ورسره صلاح و مشوره اوکړه۔ ستمبر کښے چه خلق د یخو میلو نه تاؤدو میلو ته راکوزیدل نو فقیر ایپي هم رزمک ته نزدے خپلے زړے میلے دین[1] درګے ته راغلو۔ د فقیر ایپي خیل قوم زړیني چه په دے خبر شول چه دے په رزمک کښے پاتے شو نو په یوه خوله ئے لس اوښان ورواستل او خیسارهٔ ته ئے راکوز کړو۔ دلته په ګرګنړئ کښے فقیر ایپي ځان له

[1] دلته د فقیر ایپي دوه وروڼه مولانا شیر زمان او ګل زا علي خان ښخ دي۔

کوں او جومات جوړ کړل. خپل مشر ورور سنو زمان ئے چې په سکول کښے ماسټر وو، دَ ملازمت نه ویستو او په خیسارهٔ کښے میشته شول.

دلته یو څل بیا دهٔ ته دَ خلقو هیر بهیر ورجوړ شو او اکتوبر کښے ئے دَ فیرنګی په خلاف خپلے سرګرمئ تیزے کړے. دَ فیرنګی سره ویره پیدا شوه او دَ توری خیلو ملکانانو ته ئے وارننګ ورکړو چه: "کچرے تاسو تر دریم نومبر پورے دَ فقیر ایپی سره څهٔ خوشګواره فیصله اونکړه، نو په خیسارهٔ به فوج کشی کولے شی"

فقیر ایپی دَ ملکانانو خبره اونهٔ منله بلکه خیسارهٔ ته ئے دَ فیرنګی راتګ هم چیلنج کړو. ملکانان لاړل فیرنګی ته ئے صفا صفا ځواب ورکړو چه:

"نهٔ خو موږ فقیر ایپی دَ خپلے علاقے نه شړلے شو او نهٔ ئے دَ جنګ وجدل نه منع کولے شو. بلکه دا چه موږ دا ذمه واری هم نهٔ شو قبلولے چه ګنی څوک به دَ فوج په کالم یا دَ سکاؤټس په ګشت حملے نهٔ کوی. پکار ده چه تر دریو میاشتو پورے هر قسم فوجی نقل وحرکت معطل کړے شی"

دَ نومبر تر نیمائی پورے فقیر ایپی ډیر پرکشش شخصیت جوړ شو. او هر وخت به څلور پنځهٔ سوه غازیان ورسره موجود وو. هم به ئے دَ فیرنګی په خلاف تخریبی کاروایئ کولے او هم به ئے خلقو

ته دَ غزا تبلیغ کولو۔ په اولس کښې دَ فقیر ایپي مقبولیت او دَ حکومت برطانیه په خلاف دَ دهٔ استقامت انګریزانو کله کالاله شو. نو دَ قطبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ مسټر کریکټن[له] دَ خپل نائب پولټیکل ایجنټ آر۔ این۔ بیټي سره صلاح مشوره اوکړه او دَ محمد نواز خان نومې نائب پولټیکل افسر نه ئې دَ فقیر ایپي دَ لښکر په حقله رپورټ طلب کړو۔ هغهٔ ورته اوویل چه دَ فقیر ایپي سره هیڅ لشکر نشته۔ بس یو فقیر دے او ورسره یو څو شیخان، چه فوځ ورشي نو لاس تړلے به ئې راولي۔ مسټر کریکټن دغه خبره دَ وزیرستان ریذیډنټ ته اوکړه۔ او هغهٔ په خیسارهٔ دَ فوج کشئ سفارش اوکړو۔

## دَ خیسارهٔ رومبئ جګړه:

په ۲۴ ر نومبر کال ۱۹۳۶ء دَ بنوں نه میرعلي کیمپ او دَ رزمک نه دَ مدیل کیمپ ته یو یو بریګیډ فوځ راوړے شو او دا فیصله اوشوه چه دَ رواني میاشتې په پنځویشتمه نیټه به دَ رزمک فوځ له دَ مدیل او دَ بنوں فوځ له میرعلي نه خیسارهٔ ته روانیږي۔ دواړه فوځونه به دَ شپې په بیچې کسکئ باندے سره یو ځائے کیږي او چه دَ فقیر ایپي دَ ژوندي نیولو یا شړلو نه اوزګار شي نو بیرته به خپلو خپلو ځایونو ته ستانهٔ کیږي۔

دَ میرعلي دَ فوځ په وړاندے څوارلس[۱۴] میله مسافت وو۔ او دَ مدیل دَ فوځ په وړاندے دولس[۱۲] میله۔ دَ ټاکلي پروګرام په مطابق

---

له CRICKTON - دَ خلقو په خولهٔ کرائیټن وو۔

په ۲۵ نومبر دَ ډمډېل فوځ دَ جی۔او۔سی ، جی۔ایس۔او۔I ، دَ وزیرستان ریذیډنټ، او دَ قطبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ په کمان او نګرانئ کښې سحر په ½۷ بجو خیسارهٔ ته روان شو۔ دغه شان دَ میرعلی فوځ هم دَ جی۔ایس۔او۔II ، ډی۔اے۔کیو۔ایم۔جی ، دَ قطبي وزیرستان نائب پولټیکل افسر خان بهادر محمد نواز خان په کمان او معاونت کښې سحر په اُووهٔ بجے خیسارهٔ پله اوخوځېدو۔ دَ دواړو فوځونو سره دَ توپونو، ټینکونو، مشینګنو او نور سلاح نه علاوه دَ محافظت دَپاره په فضا کښې جنګی طیارو هم پروازونه کول ۔ او ورسره ورسره یوه لویه رساله او په میګزین، راشن او کرموجامو بار دَ اوښانو او خچرو بهیر هم روان وو۔ په میرعلی برګیډ پسے شا ته دَ وزیرو داوړو شپږ شلے [۱۲۰] وسله بند قامی مشران هم په ملاتړ کښې روان وو۔

دا دَ رمضان شریف لسمه ورځ وه او دَ نومبر دَ میاشتے پنځویشتمه [۲۵] نیټه۔ دَ میرعلی فوځ چه په لسو بجو دَ کټیرے الګاډے نه پورے وتو نو غازیانو پرے دَ لروبر غونډیو څخه حمله اوکړه۔ فوځ چه تلپکان[له] او عالم شیری مړیستون ته رسیدو نو جګړے ډیر شدت اختیار کړو۔ او دَ فریقینو تر مینځه یو شدید جنګ اونښتو۔ په فوځیانو به دَ شا له طرفه نه دَ وزیرو داوړو قامی مشرانو جوړے تشولے او دَ مخے نه به غازیانو دَ مردکو باران پرے ورولو۔ یو قیامت وو چه دَ خیسارهٔ

---

له تلپاک ماشوم ته وائی، تلپکان جمع ده۔ چونکه دلته دَ یو څو ماشومانو قبرونه دی نو ځکه په تلپکان شهرت لری۔

په زمکه برپا شوې وو. دَ ایمان په جذبه سرشار غازیان په داسې پامردئ سره جنګیدل چه نهٔ ئې دَ طیارو نه ویره کیدله او نهٔ ئې دَ توپ و تفنګ څخه. دَ طوفان په شان به تیغ په فوځیانو ورختل او پرېوځ به ئې اوړل. هغوئ به که هر څو منډې وهلې، خو دَ وتو رو کودرې نهٔ لیدو، او عاقبت به دَ حلال شو چرګانو په شان په خپلو وینو کښې په رغړیدو شول.

په دغسې حالاتو کښې له یو خوا نه سخت ګرد و غبار راپورته شو او له بلې دړې نه دَ انګریزانو وائرلسونو کار پرېښودو او دَ بنون او رزمک بریګیډونو په مابین کښې رابطه منقطع شوه او فوځ په ځائې ایسار شو، نهٔ ئې پیش قدمئ جسارت کولے شو او نهٔ دَ پسپائئ.

په نتیجه کښې دَ میجر ټینډال او کپتان بائډ دَ هلاکت نه پرته ۲۷۰ کسان وژلی ژوبلی یکښې اوشول، په کومو کښې به چه دَ وژلیو کسانو درنګے سمدستی په اوړ سوزولے شو. دَ غازیانو دَ لورې نه صلابت خان، کلاباند خان او عالم خان دَ شهادت جامونه نوش کړل.

دَ دمدیل په فوځ باندې هم ننګیالو غازیانو دَ خساره په تنګړی کښې په لښو بجو حمله اوکړه. سخته جګړه اونښته. او اووهٔ میرنی غازیان په شهادت اورسیدل، چه مشهور یکښې سید خونه پیر او سیل خان وو. دغسې دَ فیرنګی دَ لورې نه نهه دَ پاسهٔ ۳۰۹ درې سوه کسان مړهٔ ژوبل شو. دَ دې نه علاوه یو انګریز افسر میجر سیکومب او ورسره یو څو نور منصبداران په قتل اورسیدل. ولې سره دَ دې

فوځ دَ غازیانو څخه مخ په وړاندے تیر شو۔ او دَ شپے په دولسو[۱۲] بجو دَ سرو مرمیو په باران کښے دَ جنګ ټاپي کرکنړیُ او مرغے ته ورسیدُو۔ دَ میرعلی فوځ لا هغسے غازیانو په لار کښے راګیر کړےوو او سخته کشتنی ئکیا وه، چه ناڅاپه دَ شپے په دوه نیمے بجے غازیان په فوځ ورګډ شول او لاس په لاس او ټټر په ټټر وبله امبړ چمبړ شول۔ دَ یوڅو ګړیُ سخت جنګ نه پس یو طرف په فوځیانو دومره سخته ویره غالبه شوه چه له ځیرے مخ په تیښته اونیوه او بل طرف دَ توپونو، مشیندارو او ټوپکو دَ ګړزهار څخه اسونه، خچرے او اوښان په تربخځو سر شول۔ غازیانو دَ فوځ دَ وارخطایئ څخه فائده واخسته او دَ ګڼړو ټوپکو، مشیندارو قبضه کولو نه علاوه ئے په میګزین، راشن، کرموجامو او نور سازو سامان بار خچرے او اوښان تر مُهارونو اونیول او قسما قسم غنیمتونه ئے ترلاسه کړل۔ په دے موقع هم ۳۵ تنه فوځیان قتل او یو څو انګریزان سخت ژوبل شول۔ او دَ غازیانو له خوا نه ۱ یلد ۲۵ میړهُ ځوانان په شهادت ورسیدل۔ چه مشهور یکښے دَ فقیرایپي یو نامتو مجاهد ماملکائی توری خیل وزیر وو۔

په ۲۶ ر نومبر چه دَ میرعلی فوځ ته یو خوا دَ جنګی طیارو په ذریعه میګزین او دارو درمل لاسے ته ورغلل او بل خوا دَ ډمډیل دَ فوځ امداد ورسیدو، نو مرغے او کرکنړیُ ته ئے پښے وُ یستے۔ او دَ ډمډیل دَ فوځ سره یو ځائے شو۔ توری خیلو وزیرو دَ کرکنړیُ کلے خالی

کړے وو او دَ محسودو په علاقه ورننوتلي وو. دغه شان فقیرایپي هم خپله مخه کړے وه. فیرنګي دَ خیسارهٔ سیمه قبضه کړه او په کرکنړئ کښے ئے دَ فقیرایپي جومات شهید او حجره منهدم کړه.

فیرنګي په دغه وقتي برئ باندے ډیر غاوره شو. ولے څهٔ خبر وو چه توریالي غازیان ورته بیا په ټوپکو مزې اوباسي او په ۲۷ نومبر تقریبًا شپږ ونیم سوه غازیانو یوځل بیا دَ میرعلي او ډمډیل په دواړو بریګیډونو داسے فیصله کُن حملهٔ وروړه او دَ فریقینو تر مینځهٔ دومره سخته مقابله اوشوه، چه دواړه بریګیډه پسته میرعلي ته اوزغلیدل. او یوویشت دپاسه یو زر کسان مړي ژوبلي ترے نه اوشول. او غازیانو په پنډو ونو پنډونو مالِ غنیمت ولجه کړو. فیرنګي به په هره موقعه دَ خپلو سپاپانو درنګے سوزولے او زخمیان به سمبالول. په دے درے ورځنۍ انښته کښے دَ فیرنګي دَ غرور شمله بنکته شوه او دَ بدترین شکست سره مخامخ شو. بے شمیره مالي تاوان او زبردست جاني تلفات ورته اورسیدل. دَ میجر سیکومب (Seccomb) میجر ټینډال (Tindal) او کپتان بائډ (Boyd) دهلاکت نه علاوه کپتان فلپس (Fillips) کپتان پیکاک (Peacock) او لفټیننټ فلیچر (Fletcher) سخت ژوبلي وو. دَ منصبدارانو نه علاوه دَ میرعلي او ډمډیل دَ دواړو بریګیډونو څخه په کنړکنړلي دوه زره دوه سوه اته ویشت تنه فوځیان تپیان شوي وو. دَ غازیانو لخوا نه هم ۳۵ کسان سرتیري ځوانان شهیدان او ۳۲ سخت ژوبل شوي وو.

خیسارهٔ ته دَتلو نه مخکښې چه خان بهادر محمد نواز خان دَ فقیرایپي دَلشکر په حقله کوم رپورټ پیش کړے وو، هغه اپوته شو. هم ځکه دَ وزیرستان ریذیډنټ دَ پولټیکل ایجنټ نه جواب طلبي اوکړه. هغهٔ په محمد نواز تور وراوتپلو او هغه په شپږو کهنټو کښې دننه دَ وزیرستان نه خارج کړے شو.

دَ خیسارهٔ دَ جګړے په حقله بریګیډیئر ډبلیو. ایچ کونډن دَخپل کتاب "دی فرنټیرفورس رائفلز په صـ۱۲۶ داسے لیکي:

"صرف دا نه چه کنې دَ قبائلو دَ لاسه دواړو کالمونو ته سخت مزاحمت پیښ شوے وو، بلکه دَ توچئ په کمزوري کالم چه کومه حمله شوے وه، هغه دَ قبائلو دَ وجے دَ نقطهٔ نظر په مطابق دومره کامیابه وه، چه دَ هغے ورځے نه فقیرایپي دَ یو باغي قبائلي لیډر په حیث خپل شهرت او استحکام قائم کړو"

دَ ۲۵ او ۲۶ نومبر په منځنۍ شپه دَ میرعلي په بریګیډ دَ غازیانو دَ یو ے حملے په حقله کونډن په صـ۱۲۷ داسے واویلا کړے ده چه:

"دَ دشمنانو له ډزو څخه دَ کالم دَ نقل وحمل ټیرے په ترنجقو شوے او دغسے فقیر ایپي او دَ هغهٔ ملګرو په کثیر تعداد کښې کړے جامے او سلاح ترلاسه کړه. په دغه وجه دَ وزیرستان قبائلو ته دَ فقیر ایپي په تحریک کښې دلکشي راغله او دَ دشمن عناصرو اَخلاقي معیار

اوچت شو." بل ځائے په صفحه ۱۴۸ لیکي چه:

"دغه مهم په سرحد کښے زموږ د قواؤ یو شدید شکست وو، او لکه څنګه چه ګڅکښے ویئلي شوي دي، فقیر ایپي ته ئے د یو لیډر مقام اوبخښلو او د دے جوګه شو چه په وزیرستان کښے تر ډیرو کالونو پورے مصائب راپورته کړي."

## د خیسارهٔ دویمه جګړه:

د خیسارهٔ په رومبئ جګړه کښے چه انګریزانو کوم شرمناک شکست خوړلے وو او کوم سخت تلفات ورته رسیدلي وو، د هغے د بدل اخستو دپاره دوئ ډیر لیواله وو. له دے کبله په اووویشتم ۲۷ نومبر ۱۹۳۶ء برطانوی حکومت یو ځل بیا په توري خیلو وزیرو د فوج کشئ او بمبارئ کولو فیصله اوکړه - په دے ضمن کښے جنرل سرجان کولرج (Jhon colridge) ته په دواړو قطبي او سوئیلي وزیرستان ایجنسو کښے د غازیانو د سرکوبئ سره سره په ۲۹، نومبر ټول پولټیکل اختیارات هم اوسپارلے شول. او د وزیرستان ریذیډنټ چیف پولټیکل افسر نامزد کړے شو. د دے تبدیلئ سره د وزیرستان په رومبني فوځي طاقت کښے نوره اضافه هم اوشوه. او د میرعلي او رزمک په سیمو د فوځونو، ټینکونو، لاریو، خچرو او جنګي طیارو هیر بهیر اولګیدو -

جنرل کولرج چه بنه ځان قوي کړو، نو د غازیانو د مدافعت او خیسارهٔ ته د سړک د تیرولو احکام ئے جاري کړل - په ۳۰، نومبر

یوځوا ډ فوځ، ټینکونو او طیارو تر بدرګے لاندے ډ بنوں میرعلی سړک پہ ۲۷ میل باندے ډ خیسارهٔ پہ سړک کار شروع شو۔ او بل خوا پہ ۳، دسمبر ډ خیسارهٔ پہ سیمه باندے ډ طیارو پہ ذریعه ډ خبرداریٔ اعلانونه اوغورځولے شول چه:

"تاسو زر نه زر ډ خپلے علاقے نه اوځئ او
واړهٔ زاړهٔ خوندی کړئ "

ډ خیسارهٔ پہ سړک ډیر پہ تیزئ سره کار روان وو۔ او ډ دسمبر تر څلورم تاریخ پورے ډ کتیں ے الګډ ے بنیٔ مورګے پورے مکمل کړے شو۔ دغسے فوځیانو ډ سړک ډ تعمیر سره سره پہ ۵، دسمبر ډ توچیٔ رود، پہ ۹، دسمبر ډ جلیں الګډ ے او پہ ۸، دسمبر ډ خیسارهٔ رود پہ غاړو غاړو کیمپونه هم قائم کړل، چه تر مینځه ئے څلور څلور میله پرتاوُ وو۔

سربیره پردے ډ غازیانو پہ آمدورفت او ډ بنوں څخه ډ راشن په راوړلو هم قدغن اولګولے شو۔ او پہ دے لړکښے پہ ۱۹، دسمبر ډ خیسارهٔ څخه رود نمرخاتهٔ پله ډ سیں تانګے او نرمې خیلو خاصه دار پوسټ پہ هم ډ سړک پہ تعمیر کار شروع کړے شو۔ پروګرام ئے دا وو، چه دغه سړک ډ بنوں وزیرستان سنټرل روډ ته ډ درے غونډاری په خوا کښے پہ اتم میل ورګډ کړی۔

کله چه پہ ۹، دسمبر فوځ ډ جلیں الګډ ے پہ غاړه کیمپ اولګولو نو ډ هغے پہ صبا فقیر ایپي شکنتوئے ته واوریدلو او خپل غازیان ئے

دَ کوریلا حملو په ترځ کښې په فیرنګي ورخوشي کړل - فوځ چه یوځو ورځې دمه شو، نو دَ دیارلسمّ ۱۳ دسمبر نه ئې تر پنځلسمّ ۱۵ دسمبر پورے چاپیره تول کلی مِسمار کړل - په ۱۵، دسمبر ئې دَ فقیرایپي کلے زیخے (ZIKHE) هم رېنګ کړو. فیرنګي په دا صبرنهٔ شو، په ۲۲، دسمبر ئې دَ داکئ او شیخ محمّد زیارت کلیو کښې هم لاس واچولو. او عن تر زیرپیړی، دینور او بوبلي پورے اوبد شو. په دے موقعه دَ وزیرستان ممتور ژنړی ورمته شول او داسے ډغرہ ئې ورکړه، چه فوځ ئې په شا اوتمبولو - او په نتیجه کښې یو انګریز افسر میجر ولیم، پینځه نور فوځي منصبداران او ۳۵ سپایان اوورژلے شول. او ۹ تنه انګریزان او ۱۷ تنه سپایان ټپیان شول - غازیانو په ګڼړو ټوپکو، تماچو، دوربینونو او نور سامان باندے هم قبضه اوکړه - او دَ غازیانو له جانبه ایله درے ۳ تنه سربازان شهیدان او یوځو زخمیان شول -

فیرنګي چه دَ غازیانو دَ لاسه داګزار اوخوړو نو ۲۳/۲۲ دسمبر په شپه او ۲۳، دسمبر په ورځ ئې له ډیره قهره نور هم ګنړ کورونه اوسیزل او دَ داکئ کلي په لوئډیز اړخ ټوله علاقه باندے ئې بمباری اوکړه - په دے موقعه فقیرایپي غازیانو ته دَ ګوریلا جنګ هدایاتو ورکولو نه پسته ارسلکوټ ته لاړو او هلته په شکتوئ کښې پاتے غازیان په یوځو ټولګیو کښې تقسیم شول. چا به دَ ورځے په ګشتونو او پیکټونو حملے کولے، او چا به دَ شپے کیمپونو ته بمونه

وروغورځول - او ګرده شپه به ئې باړونه پرې چلول - لنډه دا چه فیرنګي دَدغو ګوریلا جنګ جګړو ځنې زښت تنګ شو او یوځل بیا ئې دَ خیسارهٔ دَ علاقې نه په نهٔ زړهٔ پښې ویستې - په دې دوران کښې دَ پنځم دسمبر نه تر شلیږشتم دسمبر پورې فیرنګي دَ خیسارهٔ په مضافاتو ۷۵ حملې کړې وې او خلقو ته ئې بې حسابه تاوان وررسولې وو. دَ ګڼو زخمیانو نه علاوه ۶۳ تنه غازیان په شهادت رسیدلي وو. دَ فیرنګي له وړې نه هم په انګریزانو کښې دَ میجر ولیم دَ هلاکت او ورسره دَ انهو تنو ډوبلیونه پرته تول پنځه کم دولس سوه شلې تنه سپاهیان وژلي او پنځه کم اتیا کسان ژوبل شوي وو - جنرل کولرج، چه دَ وزیرستان سربکف شاه زلمي دَ متې په زور اپیل نکړې شول، نو داځل ئې پالیسي بدله کړه او دَ نرمۍ نه ئې کار آخستل شروع کړو - دَ خیسارهٔ سیمه ئې بیخي خالي کړه. نیم فوځ رزمک ته واپس کړې شو او نیم دَ میرعلي او جلیرکیمپ په خواؤ شا کښې پرېښودلې شو.

دغه شان دَ طیارو تعداد هم کم کړې شو - اوس څهٔ نه څهٔ دَ امن آثار راڅرګند شول - او فیرنګي دَ اطمینان ساه راکښله - او دَ طیارو په ذریعه ئې په توري خیلو دَ امن پیغامونه اوغورځول چه:

"که ځرې تاسو دَ حکومت سره پُرامن اوسیدل غواړئ، نو په ۲۹ دسمبر خپل نمائندګان میرعلي کیمپ ته رااولیږئ."

دَ توری خیلو نما ئندہ ګانو دَ فیرنګی سره یوه جرګه په تیا کلے شوے نیتیه اوکړه او بله په اووم جنوری ۱۹۳۷ئ دَ دے جرګو په دوران کښے حکومت دَ توری خیلو علاقه هر قسم حملے بندے کړے وے او دوئ ته ئے دا موقعه ورکړے وه، چه په غیر دَ څهٔ خوف و خطره په جرګو کښے ګډون اوکړی۔

دَ فیرنګی دَ دے زیان په ضد به یو خوا فقیر ایپی پخپله په ارسلکوټ کښے خلقو ته دَ جهاد تبلیغ کولو او بل خوا به دَ دهٔ نامتو مجاهد ازلمیر توری خیل او دَ بیرمل صوالح داد ګیان خیل جدران چه په ګیانے مُلا مشهور وو، لشکرے راغونډ ولے۔ له دے نه پرته دَ ۲۲، دسمبر نه دَ نقیب صاحب سید حسن الګیلانی په نغوته هم دَ افغانستان ځنې خلق خیساره ته راچلیدل او تردغه دمه پینځهٔ سوه میړه سرفروشان راغونډ شوی وو۔ دَ دے نفوسو دپاره فقیر ایپی له آبچاهو نه په خیسارهٔ کښے په وافر مقدار کښے غله سمباله کړے وه، او دَ خورد و نوش دَ اجناسو هیڅ قسم قلت نهٔ وو۔

دَ فقیر ایپی یو مشهور غازی جنت میر توری خیل به دَ بنوں څخه دَ غلے دَ راوړلو دیر اعلیٰ انتظام چلولو۔ دَ دغو ټولو غازیانو پناه ګاه دَ کوز خیسارهٔ سیمه وه۔ دَ شپے به دَ موسکئ او ډاکئ کلیو په مینځ کښے دَ توری خیلو یو لوئے لښکر کوروتو کښے جمع وو او دَ ورځے به دَ جنګی طیارو له خوفه په کندو کپرو او اونو بوټو کښے خوندی وو او خپلو کښے به ئے دَ حملو ځایونه او وختونه ټاکل۔ دَ فقیر ایپی دَ دغے لښکر

او جنګي ترتيباتو نه فيرنګي اوويريدو، او په ارسل کوټ ئې د بمبارئ کولو فيصله اوکړه.

## په ارسل کوټ بمباري :

په دغه شپږو ورځو کښې فقير ايپي په ارسل کوټ کښې ميشته وو او غازيانو ته به ئې د فيرنګي په خلاف د تخريبي کاروايئ هدايات ورکول. بل خوا د پولټيکل انتظاميئ نه هم د دهٔ مجاهدانه اعمال او د هغو نتائج پټ نهٔ وو. چنانچه د ۳۱، دسمبر ۱۹۳۶ء نه ئې تر څلورم جنوري ۱۹۳۷ء پورې پرله پسې څلور ورځې بمباري پرې اوکړه.

فقير ايپي د بمبارئ په وخت د ارسل کوټ نه وتلے وو، خو چه بمباري بند شوه نو بيا ارسل کوټ ته راستون شو. د ۲۹، دسمبر په جرګه کښې چه د توړي خيلو نمائنده ګانو حکومت ته کومه صفا وينا کړې وه، چه: "نهٔ خو مونږ د حکومت د تعاون نه بغير غازيان شړلے شو او نهٔ د فقير ايپي مخ نيوے کولے شو" او بيا حکومت هم په سختو ټکو کښې تنبيه ورکړې وه، چه:

> "تر څو پورې چه تاسو د بوبلئ او دآکئ خولے نه غازيان نهٔ وي شړلي، تر هغه به خپلو خپلو کليو ته داخل نهٔ شئ."

نو د هغې په نتيجه کښې يو ځل بيا طيارے را اوغوښتلے شوے، او په ۸، جنوري ۱۹۳۷ء د جلير او رزمک کيمپونو فوځونه په خيساره ورخوشې شول۔

## دَ زیړ پیړی او ډاکئ کلی جګړې :

په ۹ جنوری ۱۹۳۷ء چه دَ رزمک فوځ دَ خیسارهٔ په وادی کښې تر زیړ پیړی اورسیدو نو مرینو غازیانو پرے حمله اوکړه - او دَ ټکسے پنځه کسان هلاک او درے کسان ژوبل کړل - دغه شان چه دَ بنون فوځ دَ جلیر نه تر ډاکئ کلی پورے راورسیدو - نو غازیانو دَ فوځ یو پیکټ رانبکیل کړو - دَ فیرنګی توپونه او مشین دار چه په حرکت کښے راتلل، ترهغه دوئ په اونو بوټو کښے پناه شوی وو - ماښام چه تیارهٔ راخوره شوه، نو غازیانو یو کرت بیا په هغه پیکټ باندے چپاؤ وروړو - او دَ طرفینو په مابین کښے دَ ټوپکو او مشیندارو یو زبردست ټقار پورته شو - دَ سختے مقابلے په اثر کښے جګړه ورو ورو تاؤدیدله، عن دا چه نوبت تر لاس په لاس پرزولو، په چړو او سنګینونو وهلو او یو په بل دستی بمونو غورځولو ته اورسیدو - غازیان دَ پیکټ په دیوالونو ورواوړیدل - او تقریباً دَ یو ے ګهنټے سخت جنګ نه پس غازیان غالب او فوځیان مغلوب شول - دَ یو شمیر ټوپکو او نور سازو سامان لوټ کولو نه علاوه ئے خوار لس ۱۴ میرهٔ سپایان قتل او اتهٔ ۸ تنه سخت ژوبل کړل - او پخپله له خیرے سالم او غانم خپل پنډو غالی ته ستانهٔ شول - دَ دغے واقعے په صباؤ توری خیلو په ورانو ویجاړو کلیو یو ځل بیا بمباری اوکړے شوه -

ترڅو پورے چه دَ خیسارهٔ نه فوځونه وتلی نهٔ وو ترهغه پورے

دغه محاربې او مقابلې جاري وې. په ۱۴ جنوري چه دَ خیساره نه فوځونه په شامات شول، نو زیاتره غازیان هم دَ خپلو ضروریاتو له کبله خواره شول او ایله دوه ۲۰۰ سوه میره په خیساره کښې پاتې شول.

فیرنګي په ۱۵ جنورۍ دَ توري خیلو سره یوه بله جرګه اوکړه، په دغه جرګه کښې په توري خیلو یوخوا پنځوس زره روپۍ جرمانه اولګولې شوه. او بل خوا شپږ ۱۲۰ شله کسان قامي خاصه دار دَ نامعلومه مودې پورې دَ نوکرۍ نه مات کړې شول. دَ دې نه علاوه دَ ورلې شوی سامان مطالبه هم ترې نه اوکړې شوه.

توري خیلو دَ ولجه شوی سامان دَ برآمدګۍ په لړ کښې خومعذرت ښکاره کړو. ولې نورې هرڅه ته دَ مجبورۍ له کبله غاړه کښېښوده فیرنګي هم معافي ورکړه. او په ۱۶ جنورۍ بیرته خپلو خپلو کلیو ته راغلل. خو دا شرط پرې اولګیدو، چه دَ بوبلۍ نه تربیچي کسکۍ پورې کلیو کښې به دَ حکومت مخالفینو ته څوک پناه نهٔ ورکوي او دغسې دَ جلیږ او خیسارهٔ په مینځ کلیو کښې به هم څوک نهٔ آبادیږي. دَ بده مرغه فیرنګي ارسل کوټ او دَ ارسل کوټ نه چاپیره دوه میله علاقه معاف نهٔ کړه. او تر اتلسمې ۱۸ جنورۍ پورې ئې پرله پسې بمباري پرې جاري اوساتله.

دَ توري خیلو خپلو خپلو کلیو ته راستونیدل او دَ غازیانو وقتي طور منتشر کیدل فیرنګي خپل نیک فال اوګڼلو او دَ فرورۍ دُمیاشتې

په ړومبو دوؤ شپږو ورځو کښې سر جان کولرج ټول پولټیکل اختیارات بیرته دَ صوبه سرحد گورنر ته حواله کړل - دَ رزمک فوځ واپس رزمک ته لاړو، او دَ بنوں فوځ بنوں ته -

فیرنگی دَ محسودو مداخیلو او داوړو سره هم جرگے اوکړے - او دَ سخت اخطار ورکولو سره سره ئے دَ جرمانے په ډول یو تعداد ټوپک هم تر ے نه واخستل -

دغسے دَ مدی خیلو هیبتی توری خیلو ملکانو ته، دَ چا په سیمه کښے چه دَ فقیر ایپي آماجگاه ارسلکوټ وو، په کلکه اووئیل شول، چه یا خو تاسو فقیر ایپي دَ خپلے علاقے نه او شړئ، او یا دَ هغهٔ دَ پرامن اوسید و ضمانت را کړئ -

په دے ضمن کښے دَ ۱۹۳۸ء دَ جنورئ نه په ارسلکوټ هم بمباری بند شوه، چه خلق بغیر دَ څهٔ ویرے دَ فقیر ایپي سره لیدل او خبرے اترے اوکړی - چونکه فقیر ایپي دَ جنورئ دَ میاشتے په آخر کښے سخت بیمار وو، نو توری خیلو مشرانو ورسره ملاقات اونکړے شو - ولے دَ فرورئ په شروع کښے ئے ورسره بشهٔ لیدل کتل اوکړل - او فقیر ایپي دوئ ته دا تسلی ورکړه چه:

"زهٔ به تر وسه دَ هغو ټولو شرطونو قدر کوم کوم چه حکومت په تاسو عائد کړی دی، او خدائے مکړه که بیا هم زما په پاتے کیدو تاسو ته څهٔ تکلیف پیښیږی و نو زهٔ به دا سیمه بیخی پریږدم"

دَ توری خیلو مشرانو سره دَ لیدو کتو نه پسته فقیر ایپي خپلو غازیانو ته ترڅهٔ وخته پورے دَ خاموش پاتے کیدو فرمان جاری کړو۔ دَ فقیر ایپی دَدے فرمان په موجب دَ خیسارهٔ په سیمه کښے وقتي طور دَ امن وامان فضا قائمه شوه۔ خو دغه امن وامان دیر پائثابت نهٔ شو۔ او غازیانو بیا ډیر زر یو بل پله کوتے واچولے۔ دا وارے به کله سرکاری ملازمین اِغوا کیدل، کله به دَ ټک راټک لاړے بندیدلے، کله به په سرکاری پوستو حملے کیدلے او کله به په کانوائ او گشتونو بریدونه کیدل، دا خو لاڅهٔ، چه دَ بنوں په سیمه کښے به یوه ورځ نه بله ورځ ضرور واردات کیدلو۔

## دَ کپتان کوغ KEOGH قتل:

دَ فیرنګی په خلاف دغو مخالفانه سرګرمیو دومره زور پیدا کړو چه په ۱۷ فروری ۱۹۳۷ء دَ جنوبی وزیرستان سکاؤټس کپتان جے۔ سی۔ کوغ دَ یوڅو سپاهیانو په معیّت کښے دَ لدهے نه جنډولے ته په موټر کښے روان وو، نو دَ رزمک نه سوئیل پله په اتم میل باندے یو غازی حمله پرے اوکړه او په رومبو ډزو ئے هغه سره دَ اردلی سخت ژوبل کړه۔ اردلی خو په موقع سور سمځ شو۔ ولے کپتان کوغ ترصبا پورے دَ مرګ او ژوند په کشمکش کښے ساه اوبدده کړه، خو بیا هم بچ نهٔ شو۔ کوم ځائے چه دا واقعه پیښه شوے وه۔ هغه علاقه دَ مکین دَ عمر خیلو بهلولزو محسودو په حدودو کښے شامله وه، نو دَ دوئ شپږ[۱۲] شلے خاصه دار دَ غفلت په سبب ګرفتار کړے شول۔

## دَ لفټیننټ بیټي قتل:

په ۷، فروري چه دَ کپتان کوټغ دَ قتل دوېمه ورځ وه. دَ قطبي وزیرستان نائب پولټیکل ایجنټ آر- این- بیټي (BEATY) خاصه دارو ته دَ تنخواه ورکولو په غرض دَ میرانشاه نه دَ دته خیلو په لار رزمک ته په موټر کښې روان وو، په دهٔ پسې شا ته دَ خاصه دارو دَ بدرګې لارۍ هم روانه وه. دَ همزوني داورو دَ چټون کلي نه بره دَ غلانئ په مقام دَ غازیانو یو ټولګي پرے برید اوکړو او لفټیننټ بیټي ئے سره دَ دوو سپاهیانو هلاک او موټر درې وړے کړو. یو څو ئے ټوپک تمانچے یوړے او دوه دیرش[۳۲] زره ئے دَ خاصه دارو دَ تنخواه ګانو روپئ ولجه کړے. دَ دغے ټولګي مشر زاویل[۱] وو او ورسره نور درے[۳] ملګري مدالائ، بازیک او جمعه نور وو. زاویل او مدالائ خپلو کښې ورونړه وو. پلار ئے ګل میرو نومیدو. او په مداخیلو کښې دَ زیړوم اسړ وو. بازیک دَ لاټکے مچه مداخیل وو، او پلار ئے کرداس نومیدو. جمعه نور هم دَ زیړوم آسړ وو او پلار ئے شاداتي نومیدو. حکومت دَ علاقائی ذمه وارئ په وجه په همزوني باندے پینځه زره روپئ جرمانه اولګوله.

دَ قطبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ په ۱۴، فروري ۱۹۳۷ء دَ مداخیلو جرګے سره هم لیدل کتل اوکړل او دا ئے ورته اوویل چه:

"تاسو هغه ټول کسان حکومت ته حواله کړئ، کوم چه

---

[۱] کال ۱۹۷۶ء کښې ئے دَ راقم سره حج بیت الله شریف ته تشریف اوړے وو، او په ستمبر ۱۹۸۹ء کښې په خپل مرګ په حق ورسیدو. هم په دغه کال مدالائ هم په حق اورسیدو. ځ

دَ آر- این- بیټي په قتل کښې ملوّث دی، او ورسره ورسره دَ خپلې علاقې نه دَ حکومت دښمنان هم اوشړي ؟

دَ پولټیکل ایجنټ په خبرو باندې دَ مداخیلو اتفاق رانغلو- دَ قاتلانو حواله کول خو څه، چه ځینو ځینو سرېریکړیو په ۲۱ فروري دَ دته خیلو سرائې هم لوټ کړو- فیرنګي په دې لاسکروټه شو- او په ۳ مارچ ئې یو طرف ټول همزوني دَ خپلې علاقې نه اوشړل او بل طرف ئې پرله پسې په ۸ـ۹ او یوولسم مارچ دَ کرشي مداخیلو په دوو کلیو اسماعیل خیلو کښې په سترکلي او په زیورم کښې په اسمانو بمباري اوکړه- په دا هم دَ فرنګي زړهٔ یخ نهٔ شو- په ۱۰ مئي ئې ټول مداخیل جرګه کړل او په جرمانه کښې ئې شپږ زره نغدې روپئې او یوشمیر ټوپک ترې نه واخستل-

## دَ ګل جان خروټي بـریـد :

دَ لفټیننټ آر- این- بیټي دَ قتل نه وروستو په ۱۷ فروري دَ او بهٔ سر په خوا کښې، چه دَ وانا نه جنوب پله دوه ویشت میله فاصله لري، خروټیو او سلیمان خیلو غلجیو دَ ګل جان په مشرئ کښې په وانا بریګیډ حمله اوکړه- ګل جان دَ خروټیو دَ یو ملک ځوئې وو، چه پلار ئې دَ ژوب ملیشې دَ لاّ هم په دغوشپو ورځو کښې په شهادت رسید لے وو، دَ ګل جان په دې برید سره فیرنګي ته ډیر تاوان اورسیدو- څوارلس تنه سپاهیان قتل او پنځه کسان سخت ژوبل شول- او دَ وانا بریګیډ اکثر څاروي هم مړهٔ کړه شول- فیرنګي چه دا ټس اوخوړو، نو په سرکوبۍ ئې هر قسم

آمد و رفت محدود کړو۔ او دَ منزئ وانا او بنوں رزمک په سړکونو باندے دَ طیارو، ټینکونو او فوځونو تر بدرګے لاندے په هفته کښے ایله درے ځله ټک راټک مقرر شو۔

## نوے ولولے

دَ ګل جان خروټی دَ برید په اثر کښے دَ توری خیلو په مشرانو باندے هم دَ فقیرایپی دَ شړلو یا قلارولو په حقله مزید فشار واچولے شو۔ دَ سرکار او دَ وزیرستانی اولس ترمینځه یوه عجیبه لوبه شروع شوه۔ څومره به چه حکومت په دوئ زور اچولو، دومره به دوئ دَ حاکمانو په سترګو کښے خاورے اچولے۔ هم به ئے دَ امنیت دَ قیام لافے کولے او هم به ئے په جرګو کښے دَ فقیرایپی دَ شړلو تړونونه وهل، خو عملاً به ئے یو کار هم نهٔ شو کولے۔

په داسے وخت کښے فقیرایپی په ارسل کوټ کښے چله کشی کوله او دَ هیچا سره ئے لیدل کتل نهٔ کول۔ دَ بیټنو دین فقیر، دَ ګیان خیلو مُلا او دَ بیبا خیلو جدرانو ملکانان لګیا وو لښکرے راغونډولو۔ په داوړو کښے هم ځائے په ځائے دَ جهاد دولولو کړزیدل۔ په ۲۰ فروری دَ وزیرستان ریذیډنټ دَ داوړو جرګه راوبلله او سخته زورنه ئے ورکړه۔ خو دَ چا په زړونو کښے چه دَ ایمان حرارت موجود وی، هغه کله په آرام کښیناستے شی۔ داوړو به هم دَ فرنګی خبرو ته نهٔ کوله او پرله پسے به په خپلو سرګرمیو کښے بوخت وو۔

دَ اختر نه پس په ۲۲ فروری فقیرایپی چله ماته کړه او دَ ګمټے نه

رابهر شو او په ۲۶ فروری ئے دَ جُمعے دَ ماښځه نه پسته دَ غازیانو یوے درنے غونډے ته یوځل بیا په ډانګ پیټلی اووئیل چه:

"زمونږ او دَ فیرنګی ترمینځه دَ کفر او اسلام معامله ده، څوک چه دَ اسلام دعویدار وی او په زړهٔ کښے دَ ایمان بخرے لری، هغه دَ کافرانو سره هیڅ قسمه موافقه نهٔ شی کولے. تاسو په غور سره واورئ چه زمونږ او دَ فیرنګی ترمینځه دَ مصالحت هیڅ امکان نهٔ شی کیدے".

فقیر ایپی چه دَ څمځے نه راووتو، نو دَ وزیرستان ډلے ډلے غازیان خصوصاً دَ بیرمل کابل خیل، غلجیٔ، درے پلاری توری خیل، او داوړ ارسل کوټ ته ور روان شو. په یکم مارچ دین فقیر هم دَ انګریزانو په خلاف دَ فقیر ایپی دَ مرستے اعلان اوکړو او دَ اعلان سره سمدستی ئے په سرکونو وارداتونه شروع کړل. دَ دین فقیر په رفاقت سره دَ فقیر ایپی تحریک ته پوره پوره تقویت حاصل شو. او په څلورم مارچ ئے یو وارے بیا عام اولس ته اووئیل چه:

فیرنګے زمونږ او ستاسو دَ دین و دنیا دښمن دے، راځئ چه په یوه خُوله ورمته شو. هر هغه څوک چه دَ فیرنګی ملازمین دی، لکه خاصه دار، هغه دِ ملازمتونه پریږدی. کنی چه مړ شی، نو څوک ئے دَ جنازے مونځ مهٔ کوئ او دَ مردارے په شان ئے تر خاورو لاندے کوئ".

دَ فقیر ایپی دَ دے وینا سره ډیرو خلقو سرکاری ملازمتونه پریښودل

او دَ غازيانو سره په ځنګ کښے اودريدل۔

فيرنګى چه دَ فقيرايپى دغه تازه او نوے ولولے اوليدے نو لاړ زړهٔ پښنو ته اولويدو۔ يو خوا ئے په سړکونو آمدو رفت کم کړو۔ او بل خوا ئے په خپل فوځى طاقت کښے اضافه اوکړه۔ دغه شان ئے په ۹ مارچ توړى خيل وزير هم ميرعلى ته راوبلل او په جرګه کښے ئے سخته تنبيه ورکړه چه :

"کچرے تاسو په هفته کښے دننه فقيرايپى دَ خپلے علاقے نه اونه شړئ، نو ستاسو ټولے خاصه دارئ او مراعات به ختم کړے شى"

فيرنګى دَ ارسل کوټ په علاقه هم دَ طيارو په ذريعه دَ وارننګ پرچئ اوغورځولے چه :" دغه سيمه به دَ اوولسم مارچ ۱۹۳۷ء نه بلاکيډ (ناکه بندى) کنړلے شى؛ خو دَ بلاکيډ دا حکم دَ فقيرايپى سره دَ قامى مشرانو دَ مذاکراتو ترمخه په ۲۶ مارچ منسوخ کړے شو۔

اوس به يو خوا فقيرايپى دَ فيرنګى په خلاف قامونه لمسول او بل خوا به غازيانو پرله پسے وارداتونه کول، کله به ئے دَ ټيليفون سيمونه پريکول او کله به ئے واړهٔ واړهٔ پُلونه نړول۔ کله به ئے دَ لاريو نه سرکارى ملازمين اِغوا کول او کله به ئے دَ رزمک، ميرانشاه، ټل (توچئ)، او دمډيل کيمپونه ډزول۔ کله به ئے دَ ډاک لارئ سيزلے او کله به ئے سړکونه بندول، دغسے دَ شينکى آهنى پُل ته هم زنبت تاوان اُورسولے شو۔

## دَ دمډیل په پیکټ برید:

دَ پورتنو وارداتو نه علاوه په ۲۰/۲۱ مارچ ۱۹۳۷ء غازیانو دَ دمډیل کیمپ په یو پیکټ شبخون اوکړو او په بمبو ئے دَ پیکټ سنتري اوویژلو. بیا په دیوالونو پیکټ ته ورواوړیدل او دننه پکښے دَ دوارو ډلو ترمینځه دَ ټوپکو، چاړو او سنګینونو لاس په لاس جنګ اونښتو۔ یو بل په ګټو ویشتل او دستی بمونه غورځول شروع شول او دغسے یو ساعت خونړۍ جګړه اوشوه۔

غازیانو یو څو په ګڼو ټوپکو، تماچو او نور مال ومتاع باندے قبضه اوکړه او بل خوا ئے اووۀ تنه سپایان قتل او درے تنه سخت ژوبل کړل۔ دَ بده مرغه دَ دوئ څخه هم یو تن شهید او دوه ټپیان شول۔

اتلسم باب

# دَ فيرنګي مصالحتي کوششونه

فيرنګي ته چه دَ توري خيلو دَ علاقے نه دَ فقير ايپي رح دَ اخراج او يا دَ هغه دَ مدافعت مسئله ګرانه ښکاره شوه. نو دا وارے ئے دَه ته دَ صلحے خوشامندے وروړاندے کړے. په ۲۴/مارچ سنه ۱۹۳۷ء ئے دَ اتمانزو وزيرو لويه جرګه ميران شاه ته راو بلله او دَ وزيرستان اسسټنټ ريذيډنټ ورته دَ فقير ايپي رح سره دَ روغے جوړے په حقله خبرے اترے اوکړے. جرګه ايزو خلقو خيلو کښے يو څو مشران چونړ کړل او فقير ايپي رح ته ئے ورواستول دغه مشران چه خيسارَه ته اورسيدل نو په ۲۷/ مارچ ورته فقير ايپي رح هم سره دَ خپل درونډ لشکر ډاکئ خولے ته راغلو او دَ اتمانزو مشرانو سره يو ځائے شو. فقير ايپي رح دَ هغو مشرانو څخه دَ مختلفو شاخونو خلورو ميره رابيل کړل او مذاکرات ئے ورسره شروع کړل. دَ اتمانزو هغو خلورو مشرانو فقير ايپي رح ته دَ حکومت له خوا نه دَ روغے جوړے دا لاندينئ درے تجويزونه پيش کړل.

۱- حکومت به بيا چرے هم دَ مسلمانانو په مذهبي معاملاتو کښے

مداخلت نهٔ کوی.

۲- حکومت چه دَ فقیرایپیؒ کوم جُومات شهید او ودانئ تباه کړے دی، هغه به دَ دهٔ دخوښے په مطابق له سَره بیا جوړولے شی.

۳- دَ فقیرایپیؒ او فیرنګی په مابین کښے چه کوم جانی او مالی تلفات واقع شوی دی، هغه به له یو بل فریق څخه غوښتونکی نهٔ وی بلکه بخښلے به شی.

دَ مذاکراتو دا دَور تر دوو ګهنټو پورے اوځنډیدو. فقیرایپیؒ چه دَ دوئ خبرے واوریدے نو پاڅیدو او ټولو خلقو ته ئے په جار اوویل چه:

"ګورئ! زهٔ بخپله خو دَ انګریزانو سره دَ روغے جوړے هیڅ اراده نهٔ لرم، ولے دَ اتمانزئ قبیلے چه کومه جرګه دلته راغلے ده، دَ هغے دَ خاطره به زهٔ دَ خپلو غازیانو او ملګرو سره صلاح ومشوره اوکړم. کیدے شی چه دغه معامله په یو مخ شی. انشاالله څو ورځے پس به مونږ بخپله حکومت دَ خپلے فیصلے څخه خبر کړو."

دَ فقیرایپیؒ په دے خوږو پستو خبرو دَ اتمانزو وزیرو مشران په خوشحالئ رخصت شول، ولے فیرنګی ته پورے اطمینان حاصل نهٔ شو. او په ۲۶/ مارچ ئے لاندینی احکامات جاری کړل.

۱- په قطعی وزیرستان او دَ بنوں ضلعے په قبائلی علاقه کښے به په هر هغه کلی چرته چه غازیان او سیږی او پناه ورته ملاویږی، بمباری کولے شی.

۲- دَ کمپونو سره جوخت کلو کښې که دَ ستر ګے ختو او پریوتو په وخت دَ کلی نه ورچنے څوک فوځیانو ته په لاس ورشی ، هغه به دشمن ګڼړلے شی -

۳- دَ بنوں رزمک په سړک او یا دَ دغے سړک له دواړو موړګو نه تر یو میل فاصلے پورے به دَ خاصه دارو ، ملکانانو او داسے نورو حکومتی غړو نه علاوه بل څوک وَسله نهٔ شی ساتلے -

سربیره له دے ، په ۲۸ / مارچ دَ بنوں کوهاټ او بنوں ډیره اسماعیل خان په سړکونو باندے دَ شپے آمد ورفت بیخی بند کړے شو او په زمکه او هوا کښې دَ مکمل حفاظتی بند وبستونو لاندے صرف دَ ورځے تګ راتګ مقرر کړے شو -

دَ بنوں په فوځی طاقت کښې مزید اضافه اوشوه او دَ سرکاری ځایونو دَ زغنشتے انتظامات بهتر کړے شول -

دَ بده مرغه دَ فیرنګی خدشه په ځائے اوخته او دَ فقیر ایپیؒ سره چه کوم مصالحتی مُهم آغاز کړے شوے وو ، هغه ناکام شو او حالاتو سنګین صورت اختیار کړو - ځکه چه دَ فقیر ایپیؒ سره دَ مصالحتی کوششونو په دوران کښې چه انګریزانو کومے پابندیٔ لرے کړے وے او بمباری او بلا کیڼونه ئے معطل کړی وو ، دَ هغے په موجب ډیر داسے خلق هم دَ ټاکئ ځوے ته راغلی وو ، چه هغوی فقیر ایپیؒ مخکښې نهٔ وو لیدلے او چه اوئے لیدلو نو دومره ترے نه متاثره شوی وو ، چه بیائے دَ بیرته تلو نوم نهٔ آخستو - په دغو خلقو کښې دَ جهاد یو نوے جوش وخروش راتوکیدلے وو - دشکوتوئے

په سیمه کښې د ارسل کوټ هغه خلق اوښاروی چه له مودے راسے وربانډې شپه ورځ طیارو قیامت جوړ کړے وو، هم څه لږ په قلار شوی وو.

حاصل دا چه په هر څه کښې تازه ژوند راغلے وو۔ ورځ په ورځ به د ډاکئ خولے ته د آزادئ د شمع پتنګان راچلیدل او د فقیر ایپی^رح^ په لشکر کښې به شاملیدل۔

د ډمډیل جهګړه:

د ډاکئ خولے د غیر محفوظه صورتِ حال تر پیش نظر حکومت په وزیرستان کښې په سړکونو آمد ورفت کم کړے وو۔ په هفته کښې به درے ځله داسے ټریفک کیدلو چه په سړک به ځائے په ځائے د فوځ پیکټونه لګیدلی وو.

په ۲۹/ مارچ ۱۹۳۷ء چه د ډمډیل کیمپ نه د سړک د ژغښتے کوم فوځ ډیوټئ ته وتونکے وو، په هغې باندے د حملے کولو په نیت له شپے نه غازیان د اسد خیلو په سیمه کښې د ویدون، کړاوراو او بډ سرالګهو په اونو بوټو او نالو پالو کښې پټ شوی وو۔ سحر په اتو بجو چه دغه فوځ په غازیانو وربرابر شونو ناڅاپی ئے داسے سخته حمله پرے اوکړه، چه د فوځیانونه ئے وار پار خطا کړو۔

غازیان د فوځ په مینځ ورګډ شول او داسے لاس په لاس او ټټر په ټټر ورسره امبر چمبړ شول چه د خپلو پردو پیژند ګلو ګرانه شوه۔ یو بل ته د ټوپکو نیول، په سنګینو او چړو وهل او یو بل پرزول شروع شول...

دغسے ترماښکره جنګ او بند شو۔ او د فوځیانو پښے وړو وړو په خوید وشوے

د جنګ په ابتدا کښې غازیان په ډیر نظم وضبط سره جنګیدل، ولے هر

کله چه فوځیان په ماتې سرشول نو دوی هم مورچې پرېښودې او د سلاح نیولو په هڅه کښې د جنګ ډګر ته راکوز شول.

فوځیانو چه دا بدنظمی اولیده نو بیرته پرې راتاو شول او ماشیندار ئې پرې چلاند کړل. په دې پسې سمدستی ټینکونه هم راورسیدل او غازیانو نه ئې ګهیره تاو کړه. اوس لا قیامت برپا شو او یو داسې خونریز جنګ اوشو، چه د جنګ بشپړ ډګرې د بینادمو په وینو ملګون شو او په یو ځائې اتیا میړه غازیان شهیدان او یو شمیر زخمیان شول. په شهیدانو کښې د خیسارو د سیمې نامتو مجاهد لمدې خیل زرینائی توری خیل وزیر هم شامل وو. د فیرنګی د لوری نه د کپتان بیتن BETHUNE او لفټیننټ مارکس MARKS د قتل او د لیفټیننټ نکلسن NICHOLSON د ټپي کیدو نه علاوه ۱۱۵ تنه فوځیان هلاک او ۷ تنه ژوبل شول. په دې کښې د ګورکهیانو ګڼ فوجي منصبداران هم شامل وو. ویلې شي چه په دغه جهګړه کښې ننډ بیټنی ډیره مړانه کړې وه او د دهٔ د وینا په مطابق غازیانو په ۱۶۳ میله ټوپکو، یو تعداد مشیندارو، تماچو او نور جنګی سازوسامان باندې قبضه کړې وه.

توری خیلو ته د حکومت انتباه :

فقیرایپي رح چه په ۲۷ / مارچ سنه ۱۹۳۷ء د ډاکئ خولې په مقام د اتمانزو وزیرو مشرانو ته کومې امید افزا خبرې کړې وې، د هغې د برعکس نتیجې بحقله اتمانزو ملکانانو فقیرایپي رح ته د یو څو مشرانو په خوله کهیله ورا ولیږله او د ډمډیل د جهګړې ټول تور تهمت ئې په دهٔ اولګولو او

یو ځل بیا د پرامن اوسیدو خواست ورته اوکړو۔

فقیرایپي په ځواب کښې ورته اوویل چه :

" ما د وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو عالمانو څخه د انګریزانو سره د مصالحت په باره کښې فتوی راغوښتې ده۔ که چرې دوی په یوه خوله مثبت ځواب راکړی نو زه به هم په کښې مداخلت نه کوم، خو تر څو پورې چه د دوی ځواب نه وی رارسیدلے تر هغه د حکومت ضد نه کوی "۔

انګریزان د فقیرایپي د ځواب نه مطمئن نه شول او ریذیډنټ په ۵/ اپریل میران شاه ته د وزیرو جرګه راوبلله او لاندینی احکامات ئے ورته واوړول۔

۱- د ۶/ اپریل دولسو بجو نه به لاندینۍ سیمې ویرد بنیادمو او ویر د څاروو دپاره بلاکیډ ګڼړلے شی۔

ارسل کوټ او ورسره چاپیره درې میله سیمه، دوه میله دخیساره په دواړو لوریو د موسکۍ نه تر سینن تانګه پورې۔ یو میل د تبۍ الګړې په مینځ کښې د شکتوئے د دواړو څو نه واخله د ربه کوټ تر یو میل پورې۔

۲- چونکه توری خیلو د حکومت سره منلی شوی شرطونه پوره نه کړے شول، نو د خیساره د سیمې هر قسم الاونس به په دوی بند وی۔

۳- د دویم امر پورې به بنوں او رزمک کیمپ ته د توری خیلو داخله ممنوع وی۔

۴- دَ توري خيلو توے ملکئ او خاصه دارئ به د ۵/ اپريل نه معطلے او معاهدے ختمے کړے شي۔

۵- دَ ۷/ اپريل دولسو بجو نه به د بنون رزمک سړک په درے ميله کښے نزدے تول کلي خالي کولے شي او دَ دويم حکم پورے به همدغسے خالي پراتهٔ اوسي۔

۶- دَ ۷/ اپريل دولسو بجو نه پسته که چرے فوځيانو ته په ممنوعه علاقه کښے څوک په نظر ورشي، هغه به گرفتارولے شي، خو په داسے حال کښے نه چه هغه دَ پولټيکل افسرانو سره دجرگے کولو په غرض روان وي۔

دَ دے نه علاوه په شکتوئے کښے دَ غازيانو دَ موجودگئ په وجه دَ بنون څخه دَ غلے په راوړلو هم قدغن اولگيدو۔ دغه رنگ دَ بنون ميرانشاه ترمينځه دَ لاريو آمد ورفت هم محدود کړے شو۔

په ارسل کوټ بله بمباري:

په ۵/ اپريل چه دَ وزيرستان ريذيډنټ توري خيلو ته دَ ۶/ اپريل نه دَ ارسل کوټ پحقله د بلاکيډ کوم حکم ورکړے وو، په هغو ځايونو باندے په تا کلے شوے نيټه سخته بمباري اوشوه۔ ډير کلي او کورونه تباه و برباد شول، خو سره دَ دے په وزيرستان کښے حالات پُرسکون نهٔ شول، بلکه شاه زلمو لامخالفانه سرگرمئ تيزے کړے۔

دَ دته خيلو په کلي بمباري:

دَ فيرنگي په خلاف چه کوم سرگرمئ جاري وے، په هغو کښے

دُ سپین وام، درے پلاری توری خیل وزیر پېر مخکښې وو۔ کله به ئے دلاریو نه سرکاری ملازمین اغوا کول او کله به ئے دُ ډاک لاری شوکولے، کله به ئے دُ میرعلی او سپین وام سړک ورانولو او کله به ئے په پوستونو بریدونه کول۔ آخر فیرنګی په ۹/ اپریل د دته خیلو په کلی نو تېسونه او غورځول او په ۱۰/ اپریل ئے پرے سخته بمباری اوکړله۔ دغه بمباری تر ۱۶/ اپریل پورے اوږده شوه۔ په قطبی وزیرستان کښې چه دُ انګریزانو ظلمونه انتها ته اورسیدل نو فقیر ایپیؒ دُ محسودو علاقے ته واوړیدو او دُ سراروغه په سیمه کښې به ئے دُ غازیانو لشکرے راغونډولے او ټولګی ټولګی به ئے په فیرنګی ورخوشی کول۔

## دُ شهورتنګی جهګړه:

دُ ۹/ اپریل ۱۹۳۷ء په ګایز دایم تې یوه لویه کانوائی دُ منزئی نه وانا پله روانه وه۔ دغه کانوائی په ۴۹ فوځی او اولسی لاریو، دوو.... شخصی موټرونو او څلورو بکتر بند ګاډیو باندے چه دُ لاریو په مینځ مینځ کښې دُ حفاظت دپاره روان وو، مشتمله وه۔ فوځی لاری دُ وسله بند فوځیانو او منصبدارو ډکے وے۔

دُ محسودو ننګیالی ځوانان هم په شکتوئے کښې دُ فقیر ایپیؒ سره دُ جرګو مرکو نه پسته په دے ورځ دُ غزا په نیت دُ سراروغه په لار شهورتنګی ته راوتلی وو۔ دغه غازیان دُ کانوائی د راتګ څخه آګاه و خبر وو او بیګانی ورته د شهورتنګی په دواړو اړخونو کښې دُ خونیا خیل، میر اعظم خان، سخی مرجان او دل بوغ په مشری کښې مورچه شوی وو۔ او دُ غښتو پر شوتر

شا او دُ نرئ نرئ پالو په ډوډو کښے دا سے خوندی ناست وو چه دُ طیارو څخه ئے هیڅ ویره نهٔ کیدله. هرکله چه دغه کانوائ دُ شهور تنگی مینځ ته را اورسیدو نو غازیانو باړونه پرے راباندے کړل او نلځاپه یوه دا سے قیامت خیزه جهګړه اونښته چه هر سړے دُ ځپل ځان په ویر شو.

فوځیان، ډرائیوران او افسران دُ لاریو او موټرو نه په ټوپونو شول. ځوک ژوبل شول، ځوک په کندو کښے خوندی شول، ځوک او تښتیدل، او ځینے ځینے داسے توریال هم وو، چه هغو به په غازیانو پسے دُ پورته ختو کوششونه کول، ولے غازیانو به چه باړونه پرے راچلانه کړل نو دُ .... غونډوسکو په ځیر به بیرته را اوریدل.

بکتر بند ګاډو به که هرڅو د لاندے نهٔ پرے ګولئ چلولے، خو په غازیانو به رسا نهٔ لګیدے، ځکه چه هغوئ بره په څوکو کښے مورچه زن وو. بله دا چه سړک ډیر تنګ وو او بکتر بند ګاډی به دُ ځپل هدف په ترځ کښے وروستو مخکښے خوزیدے نهٔ شول. غازیانو رومبئ مخښے دُ لاریو دُ پټرولو په ټانکو اوکړے. ګولئ به چه دُ پټرولو په ټانکئ اولګیدے نو سرے سرے لمبے به ترے نه اوچتے شوے او لاریٔ به اوسوزیدے.

دغه شان دُ سوزیدلیو لاریو په وجه سړک بند شو. ډرائیورانو به که هرڅو کوششونه کول خو نهٔ به مخکښے تلے شول او نهٔ وروستو. دُ غرے په دولسو بجو ورته دُ سروکئ، وانا او جنډولے څخه دُ جنوبي وزیرستان سکاوټس امداد را اورسیدو. دُ سکاوټس سره دُ ځپلو خال خال وسلو نه علاوه سپکو ټینکونو او بره په فضا کښے جنګی طیارو هم معاونت شروع

کړو، ولې دغو تازه دم دستو، ټینګو او طیارو به که هر څو او روونه وروول خو د الله په مینه مست زړو به ړق قدر ترې نه نه وهلو. د یو مجاهد ځوان یو مړ د کې چه دیوې طیارې د پټرولو په ټانکئ اولګیدو، نو سم ستي د چکمالي قلعې ترخوا کښینولې شوه. څو چه ورځ او ریږ جګړه دوامړه تاوده وه. ما بنام شو، شپه راغله خو فیرنګي خپله راشکیله کانوائ خلاصه نه کړې شوه. شو مه دم پرې غازیانو یو داسې چور وتالان ګډ کړو چه غازیان او فوځیان وبله لاس په منګلو شول او په نتیجه کښې غازیانو ډیر نقد و جنس، ټوپک، ماشیندار، میګزین او جامې ولجه کړې.

غازیانو تر صبا شپږ و بجو پورې په شهورتنګي خپلې فولادي پنجې ښخې کړې وې، ولې د دې نه پسته ئې د خپلو مړو ژوبلیو د انتظام او لوږې تندې په وجه تنګې پرېښودو. فوځیانو ته هم موقع په لاس ورغله او د خپلو مقتولینو او مجروحینو د سنبالښت نه پس ئې پښې اوو یستې.

په دغه جګړه کښې پنځه تنه غازیان شهیدان او د غازیانو مشر خونیا خیل ورسره سخي مرجان او میراعظم خان غوند سې یو څو توریالي ټپیان شول، ولې په مقابل کښې فیرنګي ته زبښت جاني او مالي تلفات اورسیدل. د ګڼړو لاریو او موټرو د سوزیدو او شوکیدو نه علاوه اووه تنه انګریزان

(۱) لیفټیننټ ارل EARL (۲) لیفټیننټ هائنډ HINDE (۳) لفټیننټ فرانس FRANCE (۴) لیفټیننټ سکاټ SCOTL (۵) میجر پالمر PALMER (۶) کپتان کورټنې COURTNEY او (۷) کپتان دراني قتل او پنځه تنه (۱۱) اے پیټمن

A . PETON (۲) لیفټیننټ پارسن (۳) کپتان ویل کاک WILCOCK (۴) لیفټیننټ رابرټسن ROBERTSON او (۵) میجر واټرز WATERS سخت ژوبل شول۔

له دے نه پرته ۶۵ تنه فوځیان او ۴ د اولسی لاریو دراېوران هم قتل او ګنړ ټپیان شول چونکه شهورتنګے د جلال خیلو محسودو په سیمه کښے واقع دے په دے وجه د جهګړے ټوله ذمه واري په دوئ بانډے واچولے شوه او په ۱۵/ اپریل حکومت جنډولے ته د دوئ جرګه رااوبله او پولټیکل ایجنټ ورسره لیدل کتل اوکړل۔ وروستو په ۱۷/ اپریل ریذیډنټ جرګه ورسره اوکړه او لاندینی احکام ئے ورته واورول

"تاسو په هفته کښے دننه ملک خونیاخیل او دل بوغ اونیسئ او حکومت ته ئے حواله کړئ۔ که چرے مودعه د لاسه پوره نه شوه نو تاسو به نور ۳۰ تنه یرغمال حکومت ته حواله کوئ او هم به په اُوو ورځو کښے دننه د ژمی میلے ته بیرته کړے کوئ۔ که چرے دے ته هم تیښک نه شوئ نو ستاسو ټوله علاقه به د بمنه ګنړلے شي او ستاسو هر قسم الاؤنسونه او خاداري به بند ولے شي۔"

دغه شان د عبدالرحمان خیلو جرګے هم په ۲۲/ اپریل د ریذیډنټ سره لیدل کتل اوکړل او دولس تنه یرغمال ئے حکومت ته ورکړل۔ د شهورتنګی جهګړے په وزیرستان کښے د انګریزانو په خلاف یو کرټ بیا سور اُور بل کړو۔ یو خوا بل خوا ګنړ وارداتونه شروع شول۔ کله به

سرکاری لاری پرزیدے او کله به دَرزمک او منزئ کیمپونو نه دَ اُوبو سلسله قطع کیدله۔

په رزمک کښے دَ توری خیلو ماٹ شوی خاصه دار هم دَ حکومت په خلاف اُوچت شوی وو۔ دَ دغے سخت گړبړ له کبله وزیرستان ته نور هم گنړ فوځونه رالاوغوښتلے شول او دا حکم اوشو چه که چرے په انښتے جهګړه کښے دَ فوځ یا دَ قلعے نه په دوه میله فاصله کښے څوک اولیدے شی نو هغه به بغیر دَ څه تپوسه ویشتلے شی۔

فیرنگی به که هر څو سختی کوله، خو ځیګرور ژنړی کله په قلاریدل هر چا به پرے خپل وس کولو۔ په ۱۲ / اپریل چه دَ غازیانو یوے ډلے دَ شینکی تنګی په سیمه کښے په یو پیکټ برید اوکړو نو دَ کهجورئ نه تر سیدګی (بنوں) پوسټ پورے علاقه هم ممنوعه اوګرځیدله۔

دَ تبئ نری شخړے:

دَ فیرنګی په خلاف دَ خلقو معاندانه جوش وخروش دومره زیات شو، چه درے پلاری توری خیلو دَ سپین وام قلعه تر دریو ورځو پورے محاصره کړه۔ شپه ورځ به ئے دَ مردکو باران پرے ورولو۔ سربیره له دے ئے دَ میرعلی او تهل (کُرم) سړک هم بلاک کړو او دَ تبئ نری په سیمه کښے ئے دَ سکاوټس سره شخړے برپا کړے۔

دَ درے پلاری توری خیلو دَ لاسه دَ سپین وام دَ قلعے درے ورځنئ محاصرے، دَ تهل میرعلی سړک بندولو او ورسره ورسره دَ سکاوټس سره تصادُم فیرنګے دَ ډیر جانی او مالی تاوان سره مخامخ کړو، بو لے کله

چه ده ځوابی کارروایئ ته ځان تیار کړو او په ۱۵/ اپریل ئے د تبی ټنزی په سیمه کښے قوا او ټینکونه راغونډ کړل نو درے پلاری توری خیلو ورسره اتحاد اوکړو. او فیرنګی ته ئے د روغے جوړے خبرے ورو رالندے کړلے.

هغه د چا خبره چه روند څه غواړی، خو دوه سترګے، فیرنګے هم اُشامن شو او له دوی څخه ئے مخ په جارو توشو او د زړه برآس ئے د مشهور غازی مولانا غازی میرجان دکور په نړولو اوویستو.

د تیارزے په قلعه برید:

د فیرنګی په خلاف د خپلواکئ جنګ نه یواځے په یوه علاقه کښے تود شوے وو، بلکه د وزیرستان په ګوټ ګوټ کښے دغه اُور لګیدلے وو. ملا شیرعلی خان محسود، چه په جنګی ملا مشهور وو، هم د جهاد تیاری کوله او د خپل کلی عمرخیلو په سیمه کښے ئے ۳۳ فټه اوږد، ۱۳ فټه پلن او ٦ فټه اوچت غار کنستلے وو.

دغے باتور ملا په ۱۳/ اپریل سنه ۱۹۳۷ء د خپلے فقیرئ او د فیرنګی په خلاف د جهاد اعلان اوکړو او ورسره ورسره ئے لنګر هم جاری کړو. په یو څو ورځو کښے ده شپږ شلے غازیان راغونډ کړل او په ۱۸/ اپریل ئے سحر د تیارزے په قلعه حمله اوکړه او محاصره ئے کړه.

له دے نه پرته ئے د وانا او لدهے ټیلفونی رابطه هم قطع کړه. بله ورځ د جنوبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ د خیسارهٔ ټولو خلقو ته حکم ورکړو چه د عمرخیلو کلے او ورسره ورسره چاپیره درے میله علاقه

فوراً خالی کړی۔ دَ قلعې محاصره لا جاری وه چه په ۱۷/ اپریل طیارے رازاورسید لے او تر ۱۹/ اپریل پورے ئے په دغه سیمه سخته بمباری اوکړه۔ ټول شنه فصلونه تباه، څاروی سڅ او کلے خاورے ایرے شو ولے دَ ملا شیرعلی خان سمڅه سالمه پاتے شوه۔ د دغے غارتګرئ په دوران کښے هیڅ جانی تاوان پیښ نه شو۔ البته دَ عمر خیلو په کلی کښے دَ احمد زو وزیرو یوه ښځه او یو هلک برڅیرن غونډے زخمیان شول۔

دَ الیګزنډر رچوکئ په پیکټ حمله:

دَ تیارزے د واقعے نه وروستو یو ځل بیا دَ غازیانو مخ رزمک پله شو۔ کله به ئے سړکونه وړانول او کله به ئے پلونه نړول۔ دَ رزانی لوئے پل ئے دومره خراب کړے وو، چه دَ آمد ورفت نه وتلے وو۔ همدغو غازیانو په ۱۹/ اپریل سنه ۱۹۳۷ء دَ رزمک د کیمپ نه شمال طرف ته په پنځه میله فاصله باندے دَ سطح سمندر نه په ۷۷۰۶ فټه اُوچت دَ الیګزنډر رچوکئ په یو پیکټ برید اوکړو او اووه میړه فوځیان قتل او ګنړ ژوبل شول، چه وسله ئے غازیانو ولجه کړه او لاړل په غرونو کښے پناه شول

دَ بجوړی په تهانړه برید:

لکه څنګه چه وزیرو محسودو او داوړو دَ وزیرستان خاوره فیرنګی ته تنور کړے وه، دغه شان دَ بیټ نیکه سرتیری ممسی هم ورسره مشت وګریوان وو او دَ بجوړی په پولیس تهانړه باندے ئے پرله پسے په ۱۷-۱۸ او ۱۸-۱۹/ اپریل شپو دوه حمله کامیاب شبخون اوکړو۔ او ډیر تلافات ئے ورته اورسول۔ دَ حکومت سره بله چاره نه وه، په خلقو ئے دَ فقیر ایپی رح

د ښارو او د امن و امان قائمولو کوشش شروع کړو.

هم ئې په خوشامندو زور اولګولو او هم په بمبارئ، خو توریالي غازیان چرې هم ورته سرنګون نه شول. آخر حکومت مجبور شو او په ۲۲/ اپریل ئې سرجان کولرج ته په وزیرستان او د بنون ډیره اسماعیل خان سره ملحقه قبائلي علاقو کښې مکمل پولټیکل او ورسره ورسره د هوائي حملو اختیارات اوسپارل.

جنرل کولرج په وزیرستان کښې د خوف وهراس خورولو ترپیش نظر یو ځل بیا په قطبي وزیرستان فوځونه ورخوشي کړل، خصوصاً د خیسارې، سپین وام، دته خیلو او سپلګي سیمو ته ئې ډیر زور راوړلو. بلخوا فقیر ایپي رح هم دروند لشکر راغونډ کړې وو او د کیتړې الګړې په زیر او د جلیر الګړې په خوا وشا کښې به مجمع لګیدلې وه، او د خیسارې په فوځ به ئې د حملې کولو تیاري کوله.

په ۲۳/ اپریل چه فیرنګي د زیر سیمه لاندې کوله، نو هغه وخت د غازیانو او فوځیانو ترمینځه یوه شیبه معمولي غوندې تصادم پیښ شو او یو څو فوځیان وبله دلئ شول. په ۲۷/ اپریل چه فوځ خیسارې ته اورسید و او کیمپ ئې اولګولو نو ځائې په ځائې ئې پیکټونه قائم کړل. غازیانو په دغو پیکټونو باندې دومره شدیدې حملې اوکړې چه یو په بل باندې د دستي بمونو غورځولو او مردکو ورولو سره سره ئې د پیکټونو نه چاپیره ازغیزن تارونه پریکړل. پیکټونو ته ورننوتل او هرڅه ئې تالاترغه کړل.

فیرنګی ته یوا ځې د خیسارهٔ زمکه نه وه تنور شوے بلکه په بشپړ وزیرستان کښې توریالی ژنړی میدان ته راوتلی وو او په انګریزانو پسے ئے ویستلے تورے ګرځولے۔

په ۳۰/ اپریل یوځو غازیانو د بویه قلعے خوا کښې په فوځ ډیره کامیابه حمله اوکړه۔ همدغه شان په یکم مارچ د دته خیلو قلعے په قرب کښې په توچي سکاوټس بله کامیابه حمله اوشوه۔ د ۲۳/ اپریل نه تر ۳/ مئی پورے په دغو حملو او بریدونو کښې دوه تنه غازیان شهیدان شول۔ او د فیرنګی له خوا نه پنځه تنه فوځیان، دوه تنه غټ غټ منصبداران قتل او ۴۵ کسان سخت ژوبل شول۔ د دے نه علاوه د پنځویشتو ټچرو او دوؤ اسونو د هلاکت نه سوا غازیانو په میګزین بارټچرو او دلئ دلئ وسله باندے هم قبضه اوکړه۔

په پهاړپور باندے شبخون :

په وزیرستان کښې خو د فیرنګی په خلاف خونی هنګامے او واردا تونه معمول جوړ شوے وو، ولے فقیرایپي د خپلو عملیاتو داېره تر نورو ضلعو پورے لانه وه وسیع کړے۔ د اپریل د میاشتے په اختتام کښې چه په قطبی وزیرستان کښې کوم بریدونه کیدل، هم په هغو ورځو کښې د ډیره اسماعیل خان ضلعے پهاړپور نومی کلی هم غازیانو د ۱/ ۲/ مئی په شپه شبخون اوکړو او د سرکاری ځایونو او د هندوانو د کورونو نه ئے کافی غنایم یوړل۔ حکومت ته چه د دغے واقعے پته اولګیده نو د ټانک نه ئے پلی سوارهٔ سپاهیان ورپسے رااوویستل او مکمله ناکه بندی ئے ورته اوکړه۔ دویمه شپه د

تجوړې په سیمه کښې د تکواړې نالے په خوا وشا غازیان او سپاهیان وبله مخامخ شول. یو تربله ئے ډزے شروع کړے او په نتیجه کښې د فیرنګی له جانبه نه پنځه میړه سواره سره د خپلو اسونو قتل او درے میړه مجروح شول او په مقابل کښې دوه تنه غازیان په شهادت اورسیدل.

د سورکمر برید:

د پهاړپور د واقعے په دویمه ورځ ننګیالو غازیانو یو ځل بیا د منزئی نه پنځلس میله لرے جنوب پله د سورکمر په خوا کښې په بارډر پولیس بانډے برید اوکړو. یوه شیبه بنه تاوده جهګړه اوشوه، خو چه د درازنده پوسټ او ټانک څخه امدادی دستے او د منزئی نه وریسے طیار را اورسیدے نو غازیانو پسے اوویشتے، خو په تلو تلو کښې ئے د ډیرو سپاهیانو سینے غلبیل کړے.

د فیرنګی په خلاف نوے جوش او خروش:

په دے شپو ورځو کښې یو خوا په خیساره کښې د فیرنګی فوځونو د خپل بے مثاله طاقت مظاهره کوله او بلخوا د سوئیلی وزیرستان غیورو خلقو د فقیر ایپی رح په حمایت کښې ورته د مزاحمت ترتیبات نیول.

د ملک خونیا خیل او ملا شیرعلی په نغوته وافره نفوس فقیر ایپی رح ته ورچلیدل چه زیاتره تعداد یه کښې د وانا او برمل احمدزو وزیرو، جدرانو غلجیو، مکین والو او بهلولزو محسودو وو. دغسے د رزمک، شام او شکتوئے په سیمو کښې هم د خلقو لوئے هجوم لګیدلے وو. او ځائے په ځائے به ئے تخریبات کول. کله به ئے د ټیلفون تارونه شلول، کله به ئے سړک

خرابولو، کله به ئې پلونوته نقصان رسولو او کله به ئې په پوستېونو او فوځي گشتونو بريد ونه کول۔

هم په دغو شپو ورځو کښې فيرنگې يو خوا دُ کيپټن بيټي دُ قتل په سوخت مداخيلو ته قهر نيولے وو او بل خوا دُ دين فقير رح په پاڅون بيټېو ته برهم شوے وو او په دوئ باندے دُ بمبارئ کولو او دُ دوئ دُ خاصه دارئ ملکيځ او داسے نورو الاؤنسونو بندولو دپکے به ئې ورکولے۔ او دُ دين فقير رح دُ شړلو او دهغه دُ پرامن اوسيدلو په ضمانت کښې به ئې يرغمال ترے نه غوښتل، ولے سره دُ دے په وطن کښې دُ سرے اُورلگيدلے وو او هر خوا دُ خطراتو لوگې خوارهٔ وو۔

په داسے نازکو حالاتو کښې چه دُ کيپټن بيټي قاتلان دُ فيرنگي دُ ناورو ارادو نه خبر شول نو په ۳/مئ ۱۹۳۷ء ئې دُ دته خيلو په مقام دُ مليشے په يوه ډله بيا بريد اوکړو او دُ ټکه ئې ۵ تنه سپاهيان قتل او دوه تنه سخت ژوبل کړل۔ دُ بدهٔ مرغه دُ دوئ دُ ډلے څخه هم درے ميړهٔ ژنړي په شهادت اورسيدل۔

## دُ ارسل کوټ دُ لاندے کولو هڅه:

دُ وزيرستان په کټ کټ کښې چه حکومت ته کوم مصائب او مشکلات راتوکيدلي وو، دُ هغې واحد سبب فقير ايپي رح وو۔ انگريزانو دا حل دا تصميم اونيوو۔ چه په هر قيمت وي چه دُ فقير ايپي رح او دُ هغوئ دغازيانو دُ پټنځاى غالى ځائے ارسل کوټ نيست ونابود کړي۔ او فقير ايپي رح ژوندے گرفتار او يا ئې دُ وزيرستان نه خارج کړي۔

ھسے خو دَ ډیر ے بیمارۍ په وجه ارسل کوټ پخوا لوته شوے وو، ولے دَ فقیر ایپي رح ځیوُ دے ۷ سالمے پاتے وے. داخل فیرنګی دَ فوجکشۍ بندوبست پر ے اوکړو. په ارسل کوټ باندے دَ فوجکشۍ سره سره دَ دوسلی نه تر ارسل کوټ پور ے دَ سړک دَ تیرولو پروګرام هم جوړ کړے شو او دا فیصله اوشوه چه ړومبے به فوځ په شام ونګړیوم منګلے بنځوي او دَ هغے نه وروستو به په ارسل کوټ قبضه کوي.

چنانچه دَ ۶/مئ نه تر ۱۱/مئ پورے دوسلی قلعے ته ټول ټال ۱۰،۶۰۰ تنه فوځیان او ۳۰۰۰ څاروي راوستلے شول. غیر تمنو غازیانو چه دَ فیرنګی دَ ارادو په نبض ګوتے کیښنوے او دَ فوځیانو هیر بهیر ئے اولید و، نو تقریباً څلیر یشت سوه غازیان دَ خیسارۀ او شکتو ئے په سیمو کښے راجمع شول، ځینو دَ فیرنګی دم قدم په نظر کښے اونیول او ځینو لور په لور واردا تو نه شروع کړل

په ۶/مئ دوئ دَ رزانړي سره نزدے پر ي یا پړ پُل ته شدید نقصان اورسولو او دغه شان ئے دَ رزانړي او رزمک نري تر مینځه یو پُل خراب کړو او دَ رزانړي کیمپ دَ اُوبو سلسله ئے هم کمه وړه کړه. دَ دوسلی قلعے خوا کښے چه دومره فوځیان راغونډ شول نو دَ اُوبو سخت تکلیف ورته پیښ شو، له دے کبله فوځ په دوه ځایه تقسیم شو. نیم دَ دوسلی په قلعه کښے پاتے شو او نیم په ۸/مئ سحر دَ دوسلی قلعے نه جنوب پله تقریباً په دوه میله فاصله باندے دَ دوسلی کلی په څنګ کښے وارول.

بل خوا دَ شام ونګړیوم په سیمو کښے هم بے شمیره غازیان راغونډ شوي وو او دَ فقیر ایپي رح ورور شیر زمان په مشرۍ کښے ئے دَ دوسلی او شام تر مینځه

په فوځ باندے دَ حملے کولو تیاری کوله۔

## دَ دوسلی په فوځ بریډ :

په ۸/ مئ چه کله دَ دوسلی کلی سره فوځی کیمپ اولګید لو او دَ کیمپ نه چاپیره ځائے په ځائے دَ سکهونو په جوړولو بنا اوشوه، نو هم په دغه ورځ تقریباً دَ غزمے په لسو بجو غازیانو ډزے پرے شروع کړے۔ دَ ډزو آوریدو سره دَ کپتان واغان VAUGHAN په کمان کښے یو پلټون فوځ ورپسے رااووتو۔ توریالو غازیانو دغه پلټون راګیر کړو او بد بدے اوډزولو۔ شپه پس دَ فوځ دَ امدادی دستے کمک هم رااورسیدو او ګړده شپه ښه ګرمه جګړه اوشوه۔ دَ دے جهګړے په دوران کښے یو خوا قدرتی طور سخت ګرد وغبار راپورته شو او بل خوا دَ غازیانو مورچے په اونو بوټو کښے داسے خوندی وے چه نهٔ فوځ ته ښکاریدلے او نهٔ طیارو ته۔ په دے وجه غازیانو ته څه خاص تلفات اونهٔ رسیدل، ولے دَ فیرنګی دَ جانب نه یو فیرنګے افسر کپتان واغان او ۲۲ تنه دَ مختلفو رتبو فوځیان مړګونی شول۔ دَ درستے ورځے جهګړے باوجود غازیانو دَ شپے سرو نه اونهٔ نګول او ګړده شپه ئے په کیمپ باړو نه راباندے وو۔

## دَ رزمک نړی[1] انښته :

هم په دغه ورځ چه دَ دوسلی کلی په خوا کښے جهګړه لګیا وه، بلخوا ۱۵۰ تنو غازیانو دَ رزمک نړی په مقام رزمک بریګیډ هم راشکیل کړے

[1] په خوا به کو پیړئ نړے یا ورمیږئ نړے ورته ویلے شول۔ اوس دَ ډنګن پیکټ په نسبت ورته ډانګین ویلے شی۔ ډنګن یو انګریز افسر وو۔

وو۔ دغې برګيډ د ٦٦ سنګ ميل په خواوشا د سړک مرمت کولو۔ د قدرت شان وو۔ سخت ګرد وغبار راغې او غازيانو بغير د کومې زمينې او هوائي وړې فوځيان د رزمک ترکيمپ پورې اوزغلول۔ او په تيښته تيښته کښې ئې درې تنه قتل او ۱۹ تنه سخت ژوبل کړل۔

د ابلنګۍ بريد:

د دوسلۍ قلعې سره چه کوم فوځ ميشته وو، هغې په ۱۲/مئ ۱۹۳۷ء د شام په لوري کوچ اوکړو۔ لارې ئې په ابلنګۍ وه، کومه چه لوړولوړوګرنګونو ژورو پالو او ګڼړو اونو بوټو کښې تيريدله۔

کله چه فوځ د ابلنګۍ نرۍ دړې ته اورسيدو، نو د ګڼړو اونو بوټو غنو او ورشوګانو له کبله سخت په زحمت شو او د بره ختو په دوران کښې به اکثر څڅرې بنګنته ترې نه راغورځيدلې۔ داخو لاڅه چه کله دوئ د ابلنګۍ سر ته نزدې شول نو غازيانو ناڅاپي داسې باړونه پرې راباندې کړل چه هرڅه ئې ورته ګډ وډ کړل، ولې سره د دې د فوځيانو حوصلې محکمې وې او مخ په وړاندې روان وو۔ ماښام د ابلنګۍ نرۍ سر ته اوختل او قبضه ئې پرې اوکړه۔ خو په دې دوران کښې ترې نه درې تنه غټ غټ منصبداران او دولس تنه فوځيان هلاک او شپاړس تنه ژوبل شول۔ فوځيانو چه د ابلنګۍ نرۍ سر اونيوو نو دمه ئې اونه کړه۔ هغوی ئې پيشقدمي جاري اوساتله او د شام د سيمې په يوارت رغزي کښې ئې کيمپ اولګولو۔

د دوسلۍ کلي کيمپ نه فوځ سحر په شپږ بجو حرکت اوکړو او د سرکې ميلې

الګړے په مخه شام پله روان شو۔

غازیانو په دغه فوځ هم حمله اوکړه، ولے دومره شدیده نه وه څومره چه د ابلنګی نړی په فوځ باندے وه۔ یو څو مړی ژوبلی ترے نه اوشول او د شام په هوار رغزی کښے ئے کیمپ اولګولو۔ د دغے کیمپ نوم ئے ګړیوم کیښودو۔

د فیرنګی فوځونو چه د شام او ګړیوم سیمه قبضه کړه، نو غازیان هم د حالاتو په نزاکت پوهه شول او یو کرت بیا په سُرعت سره راپاڅیدل، او زبردست تخریبات ئے شروع کړل۔ بلخوا فیرنګی هم د حفاظتی تدبیرونو له مخے د خیلو دواړو کیمپونو نه چاپیره په موزون موزون فاصله باندے پیکټونه قائم کړل۔

د ګړیوم کیمپ پیکټونه :

په ۱۸ / مئ ننګیالو غازیانو د ګړیوم کیمپ په پیکټ باندے برید اوکړو سخته مقابله اوشوه او د پیکټ پلاټون څخه په موقع یو قتل او لس تنه ژوبل شول۔ کیمپ ته نزدے چه د بل پیکټ چغه ورپسے راا ووته، نو هغه ئے هم راګیره کړه او اووه تنه ئے قتل کړل او وسله ئے ترے نه ولجه کړه۔ د دے نه علاوه د دغے کیمپونو په یو بل پیکټ چه ګور کهیان وو په کښے غازیانو سخته حمله اوکړه او د ټکه ئے پنځه تنه هلاک او اته تنه ژوبل کړل۔ د نزدے پیکټ چغه چه ورپسے را اورسیده، نو د هغے نه هم غازیان چاپیره شول او درے تنه ئے قتل او پنځه تنه ژوبل کړل۔

لنډه دا چه په دغه ورځ په مختلفو بریدونو کښے د فوځ څخه تول تال

۱۷ تنه هلاک او ۲۳ تنه ژوبل شول ـ فیرنګي غوښتل چه دَ شام په سیمه مستقلې پنجې ښخې کړي، ولې دَ غازیانو دَ پرله پسې تاخت وباخت له کبله ئې داخوب حقیقت نهٔ شو ـ ځکه چه نهٔ ئې کیمپونه په امان وو او نهٔ ئې په ګشت وتلي فوځیان ـ داخولا څه چه یوه شپه دَ غازیانو دَ لاسه دَ ګرېوم په کیمپ داسې ناتار اوشو چه دَ غازیانو دَ پرله پسې بارونو په وجه په کیمپ کښې دَ ننه بې شمېره اسونه، خچرې او بنیادم څوک هلاک اوڅوک ژوبل شول ـ

دَ ۱۲/مئ نه تر ۱۸/مئ پورې چه دَ دوسلې او شام ترمینځه په فوځ کومې حملې شوې وې، په هغو کښې پنځلس تنه غازیان په شهادت رسیدلي وو ـ

دَ ملیشې په دریشئ کښې غازیان :

په دې انښته کښې غازیانو دَ فوځیانو سره عجوبه چل کړې وو ـ واقعات داسې وو چه دَ غازیانو یوې ډلې دَ ملیشې دریشئ کښې په ۲۲/مئ دَ ګرېوم کیمپ په ګشت وتلي پلاټون باندې برید اوکړو ـ فوځیانو چه دَ دوئ جائزه واخسته نو دَ ملیشې ګمان ئې پرې راغلو او جوابي کارروائي ئې بټه کړه، خو دَ مقابل څخه هم هغه شان پرې دَ دستي بمونو او ټوپکو غرمبار او ټکار جاري وو ـ

فوځیان سخت متردد شول، چه څه اوکړي، ولې کله چه حقیقت پرې افشا شو، نو هغه وخت دَ ورخ نه اوبهٔ تیرې شوې وې، او شپږ تنه سپاهیان هلاک او نهه تنه ټپیان شوي وو ـ

## دَارسل کوټ نه دَفقیر ایپي ورتګ:

دَفیرنګي فوځونه چه دَ شاَم وکرپوم په سیمه کښې اوغورېدل، نوفقیر ایپي دَخپلو اتباؤتنو غازیانو خصوصي باډي ګارډ په معیت کښې دَ ۱۹-۲۰/مئ په شپه دَارسل کوټ نه اووتو او دَ ملک خونیاخیل محسود سره په بهوانامنزه کښې چه دَ رپ کوټ نه په شپږ میله فاصله جنوب ومشرق پله واقع ده، میشته شو۔ غازیانو دَدهٔ د وتو خبره پټه اوساتله او هسې په دَارسل کوټ په تشو ځمځو شپه ورځ پهره کوله۔

په دے موقع تقریباً ۲۵۰۰ غازیان جمع شوي ووا و په ارسل کوټ دَفوځ د بلوخیدو انتظار کولو۔ هغو غازیانو کوم چه دَ شاَم په سیمه کښې موجود نهٔ وو او په مختلفو جوانبو کښې پراته وو، هم خپلو خپلو علاقو کښې عملیات شروع کړل۔

دَ مئ دَمیاشتې په ۱۸-۱۹/ شپه غازیانو دَدته خیلو په قلعه بریـد اوکړو او پوره پوره تاوان ئے ورته اورسولو۔ په دے پسے چه دوه شپے په قلار تیرے نو دریمه شپه ئے بیا دَدته خیلو او بوټه قلعو ترمینځه سړک باندے یو لوئے پُل اونړولو۔

## په عمر تیتاخیلو غدئ:

دغه خون خرابے یواځے په وزیرستان کښې نهٔ وے راټوکیدلے، بلکه انګریزانو ته هره سیمه باؤ شوے وه۔ دَ ۱۹-۲۰/مئ په شپه غازیانو دَ مروتو په علاقه کښې دَ عمر تیتاخیلو په کلي باندے غدئ واچوله۔

دَ هندوانو کورونه ئے لوټ کړل او پریمانه قیمتي سازوسامان ئے ولجه

او ځلور پېغلې هندوکيو نې اغوا کړې، کومې چه دوی شپه په شپه دُ بېټنو علاقې ته وارړولې. وروستو غازيانو دحکومت له خوا نه دُ معقولې بونګې په عوض بيرته خپلو وارثانو ته ورکړې۔

دُ هندوګيو چه ډاکټري معائنه اوشوه، نو دُ دوی په عصمت باندې هيڅ قسم تور داغ بنکاره نۀ شو۔

دُ پېزو جهګړه:

غازيانو چه دُ عمرتيتا خيلو غنام خپلو کښې اوويشل نو دُ دويم بريد مرکه ئې اوکړه۔ په ۲۴/ مئ دُ ورځې تقريباً په دوه نيمو بجو دُ پېزو په دره کښې راغونډ شول او په دريو ډلو کښې تقسيم شول۔

يوه ډله په مورچه کښې خوندی شوه۔ بله ډله په ريل ګاړی دُ حملې کولو دپاره چمتو کړې شوه۔ او دريمې ډلې ته دُ پټړۍ د پريکولو کار اوسپارلې شو۔ خو دغې ډلې پټړۍ ته لاسم تېک ورکړې نۀ وو چه دپاسه پرې ريل ګاډے را اورسيدو۔ دګاډی ډرائيور چه غازيان اوليدل، نو دُ خطرې ګوګو ئې اوغږولو۔ دګاډی محافظ دستې پرې يکدم ډزې اوکړې غازيان دُ ځان په فکر شول او ډرائيور دُ زړه ورتوب نه کار واخستو او په دا رفتار ئې ګاډے پرې ورخوشې کړو، چه غازيان ئې په ځائې ارمانژن پريښودل او هيڅ بوده ئې اونۀ کړے شوه۔ البته دومره وه چه په تلوتلو کښې ئې دُ ريل ګاډی دُ محافظ دستې څخه دوه تنه هلاک او ځلور تنه ژوبل کړل۔ سربيره پر دې يو بدقسمته مسافر هم اوورژلے شو۔

فيرنګی دُ غازيانو په تلاش کښې لور په لور چغې اوويستې۔ لارې ګودرې

ئې ورته بند ے کړے او طیار ے ئې ورپسے راچکې کړے۔

دُ بنو مرغه یو ځائې دُ طیارو نظر پر ے بنځ شو او دُ مشینګارو په باړونو کښې ئې پټ کړل۔ دوه تنه غازیان په موقع ټپیان شول او نورو دُ طیارو دُ زد نه لار بدله کړه، خو دوئې لا سم یو میل هم نه وو تلی چه ناڅاپه دُ ایف سی دُ هغو څلورو پلاټونو سره مخامخ شول، کوم چه دُ دوئې په لټون کښې راوتی وو او دُ فریقینو په مابین کښې سخته جهګړه اونښته۔ غازیان دُ زښتې ستومانئې او دُ مجروحینو له بار نه دومره بے دمه شوی وو چه دُ مزید مقاومت تاب ئې نهٔ درلود، خو لکه څنګه چه الله پاک همیشه په سختئې کښې دُ غازیانو غیبي امداد کړے دے، دغه شان دُ دوئې په امداد کښې هم زبردست ګردوغبار راغې او دوئې ئې دُ دشمن دُ نظر نه پناه کړل۔ او په نیمه شپه سلامت دُ بیټنو علاقې ته واوړیدل۔

دُ دے واقعې په باره کښې دُ "افیشل هسټری آف اپریشنز آن دی این۔ ډبلیو فرنټیر آف انډیا سنه ۳۷-۱۹۳۶ء" په صفحه نمبر ۱۰۵ نوشته دی چه:

"مګر دُ حمله آورو سره دُ ګردوغبار زبردست طوفان اعانت اوکړو، کوم چه ورروستو دُ تناګرزا شکل اختیار کړو۔ دغسے دُ فطری ذریعو موافق مداخلت دُ فقیر ایپی رح سره پوره پوره همکاری اوکړه۔"

دغه شان دُ جنګ خندق په موقع هم یو طوفان راپورته شوے وو، او دُ کفارو هرڅه ئې تس نس کړی وو۔ لکه چه په سورة الاحزاب کښې ارشاد الٰهی دے چه:

"اے مسلمانانو! دُخدائے هغه احسان در په یاد کړئ چه په تاسو لښکرے راأوختلے نو مونږ وربانديے سیلئ او داسے لښکرے وراولیږلے چه تاسو ته نهٔ ښکاریدے."

**په تجوړی غدئ:**

دُ تجوړی دغدئ واقعه دُ عمرتیتاخیلو په واقعے نه مخکښے او دُ پیزو دُ جهګړے نه وروستو وه. دُ عمرتیتاخیلو غدئ نه پس غازیانو چه خپلو کښے دُ یو بل غښتے حملے پروګرام جوړولو نو اتفاق ئے دُ پیزو په دره کښے دُ ریل ګاډی په حمله اوشو.

چونکه ریل ګاډے په ۲۴/ مئ راتلونکے وو نو دوئ پخپل فارغ وخت کښے دُ تجوړی په بازار غدئ واچوله. واقعات داسے وو چه دُ ۲۱-۲۲/ مئ په شپه باندے غازیانو دُ تجوړی په بازار غدئ واچوله. دُ هندوانو یو شمیر دوکانونه ئے چور او بازار ته ئے اُور ورته کړو. دُ دغے غدئ دُ کش وګیر په دوران کښے دُ هندوانو د کورنئ یو بنځے او یو هلک دغازیانو سره څه تکرار شروع کړو، رومبے خو ئے په نرمئ او پوهول خو چه پوهه نهٔ شول نو مرمئ ئے له سینو نه اووتے او غازیان دُ مال ومتاع پنډونه په سر دبیټنو علاقے ته واوړیدل.

فیرنګے په دغسے تشویشناک صورتِ حال باندے بے کچه زهیر شو او دُ بنوں ډیره اسماعیل خان په فوجی طاقت کښے ئے نوره هم اضافه اوکړه او په ټولو اهمو او خطرناکو سیمو کښے ئے دُ بارډر مزید پوستونه قائم کړل. دغه رنګ ئے لیوی هم زیاته کړه. او دُ کلیو اکثرو او سیدونکو ته ئے وسلے هم

ورکړے.

دَ دے نه علاوه، هغه خاصه دار کوموچه عارضي طور کار کولو، مستقل کړے شول. په تهانګ، منزئ او جنډوله کښے د فوځونو تعداد زیات کړے شو او دَ "وزیر فورس" کمانډر ته د غازیانو په ټولګیو دَ هوائی حملو کولو پوره پوره اختیارات ورکړے شول.

دَ دے سره سره ځائے په ځائے دَ یو بلے سره نه لګه دَ پېژونه ترګل امامه پورے دَ سړکونو په تعمیر هم پېل اوشو.

## دَ پسل کلي جهګړه:

په شام وګړیوم کښے میشته فوځونه دَ ۲۷/ مئ په سحر په پنځیمو بجو دَ ارسل کوټ په لوري پیشقدمي شروع کړه. ځینو به ځائے په ځائے پیکټونه جوړول او ځینے به مخ په وړاندے تیریدل. لنډه دا چه فوځ په ډیر ګهمنډ او طاقت سره خپل هدف پله روان وو. کله چه پاسل کلي ته اورسیدو نو غازیانو په یو سیکټ باندے دَ نعرهٔ تکبیر ژغونه اوکړل او دا سے بارونه ئے پرے راباندے کړل، چه دَ فوځیانو زړونه ترپسبو اوخویدل. دَ لرو برو پیکټونو کمپنئ چه ورپسے راچغه شوے نو غازیانو لاګولے ورته ننخے کړے او یو ځوګهړئ دا سے خوفناک جنګ اوشو چه په نتیجه کښے ئے اوولس تنه فوځیان هلاک او شل تنه ژوبل شول. فوځ دَ یر مخ ټګ جسارت اونه کړے شو او دَ خپلو مړو ژوبلو په وجه ئے دَ پاسل کلي په خوا کښے کیمپ اولګولو.

دَ فیرنګي بخپل دوه بریګیډه فوځ باندے زړه ډاډه نه شو او دَ میرعلي

دَ کیمپ نه ئے مزید یو بریګیډ فوځ خیساره ته رااوغوښتلواو په بیچي کسکئ کښې ئے کیمپ اونګولو۔

په ۲۸ / مئ یوخوا سحر وختي دَ بیچي کسکئ دَ کیمپ نه یو بریګیډ فوځ او بلخوا دَ پاسل کلی سره اوریدلی دوه بریګیډه فوځ ګائیډز په شیږو بجو په ارسل کوټ ورخوشې شول۔ او دَ ارسل کوټ په تسکو کښې راتو ئے د خپل طاقت مظاهره اوکړه۔ اګرچه دَ پرله پسې بمبارئ په اثر ارسل کوټ له اوّل نه وران ویجاړ پروت وو، وے فوځیانو په کښې بیا هم بارودي بتئ اوچلولے، او په لوګ لتاړ کلي کښې ئے ناتار اوکړو۔ دغه رنګ ئے دَ فقیر ایپي رح څمڅه هم ورانه کړه او فوځیانو په شګو کښې خوندی دَ ورانو کورونو کاکشونه هم رابرڅیره کړل او او ئے سیزل۔

دَ ارسل کوټ دَ تالان نه چه فوځیان اوزګار شول نو دَ شپې تیرولو دپاره هم هلته پاتے شول۔ دَ کیمپ نه لرې په بنکته دَ اُوبو په لښتي دَ حفاظت دپاره یو څو سپاهیان پراته وو۔ غازیانو شبخون پرے اوکړو او دَ تکه ئے درے تنه قتل او دوه تنه ژوبل کړل۔

په ۲۹ / مئ سحر وختي فوځونه دَ ارسل کوټ نه بیرته پسل کوټ ته مات شول۔ دَ شکتو ئے په سیمه کښې ئے دتوري خیلو په کورونو یو ځل بیا یرغل اوکړو، او زښت تاوان ئے ورته اورسولو او په ۳۰ / مئ دَ پسل کوټ کیمپ نه نیغ شام وګر یوم ته پستنه شول۔

دَ ګریوم په فوځ حملے :

په ۳۰ / مئ چه کله فوځونه دَ پسل کوټ نه دَ شام وګر یوم په لوری

روان وو نو په لارو به ئے دَ معمول په مطابق حفاظتی پیکټونه قائمول۔ له بلے خوا نه به غازیانو هم په هغو پیکټونو پے در پے حملے کولے۔ دَ غسے دَ فوځ څخه دوه انګریزان افسران او پنځه سپاهیان هلاک او نولس[19] تنــه زخمیان شول۔ په مقابل کښے دَ غازیانو څخه هم اووه میړه ځوانان پــه شهادت اورسیدل۔

په محسودو باندے دَ فوجکشئ پروګرام :

دَ شام وګړ یوم په سیمه کښے درے بریګیډ فوځ جمع شوے وو۔ یو بنوں بریګیډ، دویم رزمک بریګیډ او دریم فرسټ انفنټری بریګیډ۔ فیرنګی دا فیصله اوکړه، چه یو خوا دَ دوسلی قلعے نه دَ مدا میر کلی په لار احمدوام ته او بلخوا دَ رزمک کیمپ نه تر بیچی کسکئ پورے سړکونه تیر کړی، او بیا ئے دَ احمدوام سړک سره ملاؤ کړی چونکه دَ شام نه تر سراروغه او دَ سراروغه نه تر رزمک پورے علاقه کښے چه څومره جهګړے شوے وے، په هغو کښے دَ کیکړئ، شابی خیلو او ګالیشے محسودو ډیره برخه وه، په دے وجه فیرنګی دا فیصله اوکړه چه موجوده فوځونه به دَ شام نه نیغ د محسودو په علاقــه کښے دَ مدا میر، جنته او بروړه نزی په لار تر سراروغه پورے فوجی کارروائی کوی۔ هرکله چه دغه فوځونه سراروغه ته اورسی نو د هغے ځائے نه به نیغ پیازړه ته تیریږی او دَ پیازړے نه به لدهے ته اوځی۔

دَ بیټنو په کلیو بمباری :

یو خوا فیرنګی په محسودو دَ فوج کشئ تیاری کوله او بلخوا ئے په ۲۹ / مئ دَ بیټنو د مشرانو جرګه راوبلله او دا ئے ورته اووئیل چه :

"چونکه د عمرتیتا خیلو نه د دریو هندوکیو په اغوا او د پیزو په دره کښې د ریل گاډي په حمله کښې اکثر بیټنی غازیان شامل وو او هم دغه غازیان د دوئ په سیمه کښې خوندي شوي وو، نو حکومت دا فیصله کړې ده چه ستاسو لاندینئ سیمې به تباه کولے شي"

د کوټ او الله داد کخې نه چاپیره دوه دوه میله او د کوټ نه مغرب پله او وه میله سیمه - دوئ ته دا هم په کلکه او ویلے شول چه تاسو دغه علاقه د ۳۱ / مئ او یکم جون تر شپې پورے زر نه زر خالي کړئ -

د یکم جون په ورځ د کوټ سره نزدے په باړه کلي، رغزي کلي او د الله داد کخې په نواح کښې په لوارژي LOWAZHI باندے سخته بمباري اوشوه - او دغه بمباري تر دوو ورځو پورے جاري وه - د بمبارئ نه پسته فوځ پرے ورخوشے کړے شو او چه څه روغ پاتے وو، هغه ئے هم لمیالیټ کړل -

د بمبارئ باوجود چه د بیټنو مشرانو هغه مغویانے برامد نهٔ کړے شوے نو بیا په ۱۲ / جون په تیاتي پلوسئ او د کوټ سره جوخت د دین فقیر رح په کور او ژرنهٔ باندے بمباري شروع شوه، او تر ۱۳، ۱۴/ جون پورے اوږده شوه - آخر په ۲۱ / جون درے واړه هندوکئ د دولسو زرو روپو په بونگه د جاني خیلو وزیرو ملکانانو په لاس تجوړي پوسټ ته حوالـه کړے شوے - د طبي معائنے په رنړا کښې د دوئ سره د هیڅ قسم زیاتي کولو ثبوت پیدا نهٔ شو -

په محسودو فوجکشي :

د شام وکړ یوم په سیمه کښې چه فیرنګي د محسودو په علاقه کښې د فوځ

کارروایئ کومه تیاری کوله، هغه اوس مکمله شوے وه. پروګرام دا شوے وو چه فرسټ انفنټری برګیډ او بنون برګیډ به دَ محسودو په علاقه کښے نیغ ورځی او رزمک برګیډ به دَ یو خوا بلخوا ګرځیدو او ګرځیدونه پسته دَ پیارشے په مقام دَ بنون برګیډ سره ملاویږی.

فرسټ انفنټری برګیډ چه پکښے دَ جنرل افیسر کمانډنګ نه علاوه دَ قطبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ او نور دَ مختلفو محکمو افسران شامل وو، په ۴/جون ۱۹۳۷ء دَ مدا میرکلی په لوری مارچ شو. دغه برګیډ به دَ بنون برګیډ نه مخکښے روان وو او په تللو تللو کښے به ئے ورته هم لارے کودرے سمولے او هم به ئے په راشن بار شیر. اوښان سنبالول. کله چه دغه برګیډ مدا میرکلی ته اورسیدو نو هلته ورته دَ سوئیلی وزیرستان پولټیکل ایجنټ او کنړ محسود ملکانان استقبال ته راغلی وو.

دَ مدا میرکلی پورے خو دغه برګیډ سلامت اورسیدو، ولے هر کله چه دوئ کیمپ اولګولو نو دَ شپے پرے لور دَ لوری نه غازیانو باړونه راچلاؤن کړل او تر صبا پورے ئے ترے نه درے تنه هلاک او پنځه تنه ژوبل کړل دغسے ئے ۱۴ خچرے هم ترے نه اووژلے.

هم په دغه ورځ بل خوا غازیانو دَ ګج خوا کښے دَ رزمک برګیډ په یو پیکټ برید اوکړو او دَ ورومبو ډزو سره ئے دوه تنه فوځیان قتل او یو ژوبل کړو. ملګری سپاهیان چه ورخبریدل نو دوئ ټوله وَسله هم ترے نه اوړے وه.

په ۵/جون بنون برګیډ هم مدا میرکلی ته اورسیدو. دغے برګیډ

ته چه فرسټ انفنټري برګيډ تر برووړه نزي پورے سړک جوړ کړو نو پخپله مدا ميرکلي ته ستون شو او بنوں برګيډ جنتے ته شپه اورسولِه او کيمپ ئے اولګولو۔

غازيانو دُ شپے په کيمپ تهکان راباندے کړل او په لږ ساعت کښے ئے درے بيده اوښان او پنځه خچرے ترے نه ژوبلے کړے۔ بنوں برګيډ چه رزمک ته مارچ کيدونو په بدرګه کښے ورسره رزمک برګيډ هم تر پيازډے رغزي ملګرے وو۔ دُ هغے ځائے نه په ۷/ جون تاوُدے چينے ته لاړو او کيمپ ئے اولګولو۔ دلته هم پرے دُ شپے زښتے مرمئ تمامے شوے او څلور تنه فوځيان اووژلے شول۔

بله ورځ په ۸/ جون چه کله بنوں برګيډ سراروغے ته روانيدونو رزمک برګيډ پيازډے رغزي پله کوچ اوکړو او کيمپ ئے اولګولو۔ په ۹/ جون بنوں برګيډ دُ رزمک برګيډ سره په پيازډه رغزي يوځائے شو۔ دويمه ورځ دواړه برګيډه فوځ تاوُدے چينے ته مارچ شول او دُ شپے پرے غازيانو بنهٔ ارمانونه اُوريژول۔ په شمير تيرئے پنځلس[15] خچرے، درے[3] اُسونه او يواوښ ترے نه ژوبل کړل او نهٔ[9] تنه ئے سپاهيان ټپيان کړل چه دوه[2] تنه په موقع مړهٔ شول۔

دُ بهرام خان غازي واقعه :

فيرنګي ته چا مخبري کړے وه چه دُ تاوُدے چينے په کيمپ چه کومے ډزے روزونه کړي وو، دُ هغے مشر بهرام خان بند خيل محسود وو۔ دُ وزيرستان ډويژن کمانډ ر دُ مکين د محسودو جرګه راوبلله او ورته ئے

اوویل چه:

"حکومت غواړي چه دَ بهرام خان کورو مانړۍ ورانے کړی"

ځینو محسودو ورته اوویل چه "ته بے غمه اوسه، مونږ به ئے پخپله وران کړو."

چنانچه په ۱۱/جون هغو بے ننګو بهرام خان سره دَ خپل یو ورور اونیوو او دواړه ئے لاس تړلی حکومت ته حواله کړل۔ دوئ په دے هم قانع نهٔ شول، دَ بهرام خان کورو مانړۍ ئے هم وران کړل۔ دَ دے نه پسته بنوں بریګیډ رزمک ته واپس شو او رزمک بریګیډ په تاوُده چینه پلټے شولو۔

دا خبره هم یاد ساتل په کار ده، چه هر کله فوځونه دَ ارسل کوټ نه راستانهٔ شول او سرارو غے ته لاړل او بیا دَ هغے ځائے نه خپلو خپلو کیمپونو ته اورسیدل نو په دغه دوران کښے به دَ دوئ په محافظت کښے جنګی طیارو هم پروازونه کول۔

دَ دے نه علاوه، چه کله دَ کرنیل یوم نه سرارو غے ته فوځونه مارچ کیدل، هغه وخت فیرنګی پرله پسے په ۵-۶/جون دَ توری خیلو جرګے رااوبللے او دائے تحریری ترے نه اوغوښتل چه:

"۱۔ تاسو به دَ خپلے علاقے ټول سرکش عناصر سموئ۔

۲۔ دَ حکومت په خلاف دَ نورو علاقو څخه راغلی کسان به دَ خپلے سیمے نه شړئ۔

۳۔ که چرے فقیر ایپیؒ دوباره ستاسو علاقے ته راشي نو تاسو به ئے

حتماً اوباسئ -

۴- ستاسو په علاقه کښې چه څومره مغویان پراته دي هغه به ټول برامد کوئ - که چرے تاسو د حکومت دغه حکمونه اونه منل نو حکومت به ستاسو په خلاف پوځل بیا سخت اقدامات کوی "

د دغو حکمونو آورولو نه پس د جرګے په خواهش د دوئ د بشپړ علاقے نه د بلا کیدو ۲- په هر ځائے کښې د دوئ دینوو ۳- د رزمک په علاقه کښې د دوئ د بندش ۴- د سنټرل وزیرستان روډ نه په درے میله فاصله بانډے د دوئ د کلیو خالی ساتلو ټول احکامات ختم کړے شول -

د دے نه علاوه ټول هغه یرغمال چه د حکومت په جیل خانو کښې پراته وو، د ستلو میله ټوپکو په جرمانه خوشی کړے شول - په آخر کښې توری خیلو د خپلو برخاست شده خاصه دارو د بحال کولو درخواست ورته اوکړو، خو حکومت اونه منلو او ورته ئے اووئیل چه که چرے دوئ د قبائلی پولیس په حیث بلا تنخواه کارکول غواړی نو ورته اجازه ده، ګنی اوس ئے ضرورت نشته -

توری خیل وزیر په دے راضی شول او خپل خاصه دار ئے رااوبلل خو وروستو د جون تر پنځلسم تاریخ پورے حکومت پخپله د څلورو سوو قبائلی پولیس ساتلو فیصله اوکړه - په تیرو ورځو کښې چه فیرنګی د محسودو وزیرو په سیمو کښې فوځونه خواره کړی وو او په دواړو علاقو کښې ئے زبردست خوف وهراس قائم کړے وو، هغه وخت فقیرایپی رح هم ورته د خپلو خصوصی خلیفه ګانو دین فقیر رح مولانا شیر زمان، ملک خونیا خیل او ازملیر سره مرکے مشورے کولے - دغه شان فیرنګی چه د توری خیلو مشرانو سره په ۵ او

۶/ جون جرگے کولے نو فقیر ایپیؒ هم دُ خپلو غازیانو په لاس لور په لور لاندینی اطلاع گانے استولے چه :

" لوَ غوبل ختم شي نو دُ فیرنگی په خلاف له ځیرے ماتهٔ وسله بند ځانونه راورسوئ او هر سرے دُ ځان سره دُ خپلو خپلوانو زکوٰة هم بیت المال ته راوړی "

دغه وخت به فقیر ایپیؒ غازیانو ته ایله دومره ویل چه تاسو دُ بنوں میرعلی، سپین وام، رزمک، میران شاه او دته خپلو ترمینځه په سړکونو او پیکټونو باندے حملے کوئ او خصوصاً دُ انگریزانو دُ قتلولو زیات کوشش کوئ -

دُ فقیر ایپیؒ دُ هدایاتو په مطابق په خیساره کښے دُ ملا شیر علی خان په مشرئ کښے محسودو ځوانانو دُ فیرنگی په خلاف لاسونه واچول او په قطعی وزیرستان کښے وزیرو داوړو واردانونه شروع کړل - هم په دغو شپو ورځو کښے یوه اولسی لارئ چه دُ سرکاری سامان او یو څو ملازمینو نه ډکه وه، دُ رزمک په خوا کښے غازیانو راگیره کړه - سرکاری ملازمین ئے اووژل - سامان ئے لوټ کړو او لارئ ئے اوسیزله -

دُ دے نه علاوه به لور په لور کله دُ ټیلفون تارونه پریکولے شول کله به دُ بنوں ضلع ځخه دُ هندوانو ځاروی اغوا کولے شول او کله به دسړک دُ بدرگے R.O.D[1] سپاهیان وژلے شول - هم په دغه سلسله کښے په ۶/ جون غازیانو دُ تهل ( توچي ) په خوا کښے دفوځ په یو پلاټون برید اوکړو -

---

[1] په کومو ورځو کښے به چه دُ حکومت په اجازه په سرکاری سړکونو ټریفک جاری وو - هغو ته به R.O.D یعنی ROAD OPEN DAY ویلے شول -

جھگړه لا پوره تاوده شوے نه وه چه د فوځیانو د کمک د پاره نورے دستے او ټینکونه رااورسیدل. غازیان هم ورمته شول او په لړ ساعت کښے ئے درے تنه فوځیان قتل او پنځه تنه سخت ژوبل کړل. غازیانو د وژلیو ژوبلیو نه سلاح واخسته او پسے ئے اوویستے.

## په لدهابانډے فوځی چپه :

فوځونه لا د محسودو د سیمے نه سم راستنانه شوی نه وو، چه یو ځل ئے بیا په دغه سیمه د ورختو اراده اوکړه. مقصد ئے دا وو چه هغو ټولو محسودو خلقوته هم، کوم چه د شهورتنګی په جھګړه کښے شامل وو او یا ئے د تیارزے قلعے په حمله کښے حصه آخستے وه، پوره پوره سزا ورکړی.

چنانچه رزمک بریګیډ چه په تاوده چینه میشته وو بیرته په ۱۲/جون لدهے ته مارچ شو. بلخوا د وزیرستان ریذیډنټ د ۱۴/جون نه تر ۱۹/جون پورے د محسودو د مختلفو قبیلو منزئ، شمن خیلو، ایمل خیلو، بند خیلو شنګی بهلولزیو او شابی خیلو جرګے رااوبللے. ریذیډنټ ورومبے دوی ته د هغو کسانو د نومونو سنودلو په حقله اووئیل کوم چه له مودو څخه د حکومت په خلاف په تخریبی کارونو کښے بوخت وو. بل ئے دا ورته اووئیل چه تاسو دغه خلق واپس راولئ او د دوئ د پرامن اوسیدو ضمانت کښے یرغمال راکړئ. جرګے ته دا هم اوو ئیلے شول، چه حکومت غواړی چه د محسودو په علاقه کښے زر نه زر سړک تیر کړی او ورومبے سړک به د شکتوئے نه تر سراروغه پورے جوړیږی.

جرګه ایزو مشرانو ته دا هم اوو ئیلے شول چه د دے خبرے فیصله

به د کار په آغاز کښې کوله شي چه آیا سړکونه دِ د فوځیانو په ذریعه جوړ کړے شي یا د ټهیکدارانو. بهرحال چه څنګه وي، خو په دے باره کښې به د چاد حقوقو مطالبه اونهٔ منلے شي او تاسو ته دا اخطار درکولے شي چه د سړک د جوړولو یا فوځي ګشتونو په دوران کښې څه ورانے اونهٔ کړے ګنی سخته سزا به درکړے شي.

هلته ریذیډنټ د محسودو مشرانو سره جرګے کولے، دلته رزمک بریګیډ د جنوبي وزیرستان سکاوټس سره په لدهَا کښې یوځائے شولو. کله به ئے د لدهے په نواح کښې ګشتونه کول او کله به ئے د فقیرایپیؒ د حرکاتو او سکناتو جائزه آخسته. دا وخت فقیرایپیؒ د ارسل کوټ او منډواؒ په مینځ کښې روپوش وو او د شاه ولی الکړے په علاقه کښې د شکتوئے الکړے او رزمک ترمینځه به تقریباً د دوه نیموسوو غازیانو لشکر موجود وو. او د فیرنګي په سترګو کښې به ازغی ازغي کیدلو. روستو تر ۱۵/ جون پورے دغه غازیان په برشکتوئے، شاه ولی او بوبکره BABRA KARA کښې تر څلورو نسُوو پورے زیات شول.

فیرنګي چه د فقیرایپیؒ او د هغه د لشکر جاج واخستونو ویره ورسره پیدا شوه او دا فیصله ئے اوکړه، چه رومبے په شاه ولی الکړه کښې راغونډ شوے لشکر منتشر کړي او بیا فقیرایپیؒ ژوندے اونیسي.

## د والاّدین په کیمپ باړونه :

د دغے تصمیم په ترڅ کښې فرسټ انفنټری بریګیډ کائیز وختي د ګړیوم کیمپ نه روان شو او د والاّدین په سیمه کښې ئے کیمپ اولګولو. په

لار کښې چا څه تعرض پرې اونه کړو، ولې هر کله چې د کیمپ پیکټونه
لګول، هغه وخت غازیانو څه نه څه باړونه پرې اوچلول او درې
تنه یې سپاهیان ترې نه اووژل او یو ولس یې ځخمي ټوبلې کړې۔
هم دغو غازیانو په کیمپ هم راتیښته کړه او د فوځ نه یې دوه تنه قتل او
شپږ میره مرګونی کړل۔

مازیګر غازیانو لازور ورپسې راوړو او د شپې یې د کیمپ په یو بل
پیکټ باندې درې حمله بریدونه اوکړل۔ چه په نتیجه کښې میجر
تهام کنس TOM KINS سره د اوو تنو سخت زخمی او دیارلس تنه
په قتل اورسیدل۔

په ۱۶/ جون فرسټ انفنټری بریګیډ بیا ځ په وړاندې روان شولو۔
مړینو غازیانو له پخوا نه ورته مورچې نیولې وې او باړونه یې پرې شروع
کړل، چونکه په دې ورځ د فوځ د محافظت دپاره ځوارلسو جنګي طیارو
په فضا کښې پرواز ونه کول او غازیانو داسې موقع نه شوه پیدا کولې چه
په زره پورې برید یې کړې وې، نو فوځ سلامت لاکنړ LAKAN
ته تیر شو۔

<u>د لاکنړو خوا کښې برید :</u>

هم په دغه ورځ چه کله دغه بریګیډ د لاکنړو نه والاډین کیمپ
ته ستنیدو، نو په لار کښې تقریباً دوه نیمو سوو غازیانو تهکان پرې
راباندې کړل، او د والاډین کیمپ پورې یې ترې نه دوه میره

قتل او څلور میره ژوبل کړل۔

په ۱۶/ جون یوځوا دَ فرسټ انفنټری بریګیډ هجوم وو او بلځوا بنوں بریګیډ دَ ناول نري او یوُوا YOWA په لار آنج تالی ANG TALI ته پیشقدمي کوله۔

په تلو تلو کښې ئےاوّل په ناول نري دَ کیمپ جوړولو دپاره یوه فوځي دسته موُظفه کړه او بیا دَ هغې نه پسته په ډیر مشکل سره آنج تالی ته اووتو۔ په ۱۷/ جون دغې بریګیډ دَ سرو ګولیو په باران کښې خپل هدف ته ځان اورسولو۔ خو چه کله دا ورته معلومه شوه چه غازیان دَ شاه ولي الګړے نه بلځوا تللی دی نو هم په دغه ورځ پسته نه رزمک ته مارچ شو۔ په لار کښې بد بد اوږدوړے شوا او ګنړ مړي ژوبلي ترے نه اوشول۔ دغسے فرسټ انفنټری بریګیډ هم دَ والادین کیمپ نه ګړیوم ته واپس شولو او په تللو تللو کښې غازیانو پرے سنه زړونه یخ کړل۔

## دَ فقیر ایپي رح دَ نیوو هڅه :

دَ ارسل کوټ نه شمال مشرق پله دَ برامانن په سیمه کښې ډیر غازیان راغونډ شوي وو او فقیر ایپي رح ورته باقاعده لنګر جاري کړے وو او بخپله هم هلته دَ ګل ضمیر کوټ نه مغرب پله په یوه ځیوړه کښې اوسیدلو۔

دَ فیرنګی سره بیا ویره پیدا شوه، او دا ځل ئے دَ فقیر ایپي رح دَ

ژوندی نیولو اراده اوکړه، چه ګوندے دغسے په وزیرستان کښے دَ سکون او اطمینان فضا قائمه شی ـ فیرنګی دغه خبره په صیغهٔ راز کښے اوساتله، او په ۱۹/ جون سنه ۱۹۳۷ء ئے دَ جنوبی وزیرستان ملیشا دَ جنډوَلے نه دَ پیزو او بنون په لار په لاریو کښے پټ په پټه دوسلی ته راوړه ـ هم په دغه ورځ دَ توچی ملیشے هغه سپاهیان هم په دوسلی ورسره یوځائے شول ـ کوم چه په رزمک نزی پراته وو ـ په ۲۰/ جون دواړه ملیشے دَ دوسلی نه ګریوم کیمپ ته لاړے او هلته ئے شپه اوکړله ـ په ۲۱/ جون ئے دَ شکتوئے الګړ ے، دَ ارسل کوټ خواوشا سیمه او دَ ګل ضمیرکوټ لروبرو سیمو نه ګهیره تاؤ کړه او سخت تلاش ئے اوکړو ـ خو فقیرایپیؒ په لاس ورنغلو ـ البته دَ تلاش په دوران کښے سپاهیانو دَ ارسل کوټ بانی ارسل خان[1] توری خیل او دوه تنه نور کلی وال ګرفتار کړل ـ

---

[1] دغه وخت دَ ارسل کوټ نه بټول خلق وتلی وو، ارسل خان دَ ضعیفئ په سبب پاتے شوے وو او فیرنګی ګرفتار کړو ـ وروستو ئے په دے شرط خوشے کړو، چه چیل یو مجاهد خوئے لنډائی به حکومت ته تسلیموی ـ آخر هغه تسلیم شو ـ خو چه پلار ئے خوشے شولو، نو هغه بیا دَ فیرنګی په خلاف میدان ته راووتو ـ

په دے موقع يو مُلا هم هغه وخت شهيد کړے شولو کله چه دهٔ په فوځ باندے ډزو کولو ته ځان تيارولو. دَ فيرنگی پوره اُميد پيدا شو، چه گوندے دَ ارسل خان دَ نيوو نه پسته به اوس فقيرايپیؒ اونيسی، ولے دا ځل ئے دوه هندوان برآمد کړل، کوم چه دَ يو کور په توره کوټه کښے له دريو مياشتو څخه محبوس وو.

فقيرايپیؒ دَ مليشے دَ راتگ نه وړومبے دَ ارسل کوټ نه وتلے وو او په بهوآنا منزه کښے ميشته شوے وو. دَ هغے ځائے نه دَ جون په ۱۸،۱۷ شپه گل ضمير کوټ او بيا وروستو په ۲۰/جون مازيگر مرسنزئ ته تلے وو. مليشے ته چه فقيرايپی په لاس ورنغلو، نو دَ ارسل خان گرفتاری ئے غنيمت اوگنړله، او بيرته کږيوم کيمپ ته لاړه.

# دَ رزمک نه وانا ته لار خلاصول

دَ شاه ولی الکوزے او دَ برآماند په سيمو کښے دَ فوځ دَ تگ راتگ په وجه دَ انگريزانو حوصلے زياتے شوے وے او يو ځل بيا محسود و غازيانو ته دَ سزا او وانا ته دَ رزمک او جنډولے په څخه دَ تلو راتلو لار پرانستلو ته غوږ تيخوريدل. چنانچه دَ دے مهم دپاره دَ رزمک، بنوں او وانا درے بريگيډه فوځ تيار کړے شو.

او پروګرام داسې مرتب شو، چه د رزمک او بنوں بریګیډ کالمونه په چلویشتۍ ته لیږلے شي او د هغه ځائے نه به تورواام او د چلویشتۍ شمال جنوب برېدړ ته کوچ کوي - واڼا بریګیډ به سروکي شپانه رغزي او تیارزے ته ځان اوباسي او بیا به دواړه رزمک او بنوں بریګیډ بیرته رزمک ته راستونیږي - د ټاکلي شوي پروګرام په مطابق په ۲۰ جون د بنوں بریګیډ کالم د رزمک څخه د هیډ کوارټرز وزیرستان ډویژن سره مارچ شو او د رزمک بریګیډ سره د لدهے په مقام یو ځائے شو-

په ۲۲ جون وزیرستان ډویژن په خلویشتۍ باندے راغونډ شو - بل خوا ملا شیرعلي خان د چلویشتۍ او تورواام په مینځ کښے د دوه نیمو ۲۵۰ سوو غازیانو لشکر راغونډ کړے وو او د شراونګي نړۍ ټوله نواح ئے قابو کړے وه-

## د شراونګي جګړه:

د ۲۳ جون په دروېشتمه نیټه رزمک بریګیډ او ډویژن هیډ کوارټرز تورواام کیمپ ته د تلو تیاري شروع کړه - بنوں بریګیډ چه د چلویشتۍ په کیمپ کښے میشته وو، د چاودے نه پس په پینځو نیمے بجے اووتو، او په لارو کودرو ئے پیکټونه اولګول-

شراونګے نړے، په تیارزه سرک باندے د تیارزے نه یوولس میله لرے واقع دے - دا سیمه د سختو دشوار ګزار غرونو او کنړو ځنګلو څخه ډکه وه - او قدم په قدم کښے خطرات موجود وو،

ولے څومره چه دغه لار تشویشناکه وه، دومره فوځ بهتر حفاظتی بند وبستونه کړی وو، یوخوا په خچرو بانده بار درانهٔ درانهٔ توپونه او مشینډار ورسره وو۔ او بل خوا ئے جنګی طیارو معاونت او حفاظت کولو۔ فوځونه بیخی بے غمه روان وو۔ او تر شراونګی نرۍ پورے پرے هیڅ قسمه بلوسه او نهٔ شوه۔ او هم هلته ئے په پاؤکم اتهٔ بجے هیډکوارټرز مقرر کړو۔ په اتو بجو چه فوځونه بیا روان شول نو دَ شراونګی دَ سوئیل له مخے نه پرے نرۍ نرۍ ډزونه شروع شول۔ دغه وخت دَ فوځ سره دَ جنوبی وزیرستان سکاؤټس هم ملګرے شوے وو۔ په کومه لاره چه دغه کثیر فوځ په وړاندے روان وو هغه دَ اونو بوټو نه ډیره ډکه وه۔ یو پلټون چه دَ فوځ مخکښے مخکښے روان وو او دَ غرونو څوکے ئے قبضه کولے، غازیانو راګیر کړو۔ زبردست باهونه ئے پرے اوچلول او دَ هومبو ډزو سره ئے یو ولس کسان رااوغزول او وسله ئے ترے نه ولجه کړه۔

جګړه لا لګیا وه، چه رزمک بریګیډ هم امداد ته وراورسیده او دَ دواړو فریقینو ترمینځه دا نښته نوره هم تاؤده شوه۔ دَ ټوپکو نه نوبت، یو په بل دستی بمونو غورځولو او په سنګینونو وهلو ته اورسیده۔ ترماسپښینه خونړۍ جګړه اوشوه۔ او دَ ستړے ډوبیدو سره فوځ په شا چلوېښتی کیمپ ته ماتے اوکړه او تور توام ته اونهٔ رسیدے شو۔ په دے جګړه کښے دَ غازیانو دَ لوری نه یو ډیر تکړه او دَ ډلے مشر پیاندخان محسود شهید شو او فوځیانو

ته په لاس ورغلو. خو دَ خوشحالۍ خبره دا وه، چه دهٔ هم په خپلو لاسو یو لوئے انګریز افسر لفټیننټ کرنل ګرانټ وژلے وو. دَ پیاده نه علاوه نور هم انهه[۹] تنه سرتیری غازیان په شهادت اورسیدل، چه یو پکښے دَ پیاده سکه ورور هم وو. دَ فیرنګی دَلوری نه دَ کرنل ګرانټ دَ قتل نه علاوه څوارلس[۱۴] سپکان، پنځهٔ[۵] دوګره او درے[۳] دَ جنوبی وزیرستان ملیشئے سپاهیان هلاک، او یو فیرنګے افسر کپتان ایچ-ایس-کنګ (H.S.King) او ورسره پنځه څلویښت[۴۵] تنه فوځیان ټوټپل شول.

دغسے دَ محسودو دَ خاصه دارو نه هم یو قتل او څلور کسان زخمیان شول. په دغه خونړی جنګ کښے غازیان دَ ۶۵ میله ټوپکو، دوؤ مشینګنو، بے شمیره کارتوسو او پریمانه مال و متاع ترلاسه کولو نه پسته دَ خپلو شهیدانو او مجروحینو دَ سمبالښت په سلسله کښے خوارهٔ شول. فیرنګی دا موقعه غنیمت اوګڼله او په صبا له په ۲۴ جون بنون بریګیډ تورَوام پله مارچ شو او مخ په وړاندے چه دَ تارَی ژاور خادار پوسټ ته رسیدو، نو رَزمک بریګیډ هم ورسره ملګرے شو او سړک ئے قابو کړو. کله چه سړک قابو کړے شو او لوړ ئے په دواړو موړګو دَ ملټری پیکټونه اولګولے شول نو دَ رزمک او تورَوام ترمینځه کانوائی هم تیره کړے شوه.

## دَ بربدړ شخړه:

اوس یو خوا دَ بنون او رزمک دواړه بریګیډه تورَوام پله روان

وو، بل خوا د برېدر وادئ سوئیل پله غره کښې د شپږو سوو غازیانو جرار لشکر راجمع شوے وو۔ یوشو غازیانو د فوځ په یو پیکټ برید اوکړو او د معمولي مقاومت په نتیجه کښې د فوځ نه څلور تنه قتل او یو فیرنګے افسر لفټیننټ انډرسن (Lt. Anderson) او ورسره شپږ سپاهیان ژوبل شول۔ د غازیانو د لوري نه هم یو شهید او دوه تنه ټپیان شول۔ په رسید وخو فوځ تورروام ته ورسید و ولے اوس د خپل مُهم په دوران کښې ورته د خپلو مړیو او زخمیانو وآنا ته د استولو، او د زخمي آسونو، خچرو او نورو څارووو د سمبالښت مسئله پیښه شوه۔

فیرنګي د رزمک په سړک د تورروام او چلوبنتئ ترمینځه لار خلاصه کړه او هم په دغه ورځ ئے د محسودو په اولسي لاریو کښې خپل ټول مړي ژوبلي فوځیان او زخمي څاروي واچول او د ټینکونو په بدرګه کښې ئے وآنا کیمپ ته روان کړل۔ غازیانو له اول نه ورته مورچے نیولے وے، ولے کله چه د مړو ژوبلو نه خبر شول نو هیڅ غم غرض ئے پرے اونکړو۔ د فیرنګي پاتے فوځونه یو ځل بیا د محسودو په علاقه کښې خوارۀ شول او په ۲۷، جون ئے د تانګي توئے او شراونے نري په لار د تیارزے سکاوټس پوسټ سره واړه ول۔ په ۲۸، جون وآنا بریګیډ هم تورروام ته روان شو او په تلو تلو کښې د عمرخیلو په کلي کښې د مُلا شیرعلي خان په بمبار شده کور باندے یو ځل بیا وراوختو او وران ویجاړ ئے کړو۔

دَ جون دَ میاشتې دَ تیرو شخړو او ستونځو باوجود غازیان هم هغسې دَ فیرنګی په خلاف پُر عزم او کمر بسته وو. او دَ ملا شیرعلی خان په مشرۍ کښې دَ تیتنې پال (Titanai Pal) په ګرد و پیش او دَ شولم خاصه دار پوستې شمال مغرب ته لوئې لشکر راغونډ شوې وو. فیرنګی دا فیصله اوکړه، چه دَ شیرعلی خان دَ لشکر سره ډغره اووهی. او دَ پروګرام په مطابق ئې په ۲۹ جون فوځونه ورخوشې کړل.

## دَ تیتنې پال ډغره:

دَ جون په یوکم دیرشمه [۲۹] نیټه دَ تیتنې پال په سیمه کښې دَ فوځ او دَ شیرعلی خان دَ لشکر ترمینځه دَ معمولی نوعیت تصادم په نتیجه کښې شپږ [۶] میره فوځیان هلاک او څوارلس [۱۴] میره ژوبل شول. غازیانو ته دَ سپاهیانو وسله هم په لاس ورغله. ولې دَ دې [د] باوجود فوځ تیتنې پال ته ځان اورسولو او په یوه الګړه کښې ئې دَ شیرعلی خان څنګه پیدا کړه. او ورانه ئې کړه.

دَ دې ځائې نه دغه فوځ توړوام کیمپ ته لاړو. دَ شراونګی جګړې نه راپه دیخوا تر تیتنې پال انښتې پورې دَ غازیانو نه هم دیارلس [۱۳] ته شهیدان شول. اوس فوځونو دَ محسودو په علاقه کښې دَ ګرځیدو راګرځیدو نه پسته په څلورم [۴] جولائۍ دَ ترخې الګړې په سیمه کښې په پټ خیلو کلی کښې دَ پیاند خان شهید کور هم وران کړو او کاکش ئې اوسیزلو.

دَ دې نه پس په ۵ جولائۍ رزمک بریګیډ او په ۶ جولائۍ بنوں

بریګیډ دواړه رزمک ته ستانه شول. د غه شان د جنوبي وزیرستان ملیشیا هم بیرته لاړه.

## دَعامې بمبارۍ دپکې :

په تیرو ورځو کښې چه فیرنګي په بارآماند حمله اوکړه او مکمل طور ئې قبضه کړونو په مقابل کښې ورته فقیرایپي هم دَ محسودو په علاقه کښې دَ شپږ[۱۲] وشلو کسانو لشکر راغونډ کړے وو، او فیرنګی ته به ئې پټون وهلو. په کوم ځائې به ئې چه شپه اوکړه، دَ هغه ځائې نه به سحر وختي وتل او ورځ به ئې بل ځائې تیرو له. په دا موقعه دَ فقیر ایپي سره ځلور نامتو او پیاوړي مشران مولانا شیرزمان، فقیر شیرعلي خان، دین فقیر او خونیا خیل ملکري وو.

دَ وزیرستان دَ فوځونو مشر جنرل کولرج سره ویره پیدا شوه، او هر خاص وعام ته ئې وارننګ ورکړو چه په کوم کلي کښې فقیرایپي یا دَ هغو په ځلورو ملګرو مشرانو کښې کوم یو ته هم پناه ورکړے شوه، په هغه به بمباري کولے شي.

## دَ ملک کلاجان او کاکو سرکرمۍ :

په کومو ورځو کښې چه دَ محسودو په علاقه کښې فوځي کاروائي کیدله، هغه وخت دَ سپین وام توري خیلو وزیرو هم دَ ملک کلاجان او کاکو په مشرۍ کښې دَ فیرنګی په خلاف معاندانه سرکرمۍ شروع کړې وے. کاکو دَ جون دَ میاشتے په ړومبو شپو ورځو کښې دَ غزا میدان ته راوتے وو او دَ غازیانو دَ یوې ډلے مشر ټاکلے شوے وو.

ملک کلاجان او کاکو دواړه سره دوستان وو. کوم خاصه دار چه حکومت بخوا مات کړی وو او بیا ئے دے ته راضی کړی وو چه دوئی به بغیر د تنخواه د ایجنسئ پولیس په حیث وظیفه اجرا کوی، کلاجان به د هغوئ د پښیمانه کولو کوششونه کول او د حکومت په خلاف به ئے وران کاری ته لمسول. آخر حکومت مجبور شو او هغه ټول خاصه دار ئے بیا راواوغوښتل، ولے د کلاجان د نغوتے په اثر د یو څو کسانو نه علاوه نور حاضر نهٔ شول.

کلاجان بخپله هم د فیرنګی په خلاف تخریبی کارونه بنا کړل. د ټل (کرم) په سړک ئے د وولامه پُل او داسے د نورو کنډو پُلونو د تباه کولو کوششونه ئے اوکړل. او هم دغه رنګ د ټیلیفون او ټیلیګراف تارونه پریکړے شول او غازیانو یوړل.

فیرنګے د سپین وام د توری خیلو نه ډیر تنګ شو او په ۲۸ جون ئے یو خوا په میرعلی کښے احتیاطاً فوځونه تیار کړل او بل خوا ئے د سپین وام په لوری توچی سکاوټس او ټینکونه ورمارچ کړل. مقصد ئے دا وو، چه هم د ملک کلاجان او کاکو سره دغزه اووهی او هم د وران شوو پُلونو او سړک مرمت اوکړی. د سانګه ساړے پُله پورے توچی سکاوټس په لاریو کښے سوارهٔ یوړے شو. وړاندے د لاریو نه کوز شو او پیاده روان شول. په یکم جولائی توچی سکاوټس او ټینکونه د کلاجان د کور په لوری ورمارچ شول او د کلاجان او د هغهٔ د خپلوانو کورونه مانړئ ئے اونړول. په دے موقعه

غازیانو کلکه مقابله ورسره اوکړه، خو فیرنګے بیا هم دَ طاقت په زور په خپل مرام کښے کامیاب شو۔

## قبائیلی پولیس ته نیمه تنخواه:

قبائیلی پولیس کښے دَ توری خیلو اکثر هغه سابقه خاصه دار وو، کوم چه فیرنګی دَ غفلت په وجه موقوف کړی وو۔ هرکله چه حکومت ته دَ دوی ضرورت پیښ شو، نو دوی ئے راوبلل۔ وَلے دَ بلا تنخواه ملازمت په وجه او دَ ملک کلاجان په لمسه دوی ټولو دَ حاضریدو نه انکار اوکړو. فیرنګے هسے هم دَ فقیرایپي دَغازیانو نه ترپوزے راغلے وو، چه دومره خاصه دار هم ورنه باغی شول، نو زبردسته خطره ئے محسوسه کړه۔ او په ۷ جولائی ئے یو ځل بیا ټول راوغوښتل۔

دا وخت حکومت ته دَ ۶۷۴ کسانو دَ بحال کولو ضرورت وو۔ وَلے دَ کلاجان او کاکو دَ مسلسل مُعاندانه جدوجهد په بنا صرف ۳۹۲ کسان حاضر شول۔ دَ یکم جولائی نه ورته دَ خاصه داری باقاعده نیمه تنخواه منظوره کړے شوه۔ وروستو دغه تنخواه دَ یکم اګست نه زاړه په زاړه شوه۔

## دَ ازلمیر په تاتوبو ناتار:

دَ فقیرایپي دَ هغه لښکر نه لا هغسے ځنے غازیان پاتے وو او دَ بریدونو په نیت کرځیدل په کومو باندے چه په ۱۶ جون دَ شاه ولی الګډه په سیمه کښے حمله شوے وه۔ دَ دغو غازیانو مشر ازلمیر

وو۔ ځائې په ځائې به ئې چپاووونه کول او فیرنګي به ئې د تلفاتو او مشکلاتو سره مخامخ کولو۔

جنرل سرجان کولرج په ۲۵ جون د شاه ولي الکړې تولو کلیو ته د بمبارئ خبردارے ورکړے وو۔ په ۲۸ جون له یو خوا نه د شاه ولي الکړے په کلیو ګوله باري شروع شوه، او له بلې د دے نه جنګي طیارو د میرعلئ او لاکنړو په کلیو کښې دنګے ماڼئ په نخښه کړے او سخته تباهي ئې اوکړه۔

## د غازیانو په عملیاتو کښې تندي:

د وزیرستان غیرتي اولس د فیرنګي ظلم و جبر نه مرعوب نه شو بلکه لا ئې په عملیاتو کښې تندي راغله۔ د دوسلي کیمپ ته چه د اوبو کوم پائپونه تلي وو، هغه پریکړے شول۔ د رزمک، شام او کړیوم په سیمو کښې په ګنړو پیکټونو سختے حملے اوشوے۔ د شینکي په سیمه کښې غازیانو د فوځ د اوبو راوړلو دله راکښیله کړه، او یو شمیر کسان ئې تر ے نه ژوبل کړل۔ د رزانړي په کیمپ او پیکټونو باړونه اوچلیدل، او لور په لور د ټیلیفون تارونه پریکړے شول۔ د دے هر څه نه د پاسه د جولائ د میاشتے د دویم اودریم تاریخ ترمینځنئ شپه غازیانو یوے ډلے د بنوں په پاسني نوے کلي چه د بنوں ښار نه جنوب ېله په پنځلس میله باندے آباد دے حمله اوکړه او د پریمانه مال غنیمت سره سره ئې یو هندو وګے او یوه هندو وګئ هم اغوا کړل۔

## په دیر دوبئ جرمانه :

دَ رزانړی په علاقه کښے چه دَ حکومت په خلاف کوم واردات نه کیدل، هغه سیمه دَ ووزی خیلو وزیرو دَ یو شاخ دیر دوبئ په حدود کښے شامله وه. نو دَ علاقائی ذمه وارئ په وجه حکومت په دوئ باندے دولس ۱۲ میله ټوپک جرمانه اولګوله. دغه شان جرمانه په ملک شاهی کابل خیلو وزیرو باندے هم اولګولے شوه. ځکه چه دَ دوئ اکثر خلق په مختلفو جنګونو کښے دَ حکومت په خلاف جنګیدلی وو. حکومت دَ دوئ نه دَ نیک چلنئ په ضمانت کښے دَ یرغمالو مطالبه هم اوکړه.

## په رازین بمباری :

دَ غازیانو یوه ډله چه اکثر پکښے دَ مکین نه اووه میله جنوب پله دَ رازین کلی جلال خیل محسود وو، دَ حکومت په ضد راپورته شوه. دَ دغے ډلے دَ منتشر کولو په غرض فیرنګی دَ جلال خیلو مشران راوبلل، خو غیرتمنو مشرانو فیرنګی ته سکوت انکار اوکړو، چه نه خو مونږ هلته ورتلے شو او نه ئے منتشر کولے شو. حکومت په دے پوچ ځواب اوقهریدو او دَ رازین په سیمه ئے پرله پسے په اتم ۸ او نهم ۹ جولائی دوه ۲ ورځے بمباری اوکړه.

## په وزیرستان کښے سرکونه :

فیرنګی چه دَ جون او جولائی ۱۹۳۷ء په ړومبو ورځو کښے دَ وزیرستان په مختلفو سیمو کښے فوجی مهمات سرته اورسول نو

دائے ضروری اوګڼله چه اوس هرے اهمے سیمے ته د لارئ د ټګ قابل سړکونه هم تیر کړی - کوم سړکونه چه په پروګرام کښے شامل وو د هغو مجموعی اوږدوالے ۸۷ میله وو، او د حکومت له خوانه ورته د پنځویشت لکو روپو منظوری شوی وه - دغه شان د بیټنو په علاقه کښے هم د تجوړی او نوښکر تنګی په لار د ګبر د سیمے ترکوټ پورے د سړک تیرولو فیصله اوشوه - او مزید شپږ لکه روپئ ورته منظورے کړے شوے -

د دے سره سره د شکتوئ خیساره نه جنوب پله اشوام، مرسنزئ او کړکنړوام پورے د پخوانو سړکونو مرمت هم ضروری اوګڼلے شو - د دے نه علاوه د شام په لوری او د کړیوم په لار د دوسلی شکتوئ په سړک باندے هم په تیزئ سره کار روان وو - په دے کار کښے به ټیکداراتو، مزدورانو او فوځ په شریکه کار کولو -

دغسے د سوئیلی کړیوم نه مدآمیرکلی ته د بروره نزی په لار ترسرا روغه پورے سړک باندے هم په ډیر زور کښے کار روان وو - دغه ټیکه محسودو ته ورکړے شوے وه -

د مجوزه سړکونو نقشه په لاندینی ډول ترتیب شوه:

(۱) د دوسلی نه تراحمدوام پورے سړک به په لاندینو مځو تیریږی - د ابلنکی ورسک او نزی ترمینځه، مځکښے د شام د ډکرو او الکړو په ختیځ لوری - بیا د مد آمیر کلی قطب پله د شکتوئ الګړے د پورے وتو نه پسته د جنوبی او عزبی عزوبو سره سره د بروره نزی

په ختيز لوري ـ

(۲) دَ رزمک او خيسارهٔ سړک به په دا سيمو کښې پُستې شي :ـ

الف: دَ اينګا مال مزی دَ اوړيد و نه پسته دَ شوال الګړے سرو سره جنوب پله په اوچتو رغزو ـ

ب: والادين ته نزدے دَ شکتوئے الګړے دَ پورے وتو نه پسته دَ کړيوم کيمپ، په خوا کښې دَ دوسلی او احمد وام سړک سره ګډون کول ـ

ت: دَ دے ځائے نه تر داکئ الګړے او بيا کوز دَ خيسارهٔ په وادئ کښې دَ بيچی کسکئ ترخوائ شا پورے ـ دَ دغو سړکونو دَ تعمير ابتدا په ۷ ، جون ۱۹۳۷ء اوشوه ـ او تر ۱۲ ، دسمبر ۱۹۳۷ء پورے تقريباً تکميل ته اورسيدل ـ دَ دے سړکونو په جوړولو کښې بے شميره فوځيانو کار کولو ـ ځائے په ځائے به ټيکدارانو او مقامی خلقو هم پکښې مزدوری کوله ـ

## دَ ګاګو دَ کور نړول:

دَ جون دَ مياشتے په آخر کښې چه دَ سپين وام په سيمه توچی سکاؤټس ورا وختلو او دَ جولائی په يکم تاريخ ئے دَ ملک ګلا جان کور مسمار کړو نو دَ حکومت پوره يقين اوشو چه ګوندے اوس به حالات خوشګوار شي، ولے خبره دَ دے برعکس شوه او ورځ په ورځ به حالات خرابيدل. آخر فيرنګی يو ځل بيا په سپين وام باندے دَ فوج کشئ فيصله اوکړه ـ دَ حکومت دا خيال وو چه يو ځو به دَ دته خيلو په کلی کښې موجود

غازیان گرفتار کړی او بل به یو اِغوا کړے شوے هندو برآمدکړی ولے اصلی هدف ئے دَ مشهور مجاهد کاګو کور وو۔ چنانچه په ۱۱ جولائی دَ شیوے او سپین وام قلعو څخه دَ شپے په دوه نیمو بجو ملیشیا ورمارچ شوه او په څلور نیمے بجے ئے دَ دته خیلو دَ کلی نه چاپیره غرونو کښے مورچے اونکولے۔

دَ سپین وام ملیشے ورته دَ کیتو رود قبلئیزه غاړه، او دَ شیوے ملیشئے ختیزه غاړه اونیوه۔ هم په دغه شپه دَ میرانشاه او میرعلی قلعو څخه هم په دوه نیمو بجو سپین وام ته پلټنے او ټینکونه اورسیدل او دَ میرعلی کیمپ څخه هم دَ سپاهیانو یوشمیر ډکے لارئ او ټینکونه ورغلل او دَ تبئ عزهٔ سر او دَ سرویک الګړے شمالی او جنوبی اطراف ئے قابو کړل۔ څنو سپاهیانو دَ ګنډلی نری قطب پله په جګو جګو رغزیو مورچے جوړے کړے۔ او بیا دغه سپاهیان دَ سرویک نری په لار دَ دته خیلو کلی ته ورننوتل او تلاش ئے شروع کړو۔ دَ ورځے تر یوے بجے دَ هغه اِغوا شوی هندو په حقله تلاش جاری وو خو پیدا ئے نکړے شو۔ او تش لاس بیرته ستانهٔ شول۔ په دا موقع غازیانو دَ کمیوتئ په سبب دَ فیرنګی دَ قواؤ مزاحمت اونکړے شو۔ سپاهیانو دَ کاګو کور په بمونو لوخړه او ۲۷ تنه کلی وال گرفتار کړل او بیا دَ جنګی طیارو په حفاظت کښے دَ فوځ او ملیشئے دغه دستے بیرته سپین وام، شیوه، میرعلی او میرانشاه ته لاړے۔

دَ محسودو جرګے : مُلاشیرعلی خان او ملک خونیاخیل چه دَ محسودو

په علاقه کښې دَ انګریزانو په خلاف کومې سرګرمئ جاري کړې وې، دَ هغې نه حکومت ترسپینه مو پورې شوې وو. آخر دَ وزیرستان ریذیډنټ دَ محسودو دَ نمائنده ملکانانو سره په لسم او یوولسم جولائی ۱۹۳۷ء پر لمپسې جرګې اوکړې. ریذیډنټ ته دَ مُلا شیرعلی خان او ملک خونیاخیل دَ شرلو او دَ هغوئ په سرګرمیو دَ بندیز لګولو سخت تاکید اوکړو. دَ ملک موسیٰ خان محسود، کوم چه دَ کال ۱۹۱۷ء نه ترکال ۱۹۲۳ء پورې دَ فیرنګی په خلاف سخت جنګیدلې وو، او دَ افغان حکومت اعزازی نائب سالار وو، په حقله هم ورته ریذیډنټ اووئیل چه:

"دا صحیح ده، چه هغه اوس بخپله دَ انګریزانو په خلاف واردا تونه نهٔ کوی، ولې دَ افغانستان دَ سیمې نه چه کوم غازیان راځی دَ هغوئ دَ استوګنې او میلمستیا انتظامات ضرور کوی۔"

دَ محسودو نمائنده ملکانانو دَ ریذیډنټ په رو برو هرڅهٔ اومنل او په ملک موسیٰ خان، ملا شیرعلی خان او ملک خونیاخیل پسې ئې وفدونه اولیږل۔

دَ فیرنګی دا معمول وو، چه په نهٔ څهٔ حنبره به ئې دَ وزیرو، محسودو، داوړو او بیټنو جرګې رابللې. دا ځل هم چه دَ ریذیډنټ سره کومې جرګې اوشوې، دَ هغې څهٔ خاطرخواه نتیجه اونهٔ وته، ځکه چه دا سې جرګې به ډیرې کیدلې، خو نهٔ به غازیانو دَ ملکانانو

جرګو ته څهٔ اهمیت ورکولو او نهٔ به ملکانانو دَ فیرنګی احکام دَ قرآن
تکی ګڼل. دغه وجه وه چه یو خوا خو فیرنګی دَ ملکانانو په ذریعه
دَ ملک موسیٰ خان، ملک خونیا خیل او ملا شیرعلی خان دَ قلارولو
کوششونه کول او بل خوا مُلا شیرعلی خان په فیرنګی باندے دَ منظمے
حملے پروګرام ترتیبولو.

## دَ آسمان مـــنزیٔ جګړه:

ملا شیرعلی خان به په فیرنګی باندے دَ برید کولو په ترڅ کښے
کله دَ محسودو دَ بربدر په مضافاتو کښے موقع لټوله او کله به دَ
شراونګی نری جنوب پله. آخر په ۱۲/۱۳ جولائیٔ ئے دَ آسمان منزیٔ
کیمپ په یو پیکټ په درے نیمے بجے شبخون اوکړو. دغه پیکټ دَ
کیمپ نه اتیا ګزه لرے وو او اُولس تنه سپاهیان پکښے موجود وو،
چه په یوه خیمه کښے اوسیدل. دَ پیکټ نه چاپیره دَ ګټو بیزل تاؤ
شوے وه. او دَ بیزلے نه چاپیره دَ ازغیچنو تارونو جال غوړیدلے
وو. خیمه دَ چاپیره بیزلے په مینځ کښے لګیدلے وه. او دَ بیزلے دننه
به څلورو سنتریانو پهره ورکوله. توریالی غازیان پټ په پټه دَ
پیکټ تر بیزلے وراوښوئیدل او دَ پیکټ په سپاهیانو ئے یو دستی
بم ورګزار کړو. دَ بم دَ چاؤدنے سره په پیکټ کښے کښ سپاهیان
ټپیان او یو سنګلر هلاک شو. کوم سپاهیان چه روغ وو هغوئ
هم په غازیانو جوابی بمونه وراوغورځول. دغه بمونه دَ پیکټ نه
چاپیره تارونو کښے اولګیدل او تارونه ئے تاسکے واسکے کړل. داخل

غازیانو دَ یوخوا نه بیا پرے بمونه ورګزار کړل او له بلے خوا نه ئے دَ ټوپکو بارونه پرے اوچلول ۔ او دَ دے سره ئے سمدستی په هغو شلید لیؤ تارونو کښے تر بیزلے ځانونه ورا اورسول، پیکټ ته ورواوریدل او دَ فوځیانو سره په چاړو، سنګینونو، کانړو، ګټو او تمتر پہ تمتر اونښتل ۔ او دَ یو ے ګهړئ تاؤدے جګړے نه پسته غازیان بریالی شول او دَ پیکټ په سپاهیانو کښے شپږ تنه هلاک شپږ کسان مرګونی او څلور تنه سخت زخمیان شول چه یو برځیرن پکښے پټ په پټه کیمپ ته ځان اورسولو ۔ غازیانو پنځلس میله ټوپک، یو مشین ګن، اته ویشت دانے دستی بمونه، یونیم زر کارتوس او پریمانه مال و متاع ولجه کړو ۔ او له خیرے سالم او غانم لاړل ۔

## دَ شینګی خیلو محاصره :

دَ آسمان منزئے په پیکټ چه توریالو غازیانو زړونه یخ کړل او دَ پریمانه مال غنیمت تر لاسه کولو نه پس بیرته روان شول نو دَ پیکټ څخه چه کوم برځیرن ویشتلے شوے سپاهی په کرشید و کرشید و کیمپ ته ځان رسولے وو، هغے چغه وربسے راګډه کړه او دَ سترګو په رپ کښے فوځ دَ شینګی خیلو محسودو قاړون ګوړون او بوئی خیلو کلیؤ نه محاصره اوکړه او په هر کور، حجره او کنډر کښے ئے دَ غازیانو او ولجه کړے شوی سامان پلټنه شروع کړه ولے هیڅ ئے مونډه نکړے شول ۔ البته اوولس تنه کلی وال ئے دَ یرغمالو

په طور اوبنیول - څلور ورځې پس حکومت دَ نزدے نزدے علاقو ملکانان هم راوبلل او ورته ئے اووئیل چه :

"چونکه دَحکومت په موجوده مالی جانی تاوان کښې دَ کانی کرم او مَردار الکړے خلقو لاس وو نو دوئ ته دا آخری نوټس ورکولے شی، چه دَ هغو حمله آورو شناخت او دَ ټوپکو دَ برآمد کولو کار دِے تر شلم[۱] اگست پورے سرته اورسوی ."

څو ورځے پس حکومت ته دا پته اولګیده، چه دَ فوځیانو نه وړی شوی غونډ ټوپک دَ مُلا شیرعلی خان سره دی او هغه لګیادے خرڅوی ئے - فیرنګی خپلے هلے ځلے اوکړے خو کامیاب نهٔ شو، او عاقبت دا چه دَ مُلا شیرعلی خان په قوم ئے دولس[۲] میله ټوپک او شپږ سوه روپئ جُرمانه اولګوله -

## دَ فقیرایپی پریکړی سر ته تګ :

لکه څنګه چه مخکښے ذکر شوے دے، چه کله فقیرایپی دَ ارسل کوټ نه لاړو نو په یو ځائے به ئے قطعًا تینګار نهٔ کولو او همیشه به ئے خپل مسکن په گردش کښے ساتلو - دَ میاشتے په نیمائی کښے فقیرایپی دَ سیوغر په سلسله کښے او دَ شابی خیلو محسودو علاقے دَ پریکړی سر په قطبی او قبلئیز لونګونو کښے سکونت اختیار کړو - په دے ځائے کښے تولے پنځهٔ شپږ څښځے وے - یوه څښځه دهٔ خپل کور ته مخصوصه کړے وه، او باقی څلورو کښے ئے یوه دَ جومات او دوه[۳] دے دَ

میلمنو دَ قیام و طعام دَپاره او تهاکلے۔

دغه سیمه یو داسے مینځوما نه ځائے وو، چه محسود، وزیر، داوړ او بیټنی به ورته په آسانه راتلے شول۔ دغه شان به دَ کوز شکتوئ توری خیل، دَ بنوں دَضلع سربازان او دَخونیاخیل او په ګبر کښے دَ دین فقیر غازیان هر وخت وررسیدے شول. بله دا چه دغه ځائے دَ فوځونو دَ ناڅاپی حملو څخه هم په ډډه وو۔ دَ کړاشتی (KARESTA) او شکتوئ الګړو دَ یوځائے کید و مقام سره دغه ځائے وُلی تنګی ته نزدے وو۔

دَ فقیر ایپی دغو څمڅو ته چه کومے لارے تلے وے هغه ډیرے تنګے، خطرناکے او دَ اوبو بوټو څخه ډکے وے او غازیانو به شپه ورځ دَ غرونو په څوکو پیکټونه لګولی وو او پهره به ئے کوله۔ فقیر ایپی چه مکمل طور دلته استوګن شو او په ۲۰ جولائی ئے عام لنګر جاری کړو، نو اوس بیا دهٔ دَ انګریزانو په خلاف عملیات شروع کړل۔ خلقو ته به ئے دَخاصه داریٔ نه دَ مستعفی کیدلو، او دَ انګریزانو په خلاف دَ غزا کولو تاکید کولو او دَ دے سره سره به ئے توری خیلو او مامیت خیلو وزیرو ته دا هم وئیل چه:

"تاسو په اوړی کښے رزمک ته کډے مهٔ راولئ.
ځکه چه ما په سرهٔ دار الګړ کښے دَ رزمک کیمپ دَ
اوبو په پائپونو باندے دَ حملے کولو پروګرام جوړ کړے دے"۔

دغه شان دوئ دَ افغانستان دَ پکتیا توریالو ځوانانو ته هم دَ جهاد

دعوت ورکړلو. شوال او شکی ته ئے هم خپل بروښی اولیږل. او څنے ئے دَ وانا په لوری هم روان کړل، چه دَ انګریزانو په خلاف خلق راوچت کړی.

څو ورځے پس دَ وزیرو، محسودو، داوړو، بنوڅو او دَ افغانستان دَ سیمے ډیر خلق پریکړی سرته ورچلاند شول. دَ قیام طعام اعلیٰ بندوبست وو. خلقو به ورته دَ لرے لرے ځایونو نه دَ چندے په طور نقد وجنس راوړل. فقیرا یپی په روښی ځل دَ بیت المال دَ حساب وکتاب ساتلو دَ پاره یو منشی مقرر کړو، او دَ بیتمو څخه ئے دَ ځلوښتو تنو بادی ګارډ هم بهرتی کړو، چه باقاعده به دَ بیت المال څخه معاش ورکولے شو.

## دین فقیر دَ کماندر انچیف په حیث

دَ فقیرا یپی مستقله قوّلی په څو ورځو کښے تقریباً تردوو سوو پورے اورسیده او دین فقیر ئے کماندر انچیف اوټاکلے شو. فقیر ایپی دهٔ ته یو خاص سورکوټ چه بنګلی بیجونه پرے لګیدلی وو، ورکړو. یو توپ ئے هم ورته اوسپارلو، کوم چه په میرو غنه کښے جوړ شوے وو. دَ توپ نه علاوه ئے دَ شوال نه وړپسے یو څو منه ګوګړ او دَ توپ غونډاری هم ورواستول. دغه ګوګړ او غونډاری په ارګون کښے دَ امان الله خان په خلاف هلو ځلو کښے نیولی شوی وو. دَ کماندر انچیف عهده حاصلولو سره دین فقیر دَ غازیانو واړهٔ واړهٔ ټولګی تشکیل کړل او لاندینی خصوصی هدایات ئے ورته واورول چه:

"تاسو دَ سړک دَ ژغښتے په فوځ بريد ونه او دَ غزوتو دَ څوکو نه وربانده بارونه چلوئ او په ټولو پيکټونو عمومًا او دَ ډمډيل او دوسلی ترمينځه خصوصًا غدئ اچوئ"

دَ دين فقير دَ هدايانو په تعميل کښے غازيانو دَ سيدګی دَ پوستے په يو پيکټ بانده بريد اوکړو۔ او يوغت انګريز افسر او دوه[۲] سپاهيان ئے اووژل۔

سربيره له دے نه هغه فوځيان خو به هر وخت ورزيدل کوم چه دَ سړک دَ مزدورانو حفاظت کولو۔ دَ دغسے سنګين صورتِ حال څخه فرنګی ډير تنګ شو، ولے چه هره ورځ به يو څو سپاهيان وژلے شول۔ دَ مياشتے په آخر کښے دغو وارداتونو دَ رزمک او شام په سيمو کښے لا زور واخستو۔

دَ بيټنو په علاقه کښے دين فقير هم دَ سړک دَ تعمير په خلاف پروپيګنډه شروع کړے او دَ اکاخيلو قام چه کوم يو مشر حکومت ګرفتار کړے وو، دَ هغه دَ خلاصون په حقله ئے زور لګولے وو۔ او دَ سراروغه او جنډولے سکاوټس په قلعو ئے دَ حملے کولو پروګرامونه جوړول۔

دَ فقيرايپی ورور شير زمان په تيراه کښے دَ اورکزو قبيلو سره دَ کمک غوښتلو په باره کښے مذاکرات کول۔ او هم دغه شان فقير ايپی دَ ملا پاونده دَ حوئے شهزاده ملا فضل دين او دَ شيوے فقير يسين ګل

(یاسین کل) کوموچه نهٔ خو اعلانیه دَ تاجِ برطانیه مخالفت کولو او نهٔ حمایت، دے ته مجبورول چه دَ انګریزانو په خلاف دَ جهاد کولو برملا اعلان اوکړی، خو هغوئ دے ته تیارېدے نهٔ شول.

## په کارکنړوام باندے یرغل:

فیرنګی ته چا جاسوسی کړے وه، چه په کارکنړوام کښے دَ فقیر ایپی دَ غازیانو یوه تکړه ډله موجوده ده او پریمانه راشن ئے خوندی کړے دے. فیرنګی دَ هغو غازیانو دَ نیوو او راشن تباه کولو په سلسله کښے په کارکنړوام دَ حملے فیصله اوکړه. دَ کارکنړوام کلے دَ درے غونډاری او خیسارهٔ سړک نه شپږ میله لرے دَ پریکړی سر نه په څلور میله فاصله باندے واقع دے. فیرنګی دَ ۲۳ او ۲۴ جولائی ۱۹۳۷ء په منځنئ شپه دَ تینکونو په ملاتړ سره دَ میرانشاه نه ملیشیا او دَ بنون نه بارډر پولیس ورمارچ کړو. دغه قوتی چه دَ درے غونډاری او خیساره په سړک واقع سین تنګے ته اورسیده نو سپاهیان دَ لاریو نه کوز شول او پیاده روان شول.

تقریبًا په دوه نیمو بجو ځینو سپاهیانو دَ کارکنړوام کلی نه چاپیره مورچے اولګولے او ځنے په کلی ورګډ شول او هر څهٔ ئے لټ په لټ واړول. خو نهٔ دَ فقیر ایپی غازیان په کوتو ورغلل او نهٔ راشن بلکه خلقو ځوا کلے خالی کړے وو. سپاهیانو ایله

دَ غلے شل تش غونډی مونده کړل۔ او اور ئے ورته کړو۔ په پینځ نیمو بجو بارډر پولیس او ملیشیا واپس شول، خو په تلو تلو کښې غازیانو ترے دوه تنه مړهٔ او اووهٔ کسان ژوبل کړل۔

## په پریکړی سر بمباری :

فیرنګی چه په کارکنړوام کښې څهٔ بوده اونه کړے شوه، نو په پریکړی سر ئے دَ بمبارئ کولو فیصله اوکړه۔ ړومبے ئے دَ پریکړی سر په سیمه کښې په غازیانو دَ وارننګ نوټسونه اوغورځول، او بیا ئے په یکم اګست پرے بمباری اوکړه۔ دَ بمبارئ په وخت فقیر ایپی په خپله څمڅه کښې موجود وو۔ او دَ اګست په دریم تاریخ ئے دَ هغے ځائے نه اولیږدل۔ او دَ شوئیدر غرهٔ په لار، چه دَ رزمک نه تقریبًا اتهٔ میله شمال مغرب ته ده، دَ مداخیلو په علاقه کښې لمنزے سر ته واوړیدو۔

# دُ فقیر ایپي مَنديح ته تګ

په وزیرستان کښې دُ برطانوي حکومت په خلاف دُ اولس معاندانه اقداماتو او په مقابل کښې په دوئ باندې دُ فیرنګي دُ وحشت او بربریت نه ډکې انتقامي کارروایئ حکومت دُ زښتو مشکلاتو سره مخامخ کړے وو. بله چاره ئې اونهٔ لیده، په زمکه لاندې ئې دُ افغان حکومت سره دُ فقیر ایپي مخقله یو منافقانه سازباز جوړ کړو. چنانچه دُ منديح اوسیدونکے المجاهد ملک محمد موسٰی خان محسود چه دُ افغان حکومت له خوا نه اعزازي نائب سالار وو، دُ پیر محمد (ع. ش فرقه مشر) په واسطه دُ افغان صدراعظم سردار محمد هاشم خان له خوا نه دُ لاندینی متن یو مکتوب وصول کړو.

"ع ۴۷ ۱۰۰/۱۱ ۱۰ سنبله ۱۳۱۶ ش ع ع ش

ګرانه موسٰی خان نائب سالار صاحبه ! جناب فضیلتمآب حاجي صاحب میرزا علی خان او دُ وزیرستان شهزاده !

دُ ۱۳۱۶ کال دُ اسد په شپاړسمه ورځ دجُمعې دُ نمانځه نه وروستو صدراعظم ماته په ټیلفون لارښودنه اوکړه چه لومړی تاسو ښاغلوته دُ والاحضرت سلام اورسوم او بیا دربانده زیرے اوکړم چه دُ افغانستان مهربان حکومت دُ پیرنګی حکومت دے ته اړ کړے دے چه دُ پښتونولئ دُ پت اوننګ سره دُ سمه دُ وزیرو محسودو سره صلح اوکړي. پیرنګی حکومت دُ

افغانستان سره ژبه کړې ده چه چیل لشکر او پوځونه دَ وزیرو محسودو له خاوړې نه اوباسي، خو دا هله چه دَ وزیرو محسودو خلق پرې یرغل او بلوڅه اونه کړي - فیرنګی دې ته هم غاړه ایښې ده، چه بیا به چرې هم دَ وزیرو محسودو په مذهب، عزّت او ننګ وناموس پورې نه لګیږي - اوس تاسو ته پکار دي، چه دَ صلحې دَ شرطونوله تر رسیدلو پورې قرار کښینئ او لاس وړ پښې اونه خوزوئ - دَخدائ په پیرزوئینه اودَ افغانستان دَحکومت په هلوځلو چه نن زمونږ ورونړو ته دَ پښتو، ننګ او دین په باب کومه بریئ او سوبه حاصله شوې ده دا دَ افغانستان ډیره پخه او بخوانئ آرزو وه او دا یو ډیر لوئې خدمت دې چه دَ افغانستان حکومت تاسو دپاره اوکړو، او دَ دې مطلب دپاره نن که خیروي مونږ او دَ وزیرو محسودو خلق بریالی شو - تاسو ته چه په دې باب ما لومړې پوره پوره تفصیل درلیږلې دې، هغه له سترګو لاندې اونیسئ او ځان په حوصله اونیسئ چه افغانستان پیرنګی ته خړ سترګې او کوز سترګې نه شي ع۱ -

ع - ش - پیر محمد خان تره خیل"

ملک موسٰی خان ته دَ سردار محمد هاشم خان خط هغه وخت رسید لے وو، چه فقیرایپي لا ملنزې سر ته نه وو تلے، نو ده یو خوا

---

ع۱ دَخیلواکئ جهګړې صفحه نمبر ۷۶ - ۷۷ -

فقیرایپي رح ته د رارسیدو په وړومبۍ ورځ د منډیچ د تلو بلنه ورکړه۔ بلخوا ئې فیرنګي خبر کړو چه ما فقیرایپي رح او د وزیرستان یو شمیر ملکانان اومشران رابللي دي، چه که ممکنه وي چه د صلحې یو څ جوړ شي۔

ملک موسٰی خان چه د افغان حکومت له خوا نه د فیرنګي او د فقیرایپي رح ترمینځه د صلحې کوشش کولو په حقله فقیرایپي رح خبر کړو، نو هغهٔ ته دا خبره ناشوني بنکاره شوه، خو بیا ئې هم غاړه ورته کیښوده۔ د فقیرایپي رح دا خیال وو چه که صلح اونهٔ شي هم، خو کوم خلق چه دلته راغونډ شي په هغوئ باندې به د دهٔ د مجاهدانه تبلیغ اثر ضرور پریوځي نو ځکه دهٔ موسٰی خان ته "هو" اوکړل۔

ملک موسٰی خان د افغان حکومت په خوښه د کانفرنس دپاره وړومبې ځائې ارګون ټاکلے وو، ولے وروستو افغان حکومت دغه ځائې رد کړو او دهٔ ته ئې اووئیل چه کانفرنس دې په شوال کښې اوشي۔ چنانچه ملک موسٰی خان دغه کانفرنس په ۱۶/ اګست سنهٔ ۱۹۳۷ء د شوال په مانړه نومې ځائې کښې چه د منډیچ نه شمال مغرب پله او وهٔ میله پرتاؤ لري اوټاکلو۔ فقیرایپي رح هم په ۱۰/ اګست د منډیچ نه روان شو او په قلار قلار اوبلن ته اورسیدو۔ هلته ئې په ۱۴/ اګست د جمعې په ورځ په زرګونو نفوسو مشتملې مجمعې ته د جهاد په حقله تقریر اوکړو۔ او بیا نیغ مانړې ته لاړو په ۱۶/ اګست په مانړه کښې تقریباً شپږ زره نفوس راجمع شوي وو چه په هغوئ کښې ګڼ علماء، سیدان، ملکانان او غازیان شامل وو او نامتو هستئ په کښې په ځان فقیرایپي رح، شهزاده فضل دین، د شیوې فقیر

یٰسین گل، ملک آیوب او دَ افغانستان دوه نور اعرازی نائب سالاران عبدالله خان عرف ماریتانی مداخیل وزیر او سادے خان شمن خیـــل محسود وو۔

دَ فیرنګی سره دَ صلحے دَ شرطونو پحقله یو تربله بحثونه شروع شول دَ طویلو مذاکراتو نه پسته جرګے دَ صلحے په ضمن کښے دَ شرائطو دَ تجویز کولو واک و اختیار فقیر ایپیؒ ته ورکړو او هغوئ دَ مولوی محمد ظاهر شاه په لاس لاندینی شرائط نوشته کړل۔

۱- اسلام بی بی به بیرته مسلمانانو ته حواله کولے شی۔

۲- په وزیرستان کښے به شرعی احکام اجرا کولے شی۔

۳- انګریزان به مستقل طور دَ وزیرستان نه اوځی۔

۴- دَ جنګ په دوران کښے چه هرڅومره وزیرستانیان قید کړی شوی دی، هغه به خلاصولے شی۔

دَ دے نه علاوه دَ غازیانو یوه درنه جرګه دَ فیرنګی سره دَ مصالحتی مذاکراتو دپاره اوتما کلے شوه او دَ افغان حکومت دَ فرمان دَ اثر لاندے دا کانړے کیښودے شو، چه دَ جرګے دَ راستنیدو او دَ روغے جوړے دَ حالاتو ترڅرګندیدو پورے به نه څوک دَ فیرنګی فوځ ته لاس اچوی او نه به ئے په چهاونړیو بلوڅه کوی۔ په آخر کښے فقیر ایپیؒ پاڅیدو په اُس سور شو او ټولو خلقو ته ئے اوویل چه :

" زمونږ او دَ فیرنګی ترمینځه هله امانیت برقرار پاتے کیدے شی چه حکومت زمونږ سره دَ اسلامی قوانینو په مطابق موافقه

اوساتی - بله دا چه که فیرنګي زمونږ دَ مصالحتی شرائطو په باره کښې دَ افغان حکومت سره دَ مکر و فریب وضع اوکړی نو زه به دَ حکومت دَ مُخاصمت نه لاس وانه خلم"۔

ده دَ خپل تقریر په دوران کښې دَحاضرینو نه هم اوپوښتل چه؟ "که چرے زه دَ فیرنګی په خلاف جهاد ته دوام ورکول غوره اوګڼړم، نو تاسو به زما حمایت کوئ که نه؟"

ټولو په یوه خوله ورته اوویل چه "هو کوو به ئے" دَ دے نه پسته فقیر ایپی رح خلقو ته رخصت ورکړو او ورته ئے اوویل چه اوس تاسو خپلو خپلو کورونو ته لاړ شئ - ترڅو پورے چه افغان حکومت مونږ ته دَ فیرنګی له خوا نه زمونږ دَ شرطونو ځواب نه وی رالیږلے ترهغے تاسو په فیرنګی هیڅ تعرض مه کوئ او دَ ځواب په راتلو کښې به ضرور یو څو هفتے وخت اولګی -

فقیر ایپی رح دَ خپلو مصالحتی شرائطو دستاویزات دَ خپلو لاندینو مشرانو خلیفه مولانا غازی میرجان، عبدالحبیب عرف تحویلدار، مولوی محمد ظاهر شاه، قاضی محمد امیر شاه محسود او غازی محمد اکبر خان په لاس شاه ظاهر شاه ته واستول -

دَ فیرنګی دَ وتلو افواه :

فقیر ایپی رح چه کله دَ بریکړی سر نه کړه اوکړه او په شوال کښې ئے دَ افغان حکومت نمائندګانو په واسطه دَ فیرنګی سره مصالحتی خبرے شروع کړے نو په وزیرستان کښې دا مشهوره شوه چه فیرنګے وزیرستان خالی کوی -

سره دَ دے چه دغه وخت هم فوځونه یو خوا بلخوا ځمبیدل، ولے بیا هم دَچا پرے دا یقین نه کیدو، چه ګنی فیرنګے به پاتے شی۔

دغه افواه څه وه، چه فیرنګی ته هر سړے زمرے شو، ملکانان او خاصه دار هم ترے نه بڅویل شول۔ لور په لور هنګامے راپورته شوے عن چه په بخو ضلعو کښے هم ځائے په ځائے بریدونه شروع شول۔

## دَ اینګامال بریدونه :

دَ رزمک په سیمه کښے غازیانو دَ اینګامال غره په پیکټونو باندے متواترے درے ځله په ۲/ ۴/ او ۱۰/ اګست حملے اوکړے او څوارلس تنه سپاهیان ئے قتل او پنځه تنه ژوبل کړل۔

دغه شان دَ بخو ضلعو په ګنړو کلیو هم غدئ واچولے شوے او دَ هندوانو او سرکاری املاک ته زیښت تاوان اورسولے شو۔ په دغو حملو کښے یو هندوا ووژلے شو او نهه کسان ژوندی اغوا کړے شول۔ فیرنګی به که هر څو لارے ګودرے ورته نیولے خو غازیان ئے لاندے کولے نه شول۔ یو ځل چه دَ خیرو خیلو خوا کښے غازیانو په سرکاری رساله حمله کوله نو هغه وخت ئے د فوځیانو سره سخته مقابله راغله او په نتیجه کښے پنځه سپاهیان هلاک او درے تنه سخت ژوبل شول۔

## دَ پاکے لیټے سر برید :

هم په دغه سلسله کښے چه هر کله په ۸/ اګست بنون بریګیډ دَ لدهے نه رزمک پله روان وو، نو دَ تاوډَے چینے په قطبی اړخ دَ پاکے لیټے سر سره جوخت څلویښتو غازیانو راایسار کړو۔ سخته جهګړه اوشوه او په

نتیجه کښې دَ فوځیانو دلورې نه اتهٔ تنه قتل او څلور تنه مرګونی شول چه یو په کښې فیرنګے افسر لیفټیننټ پی۔ ډبلیو۔ پی ګرین (LT. P. W. P. GREEN) هم شامل وو۔

## دَ مدا میرکلی انښته:

سره دَ دے چه په دے شپو ورځو کښې فیرنګے دَ غازیانو دلاسه زښت په ترار وو۔ هر وخت به حملے پرے کیدلے او تاوانونه به ورته رسیدل، ولے دَ دے باوجود به هم په قلار نهٔ کښیناستو او برله پسے به ئے دَ سړکونو په تعمیر زور لګولے وو۔ دَ دوسلي او کرپوم ترمینځه چه دَ موټرونو په کوم نوی سړک باندے کار شروع شوے وو، هغه تکمیل ته رسیدلے وو او په ۱۲/ اګست دَ عام ټریفک دپاره پرانستلے شوے وو۔ دغه رنګ په نورو سړکونو باندے هم په تیزئ سره کار روان وو۔ لور په لورِ دَ فوځیانو کیمپونه، پیکټونه او ګشتونه هم جاری وو۔ هم په دغه سلسله کښې چه دَ زیر تعمیر سړکونو دَ زغشتے په ترځ کښې توچی سکاوټس دَ مدا میر کلی کیمپ آباد کړو او دَ پیکټونو دَ قائمولو دپاره سپاهیان بهر اووتل نو په لار کښې غازیانو راګیر کړل او دَ تکه ئے پنځه تنه هلاک او درے تنه ژوبل کړل۔

## دَ خونیاخیل دَ نیوو هڅه :

کله چه په شوال کښې دَ فقیر ایپی رح کانفرنس کیدلو هغه وخت ملک خونیاخیل هلته موجود نهٔ وو او دَ فیرنګی په خلاف به چه کوم ځائی معاندانه فعالیتونه کیدل، په هغو کښې به شامل وو۔ فیرنګی هم جاسوسان

پسے لګولی وو او په ۱۵/ اګست نے دَده دَ نیوو په هڅه کښې جنتے ته نژدے دَ بادآوی کلی نه چاپیره ګهیره واچوله ، خو جنوبی وزیرستان سکاوټس دَ زبردست تلاش باوجود هم ملک خونیاخیل پیدا نه کړے شو او بیرته خړ مخے لاړو۔

دَ سیډنې قتل :

دَ دغو مخاصمانه سرګرمیو په دوران کښې دَ دوسلی په سیمه کښې په ۱۷/ اګست دَ فوځیانو او غازیانو ترمینځه یوه شخړه اونښته او یو انګریز افسر لینرډ سیډنی نے L/CPL· LEANARD SYDNEY سره دَ شلورو سپاهیانو او وژلے شو او غازیان سلامت پخپله مخه لاړل۔

## دَ محسود وجرګے

یو بله په شوال کښې دَ فقیرایپیؒ او انګریزانو ترمینځه دَ افغان حکومت په توسط مصالحتی مذاکرات روان وو ، بلخوا په وزیرستان کښې دَ انګریزانو دَ وتو افواهګانے ګرمے وے او لور دَ لوری نه چپاوونه وربانده کیدل۔ فیرنګی چه دَ حالاتو جاج واخستو نو خطره نے محسوسه کړه او دَ محسودو دَ سیمے بهلولزئی ، غلیزئی او شمن خیل قامونه نے پرله پسے په ۲۴/۲۵/ او ۲۶/ اګست راوغوښتل او په تهینګه نے ورته اووئیل ، چه انګریزان هیڅکله هم دَ وزیرستان نه دَ تلو اراده نه لری او نه دَ چا په مذهبی چارو کښې کوم مداخلت غواړی۔ دغه شان حکومت نه په ملکئ کښې دَ ردوبدل خیال لری او نه په خاصه داری کښې کمے زیاتے غواړی

دَ دے هرڅه نه علاوه فيرنګي دَ محسودو مشرانو ته يو نوے حکم دا واورولو چه حکومت دَ محسودو ځينے علاقه "محفوظه علاقه" (PROTECTED AREA) تصور کړے ده -

په دغه محفوظه علاقه کښے به دَ محسودو هغه ټول کلی شامل وی دَ کومو بارانی اوبه چه دَ شوره او سپين کمر الګړو ته وربهيږی - او دَ شکرکوټ خاصه دار پوسټ سره هغه ټول کلی چه اوبه ئے تاودے ځينے الګړے ته ورګډيږی - دَ دے نه علاوه دَ حکومت ټول سړکونه او ..... پوستونه به هم دَ محسودو په محفوظه علاقه کښے ګڼړلے شی - جرګه ايرزو خلقو ته دَ محفوظے علاقے وضاحت په دا سے ډول اوشو -

۱- پولټيکل ايجنټ به دَ قبائلی جرګے په تعاون سره دَ قبائلو هر قسمه معاملات او تنازعات دَ رواج يا دَ شرعی قانون په مطابق فيصله کوی

۲- هغه مقدمات به دَ دے نه جدا ځيرګڼړلے شی، کوم چه دَ بنځو يا حکومت سره تعلق لری - ټول دائر شوی مقدمات به دَ حکومت له خوا نه دَ قبائلی جرګے په ذريعه دَ ايف سی آر زير اثر فيصله کولے شی

۳- دَ هغو ټولو علاقو حفاظت او په هغوی باندے دَ بيرونی حملو ذمّه واری به دَ سرکار وی کوم چه په محفوظه علاقه کښے شامل دی -

۴- په موجوده حالاتو کښے به ماليه او مستقله انتظاميه نه حاوی کيږی

۵- دَ حکومت له خوا به دَ محفوظے علاقے دَ بهبود دپاره خصوصی توجّه ورکولے شی -

په آخر کښے ورته دَ حکومت له خوا نه په دوی باندے عائدے

شوے جرمانے واؤرولے شوے :

۱- په بهلولزو محسودو باندے شپاړس زره (۱۶۰۰۰) روپئ اوڅلورسوه (۴۰۰) میله ټوپک -

۲- په غلیزو محسودو باندے هم شپاړس زره روپئ اوڅلورنیم سوه میله ټوپک -

۳- په شمن خیلو محسودو باندے اته زره روپئ او اوه نیم شله میله ټوپک -

۴- د آسمان منزے کیمپ په پیکټ باندے د تازه حملے په وجه په عمرخیلو شاخ باندے مزید پنځه سوه روپئ او شل میله ټوپک جرمانه اولګیده او هر یو قام ته د روپو او ټوپکو داخلولو دپاره لس ورځے مهلت ورکړے شو -

دوئ ته دا هم په ګوته کړے شول چه په سرکاری سړک روان سړے به ټوپک په کځوره کښے ساتی - جرګه چه ختمه شوه نو د محسودو ترمینځه یوه ناچاقی راپورته شوه - څوک د جرمانے د داخلولو په حق کښے وو او چا ئے مخالفت کولو، ولے د زښت کش وګیر نه پسته ټول په یوه خوله شول او جرمانه ئے راغونډه کړه، مګر د داخلولو په وخت تقریباً دولس فیصد ټوپک بیخی ناکاره او وتل - او د هغو په بدل کښے حکومت په دوئ مزید -/۷۹۸۰ روپئ جرمانه اولګوله - دوه هفتے پس د محسودو په خیر د وزیرو داوړو جـــــــــــــــرګه هم راوبللے شوه -

## دَ وزیرو داوړو جرګه :

فیرنګی په ۱۰/ ستمبر ۱۹۳۷ء دَ وزیرو داوړو جرګه هم میران شاه ته راوبلله او هغه دَ محسودو په شان احکامات ئې ورته واورول. حکومت دوئ ته هم په لاندینی ډول "محفوظه علاقه" په ګوته کړه.

۱- دَ وزیرو ټوله هغه علاقه چه اوبه ئې تاوړدے چینے الګړے ته لوېږی.

۲- دَ وزیرو هغه علاقه چه اوبه ئې خیساره الګړے ته ګډیږی.

۳- دَ وزیرو داوړو هغه مشترکه سیمه چه دَ دریځ واستے نه دَ دته خیلو شمال مشرق پله دَ بنوں ضلعے تر بریډ پورے چه اوبه ئې رودِ توچئ ته بهیږی او دَ وزیرو داوړو ټول سرکاری سړکونه او پوستونه هم "محفوظه علاقه" اوګڼل شوه.

دَ دے نه علاوه حکومت په شریکه جرمانه هم ورته واوروله. چه په هغې کښے شل زره روپئ نغدے او شل دپاسه څلورسوه میله ټوپک شامل وو. وزیرو داوړو دغه دواړه توکه تر ۱۹/ ستمبر پورے حکومت ته تحویل کړل، خولکه څنګه چه دَ محسودو ټوپک ناکاره وو، دغه شان دَ وزیرو داوړو ټوپک هم دَ کار نهٔ وو او حکومت دَ هغې په عوض کښے په دوئ مزید-/۵۶۰۰ روپئ جرمانه اولګوله.

## دَ فقیرایپئ غیمبکی ته تګ :

فقیرایپئ چه دَ مانړے څخه خلق رخصت کړل، نو څو ورځے پسته پخپله هم په ۲۲/ اګست په غیمبکی کښے میشته شو. داځائے

په خینه KHINA الګړ کښې د منړے نه شمال مشرق پله واقع دے - دلته یو څو خیږدے وے او دا ځائے د وتلیو پوزو له کبله د هوائی حملو نه محفوظه وو -

په بیټنو بله بمباری :

د اګست په وړومبو ورځو کښې چه کومے غدئ اچولے شوے وے په هغو کښې اکثر بیټنی خلق شامل وو - حکومت په ۱۷ / اګست د دوئ جرګه ټانک ته راوبلله او د بیټنو مشرانو ته ئے اوویل چه د دانا او ټته بیټنو ځلور شاخونه به علاقه سرکار ته نه شی داخلیدلے - دغسے د سرکار په علاقه کښې د ننه د دوئ ټول فصلونه هم ضبط کړی شوی دی او د ۲۰ / اګست نه پس که چرے د دغو علاقو اوسیدونکی د سرکار په علاقه کښې اولیدے شی نو ګرفتارولے به شی -

په ۲۰ / اګست په دوئ باندے دا نوټیسونه هم اوغورځولے شول چه که چرے تاسو تر ۲۷ / اګست پورے ټول اغوا کړی شوی هندوان برامد نه کړل نو په تاسو به سخته بمباری کولے شی - د بده مرغه د بیټنو مشران د مغویانو په برامد کولو کښې کامیاب نه شول او فیرنګی په ۳۰ / اګست سخته بمباری پرے شروع کړه او د دے سره سره ئے د منزئ په سیمه کښې هم په ځینو چونړ شوو ځایونو باندے بمباری اوکړه - په ۲ / ستمبر باندے د بیټنو په علاقه باندے روانه بمباری وقتی طور معطله کړے شوه ، چه ګوند ے ملکانان کوشش اوکړی او مغویان برامد کړی ، ولے هغوئ که هر څو منډے ترړے اووهلے هم

خوله دوو هندوانو نه پرته نے نور راپیدا نهٔ کړے شول. حکومت په دے قناعت اونهٔ کړو او هغسے نے دَ ۹/ ستمبر نه بیا بمباری پرے شروع کړه. په ۱۳/ ستمبر یو ځل بیا دَ غے بمبارئ عارضی طور سکوت اوخوړو اوملکانانو ته دَ بقیّه مغویانو دَ برامد کولو موقع ورکړے شوه، و لے دا ځل هم دوئ کامیاب نهٔ شول او حکومت هغسے دَ ۲۳/ ستمبر نه پرے بمباری جاری کړه.

په ۱۲/ اکتوبر دَ وزیر فورسیز کمانډر جنرل سرجان کولرج اودَ وزیرستان ریذیډنټ دَ بیټنو جرگے سره لیډل کتل اوکړل. سرجان کولرج ورته اووئیل چه :

"که چرے تاسو دَ بقیّه هندوانو دَ برامد کولو په لړ کښے په غازیانو پسے تګ کول غواړئ نو ستاسو په علاقه به یو ځل بیا وقتی طور بمباری بند کړے شی."

دَ بیټنو مشرانو خبره اومنله او دویمه ورځ نے ټول اغوا کړی شوی هندوان حکومت ته حواله کړل او بمباری پرے ختمه شوه.

دَ فیرنګی وعده خلافی :

په ۱۶/ اګست چه فقیرایپیؒ دَ فیرنګی سره دَ روغے جوړے په ضمن کښے کوم وفد افغانستان ته استولے وو، هغه په پنځویشتمه ورځ دَ ارګُن نه راستون شو. افغان حکومت فقیرایپیؒ ته دَ خپلو شرطونو څه خاطر خواه ځواب ورنهٔ کړے شو. په بل لوری فیرنګی هم لور په لور بمبارئ کولو جرمانے لګولو او سړکونو تیرولو باندے زور لګولے وو او دَ افغان حکومت

په واسطه ئې چه دَ فقيرِ ايپي رح سره کوم لوظونه کړي وو، دَ هغې نه مُنحرف شوے وو. نو فقيرِ ايپي رح يو ځل بيا دَ فيرنګي په خلاف مبارزو ته ملا اوتړله

په مقابل کښې انګريز سامراج هم په ۲۵/ اګست دَ شوال په سيمه نو بمباری اوغورځول چه :

" ترڅو پورے فقيرِ ايپي رح دَ فيرنګي په مخالفت کښې بوخت وی او په دغه دوران کښې ځوک پناه ورکړي نو په هغوی باندے به سخته بمباری کولے شي."

دَ فيرنګي دَ اخطار په نتيجه کښې ملا شيرعلي خان دَ ستمبر دَ مياشتې په وړومبو شپو ورځو کښې دَ شوال نه بيرته دَ محسودو سيمو ته لاړلو.

## نولسم باب

# د فقیرایپي موسٰی نیکه ته تګ

د فقیرایپيؒ نه چه ملا شیرعلی خان رخصت شو او د هغه سره نور تکړه تکړه مجاهدین هم لاړل، نو بخپله هم د ستمبر په لسم تاریخ د موسٰیؒ نیکه زیارت ګاه ته روان شو او د بیرمل وزیرا و غلجیو ئے هلته راوبلل۔ دغه شان ئے د وزیرو، محسوو، داوړو او بیټنو غازیانو پسے هم اطلاع کانے اولیږلے چه :

"هر څوک د ملا تړے موسٰیؒ نیکه ته ځان راورسوی۔"

ملا شیرعلی خان ته اعزاز :

د ستمبر په وړومبو ورځو کښے چه کله ملا شیرعلی خان د مانړے نه راستنیدو نو فقیرایپيؒ د نوو هدایاتو ورکولو سره سره د غازیانو د خلیفه تو په لوئے اعزاز هم او نمانځلو۔ اوس هغه د بربدر په لاسواندی کښے میشته شو او لنګر ئے جاری کړو، ډیر ډیر وزیرو محسود ئے راوبلل او تقریباً د څلورنیمو سوو غازیانو لشکر ئے تیار کړو او د ٦ / ستمبر په شپه ئے یوه سل کسیزه ډله د ډیره اسماعیل خان په ضلع کښے د چودهوان په کلي

ورواچوله - دَ هندوانو ګنز کورونه ئې لوټ کړل او سامان ئې تړے نه یوړو - په دغه غدئ کښې یو هندو قتل او دوه تنه سخت ژوبل شول -

فیرنګی ته چه پته اولګیده نو لور په لور ئې ټیلفونی اطلاع ګانې تیرې کړے او دَ فوج، بارډرا و پولیس په ذریعه ئې مکمله ناکه بندی اوکړه مګر دَ سخت تلاش باوجود ئې هم څوک پیدا نهٔ کړے شول -

دَ چودهوان په کلی چه دَ خلیفه شیرعلی خان دَ غازیانو دا حمله کامیابه شوه نو ورپسے ئې په ۷/۸ ستمبر نورے حملے دَ بدرالګړے او توروام په سیمه کښې دَ خاصه دارو په پوستونو اوکړلے او دوه تنه خاصه دار یکښې اوو ژلے شول - غازیانو دَ شراونګی، تاړے ژاور او شولم پوستونه هم اونیول او او ئې سیزل - دَ شکی او چلویشتئ په پوستونو ئې هم حملے اوکړے

دَ خلیفه شیرعلی خان دَ لشکر نه حکومت ډیر اوویریدلو او دا فیصله ئې اوکړه چه په بریدر کښې یو څوچونړ شوی کورونه وران کړی او ورسره ورسره ئې دا خدشه هم محسوسه کړه، چه فقیرایپي رح چه کوم خلق دَ.. موسٰی نیکهٔ رح مزار ته بللی دی، هغوئ به په راستیند و ضرور په سرکونو واردا تونه شروع کړی نو دَ احتیاط په طور ئې دَ جنوبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ ته دَ رزمک نه تر اسمان منزے پورے دَ سړک دَ ژغشتے خاص تاکید اوکړو -

دَ دے نه علاوه جنرل کولرج په ۱۱/ ستمبر په لانډیسو کلیو باندے دَ بمبارئ کولو فیصله هم اوکړله :

"توله هغه سیمه چه اوبه ئې بدرالګړے او مانتو ئې ته

ورګډېږي، ولې په دې کښې سینه تیږه او داوُد شامل نه وو۔

سرجان کولرج خپل فوځونه هم په حرکت کښې راوستل او په ۸/ستمبر چه رزمک بریګیډ د رزمک نه تاودې چینې ته کوچ کولو نو په تلوتلو کښې د غازیانو دلاسه بدبد اوډزولې شو۔ داخولا څه چه د شپې شومه دم شو نو غازیانو دکیمپ یو پیکټ ته دستی بمونه ورواوغورځول او ډیر تاوان ئې ورته اورسولو۔

فیرنګی د عبدالائ محسود وجرګه رااوبلله او د تاوُدې چینې کیمپ په یو پیکټ چه کوم برید شوې وو د هغې په جرم کښې ئې یو خوا د دوی ملکئ معطلې کړې او بل خوا ئې پنځه زره روپئ جرمانه پرې اولګوله دویمه ورځ رزمک بریګیډ د تاوُدې چینې نه لاړه ته مارچ شو۔ د مریه نرې په خوا وشا کښې پرې غازیانو یوځل بیا سخت سخت بریدونه اوکړل او نهه تنه فوځیان ئې هلاک او څوارلس تنه ژوبل کړل۔

**په لاسواندی بمباری:**

خلیفه ملا شیر علی خان چه د مولوی مجیب الله لسواندی په مرسته په لسواندئ کښې کوم مرکز جوړ کړې وو او لوړ په لوړ ئې د فیرنګی په خلاف د عملیاتو بازار ګرم کړې وو، د هغې نه حکومت ډیر تنګ شو۔ په ۷/ستمبر ئې د لاسواندی په سیمه د بمبارئ نوتیسونه اوغورځول او په ۹/۱۰ستمبر باندې سخته بمباری پرې اوشوه، خو دریمه ورځ دغه بمباری بند کړې شوه۔ ځکه چه دغه سیمه د غرونو په ژوروپالو او اړخنو ورسکونو کښې واقع

وه او جنګي طيارو پرے صحيح نښانے نهٔ شوے لګولے، بلکه دا چه فيرنګي په بدرالګي دَ فوجکشئ پروګرام هم جوړ کړے وو۔

## دَ آسمان منزے په مضافاتو يرغل :

په ۱۰/ستمبر چه دَ لاسواندی په سيمه بمباري بند شوه نو هم په دغه ورځ دَ آسمان منزے کيمپ نه دَ يوميل په خواوشا کليو بوئ خيلو، ګړېون او پشم دين بانډے بنوں بريګيډ يرغل اوکړو او دَ ټولو مشهورو غازيانو کورونه ئے منهدم کړل۔ چه په دغه ئے خوا سره کړه، نو ئے دَ هغځ ځائے نه په هغو ټولو کليو بانډے هم ګوله باری اوکړه، کوم چه دَ پولټيکل افسرانو دَ بار بار مطالبے باوجود تراوسه حکومت ته يرغمال نهٔ وو ورکړی

## دَ بربډ رناټار :

دَ غازيانو دَ مخنيوی په ترځ کښے بنوں بريګيډ بربډ رته پيشقدمی اوکړه او دَ عبدالرحمان خيلو خوا کښے ئے کيمپ اولګولو او دويمه ورځ دَ کمه سپيره وُنيئ او سينئ تيژه په کليو ورا وختو او يو شمير چونړ شوی کورونه ئے وران کړل۔ دَ فيرنګي زړه په دے سوړ نهٔ شو۔ دَ دغے سيمے ملکانان ئے راوبلل او په ضمانت کښے ئے دَ شپږو شلو ټوپکو او ګنړو يرغمالو مطالبه هم ترے نه اوکړه۔ وروستو په ۱۸/ستمبر بنوں بريګيډ او رزمک بريګيډ دواړه دَ آسمان منزے نه دَ کانی ګرم او شراونګی په لار تورو وام ته لاړل۔

بنوں بريګيډ په ماميت خيلو او ژړ کاسل کښے يو شمير مانړئ او کورونه او نړول او دَ شيرعلی خان په پټي کښے ولاړ شين فصل ئے هم تباه کړو۔

## دَخونیاخیل په کوټ بمباری:

دَ اگست په میاشت کښې چه فیرنګی دَملک خونیاخیل دَ نیوو کوم کوشش کړے وو، دَ هغې نه پس به ملک خونیاخیل په یو ځائے قیام نهٔ کولو. شپه ورځ به ئے دَ انګریزانو په خلاف خلق راپورته کول او ځائے په ځائے به ئے بریدونه کول. دَ ستمبر د میاشتے په مینځ کښې ئے دَ رزمک اولس ته ترمینځه د سړک دَ زغشتے په فوځی ډله سخته حمله اوکړله.

ملک خونیاخیل تر اپریل ۱۹۳۷ء پورے دَ انګریزانو په مخالفت کښې څه خاص نوم نهٔ وو پیدا کړے. ځکه چه دَ شهور تنګی په جهګړه کښې هغه سخت زخمی شوے وو او دَ دارو درملو په ستونځه کښې دَ خلقو او دَ حکومت له نظر نه پناه وو، وے دَ ده دَ تازه هلو ځلو ځنه چه فیرنګے ډیر تنګ شو او دَ ده په کوټ ئے دَ بمباری کولو فیصله اوکړه، نو هغه وخت ده شهرت پیدا کړو.

دَ ملک خونیاخیل کوټ په یو څو کورونو مشتمل وو، چه د ساروګې په سیمه کښې دَ سراروغه قلعے شمال مشرق ته دَ لسو میلو فاصله باندے په ګنړو اونو بوټو کښې خوندی وو.

فیرنګی په دغه ځائے په ۱۶/ ستمبر نوټسونه اوغورځول او په ۱۸/ ستمبر ئے بمباری پرے شروع کړه. دغه بمباری تر اتو ورځو پورے پرله پسے اوږده شوه او زښته تباهی ئے اوکړه. نور خو څه، په دے موقع دَ ملک خونیاخیل غبرګ دوه تلپـــــــــــــــاک زامن هم اووژلے شول.

## دَ پیر مولا خان دَور :

په تیرو ورځو کښې چه فقیر ایپیؒ دَ وزیرستان دَ ټولو سیمو قامونه دَ یو بے عمومی غونډے دپاره موسیٰ نیکهؒ ته رابللی وو، بخپله ورته دَ غمبکی نه موسیٰ نیکهؒ ته راغلے وو او په ۱۰ / ستمبر ئے دَ احمدزو، بیرمل، شوال او نورو وزیرو، محسودو، داوړو و بیټنو یو بے درنے جرګے ته تقریر کړے وو۔ او ټولو ته ئے دَ اسلام په نوم او دَ انګریزانو په خلاف دَ مدد اپیل کړے وو او دکابل خیلو او دا سے نورو خانه بدوشو قبائلو ته ئے وئیلی وو چه تاسو په یخو ځایونو کښې دَ اوړی تیرولو پروګرام ترک کړئ، نو دَ دغو هر څه بخقله چه ده خاطرخواه او امید افزا نتیجه اولیده نو بخپله خو... شوال ته لاړو، ورے دَ احمدزو وزیرو یو ځوان پیر مولا خان ئے دَخپل نمائنده په حیث په موسیٰ نیکهؒ پریښودو او دَ لشکر دَ تیارولو هدایات ئے ورکړل۔

فقیر ایپیؒ خپل ورور شیر زمان ته هم تاکید اوکړو، چه دَ غلجیو څخه یو جدا لشکر تیار کړه۔

## دَ صلحے دوئم ځل کوشش :

ملک موسیٰ خان که هر څو فقیر ایپیؒ ته ملامت وو او زړه ئے نه غوښتل چه بیا په افغان حکومت اعتبار اوکړی، مګر هغه مجبور وو۔ سکوت انکار ئے نه شو کولے او په نه زړه ئے یو کرت بیا دَ افغان حکومت په خواهش دَ فقیر ایپیؒ او انګریزانو ترمینځه مصالحتی کوششونه شروع کړل۔ حالانکه دا یو ناممکن کار وو۔ ځکه چه اوس اوس فیر ئے دَ فقیر ایپیؒ او افغان

حکومت سره دُخپلو کړو وعدو نه منحرف شوے وو. بهرحال ملک موسیٰ خان خپل کوششونه جاري اوساتل۔

داخل ده دکربوغے ملا چه دُ فقیرایپیؒ په ځواني کښې استاد پاتے شوے وو، هم شوال ته راوبللو، چه ګوندے دُ ده په ذریعه نے دانګریزانو سره په صلح کولو آماده کړي، وے فقیرایپیؒ ته معلومه وه چه فیرنګے صلح کول نهٔ غواړي، بلکه دُ مصالحتی مذاکراتو په ژمنو کښې دُ نوک په ځائے دُ سوک ځائے کوي۔ نو دُ خپل استاد سره نے د ملاقات کولو په ځائے نیغه موسیٰ نیکهؒ ته مخه اوکړه او دُ ده سره نے دُ خبرو اترو هیڅ خواهش ښکاره نهٔ کړو۔

دُ فقیرایپیؒ په ټک دُ کربوغے ملا هم بیرته په ۱۲/ ستمبر توچۍ ته راکوز شو او کله چه فقیرایپیؒ دُ موسیٰ نیکهؒ نه راستون شو، نو بیا په ۲۰/ستمبر شوال ته ورغلو او خبرے نے ورسره اوکړے۔ فقیرایپیؒ خپل اُستاد او ملک موسیٰ خان ته اوویل چه :

"زهٔ به ستاسو دُ خبرو ځواب تاسو ته دویمه ورځ درکوم۔"

دُ خبرو په لنډ نز خلیفه شیر علي خان کوم چه په دغه مجلس کښې شامل وو، پاځیدو او هلته موجود تقریباً شپږو سوو خلقو ته نے په ډانګ پیلي اوویل چه :

" فقیرایپیؒ دُ انګریزانو سره هیڅ قسم روغه جوړه نهٔ غواړي، ځکه چه دُ کفر و اسلام هیڅ موافقه نهٔ شي کیدے۔ تاسو یقین اوکړئ چه کوم څه تاسو ته فیرنګے درکوي، هغه به فقیرایپیؒ هم په

موقع سره درکوي، تاسو بې غمه اوسئ. خپل دښمن او پېژنئ او دخپلې خاورې نه ئې په ويستو مجبور کړئ.

دکربوغې ملا، ملا فضل دين، دشيوې فقير او ملک موسىٰ خان که هرڅو دانګريزانو دښمنان وو او هرڅو ئې دهغوئ په خلاف په بهوسو کښې اوبه بهيولې، ولې بيائې هم دهغوئ دڅرګند مخالفت نه ډډه کوله. دغه وجه وه، چه دوئ به فقيرايپي رح ته دانګريزانو سره دروغې جوړې کولو بار بار ترغيب ورکولو. داخلئې پاک ته علم دے، چه دغو لويو لويو هستيو پخپل مينځ کښې پټ څه راز درلود.

فقيرايپي رح دکربوغې ملا او ملک موسىٰ خان سره دجرګے مرکے نه پسته بيا غيمکي ته لاړو او دهغځائې نه ئې لور په لور غازيان اوليږل او دفيرنګي په خلاف ئې اقدامات شروع کړل. خصوصاً دد ته خيلو (توچي) په سيمه کښې ئې ډير کړبړ شروع کړو. کله به ئې لويو لويو پلونو ته نقصان رسولو او کله به ئې واړه واړه پلونه ورانول.

دغازيانو دويرې څخه دد ته خيلو بازار بند شو او دوکانداران بنوں ته لاړل. دفقيرايپي رح دوينا په وجه دوزيرستان عموماً او دمنظر خيلو، خدر خيلو او وروزي خيلو ما ميت خيلو خلقو خصوصاً خاصه دارئ پريښودے. دمدا خيلو هغو خاصه دارو کوم چه په نيمه تنخواه کار کولو او نيمه ئې په قومي جرمانه کښې حکومت ته تحويليدله هم نوکرئ پريښودلے. دغه وجه وه چه په غيمکي کښې دفقيرايپي رح سره دلرو برو تلليو کسانو نه ماوراً تقريباً شپږ سوه غازيان راغونډ شوي وو.

## په غیمبکۍ باندې بمباری :

په غیمبکۍ کښې چه دَ فقیر ایپیؒ طاقت ورځ په ورځ زیاتیدو شو نو دَ انګریزانو سره ویره پیدا شوه او په غیمبکۍ ئې دَ بمباری کولو فیصله اوکړه - په ۲۴/ ستمبر ئې په غیمبکۍ باندې نو تښونه او غورځول او په دویمه ورځ ئې بمباری پرې شروع کړه - دغه بمباری په هغو سیمو باندې اوشوه ، چه اُوبه ئې کړیزی الکښې او ځینه الکښې ته لویږی ، خو بغیر دَ دوئ دَ هغځائې نه چرته چه وبله کیږی - دغسې په هغو علاقو باندې هم بمباری اوشوه دَ کومو اوبه چه مانړې الکښې ته وربهیږی او هغه پالې لښتی هم بمبار کړې شول چه دَ شوال تنګی جنوب پله باریاله الکښې ته ورکیږی -

## دَ وزیرو داوړو جرګې :

دَ اکتوبر دَ میاشتې په شروع کښې فیرنګی دَ اتمانزو وزیرو ملکانانو ته وارننګ ورکړو ، چه که چرې تاسو مزید څه وراني اوکړو او یا مو دَ فقیر ایپیؒ دَ لشکر څخه خپل نفر راستون نۀ کړل نو حکومت به ستاسو په خلاف سخته کارروائي اوکړی -

فیرنګی په دغه ورځ په وزیرستان کښې میشته کابل خیلو وزیرو ته هم اوویل چه که چرې دَ بیرمل دَ لوری نه ستاسو قوم څه بلوه راپورته کړی نو ذمه واری به ئې په تاسو وی -

له دې نه پرته دَ وزیرستان ریذیډنټ په ۵/ اکتوبر دَ ټولو داوړو جرګه هم راوبلله او دَ فقیر ایپیؒ سره ئې دَ خفیه سازوباز ساتلو په پاداش کښې پرې دَ اووه نیمو شلو[150] میله ټوپکو او درې زرو نغدو روپو

جرمانه اولګوله۔

## دَ پیر مولاخان بریدونه:

هرکله چه فقیر ایپی پیر مولاخان په موسیٰ نیکهؒ پریښودو او دګوریلائی جنګ هدایات ئے ورکړل نو هغهٔ دعلی جان په معاونت، کوم چه بیرمل کښے دَ موسیٰ نیکه په خواوشا دَ نیکهٔ بند او سیدونکے وو، تقریباً په اووهٔ نیموشلو احمدزو وزیرو او پکتیاوالو مشتمل لشکر تیار کړو۔

دَ ۲۳/۲۴ ستمبر ۱۹۳۷ء په شپه دغے لشکر دَ وانا نه درے میله مشرق پله دَ زړے تیارزه خُلهٔ خاصه دار پوسټ سره نزدے پلونو او سړک ته نقصان اورسولو۔ هم په دغه سیمه کښے ئے دَ ټیلفون تارونه قطع او دګاروکوټ اوکرب کوټ خاصه دار پوسټونو باندے حملے اوکړے او سنتاله ورسک ئے اونیولو۔

دَ ۲۴ ستمبر په سحر ئے دَ وانا په لوری روانه یوه اولسی لاری چه سرکاری راشن، سبزیانے او نور سامان په کښے وو، لوټ کړه او اوئے سیزله۔

## دَ سنتالے الګړے سانحه:

دَ پیر مولاخان دَ لشکر سرګرمئ چه په کوم سرعت سره روانے وے فیرنګے دَ هغے نه ډیر په تراره شو او دَ لشکر دخنیوی تدبیرونه ئے ... اوسنجاول۔ چنانچه دَ ۲۴ ستمبر په پاؤ باندے یو ولسو بجو ئے دَ جنګی طیارو په معیت کښے دَ وانا څخه دَ فوځیانو ډکے لاری، ټینکونه او رسالے ورمارچ کړے۔

غازیان ټوله شپه سترړی ستومانه وو او دَ سنتالے الګړے په ډېر

کېنې نه د پېرې لګولې وې. ناڅاپه فوځیان پرې ورا وختل او دا سې شدیده حمله ئې پرې اوکړه، چه دوئ سنبالیدل تر هغې ئې پنځلس تنه او وژنل. ولې غازیان بیا هم وار خطا نه شول. په انبیټې جهګړه کښې ئې هم د فوځ د ګهیرې نه ځانونه او ویستل او هم خپل مړی ژوبلی.

## د مسوړئ المیه:

په ۲۵/ ستمبر د دته خیلو او رزانړی سرک په مابین کښې مسوري پیکټ ته نزدې د تارونو پریکولو او پلونو نړولو په عرض غازیان راغونډ شوي وو. فیرنګی ته چه پته اولګیده نو د شپې مال ئې په غلا غلا د ګور کهیا یو پلاټون ور روان کړو. فوځیان په سر سر تور وو او په پښو ئې ځغتې ځغتې ربړ بیخې څپلئ وې. داسې تکه توره شپه وه، چه خپلې دوه ګوتې نه ئې بښکاریدې.

غازیان په مزه مزه لګیا وو، چا تارونه پریکول او چا پلونه نړول. تقریباً د شپې په یوه بجه فوځیانو ناڅاپه اول روښنائی پرې اوغورځوله، او بیا ئې سمدستی باړونه پرې را یاندې کړل.

د فیرنګی د دغې آسمانی تړاکې له کبله په غازیانو زبردست دهشت پریوتو، سترګې ئې تتې شوې او په تک شپږ تنه شهیدان او اووه تنه زخمیان شول، ولې د دې باوجود دوئ دومره مړانه اوکړه، چه هم ئې د فوځیانو د نیو وڅخه خپل وژلی ژوبلی خلاص کړل او هم ئې یو څو په کېنې سره کړل.

## د سره دار وړومبۍ جهګړه:

د انګریزانو او فقیر ایپي تر مینځه چه د روغې جوړې موافقه رانغله او

هغه په مانړه کښې دَ افغان حکومت په واسطه مذاکرات ناکام شول نو دهٔ هم دَ ستمبر دَ میاشتې په شروع کښې یو ځل بیا دَ مخالفانه اقداماتو کولو فیصله اوکړله۔

دَ دهٔ ړومبې نظر دَ رزمک نه قطب پله دَ سپین کمر هغې سیمې ته شو چرته چه فیرنګی دَ سرهٔ دار الکړې نه رزمک ته دَاوبو پائپونه بوتلی وو۔ دَ پائپونو دغه فاصله تقریباً درې میله وه۔ په دغو پائپونو کښې به دَ رزمک کیمپ ته اوبهٔ تللې او دَ کیمپ دښارووا و باغونو نه علاوه به پرې دَ فوځ ۲۴۰۰ هزار نفوسو هم ګزاره کوله۔

غازیانو په اوّل ځل دغه پائپونه دَ ستمبر ۱۹۳۷ء په ۲۱-۲۲ شپه ځائے په ځائے پریکړل۔ صباله چه فوځیان دَ مرمت کولو دپاره ورمارچ کړے شول نو غازیانو قصداً څه تعرّض پرې اونهٔ کړو۔ فوځیانو دَ پائپونو مرمت اوکړو او دَ توری خیلو وزیرو خاصه دارو نزدے پوستې ته ئے دَ ژغشتې ذمّه واری اُوسپارله۔

دوه ورځې پس غازیان بیا ورغلل۔ خاصه دارے دَ پوستې نه اوشړل او پائپونو ته ئے سخت نقصان اورسولو۔ غازیانو دَاوبو هغو ټانکو ته، په کومو کښې چه اُوبهٔ ذخیره کیدلے هم رنزېنړهٔ تیل واچول او اوبهٔ ئے خرابے کړلے۔ دَ فیرنګی نه چه هم تارهٔ اوبهٔ بند شوے او هم دَ ټانکو اُوبهٔ اُبته شوے نو صبائے دَ ګنړو ټینکونو تر بدرګے لاندے دَ مرمت دپاره بیا فوځیان وراولیږل، خو دَ غازیانو دَ پرله پسے باړونو په وجه فوځیان دَ پائپونو په مرمت کولو کښې کامیاب نهٔ شول۔ او پسپائی ئے اختیار کړه۔

دریمه ورځ بیا دُ نائب پولټیکل افسر په نګرانئ کښې فوځیان وررروان کړے شول خو په دے ورځ هم دُغازیانو زور پرے تیرشو او دوئ پستنه کیمپ ته لاړل۔

اوس به یوخوا فیرنګی دُ دے جنجال دفعیه سنجوله او بل خوا به دُ غازیانو په تعداد کښې ورځ په ورځ اضافه کیدله او په څو ورځو کښې دُ دوه نیمو سوو غازیانو لشکر جوړ شو۔ دُ ۲۷/ ستمبر ۱۹۳۷ء په شپه یوځل بیا دومره دروند فوځ ورمارچ کړے شوچه دُ توپونو، ټینکونو، مشینګنړو او وسله بند نفوسو یو بهیر وو۔

سحر په اتو بجو دُ فریقینو ترمینځه جنګ اونښتو۔ جنګ څه وو، چه یو قیامت صغرا وو۔ دُ طیارو غرار، دُ توپونو ګړزهار او دُ توپکو مشینګنړو ټکار به دُ خلقو زړونه تر پردو ویستل۔ دُ غازیانو یو ډلے، کومے چه دُ ماموسر مورچه کړے وو، فوځیان ډیر تنګ کړی وو او سره دار ته ئے په هیڅ صورت پیشقدمی نهٔ شوه کوله۔

فیرنګی دُ ماموسر ته توپونه اولګول او ګوله باری ئے پرے شروع کړه۔ غازیان مجبور شول دُ ماموسر ئے پریښودو۔ اوس فوځیان سره دار ته ورننوتل او دُ پاټیونو مرمت ئے شروع کړو، خو غازیانو کله کار ته پریښودل دُ مردکو په باران کښې ئے داسے پټ کړل، چه په شا ئے دُ رزمک کیمپ ته مات کړل۔ غازیانو بیا لارے ګودرے ورته اونیولے او سنه ارمانونه ئے پرے اوریژول۔

په دغه خونړی جنګ کښے دُ غازیانو له خوا نه دُ مشهور غازی فقیرشاه

سره تول دولس کسان شهیدان شول او دَ فیرنګی له خوا نه ۲۳ تنه هلاک او ۳۳ تنه مجروح شول چه اکثر په کښے مرګونی وو۔

دَ دے جنګ نه پسته خلیفه شیرعلی خان دَ سرهٔ دار په اوبو بانده دَ دیارلسو کسانو پهره مقرره کړه او څوک به ئے اوبو او پاڼو بوته نږدے نهٔ ورپرېښودل۔

## دَ میروغے بربادی :

چونکه دَ سرهٔ دار په جهګړه کښے اکثر دَ میروغے، منظرخیل وزیر شامل وو، نو فیرنګی د دوئ په خلاف دَ سختو اقداماتو فیصله اوکړه او هم په دغه ۲۷/ستمبر ئے نو تسونه پرے اوغورځول چه "که چرے تاسو دَ حٔان خیر غواړئ نو دَ فقیرایپي دَ لشکر څخه خپل سړی بیرته راوبلئ"۔

سربیره له دے دَ وزیرستان ریذیډنټ دَ منظرخیلو جرګه هم دوسلی ته راوبلله او دا ئے ورته اووئیل چه "تاسو دَ میروغے دَ کلی تول غازیان حکومت ته حواله کړئ"۔ منظرخیلو ورته غاړه کیښوده او دوه تنه غازیان ئے حکومت ته راوستل چه یو په کښے دَ خاصه دارو سابقه صوبیدار وو۔

دَ میروغے کلی عامه بربادی اونهٔ شوه ولے په ۲۹/ستمبر چه بنوں بریګیډ دَ رزمک نه رزانړی ته مارچ شو نو په تلوتلو کښے ئے دَ مامیټ خیلو وزیرو په عزیزخیلو کښے ډیرے مانړئ او کورونه وران کړل۔

په یکم اکتوبر بنوں بریګیډ میروغه ته روان شو۔ په لار کښے غازیانو تکان پرے راباندے کړل او یو څو کسان ئے ترے نه درغړئ کړل ولے دَ دے باوجود ئے میروغه ته حٔان اورسولو او دَ نامتو نامتو غازیانو

کورونه او مانړۍ ئې تباه کړے. په دے موقع دَ فوځیانو په معیت کښې جنګی طیارو هم پروازونه کول.

## دَ سرهٔ دار دویمه جهګړه :

خلیفه شیر علی خان چه په سرهٔ دار کښې دَ رزمک کیمپ په اُوبو او پاڼو بانده دَ دیارلس کسیزے ډلے کومه پهره مقرره کړے وه او دَ پاڼو مرمت کولو ته ئې څوک نهٔ پریښودل، دَ هغې د مدافعت دپاره فرنګی یوځل بیا دَ ګنړو توپونو، ټینکونو او فوځیانو بهیر تیار کړو او په ۲۵/ اکتوبر ۱۹۳۷ء ئې دَ شپے مال په سرهٔ دار ورخوشے کړو. غازیان هم ورته دَ غرونو په دنګو دنګو څوکو بانده دَ ګنړو اونو بوټو او غټو غټو ګټو ترمینځه داسے پناه ناست وو چه نهٔ خو فوځیانو لیدے شول او نهٔ ئې ویشتے شول، مګر دوئ به سور اُور پرے ورولو.

دَ تاویلدار، بُلندی، خونګل او میردل توری خیل په مشرئ کښې توری خیلو وزیرو او سپین کمر والو او مکین والو محسودو دَ سحر نه تر غرمے پورے بنهٔ تاوده جهګړه اوکړه. ماسپخین په فوځ ماتے ګډه شوه او په شا رزمک کیمپ ته اوتښتیدو.

په دغه جهګړه کښې یو فیرنګے افسر سکنډ لیفټیننټ اُو، سی، ډبلیو بیلامی BELLAMY سره دَ یولسو تنو ګورکهیانو قتل او اتلس تنه سخت ژوبل شول.

غازیان بغیر دَ یو څو برخیرنو ټپیانو نور صحیح سلامت پخپله مخه لاړل ولے هغه دیارلس کسیزه ډله هم هغه شان دَ اوبو په بند پاتے شوه او

فوځیان به نے دَ پاڅیونو مزمت کولو ته نهٔ پریښودل ۔ آخر فیرنګی مجبور شو دَ رزمک په کیمپ کښې نے دننه کوهیان اوکنستل او مشینونه نے پرے اولګول ۔

## دَ سروکئ جهګړه :

په ۲۷/ستمبر چه یوځوا دَ رزمک په سیمه کښې دَ سره دار جهګړه لګیا وه نو بل خوا هم په دغه ورځ دَ سروکئ قلعے نه قطب پله دَ ورسکی خوا کښې دَ غازیانو او فوځیانو ترمینځه جهګړه انښتے وه ۔ دَ سروکئ قلعے قطب پله دغه ورسکے په کنړو اُونو بوټو کښې پټ وو ۔ پالے لښتی په کښې ډیر وو او ټوله علاقه بارانی او بو کوُری کنډ ے کړے وه ۔

په دے ورسکی کښې دَ پنځوسو غازیانو یوه ډله دَ حملے کولو په نیت مورچه شوے وه ۔ فیرنګی ته چه پته اولګیده نو فوځ نے ورپسے واستولو ۔ سحر په اونیمو بجو دَ غازیانو او فوځ ترمینځه داسے شدید جنګ شروع شو، چه دَ توپونو، مشین ګنو او ټوپکو دَ غرمبار او ټکار نه په غوږ ونو څه نهٔ شول آوریدل دَ یوځو ګهړیو پرله پسے مقاومت نه پسته فوځیان دَ سروکی قلعے ته اوتښتیدل او په شا نے پنځلس مړی او دیارلس ټپیان پریښودل ۔

غازیانو په اتلسو میله ټوپکو، څوارلسو زرو کارتوسو او یو شمیر دستی بمونو باندے قبضه اوکړه او پخپله مخه لاړل ۔

## په سپلاتوئے الګډے بمباری :

دَ سروکئ خوا کښې چه په فوځیانو کومه حمله شوے وه ۔ په هغه کښې اکثر غازیان عبدالرحمان خیل محسود وو، خو یوڅو په کښې هغه شمن خیل

محسود هم شامل وو، کوموچه په چودهوان برید کړے وو۔

فیرنګی په ۲۹/ستمبر دَ دوئ دمشرانو جرګه رااوبلله او ورته او ئے وئیل چه "تاسو د سروکئ په جهګړه کښے دَ فوځیانو نه اوړی شوی ټول ټوپک بیرته راوړی۔"

مشرانو ځیلے منړ ے او وهلے، خودَ یو نه علاوه ئے نور ټوپک پیدا نه کړے شول۔ فیرنګے په دیو ټوپک مطمئن نهٔ شو او په ۲/اکتوبر ئے نوټسونه پر ے اوغورځول چه :

"تاسو دَ غزګانی نه تر سپلاتوئے قلعے پورے چاپیره یومیل علاقه خالی کړئ۔"

دَ نوټسونو نه پسته دَ ۵/اکتوبر نه تر ۱۵/اکتوبر پورے پرله پسے بمباری پرے اوشوه۔ په ۱۸/اکتوبر چه دوئ سرکار ته ټوپک پوره کړل نو بمباری هم پر ے بند شوله۔

دَ پاکے لیتے برید :

خلیفه شیر علی خان چه دَ موسیٰ نیکهؒ په مزار دَ فقیر ایپیؒ سره ملاقات اوکړو او بیا مان توئے ته راغلو نو دَ لشکر دَ راغونډولو او دَ رزمک او وانا ترمینځه سړک باندے ئے دَ حملے کولو تیاری شروع کړله۔

په ۱۹/اکتوبر چه دَ ساوتهـ وزیرستان کوم سکاوټس دَ پاکے لیتے په ختیز لونګونو کښے ګشت کولو، په هغے ئے حمله اوکړه۔ په دے موقع غازیان دَ سکاوټس نه چاپیره دَ غرونو په لوړو لوړو ځوکو کښے مورچه زن وو او سپاهیان ئے په سخته ګهیره کښے راوستلی وو، ولے دَ یو ے شیبے جهګړے نه پسته

دَ تيارزے قلعے ځخه امدادی دستے ورته رانه ورسيدے او هغه راشکيل شوے سکاوټس ئے په منډه منډه دَ تيارزے قلعے ته خلاص کړو، مګر سره دَ دے دَ سپاهيانو له خوا نه پنځلس مړی ژوبلی اوشول او غازيان لــه خيرے سلامت بخپله ځخه لاړل۔

## دَ انځر نړی انښته :

غازيانو چه دَ پاکے ليتے په خوا کښے ساوته وزيرستان سکاوټس تر تيارزے او زغلولو او ګنړ مړی ژوبلی ئے ترے نه اوکړل نو دَ شپے تيرولو دپاره دَ نړی اوبو په جوار کښے پاتے شول۔

دَ فيرنګی ورته هيرنه وو۔ په ۲۰ / اکتوبر ئے دَ شپے په تياره کښے فوځ وراوليږلو۔ تقريباً دَ ورځے په يوولسو بجو ئے دَ انځر نړی سره جوخت په غازيانو چپاؤ وروړو ۔ يو څو ګهړی ګرمه جهګړه اوشوه، خو دَ جانبينو په مابين کښے څه خاص تلفات واقع نه شول او په خپلو خپلو ځخو لاړل ، ولے په تلو تلو کښے غازيانو دَ فوځيانو ځخه يو څو هلاک او يو څو ژوبل کړل۔

## دَ فقيرايپیؒ بارومان سر ته تګ :

په غيمبکی کښے چه کله دَ فقيرايپیؒ په هيډکوارټر بانډے بمباری اوشوه نو دَ اکتوبر دَ مياشتے په وروستو ورځو کښے هغه دَ شوال قطبی سيمو ته لاړو او په مداخيلو او دَ افغانستان په قبائلی اولس کښے ئے دَ جهاد تبليغ شروع کړو ۔ ورته وئيل به ئے چه "تاسو دَ برے توچی او سپين وام په سيمو کښے دَ فيرنګی په خلاف سرګرمی شروع کړی ۔"

دَ اکتوبر د مياشتے په نيمائی کښے فقيرايپیؒ دَ بارومان سر په سيمه کښے دَ

خرړے په څېږدو کښے مرکز اوتړاکلو۔

## په سپین وام کښے کړېږ:

مولانا غازی میرجان، ملک ګلاجان او کاکو کوم چه له اوّل نه په سپین وام کښے انګریزانو ته درد سر جوړ شوی وو، په دے ورځو کښے لا قهرېدلی وو او د سپین وام او شیراتلے په کلیو کښے به ګرځېدل او د میرعلی او سپین وام ترمینځه به ئے د انګریزانو په خلاف خلق راپورته کول۔

دغسے درے زره لشکر برابر شو او د سپین وام په سیمه کښے ئے واردا تو نه شروع کړل۔ دغے لشکر به کله د تبی نزی په خوا کښے لاریٔ لوټلے او کله به ئے پلونه، پُلکی او سړکونه ورانول۔ په ۱۵/ اکتوبر او نیمو شلو مجاهدینو د تبی نزی په سیمه کښے د خاصه دارو په یو پوسټ حمله اوکړه، خاصه دا ئے اوشړل او پوسټ ئے اوسیزلو۔

د سپین وام سره نزدے د وُلامه او کیسّو پلونو ته هم د نقصان رسولو کوششونه اوشول۔ د دغے سیمے د ته خیلو وزیرو د بمبارئ له ویرے نه خپل کورونه خالی کړل او د توری خیلو یو ولسو خاصه دارو، چه یو په کښے علی جان نومی جمعدار هم شامل وو، نوکرئ پریښودے او د فقیر ایپی رح په لشکر کښے شامل شول۔

لنډه دا چه فیرنګے د غازیانو دلاسه زښت په زحمت شو او په ۱۵/ .. اکتوبر ئے په لاریو کښے سپاهیان او ټینکونه وراولیږل۔ خو د ور رسیدو سره غازیانو داسے شدیده حمله پرے اوکړه چه په شا ئے اوزغلول۔ دویمه ورځ بیا د تل (توچي)، نه په لاریو کښے سپاهیان ور وړل شول، خو به

تبي نري کښې بيا دومره سخته حمله پرې اوشوه چه په شا ئې مات کړل ، او غازيانو دُ زړه براس دُ تبۍ نرۍ او شيرتالې په دکرې کښې دُ خاصه دارو په پوستونو اوويستو- خاصه دار ئې ترې نه اوشړل او پوستونه ئې اوسيزل-

## دُکوټ متاکۍ تالان :

فيرنګي چه دُ غازيانو دلاسه ډيرتنګ شونو په سپين وام ئې دُ حملې کولو په نيت دُ ميرعلي په کيمپ کښې فوځ ، ټينکونه او توپونه راغونډ کړل چه بنه ئې ځان تيار کړو، نو روميې لاس ئې دُ ميرعلي نه جنوب پله څلور ميله لرې دُ کوټ متاکۍ په کورونو اوچت کړو- دلته اوياؤ نفرو غازيانو ډيرې غالې جوړ کړې وو- په ۱۹ / اکتوبر فوځ ورغلو او حمله ئې پرې اوکړه - غازيانو ورسره څه خاص مقابله اونه کړې شوه او فوځ دُ کثرت په سبب ګسنې کورونه وران کړل-

## دُ تبۍ نرۍ جهګړه :

په ظاهره خو فيرنګي خپل فوځونه دُکوټ متاکۍ په تالان کښې اخته کړي وو، ولې پټ هدف ئې دُ سپين وام دُ سيمې هغه غازيان وو، کوم چه ورله زاره شنه کړې وه ، نو دُ کوټ متاکۍ دُ اپريشن نه دُ اوزګاريدو سره سم ئې دُ ۲۰ / اکتوبر په شپه دُ ميرعلي کيمپ نه دروند فوځ ، ټينکونه او لارۍ ، چه لانټونه ئې ګل کړي وو په سپين وام ورخوشې کړل - دغسې ئې ځنې فوځ دُ کوهاټ څخه دُ تل (کُرّم) په لار ورپسې راوړو- کوم وخت چه دغه دواړه فوځونه تبۍ نرۍ ته نږدې په يوځائې راغونډ شول ، نو سحر په اُوو بجو دُ غازيانو په تلاش کښې اووتل -

په مقابل کښې تقريباً اونيم شلې غازيان هم له اوّل نه ورته په مورچو کښې چمتو ناست وو. چا دَځان نه دَ ګټو بيړے تاؤ کړے وے او چا کندے کنستلے وے چه د پاسه نے دَ طيارو دَ ويرے نه پرے شنه شنه منډکی غوړولی وو، کوم وخت چه فوځيانو دَ ګنړو جنګی طيارو په معيت کښې دَ شاميرانۍ نه مشرق پله پالو کښې پيشقدمی شروع کړه، نو غازيانو باړونه پرے راباندے کړل. ځنے فوځيان نے دَ سرويک پالے په خواؤشا راګير کړل او ځينے دَ ترکئ او سړک ترمينځه. طيارو به که هر څومره پرے وروله خو غازيانو به ځيل ګروڼ نه غرځولو. لنډه دا چه دَ فريقينو ترمينځه سخته مقابله او نښته او ترما زيګره دومره تاوده جهګړه اوشوه، چه په نتيجه کښې نے يو انګريز افسر ميجر جے موريارتی MORIARTY درے نور فوځی .. منصبداران او لس تنه سپاهيان هلاک او پنځلس تنه ژوبل شول. دغسے دَ غازيانو دَ لوری نه مولانا عبدالرّحمان دَ سپين وام اباخيل وزير، مولانا محمد عالم دکيټو حسن خيل وزير او حضرت ګل دَ سپين وام شاميرے وزير سره دَ لسو کسانو په شهادت اورسيدل.

دَ جهګړے دختميدو نه پسته فوځيانو دَ سپين وام قلعے سره کيمپ اولګولو او په ۲۱/۲۲/ اکتوبر نے دَ سپين وام او دته خيلو په سيمو کښې شپږ دنګے ماڼړئ او ۲۹ کورونه مسمار کړل او په ۲۳/ اکتوبر خپلو خپلو هيډ کوارټرونو ته ستانه شول.

دَ بيټنو کړېږ:

دَ تيرو دريو مياشتو راسے بيټنو هم دَ دين فقير رح په نعوته دَ فيرنګی

په خلاف شورش راپورته کړے وو او خاصه دارئ ئے پریښے وے چا به په مخو ضلعو کښے داړه ماري کوله او چا به هندوان اغوا کول. دغه شان د ۲۰/ اگست نه چه د تجوړي او نونگر په سړک کوم کار شروع شوے وو، هغه هم د دین فقیر د مخالفانه کارروائي له کبله سخت متاثره شوے وو.

فیرنگے مجبوره شو، د بیټنو ملکانان ئے راوبلل او په کلکه ئے ورته اوویل چه "تاسو دین فقیر پوهه کړئ چه د حکومت د مخالفت نه لاس اونیسي، گني بنه به نه وي." ملکانانو خپل وسونه پورے اوکړل خو هغه ئے په قلار نه کړے شو. داخل حکومت دوئ ته د هغو مغویانو د برامد کولو په حقله زور نه ورکړو کوم چه تر اوسه د غازیانو په حراست کښے وو. ملکانانو په دے لړ کښے هم هلے ځلے اوکړے او په مشکله ئے تر ۱۲/ اکتوبر پورے نور تول مغویان برامد کړل، ولے د خلورو هندوانو هیڅ درک ورته معلوم نه شو.

## د بیټنو جرگه :

هم په دغه ۱۲/ اکتوبر جنرل سرجان کولرج او د وزیرستان ریزیډنټ د بیټنو جرگے سره لیدل کتل اوکړل او دا ئے ورته اوویل چه :

"تاسو چه کوم کړبړ شروع کړے دے او یا مو کوم سړي اغوا کړي دي، د هغو په حقله به هغه وخت خبرے کوو، کله چه ستاسو په علاقه باندے فوجکشي کولے شي. في الحال مونږ تاسو ته دا وایو چه مونږ تر کوټ پورے د موټرو د تیریدو سړک جوړول غواړو. نو تاسو ته اخطار درکولے شي چه که چا هم د

سرک دَجوړولو په موقع څه وړاندې اوکړو نو بنه به نه وی او دَ هغو هندوانو فوراً بند وبست اوکړې کوم چه لا تاسو برامد کړی نه دی.

دَ بیټنو مشرانو هغه څلور مُغوی هندوان هم په ډیر کوشش سره برامد کړل او حکومت ته ئې حواله کړل، کوم چه تر دغه وخته پورې لاپته وو۔

## دَ عجیب پر کور تالان :

هسې خو دَ فیرنګی اصلی مقصد دَ بیټنو په علاقه باندې فوجکشی وو، ولې دَ خلقو د خیال بدلولو په بهانه به ئې یوخوا بلخوا هم لاس اچولو۔ په ۹/ اکتوبر چه سکنډ انفنټری بریګیډ دَ شاهولی کیمپ نه په شاهولی الګډ ورمارچ شو او بیا دَ کړیوم او بیچی کسکئ په لارجانی خیلو ته لاړو او دَ جانی خیلو نه سلمان خیلو ته اورسیدو نو دلته ئې توقف اوکړو او سین تانګے ته نزدې دَ عجیب غازی کور ئې وران کړو۔

## په بیټنو باندې فوجکشی :

دغه فوځ تر ۱۵/ اکتوبر پورې په سلمان خیلو باندې میشته شو او په ۱۶/ اکتوبر ئې دَ بیټنو په علاقه دَ فوجکشئ تصمیم اونیوو او له دریو لارو وارمولا تنګی، نونګر تنګی او خاندا تنګی څخه ورمارچ شو او دَ وارمولا تنګی وژائی وازړ، نونګر تنګی، ماریزخوړه، خندا تنګی، راډ الګډ او اوه بیژی سیمو کښې دَ کرځیدو راګرځیدو نه پسته ئې په سپالوی کښې کیمپ اولګولو۔ غازیانو دَ کمبوتئ له کبله څه تعرّض پرې اونه کړے شو۔ البته دَ

لرے لرے نه به ئے په کیمپ باندے تهکان راباندے وو او یو څوئے په کښے ژوبل کړل۔

## دَ راړیِ الګډے جهګړه:

په ۱۸/ اکتوبر دَ نوی سړک دَ تعمیر ابتدا اوشوه او په ۱۹/ اکتوبر فوځ دَ راړی الګډے په مخه ورمارچ شو۔ دلته دَ توری خیلو وزیرو، بیټنو او دَ محسودو یو لشکر چه اندازتاً په دوه سوه او یاؤ مجاهدینو مشتمل وو، دغه فوځ په راړیِ الګډ او ستره اوچه الګډ کښے راګیر کړو، و لے جهګړه لا پوره ګرمه شوے نه وه چه دَ فوځ کمک ته طیارے راورسیدلے او په غازیانو ئے غوټے شروع کړلے۔ بلخواهغوئ هم په داسے استقامت سره ورمته وو چه نه ئے دَ فوځ نه ویره کیدله او نه دَ طیارو نه بلکه په تلوتلو کښے ئے.... یوولس تنه سپاهیان هلاک او دیارلس تنه سخت ژوبل کړل۔

## دَ قلندرخیلو سانحه:

دَ راړی الګډے جهګړے په بیګاه فیرنګی ته چا مخبر جاسوسی کړے وه چه دَ قلندرخیلو کلی په قُرب کښے تقریباً اته سوه غازیان راغونډ شوی دی او په فوځ باندے دَ حملے کولو تیاری کوی۔

په ۲۰/ اکتوبر فیرنګی پټ په پټه سحر په اُوو بجو فوځ ورمارچ کړو۔ دا وخت غازیان بے غمه اوده پراته وو۔ له یو خوا نه فوځ پرے ناڅاپی حمله اوکړه او له بلے خوا نه طیارو پرے سور اُور رابشکته کړو۔ غازیان چه سنبالیدل ترهغے پنځلس تنه ترے نه شهیدان او یو شمیر ژوبل شول او دغسے فیرنګی دَ راړی الګډے بدل واخستو۔

## دکوټ سړک :

فیرنګی بوخوا د بیټنو په علاقه کښے فوځی کارروائی شروع کړے وه او بل خوا ئے د سړک په جوړولو زور لګولے وو۔ په دے موقع د کوټ سړک تر ۳/ دسمبر پورے بنه تیار شو۔

## د بیټنو بله جرګه :

په ۲۰/ اکتوبر فیرنګی د بیټنو بله جرګه راوبلله او ورله ئے شاخ ته ئے اوویل چه تاسو زر نه زر خپل نهه تنه روپوش یرغمال راپیدا کړئ۔ بل شاخ ته ئے دا اوویل چه که چرے تاسو خپل یرغمال خلاصول غواړئ نو په سړی سرے ئے په ضمانت کښے دوه دوه میله ټوپک سرکار ته تحویل کړئ۔ دوئ ته دا هم اوویلے شول، چه ستاسو هغه خاصه دار دِ په هفته کښے دننه خپلو نوکریو ته حاضر شی او یا دِ په سړی سر حکومت ته په ضمانت کښے یو یو میل ټوپک داخل کړی کوم چه نوکرئ پریښے یا حکومت معطل کړی دی۔ د دغو ټوپکو تعداد ۸۲ ته اورسیدو۔ د دے نه علاوه حکومت په دوئ باندے سل میله ټوپک مزید جرمانه هم اولګوله۔ د بیټنو مشرانو تر ۴/ نومبر پورے فیرنګی ته غوښتے ټوپک تحویل کړل۔

## په علی خیلو او کوټی یرغل :

د بیټنو د دغو کلیو اوسیدونکی اکثر فراریان وو او همیشه به د فیرنګی په خلاف هلو ځلو کښے بوخت وو۔ هم به ئے پخپله علاقه کښے وارداتونه کول او هم به ئے په بنو ضلعو کښے تاختونه۔ فیرنګے ورته زښت قهرنیولے وو۔ په ۲۶/ اکتوبر ئے چه موقع برابره کړه نو د سزا ورکولو په نیت

ئے دَ کنړو تېنګونو او توپونو سره بارډ راو فوځ ورمارچ کړو او دَ نزدے نزدے ټولو کلیو نه ئے ګهېره تاؤ کړه۔ ډیر کورونه ئے او سیزل او یو شمیر کسان ئې څوک شهیدان او څوک ګرفتار کړل۔ چونکه په دے موقع غازیان په تعداد کښې کم وو، نو دَ مقابلے تاب ئے اونۂ درلودلے شو، ولے بیا ئې هم شپږ تنه فوځیان هلاک او یو پولس تنه ژوبل کړل۔

## دَ فوځ عام ګشتونه :

دَ کله نه چه فقیرایپي رح خوږه باروماں کښې میشته شوے وو، دَ هغې ورځے نه دَ فیرنګی سره زښته چښته پیدا شوے وه۔ ځکه چه دغه سیمه یو خوا دَ سرکار علاقے ته بیخي نزدے وه او بلخوا دَ ډیوریند لائن سره جوخته وه او دَ فقیرایپي رح دَ تبلیغ په اثر کښې دَ افغان قبائلو څخه سخته خطره راولاړه شوے وه۔

جنرل سرجان کولرج یو ځل بیا په وزیرستان کښې دَ فوځونو دَ عام ګشتونو حکم اوکړو او په ۱۲/ نومبر ئے مارچ شروع کړو او دَ میران شاه، بویه توت نری، لکی میدان، ډمډیل، جلیر الګړ، بیخي کسکئ، کوز شکتوئ، پسته الګړ او شکتوئے الګړے په سیمو کښې تر ۱۵/ نومبر پورے بنۂ اوګرځېدل او یو خوا بل خوا ئے کیمپونه اولګول۔ په ۱۶/ نومبر چه دغه فوځونه دَ منډوام په لوری روان شول او دَ شکتوئے رود ته اورسیدل نو په ۱۷/ نومبر دَ خلیفه شیر علی خان، ملک خونیاخیل، ازلمیر او ګاګو لښکر دَ فوځ په یوه حصه نری نری ډزونه شروع کړل۔ دغې فوځ په وړاندے جسارت اونۂ کړے شو او هم هلته ئې کیمپ اولګولو او دَ کیمپ نه لرے دَ پیکټونو په لګولو کښې بوخت

شو۔ غازیانو هغسې بارونه پرې جاري اوساتل او یو افسر او دولس سپاهیان ئې ترې نه ژوبل کړل۔

## دَ شکتوئې تنګی جهګړه :

په ۱۸/ نومبر دغه فوځ دَ دې ځائې نه روڅه ته لاړو او بیا مخکښې دَ کوز شکتوئې په تنګی ورمارچ شو۔ په تنګی کښې پرې غازیانو بیا برید اوکړو او دوه تنه انګریزان ئې ترې نه اووژل چه یو دَ پلاټون کمانډر ریټیوډ نومیدو او بل جے ولیم WILLAM .J ۔ دَ دې نه علاوه څوارلس تنه سپاهیان هم ټپیان شول۔

غازیان هغسې ورته په مورچو کښې ناست وو۔ کله چه فوځ دَ تنګی په خوله کښې راغونډ شو، نو یو ځل ئې بیا چپاؤ پرې ورورو او درویشت کسان ئې ترې نه درغړي کړل۔ هم په دغه سیمه او دغه وخت چه دَ یو پیکټ فوځ ډله راپاڅیده نو غازیان ترې نه ګرډي شول او په تک ئې یو انګریز افسر او اته تنه سپاهیان اووژل۔ لنډه دا چه فیرنګی ته په وزیرستان کښې دَ ۱۲/ نه تر ۱۸/ نومبر پورې دَ شپږو ورځو ګشت ډیر ګران پریوتو۔

## دَ روڅې کارکنړوام سړک :

دَ فیرنګی فوځونه چه کله په ۲۶/ اکتوبر په کوټئ او علی خیلو بانډې ورځل نو په دغه دوران کښې دَ خرابو لارو په وجه سخت تکلیفونه پرې تیر شوي وو، نو ځکه ئې دَ روڅې نه تر کارکنړوام پورې دَ کچه سړک تیرولو منصوبه جوړه کړه۔ دَ سړک په دغه منصوبه باندې دَ نومبر د میاشتې په آخري شپږو ورځو کښې کار شروع شو او دَ کارکنړوام نه دوه میله لرې مشرق

پله دُجانی خیلو هغے سرک سره ملاوُ شو کوم چه په کال سنه ۱۹۰۱ء کښے دُ ریرو دپاره جوړ شوے وو. دُ دغے سرک دُ تعمیر سره سره دُ جانی خیلو دُ زوړ سړک مرمت هم اوشو. دغه شان دُ بیټنو په علاقه کښے دُ کوټ په سړک هم په تیزئ سره کار لګیا وو او تر ۳ / دسمبر پورے تکمیل ته اورسیدو.

په بیټنو جرمانے :

دُ بیټنو سرتیرے اولس به همیشه د دین فقیرانو په ترغیب او دُ خپلے خاوُرے په ننګ دُ برطانوی فوځونو سره برسرپیکار وو. فیرنګے دُ دوئ نه ډیر سترړے شو او په ۱۵ / نومبر ئے دُ ډیره اسماعیل خان دُ بیټنو جرګه جنډولے ته اوبلله او په ۱۸ / نومبر ئے دُ بنوں دُ بیټنو جرګه تجوړی ته. او لاندینی احکامات ئے ورته واورول :-

دُ ډیره اسماعیل خان دُ ضلع په بیټنو باندے -/۳۳۵۰ نغدے روپئ ۳۴ میله بوړی ټوپک او ۲۰۰ لیندیوال ټوپک جرمانه اولګولے شوه او دُ بنوں ضلع په بیټنو -/۱۶۵۰ نغدے روپئ، ۱۶ میله بوړی او سَل لیندیوال ټوپک جرمانه اولګولے شوه.

فیرنګی دوئ ته دُ جرمانو دُ تحویلولو په لړ کښے لس ورځے میعاد ورکړو او دائے هم ورته په ګوته کړل چه دُ بیټنو قبائلی علاقه به تر شوزه ئے الګړے مغرب پورے "محفوظه علاقه" ګڼړلے شي. دُ بیټنو مشرانو تر ۶ / دسمبره پورے حکومت ته مطلوبه جرمانه اورسوله.

دُ شابی خیلو محاصره :

په شابی خیلو محسودو کښے دُ شابی خیلو ژبړیو، چه د رزمک نه نمر پریواته

پله لرے پراته دی، دَ فیرنگی په خلاف هلوګلو کښے ډیره دلچسپی آخستله او خصوصاً دَ علی خیلو په کیمپ به ئے اکثر بارونه چلول - فیرنګی هم ورته پټ په زړه کښے کرل ریبل - کله چه موقع په لاس ورغله نو په ۲۰/ دسمبر ئے ناڅاپی دَ شابی خیلو دَ کلی نه ګهیره تاو کړه - دَ کورونو پلټنه ئے اوکړه او ۳۷ تنه کلی وال سړی ئے ګرفتار کړل کوم ئے چه ترمودو په بندی خانو کښے اوګرول -

## دَ شابی خیلو دَ بدرګے ګرفتاری:

حکومت چه دَ شابی خیلو محسودو کومه بدرګه دَ سړک د زغښتے او دا سے نورو کښالو سمولو دپاره بهرتی کړے وه، په هغو باند ے دَ فیرنګی داشک وو چه دوی پخپله دَ حکومت په خلاف دَ غازیانو سره سازباز لری او داریورټ هم ورته رسید لے وو چه په تیرو ورځو کښے چه په کوزشکتوئی کښے کوم بریدونه شوی وو، په هغو کښے هم دوی دَ غازیانو ملاتړ کړے وو - په دے وجه فیرنګی پټ په پټه دَ دوی دَ ګرفتاری فیصله کړے وه او په ۳/۲ دسمبر چه دغه بدرګوال دَ تنخواه آخستو دپاره رزمک او دا سے نورو سرکاری ځایونو ته راغلل نو دَ دوی څخه ۱۶۰ تنه ګرفتار کړے شول -

دَ دے ګرفتاری په وجه په اولس کښے زښت اضطراب پیدا شو او دَ ملک خونیاخیل په مشری کښے ئے فیرنګی ته رنګ په رنګ مرکے شروع کړے - فیرنګی چه دَ حالاتو جاج واخستو، نو صورت حال ورته دیګرګون ښکاره شو او په ۱۵/ دسمبر ئے دَ دوی سره روغه جوړه اوکړه او خوشی ئے کړل -

## شلم باب

# فقیر ایپي په خره کښې

دَ کال ۱۹۳۷ء دَ اکتوبر په نیمائی کښې فقیر ایپي دَ مدا خیلو په علاقه کښې بارومان سر ته نزدے خره خپل مرکز او ټاکلو ولے پخپله ئے هیڅ درک معلوم نهٔ وو. ځکه چه دهٔ به په یو ځائے مستقل قیام نهٔ کولو، همیشه به ئے خپل مسکن په ګردش کښې ساتلو. دَ نومبر په آغاز کښې په خره کښې ښکاره شو. او ډلے ډلے خلقے ورچلاندے شوے. دهٔ به ورته ویل چه تاسو فی الحال دَ سپین وام په سیمه کښې فیرنګی ته ورمته اوسئ او نورو علاقو ته لا سونه مهٔ اوږدوئ. فقیر ایپي چه په پوره ډول په خره کښې ځان آباد کړو. نو ړومبے کار ئے دا اوکړو چه دَ مدا خیلو، جدړانو او تانړیو ترمنځه چه څهٔ ګیلے مانے وے هغه ئے ختمے کړے او دَ هغوئ په مابین کښې ئے دوستانه او خوشګوار تعلقات قائم کړل. نتیجه دا شوه چه جدړان هم دَ فقیر ایپي دَ کمک دَ پاره رامات شول خو دهٔ به

ورته وئیل چه تاسو اوس بیرته لاړ شئ. او په مناسب وخت به مو زهٔ بخپله راوغواړم.

## دَ مدّاخیلو جرګه :

فیرنګی چه په خبره کښے دَ فقیر ایپی مقبولیت اولیدو نو بیائے زرهٔ پښو ته ولویدو. دَ مدّاخیلو جرګه ئے راوبلله او ورته ئے اووئیل چه :

"تاسو په دوؤ ورځو کښے دننه فقیر ایپی دَ خپلے علاقے نه اوشړئ، ګنی ستاسو په خلاف به سخته کاروائی اوکړے شی."

فیرنګی دوئ ته دا هم اووئیل چه دَ لفټیننټ بیټي دَ قتل په پاداش کښے چه په تاسو باندے کومه جرمانه لګیدلے ده او تراوسه مو حکومت ته پوره پوره نهٔ ده داخله کړے دَ هغے په بدل کښے به سرکار ستاسو دَ هغو لړکو نه، کوم چه تاسو بهر اوړئ، ځلورمه برخه ضبط کوی او ستاسو دَ جرمانے په وصولئ کښے به ئے حسابوی. فقیر ایپی چه دَ مداخیلو دا مجبوری اولیده نو وقتی طور ئے خبره بریښوده او په ۱۰ ، نومبر دَ افغانستان دَ جدراڼو په علاقه کښے دَ مداخیلو وزیرو پخے میلے ته واوړیدو.

دلته دهٔ دَ افغانستان او وزیرستان دواړو سیمو خلقو ته دَ جهاد تبلیغ شروع کړو. خپل ورور شیرزمان ئے دَ ډیورینډ لائن په دواړو لوریو دَ لښکر دَ راغونډولو دپاره اولیږلو او هرچا

ته به ئې وئیل چه دَ روژے دَ میاشتے په وتو به په فیرنګی جنګ وی. اوس فقیر ایپی یو خوا خلیفه شیرعلی خان ته دَ جنګی تیاریٔ کولو اطلاع ورکړه او بل خوا ئې په مائیزړ او لاسواندی کښې دَ لوئې غونډے اهتمام اوکړو. کله چه روژه تیره شوه او اختر راغے، نو فقیر ایپی ته دَ مداخیلو په علاقه کښې یو درونه لشکر سلامی اوکړه. فقیر ایپی په دا موقع هم دَ جهاد تلقین ورته اوکړو او خو ورځے پس ئې خلق رخصت کړل. پنځلسم ۱۵ نومبر ته لاړو. دَ نومبر په آخره کښې بیا مائیزړ ته راغے او دَ امرجان مداخیل په کور کښې میشته شو. مداخیلو خپلو کښې دَ دهٔ په راتګ دا تړنګه اوکړه چه که چا دَ فقیر ایپی دَ موجودګئ په حقله فیرنګی ته مخبری اوکړه نو غټه جرمانه به ترے نه وصولولے شی.

## دَ بکاخیلو او جانی خیلو جرګه:

په دولسم ۱۲ نومبر فیرنګی دَ بکاخیلو او جانی خیلو وزیرو جرګه راوبلله او ورته ئې اووئیل چه:

" دَ حکومت په خلاف ستاسو دَ پرله پسے اقداماتو له کبله په تاسو باندے لاندینئ جرمانه لګولے شی:
په بکاخیلو زر ۱۰۰۰ روپئ نغدے، لس ۱۰ میله بوړی او پنځوس لندیوال ټوپک، او په جانی خیلو هم زر ۱۰۰۰ روپئ نغدے شل ۲۰ میله بوړی او شپیته ۶۰ لندیوال ټوپک."

دواړو قامونو مجبوراً دَ فیرنګی دَ حکم تعمیل اوکړو.

## دَ مليشئے نوی پوستونه:

دَ کال ۱۹۳۷ء دَ دسمبر په شپږو ورځو کښې چه په وطن سخت سارهٔ راغلو او غازيانو دَ حکومت په خلاف هلوځلو نه لاس اونيوو نو فيرنګی هم ترڅهٔ حده خپل فوځونه کم کړل او په وزيرستان کښې ئے صرف بنوں، رزمک او وانا د رے بريګيډه فوځ پريښود، ولے دَ احتياط په توګه ئے دَ بيچی کسکئ او ګرديوم په سيمو کښې دَ مليشيے[۲] دوه نوی پوستونه قائم کړل۔

دَ دسمبر ۱۹۳۷ء نه آګاهو دَ کال ۱۹۳۶-۳۷ء په دوران کښې دَ وزيرستان په خاوره دَ انګريزانو پنځوس زره قوی بر سرِ پيکار وه۔ دَ دغے قوے په مدد کښې پينځلس[۱۵] کمپنئ دَ قچرو دَ ټرانسپورټ او لس[۱] دَ اوښانو دَ ټرانسپورټ هم کار کولو۔ دے موده کښې فيرنګی دَ وزيرو محسودو په مختلفو علاقو کښې او وهٔ شلے[۱۴۰] ميله دَ لارئ دَ تګ راتګ جوګه سړک هم تعمير کړے شو۔

## شامی پير:

په کال ۱۹۳۸ء کښې هټلر دَ دويم عالمی جنګ په تياری کښې بوخت وو۔ او په مشرقِ وسطیٰ کښې به دَ دهٔ ايجنټانو دَ افغانستان سره لګيدلی سرحد باندے دَ ګړبړ پيدا کولو کوششونه کول، غرض ئے دا وو، چه دَ برطانوی فوځ زياتره تعداد په دغو شخړو کښې مصروف اوساتی۔ دَ شامی پير' چه دَ بغداد دَ عبدالقادر جيلانیؒ دَ کورنئ نه وو او سعيد الکيلانی نامه ئے وه، په حقله هم وئيلے شی' چه دَ

هټلر ایجنټ وو. خو ځنے وائی چه نا هغه دَ محمود طرزی دَ ثریا نومے لور، چه دَ امان الله خان والئ افغانستان ملکه وه، اوښے وو. په دا وجه دهٔ دَ کابل په تخت باندے دَامان الله خان دَ بحال کولو کوشش کولو.

بهر حال هغه روميے په خُفيه ډول دَ حالاتو دَ جائزے آخستو په ترڅ کښے کانی گرم ته راغے، چه حالات ئے ساز گار اوليدل نو په دويم کرت مارچ ۱۹۳۸ء کښے دَ امان الله خان دَ بحال کولو تحريک په لړ کښے سره دَ پرديانه دولت بيا وزيرستان ته راغے او په وآنا کښے ئے ځان ښکاره کړو. داخل ئے په مخ ښکلے بديره او په تن جلالی قبا وه.

وروستو دَ کانی گرم سره نزدے ميشته شو. او دَجون په مياشت کښے ئے مذهبی تبليغ شروع کړو. په اولس کښے په شامی پير او بغدادی پاير معرفی شو. ولے دَ جون تر نيمائی دَده تبليغ تو سياسی رنګ اختيار کړو. شاه ظاهر شاه ته به ئے غاصب او امان الله خان ته به ئے دَ کابل دَ تخت اصلی حقدار وئيل. دَدهٔ په خبرو کښے دومره اثر وو، چه په څو ورځو کښے ئے دَ وزيرستان دَ قبائلو يو درونډ لښکر په کابل باندے حملے کولو ته تيار کړو.

دَ دهٔ په مرستيالو کښے دَ محسودو دوؤ ملکانانو ملک آيوب خان او ملک ولی خان، کوم چه دَ فقير ايپي نامتو غازيان وو، فعال رول لوبولو. مګر فقير ايپي پخپله دَ شامی پير سره هيڅ قسم

رابطه نهٔ لرله ۔ دَ کشمیر دَ غزا یو سرتیرے مجاهد گل شاه خان زلی خیل احمدزئ وزیر هم دَ شامی پیر سره ژور تعلقات درلود ۔

انګریزانو په دے لړ کښے دوه مخیزه پالیسی اختیار کړے وه۔ یو خوا ئے دَ شامی پیر دَ تحریک په خلاف شدت اختیار کړے وو، او بل خوائے په افغان حکمرانو باندے دَ فشار اچولو په غرض دَ شامی پیر خوشامدی کوله ۔

آخر دَ انګریزانو دَ منشا په مطابق سودا برابره شوه ۔افغان حکومت دَ خپل ملک نه جرمنی انجنیران وَ بیستل او انګریزانو شامی پیر ته شل زره سټرلنګ پونډ شکرانه ورکړه۔ او په خاموشئ ئے اماده کړو۔ حکومت دَ قبائلو لشکر ته هم دَ خوریدو اخطار ورکړو خو هغوئ او نهٔ نغوژلو او بمباری پرے اوشوه ۔ دغسے شامی پیر هم دَ وآنا په مقام تش په نوم ګرفتار کړے شو۔ او په ۲۵ جون په ډیکوټه طیاره کښے پنجاب ته یوړے شو۔

وئیلے شی چه وزیرستان ته دَ راتلو نه آګاهو دَ شامی پیر نهٔ بریره وه او نهٔ قبا۔ دغه شان ئے دَ وتلو نه پسته هم نهٔ بریره اوساتله او نهٔ قبا ۔ بلکه بنهٔ سوټډ بوټډ شو ۔

## دَ درګئ سر جهګړه :

دا هغه شپے ورځے وے چه یو خوا په قطبی وزیرستان کښے فقیر ایپی پخپله دَ مدآخیلو په سیمه دَ فیرنګی په خلاف لشکرے راغونډَ ولے او بل خوا په سوئیلی وزیرستان کښے دَ دهٔ خلیفه ګانو په

انګریزانو باندے حمله کله راتیته کړے وه. په دے لړ کښے د درکئ سر او ونے سر جګړے د ستائینے وړ دی. درکئ سر د کوټکی قلعے او سپلاټئ توئ قلعے په مینځ کښے د سطح سمندر نه ۶۶۰۵ فټه اوچت غر دے چه شمالاً او جنوباً ویړ پروت دے. د درکئ سر په سیمه کښے د خلیفه شیرعلی خان لشکر د سخی مرجان په مشرئ کښے راغونډ شوے وو. د سوئیلی وزیرستان پولټیکل ایجنټ چه ترے نه خبر شو، نو زښته ویره ورسره پیدا شوه.

په ۱۴ اپریل ۱۹۳۸ء یو خوا د جنډولے نه د کمانډنټ میجر ووډز په مشرئ کښے او بل خوا د سراروغه نه د کپتان بانبکټن په کمان کښے پلاټونونه ورمارچ کړے شول. دغسے د جنډولے او سروکئ څخه د کپتان ډیو او لفټیننټ ایلډرمین په کمان کښے یو څو پلاټونونه په لاریو کښے وروړے شول. د فیرنګی ټوله قوای څوارلس[۱۴] پلاټون جوړه شوه.

غازیان که هر څو په شمیر کم وو، خو د فیرنګی د ارادو نه چه خبر شول، نو په ډیر پخته عزم او استقامت سره ورته مورچه شول. کله چه فریقین وبله مخامخ شول. نو داسے سخته جګړه اونښته چه د کندهیری الګهے او درکئ سر په قرب وجوار کښے د ټوپکو، ماشیندارو او توپونو له ټکار او غرمبار نه د غوږونو پردے شلیدلے. غازیان به د نیز په څیر پرے ورختل، او فوځیان به ئے د کنګخرو په شان په مخ اوړل، یو داسے هیبت خور شو،

چه فیرنګی دَ خپل زبردست طاقت باوجود دَ جنګړ ولے هیډکوارټر کمانډنټ ته دَ کونترول په ذریعه پیغام اولیږلو چه؛

"ډیر بد بد کښیل یو، دَ طیارو او تازه کمک سخت ضرورت دے"[1]

په یاؤکم یوه بجه جنګی طیارے راورسیدے او په غازیانو ئے حملے شروع کړے. بل خوا دَ جنګړ ولے او وآنا نه هم تازه دم فوځ راورسیدو. جګړه لاهغه شان لګیا وه او سپاهیان بد بد ګیر شوی وو، چه په دے مینځ کښے جنګی طیارو په هغه ټولو ځایونو چرته چه سپاهیان ګیر وو، ایمیونیشن او نور ضروری سامان اوغورځولو. او فوځیان سر دوباره چاق وچوبند شول. ولے سره دَ دے هم غازیانو خوزیدو ته پرے نښودل. هم هلته ئے پرے ماښام کړو او ټوله شپه ئے باړوبه پرے قلار نهٔ کړل.

دویمه ورځ بیا نیمهٔ کرمه جګړه اوشوه، خو دَ بده مرغه یو خوا دَ غازیانو سره دارو مردکی په ختمیدو شول او بل خوا دَ زښتے بمباریٔ او ګوله باریٔ له کبله دومره بے آرامه شوی وو چه چار و ناچارئے دَ دړګیٔ سر خالی کړو. او په خپلو مخو لاړل.

په دغه جګړه کښے دَ فیرنګی دَلوری نه یو فیرنګے افسر کپتان آئی. بی. ډیو[2] او اووهٔ تنه سپاهیان هلاک او پینځهٔ کسان سخت ژوبل شول. او دَ غازیانو له خوا نه سرورخان شمن خیل محسود په

---

[1] داستانِ پارینه، صفحه ۱۱۲ + [2] I. B. DEW

شهادت ورسیدو۔ او میراعظم خان او سخی مرجان سرنګ خیل محسود، ربوتلے جلال خیل محسود او دولتی شمن خیل محسود زخمیان شول۔ دَ دے جګړے په حقله دَ "داستانِ پارینه" پهٔ مخ ۱۱۷ دَ شهیدانو شمیر شپاړس[16] او دَ ژوبلیو دیارلس[13] لیکلے شوے دے، چه صحیح نهٔ معلومیږی۔ ځکه چه میراعظم خان ئے هم شهید ښودلے دے۔ حال دا چه هغه په دے جګړه کښے شهید شوے نهٔ وو۔ بهرحال دَ غازیانو له خوا یو شمیر جانی تلفات واقع شوی وو۔

## دَ ونے سر جګړه:

دَ سراروغه نه دوه نیم میله سویل لویدیز پله د کټکی په مقام دَ خلیفه شیرعلی خان لشکر راغونډ شوے وو۔ فیرنګی ته چه پته اولګیده، نو بله بله ئے نهٔ اوکړه، سمدستی ئے په ۱۲ م جولائی ۱۹۳۸ء دَ سراروغه او جنډولے څخه دَ طیارو په حفاظت کښے پینځهٔ پلاټونه ورولیږل۔ او په ونے سر ئے قبضه اوکړه۔

په مقابل کښے غازیانو هم دَ ونے سر دَ قبضه کولو کوشش شروع کړو۔ ځکه چه خلیفه شیرعلی خان له پرمبے نه دا ځائے دَ څپل توپ دپاره غوره کړے وو۔ سحر پهٔ پاؤ کم اتهٔ بجے دَ غازیانو او سپاپانو ترمینځهٔ جګړه اونښته۔ دَ غازیانو او فوځ ترمینځه تقریبًا دوه سوه ګزه فاصله وه۔ او یو په بل به ئے سخت حملے کولے۔ مازیګر په پاؤ کم پنځو بجو غازیانو دَ نعرهٔ تکبیر ژغونه اوکړل او

په سپاهیانو ئے د لسے چپاؤ ووهلو، چه د شلو گزو په فاصله نزدے ئے ورسره مورچے اونیولے۔ او په یو بل ئے لاسی بمونه غورځول شروع کړل۔ دغسے رو رو نمر په ډوبیدو شو۔ تیاره خوره شوه خو جنګ قلارے نهٔ نیوو او ګرده شپه قیامتِ صُغریٰ برپا وو۔ سحر د سپاهیانو د مدد د پاره بکتر بند ګاډی او د میرانشاه نه نورے جنګی طیارے راورسیدے۔ او د فریقینو په مابین کښے یوه شپه بیا بنهٔ جنګ تود شو۔ ولے غازیانو کوم چه ټوله شپه جنګیدلی وو او دارو مردکی ورسره ختم شوی وو، د نورے ټینګے توان او نهٔ درلود او په خپلو مخو لاړل۔ په دے جګړه کښے د فیرنګی له خوا نه پینځه مړی ژوبلی او شول۔ د غازیانو د لوری ځغه د "داستانِ پارینه" په مخ ۱۳۱ باندے دولس[۱۲] شهیدان او اتهٔ زخمیان لیکلی شوی دی، ولے د مقامی تحقیق په مطابق فقط دوه[۲] تنه شهیدان او یو څو کسان برخیرن ټپیان شوی وو۔

## فقیرایپی په مداخیلو کښے :

د مداخیلو په علاقه کښے فقیر ایپی تر ډیرے مودے راسے پاتے شو۔ فیرنګی په مدّاخیلو وزیرو تانړئ اوشلولے او خال خال حربے ئے پرے استعمال کړے چه فقیر ایپی د خپلے علاقے نه اوشړئ، مګر دوئ به نهٔ د فیرنګی خبره نغوژله او نهٔ به ئے په فقیر ایپی څهٔ غرض کولو۔ آخر فیرنګے مجبور شو۔ د ۴، اپریل ۱۹۳۸ء نه ئے د

دوئ سیمه بلاکیدہ کړه، چه په نتیجه کښے ئے دَ مداخیلو پنځوس نفر کلی وال او دوه تنه سرکرده ملکانان خانداَن او ارسلا خان اونیول شول۔ دَ دے نه پسته په دولسم اپریل دَ دوئ جرګه دته خیلو ته اوبللے شوه۔ ولے دَ ګرفتارئ له ویرے نه څوک رانغلل۔ داځل فیرنګی دَ طیارو په ذریعه نوټسونه پرے اوغورځول۔ او په ۲۵ اپریل ئے بیا میرانشاه ته راوبلل۔ په نوټسونو کښے دا هم ورته ښودلی شوی وو، چه هیڅ قسم ګرفتاری به نهٔ کیږی۔ او کهٔ بیا هم تاسو رانشئ نو ستاسو په خلاف به سخت اقدامات کولے شی۔

داځل دَ یشپږ مداخیل قام جرګه راغونډه شوه، اوحکومت دا لاندینی شرطونه ورته واوړول :

(۱) دَ براَمتے دَ جریان ژمنه به دَ سرکار په خوښه وی۔

(۲) دَ مداخیلو له خوا نه کهٔ دَ مطلوبه یرغمالو په حاضرولو کښے کوم غفلت یا ناکامی واقع شی نو حکومت به دَ هر قسم اقداماتو کولو پوره پوره حق بجانب وی۔

مداخیلو ته دا اخطار هم ورکړے شو، چه آئینده به نهٔ خو دوئ پخپله وران کاری کوی او نهٔ به دَ نورو سیمو خلقو ته دَ تخریبی کاروایئ اجازه ورکوی۔ ګنی حکومت به په دوئ سخته بمباری اوکړی۔ په دے موقع دَ مداخیلو جرګے دا خبره هم تسلیم کړه، چه فقیرایپی مخکښے په دری خیله کښے وو، چرته چه دَ دوئ دَ ګرمئ میلے دی او دَ خپل معمول په مطابق شپږ میاشتے خلوت نشین

شوے وو۔

دَ دے نه پسته دَ مدآخیلو مشران دَ خلقو سره دَ صلاح مشورے دپاره خپلو خپلو کلیو ته لاړل۔ دَ فیرنګی دَ اخطار باوجود دَ مدآخیلو غیرتی اولس دَ حکومت شرطونو ته غاړه کښینښوده۔ چنانچه په څوارلسم مئی دَ دوئی په مرکزی ځائے شیرنے او دا سے نورو خاص خاص ځایونو باندے دَ بمبارئ نوټسونه اوغورځول شول او په ۱۷ مئی بمباری پرے اوشوه۔ دَ بمبارئ په دوران کښے فیرنګی دَ نورو پاتے مدآخیلو جرګه هم راوبلله خو هغوئ هم حاضر نهٔ شول او تر پنځویشتم مئی پورے متواتره بمباری پرے اوشوه۔ فیرنګی چه خپل وس پرے تمام کړو، نو دا پیره غازیانو، چه اکثر پکښے مداخیل وزیر وو په فیرنګی پسے ملا اوتړله۔ او دَ دته خیلو په قلعه ئے دَ ۲۸ مئی نه تر ۳۰ مئی پورے پرله پسے ګوله باری اوکړه او سخت تاوان ئے ورته اورسولو۔ په دے موقع چه دَ قلعے څخه حوائی حمله شروع شوه نو یوتکړه غازی شائسته خان اتمانزئ وزیر په شهادت اورسیدو۔

اوس غازیان لا سکروټه شول۔ او دَ خاصه دارو یوشمیر پیکټونه ئے اوسیزل، چه مشهود پکښے خون پیکټ وو، کوم چه دَ مدآخیلو خاصه دارو ژغورلو۔ په دا شپو ورځو کښے به هم کله ناکله په مدآخیلو بمباری کیدله۔ په ۲۵ جون یو ځل بیا میرانشاه ته دَ مدآخیلو جرګه راوبللے شوه۔ په جرګه کښے دوئ فیرنګی ته اووئیل

چه فقیرایپي دَ دوئ دَ علاقے نه وتلے دے او دَ خرے په سیمه کښے په ویوډیله لاڼ بانده میشته دے. حکومت دَ دوئ په وینا باور اوکړو، بمباری ئے بره بنده کړه او قیدیان ئے ورته خوشی کړل. په دا موقع مداخیلو دَ فیرنګی سره دا وعده هم اوکړه چه که چرے فقیرایپي بیا دَ دوئ علاقے ته راشي نو دوئ به ئے حتماً شړی. کنی دَ حکومت دَ کومے سزا نه به غاړه نهٔ غړوی. فیرنګی دَ خړے سیمے مداخیل هم خبردار کړل چه فقیرایپي اوشړی او دلته ئے لشکر غونډ ولو ته مهٔ پریږدی.

## دَ ممې روغے جګړه:

دَ مداخیلو او فیرنګی ترمینځه کهٔ دَ روغے جوړے هر څو خبرے اترے کیدلے، خو ننګیالی غازیان په دے اړ نه وو او هغه شان به ئے دَ دته خیلو په قلعه ګوله باری کوله. دَ دته خیلو قلعے قوئ چه بیخی لاعلاجه شوه، نو دَ رزمک کیمپ نه دَ منظرخیلو په لاړ امدادی فوځ ورروان کړے شو. دغے فوځ په ممی روغه کښے په کروندہ نوے ځائے، چرته چه دَ درے څولے څخه اوبهٔ ورتللے، کیمپ اولګولو. غازیانو دَ اوبو سلسله ترے نه قطع کړه. فوځیان سخت په تکلیف شول. او په ۲، جون د کیمپ نه وریسے راوتل. دَ غازیانو او دَ فوځ ترمینځه یو تور دندوکار اوچت شو او یوداسے ګړزهار او ټکار اولګیدو، چه په دواړو غونډونو ځئ نه شو اوریدلے. ترماسپښینه سخته جګړه اوشوه. دَ فیرنګی دَ لوری نه ۱۷۳ کسان

مړي ژوبلي اوشول، چه یو څو انګریزان افسران هم پکښې شامل وو او دغازیانو څخه هیله دوه نفر شهیدان شول چه یو توري خیل وزیر وو او بل د خاني مچه مداخیل ترۀ وو. دغسې څلور میره ټپیان شول، چه یو پکښې مشهور غازي محمد اکبرخان حیدرخیل داوړ وو. دغه توریالے ځوان هم وروستو په حق ورسیدو.

ویئلے شي چه د غازیانو جاني تاوان په دے سبب کم وو، چه یو خو د دوئ حمله یعني ناڅاپي وه، او بله دا چه کله فوځیان جوابي حملے ته تیاربیدل، هغه وخت زبردست ګردوغبار راپورته شو او غازیان ئے د دښمن د ضرر نه پناه کړل.

په دغه جګړه کښے خاني مچه مداخیل هم یو فیرنګے وژلے وو او سر ئے ترے نه پریکړے وو. مازیګر فیرنګي د دوئ خاصه دارو په ذریعه غازیانو ته لاندینے پیغام وراولیږلو چه:

(۱) د مقتول فیرنګي سر بیرته راولیږئ.

(۲) کیمپ ته د اوبو د راتلو سلسله بحاله کړئ.

(۳) دغه کلے، کوم ځائے چه تاسو میشته یئ ترصبا پورے دے کډے بار کړي.

د لشکر مشرانو ملک ګلاجان او مولانا غازي میرجان ورته په ځواب کښے اوویئل چه:

"د اوبو خبره زمونږ سره تعلق لري. زمونږ خو دا خیال وو چه نن به فیرنګے د اوبو تږوس نه کوي، او

دواړه فریقه به دمه کوو، خو چه هغوئ دمه کول
نهٔ غواړی، نو صبا دِ دَ اوبو دَ خلاصون دپاره راشی،
موښ به ورته په انتظار یو۔ پاتے شو دَ فیرنگی
سړ، هغه دَ خانی محچه مداخیل په اختیار کښے دے، دَ
هغوئ نه تپوس اوکړئ۔"

خانی محچه ورته اووئیل چه: " دَ اینگامال عزهٔ په تیرو انښتو
کښے فیرنگی زموږ دَ یو پیاوړی مجاهد خونه میر سر پریکړے
وو، نو شکر دے، دَ دهٔ سر موږ ته په لاس راغے، او س
غواړم چه دغه سر دَ خپل شهید ترهٔ په قبر زوړند کړم۔"
دَ کلی په حقله ورته کلی والو ځواب ورکړو چه: کهٔ فیرنگے
دَ صبا په ځائے نن راشی نو ډیره به ښهٔ وی، موږ به ئے
لاره څارو۔"

فیرنگی چه دغه دل شکن ځوابونه واوریدل نو دَ غازیانو سرہ
ئے نور دَ پړی سر ړانهٔ کښلو او صبا وختی ئے کیمپ خالی کړو او
رزمک ته پسته خپ مخے لاړو۔

## محمد اکبر خان شهید

محمد اکبر خان شهید حیدر خیل داوړ وو۔ او په مداکبری ئے
شهرت لرلو۔ ډیر شجاع او بهادر ځوان وو۔ پلار ئے ابی سمان نومیدو۔
دغه باتوره دَ فوځیانو سره په منگلو شوے وو او په ډیره مړانه
جنگیدلے وو۔ دَ مداکبری یو بل کلی وال ملگرے چه شاه بهرامی

نومیدو او دَ ساحر خوئے وو، هم ډیر تکړه او توریالے ځوان یادیدو شاه بهرامی هم په ختټه حید رخیل داوړ وو۔ او دَ قیامِ پاکستان په وړومبو کالونو کښے په غښتو دانو په حق اورسیدو۔

## دَ بم چاؤدنه:

دَ میی روغے دَ جګړے په دوران کښے غازیانو دَ یکم جون ۱۹۳۸ء نه تر ۱۴ر جون ۱۹۳۸ء پورے دَ دته خیلو سړک مکمل طور بند کړے وو۔ او ځائے په ځائے ئے پکښے مائینونه ښخ کړی وو۔

په ۵ر جون ۱۹۳۸ء چه دَ توچی سکاؤټس افیسر کمانډنګ او نائب پولټیکل ایجنټ نوره وری اوکړه او په دغه سړک ئے موټر روان کړو۔ نو دَ بوئے قلعے سره نزدے په سړک کښے ښخ یو مائین اوچاؤدلو، موټر ئے دړے وړے کړو او دوئ دواړه مرګونی شول۔

## دَ خړے جګړه:

فیرنګی به کله په مداخیلو باندے هرځومره فشار اچولو، خو هغوئ به دَ فقیر ایپی په چارو کښے مداخلت نهٔ کولو۔ دغه وجه وه چه دهٔ په خړه کښے ګڼړے ځمځے کنستلے وے او په زرګونو غازیان به پکښے پنډیدل. نهٔ دَ سویری کمے وو او نهٔ دَ مرمیئو۔ تولی تولی غازیان به وتل او په مختلفو علاقو کښے به ئے ځائے په ځائے بریدونه کول۔ فیرنګی په مداخیلو ډیر اوکړو او خو څو کرته ئے دَ بمباریٔ دا ړکے ورکړے، خو هغوئ به پرے غوږ نهٔ ګرولو۔ آخر فیرنګے مجبور شو او دَ بمباریٔ نوټسونه ئے پرے اوغورځول چه:

"کهٔ دَ خلیز[24] پشت کهنتو نه پسته په دغه سیمه
کښې کوم بنیادم یا ځاروے څرګند شي، نو مشین ګن
به پرے چلولے شي."

دَ دغه مهلت نه پس یو خوا په څره بمباري شروع شوه او بل خوا دَ فقیر ایپي دَ ګرفتارولو په لړ کښې په دغه سیمه بانده دَ فوج کشئ ترتیبات اوبیول شول.

په دیارلسم[13] جولائیٔ دَ ۱۹۳۸ء دَ میرانشاه نه دَ بیکن نومے انګریز پولټیکل ایجنټ په مشرئ کښې څرے ته فوځ روان شو. دغه فوځ چه څړکمر ته رسیدو، نو غازیانو باړونه پرے رابانده کړل او په مشکله ئے وړکي ته ځان ورسولو او کیمپ ئے اولګولو. وړکے دَ څرسینو کلے دے او دَ دے کلي نه په نهه[9] میله فاصله باندے قطب پله دَ څرے هغه سیمه ده. چرته چه دَ فقیر ایپي ځمځے وے. او س یو خوا فیرنګي دَ څرے دَ قبضه کولو تجویزونه سنجول او بل خوا دَ مقامي غازیانو ملاتړ ته دَ افغانستان منګال، جدران او تانړي قامونه په تادئ سره څرے ته راځلیدل. دَ څرے مرکز نه تقریباً درے[3] میله راښکښې وړکي پله غازیانو دَ غزوني لوړے څوکے او ډډے مورچې کړے وے او په لارو پالو کښې ئے بے شمیره ماینونه ښخ کړي[1] وو.

---

[1] دا ماینونه معراج الدین نومے یو طالب جوړ کړي وو. دغه طالب به دَ تیلو په تشو ورو ورو ډبو کښې دَ شیشې ټکړے او بارود وبله بندول او دَ ماین کار به ئے ترے نه اخستو. څهٔ موده پس بنون کښې دَ خپلو ماینو دَ لاسه سخت زخمي

دَ څوارلسم[۱۴] جولائی په ګائیز چه فوځ دَ وژګی نه خپے ته روانیدو نو غازیان لکه دَ بړبوکۍ ترے نه ګړدی شول او دَ فریقینو ترمینځه زبردست جنګ اونښتو. ناڅاپه جنګی طیارے راښکے شوے، غازیان ئے په سرۀ اور کښے پټ کړل. او فوځ پیشقدمی جاری اوساتله. دَ الله پاک شان وو دَ فوځ څرګی چه خپے ته رسیدل نو په دغه سیمه باندے خړ ګړد راپورته شو. دَ خپلو پردو پیژندګلو ګرانه شوه. او طیارو سهوًا په خپل فوځ باندے حملے شروع کړے. دَ فوځیانو وارو پار خطا شو، یو خوا دَ خپلو جنګی طیارو څخه په نالان شول او بل خوا دَ غازیانو دَ بارونو څخه. داخولاڅۀ؟ چه کله دوئ په هغو لارو پالو کښے خوارۀ شول، چرته چه مائنونه ښخ کړی شوی وو. نو دَ مائینونو د لاسه دلسه په هلئے ناتار ګډ شول او دلسه ویرے واخستل چه په شلئے ملتے اوکړه، او نیم نیمګوری فوځ میرانشاه ته پښے وُئستے. په دغه جګړه کښے ګهنړ فیرنګیان وژلی شوی وو. خو مشهور یکښے پرائیویټ جوزف آلپوریټ برُنسلے، پرائیویټ جارج والټر کاربټ او پرائیویټ جوزف ملبری وو. دَ فوځیانو څخه ۳۵۹ مړی ژوبلی شوی وو. او چه کوم روغ پاتے شوی وو، په هغو باندے دومره هیبت پریوتے وو، چه اکثر اعصابی او سرکک شوی وو. دَچا خوُلے سترګے کږ ے

---

شو او پولیس ګرفتار کړو. مقدمه پرے اوچلیده او پهانسی شو. معراج الدین په اصل کښے دَ کابل دَ سیمے افغانستانے وو، خو بنوں کښے میشتۀ شوے وو.

شوے وے او دَ چا نور مختلف اعضاء شل شوی وو۔ په دا وجه زیاتره دَ ملازمت نه سبکدوش کړے شول۔ دَ دے نه علاوه ګنړے خچرے او آسونه هم په هلاکت رسیدلی وو۔

په بل لوری دَ پریوانه مال غنیمت تر لاسه کولو نه پرته ۲۴ تنه غازیان شهیدان او ګنړ زخمیان شوی وو۔ په شهیدانو کښے ملا زنګی او زخمیانو کښے ملا میرخانګل دَ یادولو وړ دی۔ په په شهیدانو کښے دَ مولانا محمّد ګل منیر دَ تره ځوئے زنګمیر هم شامل وو۔

## دَ بنوں په ښار شبخون :

دَ خړے جګړه فیرنګی ته یوستونزه جوړه شوه۔ یوځل بیا لور دَ لوری نه غازیان راپورته شول او برید ونه غدئ ئے پړے شروع کړے۔ بنوں کښے هم ګړبړ روان شو۔ او دَ ګیمبتی په سیمه کښے دَ بنوں احمدزو وزیرو دَ خلیفه مهردل خټک په مشرۍ کښے ځائے په ځائے لاسونه واچول۔ کله به ئے سرکونه ورانول او کله به ئے فوجی ګشتونه وډزول۔ هم دغو وزیرو دَ خلیفه مهردل خټک په مشرۍ کښے دَ ۲۳، ۲۴ جولائی[۴۳۸] په مینځنۍ شپه دَ بنوں ښار په نمر ختیځه برخه حمله اوکړه۔ اووه تنه ئے هندوان قتل کړل او دیرش زره پونډه ئے سرکار او هندوانو ته نقصان اورسولو۔

## دَ لفټیننټ سنډرس واقعه :

دَ ۹ اګست ۱۹۳۸ء په ګائیډ دَ توچی سکاؤټس لفټیننټ سنډرس (Lt. Sanders) دَ میرانشاه قلعے سره جوخت دَ بریډ په میدان کښے

یو بنځ کړے شوے مائین رابرخیره کړو. دَ اوچتولو سره ئے مائین په لاس کښے اوچاؤدل شو، او دَ سینډرس ښے لاس ئے پریکړو. دغه مائین جمعه خون درپه خیل او دَ میرانشاه کلی میرزر په شریکه بنځ کړے وو. دَ چا مخبر په جاسوسئ فیرنګی په یوولسم اګست دَ دوئ په کورونو چپاؤ وروړو، او دواړه ئے ګرفتار کړل. مقدمه پرے اوچلیده او په ۲۹ر اکتوبر دواړه لس لس کاله قید کړے شول.

دَ جمعه خون په خلاصون پسے په نهم[9] مئ ۱۹۳۹ء دَ درپه خیلو دَ مشرانو جرګه رزمک ته لاړه. اول ئے ریذیډنټ ته خواست اوکړو. او بیا دَ لفټیننټ سنډرس بنګلے ته په ننواتے ورغلل. فیرنګی ننواتے قبوله کړه او جمعه خون ئے معاف کړو. جمعه خون په شلم[20] ستمبر ۱۹۳۹ء دَ جیل نه خوشے کړے شو. او میرزر پوره لس کاله قید تیر کړو.

جمعه خون په قوم درپه خیل داوړ وو. پلار ئے ګلا خون نومیدو. کال ۱۹۳۶ء کښے چه فقیر ایپی په ملک آڅدر کښے دَ فیرنګی په خلاف دَ جهاد روبیئ غونډه کوله، نو هغه وخت دَ درپه خیلو دَ لشکر پرچم بردار دے وو. جمعه خون ډیر ننګیالے ځوان وو، ولے عموماً به ئے چندے راغونډولے او دَ ډاک دَ ترسیل وظیفه به ئے اجرا کوله. دغه توریالی تر آخری عمره پورے دَ ګوروبیک سره تعلقات منقطع نکړل او په کال ۱۹۷۴ء کښے تقریباً

دَ اوویاؤ کالو په عمر په خپل مرګ په حق ورسیدو۔

## په کیمبتی ګوله باری:

دَ بنوں احمدزو وزیرو چه دَ خلیفه محمد دل خټک په مشرئ کښے دَ فیرنګی په خلاف کوم هلے ځلے شروع کړے وے دَ هغے نه فیرنګے ډیر ستړے شوے وو۔ په اووم ستمبر ۱۹۳۸ء توچی سکاؤټس وراولیږلو او سخته ګوله باری ئے پرے اوکړه۔ دَ کیمبتی دَ سیمے ننګیالی غازیان هم ورته راښکته شول۔ او دَ فیرنګی سره ئے پوره پوره مقابله اوکړه۔ ولے دَ بده مرغه توچی سکاؤټس زور راوړے وو او دَ کیمبتی آبادی ئے لوټے لوټے کړه۔

## دَ فقیر ایپی ناجوړتیا:

فقیرایپی دَ خړے نه نیغ ګوروېک ته خپل مرکز منتقل کړو خو بخپله دَ کلامت شاه محمد مداخیل په کوټ کښے میشته شو۔ او دَ لشکر په راجمع کولو ئے بنا اوکړه۔ په منی کښے ئے چه کله دَ موسیٰ نیکهٔ زیارت ته دَ تلو تکل اوکړو نو دَ مداخیلو وزیرو په علاقه کښے دَ دوه توئ په کلی کښے، چه په مرو ژوندو کلی هم شهرت لری، [1] ساه بندی پرے راغله او دومره ډوب لاړو، چه یوه ورځ ماښکر په شپږو بجو بیخی بے هوشه شو۔ او خلق ئے دَ ژوند نه نا امیده شول۔ هم په دغه بے هوشئ کښے یوه شپه دومره قدرے رابیدار شو چه مولانا محمد ظاهر شاه ته ئے دا لاندینے وصیت اوکړو چه:

---

[1] دا ورکوټے کلے په نمرخاتهٔ خټک کښے لوئے مړبیستون لری۔

"وصیت بکل اجزاء بیت المال مبلغ -/۱۱۰۰ کلدار و -/۴۵۰
کابلی بدست شوتی بخانۂ پیر محمد نهاده و بخانۂ پیدہ خان
-/۱۴۰ کلدار قیمت بندوق و بذمہ یار خان موسکی قرضہ -/۵۶۰
کابلی۔ جائے دفن بوطن خود سر بشرطیکہ خلاف شریعت نباشد۔

۲۹ ربیع الثانی ۱۳۵۷ھ

حاجی میرزا علی خان بقلم خود

دَ پائندہ خان په کور کښې چه دَ -/۱۴۰ روپو کوم ټوپک ایښے شوے وو، دَ هغې خبره داسې وه، چه دَ جنګ په دوران کښې به چه کله فوځ په تیښته شو، نو غازیان به دَ وژلیو ژوبلیو سپاهیانو نه چاپیره شول او هرڅۀ به ئې تر ے نه ولجه کړل۔

فیرنګی دا چل اوکړو، چه په داسې موقع به ئې دَ خپلو سپاهیانو نه آرمرډ[1] کاروبنه تاؤ کړل او هرڅۀ به ئې بچ کړل۔

میاندہ نومے لوهار فقیر ایپی ته اووئیل چه زۀ به دَ آرمرډ کار په ضد یو داسې شے جوړ کړم چه دَ یو ډز سره به پورے تباه کیږی۔ چنانچه میاندہ دَ -/۱۴۰ روپو په لګښت باندے دغه ټوپک جوړ کړو خو څۀ خاص کار آمد ثابت نۀ شو۔

دَ فقیر ایپی سره چه کومې نغدے روپئ وے، هغه دۀ دَ غازیانو دَ راشن او میګزین دَپاره ساتلے وے۔ دَ الله پاک شان وو دَ خلیر پشت کهنتو بے هوشئ نه پسته فقیر ایپی په خود شو او څو ورځے پس

---

[1] په وزیرستانئ ژبه کښې ورته شوبلے یا شپیلے وئیلے شی۔ ؛

دَ موسیٰ نیکهٔ زیارت ګاه ته لاړو. هلته دیرش ورځې چله شو. چه چله ئې پوره شوه، نو هم هغه شان به ئې غازیان راغونډول او دَ فیرنګی په خلاف به ئې جنګول.

دسمبر ۱۹۳۸ء کښې فقیر آیپی دَ موسیٰ نیکهٔ نه بیرته مچه مداخیلو ته راغې او کوم ځائې ته به چه تلو په هغه ځائې به بمباری کیدله. آخر دَ پرله پسې بمبارئ نه مچه مداخیل تنګ شول مشرانو ئې میرانشاه ته راغلل او دَ حکومت سره ئې جرګه اوکړه. حکومت ورته اووئیل چه:

"په تاسو به هله بمباری بندولې شي، چه کله تاسو دَ فقیر آیپی دَ شړلو جوت ثبوت راکړی."

میرانشاه ته په دریم ځل راتګ باندې دغو ملکانانو حکومت ته حلفیه اووئیل چه فقیر آیپي شیرنې ته نزدې په تارموره کلی کښې دې. په دې خبره فیرنګی ملک خاندان ګرفتار کړو. ولې چه هغهٔ به مچه مداخیلو ته وئیل چه دَ فقیر آیپي دَ موجودګئ حال مهٔ وایئ.

فیرنګی په څلورم جنورئ ۱۹۳۹ء دَ تارموره په کلی بمباری اوکړه. دَ بمبارئ په دوران کښې دَ تارموره ملکانان میرانشاه ته لاړل او دَ خپل کلی دَ بچ کولو په خاطر ئې دا اقرار اوکړو چه فقیر آیپي زموږ کلی ته راغلے وو، خو اوس لاړکے ته تلے دې. وروستو فقیر آیپي دَ لاړکې نه هم لاړو او په مستوئ کښې ښکاره شو.

فیرنګی په دغه ځائے هم سخته بمباری اوکړه۔

## دَ فتح خان شهادت:

دَ مستوئے مچه مداخیلو یوځوان فتح خان چه په خپله سیمه بمباری اولیده او په خپلو خپلوانو ئے سترګے نمړنے شوے نو دَ انتقام آخستو پوخ عزم ئے اوکړو۔ خپل توپ ئے راوړو او په پنځم او اووم فروری ۱۹۳۹ء ئے دَ دته خیلو په قلعه بنهٔ رسارسا ګذارونه اوکړل او فیرنګی ته ئے ډیر جانی او مالی تاوان اورسولو۔ دَبده مرغه دَ ۱۳ فروریٔ په شپه چه یوځل بیا ده په همدغه قلعه ګوله باری شروع کړه، نو دَ ګرمولی دَ وجے نه توپ اوچاودو او فتح خان سره دَ خپلو دوؤ ملګرو خضرائی او بازخان په شهادت اورسیدو۔ خضرائی دَ ششی پل په سیمه کښے دَ ګیړ مداخیل وو۔ او بازخان ئے سیمه وال وو۔

دَ فتح خان پلار میده خون نومیدو۔ فتح خان ډیر توریالے ځوان وو۔ هم دَ ټوپک بهترین نشانه باز وو او هم دَ توپ په ویشتو کښے مړنے وو۔ دَ فتح خان دَ شهادت نه پس دَ ده یو مجاهد ورور زارے خان دَ دهٔ په ځائے خلیفه اوټاکلے شو۔

## دَ شکتوئ جګړه:

دَ شکتوئ سیمه دَ غازیانو دَ پنډغالی ځائے وو۔ دَ دے ځائے نه به لوړ په لوړ غازیان وتل او دَ فیرنګی په کیمپونو، کانړائی او ګشتونو به ئے حملے کولے۔ فیرنګے دَ دے نه ډیر تنګ شو او په

شپاړسم[16] مارچ ۱۹۳۹ء ئې دَ شکتوئې په سیمه فوځ ورخوشې کړو۔ توریالی غازیان هم ورته راغلي شول او یو داسې سخت جنګ اوشو، چه په نتیجه کښې نولس[19] تنه غازیان په شهادت اورسیدل، چه مشهور پکښې دَ خیسارهٔ دَ سیمې خاجی خان توری خیل وزیر وو۔

دغه شان دَ فیرنګی دَ لوري نه هم دری[93] نوی تنه فوځیان او شپږ[6] میرهٔ انګریزان په قتل ورسیدل، چه مشهور پکښې لفټیننټ مرلین بیلا (L. Horold Merlin beala) وو۔ په دغه ورځ دَ رزمک په سیمه کښې هم غازیانو برید کړې وو۔ او یو انګریز افسر پیټرګرین (Petter green) ئې وژلې وو۔

## په مداخیلو بمباری:

دَ پرله پسې ګربړ له کبله او دَ جون ۱۹۳۸ء دَ معاهدې دَ ناکامه کیدو له کبله په ۲۴ فروری ۱۹۳۹ء یو ځل بیا په مداخیلو باندې دَ طیارو په ذریعه نوټسونه اوغورځول شول او په ټولو کلیو دَ بمباری حکم اوشو۔ دَ دغې حکم په اثر کښې یو خوا دَ دوی خاصه دارمات کړې شول، بل خوا په علاقه سرکار کښې په دوی بندش اولګولې شو او دغه شان سمدستی بمباری هم پرې شروع کړې شوه۔ دغه بمباری دومره زور کښې او سخته وه، چه په ۲۵ فروری یوه طیاره دَ ډیرې تیزئ له کبله پخپله دَ پیرکلئ خوا کښې اوغورځیده۔ او صباله چه دری[3] تنه وسله بند سپاهیان ورا ولیږلې شول نو هغه هم په لاره کښې دَ غازیانو دلاسه قتل شول۔

په دغو شپو ورځو کښې مداخیل وزیر په سخت آزمائش کښې مبتلا وو. له یوے خوا نه فیرنګي بمباري پرے کوله او له بلے خوا نه قدرت واوره پرے راوروله. آخر مجبور شول. او نهمه ورځ دَ بشیر مداخیل قام جرګه میرانشاه ته راغله او حکومت ته ئے دَ خبرو اترو دپاره درخواست ورکړو. خو پولټیکل انتظامیئے قصدًا څهٔ توجه ورنکړه او دوئ دغسے محرومه لاړل. دویم ځل بیا په ۱۲ مارچ دَ دوئ جرګه میرانشاه ته راغله. داځل سرکار جرګه ورسره اوکړه او لاندینی شرطونه ئے ورته واورول.

۱۔ تاسو به حکومت ته ۴۵ تنه یرغمال راولئ.

۲۔ دَ اپریل ۱۹۳۹ء تر رومبی تاریخ پورے به ستاسو دَملکئ الاؤنسونه ضبطولے شي.

۳۔ تاسو به په جرمانه کښے سل میله ټوپک سره دَ سلو سلو مرمیو حکومت ته تحویلوئ.

۴۔ او دَ نیک چلنئ په ضمانت کښے به مزید پنځوس میله ټوپک سرکار ته راوړئ.

دَ دے نه پسته جرګه رخصت شوه او دَ روان کال په آخر کښے ئے دَ ټوپکو او کارتوسو غونډولو په کار لاس پورے کړو.

په مئ ۱۹۳۹ء کښے فقیرایپي یوځل بیا خرے ته لاړو او په ډیورینډ لائن باندے میشته شو. په دا ورځو کښے هغه دَ توري خیلو او مداخیلو دَ همکارئ او مرستے ملاتړنه بیخي ناامیده شوے

وو. اوخپل ټول توقعات ئے په محسودو پورے وابسته کړی وو. هم داسے دَده ٔ په وینا یوخوا شیرعلی خان په غیمبګی دَ محسودو دَسلوټنو مجاهدینو لښکر راغونډ کړو او بل خوا فقیرایپی پخپله دَ ټاڼزیو او جدرانو لښکر برابر کړو او په قطبی وزیرستان کښے واړهٔ واړهٔ وارداتونه شروع شول ـ کله به دَ ټیلیفون سیمونه پریکولے شول اوکله به سړکونه ورانولے شول ـ کله به په کشتونو حملے کیدلے اوکله به غدئ او دَ اغوا واقعات رونما کیدل ـ دَ جولائ په اوله هفته کښے فقیرایپی خرے ته نزدے دَ بیرزل په سیمه کښے برملا ځان ښکاره کړو ـ خپل خلیفګان ئے راغونډ کړی وو او دَ فیرنګی په خلاف به ئے خلقو ته هدایات ورکول ـ

بنوڅی چه خبر شول نو دَ هغوئ لښکرے هم ورروانے شوے فیرنګے اوویریدو ـ یوخوائے په ایجنسئ کښے دننه په بنوڅو پابندی اولګوله ، او بل خوائے په خرے باندے بمباری اوکړه ـ ولے سره دَ دے هم غازیان دَ خپلو مجاهدانه عملیاتو څخه په قلار نهٔ شول ـ

## یو ویشتم باب (۲۱)

# دَ توری خیلو حالات

دَ کال ۱۹۳۸ئ په ابتدا کښے توری خیلو وزیرو په اجتماعی توګه خاموشی اختیار کړے وه۔ مګر دَ دوئ څنو ځنو ځوانانو به کله کله په فیرنګی حملے او دَ اِغوا وارداتونه کول۔ حکومت په دوئ باندے دَ فشار اچولو په خاطر دَ دوئ مشر ملک شاه زر خان ګرفتار کړو، ولے توری خیلو پرے څهٔ ځرت خراب نهٔ کړو۔ داخل په ۲۸ اګست ۱۹۳۸ئ میرانشاه ته دَ دوئ جرګه راوبللے شوه او ریذیډنټ ورته اوویل چه کهٔ په یوه میاشت کښے دننه تاسو خپل غازیان په قلار او اِغوا کړی کسان برآمد نهٔ کړل نو مشر به نهٔ وی۔

توری خیلو بیا هم دَ فیرنګی خبرو ته څهٔ اهمیت ورنکړو، حالانکه حکومت په ستمبر کښے دَ توری خیلو او محسودو په شریک درخواست باندے ملک شاه زر خان هم دَ جیل نه خوشے کړے وو۔ داخولا څهٔ دَ شاه زر خان په خوشی کید وچه توری خیلو فیرنګی ته دَ امن ساتلو

کومه هیله ورکړے وه ، هغه هم اوس نیله شوے وه۔ آخر فیرنګے مجبوره شو۔ په اووم اکتوبر ئے دَ توری خیلو هغه ټول شاخونه کوم چه دَ حکومت مخالف وو، دَ جرګے دپاره راوُغوښتل او دا لاندینی احکامات ئے ورته واورول چه :

(۱) ټول مخالف شاخونه به تر دوئیم حکمه پورے دَ ژمی خپلو خپلو ورشوګانو ته نهٔ شی تلے۔

(۲) په کوز خیسارهٔ به بمباری کولے شی۔

(۳) په سپلګه کښے به سکاؤټس میشته کیږی۔

توری خیلو دَ فیرنګی په دغو تعزیری احکاماتو هیڅ خوا نکړه بده۔ بلکه مدی خیل، هیبتی او شوګی توری خیل لاړل په شکتوئے کښے دَ محسودو سره میشتهٔ شول۔ هغوئ دوئ ته ورشوګانے هم ورکړے او خوښے توبرے هم۔ دَ محسودو دَ امداد په وجه توری خیلو لاکړ برته لاس واچوو۔ او دَ خیسارهٔ په بره حدودو کښے ئے دمډیل ته نزدے لوئے لشکر تیار کړو۔ فیرنګے چه دَ دے نه خبر شو نو دَ جنوری ۱۹۳۹ء په یوولسم تاریخ ئے دَ توری خیلو یوه بله جرګه میرانشاه ته راوبلله او نور احکامات ئے ورته واورول چه :

(۱) کوزخیسارهٔ ته به ملټری فوځ داخلیږی چه دَ دشمن عناصرو فصلونه ، ژرندے او ویالے تباه کړی۔

(۲) په ټول قطبی وزیرستان کښے به راشن بندی وی او په

سپین او شکتوئے کښې به سکاؤټس میشته کولے شی چه دَ بنوں ضلع نه وزیرستان ته غله رانشی۔ دغه شان دَ توچئ او سپین وام په سیمو کښې به حکومت دَ غازیانو زمکے هم ترنظر لاندے ساتی، چه څوک ئے کرلے ریبلے نهٔ شی۔

دَ توری خیلو ملکانانو ته دا هم اووئیلے شول، چه کهٔ چرے کوم یو شاخ دَ حکومت له خوا لګولے شوو شرطونو په تعمیل کښې نا منع اوکړی نو دَ یکم اکتوبر ۱۹۳۸ئ نه تراپریل ۱۹۳۹ئ پورے به دَ دوئ دَ ملکئ تنخواګانے ضبطولے شی۔ او دَ دوئ سره چه دَ سرکار کومے معاهدے شوی دی او مراعات ورکړے شوی دی، هغه به منسوخ کنړلے شی۔

دغه شان کهٔ دَ دوئ خاصه دار په لښکروړو کښې دننه دَ خپلے سیمے مفروران یا نور شرپسنده عنړی ګرفتار نهٔ کړی نو دَ دوئ ملازمتونه به ختمولے شی۔

## دَ ووزی خیلو عملیات:

هلته فیرنګے دَ توری خیلو سره مشت وګریبان وو۔ او دلته دَ دیرشم اپریل ۱۹۳۹ئ په شپه وُوزی خیلو وزیرو په اسد خیلو کښې دَ دمډیل کیمپ تالاؤ ته رنځیرهٔ تیل واچول او تولے اوبهٔ ئے خرابے کړے۔ فیرنګی په دے سلسله کښې په ۸ اګست کښې مشتبه کسان ګرفتار کړل۔ ولے دَ دغے واردات کوونکے اصلی غړے شریف ملا

په لاس ورنغلو۔ چنانچه دَ هغهٔ دَ گرفتارئ په ترڅ کښے دَ دوسلی له کلی نه سکاؤ تِس کیره تاؤ کړو۔ پوره تالاشی ئے واخسته خو هغه ئے پیدا نهٔ کړے شو، او دَ هغهٔ په ځائے ئے دَ هغهٔ ترېور گرفتار کړو۔

هم په دغه ورځ دَ ووزی خیلو وزیرو جرگه دوسلی ته اوغوښتے شوه۔ او یو خوا فیرنگی جرمانه ورته واورَوله او بل خوا ئے دَ شریف ملا دَ حاضرولو په شرط یو تعداد ملکانان گرفتار کړل او دَ ډیره اسماعیل خان جیل ته ئے واستول. په نهم مئ ۱۹۳۹ء ووزی خیلو شریف ملا سره دَ دوؤ نورو ملگرو پولټیکل ایجنټ ته حاضر کړو۔ فیرنگی په شریف ملا خوزره سوړ کړو۔ ولے دَ ووزی خیلو په سیمه کښے ئے دَ برطانوی تسلط په خلاف لگیدلے اُور سوړ نکړے شو۔ کله به لارئ شوکیدلے کله به دَ اِغوا وارداتونه کیدل، کله به په کیمپونو اوگشتونو ډزے کیدلے او کله به دَ رزانی پائپ لائن پریکولے شو۔ حکومت یو ځل بیا په ۲۳ جولائی ۱۹۳۹ء دَ دوسلی په مقام دَ دوئ جرگه اوکتله او دَ نغدو روپو او ټوپکو تعزیری جُرمانه ئے پرے اولگوله۔ ولے په دا هم دوئ په قلار نهٔ شول۔ آخر فیرنگی په ۸ اگست په اسدخیلو او موسکئ کښے دَ ووزی خیلو یو شمیر مانړئ او کوډونه مِسمار کړل۔ او ورسره ورسره نوره زیاتی جرمانه هم پرے اولگولے شوه۔

# فقیرایپی داورو پله

فقیرایپی تر درییو کالو راسے دَ توری خیلو او مداخیلو په سیمو دَ فیرنګی په خلاف سرګرمیو کښې مصروف وو۔ دَسپین وام په علاقه کښې مهردل خټک، ګل نواز بنوڅے، مولانا غازی میرجان ګاګو او ملک ګلاجان موسترېل خپل مرکز جوړ کړے وو او شپه ورځ به دَ فیرنګی په مخالفت کښې بوخت وو۔ په شکتوئے خیسارهٔ کښې طوره ملا او ازلمیر ډېو قائم کړے وو او دَ فیرنګی په خلاف به ئے معاندانه سرګرمئ کولے۔ او په ګورویک کښې پخپله فقیرایپی میشتهٔ وو۔ او دَ خپل مجاهدانه تحریک مرکزی رول ئے لوبولو۔ په مقابل کښې فیرنګی هم په غازیانو او سیمه ایزو خلقو باندے هر قسم زور آزمائ کوله۔ دغه شان توری خیلو او مداخیلو دَ فیرنګی سره اوږده دُشمنی اوساتله او آخر دَ کال ۱۹۳۹ء په نیمائ کښې ئے وقتی طور دَ حکومت شرطونو ته غاړه کښېښوده۔ اوس دَ فقیر ایپی سترګے دَ داورو نه سوا بل پله نهٔ اوړیدے، او ټول توقعات ئے په دوئ پورے تړلی شوی وو۔ دَ توری خیلو او مداخیلو په لړ کښې دَ کال ۱۹۴۰-۴۱ء په "بارډر ایډ منسټریشن رپورټ آف نارته وزیرستان ایجنسی" کښې داسے نوشته دی:

"دَ دریو کالو دَ مخاصمت نه پسته، په کوم کښې چه اوّل الذکر دَ مؤخر الذکر په پټه لاس امداد سره قائدانه رول ادا کولو، بیخی بے دمه شوی وو او دَ کال ۱۹۳۹ء په

نیمائی کښې ئې دحکومت شرطونه اومنل۔ اوس فقیرایپي خپلو مجاهدانه سرګرمیو کښې دَ ناکامئ په وجه خپله توجه داوړو پله اوګرځوله ؛

په داوړو کښې فقیرایپي روسبه روسبه دَ مقامي ملایانو په خوله په ملکانانو او خاصه دارو باندے دَ کفر فتوئ صادره کړه. او دَ دوئ دَ جنازے مونځ ئې دَ شریعتِ محمدیؐ له رویه ممنوع اوګرځولو۔ دَ دغے فتوے په اثر کښې ګڼ خلق دَ ملکئ او خاصه دارئ نه لاس په سر شول او دَ فقیرایپي په لشکر کښې شامل شول۔

دغه شان ورو ورو توچي دَ فیرنګي په خلاف دَ مخاصمانه سرګرمیو سرچشمه جوړه شوه۔ دَ میرانشاه دته خیل سرک به همیشه بند وو۔ دَ بنوں میرانشاه په سرک کښې به مائینونه بښخیدل او دَ میرانشاه په قلعه به ګوله باری کیدله۔ دَ دغے بدامنئ له کبله فیرنګي مجبوراً دَ بویه قلعے نه په ۱۶ اپریل ۱۹۳۹ء خاصه دار ویستل او بیا ئې توچي سکاوټس پکښې میشته کړو۔

## دَ بویه قلعے جګړه :

کومه ورځ چه دَ میرانشاه نه بویه قلعے ته توچي سکاوټس روان شو، نو دَ همزوني داوړو په علاقه کښې دَ مولوي محمد وارث شاه په مشرئ کښې غازیانو حمله پرے اوکړه۔ سخته جګړه اوشوه۔ او په نتیجه کښې دَ غازیانو نه یو الله خان مداخیل او اووه کسان نور تکړه ټپي په شهادت اورسیدل او دَ طیارو دَ مشیندارو

په باړونو د همزونو داوړو ملک پیر غلام او د دهٔ مشهور مجاهد ځوئے چلګائی زخمیان شول۔ دوئ دواړه په دغه جګړه کښې شریک وو۔ د فیرنګی له خوا نه د توچي سکاؤټس کمانډنټ میجر ایف مارک او ورسره نور درے کم څلویښت تنه سپاهیان اوو ژلے شول۔ میجر مارک سخت ژوبل شوے وو او بیا وروستو مړ شو۔

چونکه دغو غازیانو په لانډو داوړو کښې شپه تیره کړے وه، په دے وجه د دوئ نه درنه برامته واخستے شوه۔ د دے واقعے نه پسته په توچئ کښې د فیرنګی په خلاف زبردست شورش راپورته شو او د فقیرایپی پوزیشن په څو چنده زیات مضبوط شو۔ کله به د ټیلیفون تارونه پرېکولے شول، کله به کیمپونه او ګشتونه وژولے شول۔ کله به لارئ لوټلے شوے او کله به پُلونه او سړکونه ورانیدل۔ هم په دغو شپو ورځو کښې د عید کو قلعے ته دستي بمونه وراوغورځولے شول او ډیر تاوان ورلور سیدو۔

په اوولسم اپریل ۱۹۳۹ء د میرعلي سپین وام په سړک د لارئ نه یو پولټیکل محرر او یو پټواري اوتښتولے شول۔ د دغو واردا تونو په حقله د حکومت شک د عید کو په یو څو کسانو باندے راغے۔ او په ۱۸ اپریل ئے د عید کو کلي نه سکاؤټس چاپیره کړو او ګڼ بے ګناه کسان ئے ګرفتار کړل۔

په دے واقعه باندے د داوړو د سرفروشانو حوصلے ماتے نهٔ شوے، بلکه لا ئے ارادے مضبوطے شوے او په ۲۵ مئي ئے د

عید کو په خواؤشا سیمه کښې دَ خاصه دارو یو بل پوسټ او سیزلو فیرنګی بله چاره اونهٔ لیده، په اوولسم[۱۷] جون ئې دَ داوړو جرګه میرانشاه ته راوبلله او په کلکه ئې ورته اوویل چه:

"تاسو دَ خپلې علاقې نه غازیان اوشړئ او فقیرایپی ته غله مهٔ ورکوئ"

## دَ ګاګو غدئ:

دَ ۲۶ جون ۱۹۳۹ء په شپه ګاګو دَ یو څو غازیانو په ملګرئ کښې دَ میرعلی په کیمپ غدئ واچوله۔ دغه غدئ په دومره مخفی ډول وه، چه دَ کیمپ دَ یو محفوظ ځائ نه ئې دَ باربردارۍ درې[۳۳] ډیرش بیده اوښان تر مهارونو اونیول او بوئې تلل او څوک ورخبر نهٔ شو۔ فرنګی دَ ګاګو په دغسې جرأتمندانه واردات ډیر زهیر شو او دَ ګاګو دَ نیولو پوخ تکل ئې اوکړو۔

## دَ نورړو انښته:

په ۳۰ جون ۱۹۳۹ء غازیانو دَ فتح جنګ په مشرئ کښې بنوں کښې دَ نورړو په تهانړه دَ شبخون کولو مرکه اوکړه۔ او دَ ښار نه ورچنې په پټو کښې ورته خوندی شول. دَ بده مرغه چا مخبر پرې جاسوسی اوکړه او دَ نورړو تهانړې پولیس ترې نه پټ په پټه ګهیره تاؤ کړه۔ غازیان چه خبر شول، نو دواړه فریقین وبله لاس په لاس ورغلل او یوه شیبه بنهٔ تاؤده جګړه اوشوه۔ په نتیجه کښې دَ غازیانو له خوا نه فتح جنګ په شهادت اورسید و او دَ

پولیس والو له خوانه دوه[۲] تنه سپاهیان قتل او درې[۳] تنه ژوبل شول.

فتح جنګ شهید بنون کښې د سپین تنګی احمدزئ وزیر وو. ډیر توریالے او ځیګرور ځوان وو. د ده په مرګ بنون او وزیرستان کښې کور په کور ماتمونه اوشول. فیرنګی په شلم[۲۰] جولائی د داوړو جرګه رااوبلله او دائے ورته اووئیل چه:

"تاسو په خپله علاقه کښې بنوڅی مه پریږدئ"

د دے نه علاوه حکومت د بنوڅو عامه ګرفتاری هم شروع کړه. داوړو د فیرنګی خبره اونه نغوږله او د بنوڅو سره به ئے هغه شان مرسته کوله. فیرنګے د داوړو په رویه نښت مشتعل شو او په ۲۶ جولائی ئے د سکهانو په لاس دتپئ داوړو درې[۳] تنه بے ګناه ماشومان او یو ځو مرچي خیل وزیر هلکان قتل کړل، چه یوه پکښې ماشومه جینئ هم وه. غازیان د فیرنګی په دغے وحشیانه فعل دومره سخت اوقهریدل، چه د رزمک نه واخله عن تر میرانشاه، دته خیلو او بنون پورے به ئے هره ورځ څهٔ نه څهٔ بلوه جوړه کړے لرله.

## د مشک عالم شهادت:

مشک عالم د بنون سپیرکه احمدزئ وزیر وو. او د ملک مانی د کورنئ څخه وو. ډیر پیاوړے او بهادر ځوان وو. پلار ئے محمد آمین نومیدو. د ده د مخالفت نه فیرنګے دومره ستړے شوے وو، چه

په دویم اګست ۱۹۳۹ء ئې د جمل خان نومے یو اجرتي قاتل په لاس شهید کړو. غازیانو په دے واقعه ډیر را او پاریدل او د ګل نواز خلیفه او مهردل خټک په مشرئ کښے ئې په جمل خان لشکر کشي اوکړه. دے ئې اووژلو او کور ئې ورله اوسیزلو. د غازیانو زړونه په دا هم یخ نهٔ شول. او په لسم اګست ئې بنوں کښے په رنړا ورځ یو انګریز افسر لفټیننټ کرنل ولیم مے (William May) سره د دوؤ سکهانو هلاک کړو. د فیرنګی دا غم لا هیر نهٔ وو، چه په ۱۵ اګست غازیانو د بنوں په سیمه نظام بازار هم لوټ کړو او دوکانونه ئې اوسیزل.

## د باندیزو جګړه:

د رزمک د ناول غرهٔ په سیمه کښے د خوشحالئ او شا خیمارو وزیرو ترمینځه څهٔ مالی کشاله راپورته شوے وه. فقیر ایپی د مسلح غازیانو په ملګرتیا کښے مولانا غازی میرجان، مولوی محمد ظاهر شاه او ملک ګلاجان د ثالثئ دپاره ورا اولیږل. کله چه دوئ باندیزو ته شپه اوړسوله، نو چا مخبر پرے د رزمک کیمپ ته جاسوسي وکړه. د دیرشم اګست ۱۹۳۹ء په شپه فیرنګی پټ په پټه د باندیزو کلی نه فوځونه چاپیره کړل. شومه دم چه غازیانو ته پته اولګیده، نو وار ئې خطانهٔ کړو او نیغ پرے ورغوته شول. د فریقینو ترمینځه د ټوپکو او ماشیندارو یو تور دندوکار جوړ شو. درسته شپه بنهٔ زور کښے جنګ روان وو. سحر چه نر ځیره وهله نو

دوئ دَ فوځ دَ کیس نه ځانونه وئیستل، خو دَ بده مرغه دَ فقیرایپی دوه[۲] نومورې غازیان خونکل او فضل میر اتمانزئ وزیر شهیدان شول.

دَ فیرنګی دَ لورې نه هم ۱۴۳ کسان مړی ژوبلی اوشول، چه یو څو انګریزان هم پکښې شامل وو. دَ یو انګریز منصبدار سر غازیانو پریکړو، خو وروستوئ دَ خپلو یوڅو بندیانو په بدل کښې بیرته فیرنګی ته ورکړل.

## خونکل شهید :

دغه ځوان مدی خیل توری خیل وزیر وو. دَ ارمړ خیلو دَ شاخ نه وو. او په شکتوئ کښې دَ ماتم اوسیدونکے وو. ډیر توره زن او مبارز ځوان وو. اکثر به دهٔ په هغو فوځیانو حملے کولے، کوم به چه پیکټونه لګولی وو. بیا به غلے غلے ورنزدے شو او بیا به لکه دَ زمری پرے ورغوځه شو. او دَ سترګو په رپ کښې به ئے ترے نه یو څو هلاک او وسله ولجه کړه.

## په توچئ کښے نوے اوُر :

دَ بنوں او رزمک دَ واقعاتو نه پسته اوس په توچئ کښے یوځل بیا نوے اوُر بل شو. دَ مولوی وارث خان، عبدالرزاق خدرخیل وزیر چه په بادشاه صاحب مشهور وو، مولوی محمد ظاهر شاه او هم دغه شان دَ خدرخیلو قام یو جوالدار او شپږ میړهٔ سپاهیان چه د توچی سکاؤټس نه سره دَ وسلو فرار شوی وو، په مشرئ کښے به کله سرکاری ملازمین اِغوا کیدل او کله به هندوان. کله به سړکونه ورانیدل،

او کله به پُلوښه په بمونو الوزولے شول، کله به په کانوائی او کښتونو حملے کیدلے او کله به دَ راشن لارئی شوکیدلے. په دے هرڅهٔ کښے داوړ مخکښے مخکښے وو. هم به ئے دَ غازیانو دَ قیام وطعام بندوبست کولو او هم به دَ لښکر په سر جنګیدل. دا اُوړ یواځے په توچئ کښے نهٔ وو، بلکه په ګرد وزیرستان کښے ئے بخرې لوکیدل.

## دَ میجر ډګل اِغوا :

په ۳۰ دسمبر ۱۹۳۹ء دَ ټانک سړه نزدے میجر ډګل (DUGGLE) اِغوا کړے شو. فیرنګی دَ ډګل دَ برآمد کولو په سلسله کښے شابی خیلو محسودو باندے فشار واچولو. دَ دسمبر تر ۳۱ تاریخ پورے چه دوئ برآمد نکړے شول، نو هم له زمکے نه بلاکیډ کړے شول او هم له هوا نه. جنورئ ۱۹۴۰ء کښے دَ سختے بمبارئ او اوږدو مذاکراتو نه پسته دَ شابی خیلو محسودو سره دَ میجر ډګل دَ برآمد کولو او پُرامن اوسیدو فیصله اوشوه. ولے شپږمه میاشت بیس بیا شابی خیلو محسودو سړک بند کړو او پُلونه ئے اوړول.

## دَ کیتو برېج ورانول :

دَ پُلونو دَ ړولو تحریک یواځے په جنوبی وزیرستان کښے نهٔ وو روان بلکه په قطبی وزیرستان کښے هم شروع شوے وو. دَ کیتو لوئے آهنی پُل چه کال ۱۹۳۱ء کښے دَ لکونو روپو په لګښت جوړ شوے وو، ملک کلاجان په دوئیم جنوری ۱۹۴۰ء وران کړو.

دا واقعه داسے وه چه په یکم جولائی ۱۹۳۷ء فیرنګی چه

دَ ملک کلاجان کور په بمونو ویجاړ کړو او کاکش ئے اوسیزلو. نو دَ کلاجان په زړهٔ کښے دَ انتقام اُور په لمبو شو. دَ دهٔ کور ته چه کوم بمونه ایښوی شوی وو، په هغو کښے یو بم غل شوے وو او دَ دهٔ په کور کښے پروت وو. کلاجان هم هغه بم راواخستو او دَ کیټو په پُل ئے کښیښودو. او دَ پاسه ئے اُور پرے بل کړو. ساعت پس بم اوچاوډلو او پُل ئے تباه کړو. بل خوا دَ داوړو غازیانو هم په دغه ورځ دَ عیدکو لوئے پُل لوخړه کړو. دَ کیټو پُل دَ ورانیدو په سبب فیرنګے په وزیرستان کښے دَ خپلے آخری سلګئ پورے دَ زحمتونو سره مخامخ وو. وروستو چه پاکستان قائم شو نو دغه زحمتونه حکومت پاکستان او دَ سپین وام دَ سیمے خلقو ته په وراثت کښے پاتے شول، ځکه چه کیټو یو داسے رود دے چه هر وخت اوبهٔ پکښے بهیږی. خانه بدوشو وزیرو ته به دَ ژمی په واوریښو اوبو کښے په کیټو پورے وتل سخت ګران کار وو. او تږکونه، بسونه به اکثر په اوبو کښے انښتی پراته وو. په کال ۱۹۷٦ء کښے دغه پُل یو ځل بیا په نوی ډیزائن باندے تعمیر کړے شو.

## کابل خیل وزیر :

دَ فقیر ایپی دَ غزاګانو په دوران کښے دَ وزیرستان هر یو قوم فیرنګی ته باؤ شوے وو او چا هم ورته خیر نهٔ غوښتو. یواځے دَ کرمے کابل خیلو وزیرو په علاقه کښے نهٔ چاسرک ورانولو نهٔ ئے

پُلونه نړول، نهٔ ئې دَ ټیلیفون تارونه پرېکول او نهٔ ئې بله تخریب کاري کوله. دوئ بېخي پُرامن اوسیدل او دَ حکومت برطانیه په خلاف ئې هېڅ قسمه فعالیتونه نهٔ خوښول.

دَ انګریزانو دَ عهدِ حکومت افسرانو په خپلو رپورټونو کښې دَ دوئ دَ امن پسندئ پالیسئ بار بار ستائینه کړې ده. په "نارتھ وزیرستان ایجنسی ایډمنسټریشن رپورټ فار ۳۹-۱۹۳۸ء" کښې ئې لیکلی دي چه:

"دَ ایجنسئ پاتې قبیلو، خصوصاً دَ کړې کابل خیلو چندان مشکلات پیښ نهٔ کړل. او دغه هرڅهٔ دَ شیوې فقیر دَ پُرامن تاثیر نتیجه ده."

بل ځائې په "دی بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف این. ډبلیو ایجنسی فار ۴۰-۱۹۳۹ء" کښې پولټیکل ایجنټ میجر آر- این بیکن (BACON) دَ شیوې فقیر په حقله داسې تعریفي کلمات نوشته کړي دي :

"شیوې فقیر زمونږ سره ډیر کټور معاونت اوکړو. او هغو کابل خیلو ته ئې ډېکې ورکړې، کوموچه په خپله خاوره کښې دَ فوځ لار بنده کړې وه، چه کهٔ تاسو دَ مخالفینو ملګري اوکړه نو زهٔ به ستاسو نه سره دَ خپل قدس لرې ځان اوباسم."

"آفیشل هسټري آف اپریشنز آن دی این. ډبلیو فرنټیر آف دی انډیا ۳۷-۱۹۳۶ء" کښې هم دَ شیوې فقیر دَ همکارئ په حقله کښې

تعریفي کلمات لیکلي شوي دي.

دَ شیوې فقیر په حقله ښاغلي عبدالولي خان دَ خپل کتاب "رښتیا رښتیا دي" په مخ ۱۵۵ باندې دَ "سرجارج کننګم ډائري" ترسرخط لاندې لیکي چه:

"معلومیږي چه کننګم لا هغسې دَ فقیر ایپي دَ لاسه په عذاب دے. وائي چه موږ دَ شیوې فقیر، اماخیلو فقیر، کربوغې ملا او حاجي آخوند زاده په ذریعه فقیرایپي ته خطونه اولیکل چه هغه دَ فیرنګیانو نه قلار کړي"

دغه پُرامن فقیر یٰسین ګل نومیدو. او دَ کورے سفیلي کابل خیل وزیر وو. په نهم جولائي دَ کال ۱۹۴۴ء په خپل مرګ په حق ورسیدو. قبرئې په شیوه کښې دے. فقیر صاحب بیخي لاولده وو.

دَ حسن خیلو وزیرو په حقله هم پولټیکل ایجنټ میجرکاکس Cox په "نارتھ وزیرستان بارډر رپورټ فار دی ایئر ۳۷-۱۹۳۶ء" کښې لیکلي دي چه: "په دے کښې شک و شُبه نشته چه دَ ایجنسۍ هرے قبیلې (بغیر دَ حسن خیلو) مختلفو لشکرو ته دَ خپلو بدمعاشانو او غیر ذمه دارو عناصرو کوټه مهیّا کړے ده"

## دَ ډاک په لارئ یرغل:

دَ کال ۱۹۴۰ء دَ جنورۍ په شپږمه نیټه شابي خیلو محسودو دَ

بنوں رزمک سړک په اوویایم میل بانډے د ډاک په لارۍ حمله اوکړه او تقریبًا د (۸۷۹۴ روپۍ - ۱۴ آنے - ۱ پائی) مالیت تاوان ئے محکمه ډاک ته اورسولو۔ د دے نه علاوه په دغه انبسته کښے د خاصه دارو د ۱۷ کمپنۍ حاجی محمّد نومے یو خاصه دار قتل او منتهے نومے بدرگه وال سخت ژوبل شو۔ غازیانو د داوړو څخه دوه میله ټوپک هم ولجه کړل۔

<u>په بوه ورځ کنړ برید وُنه :</u>

د جنورۍ ۱۹۴۰ء په اتم تاریخ د دوسلی په مقام د فوج گشت وتلے وو۔ د غازیانو یوے ډلے چه له اول نه ورته په تاک کښے وه حمله پرے اوکړه او کنړ مړی ژوبلی ئے ترے نه اوکړل۔

هم په دغه ورځ تل (کرم) ته نزدے د مامو بانډے په مقام د کلات شاه خلیفه ډلے په یو سرکاری جیپ بانډے برید اوکړو او یو انگریز منصبدار او دوه وسله بند فوځیان ئے اوو‌ژل۔ جیپ ئے اوسیزلو او دوه میله ټوپک، دوه تماچے، کنړ بمونه او کارتوس ئے ترے نه یوړل۔ د دے نه علاوه هم په دغه ۸/۹ جنوری ۱۹۴۰ء په مینځنۍ شپه غازیانو د بنوں په مشن هسپتال بانډے غدۍ واچوله او یو هندو، دوه هندوگئ ئے اِغوا کړے او مال و متاع ئے ولجه کړو۔ په مقابل کښے یو غازی هم ټپی شو۔

د حکومت دا خیال وو، چه په دغو بریدونو او غدۍ کښے د حیدرخیلو داوړو لاس دے نو په ۲، فروری ۱۹۴۰ء د حیدرخیلو کلی نه ملیشیا تاؤ شوه۔ د کورونو تالاشی ئے واخسته او دیرش

نفره سرې ئې گرفتار کړل۔

## دَ رښنواز جرنیل برید:

په دریمه فروري ۱۹۴۰ء سحر په اتۀ بجو قامي جرنیل رښنواز دَ دهٔ ورور شیرې او سردار ممند خیل سره دَ یو څو نورو ملګرو دَ بنوں میرانشاه سړک په دریم میل باندې څلور فوجي جیپونه راګیر کړل۔ دَ فریقینو ترمینځه لاس په لاس جنګ اونښتو۔ سرج ټیورډ (serjteward) نومې یو انګریز افسر دَ سردار ممند خیل سره غاړه غړۍ شو او لټ په لټ به ئې وبله اړول۔ آخر سردار ممند خیل پرې بریالې شو او هغه ئې اووژلو۔ دغسې یوه ګړۍ تاوده جګړه اوشوه۔ او په نتیجه کښې دوه انګریزان هلاک او څلور ټپیان شول۔ دَ دې نه علاوه دوه کهورکیان هم قتل او یو سخت زخمي شو۔ غازیانو ته په مالِ غنیمت کښې ګنړې تماچې، ټوپک، دوربینونه کارتوس، کهړۍ، دَ سرو کوټې او نور سازوسامان په لاس ورغلو او په خپله مخه لاړل۔

## دَ کیمپتي جګړه:

فیرنګی دَ دریم فروري ۱۹۴۰ء په واقعه ډیر تاؤ اوخوړو او دَ بدل آخستو تیارۍ ئې شروع کړه۔ چونکه غازیانو دَ خلیفه مهر دل خټک په مشرۍ کښې دَ بنوں دَ احمدزو وزیرو سیمه کیمپتي مرکز جوړ کړې وو او هم دغه خلق ورسره ملګري وو، نو په ۲۲ فروري په کیمپتي فوځ ورننوتو۔ غازیان هم په دا سې شجاعت او استقامت

ورته اُړم شول، چه فوځیان په ځائے ایسار شول او ډو وړاندے کیدو توان ئے اونهٔ درلود. جګړه تر څهٔ وخته پورے اوږده شوه او فوځ دَ خپل کثرت په سبب دَ یو څو کلیو په سیزلو او نفرو په نیولو کښے کامیاب شو. له دواړو خواؤ نه یو څو مړهٔ ژوبلی هم اوشول.

اوس په کیمبتی کښے څهٔ نه څهٔ حالات پُرسکون شول. فوځ دَ کیمبتی په سړک کار شروع کړو او دَ مئ ۱۹۴۰ئ تر آخره پورے ئے دَ بنوں او کیمبتی په لیکه تر ځپرئ پورے ورسوو.

## دَ کرم کړهئ جګړه :

دا واقعه داسے وه، چه دَ کرم کړهئ دَ بارډر قلعے سپاهیانو دَ فقیر ایپی په راشن بار درے اوښان نیولی وو. په ۲۳م فروری ۱۹۴۰ئ دَ سردار ممند خیل او قامی جرنیل زبنوان په مشرئ کښے په اووهٔ شلے غازیانو مشتمل یو جرار لشکر وریسے ورغلو. دَ بارډر کمانډنټ ته چه اطلاع ورسیده. نو دهٔ هم خپله قوّی وروړاندے کړه. غازیانو خبر ورکړو چه "تاسو بیرته لاړشئ موږ دلته ایله شپه تیروو او صبا وختی به خپله مخه کوو." کمانډنټ دا اونهٔ منله او په دوئ ئے حمله اوکړه.

غازیان هم له اول نه ورته چمتو ناست وو. هغوئ هم پرے برید اوکړو. او داسے عظیمه معرکه اونښته چه په نتیجه کښے ئے اوۀیا تنه سپاهیان هلاک او دوه تنه ژوندی اونیول شول. او

غازیانو په ۱۳۰ میله ټوپکو او نور جنګی سامان باندے هم قبضه اوکړه. په مقابل کښې غازیانو له خوا نه ایله دوه میړۀ سرتیری په شهادت اورسیدل. دَ جرنیل رَبنواړ دَ خُولے خبره ده چه:

"موږ په دے جګړه کښے یو جمعدار ګرفتار کړے وو هغۀ موږ ته وئیل چه ستاسو غازیانو کښے یو سپین ختی سړی به چه کله دَ نعرۀ تکبیر ږغ اوکړو، نو دَ سپاهیانو وار پام به خطا شو."

حالانکه موږ سره په لشکر کښے دَ سپینو جامو والا هیڅوک هم نۀ وو. دَ بار دړ کوم دوه سپاهیان چه ژوندی نیولے شوی وو، هغه غازیانو خپل مرکز موسترېل ته بوتلل. فیرنګی دَ هغے په بدل کښے دَ ممند خیلو وزیرو پنځلس کورونه وران، او دوۀ جوماتونه او دَ قرآن پاک پنځویشت نسخے په شهادت ورسولے.

## دَ کانشی بس لُوټل:

په اووم مارچ ۱۹۴۰ء دَ بنوں میرانشاه سړک په دریم میل باندے غازیانو دَ کانشی په بس حمله اوکړه. دَ بس سرکاری بدرګه والو ورسره مقابله شروع کړه، خو غازیانو ته ټینګ نۀ شول. او دَ شدیدے شخړے په نتیجه کښے څلور تنه بدرګوال هلاک او دوه سورلئ اِغوا کړے شوے، چه دوئ کښے یو تهانیدار وو او بل دَ عید کوکلی هندو. غازیانو بس لوټ کړو او پریمانه نقد وجنس ئے ترلاسه کړل.

## دَ فیرنګی فریب کاری:

دَ فقیرؔ ایپي دَ غازیانو عمومًا دا طریقه وه، چه په سړک روانے لاری به ئے په برملا دَ مټ په زور شوکولے، ولے ځنے ځنے به داسے کسان هم پکښے وو، چه هغوئ به دَ فیرنګی سره چل ول کولو. سړک ته نزدے به په یو محفوظ ځائے کښے خوندی شول او یو څو ملګری به ئے دَ خپل ځائے نه دوه میله مخکښے دَ سړک په غاړه اودرول. لارئ به چه پرے راغله نو دوئ به اشاره ورته اوکړه، ډرائیور به دَ سورلئ ګمان پرے اوکړو او اوبه ئے خیژول. دوئ به دَ لارئ جاج واخستو، که حفاظتی بندوبست به ئے مضبوط وو نو غلی به کوز شول، ګنی په لار کښے ناستو ملګرو ته به ئے پټکے اوخوزولو هغوئ به رادوُ کړو او لارئ به ئے اوشوکوله.

فیرنګے دَ دغسے وارداتونو نه ډیر تنګ شو او په دولسم[۱۲] مارچ سنه ۱۹۴۰ئے دا اټکل اوکړو، چه دَ ملیشیئے یو شمیر مسلح سپاهیانو ته ئے زنانه جامے او بُرقعے ورواغوندَولے او په لارئ کښے ئے پټ کښینول. په تلو تلو کښے چه دَ غازیانو څرکو لارئ ته اشاره اوکړه او وراوختل نو دوئ یکدم حمله پرے اوکړه او ګرفتار ئے کړل.

## دَ ملک آیوت سَرګرمئ:

لکه څنګه چه په قطبي وزیرستان کښے دَ فیرنګی په خلاف معاندانه عملیات په شدّت سره روان وو، دغه شان دَ سویلی وزیرستان سیمه هم فیرنګی ته تنور شوے وه. په کال سنه ۱۹۴۰ئے کښے دَ مارچ

دَ میاشتې نه پسته دَ سوېلي وزیرستان په خاوره ملک آیوت دَ انګریزانو دَ یو زبردست مخاصم په حیث میدان ته راووتو۔ اپریل کښې دهٔ یو درووند لشکر راغونډ کړو، دَ دړکئ سر او ګنډیرې الګړه په سیمه کښې ئې ډېره کړو او په سرکونو ئې حملې غدئ شروع کړې۔ دغه سیمه دَ جنډولې سراروغه او جنډولې سروکئ سرکونو په تکونی علاقه کښې واقع ده۔ په پنځم اپریل سکاؤټس پرې حمله اوکړه، او دَ جانبینو ترمینځه سخته جګړه اونښته۔ او دَ روان جنګ په دوران کښې دَ وانا نه کوټکی ته امدادی فوځ راوړې شو او دَ غازیانو دَ زبردست مزاحمت باوجود ئې دَ ګنډیرې الګړې په سر کښې دَ ملک آیوت خېمې تباه کړې۔

دغه شان دَ شلم[۱] اپریل په سحر سکاؤټس او فوځ په شریکه په کوټکی کښې دَ محسودو کیږدئ نه هم کېره تاؤ کړه۔ محسودو دَ ملک پاستی خان په مشرئ کښې ورسره مقابله شروع کړه۔ شدید جنګ اوشو خو دَ فوځ دَ کثرت له کبله ملک پاستی خان او ورسره دوه نور شینګی محسود شهیدان او ۷ کسان بې ګناه کلی وال ګرفتار کړې شول۔ دَ فیرنګی له خوا نه هم دیارلس[۳] تنه هلاک او پنځه کسان ژوبل شول۔

## دَ اغزن کلي ناتار:

دَ همزونو داوړو چلکائ خلیفه کوم چه په ۶ اپریل ۱۹۳۹ء دَ بوټیه قلعې خوا کښې په یوه انښته کښې سره دَ خپل پلاره جنګیدلے او

زخمي شوي وو، تازه تازه دَ فيرنګي په خلاف په جوته راپاڅيدلے وو او غدئ بريدونه ئے شروع کړي وو - فيرنګي دَ دهٔ پرله پسے وار دا تونه اونهٔ زغملے شول - او په ۴ مئ ۱۹۴۷ئ نے دَ پولټيکل محرر او خاصه دارو په ملګرتيا دَ اغزن کلي نه ګيره تاؤ کړه - خليفه چلګائ دَ دهٔ پلار پيرغلام او بهرام خان ئے اوشړل او کورونه ئے ورله اوسيزل -

## په کرنل کيمبل حمله :

دا هغه شپے ورځے وے چه دَ اسد خيلو کلے بيخي لوګ وو، او ټول خلق يخو ميلو ته ختلي وو - په اتم جولائ ۱۹۴۷ئ دَ زنيړي[1] موسکي وزيرو په مشرئ کښے دَ زنيړي وروړچين، زلمے خوئے اينار او ملګرے بيټني دَ سړک ترخوا دَ خپل ښکار په تاک کښے مورچه شوي وو - ناڅاپه دَ وزيرستان ريذيډنټ لفټيننټ کرنل کيمبل سره دَ خپل يو اردلي په موټر کښے پرے راغلو - دوئ پرے يکدم ډزے اوکړے - او دواړه ئے ژوبل کړل - فيرنګے په دے واقعه سره لمبه شو، يو خوا ئے اتهٔ تنه بے ګناه سړي ګرفتار کړل او بل خوا ئے هم په دغه ورځ دَ ووزي خيلو وزيرو جرګه راوبلله او په اسد خيلو او موسکي کښے ئے دَ څلورو ډنګو ډنګو ماڼيو نړولو او در ۳۰۰۰ زرو روپو جرمانے حکم ورته واورولو - څو ورځے پسته دَ رزمک نه فوځ ورپسے

---

[1] دَ لولي خيلو شاخ نه وو - پلار ئے شيخ آديت نوميدو - دَ پاکستان دَ قيام نه پس په خپل مرګ په حق اورسيدو - ؛

راغلو او په اوولسم ۱۷ جولائۍ ئې دَ دوئ مانړئ اونړولے۔ ولے په دے موقعه غازيان هم ورته اړم شول او يوڅو مړي ړوبلي ئې تر‌ے نه اوکړل۔

## دَ ختي کلۍ کيره:

په ۲۳، جولائۍ سنه ۱۹۴۰ئ دَ همزونو داوړو په سيمه کښے توچي سکاؤټس په ګشت وتلے وو۔ دَ ختي کلي په خوا کښے غازيانو ورته پرے اوکړے۔ سکاؤټس سمدستي دَ ختي کلي نه تاؤ شو۔ دَ کورونو تالاشي ئې واخسته او ډير خلق ئې ګرفتار کړل۔ چه په هغو کښے شودي خيل او دَ ده ورور صوبيدار وُلي خيل هم شامل وو۔ اګرچه وروستو دوئ دواړه دَ نيک چلنئ په ضمانت خوشي کړے شول مګر شودي خيل دَ فيرنګي دغه اِقدام خپل توهين اوګڼړلو۔ او له دغے ورځے نه دَ فيرنګي په خلاف سرګرميو کښے بوخت شو۔ دَ ده سره ملک زاريم[۱] همزونے هم ملګرے شو، کوم چه په ۱۲، جون سنه ۱۹۴۰ئ دَ غزا ميدان ته راوتلے وو۔

فيرنګي شودي خيل ته دَ لاس اچولو غلطي محسوسه کړه او په ۲۷، او ۲۸، جولائۍ ئې پرله پسے دوه ځله دَ ننواتے په حيث جرګے وراوليږلے، خو شودي خيل مخ ورنکړو، بلکه دَ يکم اګست

---

[۱] ملک زاريم کال ۱۹۴۶ئ کښے دَ مسلم ليګ په ايماء په قبائلي وفد کښے بهارته هم تلے وو، چرته چه فرقه وارانه فسادات کيدل۔ دَ ده دَ غزا دورانيه ايله څو ورځے وه۔

نه ئې برملا دَ فيرنګي په خلاف دَ جهاد اعلان اوکړو. او په دوئيم اګست ئې دَ ډمډيل نه ترميرعلي پورې زمکه فيرنګي ته تنګ کړه. داخل فيرنګي په ۱۰ ر اګست دَ همزوني او ملخو نه علاوه دَ نورو ټولو داوړو جرګه راوبلله او په کلکه ئې ورته اووئيل چه تاسو دَ شوديخيل لشکر دَ خپلې علاقې نه اوشړئ.

دغه شان ئې په ۱۲ ر اګست دَ درپه خيلو، اوميرانشاه داوړو سره هم دَ دهٔ دَ ويستلو په حقله خصوصي جرګه اوکړه، وې سره دَ دې شوديخيل نهٔ پخپله دَ فيرنګي دَ مرئ نه لاس راکښلو اونهٔ داوړو دې ته مجبوره کړو. په آخرکښې دهٔ تپئ دخپلو مجاهدانو سرګرميئو مرکز اوټاکلو او دَ توچئ په وسط او خوائ شاکښې ئې فيرنګې دَ خونړئ شخړو او تصادمو سره مخامخ کړو.

## په کرنل کوسبي حمله:

په ۲۶ ر جولائ سنه۱۹۴۰ئه دَ بنوں بريګيډ کماندنټ کرنل کوسبي دَ بنوں ميرانشاه په سړک په موټر کښې روان وو. په لار کښې دَ ايپي کلي ژنړيو ډزې پرې اوکړې، او کرنل کوسبي ئې په پښه سخت زخمي کړو. فرنګي په ۱۳ ر اګست دَ ايپي کلي نه توچي سکاؤټس چاپيره کړو. يو شمير کورونه ئې اوسيزل اولس ميړهٔ ئې يرغمال ترې نه بوتلل.

## دَ تپئ بُرومبئ جګړه:

په داوړو کښې تپئ کلي دَ غازيانو دَ پنډغالي ځائې وو. دَ دې

کلی نه به دَ فیرنګی په خلاف غدئ وتلے او برېدونه به ئے کول۔ فیرنګے دَ دے نه ترپوزے پورے شو او په اووم اګست ۱۹۴۰ئ ئے پټ په پټه دَ احمد نومے مُسلمان نائب پولټیکل ایجنټ او کپتان رسل (RUSSEL) په مشرئ کښے دَ تپئ کلی نه ملیشیا تاؤ کړه۔

فیرنګی ته چا مخبری کړے وه، چه په کلی کښے دننه ډیر غازیان موجود دی۔ نو دوئ دَ کورونو، حجرو او جوماتونو پوره پوره تلاشی شروع کړه۔ دلته دَ تپئ په کلی فیرنګی غوغا جوړه کړے وه، هلته دَ حسوخیلو او عیدکو داوړو ترمینځه دَ شودی خیل لشکر چه دَ تپئ کلی په حال خبر شو، نو چغه ئے پسے راواکړه۔ ملیشیا چه دَ ځان نه خبریده، ترهغه پورے دَ شودی خیل لشکر ترے نه تاؤ شوے وو۔ دغه شان دَ سپلګے له خوا نه هم غازیان ورپسے راورسیدل۔ او دَ طرفینو ترمینځه سخت جنګ برپا شو۔ دَ جنګ په دے هنګام کښے قدرتی طور په آسمان کښے تورے لړے راځرګندے شوے۔ سیلئ راغله او دَ ګړنګ ګروز سره باران شروع شو۔

په داسے حالاتو کښے چه یو خوا آسمانی قهر په زمکه راوریدلو او بل خوا دَ مردکو په تکار کښے دَ غازیانو دَ نعرهٔ تکبیر ژغونو زړونه راکښل، سپاهیان بے حوصلے او حواس باخته شول چه له ځیرے په زغلیدو سر شول او پښے ئے وُیشتے۔ په دے جګړه کښے کپتان رسل او ورسره یوویشت [2] تنه سپاهیان هلاک، دیارلس [3] کسان ژوبل او دوه میرهٔ ژوندی اونیول شول۔ دَ غازیانو دَ لوری نه هم

څلور توریالي ژنري په شهادت اورسیدل - دَ جګړے په پائے کښے چه غازیان خوریدل، نو دَ کپتان رَسل سرے پرېکړو او په نیزه کښے توميلے ئے دَ لشکر په وړاندے روان کړو-

## دَ تپي دُویمه جګړه :

فیرنګی چه دَ تپي په اوّله جګړه کښے ملتے اوخوړه، نو په زړهٔ کښے ئے دَ انتقام اُور بل شو- په ۱۵، اګست ۱۹۴۷ء دَ تپي نه واخله ترکهجورئ پورے په ټولو داوړو لس زره روپئ جُرمانه اولګوله- په دائے هم زړهٔ سوړ نهٔ شو، دَ تپي کلي دَ پائمالولو او سیزلو پروګرام ئے هم جوړ کړو-

چنانچه په شپاړسم اګست ئے په فضا کښے جنګی طيارے او په زمکه دَ رزمک دوه کالمه فوځ ور روان کړو- غازیانو ته دَ فیرنګی ارادے له مخکښے نه معلومے وے- او دَ تپي کلي دَ حفاظت دپاره په یوه خوله راغونډ شوی وو- دغسے داوړو هم له اول نه دَ تپي کلے خالي کړے وو او غرونو ته ختلي وو- کله چه فوځ اولشکر وبله مخامخ شول نو یو داسے مثالي جنګ برپا شو چه دَ توپونو ګړزهار، دَ توبکو شینداری ټکار او دَ طیارو غرهار به زړونه تر پردو ئیستل -

مړنو غازیانو دَ فیرنګی په مزاحمت کښے داسے مثالي بهادری او پامردی اوښودله، چه دَ تپي کلي نه تاؤ شوے فوځ ئے محاصره کړو او ټوله شپه ئے دَ سرو مرمیو په بټ کښے پرے تیره کړه- صبا سحر غازیان دَ الله اکبر دَ ژغونو سره په فوځ ورګډ شول او

داسے غلبه ئے پرے وروړه چه له څيرے مخ په تيښته اوښوو. دَ
تپئ کلے په مجموعي توګه بچ شو، ولے دَ طيارو او توپونو دَ پرله پسے
حملو په وجه يو څو کورونه مسمار شول او درے ديرش[۳۳] تنه
غازيان په شهادت اورسيدل. په مقابل کښے دَ فيرنګي دَ لورى نه ۵۹ تنه
فوځيان او دياړلس[۱۳] تنه انګريزان مړه کوه شول. دَ دے جګړے په
دوران کښے يوه جنګي طياره هم اوويشتله شوه او دَ پيرکلئ په خوا
کښے راپريوته.

په شهيدانو کښے يو نامتو مجاهد مدرانز او ورسره غازي مرجان
هم شامل وو. دَ مدرانز په څنګ کښے عنبرک دوه ټوپک پراته وو، يو
دَ دهٔ خپل وو او بل ئے په همدغه جګړه کښے دَ يوسکهـ دَ وژلو نه
پسته ترلاسه کړے وو. دغه دواړه ټوپک غالي داوړ اخستي وو.
او وروستو ئے دَ مدران کور ته رسولي وو. دَ مدرانز مړے کل شمير
په شنزئ دَ ميدان جنګ نه پُستلے وو، او دَ غليم دَ قبضے نه ئے بچ
کړے وو. کل شمير دَ ظريف خان ځوئے وو، چه دَ اغزن کلي همزونے
داوړ وو. دَ پاکستان دَ جوړيدو نه پسته خپلو دښمنانو اووژلو.
په دا جګړه کښے دَ فقير ايپي دَ تولو خليفه ګانو لښکرے شامل وے
او ټولے په سيالئ جنګيدلے وے. او پريمانه مال غنيمت ئے ترلاسه
کړے وو. دَ قطبي وزيرستان په خاوره دَ خيسارهٔ، دمدېل، خرهٔ،
او تپئ جنګونه سخت ترينے معرکے شميرلے شي.

<u>مدرانز شهيد :</u> مدرانز په محمد خيلو داوړو کښے دَ بپيا ؤ مامد

ځوځ وو۔ په توجهٔ کښې چه دَ فقیر ایپي دَ غزاګانو شورش پورته شو.
نو دَ دے توریالی په زړهٔ کښې هم اسلامي مینې غورځنګونه اووهل۔
او په اتلسمٔ جولائۍ ۱۹۳۹ء دَ فقیر ایپي په لشکر کښې شامل شو۔

دَ مدرار په غازی کیدو، چه فیرنګي خبر شو نو دَ ملکانو جرګے ئے ورپسے کړے او دَ قسما قسم مراعاتو شنهٔ باغونه ئے ورمخکښې کړل، خو دَ چا دَ زړهٔ سترګے چه بینا وی، هغه په تشه تصنّع نهٔ غولیږی نو دَ دهٔ له خوا نه هم فیرنګي پله دَ څهٔ مراجعت اثار څرګند نهٔ شول۔

فیرنګي داخل دَ دهٔ په کورنۍ فشار واچولو، خو په هغه ئے هم دَ خولے خوند بنهٔ نهٔ شو۔ او مدرار لا ورته دَ قهریدلی زمري په څیر او غرمبیدلو۔ شپه ورځ ئے دَ انګریزانو په خلاف یوه کړه او دَ وزیرستان په کوټ کوټ کښې دَ دهٔ دَ میړانې ژغ خور شو۔ دَ ټپۍ په دویمه جګړه کښې دَ یو سیکه سړی په منګلو شوے وو او دَ معمولی کشوکیر نه پس ئے چه هغه اووژلو، نو په دهٔ باندے هم له ورایه نه یو بل فوځي مشینګان راواچولو او سخت ئے ژوبل کړو۔ اوس فوځیانو دَ دهٔ دَ ژوندی نیولو هڅه شروع کړه۔ خو دهٔ به ځان ته نژدے نهٔ وړپریښودل او پرله پسے به ئے باړونه پرے چلول.

دَ کل شمیر چه ورته خیال شو نو دَ خطرے پروا ئے اونکړه او په ترپ په شنړۍ واړولو او دَ میدان نه ئے ویستو۔ توریالی مدرار دَ زخمونو تاب رانهٔ وړے شو او هم په دغه ورځ په شهادت

اورسید و او دَ وزیرستان دَ نورو ښځو ستر ګے پړے نمناکے شوے۔

## غازی مرجان شهید:

دغه مجاهد دَ رغزی کلی همزونے داوړ وو۔ پلار ئے خون باز نومیدو۔ ډیر توریالے او جنګیالے ځوان وو۔ دَ ګړیوم په یوه جګړه کښے هم سخت ټپی شوے وو۔ خوشحالهٔ مرده پس بیا روغ شو۔ دَ ټپی په جګړه کښے خو بیخی دَ سنګر په مینځ ورکډ شوے وو، او شهادت ئے نصیب شوے وو۔ دَ دهٔ یو بل ورور هم وو، چه دَ خړے په جګړه کښے په شهادت رسیدلے وو۔ دَ همزونو داوړو یو بل مجاهد هم غازی میرجان نومیږی، چه دَ میراعظم عرف پیرک ځوئے او خړے کلی اوسیدونکے دے او دَ فیرنګی په خلاف ئے ډیرے غزاګانے کړی دی۔


## دَ کپتان ستیونس قتل: (Capt: STEVENS)

دَ مدراز په شهادت غازیان دومره خوا بدی او غصه شوی وو، چه شپه ورځ به ئے دَ دهٔ دَ بدل آخستو مرکے کولے۔ آخر دغه سعادت دَ پائی محمد محسود په نصیب شو۔ واقعه داسے وه چه په ۲۲ اګست ۱۹۴۰ء کپتان ستیونس دَ توچی رود په غاړه دَ کھجوری قلعے سره جوخت باغ چهل قدمی کوله، دَ پائی محمد ډلے پرے دَ ځاځ غونډیو نه ډزے اوکړے او په ځائے ئے قلار کړو۔ چونکه دَ واقعے داځائے دَ هیبتی توری خیلو په حدود کښے شامل وو۔ نو حکومت په دوئ باندے دَ علاقائی ذمه وارئ په وجه درے زره روپئ جرمانه اولګوله۔

## دوه ویشتم باب

# دَ شودي خیل پاڅون

په توچئ کښې دَ شودي خیل دَ پاڅون سره دَ فیرنګي په خلاف
نوے ولولې، شورشونه او هنګامے راپورته شوے. او دَ زمکے پر
مخ به دَ زبردست خوف و هراس او فکرو تردد دوره وه. دَ هرے کښې
په سر به دَ ټوپک شپیلئ بشکاریده. نۀ دَ سر امن وو او نۀ دَ مال.
نۀ لارے محفوظې وے او نۀ لارئ موټرے. هندوان او سرکاري
ملازمان به اِغوا کیدل او سرکاري تعمیراتو او تنصیباتو ته به نقصان
رسولے شو. لنډه دا چه په توچئ کښې حالات دومره مایوس کُن
او کړکیچن شول، چه فیرنګي یو حَل بیا په پنځم اکتوبر ۱۹۴۰ء
دَ شودي خیل ورور، صوبیدار وُلي خیل او ورسره نور ګنړ خاصه دار
ګرفتار کړل، چه ګوندے په دا طریقه دَ شودي خیل اصلاح اوشي.
خو دَ هغۀ اصلاح خوځۀ چه لا ئے په آمدورفت کښې مشکلات
سیوا کړل. په سړکونو باندے ئے دَ لاریو ټک راټک بند



جرنیل شودی خیل داوړ
چه همیشه به ئې دَ توچۍ سیمه فرنګی ته تنور کړے وه

کړو. کهٔ چرته به سرکاري یا غیر سرکاري لارۍ ښکاره شوه نو سوے لمبے به ئے ترے نه اوچتے کړے. دغه سلسله ترمودے روانه وه. مګر وروستو دهٔ دَ قامي مشرانو په بار بار منت دَ نهم اکتوبر نه دَ غیرسرکاري لاریو په تګ راتګ اتهٔ آنے یومیه قلنګ مقرر کړو، ولے په سرکاري لاریو به بیخي قدغن وو.

فیرنګے چه دَ شوديٰ خیل دلاسه ډیر نالان شو، نوبل چل ئے اوکړو، هره میاشت ئے دَ دهٔ ورور صوبیدار وليٰ خیل سره دَ خپلو خاصه دارو دَ پنځو زرو روپو په ضمانت خوشے کړو. بیا ئے دَ پښتني روایاتو په مطابق په ۲۵، ۲۶ اکتوبر دَ میرانشاه دَ نائب تحصیلدار په مشرئ کښے پرله پسے دوه ځله دَ علاقے دَ سپین روږو ننواتے وراولیږل او دَ سړک دَ خلاصون خواست ئے ورته اوکړو. شودي خیل دَ پښتو دَ تقاضے له مخے ننواته قبوله کړه. او دَ سرکاري لاریو دَ تګ راتګ دپاره ئے په هفته کښے صرف دَ اتوار ورځ مقرره کړه. دَ ټاکلے شوے ورځے نه علاوه به سړک بند وو او غازیانو به مورچے پرے لګولے وے. دَ ټانګو په تګ راتګ هم پابندي وه، ځکه چه اکثر به پکښے دَ میرانشاه بازار ته پټ په پټه سبزۍ میوې او سودهٔ راوړے شول.

وروستو دَ لروبرو کلیو خلقو ته دَ پیاده تګ راتګ دَ زحمت په سبب شوديٰ خیل دا پابندي لرے کړه او په ټانګے والؤ ئے هم څلور آنے روزانه قلنګ مقرر کړو. ولے دَ دے سره سره ئے په

په سرکوټو باندې پاتکونه اولګول . او باقاعده به د ټانکو تلاشی اخستے شوه ، او هیڅ قسم خوراکی مواد به د میرانشاه قلعے او بازار ته نهٔ شو پریښودے .

## د فقیرایپی محسودو ته تګ :

په جولائی ۱۹۳۷ئه کښې چه فقیرایپی د بیرمل په مارغه کښې وو ملک آیوت او فرمانه خان به بار بار ورتلل او د بدر او مان توئے د دورے کولو ترغیب به ئے ورکولو ، خو فقیرایپی لا دے ته تیار نهٔ وو.

د اګست په نیمائی کښې چه فقیر ایپی د پیر مولا خان احمدزئی وزیر په ملکرئ کښې افغان پوسته نیساند ته نزدے د محسودو وزیرو سره یوه لویه جرګه کوله، نو ملک آیوت او ملک ولی خان ورته بیا د محسودو د دورے بلنه ورکړه ، ولے فقیرایپی بیا هم دے پلو څهٔ توجّه ورنکړه۔

د ټپئ جګړے نه پسته د محسودو خلیفه ګانو ملا شیر علی خان ، ټاپس خان ، ملک ولی خان او ملک آیوت خان یو ځل بیا په شریکه د فقیر ایپی نه د محسودو علاقے ته د تلو او هلته د فیرنګی په خلاف د خلقو د راپورته کولو خواهش اوکړو۔

داځل دهٔ د محسودو خلیفه ګانو د پُرجوش خواهش له خاطره د نومبر ۱۹۳۷ئه په آخری شپو ورځو کښې سره د خپل ورور شیر زمان ، شودی خیل ، دوؤ توپونو او په وزیرو داوړو مشتمل یو جرار لشکر د محسودو علاقے مکین ته کوچ اوکړو. په مکین کښې محسودو

ورته زبردست تود هرکلي اووئیلو. او دَ لرے لرے نه خلقے ورچلاندے شوے او دهٔ دَ جهاد تبلیغ ورته شروع کړو. نتیجه ئے دا شوه چه دَ محسودو په ژرهونو کښے یوځل بیا دَ جهاد جذبه راژوندئ شوه. او دَ فیرنګی په خلاف ئے ملے اوتړلے.

## دَ تیارزے په قلعه حمله:

دَ وزیرو، داوړو او محسودو یوے ډلے دَ ملک آیوت په مشرئ کښے دَ ۳۰ نومبر ۱۹۴۰ء په شپه دَ تیارزے[1] نزی قلعے ته مخامخ توپونه راوړل او اتښهٔ ډزونه ئے پرے اوکړل. دَ غازیانو یو توپ دَ ګرموالی له کبله اوچاؤدل شو او په فیرنګی ئے دَ زرهٔ براس اونهٔ یُستلے شو. ولے بیائے هم څهٔ نه څهٔ جانی او مالی تاوان ورته اورسولو.

دا وخت یو خوا سخته یخنی وه. او بل خوا دَ فیرنګی څخه خطر نو غازیانو ته دَ چاؤدلی توپ په سمبالولو کښے بے شانه تکلیف اورسیدو. دَ ډیرو غازیانو غبرګه نمونیا شوه. دوئیمه ورځ سکاوټس هم دَ غازیانو دَ مقابلے دپاره توپونه راوړل. خپل پوزیشن ئے مضبوط کړو. او دَ قلعے نه قطب پله په څلورو میلو فاصله باندے دَ غازیانو او سکاوټس ترمینځه شدید جنګ اوشو. په دا موقع فیرنګی دَ ملک آیوت په کلی هم بمباری اوکړه. دَ بمبارئ دَ انتقام په ترځ کښے غازیانو دَ لدّهے په قلعه هله ګُله جوړه کړه او زښت تاوان ئے ورته اورسولو.

---

[1] مقامی خلق دغے سیمے ته ووَمیژهٔ وائ.

## دَ شکرکوټ جګړه:

دَ وزیرو، داوړو، محسودو او بیټنو لښکرته دَ رزمک کیمپ فوځي جرنیل خبر ورکړو، چه:

"صبا به فوځ دَ متې په زور په شکرکوټ باندې کیمپ لګوي، که چرې څوک دَ مقاومت تاب لري نو را مخکښې دې شي."

غازیانو ته چې دَ جرنیل دغه خبر ورسیدو نو زمکه یې اوچورلیده، او دَ رزمک نه درې میله لرې دَ شکرکوټ په موزون ځایونو کښې یې مورچې اولګولې او دَ فوځ دَ راتلو په انتظار شول۔

دَ اووم دسمبر ۱۹۴۷ء سحر په اتو بجو دَ کرنل فاکنر په کمان کښې چه دَ رزمک فوځ شکرکوټ ته ورغلو نو غازیانو حمله پرې اوکړه او دَ دوارو فریقینو ترمینځه جنګ اونښتو۔ جنګ ورو ورو تاؤدیدو ماښام په اووه بجې غازیان او فوځیان وپله لاس په لاس او تمتر په تمتر ورغلل۔ دَ شپې دَ اتو بجو نه دَ صبا ماسپښین تر دوو بجو پورې جګړې دومره شدّت اختیار کړو، چه دَ رزمک کیمپ څخه بریګیډ کمانډر فوځ ته دَ پسپاکیدو حکم ورکړو، ولې او س دَ ورخه اوبه تیرې شوې وې۔ کرنل فاکنر وژلې شوې وو۔ او دَ فوځ زیاتره کسان مړه ګوډ شوي وو۔

په دغه جګړه کښې شریک حوالدار عبدالصمد عابدي په خپل مضمون "سرحد کی وہ رات" (ماهنامه حکایت لاهور۔ جنوري ۱۹۷۸ء) کښې لیکي

چه: "یہ دست بدست معرکہ تھا۔ سپاہیوں کی رائفلوں کے ساتھ سنگین لگی ہوئی تھیں۔ آپ رائفل کی لمبائی کو جانتے ہیں۔ اسکے اس دور کی چودہ[۱۴] انچ لمبی سنگین لگی ہوئی تھیں، جس سے رائفل برچھی بن جاتی تھی۔ پٹھانوں کے پاس خنجر ہوتے تھے۔ وہ حیران کن پھرتی سے سنگین کا وار بچا کر خنجر مارا کرتے تھے۔"

په دغه خونړۍ جګړه کښې وزیرو، داوړو او بیټنو د محسودو په علاقه کښې د ثابت قدمۍ او شجاعت داسې مظاهره اوکړه چه فیرنګي ورته ګوته په خوله پاتې شو. د شوډي خیل جرنیل د اَللهُ اَکبَرُ ږغ به د فوځیانو زړونه تر پردو یُستل. په دا جګړه کښې پنځلس[۱۵] تنه غازیان په شهادت اورسیدل، چه ډول عبدالائي محسود وو. د فوځ له ډلې نه د وژلیو ژوبلیو شمیر حوالدار عبدالصمد عابدي داسې کوي:

"جہاں تک مجھے یاد ہے۔ ہماری ان دونوں کمپنیوں کی نفری ڈیڑھ سو سے کچھ زیادہ تھی۔ مسلمانوں کی دو پلاٹونیں الگ تھیں۔ صرف چھ جوان زندہ واپس آئے۔ ان میں سے دو تین لاشوں کے نیچے چھپ گئے تھے اور آہستہ سرکتے نکل آئے۔ ان کی زبانیں جیسے گُنگ ہوگئی تھیں۔ دھشت زدگی

سے بول نہیں سکتے تھے...... مسلمان کمپنی کی
جو دو۲ پلاٹونیں ھندوؤں اور سکھوں کی کمپنیوں
کے ساتھ تھیں، ان میں سے صرف چارجوان مارے
گئے تھے۔ ان کا کمانڈر نادرعلی بھی مارا گیا تھا۔
مُسلمان پلاٹون کے بچ نکل آنے کی وجہ یہ تھی کہ
مُسلمان سپاہی تھے تو انگریز کے ملازم، لیکن وُہ
اپنے پٹھان بھائیوں کے خلاف لڑنے سے گریز کرتے تھے۔"

دَ دغے جگړے په حقله به "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف ساؤتھ وزیرستان ایجنسی فرام ۱۹۴۱-۱۹۴۲ء" کښے نوشته دی چه:

"دَ هغو فوځیانو ځخه ځنے کیمپ ته دَ زغلیدو کوشش اوکړو۔ مګر په لار کښے رابنکیل شول او بے شانه جانی او مالی تلفات ورته اورسیدل۔"

په دے جنګ کښے دَ عبدالانیٔ محسودو زنانه هم شاملے وے او انبار انبار مالِ غنیمت ئے تر لاسه کړے وو۔ دغو توریالیٔ زنانؤ به دَ جنګ کولو نه پرته ویرخپل مړی ژوبلی سمبالول او ویر به ئے دَ وژلیو ژوبلیو سپاهیانو ځخه وسله راغونډوله۔ حوالدار عبدالصمد عابدی لیکی چه:

"سکھوں اور ھندوؤں نے بھاگنا شروع کیا۔ نیچے
ایک خشک نالہ تھا۔ بھاگنے کا یہ ایک ھی راستہ تھا
دونوں کمپنی کمانڈر بھی بھاگ گئے۔ سکھوں کا کمپنی

کمانڈر کپتان رائے وند سنگھ اور هندؤں کا لفٹیننٹ
رتی رام تھا۔ یہ لوگ نالے میں اُتر گئے اور اپنے آپ کو
محفوظ سمجھنے لگے۔ مگر ان پر خنجروں کا حملہ ہوگیا۔
یہ پٹھان مرد نہیں بلکہ عورتیں تھیں۔ انہوں
نے کسی کو بھی زندہ نہیں چھوڑا۔ ان کا اسلحہ
ایمیونیشن اور دیگر سامان اٹھالے گئیں۔"

په دغه جګړه کښې غازیانو دَ نور سازو سامان نه علاوه په دوه سوه میله ټوپکو، پینځو مشینه ارو او دیارلسو زرو [۱۳۰۰۰] کارتوسو قبضه اوکړه۔ چونکه فیرنګی لویه لافه کړې وه نو قدرت خپله لافه ورته دَ پوزې پیزوان کړه او دومره جانی او مالی تاوان ورته اورسیدو چه فوځ دَ ځایه او نهٔ خوځیدې شو۔ او دَ توچیٔ کالم په مدد سره تر یوې میاشتې پورې هم هلته په شکرکوټ میشتهٔ پلتے شو۔

فیرنګے چه لږ دمه شو او ساه صورت ئې په ځائې شول نو دَ مکین او تاؤدې چینې بهلولزو محسودو ته ئې حکم ورکړو چه ټول ولجه شوې سامان بیرته راوړئ۔ دَدې نه علاوه په دوئ باندې دَ ټوپکو او کارتوسو په جنس کښې درنې جرمانې هم اولګولې شوې۔ دَ ملکیٔ اکثر تنخواه کانې ئې ضبط شوې۔ یو شمیر ئې خاصه دار مات کړې شول، او ځلوېښت کسان یرغمال ترې نه واخستل شول۔

دَ سختې یخنیٔ او دَ خوېرې دَ ختمیدو له کبله په ۱۹۰۰ء دسمبر

دَ ملک آیوت څخه دَ وزیرو داوړو لشکر بیرته توچئ ته رخصت شو، وَلے دَ دهٔ سره خپله ډله پاتے شوه ـ کله به ئے په فوجی کشتونو حملے کولے او کله به ئے سرکاری ملازمین اِغوا کول ـ هم په دغو شپو ورځو کښے ئے یو ځل دَ غنچال سره نژدے دَ ډاک په لاری حمله اوکړه ـ یو بدرګوال او یو سِکھ یکښے اووژل شول او یو سرکاری ملازم اِغوا کړے شو ـ غازیانو ته څهٔ نه مال ومتاع هم په لاس ورغلو ـ

## غازی آمیرګل :

په دولسم ۱۲ دسمبر ۱۹۴۰ء چه دَ شکرکوټ دَ جګړے نه پسته دَ وزیرو داوړو لشکر توچئ ته راستون شو، نو دَ سختے یخنئ په وجه کښے غازیان مریضان شول ـ آمیرګل هم څهٔ دَ هغے توپ دَ راکښلو په وجه کوم چه په نیازه قلعه باندے دَ ګوله باریٔ په دوران کښے چاودلے شوے وو او څهٔ دَ زښت ساړهٔ له کبله دَ عیدکو داوړو په کلی کښے په غبرګه نمونیا څملاستو او په ۴ جنورئ دَ کال ۱۹۴۱ء هم هلته په حق اورسیدو ـ

دَ آمیرګل نه علاوه یو څو نور غازیان هم دَ نمونیئے په عارضه وفات شول ـ آمیرګل په داوړو کښے دَ دریَپه خیلو کلی اوسیدونکے وو ـ دَ مشهور شهید رحیم ګل مشرورور وو ـ پلار ئے پیرا ګل نومیدو ـ کال ۱۹۳۹ء کښے ئے چه دَ بنوں دَ اسلامیه هائی سکول نه اتم جماعت پاس کړو نو دَ سپین وام په سیمه کښے ماسټر اولګیدو او بیا ئے وروستو عیدکو ته بدلی اوشوه ـ دلته ئے یو څو میاشتے ملازمت

اوکړو، خو طبعیت ئې باغیانه غوندې وو او په ملازمت کېنې ئې زړۀ اونۀ لګیدو. دَ دغې کال په دیارلسم ۱۳ اګست دَ فقیرآیپي په خدمت کښې حاضر شو. فقیرآیپي ورته دَ منشي توب کار حواله کړو، خو چونکه دَ دۀ په مرګونو کښې دَ تورې او مړانې ګرمې وینې جوش وهلو، نو دَ شودي خیل جرنیل دَ څرګ سره ئې ټوپک لاسو ته کړو. او دَ خپل وخت په هره غزا کښې خواه که په قطبي وزیرستان کښې وه یا په سوئیلي وزیرستان، داسې په مړانه اوجنګیدو چه نن ئې هم خلق په ججرو کښې ستائی.

انګریزانو دَ روغې جوړې وسونه پرې اوکړل. ډیر شنۀ شنۀ باغونه ئې ورورانده کړل او څو څو ځله ئې پلار او ترۀ ورله هم بندی کړل. خودۀ چرې هم دَ خدائې په مینه هسک سر ورته ښکته نۀ کړو.

غازی آمیرګل ډیر ښکلے او تنکے ځوان وو. وادۀ ئې لانۀ وو کړے. دَ دے باتور قبر په خپل پلارنی مړیستون کښې دے او خلق دَ عقیدت ګلونه پرے نولی.

## شودي خیل په توچئی کښې:

شودي خیل چه دَ محسودو نه راستون شو او په توچئی کښې ښکاره شو، نو دَ قطبي وزیرستان په پولټیکل ایجنټ باندے بیا بیوړنه تبه راغله. ځکه چه هغۀ په رارسیدو سره په یکم جنوری سنه ۱۹۴۱ء دَ وزیرو داوړو هغو ټولو ملکانانو څخه کوموچه دَ انګریزانو سره

زیات روابط درلود، مجموعی طور لس زره روپئ جرمانه وصول کړه.
په دا طریقه یوخوا دهٔ دَ انګریزانو استعماری قوت ته لته ورکړه
اوبل خوا ئے په سلګونو بربنډه پټ، او نهار مارهٔ کړل.

شودی خیل به دَ خپل لوئے لشکر نه علاوه، په توچئ کښے دَ
دولت خان، رحیم ګل او میر شاهجهان په مشرئ کښے وارهٔ وارهٔ
ټولګی جوړول او مختلفو اطرافو ته به ئے دَ فیرنګی په خلاف
لیږل. کومو به چه کله دَ سرکاری راشن لاری لوټلے او کله به
ئے سرکاری ملازمان اِغوا کول. کله به ئے کانوائی ډزولے او کله
به ئے دَ سکاؤټس او فوځ په ګشتونو حملے کولے. کله به ئے
هغه ویاله ورانوله، په کومه کښے چه دَ همزونئ نه دَ میرانشاه قلعے
ته اوبهٔ راتللے. او کله به ئے پلونه او سړکونه خرابول.

په دے حقله په "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف نارتھ
وزیرستان ایجنسی فار دی ایئر ۱۹۴۰-۴۱ء" کښے دَ هغے وخت پولیټیکل
ایجنټ دا سے ذکر کړے ده:

"دَ کال په اوږدو سره چه دَ سرکار فوځونه په
سوئیلی وزیرستان کښے برسرِ پیکار وو، شودی خیل دَ
خیلو ګنړو غازیانو په ملکرتیا کښے دَ دهشت ګردئ یوه
داسے فضا قائمه کړے وه، چه غلے غدئ، قتل ومقاتلے
اِغوا او ظلم وجبر روزانه معمول جوړ شوے وو"

فیرنګی چه دَ شودی خیل نه ډیر ستو مانه شو نو دَ وزیرستان

ریذیډنټ په ۲۹ جنوری ۱۹۴۱ء د داوړو جرګه رااوبلله. او په کلکه ئے ورته اووئیل چه :

"تاسو په خپله علاقه کښے شوډی خیل مهٔ پرېږدئ. ګنی په داوړو کښے به یا زما بادشاهی وی او یا د دهٔ"

## د شوډی خیل شهادت :

په دا شپږو ورځو کښے شوډی خیل ته د شول بیماری لګیدلے وه. او په خفیه ډول به ئے په کور کښے علاج کولو. چا مخبرے جاسوسی اوکړه او په یکم فروری ۱۹۴۱ء پټ په پټه ټوچی سکاؤټس ورمارچ کړے شو. سکاؤټس لا سم ختمی کلی ته نهٔ وو رسیدلے. چه غازیان پرے خبرشول او لور د لوری نه ورپسے رااووتل او حمله ئے پرے اوکړه. یوه شیبه تاؤده جګړه اوشوه خو د سپایانو پښے ورته ټینګے نهٔ شو او په شا ئے ماتے اوکړه. د دریه خیلو کټکی ته چه رسیدل نو دلته نور ژنړی هم ورپسے رااووتل. اوس جګړه لا ګرمه[۱] شوه. سپایان بدبد راګیر شول. ولے ساعت پس جنګی طیارے راورسیدے او په غازیانو ئے بمباری شروع کړه. د بده مرغه د چیلم ګړ زیارت په خوا کښے یو بم د شهتوت په اونه راپریوتو. بم اوچاؤدل شو او یو ټوټو بخری ئے د شوډی خیل په سر اولګیدل او په موقع شهید شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ○

---

[۱] په دغه موقع راقم پخپله هم موجود وو . ؎

شودی خیل په ختپه دَ ختپی کلی همزونے داوړ وو. پلار ئے ایتی خیل (حیات خیل) نومید و. دَ پلار دَ مرګ نه پسته دَ خپلے سیمے ملکی ورته سپارلے شوے وه. ډیر ځیګرور، مخوَریز او دَ پُروقار شخصیت خاوند وو. دَ خپلے علاقے په چارو لاړو کښے ئے پوره پوره لاس درلود. په کال ۱۹۲۹ء کښے چه دَ افغانستان شاه نادرخان دَ سقاوُ په خلاف دَ وزیرستانی اولس نه مدد غوښتلے وو. نو هغه وخت دَ داوړو دَ لشکر مشری شودی خیل کوله. او ړومبے سړے هم دَے وو، چه دَ کابل ښار ته ننوتے وو او قبضه ئے پرے کړے وه.

سره دَ دے چه بچه سقه وهلے شوے وو او شاه نادرخان په تخت ناست وو. ولے بیا هم په کابل کښے هغه شان لوټ شوک جاری وو. شاه نادرخان چه فکر اوکړو نو دَ امنیت قائمولو وظیفه ئے شودی خیل ته اوسپارله. او دهٔ په دومره کامیابئ سره ترسره کړه چه شاه نادرخان په انعام کښے دَ جرنیلئ په خطاب اونمانځلو او ډیر انعامونه خلعتونه او تعریفی سندونه ئے ورته عطا کړل.

او په توچئ کښے دَ شودی خیل دَ شان وشوکت دبدبے خورے شوے. ولے دَ بده مرغه دغه توریالے ځوان په کال ۱۹۳۵ء کښے دَ فرورئ په اوله نیټه سرکک شو او دَ پیښور پاګل خانے ته بوتلے شو. هم په دغه ورځ دَدهٔ کشر ورور وُلی خیل هم یو نیم کال قید شوے وو. شاید چه دَ ورور دَ قید کید و صدمه ورته رسیدلے وی. څو میاشتے پس چه څهٔ نه څهٔ صحت یاب شو نو په ۸ ؍ اګست

کوږ ته راوستے شو۔ خو اوس دَ دهٔ خیالات په بل رنګ وو او دَ فیرنګی دَ ملکیٔ منافقانه ژوند ئے په طبعیت بارغوندے محسوسولو۔ داهغه شپے ورځے وے، چه دَ فقیرایپي دَ غزاګانو بنهٔ زور او شور وو۔ شودی خیل به هم پټ په پټه پکښے حصه آخستله او خپل کور ئے دَ فقیر ایپي دَ راشن ګودام جوړ کړے وو۔ دَ اګست ۱۹۴۰ء په وړومبی تاریخ شودی خیل برملا دَ غزا اعلان اوکړو۔ په "جرنیل" لقب ئے شهرت پیدا کړو۔ او په توچیٔ کښے ئے د فیرنګی په خلاف بلوے او هنګامے راپورته کړے۔ په "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف نارتهـ وزیرستان فار دی ایئر ۴۱-۱۹۴۰ء" کښے دَ شودی خیل په حقله دَ وخت پولټیکل ایجنټ داسے واویلا کړے ده:

"مګر هغه مُتَلَوِن مزاج شخص وو او دَ فقیرایپي بریځو په دغه ټکی (دَ انګریزانو سره) دَ دهٔ دَ وفادارئ ختمولو عزم کړے وو۔ لهٰذا داچه هغه ئے مخالف کړو۔ اوس یو خو ادهٔ ته دَ "جرنیلیٔ" هغه خطاب ور په یاد کړے شو، کوم چه شاه نادرخان دَ افغان تاج دَ بازیابیٔ په معاونت کښے ورته عطا کړے وو او بل خوا دهٔ دغه پوخ تصمیم اونیوو، چه هغه ټول سپاهیانه صلاحیتونه پکار راولی کوم چه دَ دهٔ په خیال کښے تراوسه ضائع کیدل۔ چونکه دغسے شهرت یافته قائد مخاصمینو خپله منشا ګنړله، نو دَ سړکونو

ورانول او دَ سکاؤټس دَ ګشتونو سره امبړ چمبړ کیدل

دَ دهٔ دَ باغی ډلے یو عام عمل اوګرځیدو۔

دَ شودی خیل دَ غزاګانو دورانیه ډیره مختصره وه، ولے دَ دے باوجود هغهٔ په انګریزانو باندے دَخپل شجاعت سکه منلے وه۔ هغه یو زبردست مُبارز او جنګی ماهر وو۔ او بشپړ وزیرستان ئے دَ کُشت وخون دَ وارداتونو اماجګاه جوړ کړے وو او دَ وزیرستان په طول وعرض کښے ئے خپل ځان یو پُرکشش او پُر وقار شخصیت ثابت کړے وو۔

دَ شودی خیل شهید جانشین ورور وُلی خیل دَخاصه دارو صوبیدار وو۔ دهٔ به هم دَ فقیرآیپي په غزاګانو کښے ړومبے پټه پټه برخه آخسته۔ خو وروستو ښکاره شو او حکومت دَ یکم اګست ۱۹۳۸ء نه یونیم کال قید پرے اوخیژولو۔ چه قید ئے پوره شو نو په نولسم جنوری ۱۹۴۰ء دَ پنځلسو زرو روپو او ځلور میله بوړو ټوپکو په ضمانت خوشے کړے شو۔ دَ خپل ورور دَ شهادت نه پسته چه دَ غازیانو دَمشرئ پټکے دَ دهٔ په سر اوتړلے شو، نو دهٔ هم صوبیدارئ ته لته وړکړه او په جار ئے دَ فیرنګی په خلاف دَ غزا اعلان اوکړو۔

صوبیدار وُلی خیل ډیر توریالے او بریالے ځوان وو۔ دَ فیرنګی تر آخری سلګئ پورے په قلار نهٔ شو۔ کال ۱۹۴۷ء کښے ئے حکومتِ پاکستان ته دَ وفادارئ لاس وړکړو ۔ او حکومتِ پاکستان په

بدل کښے خپله صوبیداری، ملکی او زمکے پټی په جګو سترګو بیرته ورکړل. دغه توریالے غازی په ۱۹ر جنوری ۱۹۷۵ء په خپل مرګ په حق ورسیدو.

## دَ ختی کلی اوّله جګړه:

دَ فروری په دریم تاریخ چه دَ شودی خیل دَ شهادت دریمه ورځ وه، دَ ملیشئے یو بل ګشت دَ همزونو دَ کلیو په لوری اووتو. مطلب ئے دا وو، چه دَ شودی خیل فاتحه خوانئ ته چه کوم غازیان راځی هغه ګرفتار کړی، ولے دوئ لاسم شنے خوړے ته نه وو رسیدلی چه غازیانو حمله پرے ورووړه او په شا ئے دَ میرانشاه قلعے ته اوترپول. اوس دَ فیرنګی دا معمول شو. هره ورځ به ئے همزونو ته ګشت کولو. همزونی دَ دے نه ستړی شول او په اووم او اتم فروری ۱۹۴۱ء ئے دَ خپلے علاقے نه هجرت اوکړو.

فیرنګی ته چه معلومه شوه، چه همزونو خپله علاقه خالی کړه او هر څه خوشی پاتے شول، نو دَ شودی خیل دَ کور سیزلو اراده ئے اوکړه. چنانچه دَ پروګرام په مطابق په یوولسم فروری یو بریګیډ فوځ او سکاؤټس دَ ختی کلی په لوری ورمارچ شول. په په دا موقع دَ کلی په خواؤ شا باغونو کښے له اول نه شپیته میړه غازیان مورچه شوی وو او په فوځ ئے حمله اوکړه. فوځ یکدم په دوؤ برخو کښے تقسیم شو، یوه برخه دَ غازیانو سره په جنګ کښے اخته شوه او بلے دَ شودی خیل شهید او نورکنړ کورونه په بمونو

اونړول او کاکشونه ئې اوسېزل ـ قوله ورځ سخته جګړه انښتې وه او درېو جنګي طيارو به په غازيانو سرهٔ اوروونه ورول ـ بل خوا غازيان هم په دا سې استقامت سره ورمخه وو، چه دَ کړدې ورځې مقاومت په نتيجه کښې ئې شپاړس[۱۶] تنه سکان او ګورکيان قتل او يو تعداد ژوبل کړل ـ په مقابل کښې دَ دوئ دَ لورې نه هم پينځهٔ تنه ژنړې په شهادت ورسيدل ـ چه مشهور يکښې دَ همزونو لاړېے او دَ درپه خيلو منکاري وو ـ

فوځ تر ۲۲، فروري پورې په همزونو کښې پاتې شو ـ په ۲۳، فروري ريذيډنټ دَ داوړو جرګه راوبلله او په همزونو ئې دَ پينځو زرو کارتوسو او ځلويښت ميله ټوپکو جرمانه اولګوله ـ دَ جرمانې دَ داوړلو او پُرامن اوسيدلو په ضمانت کښې ئې پنځوس[۵۰] نفر يرغمال هم ترې نه اونيول ـ

دا خبره ياد ساتل پکار ده، چه فيرنګي به په قامونو باندې دَ ټوپکو او کارتوسو جرمانه په دې غرض لګوله چه په علاقه کښې دَ وسلې او ميګزين په تعداد کښې کمې راشي ـ په دا موقع حکومت دَ هغو مقتولينو خون بها او تاوان هم همزونو ته ورکړو، کوم چه دَ شودي خيل شهيد په هلوګلو کښې بے ګناه شهيدان شوي يا تاواني شوي وو ـ

## دَ درپه خيلو کلي کېره :

دَ فقير ايپي په لشکر کښې دَ درپه خيلو کلي کنړخوانان شامل

وو. او ټوله شپه به ئې يو خوا په کلي کښې دَ غازيانو ترانې چڼولې.
او بل خوا به ئې پخپله سيمه کښې هغه سرکاري وياله ورانوله، کومه
چه دَ همزونو نه راتيره شوې وه او دَ ميرانشاه قلعې او سول باغ
ته اوبه ئې پکښې رابهيدلې. اګرچه دَ دغې وياله ژغورنه دَ دربه خيلو
علاقائي ذمه واري وه، ولې دوئ به هره شپه پخپله ورانوله او
الزام به ئې په غازيانو لګولو. فيرنګي دَ دې نه ستړې شو. او
په ۱۸، فروري ۱۹۴۱ ئې دَ دربه خيلو دَ کلي نه توچي سکاؤټس
چاپيره کړو او ۲۴ کسان يرغمال ئې ترې نه ګرفتار کړل. په ۱۹،
فروري پولټيکل ايجنټ دَ دوئ سره جرګه اوکړه او ورته ئې وئيل
چه: "که چرې تاسو دَ فروري تر دوه ويشتم ۲۲ تاريخ پورې
دَ فقير ايپي دَ لشکر ټخه خپل ټول ځوانان بيرته راولئ او
په سرکاري وياله کښې دَ ميرانشاه تر قلعې اوبه راؤرسوئ
نو ستاسو يرغمال به خوشې کړې شي، ګنې هم دغسې به په
جيل کښې ورستيږي."

دربه خيلو دې ته غاړه کښينښوده. او په نتيجه کښې دَ ۱۱، مارچ ۱۹۴۱ء
په شپه غازيانو دَ ميرشاهجهان په مشرئ کښې دَ دغې وياله يوه لويه
سيمه ترناؤ په بارودو تباه کړه. او فيرنګي ئې دَ زښتې ستونځې
سره مخامخ کړو. دَ فيرنګي نور وس اونه رسيدو. هغه دَ دربه خيلو
ټولي يرغمال ئې ترمودې په جيلونو کښې اوکړول.

<u>دَ سپين وام په قلعه باړونه:</u> په يکم مارچ ۱۹۴۱ء سردار محمند خيل،

جنت میر او مولوی محمّد ظاهر شاه دَ سپین وام په قلعه، چه توچي سکاوُټس پکښې وو، دَ وی۔ بی، ګن باړونه او چلول او په قلعه کښې دننه پنځهٔ اسونه هلاک او دیارلس[۱۳] ژوبل شول او ځنې اسونه له ډیرے ویرے نه دَ قلعے څخه په ترپ اووتل او په غرونو سر شول۔ اګرچه جانی تاوان او نهٔ شو، ولے حکومت بیا هم دَ علاقائی ذمه واریٔ په وجه په توړی خیلو وزیرو باندے پنځلس[۱۵۰۰] سوه روپیٔ جُرمانه اولګوله۔

## دَ میرشاهجان بریدونه :

دَ شوڼی خیل جرنیل په مرګ چه فیرنګی ته څومره هوسناکی حاصله شوے وه، دَ هغے خوند دَ وَلی خیل او میر شاهجان دَ پرله پسے مخالفانه عملیاتو له کبله کنډیر شو۔ دغو باتورانو به نهٔ شپه کتله او نهٔ ورځ۔ هر وخت به دَ فیرنګی په خلاف بوخت وو۔ میر شاه جان دَ طبعیت نه دومره سخت وو چه دَ اُور بڅرے وو۔ دَ دویٔ دواړو نه دَ قطبی وزیرستان انګریز پولټیکل ایجنټ په خپل رپورټ ...''نوټ آن دی بارډر ایډ منسټریشن رپورټ فار دی ایر ۱۹۴۰-۴۱ء'' کښې داسے ژړا کړے ده :

''دَ بد نام دښمن شوڼی خیل په وجه، چا چه دَ خپل شامتِ اعمال دَ لاسه خپل سر بائیلود، دَ بشیر داوړو وضع دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر دَ سرګرمیو له کبله سره بتهٔ ده۔ دَ فقیرایپي خلیفه کانو ته دَ داوړو په

خاوره کښې مکمل معاونت او پناه ګاه حاصل دی او ځينے

دا سے کسان هم موجود دی، کوم چه حقيقت کښې شوډی خيل

دَ ظلم وجبر او لوټ شوک دَپاره دَ اجرتيانو په حيث ساتلی

وو۔ دَ شوډی خيل دَ مرګ نه پسته دَ دهٔ ورور وُلی خيل چه

لږه موده مخکښې دَ خاصه دارو صوبيدار وو، معاندانه

روش اختيار کړے دے او دَ خپل بدنام خليفه مير

شاهجان مبارک شاهی (کوز داوړ) په اعانت سره ئے

دَ داوړو په ګړه علاقه کښې دَ خوف وهراس دوره قائمه

کړے ده۔ اِغوا تخريب کاری او لوټ شوک دَ ميرشاهجان

په روزمره پروګرام کښې شامل دی۔"

آخر فيرنګی مجبور شو۔ په ۱۳، مارچ ۱۹۴۸ئه ئے دَ داوړو جرګه

راوبلله او په سخته ئے ورته اووئيل چه :

"ميرشاهجان او وُلی خيل دِے ياخو دَ حکومت سره

صُلحه اوکړی او يا دِے دَ همزونو نه هجرت، ګنی په دغه

سيمه به يو ځل بيا فوج کشی اوکړے شی۔"

مير شاهجان او وُلی خيل دَ فيرنګی دَ داړکو څهٔ پروا اونکړه

بلکه لا ئے مخالفانه سرګرمئ تيزے کړے۔ دَ توچئ په برہ

سيمه کښې ميرشاهجان دَ فيرنګی په خلاف سُور اور بل کړے وو

او په لږه سيمه کښې به خون اوعزلے خرسين دَ خپلو ملګرو په

معاونت سرہ کله دَ ټيليفون تارونه پريکول، کله به ئے لاری

شوکولے، کله په ئے کیمپونو وزول - کله به ئے سرکونه اوپُلونه ورانول او کله به ئے سرکاری ملازمان اِغوا کول. میرشاهجان په شلم[۲۰] مارچ ۱۹۴۱ء دَ میرانشاه دَ خاصه دارو په اتویشتم[۲۸] نمبر پیکټ باندے عندئ واچوله - پیکټ ئے اوسیزلو او دوه[۲] میله ټوپک ئے ترے نه ولجه کړل - هم په دغه ورځ دغے ډلے دَ سرکاری ډاک لارئ هم اوسیزله او شو ورځے پسته ئے دَ بوئے قلعے سره نزدے دَ خاصه دارو یو بل پیکټ ته هم اور ورته کړو - دَ ۲۶ مارچ ۱۹۴۱ء په شپه دَ میرشاهجان ډلے دَ میرانشاه دَ خاصه دارو څلیر ویشتم[۲۴] نمبر پیکټ نه څلور میله ټوپک ولجه، او دَ بازار نه یو هندو اِغوا کړو - په څلورم[۴] اپریل هم دغے ډلے دَ خدرخیلو په علاقه کښے دَ ډاک په لارئ حمله اوکړه او وئے سیزله - هم په دغه میاشت کښے دَ میر شاهجان په ترغیب دَ منظرخیلو او خدرخیلو وزیرو خاصه دارو خپل پیکټونه خالی کړل او دَ غازیانو سره شامل شول، او دَ لواړګی، پاکے غوزے او دَ چینړ په طرف ئے دَ خاصه دارو پیکټونه اوسیزل -

هم په دے هنګام کښے دَ صوبیدار داریم منظرخیل وزیر ځوئے ګینګټے چه اصلی نامه ئے محمد خان وه، دَ غازیانو سره ملګرے شو - دَ بویه پُل او دَ احمدخیلو خاصه دارو پیکټونه ئے اوسیزل او دَ علاقے کښ خاصه دارئے په خپل لشکر کښے شامل کړل -

په توچئ کښے دَ دغه کړبړ په حقله په "بلاهراپه منسٹریشن

رپورټ آف نارتهه وزیرستان ایجنسی فار دی ایر ۴۱-۱۹۴۰ء" کښې د میر شاهجان د مخالفانه عملیاتو دا سے خاکه راکښلے شوے ده:

"د شودی خیل پیرے اوس په میر شاهجان کښینا ستو، چا چه د خاصه دارو د پیکټونو په سیزلو او د هغوئ نه د ټوپکو او نور سامان په شوکولو د سرکاری ملازمینو په خلاف د دهشت گردئ مهم گرم کړے دے"

## د سپین وام په قلعه گوله باری:

د مهردل خټک په مشرئ کښې غازیانو د نهم او لسم اپریل ۱۹۴۱ء په مینځنئ شپه د سپین وام په قلعه د توپ یو څو رسا گزارونه اوکړل. او سرکار ته ئے زښت تاوان اورسولو. فیرنګی د علاقائی ذمه دارئ په وجه په توری خیلو وزیرو شل میله ټوپک او زر روپئ نغده جرمانه اولګوله. او د پرامن اوسیدو په ضمانت کښې ئے یو څو یرغمال ترے نه گرفتار کړل.

## د خلیفه کلات شاه برید:

بنوں کښې د کچکوټ پل په پیکټ[1] کښې د پل د حفاظت د پاره د بارو پولیس دولس[2] تنه سپاهیان تعینات وو. په ۱۸ اپریل ۱۹۴۱ء خلیفه کلات شاه او د ده یو څو ملګرو شبخون پرے اوکړو د یو ے شپے لاس په لاس شخړے په نتیجه کښې همګی وارہ سپاهیان

[1] دا پیکټ په کال ۱۹۹۱ء کښې وران کړے شو.

څوک په قتل ورسيدل او څوک ژوبل شول. غازيانو دولس[12] ميله ټوپک، يو تعداد مرمئ او پريوانه مال ترلاسه کړو او پښنے ئے وپښتے.

## دَ ختي کلي دَ دويمه جګړه:

په ۲۱ اپريل ۱۹۳۱ء دَ همزونو په علاقه کښې دَ فوځيانو ګشت وتلے وو. کله چه دوئ راستونيدل نو دَ ختي کلي په خوا کښې غازيانو حمله پرے اوکړه. حمله داسے وه چه هر کله دَ فوځيانو ګشت دَ ختي کلي نه مخ په وړاندے تير شو، نو دَ ميرشاهجان په مشرئ کښې غازيانو دَ نزدے غرونو ډډے او سوکے ورته مورچے کړے او دَ فوځيانو دَ راستونيدو په انتظار شول. کله چه ګشت راستون شو او غازيانو ته رانزدے شو نو دوئ ناڅاپي حمله پرے اوکړه. او ډير بد بدئے او ډبول. جګړه لا لګيا وه چه په دے دوران کښې دَ فوځيانو دَ مدد دَ پاره جنګي طيارے راورسيدے او دوئ ئے دَ غازيانو دَ ګهيرے نه وويستل، ولے سره دَ دے ديارلس[13] کسان هلاک او اووه تنه ژوبل شول.

دَ داوړو په علاقه کښې دَ پرله پسے ګړ بړ له کبله پوليټيکل ايجنټ دومره تنګ شو، چه دَ "بارډر ايډمنسټريشن رپورټ آف نارتهـ وزيرستان ايجنسي فار دي اير ۱۹۳۰-۳۱ء" په مطابق ئے په داوړو دَ فوج کشئ فيصله اوکړه:

"هر کله چه دَ داوړو په وضع کښې دَ اصلاح څه

آثار ځرګند نهٔ شول نو دا لازمي اوګڼلے شوه چه په دوئ فوج کشي اوشي، او سزا ورکړے شي"

## دَ غلام قادرخان حملے :

دغه ځوان دَ مکین دَ سیمے عبدالائ محسود وو. او په کال ۱۹۴۱ء کښے ئے دَ فرنګي دَ استعماري قوت پرضد شورش آغاز کړے وو. په ۱۲، اپریل ۱۹۴۱ء ئے دَ ایم- ای- ایس په وینټ حمله اوکړه او سخت تاوان ئے ورته اورسولو- په ۱۳، اپریل ئے دَ ملیشئے کانوائ چه لدّهے ته روانه وه، اوډزوله، او دریے میړهٔ سپاهیان ئے پکښے مړهٔ ګډ کړل-

همدغه رنګ ئے په ۲۲، اپریل چه سړک بیخي خلاص[1] وو، دَ رزمک نږی سیمه کښے په یوه سرکاری لارئ په کومه کښے چه ډسټرکټ کمانډر، دَ رزمک بریګیډ کمانډر او دَ رزمک ګیریزن انجنیئر او داسے نور یو څو افسران ناست وو، حمله اوکړه- یوه شیبه سخته جګړه اوشوه، او په نتیجه کښے دَ رزمک ګیریزن انجنیئر سخت ژوبل او رام موتي نومے یو هندو افسر غازیانو اِغوا کړو-

## دَ دته خیلو په سرائے حمله :

دَ دریم مئ ۱۹۴۱ء په شپه یو خوا غازیانو دَ دته خیلو په سرائے باندے حمله اوکړه او بل خوا دَ خاصه دارو په یو پیکټ شنے ډډوزے اوچتے کړے او پوره پوره غنائم ئے ترلاسه کړل-

---

[1] Road open day -

وی دَ بده مرغه په دغه کش وګیر کښے یو غازی هم شهید شو.
غازیانو دَ خپل ملګری په بدل کښے په پنځم مئی دَ سرکاری ډاک
لاریٔ اوسیزله. او فیرنګی ته ئے زښت تاوان اورسولو.

## دَ نرَی والے جګړه:

دَ دیارلسم ۱۳ / څوارلسم ۱۴ مئی ۱۹۴۱ء په شپه غازیانو دَ بنوں
رزمک په سړک باندے دَ نرَی والے په مقام دَ سړک یوه حصه ورانه
کړے او پُلونه غورځولی وو. په ۱۴ مئی چه فوځ دَ مرمت په غرض
ورغے، نو غازیانو حمله پرے اوکړه. یو ساعت تاوُده جګړه اوشوه.
او په نتیجه کښے پینځه سپاهیان هلاک او درے تنه زخمیان شول.
او دَ غازیانو له خوا نه میرا دُرم نومے خوشحالی توری خیل وزیر
شهید شو کوم چه دَ خپلے ډلے مشر وو. دغه مجاهد په تهیپیٔ
مشهور وو. او دَ مشهور غازی خوست ملا ملګرے او مآملکی
شهید وراره وو.

## دَ پیکټونو سیزل:

دَ کال ۱۹۴۱ء دَ مئی په پینځلسم ۱۵ تاریخ دَ دته خیلو په مقام دَ
غازیانو لشکر راغونډ شوے وو او دَ فیرنګی په خلاف ئے دَ ننګ
غیرت جرګے مرکے کولے. دَ دغے سیمے خاصه داروچه دَ غازیانو
خبرے واوریدے، نو دوئ ته هم جوش ورغلو او دَ بویئ نه
تر دته خیلو پورے ئے ټول پیکټونه اوسیزل. ماسخوتن ئے دَ
بویئ پُل په پیکټ هم حمله اوکړه او اوئے سیزلو. حالانکه دَ بویئ

قلعې ځمخه پورې پرله پسې مشینداراچلیدل، ولې غازیانو بیاهم خپل کاراوکړو- دَ دې نه علاوه ئې دَ دته خیلو قلعې ځمخه هم مطالبه اوکړه، چه قلعه خوشې کړئ او په قلعه کښې دننه انګریز افسر او نائب تحصیلدار غازیانو ته حواله کړئ- خو په دې دوران کښې جنګی طیارې راورسیدې او په غازیانو ئې حملې شروع کړې- غازیانو دَ طیارو دَ حملو مخه اونهٔ لیدې شوه او خپلې پښې ئې اوکښې-

## په بویه قلعه ګوله باری:

دَ اتلسم مئی ۱۹۴۱ء په شپه یو خوا غازیانو دَ بویئې په قلعه باندې دَ توپ حمله اوکړه- او بل خوائې دَ بګل دَ غرو لو سره پرې وی-بی-گن اوچلولو- دَ توپ دَ اول ګزو سره په قلعه کښې دننه یو جمعدار سره دَ درییو سپاهیانو هلاک او یو دهوبی او لس تنه سپاهیان سخت ژوبل شول- په مقابل کښې دَ غازیانو له خوا نه هم یو کس زخمی شو- دَ بویئې په سیمه کښې دَ پیکټونو دَ سیزلو او دَ بویئې په قلعه باندې دَ حملې په وجه فرنګی په بویه والو او ملخو داوړو باندې دومره سخت ظلمونه شروع کړل چه آخر دوی په شلم ۲ اګست خپل کلی خالی کړل او عزونو ته ئې هجرت اوکړو-

## دَ ابلنکی په پیکټ حمله:

په ۲۳، مئی ۱۹۴۱ء غازیانو دَ ابلنکی پیکټ په سکاوټس باندې حمله اوکړه او دوه تنه سپاهیان ئې قتل او یو سیګنلر

ژوبل کړو۔ دغسے دَ غازیانو له خوا نه میرغنی نومے یو ځوان په شهادت ورسیدو، چه دَ طورملا وراره وو۔ بل خوا هم په دغه ورځ دَ کړیوم ښخه د۲وه تنه فوځیان سره دَ یو مشین ګن او شپږ۶ زرو کارتوسو فرار شول۔ او دَ غازیانو سره شامل شول۔

## دَ دته خیلو په قلعه ګوله باری:

په ۲۵، مئی ۱۹۴۱ء غازیانو دَ حملے په نیت دَ دته خیلو سیمے ته توپ راوړو۔ رو مبے ئے په اختر پیکیټ یو څو رسا ګزارونه اوکړل او هر څه ئے ورته لوټه لوټه کړل۔ بیا ئے دَ دته خیلو په قلعه ګوله باری اوکړه، او زبردست تاوان ئے ورته اورسولو۔ په قلعه کښے دننه اوبو دَ تالاب په ورانیدو فیرنګی دَ زښتو مشکلاتو سره مخامخ شو۔

## دَ خړکمر انښته:

په ۲۸، مئی ۱۹۴۱ء غازیانو دَ خانی مچه مداخیل په مشری کښے دَ خړکمر کیمپ په فوځی ګشت باندے حمله اوکړه او څلور۴ تنه سپاهیان ئے ترے نه اووژل۔ سپاهیانو به چه خپل مړی راواچتول نو غازیانو به بارونه پرے راباندے کړل۔ دا سلسله تر دیره وخته پورے اوږده شوه، خو فیرنګی خپل مړی اوچت نکړے شول۔ آخر دا چه دَ میرعلی نه دَ میرانشاه دَ کانوائ په حفاظت کښے دَ سړک دَ ژغورنے تهیکونه ورپسے ورغلل او دَ مقتولینو دَ اوچتولو کوشش ئے اوکړو، ولے غازیانو هغه هم بد بد راګیر کړل او مړی په ځائے

پاتې شول. بلکه دَ خړکمر کیمپ څخه پینځه میره سپاهیان هم غازیانو ته وراوتښتیدل. دا کرت جنګی طیارے راوغوښتلې شوے او په غازیانو ئے دَ مردکو داسے باران شروع کړو، چه له تکه ئے خانی محمد مداخیل شهید کړو.

اوس غازیانو که هرڅو هلے ځلے کولے، خو دَ طیارو دَ مقابلے تاب ئے رانهٔ وړے شو او مجبورًا پاڅیدل خوارهٔ شول. فیرنګی دا موقعه غنیمت اوګڼړله او خپل مرګی ئے سمبال کړل. خانی محمد شهید دَ لاتکے محمد مداخیل وو. زبردست سړے او ځیګروړ ځوان وو. دَ دهٔ په مرګ دَ هرچا سترګے اشکبار وے.

## دَ داوړو جرګه :

فیرنګے چه دَ برو داوړو په علاقه کښے دَ پرله پسے تاخت و باخت نه زښت پریشانه شو نو په ۲۹، مئ ۱۹۴۱ء ریذیډنټ دَ برو داوړو جرګه راوبلله او دائے په کلکه ورته اووئیل چه دَ کوم کلی نه په سرکار ډزے اوشی، په هغه به ګوله باری کولے شی. دَ دے نه علاوه چه کومو ۲۲ کسانو ملکانانو دَ ولی خیل دَ نیک چلنئ په ضمانت نامه ګوتے لګولے دی، هغوئ به دَ دهٔ دَ مزید کړبړ ذمه وارګڼړلے شی. دغه دواړه داسے احکام وو، چه داوړے ئے منلو ته تیار نهٔ وو، نو دوئ دا فیصله اوکړه، چه خپل کورونه خالی کړی او چرته لرے غرونو ته مهاجرت اوکړی.

**دَ میر علی سپین وام په سړک انښته :** دَ ۲۸/۲۹ مئ ۱۹۴۱ء په شپه

غازیانو دَ میرعلی سپین وام سړک بند کړو. صبا په ۲۹ مئ دَ سپین وام نه وړیسے دَ سکاؤټس گشت ورغلو. چونکه غازیان له اول نه ورته چمتو ناست وو، نو سمدستی ئے حمله پرے اوکړه او راگیر ئے کړو. ولے جگړه لا گرمه شوے نه وه، چه دَ پاسه پرے جنگی طیارے راورسیدے او غازیان ئے منتشر کړل. په دا انښته کښے یو داوړ غازی شهید او دوه تنه بے گناه پاندړی گرفتار کړے شول. دَ فیرنگی دَ لوری نه هم خلور سپاهیان هلاک او شپږ تنه سخت ژوبل شول.

## دَ سپین وام جگړه:

دَ ملک کلاجان او مولوی محمد ظاهر شاه په مشرئ کښے غازیانو دَ سپین وام په قلعه باندے دَ گوله بارئ کولو پروگرام جوړ کړے وو. هرکله چه په دیرشم مئ ۱۹۴۱ء دوئ دَ اول حسن او خیال گل توپچیانو ترهدایاتو لاندے مورچے ته توپ راوړو او په وړاندے ئے بیزل ورته جوړه کړه، نو په دوئ کښے موجود یو مخبر په چل ول ځان وېستو او فیرنگی ته ئے مکمل رپورټ ورکړو. فیرنگی دَ ورځے په دریو بجو درے جنگی طیارے ورجگے کړے او هم په هغه نخښه کړے شوی ځائے باندے ئے بمباری اوکړه. دَ دریو گهنټو پورله پسے بمباری نه پسته فیرنگی په دا خیال چه گنی هرڅۀ به تس نس شوی وی، بمباری بس کړه او پیاده سپاهیان ئے ورمارچ کړل.

سپاهیان چه دَ سپین وام قلعے نه اووتل او دَ توپ تاکلی شوی

ځائ ته ورنزدے شول، نو توریالو غازیانو تکارے پرے راباندے کړو. دَ سپین وام دَ مضافاتو توري خیلو او مامیت خیلو وزیرو هم چغه وراوکړه او یوه داسے خونړۍ جګړه اونښته چه دَ توپ نیول خو څه، چه دَ فیرنګی څخه خپل ټوپک او مشین ګنونه هم غازیانو ته وریاتے شول.

دَ دے نه علاوه دَ توپ نه په لږه فاصله باندے مړنو غازیانو یوه جنګی طیاره هم راوغورځوله. په دے جګړه کښے دَ پټ مداخیل وزیر دَ زخمی کیدو نه علاوه غازیانو ته نور هیڅ تاوان اونهٔ رسیدو. دَ فیرنګی دَ لوري نه یوولس کسان قتل او پینځه تنه ژوبل شول.

## دَ لدهے جګړه:

دَ فیرنګی په خلاف یواځے دَ قطبی وزیرستان خلق نهٔ وو راپاڅیدلی بلکه په سوئیلی وزیرستان کښے هم ژنړیو شپه ورځ پرے یوه کړے وه. په ۶ مئی ۱۹۴۱ء یو خوا دَ لدهے په خواؤ شا کښے دَ سکاؤټس ګشت وتلے وو. او بل خوا هم په هغه وخت په ټیکري سر باندے شاهزادهٔ مُلا فضل دین یوه لویه جرګه راغونډه کړے وه. ناڅاپه دَ سکاوټس هغه ګشت په دوئ وریپښ شو. دَ محسودو داخیال راغے، چه ګني دَ شاهزاده دَ ګرفتارئ دَپاره ملیشیا راغله. نو یکدم ئے حمله پرے اوکړه او سخته جګړه اونښته. جګړه لا نوره هم تاؤیده چه په دے مینځ کښے جنګی طیارے راورسیدے او سکاؤټس دَ میدان جنګ نه ځان ویستو. په دے انښته کښے غازیانو ته څهٔ خاص تلفات اونهٔ رسیدل

ولے دَ سکاؤیٹس له طرفه نه اتۀ کسان هلاک او درے تنه ژوبل شول. دَ گشت کمانډر کپتان این ـ جی ـ ولیم (N.G. Williams) ته دَ خپل جرأتمندانه قیادت په صِله کښے "ملټری کراس" ورکړے شو. دَ دے پیښے په شپږ مه ورځ یعنی په دولسم ۱۲ مئی عبدالائی محسودو دَ لدّهے نه سرا روغه ته دَ سکاؤټس روانه کانوائی دَ چلارَےٹ او شمک رغزی په خواؤ شا رااِیساره کړه او سخت تاوان ئے ورته اورسولو.

## دَ مکینَ والو جرګه:

په ۱۴ ، مئی ۱۹۴۱ئ دَ سرا روغه په مقام دَ جنوبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ دَ مکین والو محسودو جرګه اوکتله او ورته ئے اوویل چه : "که چرے تاسو دَ حکومت سره دَ روغے جوړے لاندینی شرطونه منئ خو ښه، ګنی په مکین به بمباری کولے شی.

(۱) دَ مکینَ دَ سیمے نه دَ لشکر شړل او سرک خلاصول.

(۲) دَ غلام قادرخان دَ نیک چلنئ ضمانت کول.

(۳) دَ رام موتی هندو برآمد کول، کوم چه په ۲۲، اپریل ۱۹۴۱ئ اغوا کړے شوے وو.

(۴) حکومت ته دیرش کسان یرغمال رالېږل."

جرګے ته دا هم اوویلے شول چه تاسو دَ حکومت سره دَ سوال و ځواب په لړ کښے یو ځل بیا په ۲۱ ، مئی راشئ.

ړو مې خو محسودو تر څهٔ وخته پورې دَ فیرنګی شرطونو ته

غاړه کښېښودله، ولې کله چې فیرنګی په مکین باندې دَ بمبارۍ

کولو نه تېسونه او غونډول نو وقتی طور دوئ دَ فیرنګی شرطونو ته

غاړه کښېښوده او په مکین کښې تر اکتوبر ۱۹۲۱ء پورې څهٔ

نه څهٔ قلاری شوه۔

## دَ منزه غرهٔ برید: (MANZA)

په شپاړسم [16] مئی ۱۹۲۱ء غازیانو دَ منزه غرهٔ په خوا کښې دَ

انګریزانو په ډله باندې حمله اوکړه۔ او دَ سختې جګړې نه پسته

پنځه فیرنګی افسران اووژلې شول او غازیانو څلور میله ټوپک، یو

مشیندار، اته [800] سوه کارتوس، درې [3] ټوپانچې او دوه [2] دوربینونه

ترې نه ولجه کړل۔ او خپله مخه ئې اوکړه۔

## دَ پیر مولاخان شهادت:

فیرنګی چې دَ مکین په سیمه کښې عارضی طور امن قائم کړو۔

نو اوس غازیانو دَ وانا په علاقه کښې لاس واچولو۔ خصوصاً

دَ ټانزئ کل کچ او فورټ سنډیمن په سړک به اکثر مخاصمانه سرګرمئ

کیدلې۔ دَ ایم۔ای۔ ایس، نکلسن نومې یو انګریز اوورسیئر دَ کل کچ

په سړک دَ خپل وینټ نه اغوا کړې شو۔ او دَ شرکانئ په نزې

کښې قتل کړې شو۔ دا برید غازی پیر مولاخان کړې وو، او

کټه[1] توچی خیل وزیر او شاه دین وغیره هم ورسره ملګری وو۔

---

[1] په ۱۳ اپریل کال ۱۹۷۷ء کښې په خپل مرګ په حق اورسیدو۔

دوېم حُل دَ وانا باغ نه يو سرکاري مالي اغوا کړې شو. فيرنګي په دے وارداتونو ډېر تاوُ اوخوړو او دَ وانا په ميدان کښے ميشتهٔ توجي خيلو او سرکي خيلو احمدزو وزيرو نه ئے سکاوُټس تاوُ کړو.
فيرنګي ته له اول نه چا مخبر اطلاع ورکړې وه، چه په داسيمه کښے غازيان موجود دي نو دَ ۱۸، اګست ۱۹۴۱ء په سحر دَ وانا بريګيډ هم امداد ته ورغلو. اوس دَ ډېرو فوځيانو او لږو غازيانو په مابين کښے زبردست مقاومت برپا شو او دومره سخته جګړه اوشوه چه دَ باقي خيلو کليُو په يو کور کښے غازي پير مولاخان اودَدهٔ کشر ورور بهرام خان دواړه په سخت ژوبلي حالت کښے فيرنګي ګرفتار کړل. دَ ګرفتارئ نه يوه شيبه مخکښے غازي پير مولاخان دَشهادت جام څښلے وو.
په دغه جګړه کښے دَ فيرنګي دَ لوري نه دَ سکاوُټس درے سپاهيان، او يو صوبيدار هلاک او پينځه تنه ژوبل شول. دغه رنګ دَ فوځ نه هم اووهٔ ميړهٔ قتل او دوه کسان زخمي شول. دے نه علاوه دَ خاصه دارو نه هم يو صوبيدار او يو سپاهي په قتل اورسيدل.
دَ بهرام خان په ګرفتارئ احمدزو وزيرو زښته بلوه جوړه کړه. فيرنګي چه دَ حالاتو نزاکت ته اوکتل، نو دَ دهٔ دَ خلاصون په باره

---

له تراوسه ژوندے دے. او په "تبليغي جماعت" کښے مرکزي رول اداکوي. زاوُ زادے په اسلامي مدرسو کښے سبقونه وائي.

کښے ئے لاندینی دوه شرطونه ورته وړاندے کړل۔

(۱) دَ وانا باغ څخه اغوا کړے شوے مالی به برآمد کولے شی۔

(۲) احمدزئ وزیر به په شریکه دَ بهرام خان دَ نیک چلنئ پنځلس زره روپئ نغد ضمانت سرکار ته داخلوی۔

احمدزو وزیرو دا شرطونه اومنل او بهرام خان خوشے کړے شو۔ دَ فیرنګی دا خیال وو، چه دَ پیر مولاخان په واقعه به اوس احمدزئ وزیر پُرامن شی، ولے دَ باطل په خلاف دَ وزیرو لاسونه کله په قلار یدل۔ هم په دغو شپو ورځو کښے یو ځل بیا سُلطان خیلو وزیرو دَ ګل کچ خاصه دار پوسټ اوسیزلو او دوه هندوان ئے ترے نه اِغوا کړل۔

پیر مولاخان شهیدؒ دَ بیرمل دَ سیمے احمدزئ وزیر وو۔ او دَ وانا سره ئے تړون لرلو۔ دَ پلار نوم ئے ګل دین وو، چه دَ کال ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښے ئے څرګنده برخه درلودله۔ دَ ګل دین یو بل ورور رحیمداد خان نومید و، چاچه دَ ژوب ایجنسئ پولټیکل ایجنټ میجر فینس (FINIS) وژلے وو۔

دَ پیر مولاخان اصلی نوم فرمان الله خان وو۔ روجے په افغان فوج کښے کنډک مشر وو۔ کله چه وزیرستان کښے دَ فیرنګی په خلاف مجاهدانه سرګرمئ زور واخستو، نو دغه ننګیالے هم خپل وطن ته راغے او دَ فقیر اپي په مشرئ کښے ئے جهاد شروع کړو۔ پیر مولاخان به همیشه دَ خپل سپاهیانه تدبّر اوجنګی فراست په سبب دَ

انګریزانو په سترګو کښې اغزے وو۔ پولټیکل انتظامیۀ دده په راضی کولو پسے تانړۍ اوشلولے، خو دغه یاتوړ ئے ژوندے په لاس رانغلو۔ فیرنګی په خپل "بارډر اډمنسټریشن رپورټ آف ساؤتھ وزیرستان ایجنسی فار دی ایئر سنه ۴۱-۱۹۴۰ء" کښې دَ دے نومړی شهید په حقله داسے لیکلی دی:

"دَ وانا په وزیرو کښې دَ پیر مولاخان دَ مرګ ډیره بده نتیجه اووته، ولے چه دغه سړی څۀ نۀ څۀ وقعت درلودۀ"۔

## دَ ژام چینے جګړه:

دَ فقیر محمد په مشرۍ کښې غازیانو دَ ډانډ کلی جنوب مشرق پله دَ ژام چینے په مقام توپ راوړو او دَ دته خیلو په قلعه ئے دَحملے اوټپله۔ دوئ که هر څو احتیاطی تدبیرونه نیولی وو، خو دَ فیرنګی دَ بریخو نه پټ پاتے نۀ شول او چا مخبر یرے دَ توپ دَ محل وقوع په حقله فیرنګی ته اطلاع ورکړه او دائے هم ورته په ګوته کړل چه دَ توپ سره په موقعه ایله اته ویشت کسان غازیان موجود دی۔ چنانچه دَ دویم جون سنه ۱۹۴۱ء په سحر په شلورو بجو شلور شوه ملیشیا ور روانه کړے شوه۔ غازیانو چه ملیشیا اولیده نو پارونه ئے یرے راباندے کړل۔ دَ الله شان وو، له یوے خوا نه دَ نږدے کلیو چغے ورورسیدے او له بلے خوانه ګردو غبار راپورته شو۔ دَ سپاهیانو نه لارے ګودرے خطا شوے او غازیانو توپ نۀ ګیره تاؤ

کړه- ولې شنګه چې جنګ تاؤدیدلو، نو دوه جنګي طیارې پرې راؤرسیدې او په غازیانو ئې حملې شروع کړې. ملیشیې ته موقع په لاس ورغله او دَ غازیانو دَ ګیرې څخه ئې ځان وُویستلو. فقیر محمد له ډیره تاوه په طیارو باندې دَ چپل مشینګن شپیلۍ ورنیغه کړه او دلسې رسا باړه ونه ئې پرې او چلول چه دواړه ئې سر دَ لاندې بنکته را ګزار کړې.

دَ دې نه شپه پس نورې دوه طیارې دَ کوهاټ نه راؤغوښتلې شوې دغو کښې به یوه دَ سپاهیانو دَ پاسه روانه وه، او بلې به په غازیانو حملې کولې. دغسې تموله ورځ سخته جګړه او شوه او په نتیجه کښې ولیم نومې یو انګریز افسر سره دَ اتو کسانو سپاهیانو او پنځو تنو R.s.O.I قتل او اوولس کسان ژوبل شول. غازیانو ته یوولس میله ټوپک، یوه تماچه، یو دُوربین او دولس سوه کارتوس او نور پریوانه مال غنیمت په لاس ورغلو. په دا جګړه کښې دَ غازیانو څخه هم درې تنه سرتیري په شهادت اورسیدل.

هم په دغه ورځ چه دَ ژام چینې جګړه لګیا وه، بل خوا دَ پلنګزو په سیمه کښې غازیانو دَ ملیشیې ګشت رابنکیل کړې وو. او سخت تاوان ئې ورته رسولې وو. په دا موقع یو محسود غازی هم شهید شوې وو.

## دَ طوری مُلا او اَزلمیر برېدُونه:

طوری ملا او اَزلمیر خپلو کښې دَ غزا یاران وو. او دواړه به

دَ فیرنګی په خلاف یو حُلئے لګیا اوسیدل. کله به ئے دَخیساره او کړیوم په سیمو کښے خاصه دار دَ ډیوټئ نه شړل، کله به ئے سړک بند کړے وو او کله به ئے په کښتونو حملے کولے. په ۶ شپږم جون ۱۹۴۱ء ئے یو خوا دَ سکاؤټس دیر نامتو صوبیدار چونتر اووژلو. او بل خوائے هم په دغه ورځ په یوه سرکاری لاریٔ حمله اوکړه، یو بدرګوال ئے اووژلو او یو څوئے ژوبل کړل. دَ دوئ په ډله کښے دَ توری خیلو وزیرو یو سابقه صوبیدار بارے او زینډائی موسکے هم شامل وو. او اکثر به ئے دَ ایشے دوسلی په سړک باندے واردا تونه کول.

طوړ ملا دَ عیدکو کلی داوړ وو. اصلی نوم ئے عبد الرحمان وو او دَ انګریزانو دَ اقتدار په آخری شپو ورځو کښے دَ ممی روغے په مقام په خپل مرګ په حق اورسیدو.

## دَ چشمئے برید:

په دولسم ۱۲ جون ۱۹۴۱ء دَ میرشاهجان په مشرئ کښے غازیانو دَ چشمئ پُل[۱] په خوا کښے دَ ډاک په لاریٔ باندے حمله اوکړه سامان ئے ترے نه لوټ کړو او لاریٔ ئے اوسیزله. دَ میرانشاه قلعے ته چه اطلاع ورسیده، نو سکاؤټس او جنګی طیارے ورپسے راغلے. غازیان هم ورته مورچه شول او مقابله ئے ورسره شروع کړه. دَ بده مرغه دَ طیارو په بمبئ دوره درے ۳ میړهٔ غازیان

---

[۱] دَ چشمئ دَ قدیمی پُل سره جوخت په دسمبر ۱۹۸۶ء کښے نوے پُل جوړ شویدے.

په شهادت اورسیدل - دغے سانحے دَ دوئ زړونه مات کړل. او دَ میرانشاه کلی پله ئے مخه اوکړه - طیارو کلی ته هم اونه کتل بمباری ئے پرے جاری اوساتله او زښت تاوان ئے ورته اورسولو. صبا په دیارلسم[۱۳] جون پولټیکل ایجنټ دَ میرآنشاه کلی نه دَ خپلے خوښے نهه[۹] کسان یرغمال گرفتار کړل. کلی وال په دے غصّه شول. او په یوه خُوله ئے کلے خالی کړو او غروټو ته ئے مهاجرت اوکړو -

درویشتم باب ۲۳

# دَ برو داوړو هجرت

هسې خو لروبر داوړ پخوا دُ فیرنګی دُ وحشیانه ظلم وجبر نه دومره تنګ شوی وو، چه هروخت به ئې دُ هجرت مرکې کولې، ولې هر کله چه دُ میران شاه کلی دُ هجرت څخه خبر شول، نو په برو داوړو کښې د رپه خیلو همزونو، بویه والو، لاندي و، محمد خیلو، پائې خیلو او عدل خیلو هم په ۱۳/ جون ۱۹۴۱ء هجرت اوکړو۔ څوک میرزالي رغزی ته لاړل او چا دُ ویړ دې غره په لمنو کښې ورول۔ چا داویګر ته کډې اوکړې او څوک په غره کښې میشته شول۔ کومې کډې چه دُ ډیورینډ لائن نه اخوا آوړیدلې وې، هغه افغان حکومت بیرته رااوشړلې۔ نه چا خیمې درلودې او نه چا څوړې۔

برو داوړو کښې فوځونه :

برو داوړو چه خپله علاقه پریښودله نو دُ فیرنګی سره هم ویره پیدا شوه او لور په لور ئې په کښې فوځونه خواره کړل۔ په ۱۶/ جون دُ رزمک او توچي دواړه برګیډه میران شاه ته راغلل۔ دغه شان په ۲۸/ او ۲۹/ جون فرسټ

---

عل زمونږ کډې داویګر ته تلې وې۔ راقم

برېګېډ هم ميران شاه ته راورسيدو. په ۳۰/ جون توچي سکاوټس د ميران شاه دته خيل په سرک حفاظتي وظيفه شپږم نمبر مرهټه ته حواله کړه.

په ۴/ جولائي يوځوا د ميران شاه او دوسلي مليشا ديګان ته اولېږلے شوه او له بلے خوا نه د واستريک WASTRIK هيډکوارټر ديګان ته راوړلے شو.

## د کيشيے جهګړه:

د برو داوړو سيمه چه خالي شوه او د فرنګي فوځونه په کښے خواره شول نو ايله اوس غازيانو ته ميدان خوشے شو. په ۲۲/ جون سنه ۱۹۲۱ء د رحيم ګل او پيارجان په مشرئ کښے غازيانو د همزونو د کيشيے الکړے په غونډيو کښے د فوځ په يوه دسته حمله اوکړه. د فريقينو په مابين کښے سخته جهګړه اونښته لږه شيبه چه تيره نو د فوځيانو غړئ مره شول او د وائرليس په ذريعه ئے مزيد کمک راوغوښتلو. د امدادي دستو په رارسيدو سره د جنګ روخ بدل شو، ځکه چه اوس د غازيانو سره هم مرمئ ختمے شوے وے. توريالي رحيم ګل په غازيانو غږ اوکړو، چه هر سړے پښے اوباسئ. د دے غږ سره غازيان ورو ورو د مورچونه په پاڅيدو شول. هم به ئے په تلو تلو کښے جهګړه کوله او هم به ئے ځانونه ويستل.

ميربادشاه[1] چه د رحيم ګل سره په څنګ کښے ناست وو پاڅيدو او ده ته ئے اووئيل چه "زر کا راپاڅه! دښمن زور راوړو." ده په ځواب کښے ورته

---

[1] د راقم مشر ورور او د رحيم ګل د ترور ځوئے وو. په ۲۹/ اپريل سنه ۱۹۸۶ء په خپل مرګ په حق اورسيدو.

اوویل چه "صبر کا! دَ توپک جحورو ے لا ډکه ده - دا پرے تشو م نو در غلم"۔

دَ دے وینا سره سم دَ ده په لوری یو شمیر فوځیان ورغوته شول۔ رحیم ګل هم پرے ځپل بورے رابانډے کړو او دلیٔ دلیٔ نے پرشا او غورځول۔ اوس یو ځوا دَ ده سره بیخی کارتوس ختم شول او بلخوا دَ فوځیانو ټوله توجه ده پله شوه - آخر دیو لوری نه پرے مشینګن را وچلیدو او دا توریالے ځوان په ورانه اولګیدو او ورون نے ټوټے ټوټے شو، ولے سره دَ دے نے نه توپک غورځولو او نه نے ځان ګرفتاری ته ورکولو - توپک به نے مخکښے مخکښے غورځولو او ده به ورپسے په مات ورانه په خوئیدو خوئیدو ځان راکښلو او دَ فوځیانو دَ نظر نه به پناه کیدلو، فوځیانو به که هر څومره ورپسے کوله، خو غازیانو به دَ لرے نه داسے بارونه پرے رابانډے کړل، چه په شا به نے اوتمبول او رحیم ګل به نے ترے نه بچ کړو - په دے دے کښے چه ده په مات زنګانه لږ ځان پناه کړو، نو توریالی پیاوُجان دَ سرو ګولیوُ په باران کښے په شنزئ واړولو او دَ جګړے دَ منځ څخه نے اوویستو مګر ساعت پس نے دَ شهادت جام نوش کړو - دَ ده سره په ځنګ کښے سردار ممند خیل هم سخت ټپی شوے وو او په مقابل کښے دَ فیرنګی دَ لوری نه ۱۳ تنه هلاک او شپږ تنه ژوبل شول -

فیرنګی چه ځپل ضیاع اولیده نو له ډیره قهره نے دَ همزونو په نزدے نزدے کلیو ویربمباری اوکړه او ویر فوجکشی -

<u>رحیم ګل شهید</u>: رحیم ګل شهید دریمخیل داوړ وو - دَ پیرا ګل ځوئے او

دَ غازي امیر ګل کشر ورور وو- په ۲/۳ اکتوبر سنه ۱۹۲۰ء کښې پیدا شوے وو- وا دهٔ
ئے لا نهٔ وو کړے- بنهٔ تعلیم یافته او پوهه انسان وو- په هره جرګه کښې
به دَ دهٔ او دَ امیر ګل دَ تورے او مړانے قصے کیدلے-

انګریزانو که هرڅو دَ دهٔ کور او سیزلو- پلار ترهٔ ئے جیل ته واچول
او په دهٔ پسے ئے بَل مزري اوګرځول، خو دے باتور ځوان ورته سَر ښکته
نهٔ کړو- آخر ئے دَ شهادت جام نوش کړو او دَ خپل مشر ورور امیر ګل[ع]
په څنګ کښې خاورو ته اوسپارلے شو-

## ګوروېک :

فقیرایپي رح به چه کوم ځائے مرکز ټاکلو، انګریزانو به په هغه ځائے
سمدستي فوجکشي یا بمباري کوله او په دغې دوران کښې به نزدے نزدے
کلیو ته هم تاوان رسیدلو- په دے وجه فقیرایپي رح دَ ډیر غور وخوض نه
پس اپریل سنه ۱۹۳۸ء کښې ګوروېک خپل مرکز اعلیٰ منتخب کړلو-

دغې ځائے ته نزدے نهٔ څه آبادي وه او نهٔ په دغه سیمه بمباري
څه اثر کولے شو- ګوروېک دَ دته خیلو نه مخ په قبله دَ دیرشو میلو په فاصله
افغان بونډرۍ ته نزدے دَ جګو جګو غرونو ترمینځه یوه تنګه الګړه ده، چه
سل متره ارتوالے لري او اووهٔ میله اوږدوالے- دَ بارانی اُوبو سره سره چینے
هم په کښې راټوکیږي- دَ ګوروېک غرونه قدرتي طور دَ زغل، شګو او ختو
آمیزش دے- سمخ په کښې په آسانه کښتلے شي- فقیرایپي رح هم دلته دَ

---

[ع] دَ دوئ دریم ورور محمد ګل نومیږي چه په تبلیغي جماعت کښې فعال رول
لوبوي- ځامن ئے څوک حافظان دي او څوک علماء دین -

او نیمو شلو سمڅو په کنستلو کار شروع کړلو - او په جولائی کښې چه دغه سمڅ مکمل شولے نو دُ خړے جهګړے نه پسته ده ټول جنګی او غیر جنګی سازو سامان هلته منتقل کړو -

په دغو سمڅو کښې ځنې دُ مجاهدینو دُ رهائش، لنګر او ګودامات دپاره وے او ځنې دُ اوښانو دُ غوجلے دپاره - په ځینو کښې دُ اوسپنو دُ ویلی کولو بټئی، جنریټر او دُ خراد مشینونه نصب وو، چه باقاعده به په کښې دُ ماهرینو ترنګرانئی لاندے ټوپک، بمونه، غونډارئ او نور جنګی سامان تیاریدلو - او په ځینو کښې مشینی ژرندے لګیدلے وے - دغه شان یو څو سمڅ فقیر ایپی رح دُ خان دپاره مخصوص کړے وے -

## دُ ګکی کلی جهګړه :

دُ ګورویک نه به دُ فقیر ایپی رح دُ هدایاتو په مطابق دُ غازیانو لشکرے وتلے او دُ فیرنګی په کیمپونو او چاونړیو به ئے حملے کولے - دغه سلسله تر دیرے مودے او چلیده - آخر فیرنګے تنګ شو او دُ مداخیلو وزیرو جرګه ئے راوبلله او دُ فقیر ایپی رح دُ شړلو حکم ئے ورکړو - جرګه لاړه فقیر ایپی رح ته ئے منت اوکړو، خو څه ترے نه جوړه نه شول - اوس فیرنګی دُ متې په زور دُ ګورویک نه دُ فقیر ایپی رح دُ شړلو فیصله اوکړله -

چنانچه دُ دیګان په مقام چه دُ سکاوټس او واسترېک کومه قوا موجوده وه، هغې په ۷/ جولائی ۱۹۴۲ء کانی روغے او دته خیلو ته پیشقدمی اوکړه - په دے موقع دُ فیرنګی ۴۴ هزار وسله بند نفوس، څوارلس توپونه او په هوا یوولس جنګی طیارے دُ خونړی سیلاب غوندے مخ په وړاندے



دَ دارالجهاد ګورویک یوه ننداره



په ګورويک کښې دَ فقيرؒ ايپي دَ ثقيلې وسلې يو منظر

روانې وې.

بلخوا ننګیالو غازیانو چه له اوّل نه دَ فیرنګی په ارادو پوهه وو دَ مولانا وارث شاه، مولوی محمد ظاهرشاه او ملک ګلاجان په مشرئ کښې دَ کانی روغې سیمه مورچه کړې وه او ځینو دَ خرسار سیمه ورته نیولې وه.

هرکله چه فوځ دَ خرسار سیمې ته اورسیدو، نو غازیانو بارونه پرې شروع کړل. فوځیان لکه دَ مچ ومیږو خوارهٔ شول او بې شمیره مړهٔ ژوبلې په کښې اوشول. اوس فیرنګی لهٔ خوا نه خرسار ته توپونه اوتګول اوله بلې دړې نه ئې جنګی طیارې پرې ورخوشې کړې. سخته جهګړه اونښته او په هرلورى سور اُور په وریدو شو.

فیرنګې دَ اوّلې ورځې لسو بجو نه تر دریمې ورځې دولسو بجو پورې په کانی روغه ایسارشو. دَ خپلو سپایانو درنګې به ئې راغونډوې او بیا به ئې سیزلې. دریمه ورځ دَ دولسو بجو نه پسته چه دغازیانو سره مرمئ او خوړې ختم شو نو جهګړه پایئ ته اورسیده. فوځ هم په ډیره خوارئ دَ دته خیلو قلعې ته ځان اورسولو.

په دغه جهګړه کښې ۹ تنه انګریزان او ۳۷۲ فوځیان هلاک او ۳۱۳ تنه ژوبل شول. دَ غازیانو دَ لوری نه ۲۱ تنه په شهادت اورسیدل چه یو په کښې دَ سردار ممند خیل وررور هم شامل وو. غازیانو ته یو شمیر ټوپک، مشینګنډار او کافی مالِ غنیمت په لاس ورغلو. فیرنګی چه دَ ګورویک دَ نیوو ارمان پوره نهٔ کړې شو نو د زړهٔ براس ئې دَ مولانا وارث شاه، دَ کانی روغې دَ تنګی سیدانو او خدرخیلو په کورونو اوویستو. داسې بمباری او ګوله باری ئې پرې اوکړله،

چه هرڅه ئې ورته تباه برباد کړل.

"جرنل آف کنټمپریری هسټری"[1] کښې یو اروپائي لیکوال میلن هاوُنر[2] د "ون مین اګینسټ دی ایمپائر"[3] تر عنوان لاندې لیکي چه :

"د دویم عالمي جنګ په دوران کښې د سلطنتِ برطانیه په مخاصمینو کښې فقیرایپي بې مثاله شخصیت درلود. هغه د افغانستان د علاقې نه یو میل راډیخوا د ګوروېک د غرګکوېو په ناقابلِ رسا سمڅو کښې چرته چه هغه په آسانه خوندي کیدې شو میشته شولو او انګریزانو بیا چرې هم دغه شاهین د ځیلې جالې نه اونه شرلې شو"

د سپیرې غر جهګړه :

دغه غر د عیدکو داوړو په سیمه کښې د چیناروب نه قطب پله ولاړ دې. واقعه داسې وه چه په ۱۸ / جولائي ۱۹۴۱ء غازیانو د خون خرسین خوئې اوّل خان په مشرۍ کښې د میرعلي ایشا سړک په ۲۸ سنګ میل باندې د ګیلا رام هندو په لارۍ حمله اوکړه او اوئې شوکوله. د میرعلي کیمپ نه د توچي سکاوُټس ځغه او ارمړ کارونه ورپسې راووتل او د فریقینو ترمینځه مبارزه برپا شوه. د قدرت شان وو، په آسمان خړې لړې راخرګندې شولې او د ګرد وغبار زبردست طوفان راغې او سکاوُټس بیرته په شا مات شو.

په ۱۹ / جولائي د سکاوُټس او فوځ ګشتونه بیا د طیارو په حفاظت کښې په دغې ړلې پسې راووتل. سکاوُټس او غازیان د سپیرې غر په سیمه

---

ع[1] "JOURNAL OF CONTEMPRARY HISTORY" ع[2] "MILON HOUNER

ع[3] "ONE MAN AGAINST THE EMPIRE"

کښې وبله اونښتل او دَ یو څو گهړیو سخت مقاومت په نتیجه کښې دَ غازیانو دَ
لوری نه درے میړه ځوانان شهیدان شول او اوّل خان ژوبل شو. دَ بده
مرغه دوئ ځلور واړه سکاوټس ته ورپاتې شول - دَ فیرنګی له خوا هم پنځه
تنه فوځیان او دوه تنه دَ توچي سکاوټس سپاهیان هلاک او اووه تنه
ژوبل شول - اوّل خان چه روغ شو نو تر ډیرے مودے نے دَ قید و بند
صعوبتونه اوګالل - وروستو دَ نیک چلنئ په ضمانت خوشے کړے شو او
په کال ۱۹۴۷ء کښې پخپل مرګ په حق اورسیدو.

په توچئ کښې یلغار :

دَ داوړو د مهاجرت نه پسته په توچئ کښې خوړو ورو فوځونو شپه
ورځ یلغار شروع کړو.

دَ ۱۰ / جولائی ۱۹۴۱ء نه نے تر ۱۰ / اګست ۱۹۴۱ء پورے په برو داوړو
کښې ګنړ کوروته اوسیزل - په ۳۱ / جولائی نے دَ درپه خیلو په کلی کښې په
ګوټه لک کورونه تباه کړل - همدغه شان نے دَ ۱۲ / اګست نه تر ۲۰ / اګست
پورے په لرو داوړو کښې بے شمیره کورونه مسمار کړل - په ۱۵ / اګست چه
دَ دته خیلو نه فوځ راستون شو نو دَ داوړو سیمه هم فوځ خالی کړه او په
۲۶ / اګست دَ برو داوړو کښے بیرته خپلو ورانو ویجاړو کورونو ته راستنے
شولے - په دے شپو ورځو کښې دَ غلے او رخت دومره سخت قلت وو چه
اکثر وګړي به نهر او برژه لټے ګرځیدل - که چا به چرته رخت پیدا هم
کړو، نو دَ جامو په ځائے به نے کفنو ته خوندی کړو.

دَ خدی جهګړه : په ۱۰ / اګست ۱۹۴۱ء دَ میرعلی کیمپ څخه دَ سکاوټس

کشت وتلے وو۔ دیو څو ګهړیو نه پس چه دچینار وب په سیمه کښے پواس رارروان شو، نو دګاګودواړ په مشرئ کښے غازیانو دخدی کلی په خوا کښے پرے برید اوکړو۔ دیو ساعت مقاومت نه پسته دغازیانو ځنے یو شهید او دوه تنه زخمیان شول۔ دغه شان دټوچي سکاوټس نه هم درے تنه هلاک او یو شدید ټپي شو۔

## دالیګزینډر په چوکئ حمله :

په ۱۷/ اګست ۱۹۴۱ء دغازم پړے دزرمک په سیمه کښے دالیګزینډر قلعے خوا کښے دفوځیانو په یو پیکټ باندے حمله اوکړه۔ یوه شیبه ډزه ډوزه اوشوه او په نتیجه کښے دوه تنه سپاهیان قتل او درے تنه سخت ژوبل شول۔ غازیانو دوه میله ټوپک ترلاسه کړل او پخپله مخه لاړل۔

## دبوئے په قلعه باړونه :

په ۲۸/ ستمبر ۱۹۴۱ء ګل سلام پنجابي چه دفوځ نه تبنتید لے وو، د غلانئ دسیمے نه دبوئے په قلعه څوځله وی، بی ګن اوچلولو او په قلعه کښے دننه ئے دوه اسپے او یو سپاهي قتل او درے تنه سخت ژوبل کړل۔ ګل سلام چه مزید باړونه پرے چلول، تر هغے جنګی طیارے راا وریسدلے او ګل سلام دزره برهاس اونه ویستلے شو۔

## دولت خان شهید :

هم په دغه ۲۸ / ستمبر ۱۹۴۱ء باندے دهمزونو داوړو په واټ خوړ نومی الګړه کښے دولت خان سره دیو څو ملګرو دفوځیانو دګشت سره مخامخ شو او یو تر بله ئے ټوپک وبله اونیول۔

دُ طرفینو ترمینځه مقابله اونه ځنډیده - دُ سترګو په رپ کښې دوه تنه سپاهیان هلاک او یو زخمي شو - دُ بده مرغه دولت خان هم په شهادت اورسیدو - دغه توریلے ځوان محمد خیل داوړ وو - دُ شتمنے کورنئ غړے وو او په خاصه دارو کښے حولدار وو - پلار ئے ملک نومیدو - دولت خان شهید دُ خپل وخت په هره جهګړه کښے ډیر په مړانه جنګیدلے وو - دُ ده په مرګ دُ وزیرستان کور په کور ماتم وو - نن هم دُ ده دُ بهادرئ کارنامے په فخر سره ستائیلے شي -

## دُ ویدون الګړے جهګړه :

په ۶ / اکتوبر ۱۹۴۱ء غازیانو دُ دوسلي په علاقه کښے دُ ویدون الګړے په خوا کښے دُ فوج په یوه ډله برید اوکړو او په اوله غوته کښے ئے درے تنه قتل او دوه تنه شدید زخمیان کړل - جنګ لاجاري وو چه په دے مینځ کښے د فوج دُ امداد دپاره یوه طیاره راغله - غازیانو په هغے باندے هم وي - بي - ګن او چلولو او بنکته ئے راغوځار کړله - دُ طیارے په غورځیدو سره په فوځ هیبت ګډ شو او بیرته ئے په ترپ ځانونه خلاص کړل -

## دُ توت نري مبارزه :

په ۲۵ / نومبر ۱۹۴۱ء دُ قطبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ سي - بي ډیوک او نائب پولټیکل ایجنټ اسلم دُ ګنړو خاصه دارو په معیت کښے دُ میران شاه نه دُ لواړګي نري په مخه په لارئ کښے روان وو -

دُ توت نري په سیمه کښے غازیانو دُ اصل دین خټک په مشرئ کښے حمله

پرے اوکړه. دُمنظر خیلو وزیرو خاصه دار چه خبر شول، نو هغوئ هم دُصوبیدار داریم منظر خیل په کمان کښے امداد ته ورا ورسید ل. او جهګړه نوره هم ګرمه شوله. یو خونړئ جنګ اوشو. په نتیجه کښے د غازیانو لـه طرفه نه اصل دین ختک په شهادت اورسید و او دُخاصه دارو له خوا نه دصوبیدار داریم وراره حولدار امین خان قتل شو. دُصوبیدار داریم ځوئے محمد خان چه په ګینګټ معرفی وو، هم دُپلار په خلاف د غازیانو له خوانه زخمی شو. دغه ځوان وروستو روغ شو خو په ۲۹ / نومبر دُ خپلے کورنئ دښمنئ په سلسله کښے دُپلار سره یوځائے اووژلے شو.

## اصل دین ختک :

دغه ننګیالے او توریالے مجاهد ساغری ختک وو او دُشکودرے سره جوخت دُنند رکه کلی اوسید ونکے وو. ړومبے په فوځ کښے سپاهی وو. کله چه په پنشن شو نو دُقطبی وزیرستان پولتیکل ایجنټ سره دراښور مقرر شولو.

څه موده پسته دُمیران شاه بازار اعزازی داروغه تعینات کړے شو. ډیر رعبدارے سړے وو او سنه دُمزے ژواک نے کولو. دُفقیرایپیؒ هلو ګلو چه زور واخستو نو ده هم دنیاوی جاه وجلال ته لته ورکړه او پـه غازیانو کښے شامل شو او داسے په مړانه اوجنګید و چه نن نے هم په وزیرستان کښے ستائینے کیږی.

## پیرګل محسود :

مئ ۱۹۴۱ء کښے دُمکین محسودو دُفیرنګی په خلاف وقتی طور دُپرامن

اوسید و شرط په ځان منلے وو۔ و لے اکتوبر ۱۹۴۱ء کښے یو ځل بیا ډ پیر ګل شمک خیل عبدالالائي محسود په مشرئ کښے دُ مکین په خوا وشا سیمه کښے بلوے راپورته شوے۔ پیر ګل رو مبے رو مبے دُ رزمک په کیمپ کښے دوکانداری کوله خو دُ خپلو مخالفانه حرکاتو له کبله دُ کیمپ نه اوشړلے شو۔ هغه په دے سخت برهم شو او دُ رزمک کیمپ نه دُ توسره ئے برملا دُ انګریزانو مرئ ته لاس کړو۔

دُ لدے نه راروانه کاروانۍ ئے دُ مریه نړی MARAI NARAI په خوا کښے سخته اوډزوله او ډیر تاوان ئے ورته اورسولو۔ دغه رنګ ئے دُ چلاړئ او دوه توئے په مقام هم کاروانے اوډزوله او تاوان ئے ورته پیښ کړو۔ په ۱۵/ اکتوبر ۱۹۴۱ء ئے بیخی سړک بند کړو او یو پُلکے ئے اوغورځولو۔ دریمه ورځ ئے دُ ایم ۔ ای ۔ ایس وینټ لوټ کړو او هر قسم ټریفک ئے بند کړو۔ فیرنګے دُ پیر ګل دُ عملیاتو نه زښت تنګ شو او دُ مکین والو عامه ګرفتارئ ئے شروع کړه۔ په ټانک او جنډوله کښے ئے ۳۹ میره مکین وال ، بم بیدو اُوښان ، عمارتی لرګی او یوه لارئ اونیوه ۔ په ۱۹/ اکتوبر پولټیکل ایجنټ دُ مکین والو دُ جرګے سره لیدل کتل اوکړل او په ۲۷/ اکتوبر ئے ورته دُ دوباره راتلو حکم اوکړو جرګه په ۲۷/ اکتوبر بیا راغله او پولټیکل ایجنټ ورته اووئیل چه تاسو به حتماً خپل مفروران په غیر مشروط طور حکومت ته حواله کوئ ګنی په هغو ټولو کلیو به بمباری کولے شی چرته چه مفروران اوسیږی ۔

دُ جرګے له طرفه نه حکومت ته صفا ځواب ورکړے شو ، چه :

" نهٔ خو مونږه مفروران حکومت ته حواله کولے شو او نهٔ دُ دوئ

دُ نیک چلنۍ ضمانت کولو ته تیار یُو۔"

فیرنګي په دے جواب ډیر او قهریدوا و خبردار ے ئے ورکړو چه په ۲۹/ اکتوبر به دُ مکین په ځینو ځینو کلیو ګوله باری کولے شي۔ چنانچه دُ تا کلے شوے نیټے په مطابق دُ غر ے مال په مکین ګوله باری شروع شوه۔ په ۳۱/ اکتوبر مارټکر دُ محسودو ملکانانو مجبوراً پیر ګل او ورسره نور او ولسُ میره غازیان حکومت ته پیش کړل۔ فیرنګي دُ هر یو غازي دُ نیک چلنۍ په ضمانت کښے دُ محسودو څخه زر زر روپئ نغد ے، څوارلس میله ولایتي او دیارلس دیسي ساخت ټوپک واخستل۔

دُ ممش خیلو جهګړه :

د کال ۱۹۴۲ء په آغاز کښے یو ځل بیا غازیان په یوه خُوله رااوچت شوي وو او لور دُ لوري نه ئے په فیرنګي بریدونه شروع کړي وو۔ په خیساره کښے طور ملا او مُلین محسود لاسونه اچولي وو دُ کومو په ګرفتارۍ پسے چه په ۳/ جنوري ۱۹۴۲ء ټوچي سکاوټس دُ خیسارۀ دقطبي غاړے نه ګهیره تاؤ کړه خو کامیاب نهٔ شو۔

په ۱۳/ جنورۍ په سین تانګه کښے دُ لیوي دوه سپاهیان او وژلے شول په ۲۱/ جنوري غازم بوره خیل وزیر په یو لارۍ برید اوکړو او دُ لارۍ دُ محافظو خاصه دارو څخه ئے دوه تنه سخت ژوبل کړل۔ لارۍ ئے لوټ کړه او په لارۍ کښے موجود دوه هندوان ئے اغوا کړل۔

په دے ټولو وارداتونو کښے دُ ممش خیلو جهګړه دُ یادو وړ ده۔ دا جهګړه داسے شوے وه چه بنوں کښے به فوځیانو عموماً دُ ممش خیلو په مقام

انداخت (چاند ماری) کولو۔ یو شپه غازیان ورته مرکه شول او دٔ سرکرده غازیانو دین بوبری، زرباتی، سردار ممند خیل، شیخ اسلم، میر شاهجان او غازی مرغان په مشرئ کښې پنځوس میړه غازیان ورته نزدے دٔ کنو په پټو کښې پټ کښیناستل۔ دٔ ۲۴/ جنوری سنه ۱۹۴۲ء په سحر چه دٔیو انګریز منصبدار په کمان کښې فوځیان راووتل نو غازیانو باړونه پرے رااباندے کړل او دومره وبله نزدے شول چه دٔ توپکو نه نوبت لاس په لاس انښتې ته لاړو او زبردست آه وسوران پورته شو۔ دغسے یو څو ګهړئ تاوده جهګړه اوشوه او غازیان په داسے پامردئ سره اوجنګیدل چه ګنړ فوځیان ئے سره دٔ چپل کمانړ ره مړهٔ ګُډ کړل۔ بیا ئے زر زر دٔ مقتولینو او مجروحینو ساز و سامان راغونډ کړو او بغیر دٔ زرباتی او حبیب خان نور له ځیرے پخپله مخه خوارهٔ شول۔

حبیب خان او ولس کلنے ژنړے وو او په دے موقع دٔیو فیرنګی افسر سره غاړه غړئ شوے وو او یو تربله به ئے وبله پرزول۔ زرباتی به که هر څو ورته وئیل چه "حبیب خانه! پریږده ملګری مو لاړل" خو حبیب خان کله منل۔ وئیل به ئے چه "تر هغے به ئے پرے نږدم تر څو ے چه سر ترے نه پریکړے نهٔ وی او یا ئے زهٔ شهید کړے نهٔ یم"۔

دٔ خدائے فضل وو۔ فیرنګے ئے اوپرزولو او حبیب خان ئے په مړئ پیش قبضه راکښله۔ دٔ پیش قبضے راکښلو سره دٔ فیرنګی دٔ وینو دارے دٔ حبیب خان تر حلقه تیرے شوے۔ دٔ حبیب خان طبعیت ترے نه زښت خراب شو۔ په بیړه بیړه ئے دٔ فیرنګی نه سر پریکړو۔ چه یو خوا بلخوا ئے اوکتل نو اوس زرباتی هم په نظر ورنهٔ غلو۔ بیخی یکی یو اځے پاتے شوے

وو۔ دَ فیرنګی سَرے په څادر کښې اونغښتلو او دَ ګنو په پټی کښې ئے ښخ کړو۔ خپلې جاے ئے هم دَ وینو نه پاکے کړے او دَ بنوں بنار ته لاړلو۔

دحبیب خان ملګری دَ حملې نه پسته نیغ د باران پټم په مخه خواشول ره دَ دے ځائے نه باران تقریباً څلور میله مخ په قبله پروت دے۔ یو خوا غازیانو باران پله پښے ویستلې او بلخوا دَ کرم ګهړئ، باران او درے غونډاری قلعو ته ټیلغونی اطلاع ګانے تیرے شوے وے او مکمله ناکه بندی ورته شوے وه۔ غازیان چه خبریدل نو ترهغ فوځ او بارډر پولیس ترے نه تاؤ شوے وو او دوئ په ګهیره کښې راغلی وو۔ غازیانو چه بل روګودر او نۀ لیدو نو ګونډے ئے ورته اوو هلې او جهګړه ئے ورسره شروع کړله۔ جهګړے دومره شدت اختیار کړو چه دَ باران په سیمه کښې دَ توپونو، مشینګنو او ټوپکو دلاسه یو قیامت جوړ شو۔ او لور په لور دَ سرو مرمیو باران په وریدو شو، ولے دَ دے باوجود دَ غازیانو حوصلې دومره محکمې وے چه ویره ئے جنګ کولو او ویره ئے دَ دشمن د نرغے نه ځانونه ویستل، دغسے زیاتره غازیانو خپل ځانونه هم خلاص کړل او مال غنیمت ئے هم ترلاسه کړو۔

دین بوبرائ دَ خپلو اتو تنو ملګرو سره دَ ممند خیلو وزیرو تیره وړی نوے بانډے ته نو تلے وو او سخته جهګړه ئے کوله۔ دوئ دَ یو کور په دیوالونو کښې سوری کړی وو او په سپاهیانو به ئے پرله پسے بارونه چلول۔ خپلو ملګرو ته دَ دوئ هیڅ پته نۀ وه۔ کله چه لشکر دَ منځ نه ځان او ویستلو نو دَ فوځیانو ټوله توجه دوئ پله شوه۔

اوس د ټوپکو نه خبره لاړه دستي بموبز ته شوه. سپاهيانو به چه کوم بمونه دوئ ته وروېشتل هم هغه به دوئ بيرته په سپاهيانو ورغورځول دغسې يو ساعت ګرمه جهګړه اوشوه. آخر فيرنګي د تهري انچ مارټر په ذريعه په تيره وړئ ګوله باري اوکړه. بانډه مسمار شوه او غازي دين بوبرائ سره د خپلو شپږو ملګرو چه يو مولانا محمد اکبر هم په کښې شامل وو په شهادت اورسيدو. او باسے ګل نومي يو توچي خيل احمدزئ وزير په زخمي حالت کښې فيرنګي ته ورپاتے شو او وروستو په دار اوخيژولے شو. په دے جهګړه کښې مجموعي طور اتلس تنه غازيان په شهادت رسيدلي وو، ولے په مقابل کښې د فيرنګي د لوري نه ۱۳۵ تنه هلاک او ۱۷۰ تنه ژوبل شوي وو. په ژوبليو کښې يو انګريز منصبدار او شپيته تنه د بارډر سپاهيان شامل وو. دغه خونړئ جهګړه دوه ورځے جاري وه. حبيب خان يوه شپه په بنوں کښې پاتے شو، بله ورځ ئے د فيرنګي سر رااووېستو او بيا ئے په پټه ئے په لارئ کښې تر غوږيشتي اورسولو. هلته ئے د مولوي محمد ظاهرشاه کره خوندي کړو. هغه ئے د شيوے فقير په واسطه دغه سر د خپلو يو څو بنديانو د خلاصون په عوض بيرته حکومت ته ورکړو.

## دين بوبرائ:

دين بوبرائ شهيد د بيرمل ګنګي خيل احمدزئ وزير وو او په غره چينه کښې د بوبالي کلي اوسيدونکے وو. دغه مجاهد ډير توريالے او جنګيالے ځوان وو. پلار ئے طور نوميدو. د فقيرايپي په جهګړو کښې ئے د خپلے تورے په وجه ډير نوم پيدا کړے وو.

## غازي حبیب خان :

دغه باتور سیفلي کابل خیل وزیر وواو په بیرمل کښې دَ آبوټ کلي اوسیدونکے وو. پلار ئے نیازے نومیدو - ډیر زړه ور او ځیګرور ځوان وو - شونډه ئے لا پوره نهٔ وه شنه شوے، ولے دَ تورے په میدان کښے ئے ثاني نهٔ درلود-

دَ ممش خیلو په جهګړه کښې چه کله دهٔ دَ یو انګریز منصبدار په مرئ پیش قبضه راکښله نو بے پامه ئے دَ هغهٔ دَ وینو دارے تر حلقه تیرے شوے بس دغه ورځ وه چه دَ دهٔ سره سودا مل شوه. ورځ په ورځ به زیړیدو او دغسے څه موده پس په حق اورسیدلو-

## دَ خوني زاوهٔ جهګړه :

زاوهٔ دَ شینکي تنګي نه قطب پله تقریباً دَ پنځو میلو په فاصله بانډے دَ غرونو په مینځ کښې یو خوندی ځائے دے چه دَ باراني اُوبو ژور ډنډ یا زاوهٔ لري. دَ زاوهٔ نه چاپیره لونګیره سیمه منډے کانړي بللے شي. دلته غازیانو چپل ډیو جوړ کړے وو. په دے نسبت دغه جهګړه دَ منډي کانړي په نوم هم شهُرت لري -

دَ خوني زاوهٔ جهګړه داسے شوے وه چه په شینکي تنګي کښې فیرنګي دَ یو سر نه تر بل سر پورے زیر زمین سیمتي مورچے جوړ وو. دَ جنګ عظیم شپے ورځے وے او فیرنګي دَ افغانستان په لار دَ جرمن نه زبردسته خطره محسوسوله-

دَ دے نه علاوه به په دغه سیمه کښې یو خوا په فوځي کشتونو او کانوائ بریدونه کیدل او بلخوا به دَ فیرنګي سره په شینکي تنګي کښې دَ خپلو دوؤ

لویو لویو آهنی پُلونو ویره وه۔ غازیان دَ مورچو په تعمیر باندے ډیر مُشوش وو۔ خپلو کښے ئے مشوره اوکړله او دَ خونی زاوهٔ سیمه کښے ئے ډیر ورته قائم کړو۔ غازیانو روږمبے دَ سبیل او عبدالحبیب خان په مشرئ کښے دَ مورچو په قوائے کارو شبخون اوکړلو او دَ شدید مقاومت په نتیجه کښے اوولس[17] تنه سپاهیان هلاک او نههٔ تنه سخت ژوبل شول۔ دَ بدمرغه سبیل هم په شهادت اورسیدلو۔

فیرنګے دَ خپلو قوائے کارو په قتال باندے زښت دلګیر شو او غازیانو ته ئے په زړه زړهٔ کښے کرل ریبل شروع کړل۔ دَ ۷/ مارچ سنه ۱۹۴۲ء په شپه ملیشے او فوځ په شریکه دَ خونی زاوهٔ نه پټ په پټه ګهیره تاؤ کړه۔ په دے موقع ټول شپیتهٔ تنه غازیان وو۔ سحر چه دوئ پاځیدل نو چاپیره فوځ ترے نه پروت وو۔

توریالی غازیان اونهٔ ویریدل او داسے ناڅاپی حمله ئے پرے اوکړه چه دَ فوځیانو نه ئے وار پار خطا کړو۔ دَ فوځیانو په دغه وارخطایئ کښے غازیانو دَ دوئ دَ مینځ نه دَ وتو کوشش شروع کړو۔ فوځیانو که هر څو بارونه پرے چلول او جنګی طیارو ګولئ پرے ورولے، خو دوئ به ویر جهګړه کوله او ویر به ئے ځانونه ویستل۔ دَ الله شان وو دَ غازیانو دکمک دپاره دَ حیدرخیلو داوړو چغه را اورسیده۔ اوس دَ فوځیانو سره دَ ځان ویره شوه او غازیان ئے دَ ګهیرے نه اووتل۔ په دغه جهګړه کښے ۹ تنه غازیان په شهادت اورسیدل، چه په هغو کښے عبدالحبیب خان، پیاؤجان او میاں دین خان دَ یادوورړ دی او تاویلدار سخت ژوبل شو، ولے څو ورځے پسته

هغه هم په حق اورسید و - په مقابل کښې دُ فیرنګی دُلورې نه درے تنه انګریزان او څلویښت تنه سپاهیان هلاک او یو ولس تنه ژوبل شول -

## پیاوُجان شهید :

پیاوُجان محمد خیل داوړ وو - پلار ئے ملک بیتاخون نومیدو، چه دُ دولت خان شهید نزدے رشته دار او دُ مدراز شهید کلی وال وو - بنه دُ مزے ژوند ئے تیرولو، ولے دُ فقیرایپیؒ غزاګانو دُ ده په زړه کښې هم دُ وطن مینه راولړزوله او دُ مدراز شهید په نغوته په ۱۸/ جولائی سنه ۱۹۳۹ دُ فقیرایپیؒ په لشکر کښې شامل شولو -

دغه توریالے ځوان دُ فقیرایپیؒ په اکثرو جهګړو کښې ډیر په مړانه اوجنګیدو انګریزانو دُ روغے جوړے تانړۍ پرے اوشلولے او دُ ده په ګرفتارۍ پسے ئے پیښے تنړاکے کړے، خو نه ده روغے جوړے ته غاړه کیښوده او نه ئے نیوو ته خان ورکړو - آخر دُ خونی زاوه په خونړۍ جهګړه کښې ئے دُ شهادت جام نوش کړلو -

## تاویلدار شهید :

تاویلدار شهید دُ شوال دُ سیمے کاجی خیل پیپلی کابل خیل وزیر وو - دُ بټ خیلو دُ شاخ نه وو - اصلی نوم ئے عبد الحبیب وو خو په تاویلدار مشهور وو - دُ پلار نوم ئے شاه کیمرون وو - چونکه یو وخت ده په افغان حکومت کښې دُ تحویلدارۍ وظیفه اجرا کړے وه نو په دے نسبت ئے په تاویلدار شهرت پیدا کړے وو -

تاویلدار ډیر تکړه، پیاوړے او زیرک ځوان وو - دُ فقیرایپیؒ په مشرانو

کښې شمېر لے شو او دُ خپل وخت په هر جنګ کښې ئې د شجاعت جوهر ښودلی وو. هم دُ ټوپک په ویشتو بلد وو او هم دُ مشیندار -

دُ خونی زاوهٔ په جنګ کښې تاویلدار دُ یو انګریز منصبدار سره په دست بدست جنګ کښې انښتې وو او دُ یو بل دُ پرزولو کوشش به ئې کولو. دُ تاویلدار زور پرې تیر شو. انګریز ئې ځملاؤ او په چاړهٔ ئې ورله ځیګر غلبیل کړو. فیرنګی عین په حالتِ نزع کښې په تاویلدار دُ تماچې ډزاوکړو او دوه مره سخت ئې ټپی کړو، چه څو ورځې پس ئې وحق ته ځان اوسپارلو. دُ تاویلدار دُ شهادت نه پسته دُ دهٔ دمشرئ پټکے دُ دهٔ د ورور ګل حبیب په سُر او تړلے شو.

سبیل خان شهید :

سبیل خان په افغانستان کښې دُ ارګن دُ سیمے په درّه نومے علاقه کښې دُ ژرندئ کلی اوسیدونکے وو. په قوم فارس خیل جدران وو. دُ پلار نوم ئې جمعه خان وو. کورنئ ئې په آیوتی مشهوره ده -

دا ننګیالے ډیر ځیګرور او بریدی ځوان وو. دُ فقیر ایپي په غزاګانو کښې به ښهٔ په مړانه جنګیدلو او شپه ورځ به دُ فیرنګی په خلاف بوخت وو دُ ګلات شاه خلیفه دُ ډلے توریالے غړے وو او دُ دهٔ په ټولو مشهورو جهګړو کښې به مخکښے وو. آخر دُ خونی زاوهٔ په ړومبئ ورځ جهګړه کښې په شهادت اورسیدلو.

میاں دین خان شهید :

میاں دین خان دُ داویګر دُ سیمے سید ګے وو. پلار ئې ګلم خون نومیدو

ډیر تکړه او بهادر غازي وو. د فقیر ایپي رح په نامتو غازیانو کښې شمیرلے شو. د خپل وخت په ټولو غزاګانو کښې شامل وو. آخر د خوني زاوه په خونړي جهګړه کښې په شهادت اورسید و.

## د ایشارزمک په سړک برید :

د ایشارزمک سړک په ۶۲ سنګ میل باندے غازیانو په ۸/ مارچ ۱۹۴۲ء د ملټري په دوؤ لاریو او دریو ارمرډ کارونو حمله اوکړه او ډیر تاوان ئے ورته اورسولو.

په موقع څلور تنه سپاهیان هلاک او شپږ تنه سخت ژوبل شول. د دے واردات الزام په وُچے فقیرانو کښې په حسن باندے اولګید و. فرنګي قوا ورباندې برید اوکړه. یو خوا ئے کور ورله اوسیزلو او بل خوا ئے دوه میله ټوپک جرمانه پرے اولګوله. په دے هم قانع نه شو، د ده اته میره خپلوان ئے هم یرغمال کړل او د ډیره اسماعیل خان جیل ته ئے واستول.

## د ډانډے په سرلے حمله :

په دته خیلو کښې د ډانډے مداخیل سرائے ته د توچي سکاؤټس د رسالے یو شمیر اسونه راوستي شوي وو. غازیانو د ۲۳/۲۴/ مارچ ۱۹۴۲ء په شپه څلور دستي بمونه ورا وغورځول او ۴ اسونه ئے ترے نه اووژل.

په ۲۶/ مارچ چه کله دغه رساله د ګرډئي او ډمډیل په لار میران شاه ته راتلله نو یو ځل بیا غازیانو د فقیر محمد په مشرئ کښې د اسن خیلو پمپینګ سټیشن سره نزدے د خیسارة رود په اخوا غاره راایساره کړه. دوه تنه سپاهیان ئے هلاک او پنځه تنه سخت ژوبل کړل. دغسے د رسالے نه هم مزید

ځوارلس اُسونه اووړلے شول۔

## په شیرنے بمبارۍ :

ملک خاندان ته دَ انګریزانو مخالفت دَ خپلو لرغونو مشرانو نه په وراثت کښې پاتے شوے وو او دَ مداخیلو ژنړې به ئے هر وخت دَ فیرنګی په خلاف لمسول۔ فیرنګے دَ دے نه ډیر تنګ شو او دَ خاندان په کلی شیرنے باندے ئے بمباری اوکړه۔ دَ قطبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ سی۔ بی۔ ډیوک په خپل "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف نارتھ وزیرستان ایجنسی فار دی ائر سنه ۱۹۴۱-۴۲ء" کښې لیکی چه :

"خاندان هغسے دَ حکومت دَ وفادارو عناصرو په ویرولو کښې بوخت دے او په خپله رویه کښې هیڅ قسم اصلاح نهٔ راولی۔ حالانکه دا هم ښکاره خبره ده چه قبائلی احساسات عموماً د دهٔ سره موافقه نهٔ لری۔ په دے وجه دَ ۲۹/ مارچ سنه ۱۹۴۲ء نه تریکم اپریل سنه ۱۹۴۲ء پورے دَ دهٔ په کلی شیرنے باندے بمباری اوشوه۔"

## دَ ټوچی سکاوټس ناکامی :

جون سنه ۱۹۴۱ء کښې چه دَ ټوچی برو داوړو خپله علاقه خالی کړه او تر دته خیلو پورے فوځ میشته شو نو حالات څه نه څه پُرسکون غوندے شول۔ فیرنګی دا خپله کامرانی اوګنړله۔ او په دته خیلو کښې ئے دَ فوځ مزید ساتل مناسب اونهٔ ګنړل۔ په ۱۵/ اګست سنه ۱۹۴۱ء ئے فوځ میران شاه ته واپس کړو او دغه علاقه ئے ټوچی سکاوټس ته حواله کړه۔ خو چه څو ورځے تیرے نو دغه سیمه یوځل بیا اُورشوه۔ په ۹/ مئی سنه ۱۹۴۲ء دَ دته خیلو په قلعه دَ توپ

گڼاروئه اوشول او زښت مالي تاوان ورته اورسولے شو۔

په ۲۱/ جون دَدته خیلو په خواوشا دَ ملیشے گشت راایسار کړے شواو درے تنه سپاهیان قتل او پنځه تنه سخت ژوبل شول۔

همدغه شان په ۲۹/ جون دَلواړگي نرۍ په علاقه کښے دَ ملیشے گشت اوړزولے شو او دوه تنه هلاک او درے تنه ژوبل شول۔ آخر فیرنگي مجبور شو۔ په ۳۱/ جون ئے بیا دته خیلو ته فوځ راوستو۔

غازیانو هم موقع ورته لټوله او په ۳۰/ جون سنه ۱۹۴۲ء ئے هم په دغه سیمه کښے ( P/O ZAL BERAM SANJANE ) زال بیرام سنجین نومے یو سول افسر قتل کړو۔

## دَچشمئ سانحه :

دَ فقیرایپيؒ تولے مُبارزے گوریلائي وے، نن به چه په قطبي وزیرستان کښے حمله اوشوه نوصبا به په سویلي وزیرستان کښے کیدله او فیرنګي ته دا ممکنه نه وه چه په یو مخیز ډول ئے دَځان دفاعي انتظامات کړي وے بلکه بشپړ وزیرستان، بنوں، ډیره اسماعیل خان او کوهاټ دَغازیانو په زد کښے وو۔ کله به دَشپے غدئ اچولے شوے او کله به دَورځے حملے کیدلے۔

دغسے دَیکم اگست سنه ۱۹۴۲ء شپه دَمیران شاه په قلعه دَشبخون دپاره تماکلے شوے وه۔ او مازیگر دَچشمئ په خواوشا کښے غازیان راغونډ شوي وواو دَ نماځه تیاري ئے کوله۔

دَچا مخبر په خُوله پرے ناڅاپه ملیشا راالوځته او حمله ئے پرے اوکړه دغه حمله دومره ناڅاپي او شدیده وه چه غازیان جوابي حملے ته تیاریدل

ترهغې یوولس تنه غازیان په شهادت اورسیدل. دغه ټول شهیدان لر داوړ وو، چه مشهور په کښې د مدا خیل داوړ دوه ځامن مدا لالائي او مداکیپ وو.

## د میرشاهجان شهادت :

میرشاهجان د عمل خون حکیم خیل داوړ ځوئے وو. پلار ئے په ځوانئ کښې همزوونوته کډه راوړے وه او په ختي کلي کښې د شودي خیل سره همسایه شوے وو، او هم هلته ئے د همزوونئ ښځې نه میرشاهجان زیږیدلے وو.

میرشاهجان له وړوکوالی نه ډیر تکړه، بریدي او ځیگروړ وو. هرکله چه د فقیرایپي رح غزاگانو زور پیدا کړو نو دغے تنګیالی هم کلکه ملا اوتړله، او د خپل وخت په هره جهګړه کښې سنه په مړانه اوجنګید و. د شودي خیل اکثرے جهګړے په ده کامیابے وے. د طبعیت نه دومره تیز وو، چه پخپله شودي خیل به هم ترے نه ځنګ کولو.

دغه زمرے د خپل وطن په مینه دومره مست وو چه نه ئے د سرکار نه سترګه سوزیدله او نه ئے د وطن د مټورو خلقونه ویره کیدله. په کوم چا به ئے چه د مخبر ګمان یوخ شو نو بے وژلو به ئے نه پریښودلو. دغه شان ډیر جاسوسان د ده د لاسه اووژلے شول.

باوړوګے نومې یوه مدا خیل وزیر د میرشاهجان ډیر نزدے دوست وو دغے دوست د ده په سر پیسے اوخوړے او په ۱۲/ دسمبر ۱۹۴۲ء ئے د همزوونو په "ایصاره" نومے سیمه کښې شهید کړلو.

فقیرایپیؒ چه دَ دے نه خبر شو نو بادھو گے ئے قتل کړو او کوټ ئے وړله او سیزلو۔

دَ میرشاھجان د شجاعت اعتراف بریګیډیر جنرل سی۔ اے۔ ایل ګراهم پخپل کتاب "دی هسټری آف دی انډین ارټیلری" کښې په صفحه نمبر ۲۶۱ داسے کوی:

"دغه دَ بدنام مفرور میرشاھجان قصّه درج کولے شی، کوم چه دَ توپ دګولے په وجه دَ ونو بوټو نه په ترپ راووتو او دَ بټالین مخامخ په دوُ شو۔ هغه دَ مشین ګن، لوئیس ګن او ټوپکو په بارونو کښې دَ دولسو سوو ګزونو په رینج کښې تر زرو ګزو فاصلے پورے یوه شیبه سخته منډه اووهله او صحیح سلامت خلاص شو۔"

## شلېریشتم باب ۲۶

# دَ محسودو پله

**دَ سپین میدان ګهیره :**

دا انګریزانو په خلاف دَ فقیرایپیؒ مجاهدانه سرګرمیٔ محض په یوے علاقے پورے نه وے محدود ے، بلکه په ګرد وزیرستان او ورسره ورسره ملحقه علاقو کښے هم دَ غازیانو جدا جدا لشکرے موجود وے او په فیرنګی به ئے حملے کولے۔ دَ سوېلی وزیرستان په سپین میدان کښے هم دَ احمدزو وزیرو په ودانئ کښے دَ غازیانو یوه ډله اوسیدله او هر وخت به دَ فیرنګی سره مشت وګریبان وه۔ دغه غازیان چه یوه ورځ دَ سختے شخړے څخه ستړی ستومانه راغلی وو او بے حاله څملاستلی وو نو چا مخبر پرے جاسوسی اوکړه او فیرنګی په ۲۴/ جنوری سنه ۱۹۴۲ء پټ په پټه سکاوټس فوځ او ارمرډ کارونه ورداولیږل او ګهیره ئے ترے نه تاؤ کړه۔ دغه ګهیره دومره سخته او ناڅاپی وه چه په ګنړ ګنړلی ۳۴ میړه غازیان ئے ژوندی ګرفتار کړل۔

**دَ سپینکی رغزی جهګړه :** دا واقعه دا سے پیښه شوے وه، چه دَ اپریل سنه ۱۹۴۲ء

په دویم تاریخ د لیفټیننټ محمد یوسف په کمان کښې د ساؤتهه وزیرستان سکاؤتس یوه رساله د جنډولې نه کوټکۍ ته روانه وه. غازیانو له اګاهی ټوله چا خبر کړې وه او د محسودو بیټنو سل کسیز لشکر ورته د سور ساګر او سپین ساګر په سیمه کښې مورچې جوړې کړې وې. تقریباً سحر په اووه بجو ئې د سړک مشرق پله د سپینکۍ رغزۍ نه او د سړک سره جوخت د زام چلۍ غونډۍ نه پرې باړونه راباندې کړل. د ډزو سره ټول سواره کوز شول او اسونه ئې په سترګلۍ الګړه کښې راغونډ کړل او د زام چلۍ په غونډۍ باندې ئې جوابي ډزې شروع کړې.

لږه شیبه پسته د ډزونه خبره تیره شوه او دومره وبله نږدې شول چه یو په بل ئې دستی بمونه غورځول شروع کړل. غازیان په ډیر شجاعت او استقامت سره ورمتهه وو او په فوځیانو به د زوړګ وسیلئ غوندې ورتلل ولې د بده مرغه د جنګ هنګامه لا په ګرمیدو وه چه جنګی طیارې را اخړګندې شوې او په غازیانو ئې حملې شروع کړې.

دغه شان له بلې ډډې نه کپتان اوټلې په سور ساګر او سپین ساګر باندې مارټر او مشینګنونه رابانډې کړل. اوس د غازیانو بله چاره نه وه. مجبوراً ئې پسې اووېستې.

په دې جهګړه کښې دوه تنه بیټنی او یو پلوسین نوې ببې زی محسود شهیدان او دوه تنه ملک شهی محسود ټپیان شول. په مقابل کښې د فیرنګی د لورې نه اووه تنه هلاک او درې تنه سخت ژوبل شول.

"محسود طیاره": فیرنګی به همیشه دا کوشش کولو چه داسې حربې استعمال

کړی چه د وزیرستان سرکش او سرتیرے اولس په قبضه کښې راولی . په دے لړ کښې دهٔ د زور نه هم کار آخستو، زر نے هم شیندل او زاری نے هم کوله.

چنانچه دٔ محسودو قام د خوشحالولو په خاطر دٔ صوبه سرحد گورنر په ۷/ اپریل سنه ۱۹۴۲ء په ټانک کښې د دریؤ محسودو مشرانو سره جرگه اوکړه او دا نے ورته اووئیل چه حکومت غواړی چه ستاسو په نوم یوه طیاره "محسود" اونامولی.

## دٔ سرفراز گنډه پور حملے کلے :

یوخوا په ټانک کښې دٔ صوبه سرحد انگریز گورنر د محسودو مشرانو خوشامدی کوله، بلخوا دٔ محسودو ژړی ورته په زړهٔ زړه کښې خوټیدل، او دٔ سرفراز گنډه پور په مشرئ کښې دٔ ډیره اسماعیل خان ټانک په سړک راغونډ شوی وو په دغه لشکر کښې دٔ خونیا خیل حوٗنے خالو او دٔ مولانا محمد حسن شهید حوٗنے ملا احمد جان هم شامل وو.

په ۸/ اپریل سنه ۱۹۴۲ء دغے لشکر دٔ هتهاله په مقام دٔ پولیس په دریؤ لاریؤ حمله اوکړه. لاریٔ نے اوسیزلے او یو سپاهی نے قتل او یو اغوا کړو. په لاریٔ کښې موجود درے هندوان او یو لاس تړلے محسود قیدی نے هم دٔ ځان سره بوتلل. دٔ دے نه علاوه غازیانو په یو مشینګن، یو پستول دریؤ میله ټوپکو او اتو سوو کارتوسو باندے هم قبضه اوکړه. په مقابل کښې دٔ غازیانو له خوا نه ملا احمد جان برخیرن غونډے ټپی شو.

هم په دغه ورځ ماز یگر په اتو بجو دٔ محسودو غازیانو بلے ډلے دٔ ټانک په بنبار حمله اوکړه. گنډ دوکانونه نے لوټ کړل او بے شمیره نغد دولت او رخت نے ترلاسه کړو. په دغه شوک جراب کښې درے هندوان په چړو

او يو په ټوپک اووژلے شو۔

فيرنګي په دغو واردا تونو بے تحاشا اوقهريدو او په ټانک او ډيره اسماعيل خان کښے ئے د محسودو عامه ګرفتاري شروع کړه او تقريباً ۴۵ اتنه محسود ګرفتار کړے شول۔ په دے کښے اکثر هغه لوئے لوئے ملکانان هم شامل وو کوم چه د ګورنر جرګے ته راغلي وو۔

## د ټانک په مال خانه غدئ :

د ۱۳/ اپريل سنه ۱۹۴۲ء په شپه دګری خيلو محسودو غازيانو يوه ډله د ټانک په چاؤنړئ ورپريوتله۔ ازغيژن تارونه ئے پريکړل او د پولټيکل مال خانے نه ئے ۱۲ ميله ټوپک او ۶۰۰ کارتوس ولجه کړل۔

## د ګل شاه عالم بريدونه :

يوخوا که ګری خيلو محسودو د ټانک په سيمه هنګامه راپورته کړے وه نو بلخوا ګل شاه عالم د مکين سيمه فيرنګي ته تنور کړے وه۔ دغه ځوان عبدالائ محسود وو او د رزمک تاو د ے چينے په سړک به ئے د فيرنګي په خلاف عمليات کول۔ په ۱۵/ اپريل ئے د خاصه دارو د راشن په لاري حمله اوکړه لاري ئے اوسيزله او سامان ئے ترے نه لوټ کړلو۔ فيرنګي د عبدالائ محسودو جرګه راوبلله وير ئے د ګل شاه عالم د نيک چلنئ ضمانت ترے نه واخستو او وير ئے جريمه پرے اولګوله۔

## د سروکئ وانا په سړک بريدونه :

د دسمبر سنه ۱۹۴۲ء په شروع کښے د سروکئ وانا په سړک باندے غازيان د شاه عالم او غازي خان سرکی خيل وزيرو او سيل خان يارګل خيل وزير

په مشرئ کښې راپورته شول او وارداتونه ئې شروع کړل - په ۷/ دسمبر ئې د فورټ سنډيمين څخه راروانه لارئ اولوټله - په ۹/ دسمبر ئې د ساؤتهه وزيرستان يوے لارئ ته سړک بند کړو او دوه ميرږ سرکاري ملازمين ئې ترے نه اغوا او پنځه دانے ټائرونه ولجه کړل -

په ۱۲/ دسمبر ئې په بله لارئ حمله اوکړه او يو تن ئې په کښې اووژلو - د دغسے تشويشناک صورت حال له مخے د جنوبي وزيرستان پولټيکل ايجنټ په ۱۶/ دسمبر د خاصه دارو په معيت کښې د وانا په ميدان کښې د شاه عالم کور اوسيزلو او په کور کښې موجود پنځلس څاروی ئې ترے نه بوتلل - پولټيکل ايجنټ په دغه موقع دوه تنه ملکانان هم ګرفتار کړل - کومو به چه هميشه غازيانو ته پناه ورکوله - په ۱۷/ دسمبر يو ځل بيا نائب پولټيکل ايجنټ د ساؤتهه وزيرستان سکاؤټس په معيت کښې د وچه سوئ الګړ په سيمه کښې د باباخيلو نه ګهيره تاؤ کړه - درے تنه ئې سرى ګرفتار کړل او يو شمير ئې ګډ ے بزے ترے نه بوتلے -

غازيانو چه په خپلو عزيزانو باندے دغه ظلم و ستم اوليد و نو دوئ له مجبورئ نه مغويان خوشې کړل او فيرنګى د دوئ قيد يان -

## د مير خوند جهګړه :

د دے جهګړے واقعات داسے دی چه د ايم ، اى - ايس په بد زګولو کښې صالح مير نومې شمن خيل محسود به هميشه د حکومت د مخالفينو سره سازباز کولو او په دشمندانه سرګرميو کښې به بوخت وو - حکومت د ده دغه رويه برداشت نه کړے شوه او د ملازمت نه ئې مات کړو - صالح مير دا د ځان

سپکاوے اوکنزلو او دُ بدل آخستو دپاره ئے دُ محسودو نامتو غازیانو ملک آیوث او ملک ولی خان ته فریاد اوکړو. هغوئ دُ ننذرخیلو او ځینو نورو محسودو لشکر راغونډ کړو او په ۱۳/ اپریل ۱۹۴۳ء ئے دُ سُریلا الګډے په سیمه کښے فیرنګی ته مورچه کړو. په دغه ورځ دُ سپلاتوئے او سروکئ سکاوټس هم دُ لفټیننټ هچنز په مشرئ کښے دُ سُریلے الګډے په خواوُشا په ګشت وتلے وو. هچنز چه دُ دوئ نه خبر شو نو حفاظتی تدابیر ئے شروع کړل.

ورومبے ورومبے ئے دُ سورغر څوکه اونیوله، کومے ته چه سریلا او کنډیا له الګډے جُوتے پرتے وے. دُ هغے نه پسته ئے چه په لشکر نظر واچولو، نو دُ میرخوند دُ قبضه کولو په هڅه هم شو. ځکه چه دغه سیمه هم دُ چاپیره ټولو ځایونو نه اوچته ده. خو دُ هچنز دا ارمان پوره نهٔ شو او غازیانو په مینځ لار کښے پرے حمله اوکړه او درے تنه سپاهیان ئے ترے نه اووژل.

لیفټیننټ هچنز چه دُ حالاتو جاج واخستو نو دُ سورغر پلاټون ئے هم رااوبللو. جهګړه لاګرمه شوے نهٔ وه چه دُ سکاوټس دُ مدد دپاره جنګی طیارے رااورسیدے او په غازیانو ئے حملے شروع کړے. خو بېرزړی غازیان دُ طیارو نه خونړی نهٔ شول، بلکه لا دُ سیلاب په څیر مخ په وړاندے وررروان شول.

سربیره له دے دُ نزدے نزدے کلیو خلق هم ملاتړ ته وراورسیدل. اوس دُ فیرنګی سره ویره پیدا شوه او دُ میران شاه نه ئے مزید جنګی طیارے رااوغوښتلے او دُ سریلا الګډے او دُ میرخوند په قطبی علاقو ئے بمباری شروع کړه.

په دے هم غازیان زړه ماتی نهٔ شول او په داسے استقامت سره ئے مقابله ورسره شروع کړه چه دَ سکاوٹس پښے ورته ټینګے نهٔ شوے. او دَ جنګی طیارو په حفاظت کښے ئے دَ سروکئ قلعے ته ځان اورسوو. په دے جهګړه کښے دَ غازیانو له خوانه یواځے آوالی شنګی خیل محسود شهید شو او دَ فیرنګی د لوری نه ۹ تنه هلاک او یوولس تنه زخمیان شول.

صالح میر دَ مارچ ۱۹۴۲ء په آخری هفته کښے حکومت ته ځان تسلیم کړو او روغه جوړه ئے اوکړه.

## دَ خماټے غر جهګړه :

په ۱۳/ مارچ ۱۹۴۳ء چه یو خوا دَ میرخونن جهګړه لګیا وه نو بلخوا هم په دغه ورځ غازیان دَ خماټے غر په سیمه کښے دَ فیرنګی سره برسرِ پیکار وو خماټه غر دَ رزمک نه سوئیل پله تقریباً دَ دریو میلو په فاصله باندے واقع دے. په دے ورځ دلته دَ رزمک کیمپ فوځیانو څه فوځی مشق کولو. کله چه دغه فوځیان بیرته کیمپ پله روانیدل نو سحر په نهو بجو غازیانو دَ ډاول خان محسود په مشرئ کښے دومره شدیده حمله پرے اوکړه چه فوځیان ئے کیمپ ته اوزغلول او پرشانے کنړ مړی ژوبلی پریښودل. مازیګر چه فوځیان دَ خپلو مړو ژوبلیو او چتولو دپاره هغے ځائے ته ورغلل نو غازیانو بیا راګیر کړل خو جنګ لا شدت نهٔ وو اختیار کړے چه له یو خوا نه فوځیانو ته امدادی دستے رااورسیدے او له بلے پړے نه دَ غازیانو په کمک کښے دَ محسودو دَ نزدے نزدے کلیو څخه خلق راچلاندے شوے. اوس لا جنګ تود شو او مازیګر چه نمر په غرغره شو نو دَ مابنام

په تیاره کښې سپین کمر والو محسودو هم په فوځ حمله اوکړه او د شپې ترلسو بجو پورې خونړې جنګ لګیا وو. آخر فوځیانو د مقاومت تاب رانه وړې شو او په مشکله ئې بیرته کیمپ ته ځانونه اورسول. او نولس تنه مړی ئې په شا پریښودل چه یو په کښې برټش افسر او درې صوبیداران شامل وو. غازیانو په مال غنیمت کښې څوارلس میله ټوپک، یو وی، بی ګن، پنځه تامسن کاربائن او پنځه لوئې وړې تما چې ترلاسه کړې.

د غازیانو له خوا نه اته میړه په شهادت اورسیدل، چه مشهور په کښې ډاول خان محسود وو. چونکه په دې جهګړه کښې د سلیمی او شامی خیلو محسودو پوره پوره لاس وو نو فیرنګی یوځوا د دوئی نه د ولجه شوې سلاح مطالبه اوکړه او بلخوا ئې دوه زره دانې کارتوس او لس زره نغدې روپئې جرمانه پرې اولګوله.

له دې نه پرته د هغو ټولو خلقو د کورونو ورانولو حکم هم اوشو، د کوموخیلوان چه په دغه جهګړه کښې شهیدان شوی وو. چنانچه په ۱۹/ دسمبر ۱۹۴۳ء د رزمک فوځ د شامی خیلو او سلیمی محسودو په کورونو ورپریوت او هرڅه ئې ورته خاورې ایرې کړل. له دې نه پسته د... حکومت له خوا په عائد شوو شرطونو کښې د ناکامئ له جهته په سپین کمر باندې هم په ۱۱/ ۱۲/ فروری ۱۹۴۴ء سخته بمباری اوشوه.

## ډاول خان شهید:

د لله عبدلائی محسود وو او په بدر کښې د سپینې تیژې اوسیدونکې وو. ډیر نامتو او توریالے ځوان وو. د فقیرایپی رح اکثرو جهګړو کښې سنه په

مړانه جنګیدلے وو او ګنز ټوپک او مشینګنز ئے ولجه کړی وو۔

دُخپا تے غر په جهګړه کښے چه دُده سره کارتوس ختم شول نو دواړه لاسونه ئے اوچت کړل او دُتسلیمئ راوړو بهانه ئے اوکړه۔ دُ سیکانو یو سے دستے یکدم ګهیره ترے نه تاو کړه او رو رو وبله جوختیدل۔ ګهیره چه پوره تنګه شوه نو دغه تورپلے پرے ورغوته شو او دُ پیښ قبضے په یو څو ګذارونو ئے څلورتنه سیکان اووژل او بیا پخپله هم په ګولئ اولګیدو او په موقع شهید شولو۔

## فقیرایپیؒ په شکتو ئے کښے:

دکال سنه ۱۹۴۳-۴۴ء په اختتام کښے فقیرایپیؒ په شکتو ئے کښے دُخپل لشکر سره میشته وو او محسود به ئے دے ته تیارول چه دُګریوم په قلعه حمله اوکړی۔ په دے قلعه کښے توچی سکاوټس تعینات وو۔ دغسے دُفقیرایپیؒ په بلنه به ډیرے محسود ورځلیدل او دُجنګ ترتیبات به ئے ترل۔

فیرنګے دُدے نه اوویریدو او دُ کیګړو محسودو څخه ئے دپنځلسو تنو یرغمالو مطالبه اوکړه مګر هغوی انکار اوکړو او په نتیجه کښے دُبمباری نوټسونه پرے اوغورځولے شول او په ۲۳/ مارچ سنه ۱۹۴۴ء سخته بمباری پرے اوشوه او زښت تاوان ورته اورسیدلو۔ دُدے نه پسته فقیرایپیؒ دڅه وخت دپاره والوتنګی ته لاړو خو دُاپریل په نیمائے کښے بیا بیرته شکتو ئے ته راغلو او دُ زیاندئ په سیمه کښے میشته شولو۔

دغه سیمه دُوزیرو او محسودو مینځنئ څائے دے۔ دلته ده تقریباً دُشپږو سوو غازیانو لشکر راغونډ کړو او دُګریوم په قلعه دګوله باری کولو په غرض دُ

شاه ولی او وروستو باز یئ سیمے ته لاړو۔ فیرنګی د غے ځائے ته هم جنګی طیارے وراولیږلے، بمباری ئے پرے اوکړه او درے میره غازیان ئے شهیدان کړل۔ مګر د دے باوجود فقیرایپیؒ ډیره موده په دغه سیمه کښے خپل لشکر میشته کړو او همیشه به ئے د ګریوم په قلعه غوبل جوړ کړے وو۔ دغه شان د شاپی خیلو محسودو تبئ نومی کلی نه به هم د غازیانو غدئ وتلے او په فیرنګی به ئے بریدونه کول۔

فیرنګی په دغه کلی باندے هم په ۳۰/ مئ ۱۹۴۴ء سخته ګوله باری اوکړه او ورسره ورسره ئے شاپی خیلو او مرسنزئ محسودو ته هم وارننګ ورکړو چه فقیرایپیؒ د خپلے علاقے نه اوشړئ، خو هغوئ د ے ته غاړه کینښوده، او څو ورځے پس چه فقیرایپیؒ د محسودو مجبوری اولیده، نو بخپله د شکتوئ نه ګورویک ته لاړلو۔

مختلفے ګوله باری :

هسے خو به د غازیانو د هر مرکز نه په مختلفو قلعو باندے د توپ حملے کیدلے، ولے کومے چه دلته درج شوے دی په هغو کښے فیرنګی ته ډیر جانی او مالی تاوانونه رسیدلی دی۔ د ۳، ۴/ اپریل ۱۹۴۵ء په شپه د میرانشاه په قلعه باندے د توپ حمله اوشوه۔ د ۲۳/ مئ ۱۹۴۵ء په شپه د ګریوم په قلعه غازیانو توپ اوډزولو۔ د ۳۰/ مئ په شپه د رزمک په کیمپ د توپ حمله اوشوه۔ او د ۱۹/ جولائی ۱۹۴۵ء په شپه د پائی خیلو کلی له خوا نه د خرکمر په قلعه باندے توپ اوویشتلے شو۔ په دے ټولو حملو کښے فیرنګی ته ډیر جانی او مالی تلفات رسیدلی وو۔

## دَ دمهيل کيمپ واقعه :

اګست سنه ۱۹۲۵ء کښې دَ وُزي خيلو وزيرو يو څو زنړيو دَ شادت خون تيره کښې په مشرئ کښې دَ دمهيل کيمپ نه چاپيره تارونه پريکړل او په کيمپ کښې دننه دَ ګارت لائن ـ ۳۸ دانے تاړونه ئے راوويستل او يوئے وړل۔ دَ دے نه علاوه دغو زنړيو جنورئ او مارچ سنه ۱۹۲۶ء کښې څو ځله سړکونه بند کړل او دَ فيرنګي په خلاف ئے وارداتونه اوکړل۔

## دَ کهجورئ بريد :

په ۲۲/ اپريل سنه ۱۹۲۴ء دَ کهجورئ قلعے په خوا کښې دَ ټوچي سکاوټس سپاهيانو بريد کولو۔ ازلمير، جنت مير او فقير محمد دَ لرے نه په نښنه کړل او دا سے رسا ګذارونه ئے پرے اوکړل چه دَ ټکه ئے پولائيس نائيک سره دَ دوو سپاهيانو قتل او دوه تنه ژوبل کړل۔ فيرنګي دَ دغے واردات په جرم کښې په حيدر خيلو داوړو باندے دَ يوولسو ميله ټوپکو جرمانه اولګوله۔

## دَ زيړغره جهګړه :

دَ فيضل استادجي کور په وُزي داوړو کښې وو۔ دَ ۲۵/ اپريل سنه ۱۹۲۶ء په شپه خليفه شيرعلي خان مروت، شائسته خان مروت او سيد افضل ختهک دَ ده کره پټ ميلمانه شوي وو۔ چا مخبر پرے جاسوسي اوکړه او دَ شپے مليشيا تر ے نه چاپيره شوه۔ سحر په ۲۶/ اپريل چه دوئ خبر يدل نو دَ کلي او زيړغره په خوا وشا ټوله سيمه ټوچي سکاوټس قبضه کړے وه۔ استادجي پخپلو ملګرو غږ اوکړو چه :

"ورونړو ! بې مو نشته، خو چه وار خطا نه کړئ او خپل پور ويل

ته پرے نږدې "

دُ استادجي په دغه وینا څلورو وارو ټوپک لاسو ته کړل او په سپاهیانو ئے باړونه راباندے کړل او دغسے دُ فریقینو ترمینځه سخته جهګړه برپا شوه۔ دُ سیدافضل خټک مشینډار به دُ ډبلئ په څیر پرله پسے مردکي وروول، او په روانه جهګړه کښې څلور واړه دُ کلي نه دُ زیړغرهٔ ډډوته اووتل۔ دُبده مرغه هلته بیا دُ ملیشے سره اونښتل او په نتیجه کښې فیضل استادجي، خلیفه شیرعلي خان مروت او شائسته خان مروت درے واړه په شهادت اورسیدل۔ دغسے دُ زیرکئ داوړو څخه هم ګڼ کسان شهیدان او ځاروی مړه ګڼ شول۔ سید افضل خټک په یواځے ځان دومره توره اوکړه چه هم ئے خپل ځان دُ فیرنګي دُ قبضے نه بچ کړو او هم ئے دُ خپلو ملګرو سلاح۔

دغه درے واړه شهیدان هم هلته په وُزی کلي کښې خاورُو ته اوسپارلے شول، و لے دُ فیضل استادجي مړے درېمه ورځ بنوں ته یوړے شو۔ په مقابل کښې دُ ملیشے له خوانه هم دُ صوبیدار رمضان سره تول ۷ تنه اووژلے شول خلیفه شیرعلي خان دُ دولتي وانئ ے مروت وو۔ او دُ خپلے مړانے له کبله په فقیرایپې ډیرګران وو۔

فیضل اُستادجي :

دُ فیضل استادجي اصلي نوم فیض الله خان وو۔ تقریباً کال ۱۸۹۵ء کښې دُ بنوں دکوټکه بهادرخان په یونے درنے او شتمنے کورنئ کښې پیدا شوے وو۔ پلار ئے خلیل خان نومید و او هرکله چه دے په بنهٔ وبد پوهه شو نو په اسلامي سبق ئے کښینولو۔ دُ ځوانئ ترپولے چه رسیدو نو دُ فارسئ

عربئ او اُردو په علومو کښې ئے ښهٔ مهارت حاصل کړے وو۔ دَ دے نه پسته استاد جی دَ حسنی کلی په سرکاری مدرسه کښې استاد او ټاکلے شو۔ کال ۱۹۲۰ سنهٔ په خواوُشا چه دَ خلافت کمیټئ جوړے شوے نو دهٔ هم بنوں کښې دَ دغے کمیټئ رَده کیښوده۔ دَ خلافت د کمیټئ مقصد دَ انګریزانو په خلاف ګوریلا جنګ تیزوَل وو۔ دَ کمیټئ غړو به کلی په کلی جلسے کولے او په مسلمانانو کښې به ئے دَ فیرنګی په خلاف نفرت پیدا کولو۔ او دَ حرّیت سبق به ئے ورکولو۔ دَ دغو کمیټو تجویزونه دا وو :

۱۔ ترکِ موالات (دَ برطانوی حکومت سره تعلّقات نهٔ ساتل)

۲۔ عدمِ تعاون (دَ انګریزانو مرسته نهٔ کول)

۳۔ فیصله بروئے شریعت

دَ فیصله بروئے شریعت په لړ کښې استاد جی چه دَ خلافت کمیټئ لوئے سکتر وو۔ بخپل رجسټر کښې ئے ۲۳۳ فیصلے سره دَ مدعی او مدعاعلیه دَ هر قسم تفصیلی واقعاتو لیکلے دی۔ دغه رجسټر دَ دهٔ دَ خوئے مولانا عبیداللّه سره محفوظ پروت دے۔

لکه څنګه چه په کوزه کښې سمندر نهٔ شی ځائے کیدے، دغه شان دَ حکمت و شجاعت دغه شاهسوار هم دَ مدرسے په ورکوټی غولی کښې راایسار نهٔ شو۔ دنیاوی عیش و عشرت ته ئے لَته ورکړه او دَ الله پاک دَ خوشنودئ په لار کښې له کوره اووتو او دَ وزیرستان غرنیزے سیمے ته ئے کډه راوُړه۔ استاد جی دَ داوړو په وُزی نومی کلی کښې چه په شائے سوئیل پله زیرغر ولاړ دے، میشته شولو۔ څِل واړه زامن ئے چه سنبال کړل، نو نیغ فقیرایپی ته

ته ورغلو او دَ غازیانو په ټولګی کښې ئې ځان شامل کړلو۔ ډیر ځنې نهٔ شو چه استادجی دَ خپل ذهانت او شجاعت په برکت دَ یو درونړ لشکر مشر او تماکلے شو او دَ فقیرایپیؒ په لاروچارو کښې ورته پوره واک واختیار حاصل شو دغه جیّد عالم دین، عظیم مجاهد او دلاور مشر دَ انګریزانو په خلاف ډیر جنګونه لړ دی او دَ اسلام په مینه او دَ وطن په ننګ ئې خپل ډک ډوک کورونه او شینکی شینکی باغونه پتې قربان کړی دی۔

دَ استادجی په شهادت دَ وزیرستان ګوټ ګوټ کښې ویرونه کیدل او نَرو ښځو پرے دلګیر وو۔ فقیرایپیؒ دَ هغے مخبر په جوتون پسے شپږ زره روپئې اوشندلے، چاچه په دهٔ جاسوسی کړے وه۔

دَ مسټر ډانلډ واقعه :

ډانلډ دَ جنوبي وزیرستان انګریز پولیټیکل ایجنټ وو او په ډالسن سے شهرت لرلو۔ دَ جون ۱۹۲۶ء په آغاز کښې هغه دَ سکاوټس او خاصه دارو په معیت کښې دَ رزمک جنډولے سړک په دوره وتلے وو۔ دَ مروبي په خواوشا دَ شابي خیلو محسودو عجیم خان، دَ دهٔ ورور امین خان او بهادرخان سره دَ نورو دریو ملګرو حمله پرے اوکړه او دَ یوے شیبے مقابلے نه پسته ئې ډانلډ اغوا کړو۔

دَ ډانلډ سره یو ایجنسی سرجن نذیراحمد بهټه او دَ دهٔ چپل ستهینو هم اغوا کړے شول۔ غازیانو درے واړه شکتوئی ته اورسول او دولس ورځے ئې هلته اوساتل۔ حکومت ځوځوځله دَ دوی نولتے اوکړے، خودوی په ورته غاړه نهٔ ایښودله۔ آخر دَ شپږو زرو روپو په بونګه باند ے درے

واړه مغویان خوشی کړے شول - ډانلډ او دَ هغهٔ ملګری چه دَ عجیم خان دَ قبضے نه آزاد شول، نو حکومت دَ دهٔ په کلی پامنه باندے زښته بمباری اوکړه، او دغه شان ئے دَ رزمک کیمپ څخه ګوله باری هم پرے اوکړه - په دے موقع شپږ وطیارو بمباری کوله - دوه طیارے خو دَ غازیانو دَ لاسه ښکته رااوغورځیدے او باقی څلورو خپل کار اوکړو -

ډانلډ چه دَ دے بمبارئ نه خبر شو، نو په ټانک کښے ئے خپل ځان په تماچه اوویشتو او هلاک شو -

وئیلی شی چه ډانلډ دَ برامدګئ په وخت دَ عجیم خان سره وعده کړے وه چه تاسو ته به هیڅ قسم سزا نهٔ شی درکولے - په دے موقع هغه دَ ډیره اسماعیل خان ډپټی کمشنر وو - حکومت چه دَ عجیم خان په کلی بمباری اوکړه نو دغه دهٔ خپله وعده خلافی اوانګیرله - او خودکشی ئے اوکړه - حکومت دَ ډانلډ په سر آخستے شوے بونګه هم دَ شابی خیلو دَ ملازمینو نه جبراً وصول کړه او ملک پیر رحمان شابی خیل محسود ئے هم ګرفتار کړو - دَ ملک پیر رحمان څخه دَ درېو لکهو روپو ضمانت طلب کړے شو، خو هغهٔ انکار اوکړو او حکومت درے کاله قید پرے اوخیژولو - وروستو دَ ډاکټر خان صاحب په وزارت کښے خوشے کړے شو -

دَ توپو مزید حملے :

په ۱۵ او ۲۵ / جون ۱۹۳۶ء غازیانو دوه ځله دَ رزمک په کیمپ ګوله باری اوکړه او زښت جانی او مالی تاوان ئے ورته اورسولو - دَ دے نه علاوه دَ توت نړی په سیمه کښے چه فیرنګی په کوم سړک کار روان کړے وو، دَ هغے

افسران او مزدوران به ئے هم کار ته نهٔ پریښودل ۔ فیرنگی مجبوراً دَ خپلو افسرانو او مزدورانو دَ ژغنشتے د پاره په شګه او توټ نزی کښے دَ ټوچی سکاوٹس کیمپونه اونګول ۔ ولے دَ دے باوجود هم دَ غازیانو دَلاسه په تراره وو ۔ کله به ئے کیمپونه ړنړیدل او کله به ئے په لارو ګودرو کښے ماینونه ښخیدل ۔ په ۲۷/ جون دَ غازیانو یوے ډلے دَ توټ نزی په قلعه توپ او وېشتو او بیلے دَ ټوپکو باړونه پرے او چلول او فیرنګی ته ئے بے تحاشا مالی او جانی نقصان اورسولو ۔

دغسے په ۲/ جولائی غازیانو دَ ګړدئ په کیمپ باندے توپ او وېشتلو او ګڼړے لاری او خیمے ئے او سیزلے او دَ قصابانو دوکان ئے تس نس کړو ۔ په ۷/ جولائی دَ پانی خیلو کلی له خوا نه دَ خړکمر په قلعه باندے غازیانو ګوله باری اوکړه او فیرنګے ئے دَ کافی جانی او مالی تاوان سره مخامخ کړو ۔ همدغه شان په ۱۷/ جولائی یو ځل بیا غازیانو دَ ګړدئ په کیمپ باندے توپ او چلولو او سخته تباهی ئے برپا کړه ۔

دَ غوریزے بریدې :

په ۷/ رمضان ۱۳۶۵ھ دَ کوهاټ په ضلع کښے دَ غوریزے په مقام دَ امان خټک په مشرئ کښے اووهٔ تنه غازیان مورچه شوی وو ۔ هرکله چه په سړک یو سرکاری جیپ رابښکاره شو ، نو دوئ حمله پرے اوکړه ۔ په دغه کښے دوه انګریزان سوارهٔ وو ۔ یو کپتان وو او بل لیفټیننټ ۔ دواړه ئے قتل کړل او سامان ئے ترے نه ولجه کړو ۔ دَ بدے مرغه دَ فوځیانو چغه ور پسے اورسیده او په غازیانو ئے حمله اوکړه ۔ سخته جهګړه اوشوه ۔ دَ فیرنګی له



دَ پنډت جواهر لال نهرو استقبال په کوتکو سره

خوانه هم مزید مړی ژوبلی اوشول او دَ غازیانو له طرفه نه هم یو نامتو مجاهد سخی جان په شهادت اورسیدو۔ دغه توریالے ځوان په لاچی کښے دَ کمیټی سینی خټک وو او دَ آمان خټک سره به ئے دَ وزیرستان په اکثرو جهګړو کښے شمولیت کولو۔

دَ هانګ کانګ پیښه :

دَ ازلمیر دَ ځوئے عالم شیرخان په مشرئ کښے یو څو غازیانو په ۱۱/ اکتوبر سنه ۱۹۴۶ء دَ ملتری په هانګ کانګ پیکټ حمله اوکړه۔ یو فوځی منصبدار ئے هلاک او درے تنه ژوبل کړل او په غنیمت کښے ئے یو برین ګن او درے میله ټوپک ولجه کړل۔

وزیرستان ته دَ پنډت نهرو راتګ :

دا هغه شپے ورځے وے چه دَ پاکستان دَ جوړیدو امید ونه پیدا شوی وو او په صوبه سرحد کښے دَ کانګرس او مسلم لیګ ترمینځه زبردست کش و ګیر لګیا وو۔ کانګرس دا غوښتله چه صوبه سرحد ځان ته خودمختیاره ریاست جوړ شی او ټول روابط ئے دَ هندوانو سره پاتے شی۔ په دے وجه هندوانو قبائل هم دَ یو زبردست طاقت په وجه په نظر کښے ساتل او ځان ته به ئے ملګری په کښے جوړول۔

نو ځکه دَ عبوری حکومت دَ محکمه امورخارجه سربراه پنډت جواهر لعل نهرو، چه دَ صوبه سرحد وزیراعلی ډاکټرخان صاحب او خان عبدالغفار خان صاحب هم ورسره مله وو، میران شاه ته راغے او په ۱۷/ اکتوبر سنه ۱۹۴۶ء ئے دَ وزیرو داوړو سرکرده مشرانو سره جرګه اوکړه۔

ډاکټر خان صاحب جرګے ته ایله دومره قدرے اوویل چه "تاسو دَ خپل میلمه احترام اوکړئ" مګر قبائلی مشرانو په ځواب کښے ورته اوویل چه "مونږ آزاد خلق یو او صرف دَحکومتِ برطانیه سره معاهدے لرو" دَ دے وینا سره سم دوئ دَ پنډت نهرو سره دَ خبرو اترو کولو نه پاڅیدل او خواره شول۔ دَ میران شاه نه پنډت نهرو دَ محسودو مشرانو سره دَ جرګے کولو په غرض رزمک ته لاړو، هغوئ هم دَ ملک مهردل په مشرئ کښے کوتک ورپسے رواخستل، مګر هلته موجودو افسرانو په مشکله ترے نه خلاص کړو۔ په دے موقع صرف کپتان ګوډین محسود لیډل کتل ورسره اوکړل۔ دَ رزمک نه پنډت نهرو وانا ته لاړو۔ هلته ئے هم دَ خولے خوند سنه نه شو، او عطا محمد زلی خیل احمدزئ وزیر خپل تور پټکے رنجے رنجے بڑه کړو۔ بیرغونه ئے ترے نه جوړ کړل او ملکانانو ته ئے په لاسونو کښے ورکړل۔ ملکانانو دَ پنډت نهرو استقبال په هغو تورو بیرغونو اوکړو۔ دَ پنډت نهرو دَ دورے نه وروستو په وزیرستان کښے دَ هندو نواز برچو په خلاف ځائے په ځائے جرګے مرکے شروع شوے او دَ کابل ریډیو هغه اعلان کوم چه په صوبه سرحد باندے دَ دعوے پخقله شوے وو، وزیرو، داوړو، محسودو او بیټنو په یوه خوله اوغندلو۔ ولے سره دَ دے نومبر ۱۹۴۶ء کښے دَ کانګرس او مسلم لیګ پروپیګنډه ایجنسو ته هم رااورسیدو۔ اوس دَ وزیرستان دَ خلقو آخری سترګے فقیر ایپیؒ پله شوے۔ خو تر دغه دمه هغه بیخی خاموشه وو نو دَ وزیرستان ځینو سرکرده ملکانانو دَ ده رائے زننئ ته اونه کتل او دَ مالی طمع او پارټی بازئ په بنیاد ډیر زر په کانګرس کښے شامل شول چه

په هغو کښې بعضو نامتو کسانو لکه ملک میرجانی درپه خیل داوړ او ملک غازی مرجان هرمز داوړ په پیښور کښې دَ غفار خان او په دهلی کښې دَ پنډت نهرو او ګاندهی جی سره ملاقاتونه اوکړل۔

سربیره له دے ملک خاندان مداخیل وزیر او ملک خون شاه تپی داوړ هم په کانګرس کښې شامل شول۔ دَ دے په مقابل کښې دَ مسلم لیګ په حمایت کښې هم دَ وزیرستان ګڼ مشران راپورته شول او دا کوشش ئے شروع کړو چه دَ کانګرس په شنو باغونو څوک اونه غولیږی۔ په دغو مشرانو کښې ملک ارسلا خان کړه مداخیل وزیر، ملک صادق کابل خیل وزیر، ملک جان کابل خیل وزیر، صوبیدار صنوبر خان توری خیل وزیر، ملک برکت شاه درپه خیل داوړ، ملک زرګل شاه عرف ګلکائی درپه خیل داوړ، ملک میرسدے خان حسوخیل داوړ، ملک ګلاب دین حسوخیل داوړ، ملک زاریم همزونی داوړ ملک ګلاب خان محسود، ملک خونائی محسود، شاهزاده فضل دین محسود، ملک محمد آمین محسود، ملک شاه پسند محسود او ملک عطا محمد زلی خیل احمدزئ وزیر دَ ستائینے جوګه دی۔

فقیرایپیؒ په اوّل کښې بیخی غیرجانبدارانه رویّه اختیار کړے وه او دَ ملایانو خیل په ذریعه به ئے په دے خبره زور کولو چه وزیرستانی اولس دِ په هیڅ قسم پارټئ کښې شمولیت نه کوی۔

په ۸/ جون سنه ۱۹۴۷ء چه دَ فقیرایپیؒ وررور شیرزمان خان وفات شو نو دَ فاتحے په غرض به چه کوم خلق کوروړک ته ورتلل په هغو کښې به اکثرو دَ دهٔ سیاسی نظریه هم معلوموله۔ دَ کانګرس له طرفه نه هم ګڼ غړی ده

ته ورلېږلی شوی وو، چه په هغو کښې دَ بنون ملک اکبر علی خان هم شامل وو، ولې فقیرایپیؒ تر دغه وخته پورې دَ ګوند بازئ نه ډېره کوله البته دَ هند وایسرائې لارډ مونټ بیټن او برطانوي حکومت ترمینځه دَ خبرو اترو په نتیجه کښې چه کومه لاندینئ فیصله شوې وه چه :

" په شمالی مغربي سرحدی صوبه کښې به ریفرنډم کیږی چه سرحد ځان له خود مختاره پاتې کیدل غواړی او که هند یا پاکستان یو ملک سره شریکیدل غواړی۔"

په سلسله کښې به ئې یو بل ته ویل چه تاسو ووټ مه ورکوئ۔ دا خبره دَ کانګرس په ګټه وه۔ ځکه چه کانګرس هم ریفرنډم نه غوښتلو۔ دَ دې نه علاوه په وزیرستان کښې دَ پاکستان په خلاف سخته پروپیګنډه هم شروع شوه او دَ کانګرس په نغوته دا سې مُلایان راپورته شول چه هغوئ به دا کوشش کولو چه فقیرایپیؒ دَ تحریکِ پاکستان په مخالفت آماده کړی۔

## دَ ډاک په لارئ یرغل :

په ۲۷ / اکتوبر ۱۹۴۶ء دَ سپین وام په سړک باندې دَ وسله بند خاصه دارو تر حفاظت لاندې د ډاک په لارئ غازیانو حمله اوکړه او دَ یو ساعت مقاومت په نتیجه کښې دَ خاصه دارو دَ نمبر ۳۶ کمپنئ څخه دوه تنه سپاهیان پوځی او شروپ زخمیان شول او دَ غازیانو له خوا نه دَ خون خرسین خوځې بوز تیپي شو۔ دَ دې باوجود غازیانو سامان لوټ کړو او لارئ ئې دړې وړې ماته کړه۔

## دَ قامی کانوائی سکیم : رائې بهادر کنور بهان بګائی نامی یو هندو پنځه شپږ

سوه ټرکونه درلودل او دُ کال ۱۹۳۱ء نه ئے متواتر دَ فوج دَکیرج ټهیکدار په حیث کار کولو، خو په دے دومره اوږده موده کښے به کله هم دے په قلار نه وو۔ همیشه به غازیانو دَ ده لارئ ړزولے او چه راګیر به ئے کړلے نو سامان به ئے ترے نه لوټ کړو او لارئ به ئے اوسیزلے۔

حکومت دَ دے نه ډیر تنګ شو او یو نوے تجویز ئے غوره کړو هغه دا چه سرکار دُ وزیرستان دَ مشرانو په شریکه سرمایه باندے په یو څو لاریو مشتمله قامی کانوائے جوړه کړی او بیا دُ هغے سود وزیان دَ دوی ترمینځه دَ حصو په مناسبت ویشلے شی۔ په جنوبی وزیرستان کښے قامی کانوائے یو څو کاله مخکښے کار شروع کړے وو۔ په دے کښے دَ حکومت دوه ګټے وے۔ یوه دا چه سرکاری او غیر سرکاری لارئ محفوظے کیدلے۔ بله دا چه حکومتی کارونه په مخ چلانیدل۔ ځکه چه غازیانو دَ مقامی خلقو لاریو ته تاوان رسول نه غوښتل۔

نو اپریل ۱۹۴۶ء کښے حکومت په وزیرستان کښے " نارتهـ وزیرستان ټرائبل ټرانسپورټ سکیم " روان کړو او خلقو ۳۰۰۰۰/- روپئ ورته جمع کړے۔ فقیرایپیؒ دَ دغے سکیم مخالفت شروع کړو او دُ روپو جمع کولو او حصو آخستو نه به ئے خلق منع کول۔

دُ فقیرایپیؒ خبره بعضو خلقو او نه منله او کانوائی ترتیب کړے شوه۔ اوس فقیرایپیؒ بل چل اوکړو۔ یو خوا به ئے دغه کانوائی په غازیانو ړزوله او بلخوا ئے دُ هغو ټولو خلقو نه دَ کانړی آخستو فیصله اوکړه کوموچه په دغه سکیم کښے روپئ جمع کړے وے۔ په ۲۵/ نومبر ۱۹۴۶ء دُ فقیرایپیؒ

لشکر دُ کانړی دُ وصولولو مهم شروع کړو او دُ توچی، کیتو، خیسارہ، منظر خیلو او مدا خیلو په سیمو کښے اوګرځید و او دُ قامی کانوائی دُ حصّه دارو نه ئے ۳۴ میله ټوپک او -/۳۰۶۰ نغد ے روپئ وصول کړے - څو ورځے پس ته ئے بیا -/۷۰۰ نغد ے روپئ ۶ میله ولائیتی او ۴۸ میله دیسی ساخت ټوپک او ۲۷ منه غنم وصول کړل - دغه مُهم تر ۶/ جنوری ۱۹۴۷ء پورے جاری وو او دُ فیرنګی اُمیدونه ئے خاورے ایرے کړل -

په پولټیکل ایجنټ حمله :

غازیانو ته چا آګاهو اطلاع ورکړے وه چه په ۲۱/ فروری ۱۹۴۷ء دُ میران شاه څخه ګڼړ افسران رزمک ته دُ تلو پروګرام لری نو په تا کلی شوی وخت فقیر محمد او زُمری کوکی خیل افریدی دُ ایشا نړی په سیمه کښے دُ غازیانو ډله مورچه کړه او دُ افسرانو دُ راتلو په انتظار شول - دُ فقیر محمد سره مشینګن هم وو - نلځایه یو سرکاری بس پرے راغلو چه په هغے کښے دُ قطبی وزیرستان انګریز پولټیکل ایجنټ میجر بروم هیډ، نائب پولټیکل ایجنټ، نائب پولټیکل افسر دُ محکمه جنګلاتو ډویژنل افسر او فارسټ رینج افسر دُ ګڼړو خاصه دارو او بدرګوالو په معیت کښے دُ رزمک فارسټ نرسری کتلو له روان وو - غازیانو نابیبر حمله پرے اوکړه - هغوی هم ورته کوز شول او دُ فریقینو ترمینځه جګړه اونښته - جنګ لا ګرم شوے نه وو چه دُ پولټیکل ایجنټ له خوا نه څلور تنه ژوبل او یو تن اووژلے شو - بروم هیډ چه دُ خپلے عملے وینے اولیدے نو په شا ئے میران شاه ته بس اوزغلولو -

په ایجنسی سرجن حمله : دُ ۲۵/ مارچ ۱۹۴۷ء په ورځ یو انګریز ایجنسی سرجن

دَ غرے په مال دَ سول هسپتال میران شاه نه دَ توچي سکاوټس قلعے تـه پیاده روان وو۔ په لار کښې یو نامعلوم جدران مجاهد پرے دَ نزدے نه ځلور ډزے اوکړے۔ انګریز ډاکټر خو بچ شو، ولے هغه پخپله دَ ملیشے دمشینګنرو او ټوپکو په باړونو کښې ټیکه ټیکه شو۔ دغه توریلے شهید لاوارثه خاورو ته اوسپارلے شو۔

دَ ماما تانړي برید:

ماما تانړے دَ کرټے مداخیل وزیر وو۔ په شاخ تانړے وو او دَ ظفرخیلو کلي اوسیدونکے وو۔ ډیر پیاوړے او توریال ځوان وو۔ او همیشه به دَ فیرنګي په خلاف بوخت بوخت وو۔ په ۳/ مئ ۱۹۴۷ سنه دهٔ او دَ دهٔ ملګرو دَ غزلمي داوړو په خوا کښې په یوه سرکاري لارۍ برید اوکړلو، لارۍ ئے اوسیزله او سامان ئے ترے نه ولجه کړلو۔

همدغے ډلے په ۱۰/ مئ یو ځل بیا دَ توچي رود په غاړه او دَ تهل قلعے په خوا کښې دَ ملټري په ریلیف ګریزن باندے حمله اوکړه۔ درے تنه سپاهیان ئے هلاک او ځلور تنه سخت ژوبل کړل۔

فیرنګي دَ علاقائي ذمه وارئ په وجه دَ تهل په بوره خیلو وزیرو ځلور زره روپئ نغدے یا ځلور میله ولایتي ساخت ټوپک جرمانه اولګوله۔ دغـه شان دَ انغرکلي په ووزي خیلو وزیرو باندے هم دوه سوه روپئ جرمانه اولګیده۔ ځکه چه د غازیانو دغه ډله دَ دوئ په علاقه کښې تر تهل پورے راتیره شوے وه۔

دَ رزمک په کالم حمله: دَ ۱۵/ جون ۱۹۴۷ سنه په ورځ دَ منظرخیلو او ووزي خیلو

وزیرو غازیانو دَ غازَم په مشرئ کښې تَهَل (توچي) ته نزدے دَ رزمک په کالم حمله اوکړه. یوه شیبه جهګړه اوشوه او په نتیجه کښې څلور تنه سپاهیان هلاک او دوه تنه زخمیان شول. چه څلور میله ټوپک او یو میل برین ګن ئے غازیانو ولجه کړل.

په مقابل کښے دغازیانو له خوا نه دوه تنه په شهادت اورسیدل چه یو په کښے پخپله غازَم هم شامل وو. فیرنګی په دے جرم کښے ۲۴ تنه منظرخیل او لس تنه وزی خیل وزیر ګرفتار کړل او دَ دوئ څخه ئے دَ سرکاری سلاح دَ برامد کولو کوشش شروع کړو. فیرنګے چه پخپل مقصد کښے کامیاب نهٔ شونو قیدیان ئے خوشی کړل او په دواړو قامونو ئے ۱۶ میله ولایتی ساخت ټوپک جرمیه اولګوله.

غازِم شهید:

غازَم دَ رزمک بوره خیل وزیر وو او دَ خرسینو دَ شاخ نه وو. پلار ئے عالم ګل نومیدو. ډیر تکړه او بریدی ځوان وو. دَ فقیرایپیؒ په اکثرو جهګړو کښے په مړانه جنګیدلے وو. دَ دغے باتوربریدونه ډیر مشهور او دَ ستائنے وړدی فیرنګے چه ډیر ترے نه تنګ شو نو یوه ورځ ئے دَ دهٔ په کور فوج ورخوشے کړو او هرڅه ئے ورته لوټه کړل. هم په دغه موقع په سړک کښے یو سرکاری جیپ خراب وو او دوه سیکان ورته ناست وو. غازم برید پرے اوکړو. دواړه ئے اووژل. سلاح ئے ترے نه واخسته او جیپ ئے اوسیزلو. دَ غازَم یو بل وړور هم وو، چه دَ دهٔ نه مخکښے دَ فقیرایپیؒ په غزاګانو کښے په شهادت رسیدلے وو.

## دَ پارے پچ برید :

دا واقعه دا سے وه چه دَ رزمک کالم دَ مچی خیلو کیمپ ته په گشت تلے وو په ۱۶/جون ۱۹۴۷ء چه دغه کالم بیرته راستنیدو نو دَ پارے پچ په مقام غازیانو چپاوُ پرے اوکړو او دَ شاه بازی، عیسیٰ خان محسود، خانون سپانن خیل او بیبلے توری خیل وزیر په مشرئ کښے ورسره دا سے په مړانه اوجنګیدل چه دَ رزمک کالم څخه ئے دَ ټکه څلور تنه اووژل او شپږ تنه سخت ژوبل. دَ غازیانو له خوانه یواځے شاه بازی زخمی شو. دَ دے واقعے په پاداش کښے حکومت دَ بوره خیلو وزیرو په قبیله لس میله بوړی ټوپک جرمانه اولګوله.

## دَ راشن نیونه :

په ۲۳/جون ۱۹۴۷ء دَ فقیرایپیؒ په راشن بار شل بیده اُوښان او څلور خره دَ بوے قلعے په خواوشا کورویک پله روان وو. هم په دغه ورځ یو مخبر جاسوسی پرے اوکړه او پټ په پټه توچی سکاوټس ترے نه تاؤ شو. په موقع موجود پنځو غازیانو ورسره ترخپله وَسه پوره پوره مقابله اوکړه، خو ملیشیا پرے دَ کنټرول له وجے نه غالبه شوه او هرڅه ئے قبضه کړل. غازیانو دَ دیر تاؤ نه دَ ۲۷/جون په شپه دَ میران شاه په قلعه توپ اوویشتلو او زښت تاوان ئے ورته اورسولو.

## دَ ګرډئ په کیمپ ګوله باری :

دَ ۱۰ / ۱۱/جولائی ۱۹۴۷ء په شپه غازیانو دَ وُچے فقیران نه دَ ګرډئ په کیمپ توپ اوویشتلو. دَ ګرډئ، دوسلی او رزمک کیمپونو نه فوځونه

ورپسے رااووتل۔ اوس ځینو غازیانو توپ پُرزه پُرزه کړو او په اوښانو ئې بار کړو او ځینو دُ فوځونو مخه اونیوه ۔ یو څو ګهړئ پرله پسے جنګ اوشو او په نتیجه کښې اوۀ تنه فوځیان هلاک او درے تنه ژوبل شول غازیانو توپ بې کړو او پخپله مخه لاړل۔

## پینځویشتم باب ۲۵

# دَ پاکستان تاریخي پس منظر

په هند کښې دَ مُسلمانانو دَ اقتدار رومبئ رده محمّد بن قاسم ایښې وه۔ دَ محمّد بن قاسم نه پسته محمود غزنوي په هند کښې دَ اسلامي حکومت قائمولو لار هواره کړې وه۔ کال ۱۱۹۲ء کښې محمّد غوري دَ دهلي راجه پرتهوي راج ته شکست ورکړو او په هند کښې ئې دَ اسلامي حکومت دَ قیام دپاره خپل نائب قطب الدین ایبک پرېښودو۔ چه څهٔ موده پس دَ دے براعظم ورومبے بادشاه شو۔

ایبکؔ په دهلي کښې دَ غلامانو دَ خاندان بنیاد کښېښودو او دا په هند کښې دَ اسلامي حکومت ابتدا وه۔ دَ غلام خاندان نه پسته دَ خلجیانو، تغلقو او لودهیانو دورونه هم دَ مسلمانانو دَ جاه وجلال مظهر وو۔ ولے بغیر دَ مغلو بل چا هم په ټول هندوستان حکومت نهٔ وو قائم کړے، کوم چه په کال ۱۵۱۸ء کښې هندوستان ته راغلي وو۔ او دَ دوئ مشر بابر دَ ابراهیم لودهي نه حکومت آخستے وو۔ دَ

مغلو حکومت دَ مُسلمانانو دَ عروج زمانه وه. او دَ دوئ آخری بادشاه په ټول برّعظیم حکومت کولو، چه نن ورځ پکښې هند، پاکستان، بنګله دیش او افغانستان څلور حکومتونه قائم دی. دَ بدّ مرغه دَ وخت سره سره دَ هند ګرم آب وهوا دَ مغلو حکمرانان ناراسته او عیش پرست کړل او دَ غفلت په خوب داسې اوده شول، چه دَ شاه ولی الله تعلیماتو او دَ ده دَ پیروکارانو تدبیرونو هم رابیدار نهٔ کړے شول. دَ شاه صاحب پیروکارانو دَ سیّد احمد رحمة الله علیه او شاه اسماعیل رحمة الله علیه په مشرئ کښې په سرحد کښې دَ سیکانو په خلاف جهاد اوکړو. او هغوئ دواړه دَ بالاکوټ په مقام دَ کفارو په خلاف یوه جګړه کښې شهیدان شول.

دغسې په بنګال کښې دَ سراج الدوله او دکن کښې دَ حیدر علی ټیپو سُلطان کوششونه هم دَ غدارانو په وجه کامیاب نهٔ شول. انګریزانو چه په بنګال قبضه مضبوطه کړه، نو ورو ورو ئې دَ دهلی تخت پله هم لاسونه اوږدول شروع کړل. او آخر دَ مغلو دَ آخری تاجدار بهادر شاه ظفر حکومت دَ دهلی دَ ښار لال قلعې پورې محدود پاتې شو. مُسلمانانو چه داحال اولیدو، نو دَ انګریزانو په خلاف راپورته شول. ولے اوس وخت تیر وو. نهٔ خو دوئ قیادت لرلو او نهٔ طاقت او دغسې په ۱۸۵۷ء کښې دَ جنوبی ایشیا مُسلمانان تقریبًا دَ اتو سوو کالو حکومت کولو نه پسته پخپله محکوم شول.

دَ هند مسلمانان چه دَ اقتدار نه محروم شول نو پرومبے انګریزانو

په دوئ بے دریغه ظلمونه اوکړل ۔ بیا ئے دَ دوئ ثقافتی مرکزونه لوټ او دَ روزګار ذرائع تباه کړے ۔ دَ هغے نه پسته ئے دَ هندوانو سره لاس مل کړو او دَ مسلمانانو په خلاف ئے رانخکښے کړل ۔

## کانګرس:

دَ کال ۱۸۸۵ء په دسمبر کښے لارډ هیوم نومے یو انګریز دَ آل انډیا کانګرس بُنیاد کښیښودلو ۔ دَ مغربی نظامِ ریاست دَ بُنیادی اصولو په مطابق دَ حکومت حق اکثریت ته حاصل وی ۔ هندوانو دَ مسلمانانو په مقابل کښے دَ خپل اکثریت له مخے او په مسلمانو باندے دَ مستقل حکومت کولو په اُمید په کانګرس کښے دَ شریک کیدو فیصله اوکړه ۔ دَ سر سید احمد خان دَ هدایاتو په مطابق مسلمانان په کانګرس کښے شریک نهٔ شول ، ولے وروستو حالات بدل شول ، او دوئ هم پکښے شریک شول ۔ دَ هیوم مقصد دا وو ، چه دا جماعت به دَ هند په مسائلو کښے دَ حکومت سره امداد او تعاون کوی ۔ ولے په آخر کښے هم دغه دَ انګریز جوړ شوے کانګرس دَ انګریزانو برخلاف استعمالول شروع شو ۔

په کال ۱۸۶۷ء کښے چه دَ اُردو او هندی ژبو کومه تنازعه راپیدا شوے وه ، هغے ټول ملک متأثره کړے وو ۔ کال ۱۹۰۰ء کښے دَ صوبهٔ یوپی ګورنر په عدالتو کښے هندی رائجه کړه او دا حکم ئے اوکړو چه آئنده دَ انګریزئ ژبے سره سره چه چا ته هندی ژبه نهٔ ورځی ، هغو ته به ملازمت نهٔ شی ورکولے ۔ دَ دے

نتیجه دا شوه، چه مسلمانان دَ سرکاری ملازمتونو نه محروم شول دَ عوام ذبح کول خو مرګ ته بلنه ورکول وو. او په دغه وجه هندو مسلم فسادات شروع شول. دَ نولسمې صدۍ په اواخر کښې په بنګالی ادب کښې داسې کتابونه اولیکلے شول، چه دَ هغې په وجه به دَ مُسلمانانو جذبات مجروح کیدل. دَ هندوانو دَ انتهاپسند جماعت آریه سماج سرګرمۍ زیاتې شوې او دا مطالبه ئې شروع کړه، چه یا خو دې مُسلمانان هندو مذهب قبول کړی او یا دې دَ هندوستان نه اوځی. دغه شان چه په کال ۱۹۰۵ء کښې دَ بنګال تقسیم په دوو برخو مغربی بنګال او مشرقی بنګال کښې اوشو، او مُسلمانانو ته دَ هندوانو دَ زور زیاتی نه نجات حاصل شو او دَ ترقۍ موقعې په لاس ورغلې، نو په هندوانو سور اُور بل شو. دَ کانګرس دَ سټیج نه داسې سخته او دَ زهرو ډکه پروپیګنډه شروع شوه، چه دَ هغې په نتیجه کښې لوئې فسادات راپورته شول او آخر کال ۱۹۱۲ء کښې دَ بنګال تقسیم منسوخ کړے شو.

## مُسلم لیګ:

دَ هند مُسلمان دَ کانګرس دَ مخالفت په وجه سخت خوابدی شول او دا احساس ورته اوشو چه کانګرس دَ مُسلمانانو قومی وجود نهٔ شی برداشت کولے او دا یقین ئې هم اوشو چه کانګرس خالص دَ هندوانو جماعت دے او دَ مسلمانانو دَ حقوقو او مفاداتو تحفظ نهٔ شی کولے. چنانچه مسلم زُعَماء (مشران) دَ خپل جدا سیاسی

جماعت جوړولو ېله متوجه شول. په دے دوران کښے داخبره هم په اوریدو شوه، چه انګریز عنقریب په هندوستان کښے آئینی اصلاحات نافذ کول غواړی. په داسے حالاتو کښے مسلمانانو ته لا دَ یو سیاسی تنظیم تشکیل ضروری شو، چه دوئ هم دَ خپلو حقوقو حفاظت اوکړی. چنانچه په دے غرض په یکم اکتوبر ۱۹۰۶ء دَ مسلمانانو یو وفد دَ سر آغا خان په مشرئ کښے دَ وائسرائے هند لارډ منټو سره ملاقات اوکړو. وائسرائے دوئ ته تسلی ورکړه او دَ خپلے وعدے په مطابق ئے برطانوی حکومت ته اولیکل، او بیا په هم دغه کال کښے دَ دسمبر په دیرشم تاریخ دَ مسلم لیګ بُنیاد کښیښودے شو.

دغه وخت دَ مسلم لیګ په ممبرانو کښے حکیم اجمل خان، مولانا محمّد علی، مولانا شوکت علی، سر وزیر حسن، نواب وقار الملک، نواب محسن الملک، نواب ډهاکه او داسے نور لوئے لوئے خلق شامل وو. قائد اعظم محمّد علی جناح په ابتدا کښے دَ کانګرس په ممتاز رهنمایانو کښے شمیرے شو. په کال ۱۹۱۴ء کښے دَ مسلم لیګ ممبر جوړ شو، ولے دَ کانګرس سره ئے خپله وابستګی برقراره اوساتله. کله چه دهٔ ته هم دَ کانګرسی هندوانو دَ طرز عمل نه دا معلومه شوه، چه کانګرس دَ هندوانو دَ مفاد علمبردار دے نو په کال ۱۹۲۹ء کښے ئے دَ کانګرس نه ویزاری اختیار کړه. او دَ مسلم لیګ تنظیم ئے په داسے ډول شروع کړو چه دَ هندوستان کوټ کوټ ته ئے دَ لیګ آواز اورسولو او دغه پراګنده جماعت ئے سر دوباره

دومره منظم او فعال کړو، چه یو خوا مسلم لیگ دَ ټولو مسلمانانو نمائنده جماعت جوړ شو او بل خوا دَ دهٔ په قیادت کښے دومره مضبوط شو، چه کانګرس او انګریز دواړه دے ته مجبوره شول چه دغه دَ مسلمانانو واحد نمائنده جماعت تسلیم کړی۔ ولے سره دَ دے نهٔ انګریز دَ مسلمانانو دَ ضروریاتو سره متفق کیدلو او نهٔ هندوان دوئ ته دَ څهٔ رعایت ورکولو له پاره تیار وو۔ ځکه چه دوئ دَ ځپل اکثریت په اساس په ټول برصغیر باندے هندو راج قائمول غوښتل۔

## دَ پاکستان تصوّر:

په دے دوران کښے دَ مسلم لیگ دَ کال ۱۹۳۰ء په کلینز اجلاس کښے په ۲۹، ۳۰، دسمبر یوه خطبه وړاندے کړے شوه۔ دغه اجلاس په اَلٰهٰ آباد کښے منعقد وو، ځکه ورته خطبه اَلٰهٰ آباد وئیلے شی۔ دَ دے اجلاس صدر علامه محمّد اقبال وو۔ دَ مسلم لیگ په دے تاریخی اجلاس کښے وړومبی ځل دَ پاکستان تصور علامه اقبال په دے الفاظو پیش کړو:

> "دَ ټول هند یا کم ازکم دَ شمال مغربی هند دَ مُسلمانانو آخری مقصد ماته دا ښکاری چه په شمال مغربی هند کښے دَ مُسلمانانو ځان ته ریاست جوړ کړے شی"[۱]

دَ مصوّر پاکستان علامه اقبال مرحوم دغه تصوّر آخر دَ دهٔ دَ مرګ نه پسته په کال ۱۹۴۷ء کښے دَ قائد اعظم محمّد علی جناح په لاس حقیقت شو۔

---

[۱] پاکستان۔

## قراردادِ پاکستان:

دَ هند مُسلمانانو به که ٔ هرڅو دَ کانګرس سره دَ وطن دَ آزادئ په جدوجهد کښې ملاتړ کولو، ولې دَ کانګرس دَ کړو وړو نه به دا څرګندیده، چه دغه سکوټ دَ هندوانو جماعت دے او دَ هندوانو سره دَ هغوئ ګزاره ګرانه ده. چنانچه په درویشتم[۲۳] مارچ ۱۹۴۰ء په لاهور کښې دَ کل هند مُسلم لیګ سالانه اجلاس اوشو. دے اجلاس کښې هغه قرارداد پاس کړے شو، چه نتیجه ئے دَ اسلامی جمهوریه پاکستان په شکل کښې رااوته. دَ هغې قرارداد الفاظ په لاینی ډول وو، کوم چه مولوی فضل الحق پیش کړی وو، او قرارداد پاکستان ورته وئیلے شی.

> "دَ کُل هند مُسلم لیګ دا نمائنده اجلاس اعلان کوی، چه دَ کُل هند مُسلم لیګ په خیال کښې تر هغې پورې هیڅ یو آئین په دے ملک کښې نهٔ دَ چلید وقابل دے او نهٔ به ئے مسلمانان قبول کړی، ترڅو پورے چه په لاندینو اصولو نهٔ وی جوړ شوے"[له]

له پاکستان ص ۲

مطلب دا چه کومے علاقے دَ جغرافیائی حیثیت له مخے دَ یو بل سره نزدے دی، دَ هغوئ دِ دے له سره بیا په داسے ډول حدبندی اوکړے شی، چه په کومو علاقو کښې دَ مسلمانانو اکثریت دے لکه دَ هند شمال مغربی او مشرقی علاقے، هغه دِ دے په خپلو کښې یو ځائے کړے شی او خپلواکه ریاستونه دِ دے ترے نه جوړ کړے شی.

څهٔ موده پسته قائد اعظم دَ دے قرارداد وضاحت په داسے دول اوکړو چه:

"په جغرافیائی لحاظ به دَ شمال مغربی هند نه دَ سرحد، بلوچستان، سنده او پنجاب صوبے په پاکستان کښے شاملے وی. او دَ مشرقی هند نه به پکښے بنګال او آسام وی."[1]

دَ پاکستان قرارداد په هندوانو سرے لمبے پورے کړے. کانګرس مهاسبها او هندو اخبارانو دَ دے قرارداد شدید مخالفت شروع کړو او یوه غوغا ئے جوړه کړه چه "د بهارت ماتا ټکړے نهٔ شی کیدے". خو څومره چه دَ دوئ مخالفت زیاتیدو، دومره دَ مسلمانانو عزائم تقویه کیدل. او دَ دے قرارداد په بنسټ چه کوم ملک جوړیدونکے وو، دَ هغے دپاره دَ لندن یو مُسلمان طالب علم چوهدری رحمت علی "پاکستان"[2] نوم تجویز کړے وو.

"پاکستان کښے 'پ' دَ پنجاب ده. 'الف' دَ افغانیه (صوبه سرحد) دے. 'ک' دَ کشمیر. 'س' دَ سنده. او 'تان' دَ بلوچستان دے. دا ټول چه یوځائے شی نو 'پاکستان' ترے جوړ شی". خو قائد اعظم دے ته نور هم وُسعت ورکړو او دَ بنګال او آسام دَ مسلم اکثریت صوبے هم پکښے شاملے کړے شوے. په لاهور قرارداد کښے دَ پاکستان نوم نهٔ وو. خو چه دا قرارداد پاس شو، نو هندوان او ترهیدل او

---

[1] "پاکستان" ☆ [2] "Now and never" ☆

چغے نے کړے چه.. "قائد اعظم پاکستان جوړول غواړی" بیا قائد اعظم دغه لفظ خپل کړو او حصولِ پاکستان نے خپل مقصد اوګرځولو۔ دَ هندوانو او مُسلمانانو ترمینځه دَ حصولِ پاکستان په لړ کښے ډیر کشش ګیر اوشو او انګریزانو به همیشه دَ هندوانو طرفداری کوله۔ په مئی ۱۹۴۶ئ کښے مُسلم لیګ بِلا وجے په سپین ډګر پریښودو۔ او دَ کانګرس وزارت نے جوړ کړو۔ مسلم لیګ دے صورتِ حال مجبوره کړو، چه یو سخت قدم واخلی او انګریز ته دَ خپل طاقت اندازه اوښائی۔ دغسے یو خوا په ملک کښے دَ کانګرس دَ لیبل لاندے دَ هندوانو حکومت جوړ شو او بل خوا په هند کښے مُسلمانانو په جمع هنګامے شروع کړے۔ صوبهٔ سرحد او آسام کښے چه هلته کانګرسی وزارتونه وو، دَ مُسلمانانو دَ طرف نه دَ سِول نافرمانئ زبردست تحریک روان وو۔ په ټول وطن کښے جلسے جلوسونه او دَ مُسلمانانو ګرفتارئ شروع شوے۔ دَ مسلمانانو دے آئینی تحریک خرابولو دَ پاره هندوانو ته موقع په لاس ورغله او ځائے په ځائے نے په څهٔ نه څهٔ بهانه سخت فرقه وارانه فسادات شروع کړل. او دَ کلکتے او بهار په فسادونو کښے نے دَ مُسلمانانو خوفناک قتلِ عام اوکړو۔

## فرقه وارانه فسادات:

دا ښکاره خبره ده، چه دَ مُسلمانانو مذهب، فلسفهٔ حیات او رسم و رواج دَ هندوانو نه جدا دی۔ دَ دغے بیلتون په اساس هندوانو همیشه دَ مسلمانانو دَ وړکولو او ذلیل کولو کوششونه کړی

دی۔ په برصغیر کښې چه دَ کانګرس او مسلم لیګ ترمینځه کومه رسه کشي روانه وه۔ او بیا دَ پاکستان په شکل کښې چه دَمُسلم لیګ کامیابي یقیني شوه، نو په هندوانو اُوربل شو او په مسلمانانو ئې داسې ظلمونه رابنکته کړل چه دَچنګیزخان بربریّت او وحشت ورته خجل وو۔ په کال ۱۹۴۶ئه کښې په کلکته کښې لسُ زره او په بهار کښې پنځوسُ زره مسلمانان قتل شول۔ چه په هغو کښې دَ ځوانانو نه علاوه ماشومان، ښځې او بوډاګان هم شامل وو۔ په زرګونو جوماتونه، مقدس مقامات، دَ قرآن پاک نسخې او لائبریرئ تباه او برباد کړې شوې۔ په لکونو مُسلمانان بے کوره او مهاجر کړې شول۔ او په زرګونو ځوانې ښځې او سړي جبرًا هندوان کړې شول۔ دَ هندوانو دَ دغه سفّاکانه او وحشیانه کاروایئ په حقله پنډت نهرو داسې بیان ورکړې وو:

"په بهارت کښې چه څهٔ کیږي، هغه ډیرخوفناک دی، زما باور نهٔ کیږی چه انسان هم داسې وحشی او سنګدِل جوړیدې شی۔"

هم په دغه سلسله کښې مسټر ګاندهي داسې ویلی وو چه:

"په بهارت کښې چه کوم وحشیانه قتل وغارت شوې دې، هغې ته دَ نوا کهلی هیبت ناک اوظالمانه قتل وغارت خجل دی۔"

په کلکته او بهار کښې چه دَ مسلمانانو کومه خونریزی شوې

وه او دَ جُوماتونو او مقدسو مقاماتو کومه بے حرمتی او تباهی شوے وه، دَ هغے دَ کتلو دَپاره دَ مسلم لیگ په ایماء دَ قبائیلی مشرانو وفد هم تلے وو، چه مشهور کسان پکښے دَ راقم تره حاجی ملک زر گل شاه عرف گلکائ دَ فقیر ایپی" دَ نامتو غازیانو امیر گل او رحیم گل تره الحاج گل، ملک زارم همزوني او دَ سوئیلی وزیرستان نه دَ ملا پاوندہ" خوے صالح دین او نمسے احمد جان وو۔

## قیامِ پاکستان :

سره دَ دے چه هندوانو دَ هند دَ مسلمانانو سخت مخالفت کولو، ولے بیا هم دوئ دَ خپل مرام دَپاره په دا سے استقامت سره دَ حالاتو مقابله کوله، چه دَ هندوانو ټول سیاسی او چنګیزیانه حربے ناکامے شوے او کانګرس او انګریز په دا مجبور شول۔ چه دَ مسلمانانو مطالبے ته سر ښکته کړی - او لارډ ماؤنټ بیټن دَ برطانوی حکومت سره دَ خبرو اترو نه پسته په ۳ جون ۱۹۴۷ء دا اعلان اوکړو چه :

" انګریز به اګست ۱۹۴۷ء کښے دَ برصغیر حکومت دوائ خود مختاره مملکتونو ته سپاری، دَ دے مقصد دَپاره به دَ برصغیر مسلم اکثریتی علاقے بیلولے شی، البته دَ دغے تقسیم دپاره به په پنجاب او بنګال کښے دَ غیر مسلم علاقو نشان بندی یو کمیشن کوی۔ صوبه سرحد او دَ آسام په ضلع سِلهټ کښے به دَ پاکستان

دَ پاره ریفرنډم کولے شی، او دَ بلوچستان په حقله به فیصله دَ هغه ځائے جرګه کوی. دغسے هندوستانی ریاستونو ته به اختیار وی، چه دَ خپلو قانون سازو ادارو په معرفت فیصله اوکړی، چه هغوئ به هند یا پاکستان سره شریک کیږی یا به بالکل خودمختاره کیږی او که ئ نه په دولتِ مشترکه کښے پاتے کیږی.[1]

دَ تقسیم دغه منصوبه ډیره زر مُسلم لیګ او کانګرس دواړو قبوله کړه. وروستو جولائی ۱۹۴۷ء کښے برطانوی پارلیمان "قانون آزادئِ هند" پاس کړو. او په منصوبه باندے په تیزئ سره کار روان شو.

خان عبدالغفار خان په ۲۱ جون بنوں کښے دَ سرحد دَ کانګرس دَ کمیټئ ارکانو، دَ کانګرس دَ پارلیمنټ پارټئ غړو، "دَ خدائ خدمتګارانو" او دَ "زلمے پښتون" رهنمایانو یو اجلاس راوبللو او په اتفاقِ رائے سره ئے یو قرارداد منظور کړو، چه په هغه کښے دَ پښتنو دَ یو آزاد مملکت قائمولو مطالبه شوے وه. ولے په قول دَ ابوالکلام آزاد "مسټر جناح او لارډ ماؤنټ بیټن کښے یو هم دَ پښتونستان مطالبے منلو ته تیار نهٔ وو". لارډ ماؤنټ بیټن دا خبره واضحه کړه چه صوبه سرحد یو جداګانه او آزاد ریاست نهٔ شی جوړیدے، البته دَ پاکستان یا هندوستان، دَ کوم یو سره

---

[1] "پاکستان"

چه غواړي الحاق کولے شي۔ په دے باندے خان برادرانو (ډاکټر خان صاحب او عبدالغفار خان صاحب) دا اعلان اوکړو چه "دَ دوئ پارټي به په ریفرنډم کښے هیڅ حصه نهٔ اخلی۔ دوئ خپلو ملګرو ته هم اپیل اوکړو چه دَ ریفرنډم بائیکاټ اوکړي"

مګر دَ دے باوجود په صوبه سرحد کښے دَ ریفرنډم کار دَ ۶، جولائی نه تر ۱۷، جولائی پورے روان وو، چه دَ ریفرنډم دَ نتیجے اعلان اوشو، نو دا معلومه شوه، چه دَ صوبه سرحد دَ مجموعي رائے دهندګانو یو پنځوس فیصد خلقو دَ پاکستان په حقله خپله رائے ورکړه۔ په دے رائے شمارئ کښے چه دَ پاکستان په حقله څومره ووټونه اچولی شوی وو، دَ هغے شمیر (۲،۸۹،۲۴۴) وو۔ او دَ بهارت په حق کښے ووټونه (۲،۸۷۴) وو۔ په صوبه سرحد کښے چه خالص دَ مسلمانانو څومره ووټونه وو دَ هغے ۹۹ فیصد دَ پاکستان په حق کښے استعمال شوی وو۔ کانګرس دَ ریفرنډم بائیکاټ کړے وو۔ دَ پاکستان په دستورساز اسمبلئ کښے دَ شمولیت فیصله دَ ټولو نه اول دَ سنده اسمبلئ اوکړه۔ په سنده پسے بنګال اعلان اوکړو۔ په بنګال پسے دَ پنجاب اسمبلئ فیصله اوکړه۔ دغسے دَ بلوچستان شاهي جرګے هم په پاکستان کښے دَ شمولیت اعلان اوکړو په ۱۳، جولائی دَ سلهټ ضلع هم دَ رائے شمارئ په نتیجه کښے په پاکستان کښے شامله شوه۔ او دَ صوبه سرحد دَ رائے شمارئ په تاریخي فیصله کښے دَ صوبه سرحد خلقو هم په پاکستان کښے دَ خپل

شمولیت اعلان اوکړو۔ دغسې دَ مُسلمانانو دَ بے لوټه جِد وجُهد او عظیمو قربانیو په نتیجه کښې په ۱۴، اګست ۱۹۴۷ء دَ شپې په دولسو ۱۲ بجو دَ پاکستان دَ قیام اعلان اوشو۔ او په کال ۱۸۵۷ء کښې دَ انګریزانو په لاسو قبضه شوې حکومت ئې دَ نوی ۹۰ کالو نه پسته په کال ۱۹۴۷ء کښې دوباره حاصل کړو۔

دَ پاکستان بېرغ امیرالدین قدوائی ډیزائن کړو۔ په دے کښې سپین رنګ اقلیتونه ظاهروی، شین رنګ امن وخوشحالئ ته اشاره ده، او دَ ستورې دَ پینځو شینګو نه دَ اسلام پنځه ارکان مراددی۔

دَ پاکستان دَ وړمبی دستوره په قطبی وزیرستان کښې دَرزمک په مقام اوشوه۔ دَ وزیرستان اکثر لوئے واړهٔ رن مک ته راغونډه شوی وو۔ دَ غرمے په دولسو ۱۲ بجو دَ انګریزانو یونین جیک چه په هوا کښې رپیدلو، ورو ورو په کوزیدو شو۔ او ورسره ورسره دَ پاکستان شین هلالی بیرغ پورته په ختو شو۔ شیبه پس یونین جیک په زمکه اولګیدو، او دَ پاکستان شین هلالی بیرغ بره په هوا کښې اورپیدو۔ دَ دے سره خلقو ډولونه اوکړزول۔ دَ خوشحالئ هوائی ډزے شروع شوے، دَ نعرهٔ تکبیر ژغونه اوشول او وزیرستانی اُولس په یوه خُوله دَ پاکستان سره دَ وفادارئ اعلان اوکړو۔

## دَ مهاجرینو راتګ :

اوس یو خوا دَ پاکستانی راهنمایانو ته وړاندے دَ خپل نوی کور

پاکستان سمبالښت او ضروریات وو، او بل خوا په بهارت کښې هندوانو په مسلمانانو بیا ظلمونه شروع کړل، څوک به ئې د کورونو نه شړل او څوک به ئې په تورو نیزو وژل. چرته به ئې ښځې جینکئ بے ابرویه کولے او چرته به ئې د مائندو په غیږ وکښې د ماشومانو خیټې څیرلے، لنډه دا چه د هندوانو د سفاکانه او وحشیانه سرګرمیو په وجه په رومبی کال کښې د سرکاری اندازے په مطابق پنځه شپیته لکه خواوشا مهاجرین پاکستان ته راغلی وو. او ورځ په ورځ دا شمار په زیاتیدو وو. د هندوانو د ظلم او جبر سلسله په دے ځائے ختمه نه شوه، بلکه لا په وړاندے روانه وه. او د مشرقی پنجاب، دهلی، الور، بهرت پور، هند، نابهه، فرید کوټ، شمله خاص، پټیاله، د شمله غرنیز ریاستونه، ریاست جموں وکشمیر جوناګړه، مناوادر، کاټهیاواړ، اجمیر شریف او میسوران علاقے ئې د مسلمانانو نه خالی کړے. او یو کروړ مسلمانان ئې بے کوره هندوستان ته اوزغلول او شپیته زره ښځے ئې اغوا او په زبردستئ هندوے کړے. له دے نه پرته بے شمیره جوماتونه او د اسلام مقدس مقامات ئې په پاخانو کښې تبدیل کړل. او دغسے دا وحشیانه او انسانیت سوز واقعات لا جاری وو، چه د جموں وکشمیر مسئله راپورته شوه.

<u>د کشمیر جهاد</u>: کشمیر د پاک وهند یو اهم ریاست دے.

دغه ریاست په کال ۱۸۴۶ء کښې حکومت برطانیه دَ گلاب سنګه دوګره نومې یو هندو په لاس په ۷۵ لکه روپو خرڅ کړے وو. وجه ئې دا وه، چه گلاب سنګه دَ انګریزانو سره په جګړو کښې دَ سیکانو سره غداری کړے وه، او دَ انګریزانو امداد ئې کړے وو. او دغه ئے انګریزانو ته تر پنجاب او دَ پنجاب ملحقه علاقو پورے دَ خپلے عملدارئ اوږدولو موقع په لاس ورغلے وه. دَ ریاست جموں و کشمیر ټوله رقبه ۸۵,۰۰۰ مربع میله ده. دَ کال ۱۹۴۱ء دَ مردم شمارئ په مطابق په ټول ریاست جموں وکشمیر کښې دَ مُسلمانانو تناسب ۷۸ فیصد وو. او په وادئ کشمیر کښې ۹۳ فیصد. په کشمیر کښې اکثریت دَ مسلمانانو وو. دَ ۳ جون دَ اعلان تر مخه ریاستونو ته داحق حاصل وو، چه دَ کوم حکومت سره ئې خوښه وی هغه سره شامل شی. په دے قانونی حق دوؤ ریاستونو یعنی جوناګړه او مناوادر دا فیصله اوکړه، چه هغوئ به دَ پاکستان سره شاملیږی. په دے دواړو ریاستونو کښې دَ هندوانو معمولی غوندے اکثریت وو. خو دَ هغوئ حکمرانان مُسلمانان وو. بل طرف ته په کشمیر کښې دَ مسلمانانو ډیر زیات اکثریت وو. او دوئ اورومرو دَ پاکستان سره الحاق غوښتلو، خو راجه هری سنګه ډوګره نومے یو هندو وو، هغه ئے روپے خودا کوشش اوکړو چه غیر جانبدار پاتے شی ولے عوامو ورسره اتفاق اونکړو او په اګست ۱۹۴۷ء کښے په سری نګر کښے مظاهرے شروع شوے. راجه دَ هغو ټولو اخباراتو په اشاعت

پابندی اولګوله، کوم چه دَ اِلحاق پاکستان حمایت کولو. او هغه لیډران او سیاسی کارکنان ئې ګرفتار کړل، کوم چه دَ پاکستان په مرسته کولو کښې وړاندې وړاندې وو. په ستمبر ۱۹۴۷ء کښې دَ پونچ خلقو خو تردې اوکړه، چه بغاوت ئې اوکړو او ځان له ئې خپل آزاد حکومت قائم کړو. بیائې په سرینګر هم حمله اوکړه او دَ ډوګره او آزاد فوځونو ترمینځه باقاعده جنګ شروع شو. ډوګره دَ ریاست بشپړ فوځ ور مخکښې کړلو، او دَ پونچ په خلقو ئې بے مثاله ظلمونه اوکړل. ډک ډوک کلی ئې اوسیزل، تباه ئې کړل. بے قصوره خلق ئې دَ ګاڼړو مولو په شان ترتیغه تیر کړل. نه ئې ښځو ته کتل او نه ماشومانو ته، نه ئې زاړۀ معاف کول او نه رنځوران. بس یو غوبل وو چه دَ پونچ په اولس کیدلو.

دَ هندو دغې بربریت دنیا اولړزوله. او ډیرو ذمه دارو پاکستانی لیډرانو مهاراجه ته دَ خپل روِش بدلولو خبردارے ورکړو. خو هغهٔ پرے غوږ اونهٔ ګرولو. دغسے دَ ۲۰ اکتوبر نه مخکښې دَ سرحد قبائلو هم داانتظار کولو، چه کوندے مهاراجه خپله غلطئ باندے پوهه شی. ولے هغه په خپل ضد ټینګ ولاړ وو. دوئ په دے نتیجه اورسیدل، چه هغه خپل هندی ذهنیت نهٔ بدلوی. نو په یوه خوله ئې دَ خپلو کشمیریانو وروڼو دَ امداد دپاره جرګے مرکے شروع کړے. دَ قیامِ پاکستان نه لږه موده مخکښې چه دَ بهارت په مسلمانانو

باندے دَ هندوانو ظلمونه انتها ته رسیدلی وو، او دَ مسلم لیگ په ایماء دَ قبائلی مشرانو وفد هلته تلے وو او هرڅهٔ ئے په خپلو سترګو لیدلی وو، نو په راستونیدو باندے دوئ هم په قبائلو کښے دَ بهارت دَ مُسلم کُش تحریک په خلاف زبردست اشتعال پیدا کړے وو۔

دَ پاکستان په جوړیدو داخل هندو راجه په کشمیری مُسلمانانو باندے وحشیانه ظلمونه شروع کړل۔ قبائلی اولس، چه هسے هم له اول نه هندوانو ته په زړهٔ زړهٔ کښے خوتکید لو، دَ کشمیری مُسلمانانو په حالت زار لا سره لمبه شو۔ په خلقو کښے لوئے جوش وخروش راپورته شو او توریالی ځوانان له ځیره په یوه خوله دَ خپلو کشمیری وروڼو په ننګ دَ هندو راجه په خلاف دَ غزا میدان ته راووتل او په ۲۳ اکتوبر ۱۹۴۷ء کشمیر ته داخل شول۔

مهاراجه دَ دے یرغل نه اوویریدو او دَ هند سره ئے دَ اِلحاق درخواست اوکړو۔ نهرو دَ خدائے ته داغوښتلے۔ فوراً ئے دَ امداد دَ پاره هندی فوځونه وراولیږل۔ خو هغوئ چه آزاد فوځونه په زور دَ کشمیر نه واپس نکړے شول، نو هندوانو دا کشاله دَ متحده قومونو سلامتی کونسل ته یوړه۔ او دغسے په یکم جنوری ۱۹۴۹ء په کشمیر کښے دزبندی اوشوه۔

<u>دکشمیر جهاد او دَ وزیرستان قبائل:</u> دَ جنوبی وزیرستان په

خلقو چه دَ کشمیر دَ غزا غږ اوشو، نو په یوه ځوله دَ شاهزاده ملا فضل دین، ملک خونائي محسود، ملک ګلاب خان محسود، صاحب جان محسود، ګل شاه خان زلي خیل احمدزئي وزیر او بادشاه خان غني خیل احمدزئي وزیر په قیادت کښے کشمیر ته روان شول. ولے دَ شمالي وزیرستان په خلقو باندے دَ فقیر ایپي[۲] دَ سکوت په وجه دَ تردد او تأمل حالت خور وو. او دَ تلو یا نه تلو فیصله چا نهٔ شوه کولے. آخر دَ همزونو داوړو ملک بهادر خان او دَ راقم تره ملک زر ګل شاه عرف ګلکائي کوم چه په کال ۱۹۴۶ء کښے په قبائلي وفد کښے دَ هند دَ فرقه وارانه فسادا تو په دوران کښے بهار او نورو مختلفو ښارونو ته تلے وو، راپورټ شول او دَ خپلو زښتو منډو تړړو په نتیجه کښے ئے په ړومبي ځل دیرش[۳] تنه غازیان تیار کړل. او کشمیر ته ئے اولیږل. په دا کښے دَ ملک حاجي بهادر خان ځوئے حضرت میر او دَ ملک حاجي زر ګل شاه تربور حیات خان (ایت خون) هم شامل وو. دَ ملک جهانګیر مداخیل وزیر، سردار حبیب الله خان توري خیل وزیر او ملک دوست محمد دریپه خیل داوړ په کوشش او مشرئ کښے بله لارئ خلق هم واستول شول. دغسے دَ قطبي وزیرستان ځنے هم په زرګونو قبائل دَ کشمیر جهاد ته روان شول، دَ چا کښے شهادت نصیب شو او دَ چا مالِ غنیمت.

<u>دَ کشمیر جهاد او فقیر ایپي</u>: دَ کشمیر جهاد لا نهٔ وو شروع شوے

چه زهٔ (راقم) او زما ترهٔ ملک زرګل شاه چاچه دَ هند فرقه وارانه فسادات په خپلو سترګی لیدلی وو، دَ فقیرایپي دَ ملاقات لپاره ګورویک ته ورغلو او ترهٔ مے تکی په تکی ورته دَ بهار، ګیا، منګیر، جمال پور، هزاری باغ او رشید پور په سیمو کښے په مُسلمانانو باندے دَ هندوانو دَ ظلم و ستم سترګے لیدلے حال بیان کړو او دَ هغوئ دَ لاسه ئے دَ مسلمانانو دَ تباهئ او دَ جوماتونو دَ شهادت او بے حُرمتئ عکسونه ئے ورته اوښودل. دغه شان ئے دَ کشمیری مُسلمانانو دَ بهارت سره دَ جبری تړون په حقله هُم آګاه کړو. او په نتیجه کښے فقیرایپي (رح) په دے آماده شو چه دَ کشمیری مُسلمانانو په ملګ په وزیرستان کښے دَ غزا اعلان اوکړي. ولے دَ بده مرغه وروستو افغان ایجنټانو او ځنے خپل مشیران ترے نه چاپیره شول او دَ دهٔ مخه ئے اونیوه. خو هرکله چه دَ وزیرستان غیرتی ځوانان دَ کشمیریانو په ملګ راپورته شول نو فقیر ایپي دَ خپلو صلاح کارانو او کانګرسی مداریانو دَ زبردست دباؤ باوجود هم په دے لړ کښے څهٔ مانع او حائل نهٔ شو او هغوئ په دا سے بهادرئ سره اوجنګیدل چه دَ قربانئ ثمره ئے نن هم ګورے نړئ ته دَ آزاد کشمیر په شکل کښے څرګنده ده.

## دَ وزیرو داوړو ړومبئ جرګه:

دَ شمال مغربی سرحدی صوبے پولټیکل ریذیډنټ په ړومبی ځل یکم اکتوبر ۱۹۴۷ء دَ وزیرو داوړو جرګه میرانشاه ته راوبلله او

په هرملاڅ ئ دَ قبائيلي علاقې او برتهش علاقې مفرورانو ته دَ عامې معافئ کولو اعلان اوکړو - دهٔ دا هم اووئيل چه :

"حکومت دَ فقيرايپي په حقله دافيصله کړې ده، چه هغهٔ ته مکمل اجازت دے، چه دَ خپلې خوښې په مطابق هرچرته پُرامن اوسيدل غواړي حکومت به پرے څهٔ غرض نهٔ کوی"

دَ نورو مفرورانو په حقله ريذيډنټ اووئيل چه :

"دَ قبائيلي علاقې مفرورانو ته دَسکونت اختيارولو اجازت ورکولے شي او کهٔ چرے ملکانان دَ دوئ دَ نيک چلنئ ضمانت کوی، نو دَ دوئ سابقه جُرمونه به هم ختم شميرلے شي - دَ علاقېٔ سرکار دَ مفرورانو مقدّمے به دَ جرګې په ذريعه فيصله کولے شي او حکومت به پوره پوره نرمي ورسره کوی"

دَ ريذيډنټ دَ دغے اعلان په اثر کښې ډيرو مفرورانو روغے جوړے اوکړے -

## دَ ګورنرجَرګه :

دَ پولټيکل ريذيډنټ دَ جرګې نه وروستو په ۶ نومبر ۱۹۴۷ئ دَ صوبه سرحد ګورنر په يوه جرګه کښې دَ وزيرو داوړو مشرانو ته اووئيل چه :

"حکومت غواړي چه تاسو دَ پاکستان وفادار اوسئ،

او خپل موجبونه وصولوئ ؟

گورنر دا هم ورته اووئیل چه: " دَ وزیرستان نه به فوځونه بیرته لیږلے شی ، او هم دغه شان به دَ ټوچی سکاؤټس ځنځه قلعے خالی کولے شی "

ټولو جرګه ایزو مشرانو په متفقه طور دَ پاکستان سره دَ وفادارئ په اعلان کولے او امضاګانے ثبت کړے - دَ گورنر دَ اعلان په ترځ کښے دَ وانا نه فوځ دَ دسمبر ۱۹۴۷ء په رومبئ هفته کښے بیرته دَ ضلعو چاونړیو ته منتقل کړے شو او دَ ۷ ، نومبر ۱۹۴۷ء نه تر جنورئ ۱۹۴۸ء پورے دَ رزمک ، گردئ ، دمډیل او میرعلی کیمپونه دَ فوځ ځنځه او دته خیل ، خرکمر ، بویه او دوسلی دَ ټوچی سکاوټس نه خالی کړے شول - رزمک ، دوسلی ، بویه او دته خیل خاصه دارو ته اوسپارلے شول - او دَ میرعلی په کیمپ کښے ټوچی سکاوټس میشته کړے شو - په دغو ټولو پوستونو کښے یو یو سنیر پولټیکل محرر هم مقرر کړے شو -

## پاکستان او فقیر ایپی :

دَ پاکستان دَ قائمیدو په وخت فقیر ایپی په خپل کاله کښے دَ خپل یو زلمی ورارهٔ نیاز علی خان نه پرته بل داسے څوک نهٔ درلود ، چه دهٔ یو گټور مصلحت ورسره کړے وے - له دے جهت چه کله پاکستان جوړ شو نو دَ گورویک دَ ځینو مخورِیزو په لمسه دَ دهٔ مفاهمت ورسره رانغے - په دے پسے جوخت دَ افغان حکومت پریځی هم ورته

راوړسیدل او دَ سختې یخنۍ باوجود ئے په شوال او مکین کښې دَ فقیر ایپي سره لیدل کتل اوکړل او بیاځو ورځے پسته دَ دهٔ یوځونمائندګان دَ افغان حکمرانانو سره دَ ملاقات کولو په غرض ارګون ته لاړل۔ دَ دغے ملاقات په اثر کښې په اکتوبر کال ۱۹۴۷ء کښې فقیر ایپي دَ مولوی محمد ظاهرشاه په مشرئ کښې دَ وزیرو محسودو او داوړو یو وفد کابل ته واستولو۔ دَ دغے وفد ډیر ګرم استقبال اوشو او په سلامئ[ل] کښې توپونه ورته اوویشتل شول۔ دَ راستونید و په وخت افغان حکومت دَ دغے وفد سره بریګیډیر شیرباز او اکبرجان کوړویک ته راواولیږل۔ او دَ فقیر ایپي سره ئے خبرے اترے اوکړے۔ هرکله چه بیرته رخصتید[ل] نو دَ خان سره ئے دَ شیوے فقیر تربور ګل خاتم، دَ خانصاحب ګل احمد خان بوره خیل وزیر حوئے میرابات او غیژنل باندے مشتمل یو بل وفد کابل ته بوتلو۔ دَ دے نه علاوه دَ بنو او چارسده ے څخه هم دَ کانګرس ګنړغړي دَ فقیر ایپي دَ لیدو دپاره کوړویک ته ورمات وو۔ او دَ دهٔ دَ سخر قاضي شیرنراد، چه دَ کانګرس حامي وو، په واسطه به ئے خبرے اترے ورسره کولے۔ دغسے یو خوا دَ پاکستان نه دَ فقیر ایپي دَ بدظن کولو کوششونه لګیا وو، بل خوا دَ څوارلسم اګست سنه ۱۹۴۷ء دَ یوم آزادئ دَ مراسمو نه پسته هم دَ فوځ په رزمک بریګیډ هیډکوارټر، دوېژنل کمانډر هیډکوارټر، دَ وانا بریګیډ هیډکوارټر او دَ میرانشاه دَ سکاوټس په قلعه او دَ سکاوټس په ټولو پوستونو تر ډیرے مودے

---

[ل] مدي خیل طوري خیل وزیر وو چه په شکتوئے کښې اوسیدلو۔ ※ ※ ※

پورے لا دَ انګریزانو بیرغ پوښین جیک رپیدلو. دغه رنګ دَصوبه سرحد ګورنر سرجارج کننګهم انګریز وو. چیف سیکریټری انګریز وو. دَ قبائلو ریذیډنټ میجر کاکس انګریز وو. او دَجنوبي وزیرستان پولټیکل ایجنټ ډانکن انګریز وو. لنډه دا چه قانون هم دَانګریز وو. دغه ټول داسے عوامل وو، چه دَ فقیرایپي او دَ پاکستان په مابین کښې ئے دَ بد ګمانئ یو لوئے خلیج پیدا کړے وو.

چونکه فقیرایپيؒ سیاسی لوبغاړے نهٔ وو، په دے وجه چه کله دَ کانګرس غړو، دَ افغان حکومت ایجنټانو او خپلو مشوَرَینو دهٔ ته دَ پاکستان غندنه شروع کړه، چه پاکستان اسلامی حکومت نهٔ دے بلکه هغه دَ انګریزانو زوړ حکومت دے، نو دے هم ورو ورو ترے نه په ډډه کیدو شو. دَ دے سره سره دهٔ ته دا خوش فهمي هم ورورانډے کړے شوه، چه:

"که تهٔ دَ پښتونستان په نوم دَیو آزاد مملکت اعلان اوکړے، نوروس، بهارت او افغانستان دریواړه حکومتونه امداد درکولو ته تیار دی. دغسے به یوخوا دَ پښتنو آزاد مملکت قائم شی او بل خوا به آئینِ مُصطفیٰ پکښے جاری شی."

آخر دا چه فقیرایپيؒ دَ دغو سیاسی لوبغاړو په شنو باغونو اوغولیدو او دَ پاکستان په خلاف ئے دَ یو آزاد مملکت اعلان اوکړو. او ماسکو، کابل او دهلی ئے ښهٔ تشهیر شروع کړو.

په دے سلسله کښے دهٔ یو قاضی هم مقرر کړو، چه دَ دهٔ له خوا نه به ئے په وزیرستان کښے مقدمے فیصلے کولے. کال ۱۹۴۸ء کښے چه دَ غلے او رخت سخت قلت جوړ شو، نو فقیر ایپي دَ قبائلو دَ آسانتیا دپاره په ارګون او مرغه کښے دَ رخت کوداموته هم پرانستل دَ افغان حکومت ایجنټان یوځل بیا ګوروېک ته راغلل او دَ ګوروېک نه دَ مداخیلو تر شیرے نے پورے اوکرځیدل او هلته ئے دَ ملک خاندان ترهٔ عبد الله خان عُرف ماریتی سره خبرے اترے اوکړے.

دوئ ماریتی ته اووئیل چه دَ کال ۱۹۳۳ء نه چه دَ یک ملنګ دَ هلوکلو په وجه افغان حکومت ستاسو کوم موجبونه بند کړی وو، هغه به بیرته دوباره درکولے شی.

مارچ ۱۹۴۸ء کښے فقیر ایپي دَ مولانا محمد ظاهر شاه په مشرئ کښے دَ وزیرو داوړو یو بل وفد کابل ته واستولو. دغے وفد په کابل کښے دَ بهارت سفیر سره هم ملاقات اوکړو. او س دَ حکومت پاکستان او فقیر ایپي ترمینځه ناچاقی راپیدا شوه.

افغان حکومت ګوروېک ته دَ نام نهاد پښتونستان عمله راوستله. پریس ئے اولګولو او خلقو ته باقاعده تنخواګانے مقرر کړے شوے. او دَ هند څخه تخریبي مواد او دارو مردکی راواچلیدل. لنډه دا چه ګوروېک کښے به دَ پاکستان په خلاف دَ وزیرستان په زره ګونه نفوس راغونډ وو او جرګے مرکے به ئے کولے. دا سلسله تر ډیرے مودے راسے اوږده شوه. او په دے دوران کښے به کله ناکله

ډیر ناخوشګوار واقعات هم پیښیدل - ﺩَ جنوری ۱۹۴۸ء په آواخر کښې یوه داسې ډله هم راپورته شوې وه، چه هغوئ ﺩَ فقیرایپی تر جعلی امضا کانو لاندې ﺩَ پنډت جواهرلال نهرو سره ﺩَ خط وکتابت سلسله قائمه کړې وه - دغه خط و کتابت ﺩَ ملیشئ ﺩَ یو باغی سپاهي اول حسن خټک په ذریعه جاري شوې وو - ولې دغه سلسله اوږده نۀ شوه. او په دویم ځل اول حسن سره ﺩَ خطه په حیدرآباد کښې ګرفتار کړې شو - دغه خط په ۲ مئ ۱۹۴۸ء لیکلې شوې وو - ﺩَ ۲۸ جون ۱۹۴۸ء "ډان" اخبار په صفحه ۳ شائع شوې وو:

" بخدمت جناب والاشان پنډت جواهرلعل نهرو
بادشاه هند دام اقبالهٗ

گزارش بحضور انور اینکه مسمّی اول حسن آنجناب سے بہت خوش ہوکر واپس آیا - میں بہت مشکور ہوں کہ جناب نے زبانی گفتگو کی - گزارش ہے کہ پاکستان نے یعنی انگریز نے بہت عرصہ سے کشمیر میں تکلیف بنا رکھی ہے - خدا مجھے اور آپ کو توفیق دے کہ ہم اہالیانِ کشمیر کو اس آفت سے نجات دلائیں - خدا کے فضل سے اب پاکستان کمزور ہوگیا ہے اور کچھ نہیں کرسکتا ہے - تیسری بات یہ ہے کہ جونہی آپ کی مدد ہم کو پہنچ جاوے تو میں سرحدی لوگوں کو ایکدم لڑائی پر مجبور کرونگا - کیونکہ کافی عرصہ سے پاکستانی یعنی انگریز نے سرحد کے لوگوں کو بھوکا مارا ہے اور ننگا کر رکھا ہے - جس وقت اپنے وطن میں ان کو امداد پہنچ جاوے تب وہ معمولی تنخواہ پر

میرے ساتھ شامل ہو سکیں گے اور آپ ہندوستان کی طرف سے
حملہ کر دیں گے ۔ اس بار اول حسن آپ کے پاس آرہا ہے کیونکہ
کابل کے بادشاہ نے سب سفیروں پر سخت پہرہ بٹھایا ہے،
اس لئے آپ کے سفیر تک پہنچنا مشکل ہے۔ اس لئے بہتر
ہے کہ اول حسن آپ کے اختیار سے کابل میں آپ کے سفیر کے
پاس ہوائی جہاز میں جاسکے۔ تب وہاں سب کام تسلی بخش ہوگا۔
اول حسن آپ کی خدمت میں ضروری باتیں بیان کر دے گا۔

تسلیمات ۔ دستخط فقیر ایپی "

په دغه موقع ذ اول حسن سره ذ فقیر ایپیؒ تر دستخط لاندې یو بل خط هم نیولے شوے وو۔ دا خط هم په ۶ ر مئی ۱۹۴۸ئ لیکلے شوے وو۔ او ذ هغے افسر په نوم وو، ذ چا سره چه اول حسن په رومبی ځل دهلی کښے ملاقات کړے وو۔ ذ خط مضمون په لاندینی ډول وو :

"عالی جناب جرنیل صاحب !

عرض ہے کہ اول حسن نے آپ کی بہت تعریف کی ہے۔
میں جناب سے بہت خوش ہوں ۔ مجھے اُمید ہے کہ آپ آئندہ
بھی میرے ملک کی حالت سے پنڈت جی کو باخبر رکھیں گے۔ تاکہ
ہمارے کام میں کوئی نقصان نہ ہو۔ تسلیمات ۔ یہ اچھا موقع
ہے، ہمیں آرام سے نہیں بیٹھنا چاہیئے "

**ذ اسلم خان واقعه :** ذ پاکستان او فقیر ایپیؒ په مابین کښے چه

کوم تراخهٔ واقعات راپورته شوی وو، په هغه کښې دَ اسلم خان واقعه دَ هغې وخت یوه نوے تخریب کاری وه- په ۱۲ ، دسمبر ۱۹۴۷ء یو نامعلوم سړی دَ قطبی وزیرستان نائب پولیټیکل افسر اسلم خان کنډه پور په نوم دَدهٔ نوکر ته دَ لړګی جوړ یو ورکوټے بکس او یو خط حواله کړل۔ په دغه ورځو کښې اسلم خان په رخصت تلے وو۔ کله چه هغه راستون شو۔ نو مابنام نوکر ورته هغه بکس او خط اوښودل اسلم خان چه خط پرانستو نو په هغه کښې دَ بکس کنجی وه۔ او دا هم لیکلی وو چه دغه خط دَ ملک صادق کابل خیل وزیر له طرف نه دے او په بکس کښې خفیه دستاویزات دی، کوم چه ما دَ کورویک نه راوړی دی۔ اسلم خان دَ بکس دَ خلاصولو دپاره خپل نوکر ته کنجی ورکړه۔ هغهٔ چه دَ بکس نه سرپوړ ته کړو نو ناځاپه ګړز شو، اسلم خان او نوکر دواړه زخمیان شول۔ نوکر خو په هسپتال کښې مړ شو۔ وَلے اسلم خان به تر مرګه پورے په پښه کښې درد محسوسولو۔ وروستو معلومه شوه چه په بکس کښې بم نصب شوے وو۔ او کنکشن ئے دَ بکس دَ سر سره وو۔ دا بکس په کورویک کښې کلیات نومے دَ مائیزر مداخیل وزیر جوړ کړے وو۔ او په دے تجربه کښې ئے خپلے ګوتے هم ضائع شوے وے۔ دَ دے واقعے نه علاوه دَ معمولی نوعیت نور هم ګڼ دشمندانه واقعات رونما شول۔ خو په ۲۹ ، جون ۱۹۴۸ء دَ ملخوداوړو، په جولائی ۱۹۴۸ء دَ خدرخیلو وزیرو، په یکم فروری ۱۹۴۹ء دَ ملک اژدر زیارت، په ۱۲ ، جون ۱۹۴۹ء

دَ مَغلګی، په ۲۶ر جولائی ۱۹۵۵ء دَ وانا په احمدزو وزیرو، په ۹ر ستمبر ۱۹۵۵ء دَ مکین درے او په ۳ر اکتوبر ۱۹۵۵ء دَ دآنا او شولم په سیمو کښے چه دَ پښتونستان په حقله کوم غونډے کیدلے په هغه باندے دَ بمبارئ په نتیجه کښے یو شمیر وژلی ژوبلی واقع شوی وو۔

## میرانشاه ته دَ لیاقت علی خان راتګ:

دَ پاکستان وړومبنے وزیراعظم لیاقت علی خان په ۱۶ر جنوری ۱۹۴۸ء میرانشاه ته راغلو او دَ وزیرو داوړو سرکرده ملکانانو سره ئے جرګه اوکړه او دائے ورته اووئیل چه:

"زهٔ تاسو ته یقین درکوم چه دَ قبائلو دپاره دَ پاکستان په نوی اسلامی مملکت کښے روښانه مستقبل پروت دے، ځکه چه دَ دغے حکومت بنیاد په مینه او عالمی اسلامی ورورولئ باندے ایښودے شوے دے۔"

وزیراعظم جرګه ایزو خلقو ته دَ فوځونو دَ انخلا په لړ کښے هم اووئیل چه: "دا دَ حکومت پاکستان پالیسی نهٔ ده، چه پخپله علاقه کښے فوځونه استعمال کړی۔"

وزیراعظم چه خبرے ختمے کړے، نو جرګه ایزو مشرانو دَ دهٔ نه وړاندے دَ کشمیر دَ مسلمانانو په زبون حالئ ډیر افسوس ښکاره کړو او دَ دهٔ ځخه ئے دَ خپلو کشمیریانو ورونړو دمدد دپاره

اجازت اوغوښتو۔ جرګه ایزو مشرانو په دا موقعه خپل لوئے میلمه ته دَ قائد اعظمؒ ریلیف فنډ دَپاره دوه زره ۲۰۰۰ روپئ هم ورکړے۔ دَ دهٔ دَ ټک په وخت په دا فنډ کښے دَ نور درے زره ۳۰۰۰ روپو اضافه اوشوه۔ په آخر دَ وزیرستان مشرانو دهٔ ته اوویئیل چه:

"مونږ په پاکستان کښے خپل شمولیت افتخار کړو"۔

## دَ ډونکن قتل:

مولوی نظم خان دَ سرا روغے بهلولزئ محسود وو۔ پلار ئے په پیو زړے مشهور وو، کوم چه په خیسارهٔ کښے دَ مرغے په مقام په یوه انښته کښے شهید شوے وو۔ هسے خو نظم خان دَ کړو سیکانو او کورکیانو څخه دَ پلار بدل آخستے وو، ولے دَ دهٔ زړهٔ لا پرے سوړ شوے نهٔ وو۔ کله چه په هند کښے دَ انګریزانو داستعماری قوت ساه اوختله او دوئ ورو ورو په وتو شول، نو په یکم جون ۱۹۴۸ء دَ جنوبی وزیرستان ډونکن نوے انګریز پولټیکل ایجنټ هم په سرا روغه کښے دَ محسودو وزیرو سره الوداعی جرګه کوله۔ په دے موقع نظم خان هم موجود وو او په زړهٔ زړهٔ کښے خوتکید لو۔ دَ خپلے اسلامی مینے او انتقامی جذبے له کبله په ځان پوهٔ نهٔ شو او په ډونکن ورغوته شو۔ په تماچه ئے نخښه کړو او سوړ سیخ ئے کړو۔ دَ ډونکن په مرګ لویه هنګامه جوړه شوه۔ او په نتیجه کښے نظم خانؒ هم په ګولئ کښے پټ شو او دَ شهادت جام ئے نوش کړو۔

**فقیر ایپیؒ ته دَ حقیقت جوتون:** دَ افغان او بهارتی بادارانو په

مرسته او دَ خپلو کم فهمه صلاح کارانو په مصلحت فقیرایپي تر ډیرې مودې را سې دَ پاکستان په خلاف خپله رویه بدله نکړه۔ آخر دَ ډیر غور وفکر او ترخو تجربو نه پسته دا ورته معلومه شوه، چه نهٔ خو پاکستان غیراسلامي حکومت دے، او نهٔ دهلي او کابل په خپلو وینا گانو کښې رشتوني دي، بلکه دواړه (دهلي او کابل) دَ خپلو اغراضو دپاره په غلطه طریقه کورویک استعمالوی۔ اوس فقیرایپي ورو ورو دَ دواړو مملکتونو ځخه په ډډه کیدو شو۔ افغان حکومت چه پرے پوهه شو، نو هغهٔ هم په چل ول سره دَ پښتونستان عمله، ایجنټان او سازوسامان دَ کورویک نه گردین ته منتقل کړل۔ او هم هلته ئې دَ قبائلو دپاره مرکز اوټاکلو۔ دَ فقیر ایپيؒ خصوصي او معتبر خلیفه گانو مولوي محمّد ظاهر شاه، فقیر شیر علي خان عرف جنگي ملا، مولوي وارث شاه، عبدالله خان عرف ماربیتائی غیزنے او خلیفه عبداللطیف چه دا حال اولیدو، نو هغوئ هم له خیرے افغانستان ته لاړل۔ فقیرایپي یکی یواځې په کورویک کښې پاتے شو۔ او په وزیرستان کښې ئې دَ افغان حکومت په خلاف دورے شروع کړے، دَ دوسلي په مقام ئې یوے درنے جرگے ته، چه راقم هم پکښې موجود وو، برملا اعلان اوکړو چه:

"ورونړو! افغان حکومت زهٔ تر اوسه پورے په مغالطه کښې ساتلے وم او دَ اسلام په نوم ئې سخت فریب راکړو۔ که چرے افغان حکمرانان بیا زما په نوم کوم

قسم پروګرام جوړول غواړي نو تاسو هيڅ همکاري ورسره مهٔ کوئ".

دَ دے نه پسته فقير ايپي بيخي خاموشي اختيار کړه. دَ پاکستان سره به ئے نهٔ دشمني کوله او نهٔ دوستي، ځکه چه دَ شريعت محمدیؐ نفاذ پکښے نهٔ وو. دغه شان ئے دَ افغان حکومت سره هم دَ ژوند تر آخري سلګو پورے تعلقات او نهٔ ساتل. دا بيله خبره وه، چه دَ افغان حکومت په ترغيب دَ فقيرايپي له خوا نه خود ساخته نمائندګان راځکښے شوی وو، او دَ پښتونستان دَ تحريک په سلسله کښے به ئے ګټے وټے کولے. فقيرايپي په دا سے خودساخته خليفه ګانو باندے ............. څو څو ځله لشکرکشئ اوکړے او کورونه ئے ورته اوسيزل.

دَ آزادئ دَ شمعے دغه پتنګ، دَ اسلامي ننګ وناموس دغه جان نثار، دَ روحانيت دَ فيض دغه سرچشمه او دَ نړئ په مخ دغه منلے شوے ليډر آخر دَ پنځلسم او شپاړسم ۱۵ ۱۶ اپريل ۱۹۶۰ئهٔ په مينځئ شپه په خپل مرګ په حق اورسيدو. د دغه مجاهد اعظم په جنازه کښے دَ صوبهٔ سرحد او پنجاب په لکونو خلق شامل وو. او کور په کور ويرونه کيدل. دَ وزيرستان دغه مردِآهن په ګورويک کښے دَ مخامخ يوے اوچتے غونډئ په سرخاوړو ته اوسپارلے شو.

فقير ايپي زموږ يو محبوب روحاني شخصيت او قامي راهنما وو. دَ برطانوي تسلط په خلاف به دَ دهٔ په بے پناه قربانيو باندے تل تر تله پښتونخوا وياړي. فقيرايپي هيڅ قسم اولاد نهٔ درلود. دَ دهٔ دَ

مشرتوب پټکے دَ دهٔ دَ زلمی ورارهٔ نیازعلی خان په سر او تړلے شو او خلقو دَ امیر خطاب ورکړو -

## آمیر نیازعلی خان :

امیر نیازعلی خان په کال ۱۹۳۰ء کښے زیږیدلے دے - پلار ئے ګل زاعلی خان نومیدو - آمیر نیازعلی خان چه په بنهٔ ګډ پوهیدلو نو هغه وخت دَ وزیرستان ګرده سیمه وِیرانګریزانو ته اوړ شوے وه - وِیر دَ دهٔ ترهٔ فقیرآیپي ته، نو نیازعلی خان ته داسے ماحول میسّر نهٔ وو، چه کوم مروّجه علوم ئے حاصل کړي وے - دَخپل ترهٔ دَطویل جهاد په دوران کښے به ئے کله دَ یوے او نے لاندے دَ چانه یو ځو تورټکی زده کړل او کله دَ بلے، چه نن ئے هم په ذهن کښے ناست دی او دَ یو بنهٔ عالم په شان پوهه لری. دَشمالی وزیرستان یو سابقه پولټیکل ایجنټ سید مظهرعلی شاه دَ آمیر نیازعلی خان په حقله دخپل ذاتی رنجش په موجب دَخپل کتاب "دی سم انک اپ" په صفحه ۱۰ او صفحه ۱۸۲ باندے چه څهٔ لیکلی دی ، هغه قابلِ افسوس دی -

دَ چا په ذات حملے کول یا بُهتان وړپورے تړل، هم دَ اخلاقو او شرافت له مخے غندلے کیږی او هم دَ قلم سپکا وے ګڼړلے شی. بیا په تیره یو ستانه دار لیکوال ته خو داسے فحش ویئا هیڅ زیب نهٔ بخښی -

وایم چه آمیر نیاز علی خان یوه داسے هستي ده چه نهٔ صرف پولټیکل انتظامیې ته بلکه دَ ښپږ وزیرستاني معاشرے دپاره دَ دهٔ وجود اشد ضروري دے. دَ فقیر ایپیؒ په لاسو تربیه شوے دغه مردِ آهن نهٔ یواځے یو عابد، متقي او روحاني مشر دے، بلکه یو اوچت سیاست مدار او قوي شخصیت هم دے. دَ دهٔ قول و فعل په اولس باندے اثر انداز اوسي. او دَ وزیرستان په قبائلي ژوند کښے مؤثر او شاندار رول لوبوي. تر اوسه چه دهٔ دَ اولسي تنازعاتو، مذهبي بدعتونو، روایتي دشمنیو او سماجي بدیو په حقله کوم اصلاحي کاوشونه کړي دي، هغې یو خوا وزیرستاني معاشرے ته ځلا بخښلے ده، او بل خوا ئے دَ دهٔ په شخصیت کښے کشش پیدا کړے دے. دَ دے نه علاوه امیر نیاز علی خان چه دَ اولسي ښیګړے په لړ کښے په خپلو ذاتي مصارفو کوم کارونه کړي دي، هغه دَ ستائیلو جوګه دي. دَ رزمک په سرهٔ دار الکډ کښے دَ دهٔ تعمیر کرده ډیم (VEIR) یوه شانداره کارنامه ده. دغسے دَ دهٔ په کمک په وزیرستان کښے ځائے په ځائے اسلامي مدرسے هم پرانستلے شوي دي، چه کښې طلباء پکښے دیني سبق حاصلوي. او په څنو پسمانده سیمو کښے ئے ځلویشتۍ مقررے کړي دي چه دَ اولس تر مینځه دَ زور زیاتۍ او دَ بدو رواجونو مخنیوے کوي. امیر نیاز علی خان

32491



دفقیرایپیؒ جانشین امیر نیازعلی خان ایپی
چه دَ معاشرے دَ ناسور دپاره دنشتر کار کوی

82482



په ګورويک کښې د فقير ايپي آخيري آرام ګاه

په خپل ژوند کښې يو واده کړے دے او ټول پنځه ځامن لري۔ مشر پکښې الحاج نورزا علي خان دے۔ ورپسے الحاج نور ولي خان، الحاج شير محمّد خان مولانا عبدالجليل خان او په ټولو کښې کشر مولانا عبدالولي خان دے۔

## فقيرايپيؒ دَ اغيارو په نظر کښې :

فقير ايپي دَ وزيرستان يو داسے عظيم مشر وو، چه دَ خلقو په زړونو به ئے حکمراني کوله۔ هغه يو غير معمولي شخصيت وو، که دَ دهٔ ستائينه دَ چا غير دَ خولے نه واوريدے شي نو زيات اعتبار به اولري

ميجر جنرل جے۔جي۔ ايليټ په خپل کتاب "دي فرنټيئر ۱۸۳۹-۱۹۴۷ء" کښې ليکي چه: "دَ کال ۱۹۳۶-۳۷ء مهمات صرف دَ يو سړي فقير ايپيؒ په خلاف وو۔ په دهٔ چه څومره بمونه غورځيدلي وو، په هغو کښې که يو بم هم په دهٔ باندے لګيدلے وے نو دغه جنګ به ختم شوے وو۔"

دَ "نارتھ ويسټ فرنټيئر، پيپلز اينډ ايونټس" ليکونکے ارتھر سون سن دَ خپل کتاب په صفحه ۳۲۱ باندے ليکي چه:

"قبائل دَ مؤثرو ليډرانو يوه سلسله لري چه په هغو کښې ميرزا علي خان چه علم طور دَ فقير ايپي په نامه شهرت لري، خپل ځان دَ يو غير معمولي مُدبّر او تغيّر پذ يـر شخصيت په حيث ثبوت ته رسولے دے۔"

جنرل هولډ زورتھ په "دي پټهان بارډر لينډ" کښې ليکي چه:

"په کال ۱۹۳۷ء کښې دَ فقير ايپي دَ مخ نيوي دپاره ديرش زره

فوځ میدان ته راوتے وو، مګر کامیاب نهٔ شو. فقیر صاحب به دَ مارمهی په شان دَ فوځ دَ لاسونو نه اووتو."

روزنامه "لندن ټائمز" دَ ۲۰ ر اپریل ۱۹۶۰ء په کنړه کښې دَ فقیر ایپی په مرګ دَ عقیدت اظهار په دے ټکو کښې کړے وو؛

"هغه یو روحانی بزرګ او بااصوله انسان وو. دهٔ دَ انګریزانو په خلاف دَ قبائلو بغاوت راپورته کړے وو، او پخپله دَ هغے روح او جرنیل وو." مخکښې لیکی چه:

"دَ دهٔ دَ وفات په دغه خبر به، کوم چه دَ دهٔ غوندے دَیو معزز او مصمم اراده دشمن په حق کښې ورکړے شوے دے، هغه فوځی او پولټیکل افسران ډیر افسوس محسوس وی کوم چه په سرحد کښې ملازمت کړے وی."

دَ قطبی وزیرستان پولټیکل ایجنټ سی.بی. ډیوک په "بارډر ایډمنسټریشن رپورټ آف دی نارتهـ وزیرستان ایجنسی فاردی ائر ۱۹۴۱-۴۲ء" کښې دَ فقیر ایپی رح په حقله داسے لیکی:

"فقیر ایپی رح دَ کرامت خښتن دے او عام اولس ته دَ دهٔ دُعاګانے بهترین جنت، او ښیرے په دنیا کښې تباهی او عقبیٰ کښې دوزخ دے."

عبدالولی خان په خپل کتاب "رښتیا رښتیا دی" کښې دَسر جارج کننګهم ډائری " ترعنوان لاندے په صفحه ۱۴۲ لیکی چه: "دَیورپ دَ جنګ دَ شروع کیدو نه پس پیں نګیانو دَ افغانستان په حکومت زور

واچولو چه هغوئ دے جرمنیان دَخپل ملک نه اوباسی. په افغانستان دَ زور راوړلو په خاطر یو شامی پیر پیرنګیانو راوست چه هغه په قبائلی علاقه کښے دَ افغانستان دَ حکمرانے کورنئ په خلاف خلق راپورته کړی. پیرنګے چه کله دَ افغانستان دَحکومت دَ طرفه مطمئن شو نو همدغه شامی پیر ئے په وزیرستان کښے دَ وآنا چاونړئ ته راوبله او ورسره په پینځویشت زره ۲۵۰۰۰ پونډه فیصله اوشوه. شامی پیر چه څنګه اول نه وو، داسے بیا غیب شو. چه دا کار اوشو نو په لندن کښے وزیرهند له ئے خوند ورکړو. وائسرائے ته لیکی چه کوشش وکړه چه داسے یوه سودا دَ فقیر ایپیؒ سره هم اوشی. دَهغے په جواب کښے وائسرائے خپل خط کښے لیکی (۱۴/۷/۱۹۳۸ء) ترجمه:

"فقیر ایپیؒ سره دَ شامی پیر رنګ سودا نهٔ کیږی،
ولے چه هغه نهٔ صرف زمونږ لارے له نهٔ راځی بلکه
په هیڅ شان هم خرڅیږی نه...... مابه کله څوک
دَ دے سرکش ملا نه خلاص کړی"

میلن هاوئر په خپله طویله مقاله "ون مین اګینسټ دَ ایمپائر" کښے لیکلی دی چه فقیر ایپیؒ ته به دَجرمنی او اټلی نه امداد ملاویدلو او دَ هټلر ایجنټ وو. څومره دَ تعجب او تاسف خبره ده، په دے ګرده نړئ کښے داسے څوک دی، چه دَخپل دشمن په مقابل کښے خپل ځان نهٔ قوی کوی او یا دَچا دَ مرستے احتیاج نهٔ لری. ولے دَ دے دا مطلب خو نهٔ وی، چه کنی هغه کس دَ خپلو

مرستیالو ایجنټ وی. فقیرایپي دَ یو داسے غاصب طاقت په خلاف توره اوچته کړے وه، کوم چه دَ دهٔ په جدّی خاوره اوجدّی مذهب بانډے تجاوز کړے وو. دا بیله خبره ده، چه کوم دشمن دَدهٔ وو، هم هغه دَ جرمنی وو، نو دا فطری خبره ده چه دَ شریک دشمن په خلاف به دَ کورویک، جرمنی او اټلی ترمینځه ذهنی اتحاداو اخلاقی مرسته هم موجوده وی، ولے په دوئ کښے چا هم مالی او مادی امداد نهٔ دے ورکړے. له دے نه پرته په کړه دنیا کښے دَ آزادئ جنګ کوونکو ته مهذبه دنیا مالی او فنی امداد ورکوی. الجزائر، ویټ نام، چین او افغانستان دَ مهذبے دنیا دَ مالی، اخلاقی او فنی تعاون په برکت آزادی حاصله کړے ده. دَ غیرقوم خلقو که په فقیرایپي بانډے هرڅومره الزامونه تپلی دی، هغه حق بجانب دی. ځکه چه فقیرایپي دوئ دَ زښتو مشکلاتو او تلفاتو سره مخامخ کړی وو، ولے کهٔ خپل خلق پرے دَ تور لګولو سهوه کوی نو دا به ډیره بے مروتی وی. فقیرایپي دَ برصغیر په حصولِ آزادئ کښے هغه هومره مصائب ګاللی او قربانئ ورکړی دی، څومره چه دَ پاکستان په نورو لوئیو لیډرانو پورے منسوب دی. ولے دَ دے باوجود سیّد مظهرعلی شاه فقیرایپي جرمنی ایجنټ ګڼړی. دَ دے نه علاوه بناغلے عارف محسود په "وزیرستان کرم سے گومل تک" کښے په صفحه ۲۸۴ بانډے دَ "فقیرایپي کی سرپرستی اور عروج کے اسباب" ترعنوان لانډے دا وینا چه: "آپ کے والد ملا ارسلا خان مولوی گلاب دین کے

خلیفہ تھے۔ جس نے انگریزوں کے خلاف کئی مہمات سر کی تھیں۔ وہ انگریزوں کے انتہائی مخالف تھے۔ لہٰذا مجاهد باپ کے ہونہار بیٹے پر اثر فطری بات تھی۔"
هم په حقیقت مبنی نهٔ ده، ځکه چه نهٔ خو مولوی ګلاب دین پخپله دَ انګریزانو په خلاف جنګونه کړی دی، او نهٔ دَ فقیرایپي قبله ګاه ارسلاخان دَ دهٔ خلیفه وو۔

عارف صاحب مخکښې لیکی چه: "دوسرا سبب ۱۹۳۱ء کے انگریزوں کے خلاف جہاد میں اُس کے دو بھائیوں کی شہادت پر وُہ بُری طرح برہم تھا، لیکن مناسب موقع کی تاک میں تھا۔ اور جب قدرت نے موقع دیا تو اس نے اخلاص سے اپنے ذاتی اور قومی دشمن انگریز سے مقابلہ کیا اور اس کو جھکنے پر مجبور کیا۔"
دا هم صحیح نهٔ ده۔ ځکه چه نهٔ خو په کال ۱۹۳۱ء کښې دَ فقیرایپي دوه ورونړه شهیدان شوی دی او نهٔ وروستو، بلکه دَ دهٔ تول ورونړه وخت په وخت په خپل مرګ په حق رسیدلی دی - دَ فقیرایپي دَ غزاګانو نور محرکات دا سے بیانوی: "مراعات پر چند ملکوں اور سرداروں کی اجارہ داری تھی۔ نوجوان چاہتے تھے کہ وہ بھی ان مراعات اور رُتبے سے فیض یاب ہوسکیں، لیکن ملک اُن کو آگے بڑھنے نہیں دیتے تھے۔..... لہٰذا وزیرستان کے نوجوان انگریزوں اور ان کے گماشتوں سے زور آزمائی چاہتے تھے۔" دا هم سکوټ بُهتان دے۔ دَ انګریزانو سره چه دَ فقیرایپي په وخت هرڅو مره غزاګانے شوی دی، دَ هغو ټولو سبب دَ کفر او اسلام معامله او دَ اسلام بی بی واقعه وه۔ که چرے دوئ دَ انګریزانو نه دَ کومو مراعاتو طمع لرلے نو هغوئ به ورته په ډیر خوشئ انکار نهٔ وے کړے۔ پلتے

مشو فقیرایپي، هغه خو دَ دنیاوی خواهشاتو نه بالاتر شخصیت وو، دَ هغهٔ هر دم او قدم دَ الله پاکؑ دَ خوشنودئ او دَ هیواد دَ آزادئ دَپاره وو. له دے نه پرته فقیرایپيؒ یوه بزرګه هستي وه او دَ کرامت څښتن وو، ولے دا سے نه، لکه څنګه چې ئے عارف محسود صاحب دَخپل کتاب په صفحه ۳۳۲ لیکلي چه:

"ملک گلاب خان کا کہنا ہے کہ جب میں اس کے رہائشی غار میں تنہا داخل ہوا تو فقیر ایپيؒ غار کے آخری کونے سے ہوا میں اُڑ کر میرے قریب مصافحہ کیلئے آیا۔ جونہی میں نے مصافحہ کے لئے ہاتھ بڑھایا وہ ہوا میں معلّق اڑتا ہوا آہستہ آہستہ اپنی نشست کی طرف جارہا تھا لیکن اس کا مُنہ اور ہاتھ میری طرف تھے۔ ہوا میں معلّق اڑتا ہوا اپنی سیٹ پر پہنچ گیا"

زهٔ عارف محسود ته دا عرض کوم چه فقیرایپيؒ په خپل ژوند کښے چرے هم فوق العاده کارونه نهٔ دی کړی. دَ سلطنت برطانیه غوندے عظیم طاقت سره په تشو لاسو مقابله کول او بیا هغے ته بدترین شکستونه ورکول دَ دهٔ عنت کرامت وو. دغسے دَ جنرل کولرج او دَ هغهٔ دَ ملګرو دا وینا چه: "دَ فقیرایپيؒ سره به په هره موقع فطری ذرائعو همکاری کوله" بل کرامت وو. دَدے نه ماورا دَ فقیرایپي صاحب غوندے لوئے هستئ پورے دا سے واقعات منسوبول چه عقل ئے نه مني، دَافسوس قابل معلومیږی. دَ "فقیرایپيؒ" په صفحه ۲۲۲ باندے دغه وینا چه "فقیر ایپيؒ نے مہدی بننے کی تجویز ٹھکرادی" هم یوه خودساخته افسانه ده چه هیڅ حقیقت نهٔ لري.

## دَ فقیرایپي جنګي نظام

فقیرایپيؒ مستقله قوې نهٔ درلوده. دَ ملیشئ یا فوجي فراریانو یا مقامي خلیفه ګانو او نامتو غازیانو نه علاوه نور ټول لشکر به په دا سې نفوسو مشتمل وو، کوم به چه دَ حکومت برطانیه نه پټ په پټه راغلي وو. دغه خلق به څوک تلل او څوک راتلل. کوم خلیفه به چه یو سیمې ته دَ غازیانو ډله بوتلله نو دَ هغې ځائے مقامي خلق به هم په پټه ورسره ملګري شول او په فیرنګي به ئے حمله اوکړه. دَ حملې نه پسته به فوراً خپلو خپلو کلیو ته ستانهٔ شول او فیرنګي ته به یوا ځې هغه خلیفه ځلے شو. فقیرایپيؒ دَ مختلفو خلیفه ګانو تر مشرۍ لاندې واړهٔ واړهٔ لشکرونه جوړ کړي وو او جدا جدا مرکزونه ئے ورته ټاکلي وو. دَ لوئے حملې په شکل کښې به له څیرے راغونډیدل. او منبهٔ منظم جنګ به ئے کولو. دَ غازیانو دَ جنګ طریقه به عموماً ګوریله ډول وه. چه په یوه علاقه کښې به ئے یو ځل برید اوکړو، نو بل به ئے په بله کښې کولو.

دَ انګریزانو دا قاعده وه، چه کله به دَ فوځ یا ملیشئ ګشت وتلو یا به په محاذ پیشقدمي یا پسپائي کیدله نو په تلو تلو کښې به دَ غرونو په ډډو کښې حفاظتي پیکټونه اولګولے شول. دَ فوځ زیاتره برخه به چه تیره شوه، نو دَ پیکټونو سپاهیان به هم وار په وار وروستو راپاڅیدل او ترکیمپ رسیدو پورې به په دے ډول روان وو.

دَ غازیانو دا معمول وو چه عموماً به ئے دَ بریګیډ حفاظتي

پیکټونه راګیروَل او دَ زېښتو تلفاتو سره به ئې مخامخ کول. کله به ئې رېئر ګارډ (روستئ دستې) باندې هم حملې کولې. دَ حملو په دوران کښې به غازیانو دَ حفاظتي پیکټونو او دَ رېئر ګارډ سپاهیان دَ برګېډونه جدا کړل. هم به ئې ستړي کړل او هم به ئې وسله ترې نه ولجه کړه. دَ جنګي طیارو څخه به دَ حفاظت له مخې غازیانو په سرونو شنهٔ منډکي تړل. طیاره به چه پرې رابرابره شوه نو دوئ به په ځائې کښیناستل او داسې رسا ډزې به ئې پرې اوکړې چه دَ ټکه به ئې ښکته راګذار کړه. دَ جنګ په دوران کښې به مسلمان سپاهیانو په غازیانو رسا ډزې نهٔ کولې او دغه دَ دوئ ترمېنځه دَ شناخت نخښه وه. مُسلمان سپاهیانو به عمومًا دَ غازیانو دپاره په خپلو مورچو کښې میګزین ښخولو او دَ نښان په طور به ئې په هغه ځائې ډکې لګول. غازیان دې سره بلد وو، دَ ډکو په لیدلو به ئې هغه ځائې اوکنستلو او میګزین به ئې رابرخېره کړو.

دَ زخمیانو او رنځورانو دپاره فقیر ایپيٌ پوهې جرّاحان او حکیمان ساتلي وو. او دَ علاج و معالجې هر قسم سهولتونه به ورته فراهم کیدل. فقیر ایپي پخپله هم یو زبردست حکیم او ماهرِ امراض وو. څوک به چه دَ هسپتالونو نه نااُمیده شول، نو خدائې پاک به دَ دهٔ په مجرّباتو شفا ورکړه. په مالِ غنیمت به فقیر ایپي هیڅ غرض نهٔ کولو. کهٔ چا به پخپله مرضئ پېنځمه برخه ورکړه خو ښه، کنې مطالبه به ئې ترې نه نهٔ کوله. ولجه شوې درنه وسله به ئې

ترے نه په بیعه اخستله او هم دوئ ته به ئے پستنه ورکوله۔ دَخلیفه توپ اعزاز به هغو ممتاز مبارزینو ته بخښلے شو۔ کوم به چې دَخپل جنګی فراست، قائدانه صلاحیت او بے مثاله حوصلے او همت له کبله مخوړینز وو۔

## دَ فقیرایپیؒ توپونه :

حاجی صاحب فقیرایپیؒ دَخپل مجاهدانه تحریک په ابتدا کښے هم قدیمی توپونه درلود۔ مګر هغه خاص مؤثر نهٔ وو۔ دَکال ۱۹۳۷ء په آخر کښے چه دَدهٔ نوم په ټول هند کښے خور شو، نو دَ پنجاب او افریدیو کاریګر کورویک ته را اورسیدل۔ او دَکال ۱۹۳۸ء نه تر کال ۱۹۴۱ء پورے ئے دَجدید نوعیت یوڅو توپونه جوړ کړل۔ دَ پنجاب ځینو کارخانو به دَ توپونو شپیلئ ورته جوړولے۔

## دَ توپ دَ ویشتو طریقه :

کله به چه غازیانو دَ توپ حمله کوله، نو رومبے به په جنګی حکمت عملئ باندے پوهه کسان راغونډ شول۔ خپلو کښے به ئے صلاح ومشوره اوکړه او په اتفاق به ئے دَخپل هدف او دَ توپ دَ مورچے محل وقوع په ګوته کړل۔ اول به مورچه جوړه کړے شوه۔ او بیا به دَ توپ وړاندے دَکټے بیزل۔ دَ دے نه پسته به دَ توپ جدا جدا پرزے په اتو اوښانو بار کړے شوے او هغه تیاکلی شوی ځائے ته به ورسولے شوے۔ هلته به پرزے وبله موزون کړے شوے او توپ به ساز شو۔ دَ دے نه پسته

به دَ توپچي نه علاوه نورو ټولو غازيانو دَ توپ نه چاپيره پيکټونه اولګول. او درسته شپه او دَ صبا ترماښامَ پورے به هم هلته پټ ناست وو. په اوچ کوټ او تاؤدو اوبو به ئے ګزاره کوله. دَ توپ محل به دَ قلعو کيمپونو او آبادئ نه تقريبًا يو دوه ميله لرے ساتلے شو او دَ جنګي طيارو دَ ويرے نه به ئے په ستر ګه ډوبه حمله کوله. دَ فقيرايپي" توپچيان دوه قسمه وو. څنے مقامي وو، لکه ګل شاه او اورنګ. او څنے دَ مليشئ او فوځ نه راتښتيدلی تربيت يافته کسان وو، لکه دَ تيري خيال ګل خټک او اصل دين خټک. محمود بابو هم مشهور توپچي وو، خو تربيت يافته نهٔ وو. دَ ټوچي سکاؤټس نه ياغي شوے وو. دَ وائرليس اپريټر اول حسن هم دَ توپ په ويشتو کښے مهارت لرلو. دَ توپ سره به دير ش څلويښت تنه مجاهدين هروخت موجود وو.

## دَ فقيرايپي" کړهٔ ورهٔ :

فقيرايپي" دَ ساه بندئ مريض وو. او عمومًا به ئے دَ غنمو خميره سپور انغن خوړلو. کله کله به ئے دَ يخنئ غوړ هم ورسره کولو. خو کوټ او خوږه جامے به ئے اغوستلے، څادر او پټکے به ئے شنهٔ بخن يا خړبخن استعمالول. ختے به ئے لوے وے کږازاړے خو پيوند ونه به پکښے وو. په پښو به ئے سپکے شان کوکابئ وے او په ځنګ کښے به ئے تماچه ساتله. دَ فقيرايپي ځان ته جُدا څمڅه وه او هر وخت به وسله بند پهره داران پرے ولاړ او سيدل.

اکثر به په عبادت او چله کشۍ کښې مشغول وو. کله کله خو به دَ غلوېښتو ورځو، درېو میاشتو عن تر شپږو میاشتو پورې دَ خپلې څمڅې نه بهرنهٔ راوتلو. دَ زیات ریاضت له کبله ئې وجود اوچ وو. قد ئې درمیانه او رنګ غنمي وو. په پیاده تګ کښې ضعیف وو. کله به په آس سور ګرځېدلو او کله به خپلو مخصوصو نفرو په شنزۍ وړلو. میجر جنرل جې. جي ایلیټ په خپل کتاب "دی فرنټیر ۱۸۳۹-۱۹۴۷ء" کښې چه دَ دهٔ کوم عکس چاپ کړے دے، هغه دَ کوم بل چا دے. فقیر ایپيؒ نهٔ خو په وجود دومره مضبوط او رېخته وو او نهٔ په قد دومره لوړ. نهٔ ئې مخ دومره پلن وو او نهٔ ئې ږیره دومره ګڼړه وه. فقیر ایپيؒ په ژوند کښې یوه ښځه کړې وه او هیڅ اولاد ئې ترې نه نهٔ وو. دغه ښځه دَ دهٔ تر آخري وخته پورې ژوندۍ وه او دَ دهٔ دَ وفات نه ډیره موده پسته په حق اورسیده.

## دَ فقیر ایپيؒ مالي وسائل:

دَ فقیر ایپيؒ ټول اخراجات دَ خلقو په چندو پوره کېدل او دَ هند دَ کوټ کوټ نه به چندې ورته رالیږلې شوې. وزیرستانی اولس به هم په چنده کښې چا کړې بزې ورکولې او چا نغدې روپئ، چا به غله ورکوله او چا رخت. دَ کړې، بوړې او غلې زیاتره اخراجات به بنوځو، داوړو او خوستوالو په کمک پوره کېدل. وزیرستانۍ ښځو په فقیر ایپيؒ باندې بې کچه اعتقاد لرلو. او په خپلو کالو، کړو بزو، پیو، کچونو، چرګو چرګوړو، آګیو، وژغونو،

کاګړو او وړیو هر څه کښې ئې د دهٔ د دارالجهاد ګوروېک برخه مقرره کړې وه، او د فقیرایپيؒ مخصوصو نفرو ته به ئې ورکوله. فقیرایپيؒ د نقد وجنس د عطیاتو دپاره باقاعده بیت المال جوړ کړې وو۔ او هر قسم آمدن او مصارف به درج کېدل۔ د دغې بیت المال څخه به د نورو اخراجاتو نه علاوه مستقل غازیانو ته ماهوار نغده خرچه، غله او رخت هم ورکولې شو۔ ځینو ځینو تنګدسته غازیانو ته به د بیت المال څخه وسله او میګزین هم ورکولې شول۔

## د فقیرایپيؒ لنګر:

د فقیرایپيؒ په لنګر کښې به عام طور د غنمو سپوره یا د ګړې سره ډوډۍ ورکولې شوه۔ کله کله به ساده وریژې هم پخولې شوې چه اورهٔ به ختم شول، نو جوش کړې شوې چرې به خلقو خوړلې میاشت کښې به یو څو ځله د شکرانې شاروې هم حلالولې شول۔ کال ۱۹۴۶ء کښې راقم پخپله هم په ګوروېک کښې د ډوډۍ په ځائې جوشیدلو چنړو کونګرۍ خوړلې وې۔ د ګوروېک نه باهر به هر غازي د ځان سره زوتونه[1] او اورهٔ ساتل، چه اورې به شو نو کوکونه[2] به ئې ترې نه پاخهٔ کړل۔ چائې به د ګړې وه او شودهٔ به

---

[1] مزدیتے ځېلۍ۔ [2] د وزیرستان غرځني خلق د خوشتو اوړو په مینځ کښې ګرد کانړے پټ کړي او په سکروټو کښې ئې کیږدي، چه د کانړي چاپیره اوړهٔ پاخهٔ شي نو هغې ته کوک وائي۔ څوک ئې سپور خوري او څوک ئې د ګړې پیازو او پامنوسره۔

په کښې نهٔ وو- دَ پاکستان جوړیدو نه پسته چه فقیر ایپیؒ دَ افغانستان سره رابطه قائمه کړه، نو دَ دهٔ لنګر هم شتمن او خونده ور شو-

## شپږ ویشتم باب


# دَ فقیر ایپيؒ یوشو توریال

تاریخ ګواه دے چه دَ وزیرستان مردم خیزے خاوړے دَ بایزیدؒ روښان او ملا پاوندهؒ نه راواخله عن تر فقیر ایپيؒ پورے وخت په وخت داسے شاندار شخصیتونه پیدا کړی دی، چه هم ئے دَ وخت داستعماری قوت سره ډغرے وهلے دی او هم راتلونکی نسلونه پرے افتخار کولے شي.


دَ فقیر ایپيؒ په غزاګانو کښے هم ځینے داسے توریال موجود وو، چه نه ئے دَ شجاعت کمے وو او نه ئے دَ قیادت - په داسے نامورو هستیو کښے دَ یوشو ممتاز کسانو مختصر غونډے سوانح دلته درج کولے شي -

**دین فقیرؒ:**

دین فقیرؒ تقریباً په کال سنه ۱۸۸۲ء کښے دَ بیټنو په زمړی نوی کلی کښے دَ روښان کره زیږیدلے وو- دَ بیټ نیکه دَ اولاد څخه وواو دَ چیل نیکه نه وروستو دهٔ دَ بیټنو دَ قومی اتحاد سانتلو په لړ کښے دَ یو نیکه، روحانی مشر او مجاهد په حیث ډیر کامیاب کوششونه کړی دی. دین فقیرؒ دَ برخے خاوند وواو ډیرے ډیرے معتقدین به دَ دعا دپاره ورتلل.




دین فقیرؒ
چه دَ بیتنو یو مجاهد مشر، روحانی شخصیت
او د فقیر ایپیؒ مرستیال وو




ملا شیر علی خان محسود



ملک کلاجان توری خیل وزیر
چه دَ آزادئ دَ شخړو یو مبارز ځوان وو



فقیر محمد عرف فقیره
چاچه دَ وزیرستان په غزهٔ وسمه دَ خپلی مړانې



مولانا گل محمد سپین وامی

چه دَ فرنګی تسلّط په خلاف ئے هم په توره جهاد کړے دے او هم په قلم



المجاهد زرباتي احمدزئ وزير



المجاهد شاه عالم خان احمدزئ وزير

هسے خو دین فقیرؒ د کال سنہ ۱۹۱۹ء نه تر کال سنہ ۱۹۳۳ء پورے ډیرے غزاګانے کړے وے او بنه په مړانه جنګیدلے وو، و لے تر دغه وخته پورے دهٔ څه خاص شهرت نهٔ وو حاصل کړے۔

کال سنہ ۱۹۳۶ء کښے چه فقیر ایپیؒ غزاګانے شروع کړے او دهٔ هم خټک ورسره غبرګ کړو نو دَ خپلے تورے او مړانے له کبله په درسته پښتونخوا کښے دَ نمر غوندے ځلګند شو۔ دین فقیرؒ به دَ خپلو مجاهدانه سرګرمیو مرکزونه دَ ګبر، سرهٔ غر، جنډولہ، خیساره، ګومل او ټانک په مضافاتو کښے ساتل او غازیانو ته به ئے لنګر جاری وو۔ دین فقیرؒ د فقیر ایپیؒ ښے لاس وو او دَ دهٔ د وفات نه پسته د اتیاو کالو په عمر کال سنہ ۱۹۶۲ء کښے پخپل مرګ وفات شولو۔ دَ دهٔ مشر ځوئے فقیر علی محمد خان دَ دهٔ جانشین او ټاکلے شو۔ علی محمد دَ تورے او دَ قلم څښتن دے او دَ پلار سره به اوږه په اوږه دَ آزادئ په مبارزو کښے شریک وو۔ دَ دین فقیرؒ پحقله ماته دَ ریډیو پاکستان پیښور یو غړی تاج محمد میکش مرحوم خبره کوله چه:

"زهٔ دَ صوبه سرحد دَ ګرفتهونوی انګریز ګورنر په انتهلی جنس ستاف کښے وم۔ یو ځل ئے راته او وئیل چه ته به دَ دین فقیر حالات راوړے۔ په هغو شپو ورځو کښے دین فقیرؒ په ګبر کښے وو۔ زهٔ په وړومبی ځل هلته ورغلم۔ فقیر صاحب چه اولیدم نو پاڅیدو لاس ئے راکړو۔ دَ جوړ تازه نه پسته یوه شیبه غلے شو۔ ناڅاپی ئے په سرو سرو سترګو راته او کتل او او ئے وئیل چه "ستا صاحب غټ کافر دے، خدائے به ئے ورک کړی" دَ خدائے به ئے ورک کړی کلمه ئے څو ځله تکرار کړه۔ ما بنه په آرام

شپه تیره کړه او صبا نے رخصت کړم۔ ما چه کور نژکړ نو ته تکی په تکی دَ فقیر صاحب خبره اوکړه نو هغه ډیر خفه شو او راته نے اووئیل چه "زما په حق کښے دِ دُعا وے نه ترے نه غوښتله؟" زه غلے شوم او هغه څو میاشتے پس په رښتیا خدائے ته ورک کړو۔"

دَ دے مجاهد بزرګ پحقله ډیرو شاعرانو قصیدے او مرثیے لیکلی دی ولے کومه مرثیه چه دَده د خپلے کورنئ یو ے تور سرے لیکلے ده، په هغے کښے دَ ده اصلی مقام ښودلے شوے دے۔

## دَ عقیدت ګلونه

یوا ځے نه ژاړی اے بابا خپل وخپلوان درپسے
ژاړی هر چرے پښتانه څیرے ګریوان درپسے
یوا ځے نه ژاړی سنتره، غازی، محمود او صابر
په خدائے چه ژاړی همګی وزیرستان درپسے
تنها ویرژنه په ژړا نه ده دَ بیټ کورنئ
ورسره ژاړی ټول دوستان او مریدان درپسے
دَ بیټ نیکه په سپینه ږیره اوښکو لاړے اوکړے
په ژړا سر دی کوندے رنډے یتیمان درپسے
چه چا دِ نوم وو آوریدلے یا لیدلے وے چا
هغو دَ اوښکو سیلابونه کړل روان درپسے
دَ سپیلنی په شان لوګے شوے دَ خپل قام په مینه
څنګه به نه وی، په ژړا رضا کاران درپسے

مرگیه! اونهٔ کړے تلوار لرن پـه قـلار راځه!
زهٔ ستـتره بي بي چه لرے کړم ارمان دړپسے

## ملاشیرعلی خان:

دا ننګیالے په جنګي ملامشهور وو۔ پلار ئے طورخان نومیدو۔ دَ خیسارهٔ ننوخیل محسود وو او دَ اورمړخیلو دَ شاخ نه وو۔ ملاشیرعلی خان ډیر بهادر او دَ مسحورکُن شخصیت مالک وو۔ کله چه فقیرایپي رح دَ انګریزانو په خلاف دَ غزا اعلان اوکړو نو دَ محسود قام له طرفه نه وړومبے سړے دے وو، چه لاس ئے ورکړو او څه موده پس په خلیفه توب اونمانځلے شو۔ دَ ملاشیرعلی خان یو بل وررور هم وو چه دیره خان نومیدو او روستو دَ پیزو په جهګړه کښے شهید شو۔ هسے خو به دغه تورزن ملا دَ فقیرایپي رح اکثر ټولو جهګړو کښے شریک وو، ولے دَ شراونګي په جنګ کښے چه دهٔ دَ شجاعت کوم جوهر ښودلی وو، په هغے باندے نن هم محسود ویاړي۔

دغه جنګیالے ملا په ۲۹/ مارچ ۱۹۷۸ء پخپل مرګ په حق اورسیدو۔ خلقو به ورته همیشه په دَرنه سترګه کتل او شُکرانے به ئے ورکولے ولے دَ زیات سخاوت په وجه به اکثر مقروض وو۔

## خلیفه گلات شاه:

دَ افغانستان دَ پودلکي کلي کیان خیل جدران وو۔ پلار ئے آزاد نومیدو کال ۱۹۳۶ء کښے چه فقیرایپي رح دَ انګریزانو په خلاف راپورته شو نو دغه ځوان هم په ډیره مړانه میدان ته راووتو۔ په بریدونو کښے دومره واریزک وو، چه دشمن به ځان ته خبریدو، نو دهٔ به لکه دَ باز په یوه غوټه

پر مخے نسکور کړے وو۔ سبیل جدران، سالےکل دتنګی پارس خیل جدران ګلخے دشمل جدران او په تنګی کښې دکیتکی جیلانی جدران دخلیفه ګلاب شاه دغزا ملګری وو۔ دغه توریالے خلیفه په کال ۱۹۶۶ء کښې وفات شو۔

## مولوی محمد ظاهر شاه :

مولوی محمد ظاهر شاه د رزمک بوره خیل وزیر وو۔ نن صبائے کورنئ په سروبی کښې آباده شوے ده۔ غالباً په کال ۱۳۲۱ھ کښې زیږیدلے وو۔ پلار ئے حلیم شاه نومیدو۔ کال ۱۳۵۱ھ کښې چه فارغ التحصیل شو نو په خدی داوړو کښې ئے تر دریو کالو پورے د دینی تدریس په سلسله کښې خدمات انجام کړل۔ مولوی صاحب د تورے او د قلم څښتن وو۔ په فارسئ او عربئ ژبو ئے ښه عبور لرلو۔ په اُردو هم پوهیدو۔ مولوی صاحب د خپل وخت توریالے مجاهد وو۔ غازی مهردل توری خیل وزیر ماته خبره کوله چه " مولوی صاحب به په تاوده جهګړه کښې ګونډه ښخه کړه او د یاداشتونو په لیکلو به شروع شو۔ د مولوی صاحب په دے عادت به همیشه غازیان خفه وو او ورته وئیل به ئے چه "که څه لیکل غواړے نو د جهګړے نه پسته ئے لیکه۔ په انښتے جهګړه کښې لیکل مه کوه۔ هسے نه یا دِ دشمن اوولی او یا خدائے مه کړه ژوندے اونیولے شے"۔ مولوی صاحب به ایله مُسکے شو او وئیل به ئے چه "زما زړه دا نهٔ غواړی چه پښتانهٔ زلمی دِ د وطن نه سرونه ځار کړی او بیا دِ د خاوړو سره خاورے شی۔ انشاءالله زهٔ به دوئ ته داسے ابدی ژوند بخښم چه خپل راتلونکی نسلونه به پرے تل ترتله ویاړی"۔ د مولوی صاحب خبره رښتیا شوه او دهٔ د" د خپلواکئ

جهګړے" په نامه یو کتاب اولیکلو. دا کتاب په کابل کښې چهاپ شو. دَ مولوی صاحب قلمی نسخه په فارسیٔ ژبه کښې ده. بناغلی ګلاب ننګرهاری ئې پښتو ترجمه کړے ده. په دے کتاب کښې دَ فقیرایپیؒ د ژوند او مبارزو مختصر غوندے تاریخ دے. څه موده پس مولوی صاحب ماته هغه خپله قلمی نسخه هم راکړه، کومه چه دهٔ په "منادی جهاد" موسومه کړے ده. "دَ خپلواکیٔ جهګړے" کتاب په تول پوره دے یا بے تولہ، دا بیله خبره ده خو بهرحال دهٔ په وزیرستان یو عظیم احسان کړے دے. که چرے زما په وړاندے "منادی جهاد" نهٔ وے پروت نو ما به چرے هم په "وزیرستان" قلم نهٔ وو پورته کړے. نن زهٔ دَ دغے زیار ثمره دَ مولوی صاحب مرهونِ منت ګڼړم، ولے چه دَ تاریخ وزیرستان وروبے بنسټ دهٔ ایښودلے دے.

مولوی صاحب دَ خپل علمی شوق او مجاهدانه ژوند له کبله نهٔ واده کړے وو او نهٔ ئې دنیاوی پنګه ساتلے وه. دَ ضعیفیٔ دَ عمر په آخری شپو ورځو کښې به هم شپه ورځ په علمی څیړنه کښې مشغول اوسیدو. دغسے دَ غه بالتور په ۵/نومبر سنه ۱۹۹۲ء بخپل مرګ په حق اورسیدو او په سروبی کښې خاورو ته اوسپارلے شو. "دَ خپلواکیٔ جهګړے" نه پرته مولوی صاحب دوه کتابونه په عربیٔ ژبه کښې هم لیکلی دی. په دے کښې "تحفة الصائمین" چهاپ شوے دے او "مهمات شرعیه" دَ چهاپ په انتظار دے. دا کتاب ډیر ضخیم دے.

## خلیفه مِهردل خټک:

خلیفه مِهردل په کرک کښې دَ چونترے زیبی چارخیلو خټک وو. پلار ئې جفرخان نومیدو. مالی حالت ئې ښهٔ وو، خو بیا هم مشر ورور په توچی

سکاؤټس کښې بهرتي کړے وو او په میران شاه کښې دَ ملیشې دَجوماټ پیش امام مولوي شیر محمد خټک سره خادم وو. دا هغه شپې ورځې وے چه په وزیرستان کښې فقیرایپيؒ زبردست جوش وخروش پیدا کړے وو. مهردل هم څه دَ خپل باغي طبیعت دلاسه او څه دَ مولوي شیر محمد دَ صحبت له کبله دَ وطن مینې ځان پله راکښلو او په کال ۱۹۳۷ء کښې دَ دته خیلو قلعے څخه سره دَ وسلے فرار شو. هسے خو دَ خټکو پیرخوانان دَ فقیرایپيؒ په جهاد کښې شامل شوي وو، وے دَ مهردل په یاغي کیدو دَ ملیشے نور هم کمزسپاهیان فقیرایپيؒ ته وراوتښتیدل او په لږه موده کښې ده ځان ته یو بیل لښکر جوړ کړو. دَ ده دَ مدبرانه او دلیرانه کارنامو نه فقیرایپيؒ دومره متاثره شو چه دَ خلیفه توب په اعزاز ئے اونمانځلو. خلیفه گل نواز دَ ده پوخ ملګرے وو او اکثر به دواړه دَ بنوں وزیرستان په خاوره جنګیدل، وے کله به ئے دَ خټکو په سیمه کښې هم په فیرنګي یرغلونه کول. دَ دوي دَ شین غر ګړګړي چنغوس او تیړي بریدونه دَ ستائینے وړ دي. خلیفه مهردل دَ پاکستان تر قائمیدو پورے بنه په مړانه او جنګیدو. وروستو په ۴/ نومبر کال ۱۹۵۴ء حکومت پاکستان ته تسلیم شو او بنوں کښې میشته شو. څه موده پس په ۲۳/ اپریل ۱۹۶۹ء دَ ساه بندئ په عارضه په حق اورسیدو. او دَ بنوں نه خپل کلي ته یوړے شو. دومره ورځ دَ جنازے دَ نمانځه نه پسته وړو مبے خیلو بچوانو غازیانو سلامي ورته اوکړه او بیا بچپل پلارینی مریستون کښې خاوره ته اوسپارلے شو. خلیفه صاحب دَ زبردست سپاهیانه تدبر او فهم وفراست مالک وو. په کومه سیمه به چه دَ ده دَ لښکر آوازه شوه نو دَ فیرنګي په خونه

په زلزله شوه - دَ هغې وخت اکثر سرکاري فایلونه دَ ده په جرأتمندانــه کارنامو ډک دي -

## خلیفه ګل نواز :

خلیفه ګلنواز دَ بنوں دَ سورانۍ په علاقه کښې دَ ډیګان شادي کلي اوسیدونکے وو. پلار ئے بابوجان نومیدو - خلیفه صاحب دَ جنګ آزادۍ یو پیاوړے مجاهداو دَ خلیفه مهردل دَ ډلے فعال غړے وو، او دَ دوئ ترمینځه دَ زنانهؤ رشته هم وه - خلیفه ګل نواز دَ خپل وخت په ټولو جهګړو کښې سنه په نره جنګیدلے وو او فیرنګے ترے نه ترپوزے پورے وو - چه پاکستان جوړ شو، نو ده هم هر کلے ورته اووئیلو او سیاسی ژوند ئے اختیار کړو - څه موده پسته دَ حسین شهید سهروردي په زمانه کښې بنوں کښې دَ عوامي لیګ صدر منتخب شو او وروستو کال ۱۹۷۵ء کښې بخپل مرګ په حق اورسیدو -

## خونیاخیل :

خونیاخیل په لندها کښې دَ بدر زلول خیل محسود وو او دَ آزادۍ په مبارزو کښې ئے بے لوڅه قربانۍ ورکړے دي - هسے خو دَ ده دَ شجاعت ډیر واقعات موجود دي، و لے دَ شهور تنګی جهګړه به دَ جرأت او فراست له کبله دَ وزیرستان په تاریخ کښې یو ځلانده مثال اوسي - دغے تورزن ژنړي تر آخره پورے دَ فیرنګي مخالفت ترک نه کړو - چه پاکستان جوړ شو نو ده هم روغه جوړه اوکړه، و لے دَ بده مرغه ډیر زر دَ خپل ذاتي دشمن دَ لاسه اووژلے شو -

## ملک آیوب :

ملک آیوب په خیساره کښې مچي خیل محسود وو او په مومیژه کښې د آس کلي اوسیدونکے وو. پلار نے شاه سلیم نومیدو. ملک آیوب ډیر مبارز او مجاهد ځوان وو. وړومبے د فوځ په تهرډ بلوچ رجمنټ کښې صوبیدار وو. وروستو نے صوبیداري پرېښوده کابل ته لاړو او د انګریزانو په خلاف نے فعالیتونه شروع کړل. کال سنه ۱۹۲۳ء کښې نے صلح اوکړه او په منزي کښې د سلو روپو ملکي ورکړے شوه. کال سنه ۱۹۳۸ء کښې نے چه بغدادي پیر خیل کلي ته بوتلو نو د هغه ورځے نه نے یو ځل بیا خیالات او حرکات باغیانه شول او په زړه کښې نے د اسلام مینے او د وطن ننګ غزوونے اوکړے. حکومتي جاه وجلال ته نے لته ورکړه او د فقیرایپي رح په مجاهدانه تحریک کښې شامل شو فیرنګي د ده دینوو او تسلیمیدو په سلسله کښې تانړې اوشلولے خو کامیاب نه شو. ملک صاحب په فوځ کښې د پاتے کیدو په وجه ټول جنګي اټکلونه زده کړي وو، په دے وجه به د ده حملے ډیرے کامیابے وے. د آزادۍ په ټولولویو وړو جهګړو کښې جنګیدلے وو. او ځان ته نے یو اوچت مقام پیدا کړے وو. کال سنه ۱۹۴۷ء کښې چه پاکستان جوړ شو نو ده هم صلح اوکړه او څه موده پسته پخپل مرګ په حق اورسیدلو.

## ملک ولي خان :

ملک ولي خان بهلولزي محسود وو او په خیساره کښې د اورمړخیلو د شاخ نه وو. د خپلے سیمے مشر ملک وو، ولے اسلامي مینے او قامي ننګ نے له هر څه نه زړه تورکړو او د فقیرایپي رح سره ملګرے شو. ملا شیرعلي خان

ملک آیوب خان او ملک ولی خان هغه سرتیری محسود وو چا چه په وړومبی ځل فقیرایپیؒ خپلے علاقے ته راوستلے وو۔ دغه توریالے ملک په اولس کښے ډیر مقبول وو او فیرنګے به ترے نه زښت خائف وو۔

**خلیفه چلګائی :**

په همزونړو داوړو کښے دَاغزن کلی اوسیدونکے وو۔ اصلی نوم ئے محمد غلام وو۔ پلار ئے پیر غلام نومیدو، چه دَ همزونړو مشر ملک وو۔ دَ پلار دَ مرګ نه پسته چلګائی ملک شو۔ څه موده خو ئے اوپالله، ولے په یکم اګست ۱۹۳۹ء ئے ملکی پریښوده او دَ فقیرایپیؒ په لشکر کښے شامل شو۔ دا مړنے ځوان ډیر زر دَ خپلے بهادرئ په وجه په غازیانو کښے مقبول شو او په څو میاشتو کښے ئے یو لوئے لشکر جوړ کړو او دَ انګریزانو په خلاف ئے عملیات شروع کړل۔ فقیرایپیؒ دَ دهٔ دَ شجاعت او متانت نه ډیر متاثره شو او خلیفه ئے اوبهاکلو۔ دغه توریالے هم په شجاعت کښے لاثانی وو او هم په سخاوت او ذهانت کښے۔ چه پاکستان جوړ شو نو دهٔ هم صلح اوکړه او خپله مُلکی او نور مراعات بیرته ورکړے شول۔ ولے دَ بده مرغه څه موده پسته دغه لوړ مجاهد دَ بواسیرو دَ مرض نه دومره تنګ او سرکک شو چه پخپله ئے ځان په تماچه اوویشتو او دَ خودکشئ په مرګ مړ شو۔ دَ دهٔ د نامے سره هم قافیه دَ همزونړو داوړو شاګائی احمد خیل هم زبردست توریالے ځوان وو۔ دَ فقیرایپیؒ په اکثرو جهګړو کښے شریک وو او دَ کال ۱۹۹۲ء په آواخر کښے پخپل مرګ په حق اورسیدو۔

**مولوی محمدؐ وارث شاه :** دغه توریالے ملا په اصل کښے سیّد وو۔ پلار ئے

سیّد نصیر شاه نومیدو۔ په قوم منظر خیل وزیر وو۔ هم دَ توری خاوند
وواو هم دَ قلم۔ مولوی صاحب به شپه ورځ دَ انګریزانو په خلاف بوخت
وو۔ کله به ئې لشکرے پرے ورخیژولے او کله به ئې دَ خپلو ولوله انګیزو
تقریرونو په برکت عوام ورپسے راپورته کول۔ ان ازتاً کال ۱۹۶۶ء کښې پخپل
مرګ په حق اورسیدو۔

## ملک ګلاجان :

ملک ګلاجان دَ سپین وام میر علے توری خیل وزیر وو۔ پلار ئې ملک
حلیم شاه نومیدو۔ دَ پلار په مرګ ګلاجان ملک شو۔ خوچه فقیر ایپیؒ کله دَ
جهاد عَلم پورته کړو نو دَ ده په زړهٔ کښې هم دَ اسلامی ننګ وغیرت جذبے
رابیدارے شوے۔ هرڅه ئې پرېښودل او دَ انګریزانو په خلاف میدان ته
راووتو۔ هسے خو دغه مُجادِل ملک دَ آزادئ په ټولو مبارزو کښې دَ چا نه
وروستو نهٔ وو، ولے دَ تنګی او اینګامال په جهګړو کښې دَ ده دمړانے زیات
تعریفونه کیږی۔ دَ سپین وام قلعه خو به شپه ورځ دَ ده دتاخت وباخت
نه په ترار وه۔ انګریزانو دَ روغے جوړے وسونه پرے اوکړل خو دغه زمرے
ئې رام نهٔ کړے شو، چه پاکستان جوړ شو نو ده هم صلح اوکړه او خپله
مُلکی ئې بیرته حاصله کړه۔ کال ۱۹۷۵ء کښې ئې حج بیت الله اوکړو او کال
۱۹۸۶ء کښې په حق اورسیدو۔

## ګاکو :

دَ سپین وام توری خیل وزیر وواو دَ دته خیلو دَ شمیری کلی اوسیدونکے
وو۔ پلار ئې عباس خان نومیدو۔ ګاکو ډیر شجاع او بهادر ځوان وو۔ دَ

فقیرایپیؒ د غزاگانو په وړومبو شپو ورځو کښې میدان ته راوتلے وو۔ دَ توپ وتفنګ په ویشتو کښې زبردست ماهر وو او دَ فیرنګی تر آخری دمه پورے په تلار نهٔ شو۔ چه پاکستان جوړ شو نو دهٔ هم خپله وفاداری ورته وړاندے کړه خو افسوس چه ډیر زر په حق اورسیدو۔ دَ ګاګو په نوم یو بل ګاګو هم وو چه ډیر توریالے مجاهد وو۔ دَ دغے ګاګو اصلی نوم سوادمیر وو، پلار ئے اجمیر نومیدو او دَ خدی کلی داوړ وو۔

## مولوی غازی میرجان :

مولوی غازی میرجان دَ سپین وام توری خیل وزیر وو او دَ میرعلی شاخ نه وو۔ کله چه فقیرایپیؒ دَ انګریزانو په خلاف دَ جنګِ آزادیٔ علم پورته کړو نو دغه توریالے مولانا هم میدان ته راووتو او دَ انګریزانو په خلاف داسے په مړانه اوجنګید وچه نن ئے هم ستائنے کیږی۔ دغه مجاهد ملا دَ خپل جنګی فهم وفراست او قائدانه صلاحیتونو له برکته په وزیرستان کښې یو لوړ شخصیت منلے شو۔ دَ فقیرایپیؒ ډیر اعتمادی خلیفه وو او دَ دهٔ په انتظامی او عسکری معاملاتو کښې به ئے پوره پوره دخل وو۔ دَ پاکستان دَ قائمیدو نه څو کاله مخکښے موسترپل کښې پخپل مرګ په حق اورسیدو او دَ دهٔ مشر ځوئے خلیفه عبداللطیف دَ دهٔ جانشین اوټاکلے شو۔ دا هغه شپے ورځے وے چه په هند کښې دَ انګریزانو دَ اقتدار آخری سلګئ وے او دَ خلیفه عبداللطیف دَ ځوانئ دَ عمر ابتدا۔ په دے وجه دهٔ دَ آزادیٔ په مجادلو کښې څه برخه وانهٔ خستے شوه البته دَ پاکستان دَ قائمیدو په وخت چه دَ پاکستان او افغانستان په مابین کښې سیاسی کش وګیر پیدا شو نو خلیفه عبداللطیف هم دَ خپل

ذهانت او دُ فقیرایپیؒ دُ مصاحبت په آساس په افغانستان کښې دُ پښتونستان دُ تحریک په قبائلي مشرانو کښې ځان ته لوړ مقام حاصل کړو، ولې څه موده پسته دُ دهٔ سیاسي عُروج دُ فقیرایپیؒ دُ ناراضګئ باعث شو۔ او دغسې دُ دواړو تر مینځه کشیدګي راپیدا شوه۔

## مولانا ګل محمدؒ سپین وامی :

سپین وامی صاحب په سپین وام کښې دُ میرعلئ شاخ توري خیل وزیر دے او دُ خپلے علاقے په نسبت سپین وامی تخلّص لري او په ملا کلمات مشهور دے۔ پلار ئے ملک سید خان او نیکهٔ ئے صوفي دریه خیل نومیدو سپین وامی صاحب په ۹/مئ ۱۹۲۳ء کښې زیږیدلے دے او دُ خپل علمی شوق له کبله ئے په ډیرکم عُمر کښې دُ مولوي توب پګړئ په سر او تړله۔ دا هغه شپې ورځې وے، چه دُ وزیرستان زمکه فیرنګي ته تنور شوے وه او دُ سپین وامی صاحب تره ملک ګلاجان او دُ هغهٔ ملګرو مولانا غازي میرجان او کاکو موسترېل ته هجرت کړے وو او شپه ورځ به دُ فیرنګي په خلاف بوخت وو۔ په داسے حالاتو کښې چه سپین وامی صاحب دُ حصول علم نه اوزګار شو نو دُ دهٔ په زړهٔ کښې هم دُ وطن مینې غزوونے اوکړے۔ پلار ئے دُ ملکئ په پرېښودلو او موسترېل ته په هجرت کولو مجبور کړو۔ فیرنګي چه خبر شو نو دُ مولانا صاحب په کور ئے فوځ ورجوشے کړو او هر څه ئے ورته خاوړے ایرے کړل۔ اوس مولانا صاحب دُ یو مجاهد په حیث راڅرګند شو۔ نهٔ به ئے توره دُ لاسه غورځوله او نهٔ قلم۔ فقیرایپیؒ پرے مکمل اعتماد لرلو او دُ جمعیة العلماء ګورویک جنرل سکرتر او دُ "پښتون رڼړا" اخبار مدیر ئے تاکلے وو۔

سپین وامی صاحب دَ پشتو ژبے یو اوچت لیکوال، ولوله انګیز مقرر او اعلیٰ سیاست مدار شخصیت دے۔ په فارسیٔ او عربیٔ ژبو مکمل عبور لری او په اُردو ژبه هم پوهیږی۔ وخت په وخت ئے په پښتو ژبه کښے یو شمیر سیاسی او تبلیغی اثار هم چهاپ شوی دی۔ په "پښتانه"[ع۱] کښے چه د " دَ وزیرستان جغرافیه " تر عنوان لاندے دَ خلیفه عبداللطیف توری خیل وزیر په نوم کومه طویله مقاله شائع شوے ده۔ هغه هم دَ سپین وامی صاحب تالیف دے۔ مولانا صاحب په کال ۱۹۷۶ء کښے دَ راقم سره یو ځائے دَ حج بیت الله سعادت حاصل کړو او اوس دَ یو متقی عالم او سماجی کارکن په حیث ژوند تیروی۔ زیاتره روابط ئے دَ فقیرایپیؒ جانشین امیرنیاز علی سره وی۔

**فقیر محمد :**

اصل کښے فقیر محمد دَ هزارے دَ تربیلے په تحصیل کښے دَ کابلګیان سره تعلق لری۔ پلار ئے معزالله خان نومیدو۔ نیکه ئے یوسفزیٔ پښتون وو۔ خو دهٔ اوس خپله ژبه هیره کړے ده۔ وړومبے په فرسټ پنجاب رجمنټ کښے سپاهی وو۔ جنوری ۱۹۳۷ء کښے قطبی وزیرستان ته راتبدیل شو او دَ شینکی تنګی په پیکټ کښے ئے ډیوټی اولګیده۔ دا هغه شپے ورځے وے چه په وزیرستان کښے به لوړ دَ لوری نه په انګریزانو حملے کیدلے او دَ فقیرایپیؒ دَ جهاد تحریک زبردست زور آخستے وو۔ لسمه ورځ فقیر محمد هم سره دَ یو کلی وال سپاهی رحمت خان دَ پیکټ نه فرار شو او دَ خان سره ئے

---

ع۱ دوهم ټوک۔ دولتی مطبع کابل۔

يو بي بي گن، دوه توپک، اته سوه کارتوس، يو دوربين، يوه تماچه او څوارلس بجورے دُ مشين گن مرمئ يوړلے - په مشکله دُ حيد رخيلو داوړو کلي ته اورسيدل او دُ يو داوړ کره ميلمانه شول - دُ هغے ځائے نه دُ فقيرايپي رح دُ هدايا تو په مطابق موسترَبل ته اوليږلے شول - هلته دوئ درے مياشتے پټ اوسائل شول او بيا وروستو په خره کښے دُ فقيرايپي رح سره ملاؤ شول - دُ فقير محمد دويم ملګرے رحمت خان څه موده پس بچپل مرګ وفات شو، ولے فقير محمد دُ وزيرستان په غره وسمه دُ خپلے بهادرئ نقوش پريښودل - دُ فقيرايپي رح اکثرو جهګړو کښے به موجود وو او دُ خپل مشينداړ په برکت به ئے دُ فيرنګي په فوځ نتار ګډ کړے وو - څه موده پسته فقيرايپي رح دُ توپچيانو قوماندان مقرر کړو - دغه پياوړے مجاهد تراوسه ژوندے دے - دُ عيدکو داوړو په تاروتيو کښے ئے واده کړے دے هم هلته اوسيږي او نيک ژوند لري -

ميجر ابراهيم قريشي دُ خپل کتاب "هسټري آف دی فرسټ پنجاب رجمنټ ١٧٥٩-١٩٥٦ء" په صفحه نمبر ۳۴۳ باندے دُ فقير محمد دُ شجاعت يوه واقعه داسے ليکلے ده چه :

"فقير محمد چه په فوځيانو کښے په فقيره مشهور وو، دُ ۵ بټالين نه فرار شوے وو - دُ ده يو ملګرے نائيک محمد نواز دُ ګړدئ کيمپ دُ يو پيکټ کمانډر وو - هغه يوځوا فقير محمد ته دُ راتلو بلنه ورکړے وه او بلخواے مشينداړ ورته تيار کړے وو - هرکله چه فقير محمد دُ شپے په سپوږمئ کښے دُ پيکټ چاپيره ازغيژن

تارونو ته ورنږدے شو نو هغوئ ورته د ننه دَ راتلو تاکید اوکړو خو
فقیر محمد شکمن شو او هلته نزدے یو ے پالے ته ئے ورتوپ
کړو۔ دَ دے سره دَ ده ملګرو غازیانو په پیکټ ډزے شروع کړے
دَ پیکټ دَ لوری نه هم جواب مشین ګن پرے رااوچلیدو، خو فقیر
محمد دَ خپل زبردست جرأت په وجه خان بچ کړو۔"

ما راقم چه دَ فقیر محمد نه دَ دے واقعے بحقله تپوس اوکړو نو وئیل ئے چه "محمد نواز راته خبر رالیږلے وو چه که ته پیکټ ته راشے نو زه او زما ملګری به درسره اوتښتو۔ زه چه ورغلم نو دَ ده په زړه کښے غلا راته ښکاره شوه او خان مے ترے نه بچ کړو۔"

غالی :

غالی دَ احمد خیلو کلی همزونے داوړ وو۔ ډیر زړه ور لو بریدی ځوان وو پلار ئے زنځیرخون نومیدو۔ غالی کال ۱۹۲۸ء کښے دَ نادرخان په مرسته کښے دَ سقاؤ په خلاف هم جنګیدلے وو۔ کال ۱۹۳۶ء کښے چه فقیر ایپیؒ دَ انګریزانو په خلاف راپورته شو نو دے توریالی یو ځل بیا ښلخ لاسو ته کړو۔ هسے خو ده ډیر جنګونه کړی دی، ولے دَ خرے او تپئ په جهګړو کښے چه ده کومه بهادری کړے وه، هغه نن هم په جرګو کښے ستائیلے شی۔ دَ فقیر ایپیؒ دَ نیوو په سلسله کښے چه کله فیرنګی خرے ته فوځونه ورمارچ کړل او دَ ده په څیودوئے قبضه لګوله نو په دے دوران کښے غالی په ډیرے تادئ سره دَ مرکز په خزلو دیارلس بیډ اوبنان بار کړل او هر څه ئے دَ مینځه اوویستل۔ دَ فقیر ایپیؒ دَ هدایاتو په مطابق ده اوبنان درے خیلے پله روان

کړل۔ دَ بده مرغه چا پرې جاسوسی اوکړه او په لار کښې فوځ ترے نه چاپیره شو غالي او دَده ملګرو کلکه مقابله ورسره اوکړه خو دَ فوځیانو زور وو او لوبنان ئے اونیول۔ غالي په دے واقعه سخت زهیر شو۔ شپه ورځ به ئے دَ هغې مخبر په تلاش کښې بهرے وهلے وے۔ آخر درک ئے ورته معلوم شو او په ۱۰/ اکتوبر سنه۱۹۳۹ء ئے دَ شپې کو تے ته کنهر ورا وکړو او قتل ئے کړو۔ دغه توریالے مجاهد په ۲۸/ جنوری سنه۱۹۷۱ء دَ "لیکے" په درد وفات شو۔

## جنت میر:

جنت میر دَ کړیوم دَ مدی خیلو شاخ توری خیل وزیر وو۔ اوس ئے کورنئ په شیرا تالا کښې اوسیږی۔ هسے خو به دغه باتور له ځوانه دَ فیرنګی سره مشت وګریبان وو، ولے دَ فقیرایپي رح دَ غزاګانو په دوران کښې داسے ورته شوے وو چه انګریزان ئے په سرو سترګو کښینولی وو۔ دَ خیساره په جهګړه کښې دَ توپ په غونډاری لګیدلے وو او په یوه پښه به ئے چپ کولو۔ ده به دَ فقیرایپي رح دَ لنګر او ځینو نورو انتظامی امورو وظیفه هم اجرا کوله۔ ازلمیر دَ ده پوخ ملګرے وو او دواړه دَ فقیرایپي رح اعتمادی غازیان وو۔ جنت میر دَ پاکستان تر قائمیدو پورے ژوندے وو۔ وروستو پخپل مرګ په حق اورسید او قبر ئے دَ کیسو رود په غاړه دَ تیتي مدا خیلو په لویه ادیره کښې دے۔

## عید حسن:

دَ سپین وام توری خیل وزیر وو او دَ میر علی شاخ نه وو۔ کال سنه۱۹۳۶ء کښې چه فقیرایپي رح دَ فیرنګی تسلط په خلاف دَ غزا اعلان اوکړو نو دغه توریالے هم میدان ته را اووتو۔ دَ خیساره په اوّله جهګړه کښې ده دَ فقیرایپي او دَ انګریزانو

په مابین کښې د مصالحت ډیر کوشش اوکړو، خو کامیاب نه شو. کله چه جنګ اونښتو نو عید حسن سره د خپلو ملګرو د اسې په بهادرئ اوجنګید و چه نن هم د خیسارۀ اوله او دویمه جهګړه په تاریخ کښې د انګریزانو د شکست بد ترین مثالونه شمیرلے شی. دغه شان د ډمه ډیل جهګړه هم په تاریخ کښې د ده د بهادرئ یو شاندار یادګار دے. د دغې جنګیال مجاهد په بدن باندے د سنګینو او مردکو بے شمیره نښے ښکاریدے. د پاکستان تر جوړیدو پورے ژوندے وو. وروستو غالباً کال ۱۹۷۰ء کښې په حق اورسید و.

## ګل شاه عالم :

دغه جانثار غازی شمن خیل محسود وو او د آزادئ د شخړو زبردست جنګیال یادید و او په فقیرایپیؒ باندے ډیر ګران وو. د ګل شاه عالم په سر محسود قام زښت زحمتونه کاللی او جرګے اداکړے دی. د پاکستان تر قائمیدو پورے ژوندے وو. وروستو د کشمیر په وړومبئ معرکه کښې په شهادت اورسیدو.

## نذر بیتنی :

نذر د بنوں د سیمے اوګاړے بیتنی وو. پلار ئے حیوان نومید و او د بنګی کلی اوسید و نکے وو. ډیر زړه ور او څیګرور ځوان وو. هسے خو ده ډیر جنګونه کړی دی، ولے د ډمه ډیل په جنګ کښې چه ده د شجاعت او تدبر کومه مظاهره کړے وه هغه د ستائینے وړده. نذر بیتنی د خپلو قربانیو ثمره د پاکستان په شکل کښې اولیده او وروستو کال ۱۹۶۴ء کښې پخپل مرګ په حق اورسید و.

## میراعظم او سخی مرجان :

دغه دواړه ننګیالی دَ سرارو غے سرنګ خیل محسود وو او دَ کوټکی کلی اوسیدونکی وو۔ میراعظم خان ئے تره او سخی مرجان ئے وراره وو۔ دَ سخی مرجان پلار عزیزخان نومیدو۔ دواړه تره او وراره دَ خپل دور زبردست دلیر او مبارز غازیان یادیدل۔ دَ فقیرایپی رح په اکثرو جهګړو کښے به په بهادرئ سره جنګیدل او فیر ئے ترے نه زبښت تنګ وو۔ دَ شهورتنګی په جهګړه کښے ئے زبردست شجاعت ښودلے وو او دَ بدّه مرغه دواړه زخمیان شوی وو۔ دَ درګی سر په جهګړه کښے یو ځل بیا دواړه دومره سخت ژوبل شول چه دَ "داستان پارینه" لیکونکی په صفحه نمبر ۱۱۷ باندے اولیکل چه دَ درګئ سر په جهګړه کښے "میراعظم خان سرنګ خیل ہلاک ہوا" حالانکه دا صحیح نه وه او دواړه ترکال ۱۹۸۲ء پورے ژوندی وو۔ دغه مړنی او توریالی ځوانان دَ خپلے سیمے ډیر متقی او په محسودو کښے مقبول فقیران وو او خلقو ئے ډیر احترام کولو۔

## ډیس ګل :

ډیس ګل په مکین کښے دَ تاوډے چینے کنه محسود وو۔ ډیر تکړه او جنګیالے غازی وو۔ اکثر به ئے بریدونه کول۔ رزمک ته نزدے دَ دُردانی په چیرنوے سیمه کښے ئے یو ورځ په فوځیانو برید اوکړو او دَ یوے شیبے سختے شخړے په نتیجه کښے پخپله هم په شهادت اورسیدو۔

## سردار ممند خیل :

بنوں کښے دَ پاټو نړے احمدزئ وزیر وو۔ ډیر نړه ور او ځیګرور ځوان وو۔ دَ فقیرایپی رح په اکثرو جهګړو کښے جنګیدلے وو او هرځوا به ئے دَ شجاعت

تذکرے کید لے۔ دَ کیشے په جهګړه کښے سخت ژوبل شوے وو۔ دَ ده یو بل ورور هم وو، کوم چه دَ یکی کلی منظرخیلو په جهګړه کښے شهید شوے وو۔ سردار دَ خپلے خاورے په سر ډیر جنګونه اوکړل۔ چه پاکستان جوړ شونو په غورېشتی کښے دَ خپلے وکسورے سره بئ نومے لور دَ لاسه په خوب اوده په ټوپک اوویشتلے شو او شهید شو۔

## ګل شاه او اورنګ :

دواړه دَ فقیرایپیؒ توپچیان وو۔ ښه زړه ور او ویشتند ویه ځوانان وو ګل شاه منظرخیل اتمانزئ وزیر وو۔ دَ پښکیرئ په کسب کښے ئے ښه مهارت درلود او دَ ټوپکو او مشینګنو هر قسم پرزے ئے جوړولے شوے۔ کال ۱۹۸۰ء کښے په حق اورسیدو۔ اورنګ دَ کرتے احمدزئ وزیر دے۔ دَ فقیر ایپیؒ ډیر اعتمادی او ځیګروَر توپچی وو۔ هغه وخت به ده عموماً تور پرتوګ تور رخت، تور ملیا سټنے او تورے کیړئ استعمالولے۔ یو عجوبه شا شخصیت ښکاریدو، تراوسه ژوند دے دے او دَ خپل مجاهدانه ژوند شاندارے کارنامے په خوند خوند بیانوی۔

## شیخ اسلم :

دَ بیرمل پیپلے کابل خیل وزیر وو۔ کلے ئے په فقیران بللے شی۔ ډیر تکړه او بهادر ځوان وو۔ دَ فقیرایپیؒ په هره غزا کښے به شریک وو۔ او ښه په نره به جنګیدو۔ کال ۱۹۵۸ء کښے بخپل مرګ وفات شو۔

## زرباقی :

دغه نوموړے غازی په کال ۱۹۱۶ء کښے زیږیدلے وو۔ پلار ئے ګل باقی

نومیدو۔ دَ بیرمل توچی خیل احمدزئ وزیر وو۔ کلی ئے دَموسیٰ نیکهٔ الگڈے
په مورگه آباد دے، چه په کوټ شهرت لری۔ زرباتی دَخپل وخت بهادر
مجاهد یادیږی او په اکثرو جنګونو کښے ئے مړانه ښودلے ده۔ کال ۱۹۶۴ء
کښے ئے حج مبارک اوکړو او دَ کال ۱۹۹۰ء ترخواوشا په حق اورسیدو۔

## مهردل توری خیل :

دَمهردل پلار سیدګل نومیدو۔ دَ زرینیٔ شاخ توری خیل وزیر دے
او په خیسارهٔ کښے دَ کرکنړئ اوسیدونکے دے۔ کال ۱۹۳۶ء کښے چه فقیرایپیٔ
په رومبی ځل دَ جهاد بیرغ پورته کړو او دَ خیسارهٔ سیمے ته لاړو نو دا ننګیالے
هم ورسره ملګرے شو او دَ خپلے علاقے په دواړو جهګړو کښے ئے حصه
واخسته۔ دَ دے نه پسته ئے کلکه ملا اوتړله۔ کله به ئے په وزیرستان
کښے دَ فیرنګی په خلاف اقدامات کول او کله به ئے دَعیسیٰ خیلو، کالاباغ او
میانوالی په مضافاتو کښے وارداتونه کول۔ دغه باتور دَ آزادیٔ په خونریزو
مبارزو کښے ترآخره پورے سینهٔ په میدان اوجنګیدو، چه پاکستان جوړ
شو نو دهٔ هم خپل خدمات ورته وړاندے کړل او دَ کشمیر په دواړو غزاګانو
کښے ئے یو ځل بیا دَ خپل مټ زور اوښودلو۔ دغے مجاهد زما سره دَ وزیرستان
په لیکلو کښے ډیر تعاون کړے دے۔ کال ۱۹۷۷ء کښے ئے حج اوکړو او نن
صبا خپل کاروبار کوی۔

## بابو محمود :

بابو صاحب دَ ډیره اسماعیل دَضلع په پهاړپور کښے دَ رنګپور اوسیدونکے
وو۔ په قوم بلوچ دے او پلار ئے حاجی مریداحمد خان نومیدو۔ دَاصل نه

پښتانه دي او بابو صاحب په پښتو او سرائیکي دواړو ژبو عبور لري. بابو صاحب میټرک پاس دے او د کال ۱۹۳۳ء نه تر کال ۱۹۴۷ء پورے د پوسټ اینډ ټیلیګراف په محکمه کښے کلرک وو. د جهاد ولولے ئے په زړه کښے راپورته کیدلے وے او کله ئے چه د دته خیلو قلعے ته تبدیلي اوشوه نو د خپلے اسلامي او ملي جذبے له کبله د ۲/ اګسټ ۱۹۴۷ء په شپه پټ په پټه د قلعے نه اووتو او په تپوس تپوس ئے مزدک ته ځان اورسولو. هلته د مولوي محمد وارث شاه سره میشته شو. دوه میاشتے پس د مزدک نه ګورویک ته واستولے شو. د هغے ځائے نه د لشکر سره مل کړے شو او د وزیرو، محسودو او داوړو په سیمو کښے به ئے جهاد کولو. د توپ په ویشتلو کښے ورته ښه دسترس حاصل وو. تر اوسه ژوندے دے. د خدرخیلو وزیرو په شوا وونه کلي کښے ئے واده کړے دے. د وړو زاګو پلار دے. کال ۱۹۷۳ء کښے حکومت پاکستان ته تسلیم شو او خپل وطن ته لاړو. خپلو پردو ورسره پټ اوښه پاللو او بیرته شوا وونه کلي ته راغے.

## بابو نور محمد :

اصل کښے بابو نور محمد د نیپال په پالپه نومے سیمه کښے زیږیدلے وو پلار ئے کهړک سنګه نومیدو، چه په فوځ کښے هیډ کلرک وو. د اسلام راوړلو نه مخکښے د بابو صاحب نوم دان سنګه وو چه میټرک ئے پاس کړو نو په ګورکهه بټالین نمبر ۵۳ ښودهلي کښے کلرک بهرتي شو. د هغے ځائے نه ئے ډمړیل ته تبدیلي راوشوه. ما راقم ته ئے وئیل چه "دغه تبدیلي ما په خپل خواهش او کوشش را کړے وه. ځکه چه د فقیر ایپي ر ح د غزا ګانو

تذکرے به مے چه په دهلی کښے واوریدے نو زما په زړه کښے به هم دَ اسلام سپرغئ په لمبو شوے. آخر مے وزیرستان ته تبدیلی رااوکړه او دَ دمډیل کیمپ ته راوړلے شوم. دریمه شپه دَ کیمپ نه اووتم او په تپوس تپوس شکتوئے ته اورسیدم." په شکتوئے کښے بابو صاحب دَ مولوی عبد الرحمان عیدک داوړ عرف طور ملا په لاس مسلمان شو او نور محمد نامه پرے کیښودلے شوه. دغه نومسلم بابو به دَ ورځے په غزاګانو کښے بوخت وو او شپے به ئے دَ دینی علومو په تحصیل کښے شوګیره کولے. دَ تبئ او زیړغړے په جهګړو کښے سخت ټوپل شوے وو، خو خدائے پاک صحت یاب کړو. دَ پاکستان دَ قائمیدو نه پسته دَ ده بشپړ توجه دینی مطالعے پله شوه او دَ خرسینو په زنګوټی کلی کښے میشته شو. هلته محمد شاه نومی یو سید خرسین خپله خور په نکاح ورکړه او هم هلته ئے حکمت او دَ کلی دَ جومات امامت شروع کړو دَ ګنړو لونړو څامنو پلار شو او آخر په مئ ۱۹۹۲ء سنه کښے په حق اورسیدو.

میراعظم :

دَ میراعظم سکونتی رشته دَ میانوالی په ضلع کښے دَ کمرمشانی سره ده. اصلی نوم ئے عبدالغفار دے. پلار ئے مولوی یار محمد نومیدو او په قوم قریش دے. دغه باوتړ په فوځ کښے سپاهی وو او دَ درّه تنګ په یو پیکټ کښے تعیناتْ وو. دَ جهاد شوق ئے زړه کښے رااوتوکیدو او کال ۱۹۳۷ء سنه کښے سره دَ خپلے وسلے فرار شو او په ارسل کوټ کښے دَ فقیرایپیؒ سره ملاؤ شو. دغه توریالے دَ وزیرستان په اکثرو تولو جهګړو کښے سبه په نړه جنګیدلے دے. ډیر دلاور او بهادر ځوان دے. دَ پاکستان په قائمیدو ئے خاموشی

اختیار کړه - دَ بنوں په اور غر بکا خیلو کښې ئې واده اوکړو او دَ داوړو په پلالی کلی کښې میشته شو - هر کله چه هغه ښځه ئې په حق اورسیده نو دَ مرحوم بله خور ئې په نکاح کړه - دَ دے نه پرته ئې یوه بله تپئ داوړه ښځه هم په نکاح کړے ده - تراوسه ژوندے دے او په پلالی کښې اوسیږی کر کروندہ کوی - ژنړی ژنړی ځامن ئې دی او سبهٔ په عزت وخت تیروی -

دُړ او غزلے :

دَ دُړ پلار وتپانړ نومید و او دَ غزلے دوړانے کوم چه دواړه خیلو کښې سکه ورونړه وو او دَ خړپیړی دَ سیمے میرخون خیل بوره خیل وزیر وو - ننصبا ئې کورنئ په سروبی کښې آباده شوے ده - دَ فقیرایپی رح دَ غزاګانو نه مخکښې دُړ په خاصه دارو کښې حولدار وو او غزلے سپاهی - کله چه فقیرایپی رح دَ جهاد اعلان اوکړو نو دوئ هم ملازمتونه پریښودل او سبهٔ په کلکه ورسره اودریدل - زیاتره شهرت ئې په بریدونو لرلو، ولے دَ فقیرایپی رح اکثرو لویو لویو غزاګانو کښې به ئې هم برخه آخستله - دَ تپئ په مشهوره جهګړه کښې غزلے په یوا ځان دوه توپک او یو مشیندار ولجه کړی وو - دُړ تراوسه ژوندے دے - ولے غزلے کال ۱۹۵۴ء کښې دَ غلجیو سره دَ دوئ په یوه قامی انښته کښې سخت ژوبل شو او بیا وروستو په حق اورسیدو - دَ غزلے یو بل مجاهد ورور هم وو چه کړشلے نومید و - دَ دغو دریو واړو سرتیرو فعالیتونه او وارداتونه دَ مجرو زینت دی -

وتپانئ سید کائ :

په زاوئ کښې لدهاخیل سید ګے وو - پلار ئې میربات نومید و -

وتهائ دَ آزادئ دَ شمعې پتنګ او دَ فیرنګیانو دَ وینې ازلی تږے وو۔ دَ کال ۱۹۱۹ء نه نے راواخله عن تر کال ۱۹۴۷ء پورے دغه تورزن سیّد په قلار نهٔ شو۔ دَ ګوډئ وړلے په یوه انبنته کښې په پښه لګیدلے وو او چپ به نے کولو۔ دَ پاکستان په قائمیدو دهٔ هم صلح اوکړه او قریباً کال ۱۹۶۰ء کښې پخپل مرګ په حق اورسیدو۔

## ازلمیر:

ازلمیر دَ کرېوم مدی خیل توری خیل وزیر وو، ولے استوګنه نے په شیراتالا کښې کوله۔ کال ۱۹۳۶ء کښې چه په وزیرستان کښې دَ انګریزانو په خلاف یو طوفان راپورته شو نو دَ هغې وخت په سرکرده غازیانو کښې ازلمیر هم شامل وو۔ شکتوئے دَ دهٔ جنګی مرکز وو او هر وخت به یو دروند لښکر، توپ دارو مردکی او راشن ورسره موجود وو۔ او دَ دے ځائے نه به نے دَ شام کرېوم، دوسلی او کرډئ روغهٔ په قلعو کیمپونو باندے حملے کولے۔ دَ فقیر ایپی دَ غزاګانو نه مخکښې هم ازلمیر په وزیرستان کښې یو معروف شخصیت وو کال ۱۹۳۳ء کښې چه دَ آمان الله خان ځینو ملګرو په وزیرستان کښې دَ نادرخان په خلاف تحریک شروع کړو، نو په هغې کښې لیونے فقیر او تور ملنګ ډیر مخکښې مخکښې وو۔ په دے هنګامه کښې زمونږ دغے توریال هم اګست کښې دَ شام دَ توری خیلو یوه ډله تیاره کړے وه او دَ تور ملنګ په حمایت کښې نے په سپرلی کښې په متون دَ حملے کولو پروګرام جوړ کړے وو۔ فیرنګے چه خبر شو نو اول خوئے دَ دهٔ دَ منع کولو کوشش اوکړو، ولے دهٔ چه اونهٔ منل نو په ۵/ ستمبر ۱۹۳۳ء دَ دوسلی ملیشئے او فوځ په شام کښې دَ دهٔ کور اونړولو

ازلمیر دُ فقیرایپیؒ په اکثرو ټولو غزاګانو کښې بنهٔ په دلجوییٔ او یک سوییٔ سره جنګیدلے وو۔ دُ پاکستان په جوړیدو دهٔ هم صلح اوکړه او وروستو ډیر زړر پخپل طبعی مرګ وفات شو۔

خلیفه محمد امین :

بنوں کښې دُ شیخانو کلی اوسید ونکے وو او دُ یو بے درنے کورنیٔ غړے وو۔ کال سنه ۱۹۳۶ء کښې چه فقیرایپیؒ دُ غزا اعلان اوکړو نو دهٔ هم دنیاوی معاملات پریښودل او دُ فقیرایپیؒ سره ملګرے شو۔ دُ فیرنګی په خلاف ئے ډیرے جهګړے اوکړے او بنهٔ نوم ئے پیدا کړو۔ کال سنه ۱۹۴۶ء کښې یوه شپه دُ یو څو ملګرو سره خپل کورته تلے وو۔ چا مخبر پرے جاسوسی اوکړه۔ پښی په پته دُ شپے بارډر او پولیس ترے نه چاپیره شول۔ سحر چه دویٔ ته پته اولګیدهٔ نو بله بله ئے اونهٔ کړه، بلکه یکدم ئے بارونه پرے راباندے کړل۔ سپاهیانو دستی بمونه وراوغورځول دویٔ هم هغه بمونه پستنه وراوویشتل۔ دغسے یوه شپه مقابله اوشوه او په نتیجه کښې خلیفه محمد امین په شهادت اورسید او یو بل ملګرے ئے سخت ژوبل شو۔ دُ فیرنګی دُ لوری نه هم درے تنه سپاهیان سره دُ یو کمان افسر هلاک او یو څو زخمیان شول۔ دَ دے واقعے ډیر وخت تیر نهٔ شو چه دُ خلیفه یو توریالی ځوی ئے محمد غلام هغه جاسوس اووژلو او کور ئے ورته اوسیزلو۔ محمد غلام تر ډیرے مودے په کوروبک کښې دُ مفروریٔ ژوند تیرولو او وروستو ئے په توچیٔ کښې محنت و مزدوری شروع کړه۔ غالباً کال سنه ۱۹۸۳ء کښې پخپل مرګ په حق اورسید و۔

## شاه عالم :

دَ واڼا سرکي خېل وزير دے۔ دَ پېدا ئش کال ئے اندازاً ۱۹۱۶ء دے پلار ئے خواجه محمد نوميدو۔ دَ فقيرايپي رح دَ وخت توريالے غازي وو۔ اکثر ټولو جنګونو کښے ئے حصه آخستے ده۔ فيرنګي بار بار دَ دهٔ په کور کلي بمبارئ او ګوله بارئ کړے دي او په دے پاداش کښے ئے دَ فيرنګي دَ وخت نه تراوسه پورے بنوں کښے ۱۴۰ کناله زمکه ضبط پرته ده۔ تر اوسه ژوندے دے۔

## سالم خون :

غازي سالم خون دَ واڼا توچي خېل احمدزئ وزير وو، چه دَ کال ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښے ئے حُلانه برخه درلوده او قاڼانه رول ئے لوبولے وو۔ وروستو په سپين کښے دَ غلجيو دَ لاسه په يوه قامي انښته کښے اووژلے شو دَ دهٔ ځوئے ملک شهزاد دَ واڼا په کړي کوټ کښے درخشان شخصيت دے۔

## عمرخان :

دَ عمرخان دَ پېدا وښت ځائے دَ بهارت په ضلع فريدکوټ کښے يا ئيکي صمد دے۔ دَ اسلام راوړلو نه مخکښے دے پوره سنګهه او پلار ئے بوټا سنګهه نوميدو عمرخان په فوځ کښے سپاهي وو او نوے نوے ډمډيل ته راتبديل شوے وو۔ دَ ډمډيل جهګړے نه دومره متاثره شو چه لسمه ورځ شام ګړيوم ته فرار شو او دَ فقيرايپي رح په لاس ئے ايمان راوړلو۔ فقيرايپي رح ورله عمرخان نامه کيښودله۔ عمرخان دَ انګريزانو په خلاف تر آخره پورے په نره او جنګيدو او چه پاکستان جوړ شو نو خوست کښے ميشته شو۔ هلته ئے دَ يوے خوستوالے جينئ سره وادهٔ اوکړو۔ يوه لور ئے پېدا شوه او بيا کونډ شو۔ نن صبا دَ

ھغ لور په مینه په میران شاه کښې استوګن دے او مخبر حضرات ورسره ښې تو ښې کوی.

عجیم خان:

دَ سرا روغې تحصیل په زنګیره کښې دَ پامنې محسود وو. پلار ئې کښې نومید و. عجیم خان ډیر بریدی او سرتیرے مجاهد وو. دَ غازی تو به نه وروسته په خاصه دارو کښې صوبیدار وو، ولے کله چه په وزیرستان کښې دَ فقیرایپی رح دَ جهاد تورے اوبرقیدے نو دے ننګیالی ځوان هم دنیاوی شان وشوکت ته لته ورکړه او دَ قوم په ننګ ئې توره اوتړله. دَ فقیرایپی رح سره ملګرے شو او تر کال ۱۹۴۷ء پورے دا سے په مړانه اوجنګیدو چه نن ئې هم په مجرو کښې دَ شجاعت سندرے ویلے شی. دَ ده دَ ډانلی انګریزو واقعه به تل ترتله دَ محسودو دویاړ ذریعه اوسی. ھسے خو دَ عجیم خان ټوله ډله سرتیرے وه، ولے دَ بولک ځوئے بهادر خان چه دَ بنګے والا شمن خیل محسود وو، زبردست سرپریکړے مجاهد وو.

بیلاندی:

ملک شاهی کابل خیل وزیر وو. ډیر دلاور او جذباتی بنده وو. دَ عمر نه پوخ وو، خو په زړه ځوان وو. دَ فقیرایپی رح په جهګړو کښې ئې دَ زبردستے مړانے نامه پریښے ده. دَ جنګ په دوران کښې به دومره بیرونه شو چه دَ کمربند نه به ئې مرمئ نه شوے راویستلے. له دے جهته به ده اکثر مرمئ په خولئ کښې ګرځولے او ملا به ئې په پټکی تړلے او چاړه ئې په کښې ټومبلے ساتله.

په ۲۹/جولائی ۱۹۴۲ء دَ لواړګی په سیمه کښې په ګشت وتلے فوځ دَ

میروخے کیمپ ته پستنه روان وو۔ بیلاندې پرې دَ لرې نه نظر واچولو او ور پسې وردُوئے کړو۔ په لاره کښې یو ځو بنځو راحصار کړلو چه ځنګه "په یوازې ځان په دومره یاجوجو ماجوجو ورځې" ورته او ئے ویل چه "اخواشې ګورۍ نه چه په ځپروئے جنتونه راپسې مخے ته راوړې دي" دَ دے وینا سره ئے دَ بنځو نه ځان خلاص کړو او لکه دَ زمرې په فوځیانو وراوغړمبید و۔ خپل شلیخ ئے پرې او چلولو او دلیٔ دلیٔ سیکان ئے ځوځک ژوبل او ځوک هلاک کړل۔ دَ بدٔ مرغه پخپله هم سخت زخمي شو او دویمه ورځ په شهادت اورسید و۔ دَ دے سرتیرې مردِ میدان یو غازي نومې ورارهٔ هم تکړه مجاهد وو او دَ ده نه مخکښې دَ شینکي تنګي په جهګړه کښې شهید شوے وو۔

ضمیرشاه :

پلار ئے خونګی شاه نومید و او په اصل کښې عیدک داوړ وو، خو له مودے نه په دره پخیلو کښې دَ راقم دَ کورنۍ سره میشته شوے وو او هم دلته ئے دغه توریالے ځوئے ضمیرشاه پیدا شوے وو۔ چه شونځ ئے شنه شوه نو دَ فقیرایپي په سرتیرو ځوانانو کښې شامل شو۔ په یو ځنګ کښې به ئے شلیخ وو او په بل کښې رباب۔ کله کله به ئے په انبتي جنګ کښې ناڅاپه په رباب ګوتے کیښوے او داسې نغمه به ئے اوچیړله چه غازیان به له ډیره جوشه دَ زمرو غوندے په دشمن ورغوټه شول۔ دغه ځیګرور غازي دَ خپلو همځولو غازیانو پرله پسې بے وخته مرګونو دومره زهیر کړو چه په ځوانه ځوانۍ دَ کبې پیوند شو او کال ۱۹۵۷ء کښې په حق اورسیدو۔ کورنۍ

ئې نن هم دَ درپه خیلو سره په هر قسم قامي سود وزیان کښې شریکه ده۔

غنم رنګ :

په ارغوند کلي کښې دَ مامل شاخ داوړ وو او په درپه خیلو کښې اوسیدلو، خو کاټیل ئې نهٔ درلود۔ دَ کال ۱۹۱۹ء په غزاګانو کښې هم شامل وو او په کال ۱۹۲۹ء کښې دَ نادرخان په مرسته کښې دَ سقاؤ په خلاف هم جنګیدلے وو۔ په کال ۱۹۳۶ء کښې چه فقیرایپيؒ په خیسارهٔ کښې دَ انګریزانو په خلاف لښکرے راغونډولے نو دغه باتور بیا راښکیل شو او دَ دهٔ ځنګ ئې غبرګ کړو۔

غنم رنګ ډیر زیرک، او واریزک انسان وو۔ دَ وزیرستان په اکثرو غزاګانو کښې به موجود وو۔ عموماً به ئې د شاه امان الله غوندے شاهانه دریشي اغوستله۔ ملا به ئې په بنګلي ریښمین او ښیستهٔ ور پړوکي تړلے وه او په ځنګ کښې به ئې توره ځوړنده وه۔ دَ فقیرایپيؒ په درنو درنو جرګو او جلسو کښې به ویستلے توره ګرځیدلو۔ ناڅاپه به ئې غبرګ کړو چه "اے نهٔ خلاصیږے او مے پیژنے چه جاسوس یې" دَ دهٔ په دغه غبرګ کښې به دومره هیبت وو، چه دَ جاسوس رنګ به له تکه زیړ او بدن به په رپیدو شو۔ دغسے دهٔ ډیر جاسوسان نیولي وو۔ دَ قیام پاکستان په وړومبو کالونو کښې دَ افغانستان دَ نریزے په مقام وفات شو۔

پیاوړے :

اصل کښې دَ پلنګزیو بوره خیل وزیر وو خو دَ ورکوټوالي راسے دَ درپه خیلو په خوزانړو کښې میشته وو۔ اصلي نوم ئې محمد مرجان وو۔ پلار ئې شیر حسن نومیدو۔ ډیر زړهٔ ور ځوان وو او دَ فقیرایپيؒ اکثرو سختو غزاګانو


کښې جنګيږي وو. دَ پياوړي کور به هميشه دَ چندو دَ غلو نه ډک وو او دَ فقيرايپيؒ دَ رقعاتو په مطابق به ئې په غازيانو ويشله. دَ پاکستان په جوړيدو ئې کرکيله شروع کړه او کال ۱۹۷۵ء کښې په حق اورسيد و.

## آمان خټک :

امان دَ لمبر خټک وو. پلار ئې يوسف خان نوميدو. وروميې فوځ کښې سپاهي وو، هرکله چه دَ فقيرايپيؒ دَ غزا کانو آوازه شوه نو کال ۱۹۳۷ء کښې دے هم دَ ټيرۍ په مقام دَ خپلې رجمنټ نه فرار شو او دَ ځان سره ئې پنځه ميله سرکاري ټوپک يوړل. دَ ده په دے جرم کښې دَ ده د کورنۍ غړي شپږ مياشتې بندي کړے شول. آمان دَ خپل وخت زبردست دلير او مبارز غازي وو. دَ فقيرايپيؒ په خواصو کښې وو. په شکردره کښې دَ ملېتري په کانوائې چه ده کومه حمله کړے وه، هغه نن هم دَ خټکو په حجرو کښې ستائيلے شي. په کال ۱۹۸۰ء کښې ئې دَ حکومتِ پاکستان سره روغه جوړه اوکړه او خپل وطن ته بيرته لاړو او دوه کاله پس په ۱۹۸۲ء کښې په حق اورسيد و.

## ربنواز جرنيل :

ربنواز جرنيل دَ ميرزا علي خان ځوئے وو او په بنوں کښې دَ ابراهيم خيلو کلي اوسيدونکے وو. بنسکلے دنګه اونه، پراخ ټټر او پلن مخ ئې درلود چه دپاسه ئې پرے ګڼړه بريره سا تلے وه. دسمبر ۱۹۳۶ء کښې دَ فقيرايپيؒ په مجاهدانه تحريک کښې شامل شو. څه موده ئې بنوں کښې دَ باران په مقام مرکز قائم کړو او تاختونه ئې شروع کړل، ولے د حکومت دَ زيات فشار



تورزن جرنیل ربنواز خان

له کبله نے توچئ ته هجرت رااوکړو او په سپلګه کښې میشته شو. دَ دے ځائے نه به نے کله دَ بنوں په مضافاتْ کښې بریدونه کول او کله به نے د وزیرستان په غزاګانو کښې حصه آخسته. فقیرایپي رح دَ ده دَ بے مثاله شجاعت نه دومره متاثره شو چه دَ جرنیلئ په خطاب نے اونمانځلو.

دَ ګورویک سره نے تر آخره پورے تعلقاتْ قطع نه کړل. دَ بډ مرغه مارچ ۱۹۸۴ء کښې په ناګهانه مرګ په حق اورسیدو. دَ ده یو بل ورور هم وو چه اصلي نوم نے شیرعلي خان وو، خو معروف په شیرې وو. شیري هم ډیر سرتیرے او مبارز ځوان وو. دَ پاکستان قائمیدو نه پسته به نے هم باغیانه غونډے ژوند تیرولو. په دے وجه حکومت اونیوو او نهه کاله قید نے پرے اوخیژولو. درے کاله نے چه تیر کړل نو خوشے کړے شو، وروستو کال ۱۹۶۹ء کښې په حق اورسیدو.

# دَخپلواکۍ دوران

دَ حصولِ پاکستان دَ عظیم مقصد ترلاسه کولو نه پسته په وزیرستان کښې دَ اسلام جانبازو دَ سرونو نه کفن پرانستل او دَ خپل خوږ هیواد دَ پرچم تګ او سوکالۍ په زیار کښې ئې ملاګانې اوتړلے او دَ حکومتِ پاکستان په مکمل امداد او تعاون سره وزیرستان په لږه موده کښې یو ځلانده حیثیت پیدا کړو۔

په تعلیمي، اقتصادي، معاشي او ذهني لحاظ سره اولس مخ په ترقۍ روان شو او دَ حکومت په هره شعبه کښې ورننوتو، ولے دَ دے هر څه باوجود دغو باتورانو پخپلو ژګونو کښې خپله تاوده وینه هم سړه نه کړه۔ که دَ کال ۱۹۶۵ء جنګ پرے راغے هم نو دوئ دَ کشمیریانو ورونړو په مدد کښې کمرکس ولاړ وو او که بیا کال ۱۹۷۱ء کښې بهارت په پاکستان جارحانه حمله اوکړه هم نو دوئ خپل سرحدات راتینګ کړی وو۔ او دغه خاصه نن هم په دوئ کښې بے تحاشه موجوده ده۔ نه حکومتي معاش لري او نه سلاح بیا هم دَ پاکستان دَ جغرافیائي سرحدونو په حفاظت کښې له ځیرے دَ خپلو ذاتي وسائلو په اساس چمتو او سیږي۔

## روسی تسلط :

روسی جارحیت نه صرف د ۲۷/ دسمبر ۱۹۷۹ء د انقلاب په اثر کښے په افغانستان غاصبانه قبضه کړے وه ، بلکه تاریخ گواه دے چه د افغانستان بشپړ سابقه حکمرانان د دوئ د زور وزیاتی نه په نالان وو - په کال ۱۸۳۸ء کښے چه د امیر دوست محمد خان په عهد حکومت کښے روسی نمائنده ویکو یچ کابل ته راغے او خپل سیاسی مشن ئے شروع کړو نو د افغانستان سلامتیا ته زښته خطره تر ے نه راولاړه شوه - په ۶/ جون ۱۸۶۸ء د امیر دوست محمد خان په مرګ د روسی خطراتو مخه د ده ځوئے امیر شیرعلی خان ته شوه امیر شیرعلی خان یو خوا د خانه جنګئ سره مخامخ شوے وو او بلخوا عین په هغه وخت روس خپل سرحد جیحون سیند شمال پله د امیر شیرعلی خان سلطنت ته نزدے راوړو - جنوری ۱۸۶۹ء کښے چه د کابل خانه جنګی ختمه شوه او امیر شیرعلی خان فرمانروا تسلیم کړے شو نو په ۱۸۷۳ء کښے روس په خیوا قبضه اوکړه - امیر شیرعلی خان ته د خپل سلطنت د تالاکیدو خطره نوره هم څرګنده شوه - له دے کبله هغه د انګریزی حکومت سره د دوستانه معاهدے کولو په غرض خپل یو سفیر هندوستان ته اولیږلو ، ولے هغه په خپل مقصد کښے کامیاب نه شو او نه د هند حکومت امیر ته څه داسے د تسلئ جواب ورکړو چه هغه ئے د روسی د خطرے نه بے غمه کړے وے - هغه په دے مجبور شو چه د روس خوا ته نزدے شی - انګریزانو ته چه دا معلومه شوه ، نو دوئ هم د امیر شیرعلی خان نه په کابل کښے د انګریز ریذیډنټ د تقرر خواهش اوکړو - لیکن په افغانستان کښے د روز افزون

روسی مداخلت له کبله امیر شیرعلی خان دے ته تیار نهٔ شو۔ بل طرفته افغانستان ته دٔ روسی سفیر په راتګ دٔ کابل حکمرانانو او عوامو دٔ هغهٔ ډیر شاندار استقبال اوکړلو۔

انګریز په دے برهم شول او په ۲۰/ نومبر ۱۸۷۸ء ئے دٔ افغانستان په خلاف اعلانِ جنګ اوکړو او دٔ مختلفو لوریو نه ئے په کابل فوځونه ورخوشی کړل۔ په دے دوران کښے امیر شیرعلی خان باربار دٔ روسی شهنشاه نه امداد اوغوښتو خو ورته ملاؤ نهٔ شو۔ امیر کابل پخپله هم دٔ روسی سفیر او دٔ روسی فوج کمانډر انچیف سره ملاقات اوکړو خو بیا ئے هم څه اعانت اونهٔ کړے شو۔ آخر هغه مجبور شو خپل مشر ځوئے یعقوب خان ته ئے عنانِ حکومت حواله کړل او پخپله دٔ روسی امداد په طمع طمع فروری ۱۸۷۹ء کښے په حق اورسیدو۔

امیر یعقوب خان ترڅه موده پورے راسے خپل حریت منل نه او مجاهدانه جد وجهد جاری اوساتلو، ولے ډیر زر انګریزانو ګرفتار کړو۔ وروستو چه دٔ امیر یعقوب خان دٔ ګرفتارئ په وجه په افغانستان کښے کوم اُور اولګید هغه ئے دٔ کابل دٔ حکمرانانو په یو رکن عبدالرحمٰن ولد افضل خان[1] په راوستو سره سوړ کړو او هغه ئے دٔ کابل په تخت کښینولو، او په ۲۰/ جولائی ۱۸۸۰ء دٔ افغانستان امیر تسلیم کړے شو۔

امیر عبدالرحمٰن په ټول ژوند کښے دٔ انګریزانو سره دٔ تعاون کولو پالیسی ترکه نهٔ کړه خو ورسره ورسره به ئے دٔ روس له طرف نه هم زړښته خطره

---

[1] دٔ امیر دوست محمد خان مشر ځوئے وو۔

محسوسوله۔ او انګریزانو ته به ئې همیشه په دې باره کښې فریاد کولو۔

امیر عبدالرحمٰن په کال ۱۹۰۱ء کښې د فالج په عارضه وفات شو او د دهٔ نه پسته د دهٔ ځوئې امیر حبیب الله امیر شو۔ هغهٔ هم د انګریزانو په انډې زور شروع کړو۔

دا هغه ورځې وې چه اوّل جنګ عظیم انښتې وو۔ په دې جنګ کښې عثمانی سلطنت (ترکی سلطنت) د انګریزانو په خلاف د جرمنی او اسټریا په ملګرتیا کښې اودریدلې وو۔ له دې جهته په افغانستان کښې د مسلمانانو زیاتره همدردی د جرمني سره وه او په افغانستان کښې د بااثره امیرانو او سردارانو یوه ډله داسې وه چه هغوئ په دې موقع په هندوستان باندې د حملې کولو په حق کښې وو، وليے امیر د جنګ په آغاز کښې د خپلې غیر جانبدارئ اعلان اوکړو۔ په دې کش وګیر هغه په ۲۰/ فروری ۱۹۱۹ء په لغمان کښې د شپې چا قتل کړو او د دهٔ ځوئې امان الله خان تخت نشین شو۔ امان الله خان د انګریزانو سره جنګ اوکړو او استقلال ئې اوګټلو خو د دې نه پسته هغه د روس طرف ته دومره مائل شو چه د دهٔ نه وروستو چه څومره حکمرانان راغلل هغوئ هم لمنې ترې نه اونهٔ نغاړلے شوې او آخر ئې نتیجه د کال ۱۹۷۹ء د انقلاب په شکل کښې څرګنده شوه۔

افغان مهاجرین :

په افغانستان کښې د کال ۱۹۷۹ء انقلاب په نتیجه کښې ۳۵ لکهه افغانیانو پاکستان ته هجرت رااوکړلو۔ په دې کښې څلور لکهه سرو هلی

بروهلی نفوس دُ وزیرستان دوارو برخوته هم راواوړیدل۔

وزیرستانی اولس دوئ ته دُ اسلامی ورورولئ او انسانی همدردئ په بنیاد خپله خاوره، غرونه، رغونه، پټی عن تر خپلو کورونو پورے وقف کړل۔ دُ دوئ عزت وناموس ئے خپل عزت وناموس اوګنړلو۔ دا خولاڅه چه کله دغو مهاجرینو دُ کمیونستانو په خلاف دُ جهاد اعلان اوکړو نو دُ وزیرستان غیورو او سرفروشو قبائلو یو کړت بیا دُ کفر و الحاد په خلاف ملا اوتړله۔ په دغه سلسله کښے دُ شمالی وزیرستان له خوا نه دُ خیسارهٔ دسیمے مولانا محمد ګل منیر توری خیل وزیر، مولانا محمد دیندار حسوخیل داوړ او دُ جنوبي وزیرستان له خوا نه مولانا نور محمد احمدزئ وزیر او دُ نامتو مجاهد ملک موسیٰ خان محسود خوئے خیر محمد قائدانه رول ادا کړل۔ دُ دوئ سره سره راقم بندهٔ هم دُ خپل قلم په څوکه او دُ شلغی په شپیلیٔ دُ پکتیا او پکتیکا په ګټ ګوټ کښے دُ روسی جارحیت په خلاف زیار اوویستو۔

له دے نه پرته مولانا عجب نور توری خیل وزیر، مولانا لعل محمد خان مرحوم دُ وانا احمدزئ وزیر، مولوی لعل صاحب جان مرحوم عرف ماتکی لانی داوړ، مولوی نیک بهادر محمد خیل داوړ، مولانا ثمر ګل توری خیل وزیر، مولوی غلام الله دُ وانا احمدزئ وزیر، مولوی میانوالی خان دُ مائیزر مدا خیل وزیر، مولوی موسے جان کابل خیل وزیر، مولوی اصل میرخدرخیل وزیر مولوی حکیم جان ته‍یتی مدا خیل وزیر، مولانا عبدالرحمان سیفلی کابل خیل وزیر او ګــــــــــران ګل محسود دُ خپلو قائدینو په همکاری کښے شپه ورځ یوه کړه او دُ افغانستان دُ مختلفو حزبونو

تر زیر قیادت ئے وزیرستانی ژنړی دَ تعمیر، سیّدکرم، زرمت، شاهی کوټ، کواځ

ګرده څیرئ، ګردیز، سرانه، زامیخه، زمری کړ، دوه منده، نادرشاه کوټ

خوست، باړی، لالیزه، ژاور، ډبګی، جاجي میدان او اُرګن وغیره جنګی

محاذونو باندے دَ خپلو افغانی وروڼو سره اوږه په اوږه دَ کفر په خلاف

جهاد کښے شریک کړل. دَ چا شهادت نصیب شو او دَ چا پریمانه مالِ غنیمت.

په غلام خان، سیدګی، دته خیلو او لواړه باندے روسی طیارو باربار

شدیدے بمباری اوکړلے او په سلګونه بے ګناه نرو ښځے او واړه زاګه

شهیدان شول.

په ابتدا کښے امیرنیازعلی خان دَ افغانستان دغه کشاله دَ افغانیانو

کورنئ شخړه اوګڼله او دَ وزیرستانیانو ګډون ئے په کښے اوغندلو، و لے

هرکله چه کمیونستي عناصرو مکمل ځان ښکاره کړو او په افغانستان کښے

ئے دَ مسلمانانو دَ وینو سور سیلاب روان کړو نو ده هم دَ خپل نا متو معتمد

الحاج مولانا ګل محمد سپین وامی په صلاح دَ روسی جارحیت او تسلّط په

خلاف دَ جهاد اعلان اوکړو او په مغلګی باندے ئے خپل ډیره قائم کړو او

دَ ده دَ دوؤ ځامنو الحاج نورولی خان او الحاج شیرمحمد خان په مختلفو محاذونو

باندے یو ځل بیا باطل ته دَ فقیرایپي رح دَ تورے شرنګ واورولو.

هرکله چه روسی سور سیلاب دَ افغانستان نه مخه څنګ نه کړه

او خپله زمکه ئے په مخه واخسته نو امیرنیازعلی خان دَ حالاتو دَ تقاضے

له مخے په خیبر او وزیرستان کښے درے جلسے اوکړے او په څو

څو کرته ئے افغان مجاهدینو ته دا په ګوته کړل چه اوس افغان

جهاد خپل منزل مقصود ته اورسیدو۔ او اوس دَ ورونړو په مینځ کښې دَ صُلحې وصفایئ وخت دے، ولے دَ دهٔ غږ چا اونهٔ نغوڅلو او سره دَ دے چه کامرانی دَ دوئ په پښو کښې رغړیدله، بیا هم په زرګونه نفوس هیڅ بے هیڅه په هلاکت اورسیدل۔

تمت بالخیر

مورخه ۳۰/نومبر ۱۹۹۲ء

# کتابیات

"A year on the punjab frontier" VOL. 1. (۱)

By, Major Herbert B. Edward.

"The Forward policy and its Results". (۲)

By, Richard I. Bruce.

"Campaigns on the North west Frontier" (۳)

By, Captain H.L. Nevill.

"The First Punjab." (۴)

By, Major Mohammad Ibrahim Qureshi.

"The Frontier force Rifles." (۵)

By, Brigadier W.E.H. Condor.

"The History of the Indian Mountain artillary." (۶)

By, Brigadier General C.A.L graham.

"Military Report on waziristan 1935" (۷)

"The Tribes of waziristan" (۸)

By, Lieut, col. C.E. Bruce.

"Official History of operations on the N.W. Frontier of India ء1936-37" (۹)

"Place gazattear of waziristan District" (۱۰)

"The Pathans". By, sir olaf Caroe. (۱۱)

"The Frontier ء1839 – 1947." (۱۲)

By, Major general j.g. Elliot.

"North west Frontier" (People and events) (۱۳)

By, Arther swinson.

"From the black mountain to waziristan." (۱۴)

By, Colonel H.C. Wylly.

"Pathan and Biloch" By, Edward E. oliver. (۱۵)

"Among the wild Tribes of the Afghan Frontier." (۱۶)

By, T.L. Pennell.

"The Summing up". By, Syed Mazhar Ali shah. (۱۷)

"Report of F.A.D. Expert 617 Kurram irrigation Scheme (Kurran Tangi Dam site) (۱۸)

By, Dr. Adon F.A.D. Expert.

(۱۹) "One man against The Empire"
By, Milan Houner.

(۲۰) "MIZH." (میژ) By, Evelon Hovel.

(۲۱) "د خپلواکئ جگړے" (پښتو) کابل چاپ :
مولوی محمّد ظاهر شاه

(۲۲) "بایزید روښانؒ" (پښتو) کابل چاپ :
مؤلف : قیام الدّین خادمؔ

(۲۳) "بنوں او دَ وزیرستان تاریخ"
لیکونکے : گل ایوب سیفی

(۲۴) "پښتانهٔ لیکوال"
مؤلف: همیش خلیل

(۲۵) "توریالی" مؤلف: خانمیر هلالی

(۲۶) "زموږ مجاهدین"
مؤلف : عبدالحلیم اثر افغانی

(۲۷) "ننګیالی پښتانهٔ"
مؤلف : خانمیر هلالی

(۲۸) "پاکستان" (پښتو)
مؤلف : احسان الله‌خان دانش

(۲۹) "فقیرایپیؒ" (اُردو)
مؤلف: عبدالحمید ترین

(۳۰) "وزیرستان کرم سے گومل تک" (اُردو)

مؤلف : عارف محسود

(۳۱) قیدِ یاغستان" (اُردو)

لیکونکے : محمد اکرم

(۳۲) "پښتانهٔ دَ تاریخ په رڼا کښې" (پښتو)

لیکونکے: بهادر شاه ظفر

(۳۳) "داستانِ پارینه" (اُردو)

مرتب شده زیرِ نگرانی : کرنل کرامت الله

(۳۴) "ښتیا ښتیا دی" (پښتو) کابل چاپ

لیکونکے: عبد الولی خان

(۳۵) "تذکره" (اُردو) مُصَنّف: خان روشن خان

(۳۶) "تاریخ صوبہ سرحد" (اُردو) " محمد شفیع صابر

(۳۷) "ورکه خزانه" دویم ټوک (پښتو)


لیکونکے : همیش خلیل -

(۳۸) "یادداشت ملک عمرخون درپه خیل" (ذاتی ډائری)

(۳۹) "افغانستان او سرحد": پروفیسر عبد الحیؒ

دَ پورتنو تاریخی آثارو نه علاوه ما دَ قطبی او سوئیلی وزیرستان ایجنسو دَ پولټیکل انتظامیې دَ دفتری ریکارډ څخه هم پوره پوره استفاده کړې ده - *

(لائق شاه درپه خیل)




## د وزیرستان نقشه

۳۰ ۲۰ ۱۰ ۵ ۰
میلونه

یو انچ = ۱۲ میله

علامات:

د وزیرستان حدود

پاخهٔ سرکونه

د ریل دره پټرۍ (۲-۶-۲)

*Wazir*

*"Neither wise words Nor Rupees will keep the Wazir on our side but a show of force will"*

*Major R. Garatt*

*Political Agent Tochi*

*1919-20*